

التشريح الوافي

پښتو شرح

د مختصر القدوري

جلد دوم



مؤلف

مولانا نصيب الله (ابن الحاج عبد الصمد ماليزی نور الله مرقده)

پښتو ژباړه

مولوي سعيد اکبر ستاد

مکتبة الارشاد کوئٹہ

0301-3725288,0313-8895104

التشريح الوافي

پښتو شرح

دمختصر القدوري

تصنيف: مولانا **نصيب الله** (ابن الحاج عبد الصمد ماليزئی نور الله مرقده)

جلد دوهم

پښتو ژباړه:

مفتي سعيد اكبر،،رستاد،،فاضل أحسن العلوم كراچي

مكتبة الأرشد كوئټه

03138895104,03013725288

دکتاب نوم ....التشريح الوافي پښتو شرح د مختصر القدوري

مؤلف :مولانا نصيب الله (ابن الحاج عبد الصمد ماليزئی نورالله مرقده)

ناشر :مکتبة الأرشد کوئټه فون نمبر 03138895104,03013725288

دلاسته راوړلو ځايونه :

مکتبه رشيديه سرکي روډ کوئټه

مکتبه اسلاميه کاسي روډ کوئټه

مکتبه حنفيه کاسي روډ کوئټه

مکتبه رشيديه ارګ بازار کندهار

مکتبه رحمانيه ارګ بازار کندهار

كتَابُ الوقف.......... 7

كتَابُ الغصب.......... 12

كتَابُ الوديعة.......... 21

كتَابُ العارية.......... 27

كتَابُ اللقيط.......... 32

كتَابُ اللقطة.......... 34

كتَابُ الخنثى.......... 38

كتَابُ المفقود.......... 43

كتَابُ الاباق.......... 45

كتَابُ احياء الموات.......... 47

د څاهانو، چینو وغیره د حریم بیان.......... 49

كتَابُ المأذون.......... 51

كتَابُ المأذُون..........

كتَابُ المُزَارعة.......... 57

د مزارعت فاسده بیان.......... 59

كتَابُ المساقات.......... 61

كتَابُ النكاح.......... 63

د نكاح د شرطونو بیان.......... 65

د محرمات ابدیه وُ تفصیل.......... 66

هغه ښځې چې په نكاح كې یې جمع كول ناجائز دی.......... 68

دپيغلې اوثيّبه داحکامو بيان......70
دنکاح داوليائو بيان......73
دکفائت بيان......75
دمهربيان......77
دنکاح متعه اوموقت بيان......85
دفضولي دنکاح کولو بيان......85
دمهرمثل بيان......88
دمرتدينو دنکاح بيان......94
دکافر دنکاح بيان......96
دښځو ترمنځ دنوبت بيان......97
كِتَابُ الرّضاع......98
درضاعت داحکامو بيان......100
كِتَابُ الطلاق......106
دصريح طلاق بيان......111
دکنائي طلاق بيان......112
دتعليق بالشرط بيان......118
دطلاق قبل الدخول بيان......122
دطلاق دتفويض بيان......127
كِتَابُ الرّجعة......128
كِتَابُ الايلاء......128

كِتَابُ الخُلع	142
كِتَابُ الظهار	148
د كفاره ظهار بيان	151
كِتَابُ اللعان	158
كِتَابُ العدّة	164
د زوج د وفات عدت	166
د نسب د ثبوت بيان	173
د حمل د مودې بيان	176
كِتَابُ النفقات	177
د بيبيانو د نفقې بيان	178
د اولاد د نفقې بيان	185
د ماشوم د پرورښت د مستحق بيان	187
كِتَابُ العتاق	194
بَابُ التّدبير	203
بَابُ الاستيلاد	205
كِتَابُ المكاتب	210
د بدل كتابت له اداكولو څخه د مكاتب د عجز بيان	214
كِتَابُ الوَلاء	221
د ولاء موالات متعلق احكام	226
كِتَابُ الجِنَايات	227

هغه خلک چې قصاص ورځني اخيستل کيږي 230

هغه خلک چې قصاص نه ورځني اخيستل کيږي 231

د مکاتب او مرهون پر قتل د قصاص احکام 232

له نفس نه علاوه د قصاص بيان 233

كِتَابُ الدِيَاتِ 240

په مختلفو جراحاتو کې د ديت تفصيل 242

پر قاتل او عاقله د ديت صورتونه 249

د حيوانانو د جناياتو بيان 251

د مريي د جنايت بيان 252

د رنګيدونکي ديوال د احکامو بيان 255

كِتَابُ القسامة 258

كِتَابُ المعاقل 264

كِتَابُ الحُدُود 267

له اقرار او شهادت څخه د رجوع بيان : 272

بَابُ حدّ الشرب 278

بَابُ حَدّ القذف 280

د تعزير بيان 284

د موجب قطع بيان 286

كِتَابُ السّرِقَةِ 286

د عدم موجب قطع بيان 288

دمکان محفوظ بیان......292
دلاس غوڅیدو دکیفیت بیان......294
دقطاع طریق (راه زنانو) متعلق احکام......296
كِتَابُ الاشربة......298
دجائزمشروباتو بیان......300
كِتَابُ الصّيدوالذّبائح......301
دڅاذبیحه حلاله او دڅا دا حرامه ده......307
دذبح دطریقې بیان......308
دحلال اوحرام حیوانانو بیان......311
كِتَابُ الأُضحِيَة......312
كِتَابُ الأَيمَان......317
دکفاره قسم متعلق مسائل......322
کورته دداخلیدو وغیره دحلف بیان......324
پرخوراکي شیانو دقسم خوړلو بیان......327
پرموده اوزمانه دقسم خوړلو بیان......334
كِتَابُ الدّعوى......338
ددعوی تفصیلي احکام......340
په کوموامورو کې چې له پرمدعی علیه قسم نشته......342
ددعواؤ ددفع کولو بیان......348
قسم او دقسم دطریقې بیان......351

كِتَابُ الشهادة	363
كِتَابُ الرّجُوع عن الشهادة	377
كِتَابُ ادب القاضي	383
كِتَابُ القسمة	392
كِتَابُ الاكراه	401
كِتَابُ السِّير	406
كتابُ الحظر والاباحة	439
كِتَابُ الوصايا	446
كِتَابُ الفرائض	463
باب العصبات	467
باب الحجب	468
بَابُ الرّد	470
بَابُ ذَوِي الْاَرْحَامِ	472
بَابُ حِسَابِ الفَرَائِض	474

كتَـابُ الوقف

داکتاب دوقف په بیان کې دی

وقف لغةً حبس (منع کولو) ته وایې اوپه اصطلاح کې یوشی پخپل مِلک یاد الله تعالی په مِلک پریښودلو او دهغه منفعت دالله تعالی په لاره کې صدقه کولو ته وایې.

واقف، وقف کونکي ته وایې اوموقوف داسم مفعول صیغه ده په معنی دوقف شده، پرکوموخلکوچې وقف کړای کیږي هغوئ ته موقوف علیهم اوپه کومه لاره چې وقف کړای کیږي هغې ته جهت وقف وایې.

له کتاب الهبه سره یې مناسبت دادی چې په دواړوکې تبرع بالملک ده البته په هبه کې په عین اومنفعت دواړوسره تبرع ده اوپه وقف کې خالص په منفعت سره تبرع ده ځکه یې هبه مقدمه کړې ده.

له حدیث شریف څخه یې جوازمعلومیږي مروي دی چې حضرت عمر ﷺ فرمایلي دی :انی اصبت ارضابخیبرولم اصب مالاقط انفس منه فماتأمرنی فقال ﷺ ان شئت حبست اصلها وتصدقت بثمرتها.

(۱) لايَزَالُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنِ الْوَقْفِ عِنْدَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِلَّا أَنْ يَحكم بِهِ الحَاكِمُ اَوْيُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ فَيَقُوْلُ اِذَامِتُّ فَقَدْوَقَفْتُ دَارِيْ عَلى كَذَا وَقَالَ ابُويُوسُفَ رحِمَهُ اللهُ يَزُوْلُ الْمِلْكُ بِمُجَرَّدِ الْقَولِ وقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لا يَزُوْلُ الْمِلْكُ حتّٰى يَجْعَلَ لِلْوَقْفِ وَلِيًّا وَيُسَلِّمَهُ اِلَيْهِ

ترجمه :دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددواقف مِلک په وقف سره نه زائلیږي مګرداکه حاکم دزوال فرمان جاري کړي یاواقف وقف شده مال ترخپله مرګه پورې معلق کړي ووایې :اذامتّ فقدوقفت داری علی کذا،امام ابویوسف رحمه الله فرمایلي دي چې خالص په وقف ویلوسره مِلک زائلیږي،دامام محمد رحمه الله په نزددواقف مِلک نه زائلیږي ترهغه چې دوقف شده مال لپاره یومتولی مقررکړي اومذکورمال هغه ته وسپاري.

تشریح :(۱)که چاخپل مال وقف کړنوله وقف شده مال څخه دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددواقف مِلک نه زائلیږي مګرله دوشیانوڅخه په یوه باندي :**نمبر ۱**-حاکم له وقف شده مال څخه دواقف دمِلک دوزال فرمان صادرکړي ځکه په کوموسمائلوکې چې دمجتهدینواختلاف وي په هغوکې دحاکم وحکم ته ضرورت دی.

نمبر ۲-واقف وقف شده مال ترخپله مرګه پورې معلق کړي مثلا داسې ووایې :اذامتّ فقدوقفت داری علی کذا،نوصحیح دادی چې دوصیت په ډول له مرګ وروسته ثلث لازمیږي،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددحاکم حکم یادمرګ تعلیق ته ضرورت نشته بلکې دوقف په قول کولوسره دواقف مِلک له وقف شده مال څخه

زائليږي،دامام محمد رحمه الله په نزددواقف مِلک ترهغه نه زائليږي ترڅوچې دوقف شده مال لپاره يوڅوک متولي مقررکړي اومذکورمال هغه ته وسپارل شي ،دامام محمد رحمه الله په نزدداهم شرط دی چې مذکورمال به مشاع نه وي،اوواقف به دخپل ځان لپاره له منافعوڅخه څه شی نه شرطوي ،اوابدي به وي چې آخردفقيرانولپاره شي . دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی .

(۲)وَاِذَاصَحَّ الوَقْفُ عَلٰى اِخْتِلَافِهِمْ خَرَجَ مِنْ مِلْكِ الوَاقِفِ ولَمْ يَدْخُلْ فِى مِلْكِ المَوْقُوْفِ عَلَيْهِ

ترجمه :چې کله وقف دائمه وُداختلاف موافق صحيح شي نوبياله وقف څخه دواقف مِلک زائليږي ليکن پرچاچې يې وقف کړی دی دهغه په مِلک کې هم نه داخليږي .

تشريح :(۲)چې کله دائمه داختلاف موافق وقف صحيح شي (يعنې دامام ابويوسف رحمه الله په نزددوقف قول وکړي دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدحکم دحاکم ياتعليق بالموت وي اودامام محمد رحمه الله په نزدوقف متولي ته وسپارل شي) نوبياوقف دواقف له مِلک څخه زائليږي ليکن پرچاچې وقف کړای شوی دی دهغه په مِلک کې نه داخليږي ولی که دموقوف عليه په مِلک کې داخل شي نودواقف دشرط موافق وقف دده له مِلک څخه دنوروموقوف عليهم طرف ته نه منتقليږي لکه دده نوراملاک چې دي حال داچې دواقف دشرط موافق وقف شده مال له ده څخه بالاجماع منتقل کيږي .

(۳)وَوَقْفُ المُشَاعِ جَائِزٌ عِنْدَ اَبِى يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَايَجُوْزُ (۴)وَلَايَتِمُّ الْوَقْفُ عِنْدَ اَبِى حَنِيْفَةَ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ حَتّٰى يَجْعَلَ آخِرَهُ بِجِهَةٍ لَاتَنْقَطِعُ اَبَدًا وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ اِذَاسَمّٰى فِيْهِ جِهَةً تَنْقَطِعُ جَازَ وَصَارَ بَعْدَهَا لِلْفُقَرَاءِ وَاِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ

ترجمه :دامام ابويوسف رحمه الله په نزدوقف مشاع (غيرمنقسم شي وقف) جائزدی اودامام محمد رحمه الله په نزدجائزنه دی اودطرفينورحمهما الله په نزدوقف ترهغه وخته نه تاميږي ترڅوآخر(يعنې انجام)يې داسي ونه گرځوي چې هغه هميشه نه منقطع کيږي ،اوامام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې که واقف دوقف داسي جهت مقررکړچې منقطع کيږي بياهم داوقف جائزدی دهغه جهت له انقطاع وروسته وقف فقيرانولره کيږي که څه هم واقف دفقيرانونوم نه يې اخيستی .

تشريح :(۳)دامام ابويوسف رحمه الله په نزدوقف مشاع (يعنې غيرمنقسم شي وقف) جائزدی ځکه تقسيم دقبض تتمه ده اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدقبض شرط نه دی نوتتمه يې هم نه شرطيږي،دامام محمد رحمه الله په نزددقابل تقسيم شي مشاعاوقف جائزنه دی ځکه دامام محمد رحمه الله په نزداصل قبض شرط دی نودهغه تتمه يعنې تقسيم هم شرط کيږي .

دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی .

(۴)دطرفینورحمهماالله په نزد وقف ترهغه نه تامیږي ترڅوچې دهغه انجام داسي نه شي چې هغه به دهمیشه لپاره نه منقطع کیږي بلکې جاري به وي ولی دطرفینورحمهماالله په نزددوقف دجوازلپاره مؤبدکیدل شرط دی نوکه دوقف داسي جهت مقررکړي چې یووخت منقطع کیږي نودادنه مؤبدوالي په وجه نه جائزکیږي .

دامام ابویوسف رحمه الله په نزدکه واقف دوقف داسي جهت مقررکړچې منقطع کیږي نوهم وقف جائزدی دهغه په نزدددي جهت له انقطاع وروسته وقف دفقیرانولپاره کیږي که څه هم واقف دفقیرانویادونه نه وي کړې ځکه لفظ دوقف اوصدقه خپله دفقیرانوذکرخبوروکوي . (دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی .

(۵)وَيَصِحُّ وَقْفُ الْعَقَارِ(۶)وَلَا يَجُوزُ وَقْفُ مَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ وقَالَ ابُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ اِذَا وَقَفَ ضَيْعَةً بِبَقَرِهَا وَاَكْرَتِهَا وَهُمْ عَبِيْدُه جَازَ وقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يجوزُ حَبْسُ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ (۷)وإذَا صَحَّ الْوَقْفُ لَمْ يَجُزْ بَيْعُه ولا تَمْلِيْكُه اِلَّا اَنْ يَكونَ مُشَاعاًعندَابي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ فَيَطْلُبُ الشَّرِيْكُ الْقِسْمَةَ فَتَصِحُّ مُقَاسَمَتُه

ترجمه :ځمکه وقف کول صحیح دی اودمنقوله شیانووقف جائزنه دی حال داچې دامام ابویوسف رحمه الله په نزدچې کله ځمکه دهغې دیوې له غویوسره اوبزګرانوسره وقف کړي نوجائزدی چې بزګران دواقف مریان وي،امام محمد رحمه الله فرمایلی دي چې دآسانواواسلحوفی سبیل الله وقف کول صحیح دی چې کله وقف صحیح شونوبیایې خرڅول اوپه ملکیت کې راوړل صحیح نه دي البته دامام ابویوسف رحمه الله دمسلک مطابق که وقف مشاع وواوشریکانوتقسیم کول غوښتل نوداتقسیم صحیح کیږي .

تشریح :(۵)ځمکه وقف کول په اتفاق سره صحیح ده ولی ځمکه ابدی ده .

(۶)لیکن دمنقولی اشیاؤوقف دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدجائزنه دی ولی هغولره بقاء نشته نودتوقیتی اوغیرمؤبدپه وجه یې وقف جائزنه دی حال داچې دامام ابویوسف رحمه الله په نزدکه ځمکه سره غوایانواوبزګرانووقف کړي نوجائزدی چې کله بزګران دواقف مریان وي،همدارازنورزرعي آلات وقف کول هم جائزدی ځکه په حصول دمقصودداد ځمکې تابع دي،دامام محمد رحمه الله په نزددآسانواواسلحوفی سبیل الله وقف کول جائزدی اوداجوازاستحسانًادی دهغوآثاروپه وجه چې په دي باره کې مشهوردي (دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی)

(۷)چې کله وقف صحیح شي نوبیایې خرڅول اوپه ملکیت کې راوړل صحیح نه دی ولی دوقف دصحیح کیدوپه صورت کې وقف شده شیان دواقف له ملک څخه وځي،البته دامام ابویوسف رحمه الله دمسلک مطابق که وقف مشاع وواوشریک تقسیم کول غوښتل نوداتقسیم صحیح کیږي ځکه تقسیم خالص دتمیزاوجلاوالي نوم دی .

(۸) وَالْوَاجِبُ أَنْ يَبْتَدِئَ مِنْ ارْتِفَاعِ الْوَقْفِ بِعِمَارَتِهِ شَرَطَ ذَالِكَ الْوَاقِفُ أَوْ لَمْ يَشْتَرِطْ

ترجمه: اوضروري دی چې ترټولو مخکې دوقف له حاصلاتو دوقف مرمت وکړای شي که واقف دوقف مرمت شرط کړی وي او که یې نه وي شرط کړی

تشريح: (۸) یعنې ضروري ده چې ترټولو مخکې دوقف له حاصلاتو څخه دوقف مرمت وکړای شي که واقف دوقف دمرمت شرط لګولی وي او که نه ،ځکه دواقف قصددادی چې همیشه دوقف منافع مستحقینو ته ورسیږي حال دا چې دوقف بقاء همیشه ممکنه نه ده مګر دا چې دهغه مرمت کیږي لهذا دوقف دتعمیر شرط اقتضاءً ثابت دی .

(۹) وَإِذَا وَقَفَ دَارَهُ عَلَى سُكْنَى وَلَدِهِ فَالْعِمَارَةُ عَلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى (۱۰) فَإِنْ امْتَنَعَ مِنْ ذَالِكَ او كَانَ فَقِيراً آجَرَهَا الحَاكِمُ وَعَمَرَهَا بِأُجْرَتِهَا فَإِذَا عَمَرَتْ رَدَّهَا إِلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى

ترجمه: چې کله خپل سرای دخپل اولادپراوسیدووقف کړي نو دهغه کورتعمیردهغه چاله مال څخه کیږي دچاچې دالته اوسیدل وي بیاکه دغه (من له السکنی) دسرای دمرمت کولو څخه انکاروکړیافقیردی (چې دفقرپه وجه دمرمت څخه عاجزدی) نوحاکم دي داوقف شده سرای په کرایه ورکړي اوله هغی کرایه څخه دي دسرای مرمت کوي اوچې کله مرمت وکړي نوسرای به بیرته ومن له السکنی ته وسپاري .

تشريح: (۹) که چاخپل سرای دخپل اولادپراوسیدووقف کړنوددغه سرای تعمیربه دهغه چاله مال څخه کیږي دچاچې دلته اوسیدل وي لان الغرم بالغنم .

(۱۰) که دغه (من له السکنی) دسرای له مرمت څخه انکاروکړیادفقرپه وجه له مرمت څخه عاجزشونوحاکم به وقف شده سرای په کرایه ورکړی اوله هغی کرایې څخه به دسرای مرمت وکړي اوله مرمت کولووروسته چې کله موده داجارې هم تیره شي نوسرای به واپس ومن له السکنی ته وروسپاري ځکه په دي کولوکې دواقف اوموقوف علیه دواړودحق رعایت دی داځ ول چې دواقف صدقه به دوامًاجاري وي اودموقوف علیه سکونت .

(۱۱) وَمَا انْهَدَمَ مِنْ بِنَاءِ الْوَقْفِ وَآلَتِهِ صَرَفَهُ الحَاكِمُ فِي عِمَارَةِ الْوَقْفِ إِنْ احْتَاجَ إِلَيْهِ (۱۲) وَإِنْ اسْتَغْنَى عَنْهُ أَمْسَكَهُ حَتَّى يَحْتَاجَ إِلَى عِمَارَتِهِ فَيَصْرِفَهُ فِيهَا (۱۳) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَقْسِمَهُ بَيْنَ مُسْتَحِقِّي الْوَقْفِ

ترجمه: دوقف له عمارت اودهغه له آلاتوچې یوشی خراب شي نوحاکم به داخرابه سامان دوقف په مرمت کې مصرفوي که دهغه ضرورت وواوکه دامهال ضرورت نه وونوودي ګرځوي ترهغه چې دوقف دمرمت

ضرورت پیدا کیږي هغه وخت دي دوقف په مرمت کښ مصرف کړي مگر دوقف مات شوي شیان دمستحقین وقف ترمنځ تقسیمول جائزنه دی.

تشریح :(۱۱)دوقف له عمارت وغیره څخه چې کوم شیان ړنگ شي یاآلات وقف (دزراعت اوزار)مات شي نوحاکم به دغه مات شیان (که اوس ضرورت وو) دوقف په مرمت کښ مصرف کړي.

(۱۲)اوکه اوس ضرورت نه وونوودي ساتي چې کله دوقف دمرمت ضرورت شي هغه وخت به یې دهغه په مرمت کښ مصرف کړي دادي لپاره چې دحاجت پروخت دوقف له تعمیر څخه عاجزنه شي.

(۱۳)دوقف مات شوي شیان دمستحقین وقف ترمنځ تقسیمول جائزنه دی ځکه دمستحقین وقف حق په عین وقف کښ نشته بلکې په منافعو کښ دی.

(۱۴)وَإِذَا جَعَلَ الوَاقِفُ غَلَّةَ الوَقفِ لِنَفسِهِ أَوْ جَعَلَ الوِلايَةَ إِلَيهِ جَازَ عِندَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لا يَجُوزُ.

ترجمه :که واقف حاصلات دوقف دخپل ځان لپاره وگرځول یایې دوقف سرپرستي خپل ځان ته راوگرځوله نودامام ابویوسف رحمه الله په نزددا جائزدی امام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې جائزنه دی.

تشریح :(۱۴)که واقف حاصلات دوقف دځان لپاره ساتلي وویایې دوقف سرپرستی خپل ځان ته کړې وه نودامام ابویوسف رحمه الله په نزددا جائزدی همدا مفتی به قول دی،دامام محمد رحمه الله قول په عدم جواز دی ولی دامام محمد رحمه الله په نزدوقف متولی ته سپارل ضروري دی چې دلته نه دی راغلی.

(۱۵)وَإِذَا بَنَى مَسجِدًا لَم يَزُلْ مِلكُهُ عَنهُ حَتَّى يُفرِزَهُ عَن مِلكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأْذَنَ لِلنَّاسِ بِالصَّلوٰةِ فِيهِ فَإِذَا صَلَّى فِيهِ وَاحِدٌ زَالَ مِلكُهُ عَنهُ عِندَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَزُولُ مِلكُهُ عَنهُ بِقَولِهِ جَعَلتُهُ مَسجِدًا.

ترجمه :که چامسجد جوړکړنودواقف مِلک نه زائل کیږي ترڅوچې هغه مسجددلارې سره له خپل مِلک څخه جلاکړي اوخلکوته په دي کښ دلمونځ کولواجازه ورکړي اوامام ابویوسف رحمه الله په نزدخالص په دومره ویناسره چې جعلته مسجدادواقف مِلک زائلیږي.

تشریح :(۱۵)که چامسجد جوړکړنودطرفینو رحمهما الله په نزدداترهغه وخته دواقف له مِلک څخه نه وځي ترڅوچې دی مسجددلارې په شمول له خپل مِلک څخه جلاکړي ځکه ددي بغیرمسجد خالص دالله تعالی لپاره نه شي کیدای اوداهم ضروري دی چې خلکوته په دي مسجدکښ دلمانځه اداکولواجازه ورکړي ولی دطرفینورحمهما الله په نزدوقف متولی ته سپارل ضروری دی وتسلیم کل شئ بحسبه نوځرنگه چې په مسجدکښ حقیقی قبض متعذردی لهذا لمونځ اداکول دحقیقی قبض قائم مقام بلل کیږي.

بیادیوه روایت مطابق که یونفرپه دي کښ لمونځ اداکړي نودواقف مِلک زائلیږي مگرمشهورروایت دادی چې لمونځ په جماعت سره ضروري دی ځکه مسجددجماعت لپاره جوړیږي،دامام ابویوسف رحمه الله په

نزدخالص په دومره ویلوسره چې جعلته مسجدا ،دواقف ملک زائلیږي ،ځکه دامام ابویوسف رحمه الله په نزدوقف متولی ته تسلیمول شرط نه دی .

(۱۶) وَمَنْ بَنَى سِقَايَةً لِلْمُسْلِمِينَ أَوْ خَاناً يَسْكُنُهُ بَنُو السَّبِيلِ أَوْ رِبَاطاً أَوْ جَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْ ذَالِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ حَتَّى يَحْكُمَ بِهِ حَاكِمٌ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَزُوْلُ مِلْكُهُ بِالْقَوْلِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ إِذَا اسْتَقَى النَّاسُ مِنَ السِّقَايَةِ وَسَكَنُوا الْخَانَ وَالرِّبَاطَ وَدَفَنُوا فِي الْمَقْبَرَةِ زَالَ الْمِلْكُ

ترجمه :که دمسلمانانولپاره سقایه (داوبوحوض) جوړه کړه یایې مسافرخانه یارباط(کلایاهغه ځای چیرته چې اسلامي لښکردسرحد د حفاظت لپاره اوسیږي) جوړکړل یایې خپله ځمکه دهدیرې لپاره وقف کړه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپه دي سره دواقف ملک نه زائلیږي ترهغه چې حاکم د دغه وقف فرمان جاري کړي اودامام ابویوسف رحمه الله په نزددوقف په قول کولوسره دواقف ملک زائلیږي اودامام محمد رحمه الله په نزدچې کله له سقایه څخه اوبه وڅیښي یاپه مسافرخانه یارباط کې خلک قیام وکړي اوپه هدیره کې مړی ښخ کړي نودواقف ملک زائلیږي .

تشریح :(۱۷)که چادمسلمانانولپاره داوبوحوض (تالاب) جوړکړیایې دمسافرولپاره ځای جوړکړیایې رباط (کلایاهغه ځای چیرته چې دسرحد د حفاظت لپاره لښکراوسیږي) جوړکړیایې خپله ځمکه دهدیرې لپاره وقف کړه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپه دي سره دواقف ملک نه زائلیږي ترڅوچې حاکم ددي وقف فرمان جاري نه کړي یاواقف ددي اضافت ومابعدالموت ته ونکړي کمامر،همداوجه ده چې واقف دحاکم ترحکم یاتراضافت الی بعدالموت مخکې له دي څخه استفاده کولای شي .

دامام ابویوسف رحمه الله په نزددوقف په قول کولوسره دواقف ملک زائلیږي ځکه دهغه په نزدمتولي ته سپارل شرط نه دی،دامام محمد رحمه الله په نزدچې کله خلک له حوض نه اوبه وڅیښي اوپه مسافرخانه یارباط کې اوسیدل پیل کړي اوپه مقبره (هدیره) کې مړی ښخ کړي نودواقف ملک زائلیږي ځکه دامام محمد رحمه الله په نزدوقف متولي ته سپارل شرط دی اوددي شیانودسپارلوهمداصورتونه دي . (دامام ابویوسف رحمه الله قول راجح دی).

كِتَابُ الغصب

داکتاب دغصب په بیان کې دی

غصب لغة ديوشي په زوراخيستلوته ويل کيږي که هغه شی مال وي اوکه غيرمال وي اوشرعااخذمال متقوم محترم بلااذن مالکه بلاخفية (يعنی په غيرخفی ډول سره دچاقيمتی اومحترم مال بغيردمالک له اجازت څخه اخيستلوته شرعاغصب ويل کيږي)،مذکورمال ته مغصوب اومال وړونکی ته غاصب اوصاحب مال ته مغصوب منه ويل کيږي.

دکتاب الغصب له وقف سره مناسبت دادی چې په دواړوکې دمالک مِلک رفع کيږي البته څرنګه چې وقف دشريعت موافق دی ځکه يې هغه مقدم کړی دی اوغصب څرنګه چې غيرشرعی عمل دی ځکه يې مؤخرکړی دی.

دغصب حرمت په کتاب الله اوسنت رسول الله ﷺ سره ثابت دی قال الله تعالی ﴿ لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾وقال تعالی ﴿ان الذين يأكلون اموال اليتامی ظلماانمايأكلون فی بطونهم نارا ﴾ وقال ﷺ ﴿حرمة مال المسلم كحرمة دمه ومن غَصَبَ شِبْرًا من أَرْضٍ طَوَّقَهُ اللهُ يوم القِيامَةِ من سَبْعِ أَرْضِينَ ﴾ .

دغصب حکم دادی چې که غاصب په دي خبروي چې دامال دغيردی نوګناه ګاريږي اومغصوب که موجودوي نودهغه ردول اوکه هلاک شوی وي نودهغه تاوان ورکول پرغاصب لازم دی ،اوکه غاصب ته دغصب پروخت دامعلوم نه وي چې دادغيرمال دی نوبيادی نه ګناهګاريږي هواخيرني دوه حکمونه اوس هم شته .

(۱)وَمَنْ غَصَبَ شَيأًمِمَّا له مِثْلٌ فَهَلَكَ فِي يَدِه فَعَلَيه ضمانُ مِثْلِه (۲)وَإِنْ كانَ مما لا مثلَ له فَعَلَيه قِيمَتُه (۳)وعلی الْغَاصِبِ رَدُّ الْعَيْنِ الْمَغْصُوبَةِ (۴)فانْ إدعی هلاكَها حَبَسَه الْحَاكِمُ حَتّٰی يَعْلَمَ انَّهَا لَوْ كانَتْ بَاقِيَةً لَاَظْهَرَهَا ثُمَّ قَضٰی عَلَيه بِبَدَلِهَا۔

ترجمه :که غاصب يوشی غصب کړاومغصوب شی مثلی (کيلی ياوزنی ياعددی غيرمتفاوت) وونو پر غاصب دهغه مثل اوبدل واپس کول واجب دی اوکه دمغصوب شی مثل نه وونوپرغاصب دمغصوب قيمت ورکول واجب دی اوپرغاصب دعين مغصوب ردول واجب دی اوکه غاصب دهغه دهلاکيدودعوی وکړه نوحاکم دي هغه قيد کړي ترهغه چې يقين شي چې که هغه باقی وای نوضروربه يې ښکاره کړی وای بيابه دهغه دبدلي فيصله وکړي.

تشريح :(۱) که غاصب کوم شئ غصب کړنوکه بعينه مغصوب شئ موجودنه وواومغصوب مثلی شئ (کيلی ياوزنی يادعددي غيرمتفاوت)وي نوبياددي مثل اوبدل واپس کول واجب دی ځکه بدل دمبدل منه قائم مقام وي.

(۲)اوکه مغصوب شی مثلي نه وونوبياپرمغصوب قيمت ورکول واجب دی.

بیاامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددخصومت دورځې قیمت ورکول لازم دی،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددغصب دورځې قیمت واجب دی ،دامام محمد رحمه الله په نزددهغې ورځې قیمت واجب دی په کومه ورځ چې مغصوب په بازارکې ورک شوی دی وعلیه الفتوی.

(۳)اوکه مغصوب شی بعینه دغاصب په لاس کې موجودوونوبعینه مغصوب واپس کول واجب دی اوکه مغصوب شی مثلي نه ومثلاعددی متفاوت ویامریی یایوحیوان ووبیاپرغاصب دغصب دورځې قیمت واجبیږي.

(۴)که غاصب دعوی وکړه چې مغصوب شی له ماڅخه هلاک شونوخالص په دغه خبره دغاصب دي حاکم دهغه تصدیق نه کوي بلکې برائی مبالغه فی ایصال الحق الی المستحق ،دي حاکم هغه قید کړي ترهغه چې دحاکم غالب ګمان شی چې که مغصوب شی دغاصب په لاس کې باقی وای نوضروربه یې ښکاره کړی وای اوس چې هم غاصب مغصوب نه ښکاره کوي نودادي علامه ده چې مغصوب شی هلاک شوی دی لهذابیابه حاکم دمغصوب دبدل یعنې مثل یاقیمت ورکولو فیصله وکړي ولی رددعین متعذردی.

الالغاز:ای مودَع یضمن بلاتعد؟

فقل:هومودع الغاصب اذاهلک عنده المغصوب فللمالک ان یضمنه. (الاشباه والنظائر)

(۵)وَالْغَصْبُ فِيمَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ (۶) وَإِذَا غَصَبَ عِقَارًا فَهَلَكَ فِي يَدِهِ لَمْ يَضْمَنْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ يَضْمَنُهُ (۷) وَمَا نَقَصَ مِنْهُ بِفِعْلِهِ وَسُكْنَاهُ ضَمِنَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعاً

ترجمه:اوغصب په منقولي شیانوکې وي ،نوکه چاځمکه غصب کړه اوهغه ضائع شوه دده په لاس کې نودشیخینورحمهما الله په نزددی دهغې نه ضامن کیږي اوامام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې ضامن کیږي اوځمکې ته چې دهغه په فعل اواوسیدوسره کوم نقصان رسیدلی دی دهغه په اتفاق سره ضامن کیږي.

تشریح:(۵)دشیخینوپه نزدغصب صرف په منقولي شیانوکې متحقق کیږي په غیرمنقوله کې غصب نشته ولی چې دید(قبضه)مالک ازاله هغه وخت وي کله چې منقولی شی په منتقل کولوسره په خپله قبضه کې راوستل شي حال داچې په عقار(غیرمنقوله شیانو)کې نقل اوتحویل ممکن نه دی.

(۶)نوکه چاعقار(غیرمنقولي شیان مثلاځمکه یامکان وغیره)غصب کړبیاهغه په کوم اسمانی افت سره هلاک شومثلادسیلاب په غلبه سره ځمکه ډوبه شوه نودشیخینوپه نزدپرغاصب ضمان نشته ولی چې غصب په معنی دازالة یدالمالک عن المملوک (دمالک قبضه له مملوک څخه زائلول)متحقق نه دی په دي وجه چې ځمکه پرخپل محل بلانقله قرارده غاصب صرف مالک له ځمکې څخه لیري ساتلی دی نودافعل په مالک کې تصرف دی په عقارکې نه دی داداسې ده لکه چې مالک له خپلوځارویوڅخه لیري وساتل شي ،دامام

محمد ﷫ په نزد غاصب عقار ضامن دی ولی چي دغاصب دبل پرځمکه په قبضه کولو سره لامحاله دمالک قبضه زائلیږي نو دقبضه محقه ازاله او دقبضه مبطله ثبوت موجود شو او همدا غصب دی لهذا غاصب ضامن دی . په مفتی به قول کي په دي دول ته تفصیل دی چي که مغصوبه ځمکه دوقف ځمکه وه نو دامام محمد ﷫ قول مفتی به دی او که دوقف ځمکه نه وه نو دشیخینو قول مفتی به دی .

(۷)په غصب شوي ځمکه کي چي دغاصب په فعل سره کوم نقصان راشي مثلا دغاصب په اوسیدلو یا دځمکي په کرلو سره نقصان راغی نو باتفاق ائمه ثلاثه غاصب دهغه ضامن دی ولی چي دااتلاف دی او داتلاف په وجه سره دځمکي ضمان واجبیږي .

(۸)وَإِذَاهلکَ الْمَغْصُوبُ فِي يَدِالْغَاصِبِ بِفِعْلِه أَوْ بِغَيْرِ فِعْلِه فَعَلَيْه ضَمَانُه(۹)وَإِنْ نَقَصَ فِي يَدِه فَعَلَيْه ضَمَانُ النُّقْصَانِ.

ترجمه :که مغصوب شی دغاصب په لاس کي دغاصب په فعل او یادهغه دفعل بغیرهلاک شو نو غاصب دهغه ضامن کیږي او که دغاصب په قبضه کي په مغصوب شي کي نقصان راغی نو غاصب دنقصان ضامن ګرځي .

تشریح :(۸)که مغصوب شی دغاصب په قبضه کي دغاصب په فعل یادهغه دفعل بغیرهلاک شو نو غاصب دهغه ضامن ګرځي ځکه دغصب په وجه مغصوب مال دغاصب په ضمانت کي داخل شو نو پرغاصب دعین مغصوب ردول واجب دی مګرچي کله دهلاکت په وجه غاصب دعین مغصوب له واپس کولو نه عاجز شو نو دهغه دقیمت واپس کیدل واجب دی .

(۹)که مغصوب شی هلاک نه شو البته په هغه کي نقصان راغی نو غاصب په قدر دنقصان ضامن کیږي لمامرّ

(۱۰)وَمَنْ ذَبَحَ شَاةَ غَيْرِه بِغَيْرِ اَمْرِه فَمَالِكُهَا بِالْخِيَارِ اِنْ شَاءَ ضَمَّنَه قِيْمَتَهَا وَسَلَّمَهَا اِلَيْه وَاِنْ شَاءَ ضَمَّنَه نُقْصَانَهَا(۱۱)وَمَنْ خَرَقَ ثَوْبَ غَيْرِه خَرْقًا يَسِيرًا ضَمِنَ نُقْصَانَه(۱۲)وَاِنْ خَرَقَ خَرْقًا كَثِيرًا أَبْطَلَ عَامَّةَ مَنْفَعَتِه فَلِمَالِكِه اَنْ يُضَمِّنَه جَمِيْعَ قِيْمَتِه

ترجمه :که چادبل چاپسه دهغه داجازي بغیرذبح کړنو مالک ته اختیاردی چي یا له ده څخه دپسه قیمت واخلي او مذبوح پسه ده ته ورکړي او یادي نقصان ور څخه واخلي (اوپسه دي یوسي) او که چادبل چاجامه لږ څیري کړه نو دی په قدردنقصان ضامن کیږي او که یې ډیره څیري کړه چي په هغه څیریدو سره دکپړي اکثرمنافع له منځه ولاړي نو مالک پوره قیمت اخیستلای شي .

تشریح :(۱۰)که چادیو کس پسه یاکوم بل ماکول اللحم ځاروی دمالک له اجازت څخه بغیرذبح کړ نو مالک لره اختیاردی که یې خوښه وي نه له ده څخه دي دپسه قیمت واخلي او مذبوح پسه دي ده ته ورکړي او که یې خوښه وي نو دنقصان په اندازه تاوان دي واخلي او پسه دي له ځان سره وساتي ولی چي دامن وجه اتلاف دی

په دې دول سره چې دباروړلو ،شيدي او نسل وغيره په شان مقاصد فوت شول او ځيني منافع ځرنګه چې اوس هم پاتې دي لهذا مالک لره دواړه اختياره شته.

(۱۱) او که چادبل چاجامه لږ ځيري کړه نو ځرنګه چې عين مال په هرقسم سره قائم دی صرف په هغه کې يو عيب پيدا شو لهذا هغه به دعيب په اندازه دنقصان ضامن وي او جامه به دمالک په ملک کې پاتې وي.

(۱۲) او که يې زياته ځيرې کړه چې په هغه سره دکپړې منافع له منځه ولاړې نو مالک ته دا اختيار دی چې يادي پوره قيمت واخلي کپړه ده ته ورکړي ځکه دا من وجه اتلاف دی او يادي کپړه وګرځوي او په قدر دنقصان دي له هغه نه تاوان واخلي دمعيوب کيدو په وجه ولی عين کپړه او ځينی منافع خو باقی دي.

(۱۳) وَإِذَا تَغَيَّرَتِ الْعَيْنُ الْمَغْصُوبَةُ بِفِعْلِ الْغَاصِبِ حَتَّى زَالَ اسْمُهَا وَأَعْظَمُ مَنَافِعِهَا زَالَ مِلْكُ الْمَغْصُوبِ مِنْهُ عَنْهَا وَمَلَكَهَا الْغَاصِبُ وَضَمِنَهَا (۱۴) وَلَا يَحِلُّ لَهُ الْإِنْتِفَاعُ بِهَا حَتَّى يُؤَدِّيَ بَدَلَهَا وَهٰذَا كَمَنْ غَصَبَ شَاةً فَذَبَحَهَا وَشَوَاهَا أَوْ طَبَخَهَا أَوْ غَصَبَ حِنْطَةً فَطَحَنَهَا أَوْ حَدِيْدًا فَاتَّخَذَهُ سَيْفًا أَوْ صُفْرًا فَعَمِلَهُ آنِيَةً (۱۵) وَإِنْ غَصَبَ فِضَّةً أَوْ ذَهَبًا فَضَرَبَهَا دَرَاهِمَ أَوْ دَنَانِيْرَ أَوْ آنِيَةً لَمْ يَزُلْ مِلْكُ مَالِكِهَا عَنْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ (۱۶) وَمَنْ غَصَبَ سَاجَةً فَبَنَى عَلَيْهَا زَالَ مِلْكُ مَالِكِهَا عَنْهَا وَلَزِمَ الْغَاصِبَ قِيْمَتُهَا

ترجمه: که مغصوب شی دغاصب په فعل سره دومره متغيرشي چې دهغه نوم او اکثر مقاصد زائل شي نو له هغه ځخه دمغصوب منه مِلک زائليږي غاصب يې مالک ګرځي اومغصوب منه ته به تاوان ورکوي مګرمغصوب ته تربدل ورکولو مخکې غاصب لره له مغصوب ځخه فائده اخيستل حلال نه دی دا داسي دی لکه يوڅوک چې پسه غصب کړي بيا ذبح کړي کباب يې کړي پوخ يې کړي ياغنم ووغاصب اوړه کړل يااوسپنه وه غاصب له هغې ځخه توره جوړه کړه ياپيتل ووغاصب له هغه ځخه لوښي جوړ کړل او که غاصب سره اوسپين زرغصب کړي له هغه ځخه دراهم اودنانير جوړ کړي نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دمغصوب منه مِلک له هغو ځخه نه زائليږي او که چاساج لرګي غصب کړپر هغه يې عمارت آباد کړنو له هغه ځخه دمالک مِلک زائليږي او پرغاصب دهغه قيمت لازميږي.

تشريح: (۱۳) که مغصوبه شئ دغاصب په فعل سره داسې متغيرشي چې دهغه نوم او اکثر مقاصد زائل شي نو له هغه ځخه دمغصوب منه ملک زائليږي غاصب يې مالک ګرځي اومغصوب منه ته به تاوان ورکوي مثلا مغصوب پسه ووغاصب ذبح کړاو کباب يې کړيايې پوخ کړ، يامغصوب غنم ووغاصب اوړه کړل يايې په ځمکه کې وکرل ،يااوسپنه وه غاصب له هغې ځخه توره جوړه کړه اويا پيتل ووغاصب له هغه ځخه لوښی جوړ کړنو په دې ټولو صورتونو کې داحنافو په نزد غاصب ددې مالک ګرځي.

(۱۴)مګرپه مذکوره ټولوصورتونوکې مغصوب منه ته له تاوان ورکولوڅخه وړاندي غاصب لره له مغصوب شئ څخه فائده اخيستل استحسانا حلال نه دي ولی چې دبدل له اداء کولوڅخه وړاندي په اباحت انتفاع کې دغصب دروازه خلاصيږي لهذامالک دبدل په اداء کولوسره له راضی کولووړاندي له مغصوب شئ څخه انتفاع حرامه ده .

(۱۵)البته که غاصب سپين یاسره زرغصب کړل اوله هغوڅخه يې درهم ياديناريالوښی جوړکړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزددمغصوب منه ملک له دي څخه نه زائليږي لهذامغصوب منه به همدادرهم وغيره اخلي اوغاصب لره به هيڅ نه وي ولی چې عين مال من کل الوجوه باقی دی ولی چې اوس دي ته ذهب اوفضه ويل کيږي اواوس هم داموزوني دي اواوس هم په دي کې رباجاري کيږي ،دغاصب په فعل سره په دي کې جودت پيداشوی دی کوم چې په اموال ربويه کې متقوم نه دی ،مګرصاحبين فرمايې چې غاصب ددي مالک ګرځي اوپرده دمغصوب مثل واجبيږي .

دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی

(۱۶)که چاډساګون لرګی غصب کړاوپرهغه يې عمارت جوړکړنوپه دي سره دمالک ملک زائليږي اوپرغاصب ددي قيمت لازميږي ولی چې اوس دابل شئ جوړشواوپه عين مغصوب ردولوکې دغاصب داسې ضرردی په کوم کې چې مغصوب منه ته هيڅ فائده نه رسيږي حال داچې دمغصوب منه دضررجبيره په ضمان سره کيږي .

(۱۷)وَمَنْ غَصَبَ ارضاًفَغَرَسَ فِيهَااَوْبَنٰى قِيلَ لَهُ اقْلَعِ الْغَرسَ وَالْبِناءَوَرُدَّهَااِلٰى مالِكِهَافَارِغَةً(۱۸)فَاِنْ كانَتِ الْأَرْضُ تَنْقُصُ بِقَلْعِ ذالِكَ فَلِلْمالِكِ اَنْ يَّضْمَنَ لَهُ قِيمَةَالْبِناءِوالْغَرسِ مَقْلُوْعاً

ترجمه : که غاصب ځمکه غصب کړه اوپه هغه کې درختي شنې کړي یایې عمارت جوړکړنوغاصب ته به وويل شي چې له ځمکې څخه درختی وکاږه اوعمارت ړنګ کړه اوخالي ځمکه مالک ته واپس کړه ولی اوکه دغاصب ددرختوپه کښلواوعمارت په ړنګولوسره ځمکې ته نقصان رسيدونومالک ته اختياردی چې دی غاصب ته دکښل شويودرختواوړنګ شوي عمارت قيمت ورکړي نوعمارت اودرختي به له ځمکې سره دمالک ملک شي .

تشريح :(۱۷) که غاصب ځمکه غصب کړه اوپه هغه کې درختي شنې کړي یایې عمارت جوړکړنوغاصب ته به وويل شي چې له ځمکې څخه درختی وکاږه اوعمارت ړنګ کړه اوخالي ځمکه مالک ته واپس کړه ولی چې حمکه حقيقة نه غصب کيږي نودمالک ملک اوس هم پاتې دی غاصب ځمکه مشغوله کړي ده لهذاغاصب ته به ويل کيږي چې ځمکه فارغه کړه .

(۱۸)که دغاصب ددرختو په کښلو اوعمارت په رنګولو سره ځمکې ته نقصان رسيدونو مالک ته اختياردی چې دی غاصب ته دکښل شويو درختو اورنګ شوي عمارت قيمت ورکړي نو عمارت اودرختي به له ځمکي سره دمالک ملک شي اودا په دي وجه چې په دي کې ددواړو رعايت دی اوله دواړو څخه دفع ضرر ده .

(۱۹)وَمَنْ غَصَبَ ثَوْباً فَصَبَغَهُ أَحْمَرَ أَوْ سَوِيقاً فَلَتَّهُ بِسَمْنٍ فَصَاحِبُهُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ ضَمَّنَهُ قِيمَةَ ثَوْبٍ أَبْيَضَ وَمِثْلَ السَّوِيقِ وَسَلَّمَهُ لِلْغَاصِبِ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَهُمَا وَضَمِنَ مَا زَادَ الصَّبْغُ وَالسَّمْنُ فِيهِمَا(۲۰)وَمَنْ غَصَبَ عَيْناً فَغَيَّبَهَا فَضَمَّنَهُ الْمَالِكُ قِيمَتَهَا مَلَكَهَا الْغَاصِبُ بِالْقِيمَةِ

ترجمه : که غاصب دبل چاجامه غصب کړه اورنګ يې ورکړياېې ستوغصب کړاوپه غوړوکې يې ګډکړل نومالک لره اختياردی که يې خوښه وي نوله غاصب څخه دي دسپينې جامې قيمت اودخپل ستومثل واخلي اوغصب شوي جامه اوستودي دي غاصب ته ورکړي اوکه يې خوښه وي نوغصب شوي جامه اوستودي واخلي اوکوم رنګ اوغوړي چې غاصب زيات کړي دي دهغه دي غاصب ته عوض ورکړي اوکه غاصب يوشی غصب کړغائب يې کړاومالک ته يې دضمانت په ډول دهغه قيمت ورکړنوغاصب دقيمت په عوض دهغه مغصوب شي مالک ګرځي .

تشريح :(۱۹) که غاصب دبل چاجامه غصب کړه اورنګ يې ورکړياېې ستوغصب کړاوپه غوړوکې يې ګډکړل نومالک لره اختياردی که يې خوښه وي نوله غاصب څخه دي دسپينې جامې قيمت اودخپل ستومثل واخلي اوغصب شوي جامه اوستودي دي غاصب ته ورکړي اوکه يې خوښه وي نوغصب شوي جامه اوستودي واخلي اوکوم رنګ اوغوړي چې غاصب زيات کړي دي دهغه دي غاصب ته عوض ورکړي ولې چې په دي کې دجانبينو رعايت دی .

(۲۰)که غاصب کوم شئ غصب کړاوغائب يې کړاومالک ته يې دهغه شئ قيمت ورکړنوغاصب ددي مغصوب شئ مالک ګرځي ولې چې مالک (مغصوب منه)خودشئ مغصوب دبدل (يعنی قيمت)بکماله مالک شوی دی اومبدل (يعنی شئ مغصوب)له ملک څخه دبل ملک طرف ته دمنتقل والی صلاحيت لري لهذامبدل اوس دمغصوب منه له ملک څخه په منتقل کيدلوسره دغاصب ملک ته راځي ترڅوبدلان دشخص واحد(مغصوب منه)په ملک سره جمع نه شي .

(۲۱)وَالْقَوْلُ فِي الْقِيمَةِ قَوْلُ الْغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ(۲۲)إِلَّا أَنْ يُقِيمَ الْمَالِكُ الْبَيِّنَةَ بِأَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ(۲۳)فَإِذَا ظَهَرَتِ الْعَيْنُ وَقِيمَتُهَا أَكْثَرُ مِمَّا ضَمِنَ وَقَدْ ضَمِنَهَا بِقَوْلِ الْمَالِكِ أَوْ بِبَيِّنَةٍ أَقَامَهَا أَوْ بِنُكُولِ الْغَاصِبِ عَنِ الْيَمِينِ فَلَا خِيَارَ لِلْمَالِكِ وَهُوَ

لِلْغَاصِبِ (۲۴) وَإِنْ كَانَ ضَمِنَهَا بِقَوْلِ الْغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ فَالْمَالِكُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَمْضَى الضَّمَانَ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْعَيْنَ وَرَدَّ الْعِوَضَ

ترجمه :اودقیمت په باره کې قول دغاصب سره له قسم معتبردي مګرداکه مالک ترهغه پرزیات قیمت ګواهان قائم کړل بیاکه مغصوب شی یووخت ښکاره شواودهغه قیمت ترهغه مقدارزیات ثابت شوکوم چې غاصب دتاوان په ډول ومالک ته ورکړی وواوهغه تاوان هم غاصب دمالک دقول مطابق یادمالک دګواهانو مطابق یاخپله دغاصب له قسم څخه دانکارپه وجه ورکړی وونوپه دي صورتونوکې مالک ته اختیارنه ورکول کیږي غاصب دمغصوب شي مالک ګرځي اوکه غاصب دخپل قول مطابق قسم وکړتاوان یې ورکړی وونوبیامالک ته اختیارشته چې یاهغه قیمت برقراروساتي یاشی مغصوب واخلي دغاصب ورکړی قیمت واپس کړي.

تشریح :(۲۱) که دمالک اوغاصب په منځ کې دمغصوب شئ دقیمت په باره کې اختلاف واقع شو(مالک دیرقیمت یادوي اوغاصب لږ)اوله دواړوسره بینه نه وي نوقول به دغاصب مع الیمین معتبروي ولی چې مالک دزیادت مدعی دی اوغاصب له دزیادت څخه انکارکوي قول دمنکرمع الیمین معتبروي.

(۲۲)لیکن که مالک اوغاصب دواړوپرخپله مدعی باندي ګواه پیښ کړل نودمالک ګواه معتبردي ولی چې ده په حجت سره زیادت ثابت کړ.

(۲۳)بیاکه شئ مغصوب کوم وخت له غاصب سره ښکاره شواودده قیمت له هغه مقدارڅخه زیات ثابت شوکوم چې غاصب دتاوان په ډول سره مالک ته ورکړی وواوهغه تاوان هم غاصب دمالک دقول مطابق یادمالک دګواه مطابق یاپه خپله دغاصب دانکاردقسم په وجه سره ورکړی وونوپه دي دري واړه صورتونوکې شئ مغصوب دغاصب ملک ګرځي مالک ته دقیمت دواپس کولواودشئ مغصوب داخیستلو اختیارنشته په دي وجه چې مالک دهمدي مقدارمدعی وواوپرهمدي راضی شوی وو.

(۲۴)لیکن که صورت داسې پیښ شوی ووچې غاصب دخپل قول مطابق په قسم اخیستلوسره تاوان اداء کړی وونواوس مالک لره اختیاردی که یې خوښه وي نوشئ مغصوب دي واخلي اودغاصب له طرفه ورکړل شوی قیمت دي واپس کړي اوکه یې خوښه وي نوهمدا قیمت دي برقراروساتي اوشئ مغصوب دي غاصب ته وربربږدي دااختیارپه دي وجه دی چې په دي مقدارسره دمالک رضاپوره نه وه ولی چې دی دزیادت مدعی وومګردعدم حجة په وجه سره یې کم اخیستی وو.

(۲۵) وَوَلَدُ الْمَغْصُوْبَةِ وَنَمَاؤُهَا وَثَمَرَةُ الْبُسْتَانِ الْمَغْصُوْبِ اَمَانَةٌ فِي يَدِ الْغَاصِبِ اِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ (۲۶) اِلَّا اَنْ يَتَعَدّٰى فِيْهَا اَوْ يَطْلُبَهَا مَالِكُهَا فَيَمْنَعَهَا اِيَّاهُ

ترجمه: اودمغصوبه بچی همدارازدمغصوب حیوان نماء (زیادت) همدارنګه دمغصوب باغ میوه داټول دغاصب په لاس کې امانت دي که داشیان له غاصب څخه هلاک شي نوپرغاصب تاوان نه لازمیږي مګرداکه په دغوشیانوکې دغاصب له طرفه تعدّی راشي اویامالک داشیان طلب کړي مګرغاصب وګرځول.

تشریح: (۲۵) دمغصوبه مینځې، پسه یاکوم بل څاروي بچی پیداشي همدارازکه په مغصوب حیوان کې زیادت (مثلاچاغ والی، حسن، شیدې وغیره) یاپه مغصوب باغ کې میوه پیداشي داټول له غاصب سره، مانت دي نوکه داشئ له غاصب سره هلاک شي نوپرغاصب یې تاوان نه لازمیږي ولی چې غصب خودبل پرمال په دي ډول قبضه کولوته ویل کیږي په کومې سره چې دمالک قبضه زائله شي کمامرحال داچې په مذکوره بالاشیانوباندي خودمالک قبضه بالکل راغلی نه وه لهذاداشیان مغصوب نه دي بلکه په یدغاصب کې امانت دي.

(۲۶) لیکن که په دي شیانوکې دغاصب له طرف څخه تعدی متحققه شوه مثلاغاصب هلاک کړل یایې وخوړل یایې خرڅ کړل اویامالک طلب کړل مګر ب ورنه کړل نوپه دي دووصورتونوکې که داشیان هلاک شول نوغاصب ضامن دی ولی چې دمنع اوتعدی په وجه سره غاصب ددي شیانوهم غاصب شمارل کیږي.

(۲۷) وَمَا نَقَصَتِ الْجَارِيَةُ بِالْوِلَادَةِ فَهُوَ فِي ضَمَانِ الْغَاصِبِ فَاِنْ كَانَ فِي قِيْمَةِ الْوَلَدِ وَفَاءٌ بِهِ جُبِرَ النُّقْصَانُ بِالْوَلَدِ وَسَقَطَ ضَمَانُهُ عَنِ الْغَاصِبِ (۲۸) وَلَا يَضْمَنُ الْغَاصِبُ مَنَافِعَ مَا غَصَبَهُ (۲۹) اِلَّا اَنْ يَنْقُصَ بِاسْتِعْمَالِهِ فَيَغْرَمُ النُّقْصَانَ

ترجمه: اوپه منځه کې چې دولادت په وجه نقصان راشي نودغاصب په ضمان کې به وي بیاکه دبچي په قیمت سره نقصان پوره شونوپه هغه دي نقصان ورپوره کړي اوله غاصب څخه تاوان ساقطیږي اوغاصب دمغصوب دمنافع ضامن نه کیږي مګرداکه په استعمال سره په هغه کې نقصان راشي نودنقصان تاوان به ورکوي.

تشریح: (۲۷) که غاصب دچامینځه غصب کړه اودهغې ماشوم وزیږید نودولادت په وجه سره چې دمینځې په قیمت کې کوم نقصان راشي دهغه به غاصب ضامن وي مګردمینځې دانقصان به په ماشوم پوره کیږي په دي ډول سره څومره نقصان چې دمینځې په قیمت کې راغلی دی که ددي ماشوم دهمدومره قیمت وي نوپرغاصب څه ضمان نه شته اوکه ماشوم دکم قیمت وي نودده قیمت په اندازه به له غاصب څخه ضمان

ساقطیږي ولی چې دلته دزیادت اونقصان دواړوسبب (یعنی ولادت یاقرارِنطفه) متحددی لهذاولادت نقصان نه شمارل کیږي.

(۲۸)غاصب دمغصوب شي دمنافعو(مثلاًرُکوب الدّابة وَسکنی الدّاروخِدمة العَبد) ضامن نه دی که ده منافع بالفعل حاصلی کړي وي یایې مغصوب شی بیکاره پرې ایښی وي ځکه دامنافع دغاصب په مِلک کې راغلي دي اوانسان دهغه شي نه ضامن کیږي چې دده په مِلک کې پیداشي.

(۲۹)البته که دغاصب په استعمالولوسره په مغصوب کې نقصان راشي نوغاصب دهغه ضامن کیږي ولی ده دعین بعض اجزاء ضائع کړې.

(۳۰)وَإِذَااسْتَهْلَکَ الْمُسْلِمُ خَمْرَ الذِّمِّي أَوْخِنْزِيرَهُ ضَمِنَ قِيمَتَهَا(۳۱)وَإِنِ اسْتَهْلَكَهُمَا الْمُسْلِمُ عَلَى الْمُسْلِمِ لَمْ يَضْمَنْ

ترجمه : که مسلمان دکوم ذمی شراب یادده خنزیرتاف کړنومسلمان دهغه قیمت ضامن کیږي اوکه یو مسلمان دبل مسلمان شراب یاخنزیرتلف کړنونه ضامن کیږي.

تشریح :(۳۰) که مسلمان دکوم ذمی شراب یادده خنزیرتلف کړنومسلمان دهغه ضامن دی ولی چې خمر اوخنزیردذمی په حق کې مال دي نو خمراوخنزیردذمیانوپه حق کې داسې دي لکه زموږپه حق کې سرکه اوپسه.

(۳۱)اوکه کوم مسلمان یاذمی دمسلمان شراب یاخنزیرتلف کړنوضامن نه دی ولی چې خمراوخنزیر دمسلمان په حق کې مال نه دي په خپله دی مأموربالا...

كِتَابُ الوديعة

داکتاب دویعت په بیان کې دی

ودیعت له وَدَع څخه مشتق دی په معنی د ترک، او امانت ایښودل شوي شي ته ځکه ودیعت وایي چې هغه له امین سره پریښودل کیږي او په شریعت کې :تَسْلِيطُ الْغَيْرِعَلى حِفْظِ الْمَالِ (د خپل مال پر حفاظت باندي غیر ته د قدرت ورکولو) ته وایي.

خپل مال چې له بل چاسره د حفاظت لپاره پریږدي هغه مودِع او مستودِع (بکسرالدال فیهما) وایي او له چاسره چې مال ساتل کیږي هغه ته مودَع او مستودَع (فتح الدال فیهما) وایي او مذکور مال ته ودیعت او مودع وایي، او دایداع لغوي معنی ده :تَسلِيطُ الغَيرِعَلى حِفظِ شَئٍ سَوَاءٌ كَانَ مالًا اوغيرمَالٍ (یعنې غیر د یو شي پر حفاظت باندي مسلطول که هغه شی مال وي او که غیر مال وی)

د کتاب الودیعت له غصب سره مناسبت دادی چې ودیعت هم په وخت د مخالفت د شرط او په وخت د تعدّی غصب گرځي.

د امانت او ودیعت ترمنځ د عام خاص مطلق نسبت دی په ودیعت کې له غیر څخه حفاظت کول قصداً مطلوب وي او په امانت کې کله بغیر قصد هم کیږي مثلاً هوا د یو چا جامه د بل چا په غیږه کې ورواچوله نو دا کپړه له هغه سره امانت ده ودیعت نه ده.

د ودیعت لپاره شرط دادی چې هغه شی قابل قبض وي چې د هغه حفاظت کول ممکن وي نو که یې تښتیدلی مرغی یا داسي مال چې په دریاب کې ډوب وو ودیعت کښیښودنو دا صحیح نه دی او د ودیعت حکم وجوب د حفاظت دی.

(۱) اَلْوَدِيعَةُ اَمَانَةٌ فِى يَدِ الْمُودَعِ اِذَا هَلَكَتْ فِى يَدِهٖ لَمْ يَضْمَنْهَا

ترجمه: ودیعت له مودَع سره امانت وي که د مودَع په قبضه کې (د مودَع له زیادت بغیر) هلاک شي نو مودَع نه په ضامن کیږي.

تشریح :(۱) ودیعت له مودَع سره امانت وي که د مودَع له زیادت بغیر هلاک شي نو مودَع نه په ضامن کیږي ځکه خلک د ودیعت ایښودلو ته ضرورت لري نو که موږ مودَع ضامن کړو نو بیا خلک د ودیعت له ایښودلو څخه منع کوي چې په دي سره د خلکو مصلحتونه معطل کیږي.

وَلِلْمُودَعِ اَنْ يَحْفَظَهَا بِنَفْسِهٖ وَبِمَنْ فِى عِيَالِهٖ (۳) فَاِنْ حَفِظَهَا بِغَيْرِهِمْ اَوْ اَوْدَعَهَا ضَمِنَ (۴) اِلَّا اَنْ يَقَعَ فِى دَارِهٖ حَرِيْقٌ فَيُسَلِّمَهَا اِلَى جَارِهٖ اَوْ يَكُوْنَ فِى سَفِيْنَةٍ فَخَافَ الْغَرَقَ فَيُلْقِيْهَا اِلَى سَفِيْنَةٍ اُخْرىٰ

ترجمه : مودَع لره دا اختیار دی چې د ودیعت حفاظت پخپله وکړي یا یې پخپل اهل وعیال سره وکړي که مودَع مال ودیعت له خپل کور بغیر بل چا ته د حفاظت لپاره ورکړ او له چاسره یې ودیعت کښیښود نو هلاکت په

دصورت کې مودَع ضامن گرځي مگرکه دمودَع په کورکې اورولگیده بیاهغه دهمسایه کورته یوورپیادی په کومه کښتئ کې وودهغی دغرقیدوویره وه نوده په بله کښتئ کې واچاوه بیانه ضامن کیږي.

تشریح :(۲) مودَع لره دااختیاردی چې دودیعت حفاظت پخپله وکړي یایې پخپل اهل وعیال سره وکړي ځکه په کورسره دحفاظت کولو نه چاره نشته ولی دودیعت دحفاظت لپاره هروخت په کورکې اوسیدل ممکن نه دی اوبهرته دوتلوپه صورت کې هروخت ودیعت له ځان سره گرځول هم ناممکن دی ،اوله عیال څخه مراددادی چې یوځای سره اوسیږي.

(۳)که مودَع مال ودیعت له خپل کوربغیربل چاته دحفاظت لپاره ورکړاوله چاسره یې ودیعت کښیښودنو هلاکت په دصورت کې مودَع ضامن گرځي ځکه صاحب مال دمودَع په قبض کولوراضي دی نه دغیرپه قبض سره، نوغیرته ورکول دمالک درضابغیروشو.

(۴)خوکه چیرته په اضطراري حالت کې مودَع مال دودیعت غیرته دحفاظت لپاره ورکړمثلادمودَع په کورکې اورولگید مودَع دحفاظت په غیرمال ودیعت دخپل گاونډی کورته ورووړ،یامودَع په کښتئ کې سپوروودهغې کښتئ دغرقیدوویره وه هغه مال ودیعت په کومه بله کښتئ کې واچاوه نوپه دغوصورتونوکې که مال هلاک شوبیامودَع نه ضامن کیږي ځکه په دې صورت کې دحفاظت همداطریقه متعینه ده نومالک هم یقیناًپه دې راضي کیږي.

(۵)وَإِنْ خَلَطَهَا الْمُودَعُ بِمَالِهِ حتى لاتَتَمَيَّزَ ضَمِنَهَا(۶)فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَحَبَسَهَا عَنْهُ وهو يَقْدِرُ عَلَى تَسْلِيمِهَا ضَمِنَهَا (۷)وَإِنْ اخْتَلَطَتْ بِمَالِهِ مِنْ غَيْرِ فِعْلِهِ فهو شَرِيكٌ لِصَاحِبِهَا(۸)وَإِنْ أَنْفَقَ الْمُودَعُ بَعْضَهَا وَهَلَكَ الْبَاقِي ضَمِنَ ذَلِكَ الْقَدْرَ(۹)فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُودَعُ بَعْضَهَا ثُمَّ رَدَّ مِثْلَهُ فَخَلَطَهُ بِالْبَاقِي ضَمِنَ الْجَمِيعَ

ترجمه : که مودَع مال ودیعت له خپل مال سره داسي گډ کړچې ددواړوترمنځ فرق نه کیدی نومودَع ضامن گرځی اوکه صاحب ودیعت له مودَع څخه خپل ودیعت طلب کړمگرمودَع مال ودیعت وگرځاوه حال داچې دی یې پرسپارلوقادرهم وونوکه ودیعت هلاک شومودَع ضامن گرځي اوکه مال ودیعت دمودَع دفعل بغیرد مودَع په مال گډشي نودامودَع له مالک سره شریک کیږي اوکه مودَع څه ودیعت پخپل مقصدکې مصرف کړاوباقی تلف شونودمصرف شوي په اندازه ضامن گرځي اوکه مودَع دودیعت څه اندازه خرڅ کړبیایې له خپل مال څخه دمصرف شوي په اندازه په باقی مانده ودیعت گډکړنومودَع دکل ضامن گرځي.

تشریح :(۵) که مودَع مال ودیعت له خپل مال سره داسي گډ کړچې ددواړوترمنځ فرق نه کیدی نومودَع ضامن گرځی ،دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمودِع اوس پرمال ودیعت باندي اختیارنه لري ځکه ودیعت من

کل وجه هلاک شوی دی اوس دمودِع لپاره خپل عین حق وصولول متعذر دی ،دصاحبینو رحمهما الله په نزد مودِع لره اختیار شته که غواړي نو ضمان دي واخلي او که غواړي له مودَع سره په مخلوط مال کې شریک شي.

(۶) که صاحب ودیعت پخپله یا دوکیل په ذریعه له مودَع څخه خپل مال طلب کړ مګر مودَع منع کړ حال دا چې دی دهغه پر سپارلو باندي قادر هم وو نو که چیرته ودیعت له هغه سره هلاک شو بیا مودَع دهغه ضامن ګرځي ځکه هغه تعدّی وکړه امانت یې وګرځاوه نو غاصب شو او غاصب ضامن ګرځي.

(۷) که مال ودیعت دمودَع له کاروائی بغیر په مال ګډشی مثلاله دراهمو ډکې تیلۍ پرې شوې دراهم سره ګډشول نو دعدم تعدّی په وجه مودَع ضامن نه ګرځي بلکې دواړه بالاتفاق شریکان کیږي.

(۸) که مودَع څه ودیعت دخپل مقصد لپاره مصرف کړ او باقی ضائع شو نو دمصرف شوي په اندازه ضامن ګرځي دضائع شده مال ضامن نه ګرځي ځکه په ضائع شده کې دمودَع تعدّی نشته.

(۹) بیا که چیرته مودَع دودیعت څه مقدار مصرف کړ بیا یې له خپل مال څخه دمصرف کړي په اندازه په باقی مانده ودیعت کې ګډکړ بیا داپیښه شوه چې پوره ودیعت (باقی مانده اودمودَع ګډشوی مال) هلاک شو نو مودَع دکل ضامن ګرځي ځکه مودَع چې کله خپل مال دباقی مانده ودیعت سره ګډ کړ نو دا ودیعت له خپل مال سره ګډیدل شو دا استهلاک شمارل کیږي چې تفصیل یې مخکې تیر شوی دی.

(۱۰) وَإِذَا تَعَدَّى الْمُودَعُ فِي الْوَدِيعَةِ بِأَنْ كَانَتْ دَابَّةً فَرَكِبَهَا أَوْ ثَوْباً فَلَبِسَهُ أَوْ عَبْداً فَاسْتَخْدَمَهُ أَوْ أَوْدَعَهَا عِنْدَ غَيْرِهِ ثُمَّ أَزَالَ التَّعَدِّيَ وَرَدَّهَا إِلَى يَدِهِ زَالَ الضَّمَانُ (۱۱) فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَجَحَدَهُ إِيَّاهَا ضَمِنَهَا (۱۲) فَإِنْ عَادَ إِلَى الْاعْتِرَافِ لَمْ يَبْرَأْ مِنَ الضَّمَانِ

ترجمه : که مودَع پر مال ودیعت باندي یو قسم تعدّی وکړه مثلاً ودیعت یو حیوان وو مودَع پر هغه باندي سپور شو یا کپړه وه مودَع هغه واغوستله یا مریی وو مودَع له هغه نه خدمت واخیست یا یې مال ودیعت له چا سره ودیعت کښېښود بیا مودَع خپله دغه تعدّی ختمه کړه دودیعت حفاظت یې خپله شروع کړ نو بیا که مال ودیعت هلاک شو مودَع نه په ضامن کیږي او که مالک له مودَع څخه دودیعت طلب وکړ مګر مودَع انکار وکړ نو مودَع ضامن کیږي بیا که یې دوجود ودیعت اقرار وکړ نو مودَع له ضمان څخه نه بري کیږي.

تشریح :(۱۰) که مودَع پر مال ودیعت باندي یو قسم تعدّی وکړه مثلاً ودیعت یو حیوان وو مودَع پر هغه باندي سپور شو یا کپړه وه مودَع هغه واغوستله یا مریی وو مودَع له هغه نه خدمت واخیست یا یې مال ودیعت له چا سره دودیعت په ډول کښېښود بیا مودَع خپله دغه تعدّی ختمه کړه دودیعت حفاظت یې خپله شروع

کړنوبیاکه مال ودیعت هلاک شو مودَع نه په ضامن کیږي ځکه سبب دضمان یعنې تعدّی نه ده پاتی نوضمان هم نه پاتیږي.

(۱۱)که مالک له مودَع څخه دودیعت طلب وکړ مګرمودَع انکاروکړ ویې ویل چې له ماسره ستاهیڅ وِدیعت نشته نوبیاکه ودیعت هلاک شونومودَع ضامن کیږي ځکه کله چې مالک دودیعت طلب وکړنوهغه مودَع دودیعت له حفاظت څخه معزول کړلهذاکه اوس هم مودَع ودیعت ساتي نوغاصب شمارل کیږي نوپه صورت دهلاکت دودیعت مودَع ضامن کیږي.

(۱۲)که مودَع یوځل دودیعت انکاروکړبیاولاړی اوپه وجوددودیعت یې اقراروکړنوبیاکه له مودَع سره ودیعت هلاک شونومودَع له ضمان څخه نه بري کیږي ځکه چې کله مالک دواپس کیدومطالبه وکړه نودهغه له طرفه عقدودیعت رفع شواوچې کله مودَع انکاروکړنودهغه له طرفه هم فسخ عقدده لهذاعقدودیعت ختم شواوس بیله تجدیدنه راګرځي لهذادعقدودیعت دختم کیدوپه وجه ضامن ګرځي.

(۱۳)وَلِلْمُودَعِ اَنْ یُسَافِرَ بِالْوَدِیْعَةِ وَاِنْ کَانَ لَهَا حَمْلٌ وَمُؤْنَةٌ (۱۴)وَاِذَا اَوْدَعَ رَجُلَانِ عِنْدَ رَجُلٍ وَدِیْعَةً ثُمَّ حَضَرَ اَحَدُهُمَا طَلَبَ نَصِیْبَهُ مِنْهَا لَمْ یَدْفَعْ اِلَیْهِ شَیْئًا عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ حَتّٰی یَحْضُرَ الْآخَرُ وَقَالَ اَبُوْیُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ یَدْفَعُ اِلَیْهِ نَصِیْبَهُ (۱۵)وَاِنْ اَوْدَعَ رَجُلٌ عِنْدَ رَجُلَیْنِ شَیْئًا مِمَّا یُقْسَمُ لَمْ یَجُزْ اَنْ یَدْفَعَهُ اَحَدُهُمَا اِلَی الْآخَرِ وَلٰکِنَّهُمَا یَقْتَسِمَانِهِ فَیَحْفَظُ کُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا النِّصْفَ (۱۶)وَاِنْ کَانَ مِمَّا لَا یُقْسَمُ جَازَ اَنْ یَحْفَظَ اَحَدُهُمَا بِاِذْنِ الْآخَرِ

ترجمه: دمودَع لپاره داجائزدی چې مال ودیعت په سفریوسي که څه هم هغه وزنی شی وي په وړلوکې سوارلي ته ضرورت لري اوپه وړلوکې پرهغه باندي خرچه راځي که دووکسانوله مودَع سره یوشی ودیعت کښیښنودبیاله هغودووکسانوڅخه یوراغی دخپلې حصې دواپس کولومطالبه یې وکړه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمودَع لره دهغه حصه ورکول جائزنه دی ترڅوچې هغه بل نه وي حاضرشوی دصاحبینو رحمهماالله په نزدمودَع لره دهغه حصه ورکول جائزدی که یوه سړي دووکسانوته یوقابل تقسیم شی ودیعت کښیښنودنوله دوئ څخه یوه ته داجائزه نه ده چې هغه ټول شی دبل په حفاظت کې ورکړي بلکې دوئ دواړه دي هغه تقسیم کړي هریودي دخپل نصف حفاظت وکړي او که داشی قابل تقسیم نه وونوبیاله دوئ دواړوڅخه یودبل په اجازه دهغه حفاظت کولای شي.

تشریح:(۱۳)دمودَع لپاره داجائزدی چې مال ودیعت په سفریوسي که څه هم هغه وزنی شی وي په وړلوکې سوارلي ته ضرورت لري اوپه وړلوکې پرهغه باندي خرچه راځي ځکه دمالک له طرفه دحفظ ودیعت امرمطلق دی نولکه څرنګه چې په یوه زمانه پوري مقیدنه دی همدارنګه په مکان پوري هم مقیدنه دی

همدادامام ابوحنیفة رحمه الله قول دی ،دصاحبینو رحمهما الله په نزدکه مال ودیعت وزنی ووپه وړلوکي دسواري محتاج وواوپروړلوباندي یې خرچه راتله نوبیانه ده جائزځکه په دي صورت کې پرودیعت باندي خرچه راځي اوظاهره خبره ده چې مالک په هغه باندي نه راضي کیږي.

دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی.

(۱۴)که دووکسانوله مودَع سره یوشی ودیعت کښیښنودبیاله هغودووکسانوڅخه یوراغی دخپلې حصې دواپس کولو مطالبه یې وکړه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمودَع لره دهغه حصه ورکول جائزنه دی ترڅو چې هغه بل نه وي حاضرشوی ځکه دی تقسیم شده حصه طلبوي حال داچې دهغه حق مشاع دی، او دصاحبینو رحمهما الله په نزدمودَع لره دهغه حصه ورکول جائزدی ځکه دی دخپل نصف حصه طلبګاردی چې ده ومودَع ته سپارلې وه ،دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی.

(۱۵)که یوه سړي دووکسانوته یوقابل تقسیم شی ودیعت کښیښنودنوله دوئ څخه یوه ته داجائزه نه ده چې هغه ټول شی دبل په حفاظت کې ورکړي بلکې دوئ دواړه دي هغه تقسیم کړي هریودي دخپل نصف حفاظت وکړي ځکه مالک په دي نه دی راضي چې له دواړوڅخه یودپوره ودیعت حفاظت وکړي.

(۱۶)اوکه داشی قابل تقسیم نه وونوبیاله دوئ دواړوڅخه یودبل په اجازه دهغه حفاظت کولای شي،ځکه مالک پوهیږي چې همه وخت دودیعت دحفاظت لپاره ددوئ دواړوجمع کیدل ناممکن دی نودی په دي راضي دی چې له دواړوڅخه یودکل ودیعت حفاظت وکړي.

(۱۷)وَإِذَا قَالَ صَاحِبُ الْوَدِيعَةِ لِلْمُودَعِ لَا تُسَلِّمْهَا إِلَى زَوْجَتِكَ فَسَلَّمَهَا إِلَيْهَا لَمْ يَضْمَنْ (۱۸)وَإِنْ قَالَ لَهُ احْفَظْهَا فِي هَذَا الْبَيْتِ فَحَفِظَهَا فِي بَيْتٍ آخَرَ مِنَ الدَّارِ لَمْ يَضْمَنْ (۱۹)وَإِنْ حَفِظَهَا فِي دَارٍ أُخْرَى ضَمِنَ

ترجمه : که مالک مودَع ته وویل چې مال ودیعت خپل کوروالاوته مه سپاره،مګرمودَع ودیعت بي بي ته ورحواله کړنومودَع نه ضامن کیږي که مالک مودَع ته وویل چې ودیعت به ستاسي دکورپه فلانی کوټه کې ساتې ،مګرمودَع ددي کورپه بله خونه کې وساته نومودَع نه ضامن کیږي.

تشریح :(۱۷) که مالک مودَع ته وویل چې مال ودیعت خپل کوروالاته مه سپاره،مګرمودَع ودیعت خپلې بي بي ته ورحواله کړنواوس که ودیعت هلاک شونومودَع نه ضامن کیږي ځکه مودَع لره له دي څخه چاره نشته ولې چې کله دی له کوره وځي نوپه کورکې چې څه وي هغه ټول بي بي ته حواله کوي نودمالک ددي شرط رعایت ممکن نه دی.

(۱۸)که مالک مودَع ته وویل چې ودیعت به ستاسي د کوړې فلانی کوټه کې ساتې ،مګر مودَع د دي کوړې بله خونه کې وساته او ودیعت هلاک شو نو مودَع نه ضامن کيږي ځکه د مالک دا شرط غیر مفید دی ولی دیوه کور دوې خوني په حفاظت څه فرق نه لري .

(۱۹)که مالک دیوه کور د کمرې ورته ویلي وو او مودَع د بل سرای په کمره کې ساتلی وو نو د هلاکت په صورت کې مودَع ضامن ګرځي ځکه دوه سرایونه په حفاظت کې متفاوت کیدای شي لهذا د مالک دا شرط مفید دی .

كِتَابُ العَارِيَة

داکتاب د عارية په بیان کې دی

عاريت له عارية په معنی د عطیه څخه مشتق دی او یا د عار طرف ته منسوب دی ځکه عارية شی غوښتل د عیب و عار باعث دی او په شریعت کې عبارت دی له تملیک د منافع بلا عوض .

شی په عارية اخیستونکي ته مُستَعِیر او شی ورکوونکي ته مُعِیر او هغه شي ته مُعَار او مُستَعار او عاريت ویل کيږي.

دکتاب العارية له کتاب الودیعة سره مناسبت دادی چې دواړه امانت دي بیا ودیعت خالص امانت دی دیوشي تملیک نه دی او په عاريت کې دامانت ترڅنګ تملیک المنفعة بلاعوض هم شته نو دادنی څخه داعلی په طرف دترقي په قصد مصنف رَحِمَهُ اللّٰه مخکي ودیعت ذکر کړی دی او س عاريت ذکر کوي .

دعارية لپاره رکن د مُعیر له طرفه ایجاب دی د مستعیر قبلیدل دائمه ثلاثه ؤ په نزد شرط نه دی، او دعارية حکم د مستعار امانت کیدل دی که د مسعتیر له طرفه د تعدّی کولو په وجه مستعار هلاک شي نو مستعیر بالاجماع ضامن ګرځي او که بي له تعدّی هلاک شو بیا نه ضامن کيږي .

(۱)اَلْعَارِيَةُ جَائِزَةٌ(۲)وهِيَ تَمْلِيكُ الْمَنَافِعِ بِغَيْرِ عِوَضٍ(۳)وَتَصِحُّ بِقَوْلِهِ أَعَرْتُكَ وأَطْعَمْتُكَ هذِهِ الأَرْضَ وَمَنَحْتُكَ هذا الثَّوْبَ وحَمَلْتُكَ على هذِهِ الدَّابَّةِ إِذا لَمْ يُرِدْ بِهِ الْهِبَةَ وأَخْدَمْتُكَ هذا الْعَبْدَ ودَارِي لَكَ سُكْنَى ودَارِي لَكَ عُمْرَى سُكْنَى

ترجمه :عارية جائزدی او عاريت مالک ګرځیدل دی د منافعو بلاعوض او صحیح دی په دي الفاظو سره اعرتک (ماتاته په عاريت درکړی دی)او اطعمتک هذه الارض(ماتاته د خوراک لپاره ځمکه درکړې ده)او منحتک هذا الثوب (ماڅپله کپړه تاته درکړي ده)او حملتک علی هذه الدابة(ماته پرڅپل سواري سپور کړی یې)په دي شرط چې په دي سره یې د هبې اراده نه وي ،اخدمتک هذا العبد(ماستا د خدمت لپاره

خپل مريی درکړی دی)داری لک سُکنی (زماسرای ستاداوسيدلولپاره دی) دَارِی لک عُمری سُکنی (زماسرای ستالپاره دتمام عمرلپاره دی).

تشريح :(۱)عاريت جائزدی (يعنې دملک منفعت لپاره مفيددی) ځکه عاريت يوقسم احسان اوفعل خيردی.

(۲)عاريت شرعًادخپل شي دمنافعوبل ځوک بغيرعوض مالک ګرځولوته وايي.

(۳)عاريت په لاندې الفاظوسره صحيح کيږي :**نمبر ۱**- اَعَرتُکَ (ماتاته په عارية درکړی دی)ځکه دغه لفظ په عارية کې صريح دی. **نمبر ۲**- اَطعَمتُکَ اَرضِی (ماتاته دخوراک لپاره ځمکه درکړې ده)په دې لفظ سره عارية ځکه صحيح ده چې ځمکه خودخوراک لپاره نه ورکوله کيږي نومجازًاله دې څخه دځمکې حاصلات مراددي.

نمبر ۳-مَنَحتُکَ ثَوبِي (ماتاته عطية زماکپره درکړې ده)وَحَمَلتُکَ علی دَابّتِی (ماته پرخپل سوارلې باندې سپورکړی يې) په دې دووالفاظوسره عارية هغه وخت صحيح کيږي چې کله له هغوڅخه هبّه اراده نه کړای شي ولی دادوه الفاظ دتمليک عين اومنفعت دواړواحتمال لري چې منفعت يې ادنی دی نوپه وخت دعدم نيت کې هغه پرمنفعت (عاريت)باندې حمل کيږي.

نمبر ۴-اَخدَمتُکَ عَبدِی (ماتاته خپل مريی ستادخدمت لپاره درکړ)ځکه داله مريي څخه دخدمت اخيستلواجازه ده.

نمبر ۵-دَارِی لکَ سُکنَی (زماسرای ستاداوسيدولپاره دی)ولی ددې معنی داده چې ددې سرای سکونت ستالپاره دی.

نمبر ۶- دَارِی لکَ عُمرَی سُکنَی (زماسرای تمام عمرستاداوسيدولپاره دی)په دې قول کې لکَ که څه هم دتمليک عين لپاره دی خوچې کله دهغه تميزلفظ دسُکنی راوړل شوچې په عارية کې محکم دی نودهغه په وجه لفظ دلکَ هم پرتمليک منفعت باندې حمل کوي

(۴)وَلِلْمُعِيرِ أَنْ يَرْجِعَ فِي الْعَارِيَةِ مَتىٰ شَاءَ (۵)وَالعَارِيَةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُسْتَعِيرِ إِنْ هَلَكَ مِنْ غَيْرِ تَعَدٍّ لَمْ يَضْمَنِ الْمُسْتَعِيرُ (۶)وَلَيْسَ لِلْمُسْتَعِيرِ أَنْ يُؤْجِرَ مَا اسْتَعَارَهُ فَإِنْ آجَرَهُ فَهَلَكَ ضَمِنَ (۷)وَلَهُ أَنْ يُعِيرَهُ إِذَا كَانَ الْمُسْتَعَارُ مِمَّا لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ

ترجمه : معيرچې کله وغواړي له عاريت څخه رجوع کولای شي اوعاريت دمستعيرپه لاس کې امانت دی لهذاکه دمستعيرله تعدّی بغيرهلاک شی نومستعيرنه ضامن کيږي اومستعيرته نه ده جائزه چې مستعار په کرايه ورکړي که يې په کرايه ورکړ اوهغه هلاک شونومستعارضامن کيږي اومستعيرته داجائزه ده چې

مستعاربل چاته په عاريت ورکړي په دي شرط چې مستعاريوداسي شی وي چې دمستعمِل په اختلاف سره نه متغير کيږي .

تشريح :(۴) معيرچې کله وغواړي له عاريت څخه رجوع کولای شي خپل شی له مستعيرڅخه واپس اخيستلای شي ځکه عاريت تمليک دمنافع دی اومنافع حالاًبعد حال پيداکيږی نوکومې منافع چې تراوسه نه دي په وجودکې نه دي راغلې هغه دمستعيرپه قبضه کې نه دي واقع شوې نودمتبرع (يعنې معير)لپاره رجوع کول صحيح ده .

(۵)عاريت دمستعيرپه لاس کې امانت دی لهذاکه دمستعيردتعدی بغيرهلاک شي نومستعيرنه ضامن کيږي .

(۶)مستعيرلره دانه ده جائزه چې مستعارشوی شی کوم بل چاته په کرايه ورکړي ځکه اعاره تراجاره کمتره ده ولی اجاره عقدمعاوضه ده اوشی خپل مافوق لره نه متضمن کيږی ځوکه بياهم مستعارشی چاته په کرايه ورکړي اوهغه هلاک شي نومستعيرضامن ګرځي .

(۷)البته مستعيرلره داجائزه ده چې مستعارشی بل چاته په عارية ورکړي په دي شرط چې مستعارداسي شی وی چې دمستعمِل په اختلاف سره نه متغيرکيږی ولی عقدعاريت تمليک دمنافع دی نومستعيراول چې دکوم شي مالک شوی دی هغه په قدردمِلک بل هم مالک ګرځولای شي .

الالغاز:ای مستعيرملک المنع بعدالطلب ؟

فقل :اذاطلب السفينة فی لجة البحراوالسيف ليقتل به ظلمااوالظئربعدماصارالصبی لايأخذ الاثديها .(الاشباه والنظائر)

(۸)وَعَارِيَةُالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيْرِ وَالْمَكِيْلِ وَالْمَوْزُوْنِ قَرْضٌ

ترجمه :اودراهم اودنانير،کيلی اووزني شيان په عاريت ورکول قرض شمارل کيږي .

تشريح :(۸) يعنې دراهم اودنانيرکيلی اووزني (اوعددی متقارب شيان لکه جوز،هګی وغيره) په عاريت ورکول قرض ګڼل کيږي ولی عاريت په تمليک دمنافعو دی اوله دغوشيانوڅخه انتفاع ممکن نه ده مګرداکه دغه اعيان تلف کړي نودابالضروره دتمليک عين مقتضي دی اوتمليک عين ياپه هبّه ياقرض سره ممکن دی بياپه دي دواړو(هبّه اوقرض) کې ادنی قرض دی نوقرض ثابتيږي .

(۹)وَاِذَااسْتَعَارَ اَرْضًالِيَبْنِيَ فِيهَااَوْيَغْرِسَ جَازَ(۱۰)وَلِلْمُعِيْرِاَنْ يَّرْجِعَ عَنْهَاوَيُكَلِّفَهُ قَلْعَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ(۱۱)فَاِنْ لَمْ يَكُنْ وَقَّتَ الْعَارِيَةَ فَلَاضَمَانَ عَلَيْهِ(۱۲)وَاِنْ كَانَ وَقَّتَ الْعَارِيَةَ وَرَجَعَ قَبْلَ الْوَقْتِ ضَمِنَ الْمُعِيْرُ لِلْمُسْتَعِيْرِ مَانَقَصَ مِنَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ بِالْقَلْعِ

ترجمه : که یوچاځمکه په عاریت واخیسته ددي لپاره چې په هغې کې آبادي وکړي یادرختې پکې ولګوي نوداجائزه ده اومعیرلره له دغه عاریت څخه رجوع کول جائزدی اومستعیردعمارت پرړنګیدو اوددرختو پرکښلومجبورکړای کیږي بیاکه دعاریت یوه موده نه وه معلومه نوپرمعیرهیڅ ضمان نشته اوکه دعاریت یوه موده مقرره وه اومعیردهغې مودې ترپوره کیدومخکې ځمکه واپس واخیسته نومعیردمستعیرلپاره دهغه نقصان ضامن ګرځي چې دآبادي په ړنګیدواوددرختوپه کښلوورته رسیږي .

تشریح :(۹) که یوچاځمکه په عاریت واخیسته ددي لپاره چې په هغې کې آبادي وکړي یادرختې پکې ولګوي نوداجائزه ده ځکه دسکنی په شان یومنفعت دی اودامنفعت داجارې په ذریعه حاصلیدای شي نوداعارې په ذریعه هم مملوک کیږي .

(۱۰)معیرلره داجائزه ده چې له عاریت څخه رجوع وکړي خپله ځمکه واپس واخلي ځکه داخبره مخکې تیره شوې ده چې داعقدغیرلازم دی اومعیرچې کله خپله ځمکه اخلې نومستعیرپه دې مجبورکړای کیږي چې آبادي ړنګه کړي اودرختې وکاږي ځکه دي شیانودمعیرځمکه مشغوله کړې ده نوپرفارغه کیدویې مستعیرمجبورکړای کیږي .

(۱۱)بیاددرختوپه کښلوسره دمستعیرنقصان ضرورراځي نوکه دمستعارورکولوپه وخت یوه معینه موده مقرره شوي وه اومعیردهغې مودې ترپوره کیدومخکې ځمکه واخلي نوچې په کښلوسره دمستعیرکوم نقصان راځی معیردهغه ضامن دی ځکه معیرمستعیرته دوکه ورکړې ده .

(۱۲)اوکه دمستعارورکولوپه وخت کې یوه موده نه وه مقرره شوې نوبیامعیرنه ضامن کیږي ځکه مستعیرخپله دوکه شوی دی معیرهیڅ دوکه نه ده ورکړې .

(۱۳)وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَارِيَةِ على الْمُسْتَعِيْرِ (۱۵)وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمُسْتَاجَرَةِ على الْمُوْجِرِ (۱۶)وأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمَغْصُوْبَةِ على الْغَاصِبِ (۱۷)وأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمُوْدَعَةِ على الْمُوْدَعِ

ترجمه : دمستعارپرواپس کیدوچې څومره مصرف راځی هغه به دمستعیرپرذمه وي اوپه اجاره دورې شي پرواپس کیدوچې کوم مصرف راځي هغه په ذمه دمؤجر(یوشی په اجاره ورکوونکي)واجب دی اودمغصوبه شي پرواپس کیدوچې کوم مصرف راځي هغه دغاصب پرذمه واجب دی اوودیعت پرواپس کیدوچې کوم مصرف راځي هغه دمودِع (ودیعت ساتونکي)پرذمه واجبده .

تشریح :(۱۳)دمستعارپرواپس کیدوچې څومره مصرف راځی هغه به دمستعیرپرذمه وي ولی دمستعار واپس کیدل دمستعیرپرذمه واجب دی .(۱۴) اوپه اجاره دورې شي پرواپس کیدوچې کوم مصرف راځي

هغه په ذمه د مؤجر (یوشی په اجاره ورکوونکي) واجب دی ځکه د مستاجر پر ذمه د هغه شي واپس کیدل چې په اجاره یې وړی دی واجب نه دی بلکې خالص تخلیه او موجر ته قدرت ورکول واجب دی .

(۱۵) او د مغصوبه شي پر واپس کیدو چې کوم مصرف راځي هغه د غاصب پر ذمه واجب دی ځکه د مغصوب شي واپس کیدل پر غاصب واجب دی نو اُجرت هم له مالک څخه د ضرر دفع کیدو لپاره پر غاصب باندې واجبیږي .

(۱۶) او د ودیعت پر واپس کیدو چې کوم مصرف راځي هغه د مودِع (ودیعت ساتونکي) پر ذمه واجبه ده ځکه د ودیعت د حفاظت فائده مودِع ته رسیږي .

(۱۷) وَإِذَا اسْتَعَارَ دَابَّةً فَرَدَّهَا إِلَى إِصْطَبْلِ مَالِكِهَا فَهَلَكَتْ لَمْ يَضْمَنْ (۱۸) وَإِنِ اسْتَعَارَ عَيْنًا وَرَدَّهَا إِلَى دَارِ الْمَالِكِ وَلَمْ يُسَلِّمْهَا إِلَيْهِ لَمْ يَضْمَنْ (۱۹) وَإِنْ رَدَّ الْوَدِيْعَةَ إِلَى دَارِ الْمَالِكِ وَلَمْ يُسَلِّمْهَا إِلَيْهِ ضَمِنَ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

ترجمه : که مستعیر یو حیوان په عاریت اخیستی وو بیایې هغه د مالک د څارویو درید و ځای ته ورساوه وروسته هغه هلاک شو نو مستعیر نه ضامن کیږي او که مستعیر یو شی په عاریت راوړی وو بیایې هغه د مالک ترکوره پورې ورساوه خاص مالک ته یې نه دی ورکړی نو مستعیر نه ضامن کیږي او که یې ودیعت د مالک ترکوره ورساوه خاص مالک ته یې نه دی ورکړی نو مودَع ضامن کیږي .

تشریح :(۱۷) که مستعیر یو حیوان په عاریت اخیستی وو بیایې هغه د مالک د څارویو درید و ځای ته ورساوه وروسته هغه هلاک شو نو مستعیر استحساناً نه ضامن کیږي ځکه چې دا عام عادت دی چې د عاریت حیوانان د مالک د څارویو ترځایه رسوي نو په مذکور صورت کې مستعیر مستعار په متعارفه طریقه مالک ته رسولی دی ځکه هغه نه ضامن کیږي .

(۱۸) که مستعیر یو شی په عاریت واخیست بیایې هغه د مالک ترکوره ورساوه خاص مالک ته یې نه دی سپارلی نو د هلاکت په صورت کې مستعیر نه ضامن کیږي ،په بعضو نسخو کې راځي چې ضامن دی وجه د اختلاف د نسخو داده چې که عام کورني شیان وي نو بیا نه ضامن کیږي او که یو خاص شی وو بیا ضامن کیږي .

(۱۹) که مودَع ودیعت د مالک ترکوره ورساوه خاص مالک ته یې نه دی ورکړی نو که ودیعت هلاک شو نو مودَع نه ضامن کیږي ځکه ودیعت د مالک ترکوره په رسولو یا د مالک په عیال کې چا ته په ورکولو مالک نه دی راضي که نه بیایې نو مودَع ته ودیعت نه ورکاوه .

كتَابُ اللقيط

داكتاب دلقيط په بيان كې دى

لقيط لغةً هغه شى چې له ځمكې نه راپورته كړاى شي پروزن دفعيل په معنى دمفعول دى،بياپه هغه غورځول شوې ماشوم كې استعماليږي،په اصطلاح كې لقيط هغه ماشوم دى چې خپل كوروالاؤدفقراوغربت يادزنادتهمت څخه دځان ساتلوپه غرض غورځولى وي .

له كتاب العارية سره دكتاب اللقيط مناسبت دادى چې په دواړو (مستعاراولقيط) كې حفاظت لازمي دى .

(١) اَللَّقِيطُ حُرٌ (٢) وَنَفَقَتُه مِنْ بَيْتِ الْمَالِ (٣) وَاِنِ الْتَقَطَه رَجُلٌ لَمْ يَكُنْ لِغَيْرِه اَنْ يَّاْخُذَه مِنْ يَدِه (٤) وَاِنِ ادَّعٰى مُدَّعٍ اَنَّه اِبْنُه فَالْقَوْلُ قَوْلُه مَعَ يَمِيْنِه (٥) وَاِنِ ادَّعَاهُ اثْنَانِ وَوَصَفَ اَحَدُهُمَا عَلَامَةً فِيْ جَسَدِه فَهُوَ اَوْلٰى بِه

توجمه :لقيط حرشمارل كيږي اودلقيط خرچه پربيت المال ده كه چالقيط رااخيست نوبل چاته له هغه څخه داخيستلوحق نشته اوكه كوم مدعي دعوى وكړه چې لقيط زمازوى دى نودهغه قول سره له يمين معتبريږي اوكه دوكسانوهريوه دلقيط په باره كې دعوى وكړه چې دازمازوى دى اوله دوئ دواړونه يوه دلقيط په بدن كې يوه علامه بيان كړه نوعلامه بيانونكى حقداردى .

تشريح :(١)لقيط په ټولواحكاموكې حرشمارل كيږي ځكه اصل په بنى آدم كې حريت دى ،همدارنګه په داراسلام كې داوسيدوپه وجه آزاددى ولى داراسلام دآزادوخلكومُلک دى .

(٢)دلقيط خرچه پربيت المال ده ځكه لقيط مسلمان دى اوله ګټې نه عاجزدى نه مال لري اونه قرابت ،دداسې چانفقه پربيت المال وي .

(٣)كه چالقيط مخكې راپورته كړنودلقيط دحفاظت ده لره دى بيابې بل څوک له ده څخه نه شي اخيستلاى ځكه ده په رااخيستلوكې سبقت كړى دى .

(٤)كه يومدعي دعوې وكړه چې لقيط زمازوى دى نودهغه قول معتبريږي (په دې شرط چې ملتقط دلقيط دنسب دعوى ونكړي) ځكه داداسې اقراردى چې پكې دماشوم فائده ده ځكه په ثبوت دنسب سره دماشوم شرافت زياتيږي ..

(٥)كه دوكسانوهريوه دلقيط په باره كې دعوى وكړه چې دازمازوى دى بياله هغوئ نه يوه دلقيط په بدن كې يوه علامه بيان كړه نودلقيط حقداردعلامه بيانونكى دى ولى ظاهردهغه شاهددى ځكه علامه دهغه دكلام موافقه ده اوكه يوه هم علامه بيان نه كړه نوهغه دواړوزوى شمارل كيږي ځكه په سبب كې دواړه برابردي.

(۶) وَإِذَا وُجِدَ فِي مِصْرٍ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ فِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَاهُمْ فَادَّعَى ذِمِّيٌّ أَنَّهُ ابْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ مُسْلِماً (۷) وَإِنْ وُجِدَ فِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى أَهْلِ الذِّمَّةِ أَوْ فِي بِيعَةٍ أَوْ كَنِيسَةٍ كَانَ ذِمِّيًّا

ترجمه :که دمسلمانانو په یوه ښار یا کلي کې لقیط پیدا شو بیا ذمي دعوی وکړه چې دا زما زوی دی نو دلقیط نسب له هغه ذمي څخه ثابتیږي او مسلمان شمارل کیږي او که دذمیانو په کلي کې یا دیهودو یا نصاری ؤ په عبادتخانو کې ذمي لقیط پیدا کړ نو دا لقیط ذمي شمارل کیږي .

تشریح :(۶) که دمسلمانانو په ښار او کلیو کې لقیط پیدا شو بیا ذمي کافر دعوی وکړه چې دا زما زوی دی نو دلقیط نسب له دغه ذمي څخه ثابتیږي او په اتباع دار کې استحساناً مسلمان شمارل کیږي ولې دذمي دعوی پر دو شیانو مشتمله ده : **نمبر ۱**-دلقیط لپاره ثبوت دنسب . **نمبر ۲**-دلقیط مسلمان کیدل ،په لومړي شي کې دماشوم فائده ده لهذا په دي باره کې دذمي دعوی صحیح کیږي او په دوهم شي کې دماشوم نقصان دی لهذا په دي باره کې دذمي دعوی نه صحیح کیږي .

(۷) که دذمیانو په کلیو کې یا دیهودو یا نصاری ؤ په عبادت ځایونو کې لقیط پیدا شو نو دا لقیط ذمي شمارل کیږي ددي مسئلې څلور صورتونه دي: **نمبر ۱**-مسلمان دمسلمانانو په سیمه کې لقیط پیدا کړ نو مسلمان شمارل کیږي . **نمبر ۲**-کافر دکافرانو په مکانونو کې پیدا کړ نو کافر شمارل کیږي . **نمبر ۳**-کافر دمسلمانانو په ځایونو کې پیدا کړ . **نمبر ۴**-مسلمان دکافرانو په ځایونو کې پیدا کړ ،په آخري دوصورتونو کې یو روایت دادی چې مکان ته اعتبار ور کول کیږي بل روایت دادی چې پیدا کونکي ته اعتبار ور کول کیږي .

(۸) وَمَنْ ادَّعَى أَنَّ اللَّقِيطَ عَبْدُهُ أَوْ أَمَتُهُ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ وَكَانَ حُرًّا (۹) وَإِنْ ادَّعَى عَبْدٌ أَنَّهُ ابْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ حُرًّا (۱۰) وَإِنْ وُجِدَ مَعَ اللَّقِيطِ مَالٌ مَشْدُودٌ عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُ

ترجمه :که چا دعوی وکړه چې لقیط دده مریی دی یا یې منځه ده نو دمدعي دا دعوی نه قبلیږي او لقیط حر شمارل کیږي او که مریي دعوی وکړه چې دا لقیط زما زوی دی نو دلقیط نسب ثابتیږي او لقیط آزادیږي او که له لقیط سره پر لقیط تړلی مال پیدا شو نو دا مال دلقیط کیږي .

تشریح :(۸) که چا دعوی وکړه چې لقیط زما مریی یا منځه ده نو دمدعي دا دعوی نه قبلیږي ځکه ظاهره ده چې لقیط آزاد دی ځکه اصل په بنی آدم کې حریت دی مګر دا که مدعي پر دي خبره باندي ګواهان قائم کړي چې لقیط دده مریی دی .

(۹) که مریي دعوی وکړه چې دا لقیط زما زوی دی نو دلقیط نسب ثابتیږي ځکه په ثبوت دنسب کې دلقیط فائده ده مګر لقیط آزادیږي ځکه کله حره ښځه تر مریي لاندي بچی زیږوي نو دا ماشوم آزادیږي او کله منځه

ترمريي لاندي ته ماشوم زيږوي نو داماشوم مريي وي، نو دلقيط په غلامي اوآزادي کې شک دی مګرپه بنی آدم کې ظاهرحريت دی لهذا دهغه حريت دشک په وجه نه باطليږی .

(۱۰)که له لقيط سره پرلقيط تړل شوی مال پيداشي نو دامال دلقيط کيږي ظاهرته په اعتبارورکولو سره، همدارازکه مال پرداسي حيوان تړلی ووچې پرهغه لقيط وموندل شونو دامال هم دلقيط کيږي لماذکرنا .

(۱۱)وَلَا يَجُوزُ تَزْوِيجُ الْمُلْتَقِطِ وَلَا تَصَرُّفُهُ فِي مَالِ اللَّقِيطِ (۱۲) وَيَجُوزُ أَنْ يَقْبِضَ لَهُ الْهِبَةَ

ترجمه :ملتقِط لره جائزه نه ده چې دلقيط نکاح وروکړي همدارازملتقِط لره دلقيط په مال کې تصرف کول هم جائزنه دی اوملتقِط لره جائزدی چې دلقيط لپاره هبّه قبض کړي .

تشريح :(۱۱)ملتقِط (لقيط پيداکونکي) ته جائزنه دی چې دلقيط نکاح وروکړي ځکه دنکاح کولولپاره ولايت (ملک ياقرابت ياسلطنت) ضروري دی حال داچې په ملتقِط کې وصف دولايت معدوم دی ، همدارازملتقِط لره دلقيط په مال کې تصرف کول هم ناجائزدی لکه مورچې دخپل بچي په مال کې تصرف نه شي کولای ځکه له تصرف فی المال څخه غرض اضافه دمال ده اوداپه رايه کامله اوشفقت وافرسره متحقق کيدای شي حال داچې په مورکې رايه کامله اوپه ملتقِط کې شفقت وافرنشته .

(۱۲)که چالقيط ته يوشی هبه کړنو ملتقِط ته دهغه قبض کول جائزدی ځکه په دي کې دماشوم محض فائده شته .

(۱۳)وَيُسَلِّمُهُ فِي صِنَاعَةٍ وَيُؤَاجِرُهُ

ترجمه :اوپکاردی چې لقيط ته يوکسب(هنر) ورزده کړي اوپه مزدوري کې يې ولګوي .

تشريح :(۱۳)يعني پکاردی چې ملتقِط لقيط ته يوکسب(هنر) ورزده کړي ځکه دادلقيط له تاديب اوحفظ مال څخه دی همدارازملتقِط ته داجائزه ده چې لقيط په مزدوري ولګوي ځکه په دي کې دلقيط فائده ده .

مګردجامع صغيرروايت دی چې ملتقط لره دلقيط په مزدوري کې لګول ناجائزدی همداقول اصح دی ځکه په مزدوري کې دلقيط منافع تلفيږي اوملتقط لره دلقيط منافع تلفول جائزنه دی .

كِتَابُ اللقطة

داکتاب دلقطه په بيان کې دی

لقطه ،په لغت کې هغه شی دی چې څوک يې په لاره کې ومومي اوراوايې خلي اوشرعًاهغه محترم غير محفوظ حق دی چې ساتونکي ته يې مستحق معلوم نه وي .
له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې لقيط اولقطه لفظًاومعنًى متقارب دي بيالقيط دانسانانواولقطه دغيرانسانانوسره خاص دی نودبنی آدم داظهارشرافت په وجه يې لقيط ترلقطه مقدم کړی دی .

(۱) اَللُّقَطَةُ اَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُلْتَقِطِ اِذَا اَشْهَدَ الْمُلْتَقِطُ اَنَّهُ يَأْخُذُهَا لِيَحْفَظَهَا وَيَرُدَّهَا عَلٰى صَاحِبِهَا (۲) فَاِنْ كَانَتْ اَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ عَرَّفَهَا اَيَّامًا (۳) وَاِنْ كَانَتْ عَشَرَةً فَصَاعِدًا عَرَّفَهَا حَوْلًا كَامِلًا (۴) فَاِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَاِلَّا تَصَدَّقَ بِهَا (۵) فَاِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَهُوَ قَدْ تَصَدَّقَ بِهَا فَهُوَ بِالْخِيَارِ اِنْ شَاءَ اَمْضَى الصَّدَقَةَ وَاِنْ شَاءَ ضَمَّنَ الْمُلْتَقِطَ

ترجمه :لقطه دملتقط په لاس کې امانت دی چې کله ملتقط پردې خبره باندې گواهان قائم کړي چې زه دادحفاظت په غرض رااخلم اوددې لپاره چې مالک ته يې ورسوم ،بياکه دغه شی ترلس درهمه کم وونوهغه دې څوورځې تشهيرکړي اوکه لس درهمه ياترهغه زيات وونويوکال دې تشهيرکړي که يې مالک راغی خوديره ښه که نه صدقه به يې کړي بياکه يې مالک په داسې حال کې راغی چې هغه صدقه شوی وونومالک ته اختياردی که داصدقه برقرارساتي اوکه له ملتقِط څخه ضمان اخلي .

تشريح :(۱) لقطه له ملتقِط سره امانت دی په دې شرط چې ملتقِط دحفاظت په غرض راپورته کولواومالک ته پرواپس کولوگواهان قائم کړي وي،ځکه لقطه راپورته کول افضل ياواجب دی نودهلاکت په صورت کې ملتقِط نه ضامن کيږي .
(۲)که چاته داسې لقطه ورپيداشوه چې ماليت يې ترلسم درهمه کم وونوامام ابوحنيفة رحمه الله فرمايلي دي چې څوورځې دې دهغه تشهيروکړي ترهغه چې دملتقِط غالب گمان شي چې صاحب لقطه نوردهغې تلاش نه کوي .
(۳)که لقطه داسې شی ووچې ماليت يې لس درهمه ياترلس درهمه زيات وونوملتقِط به يوکال دهغې تشهيرکوي مگرصحيح قول دادی چې دتشهيرکومه معلومه نيټه نشته بلکې دومره تشهيربه کوي چې دملتقِط غالب گمان شي چې نورنومالک دهغې طلب نه کوي .
(۴)که ترتشهيروروسته دهغې مالک راغی اودلقطه پرملکيت يې گواهان قائم کړل نوملتقِط به لقطه هغه ته حواله کړي چې حقدارته خپل حق ورسيږي اوکه يې مالک نه راغی نوملتقِط به لقطه پرفقيرانوصدقه کړي چې مالک ته دلقطه عوض يعنې ثواب ورسيږي اوکه يې خوښه وي نوپه دې هيله چې مالک به يې راشي له خپل ځان سره دې وساتي .

(۵)که ترصدقه کولووروسته يې مالک راغی نومالک ته اختياردی چې ياصدقه برقراره وساتي ثواب حاصل کړي اويادي له ملتقِط څخه ضمان وصول کړي ځکه ملتقط دصاحب لقطه داجازې بغيردهغه مال بل چاته ورکړی دی .

(۶)وَيَجُوْزُ الِالْتِقَاطُ فِي الشَّاةِ وَالْبَقَرِ وَالْبَعِيْرِ (۷)فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُلْتَقِطُ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْحَاكِمِ فَهُوَ مُتَبَرِّعٌ (۸)وَإِنْ أَنْفَقَ بِإِذْنِهِ كَانَ ذٰلِكَ دَيْنًا عَلٰى صَاحِبِهَا

ترجمه :په پسه،غوايې اواوښ کې التقاط جائزدی ،نه ملتقِط دحاکم داجازې بغيرپه لقطه خرچه وکړه نوداملتقِط له طرفه احسان بلل کيږي اوکه ملتقِط دحاکم په اجازه سره پرلقطه خرچه وکړه نوداصاحب لقطه پرذمه قرض کيږي .

تشريح :(۶)که چاته پسه،غويی يااوښ دلقطه په ډول ورپيداشونوکه دهغودتلف کيدوخطره وه مثلاپه ښارکې غله ياپه ځنګل کې درندګان وونوملتقِط لره ددغوڅارويودحفاظت په غرض نيول جائزدی .

(۷)بياکه ملتقِط دحاکم داجازې بغيرپرلقطه خرچه وکړه نوداملتقِط له طرفه احسان بلل کيږي له مالک څخه دهغې مطالبه نه شي کولای ځکه دصاحب لقطه پرمال دملتقِط ولايت قاصردی .

(۸)اوکه ملتقِط دحاکم په اجازه سره پرلقطه خرچه وکړه نوداصاحب لقطه پرذمه قرض کيږي ځکه دغائب (صاحب لقطه)پرمال دغائب دمفادلپاره قاضي ته ولايت حاصل دی .

(۹)وَإِذَا رَفَعَ ذٰلِكَ إِلَى الْحَاكِمِ نَظَرَ فِيهِ فَإِنْ كَانَ لِلْبَهِيْمَةِ مَنْفَعَةٌ آجَرَهَا وَأَنْفَقَ عَلَيْهَا مِنْ أُجْرَتِهَا (۱۰)وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا مَنْفَعَةٌ وَخَافَ أَنْ تَسْتَغْرِقَ النَّفَقَةُ قِيْمَتَهَا بَاعَهَا الْحَاكِمُ وَأَمَرَ بِحِفْظِ ثَمَنِهَا (۱۱)وَإِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ الْإِنْفَاقَ عَلَيْهَا أَذِنَ فِي ذٰلِكَ وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلٰى مَالِكِهَا (۱۲)فَإِذَا حَضَرَ مَالِكُهَا فَلِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَمْنَعَهُ مِنْهَا حَتّٰى يَأْخُذَ النَّفَقَةَ

ترجمه :اوکه حاکم ته داحيوان راووست نوحاکم به غوروکړي که حيوان منافع درلودې نوقاضی به هغه په کرايه ورکړي اوله دغې کرايه څخه حاصل شده رقم به پرلقطه مصرف کړي اوکه دحيوان منافع نه وي نوکه داويره وه چې پردي باندې په خرچه کولوسره دحيوان اصل قيمت ځي نوقاضی به هغه خرڅ کړي اوملتقِط ته به دهغه قيمت دمحفوظ ساتلوحکم وکړي اوکه پرلقطه باندې په خرچ کولوکې فائده وه نوقاضی به ملتقِط ته دخرچ کولوحکم جاري کړي اودملتقِط له طرفه مصرف شوی رقم به پرصاحب لقطه قرض کړي چې کله يې مالک راشي نوملتقِط لره جائزدی چې له مالک څخه داشی وګرځوي ترهغه چې ملتقِط له هغه څخه مصرف وصولوي .

تشريح :(۹)که چاپیدا شوی حیوان دلقطه په ډول قاضي ته راوست چې قاضي دهغه دلقطه کیدو په باره کې فرمان جاري کړي نو قاضي ته پکار دی چې حیوان ووینې که چیرته دحیوان منافع وي نو قاضي به هغه په کرایه ورکړي اوله کرایه څخه حاصل شده رقم به پرلقطه مصرف کړي ځکه په دې کې دمالک مال دهغه پرملکیت بغیرلزوم دقرضې باقي پاتې کیږي .

(۱۰)اوکه دحیوان منافع نه وي نوکه داویره وه چې پردې باندې خرچه کول دحیوان اصل قیمت له منځه وړي نو قاضي دې هغه خرڅ کړي اوملتقِط ته دې دهغه دقیمت دمحفوظولو حکم وکړي چې لقطه په معنوي لحاظ باقي پاتې شي .

(۱۱)که پرلقطه په خرچ کولو کې فائده وه نوقاضي به ملتقِط ته دخرچه کولو حکم جاري کړي اودملتقِط له طرفه مصرف شوې روپۍ به پرصاحب لقطه قرض شي ځکه په دې کې دجانبینو (ملتقِط اومالک) رعایت دی .

(۱۲)که ملتقِط پرلقطه دقاضي په أمرخرچه وکړه بیامالک راحاضرشو اولقطه یې طلب کړه نوملتقِط ته جائزدی چې له مالک څخه لقطه وګرځوي ترهغه وخته چې دی دملتقِط هغه خرچه ادانکړي چې ده پرلقطه خرچه کړې ده ځکه لقطه دملتقِط په نفقه سره ژوندی پاتې ده نوګواکې ملتقط دمالک له جانبه پرلقطه ملک حاصل کړی دی نودامبیع مشابه ده .

(۱۳)وَلُقَطَةُ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ سَوَاءٌ

ترجمه :اودحِل اوحرم لقطه په حکم کې برابردي .

تشريح :(۱۳)حِل (غیرحرم) اودحرم شریف لقطه په حکم کې برابردي (حکم دلقطه دادی چې ترلس درهم کم مالیته شی دڅوورځولپاره تشهیرکیږي اودزیات قیمت والاترکاله پورې تشهیرکیږي) په اصل کې په دې قول سره امام قدوري رحمه الله دامام شافعي رحمه الله له قول څخه احترازکړی دی چې فرمایلي یې دي چې دحرم دلقطه تشهیربه همیشه کوي ترهغه چې مالک یې راشي .

(۱۴)وَإِذَا حَضَرَ رَجُلٌ فَادَّعَى أَنَّ اللُّقَطَةَ لَهُ لَمْ تُدْفَعْ إِلَيْهِ حَتَّى يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ (۱۵)فَإِنْ أَعْطَى عَلَامَتَهَا حَلَّ لِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَدْفَعَهَا إِلَيْهِ وَلَا يُجْبَرُ عَلَى ذَالِكَ فِي الْقَضَاءِ

ترجمه :که یوڅوک راغی ملتقِط ته اودعوی یې وکړه چې لقطه زماده نوترڅوچې دی ګواهان قائم نه کړي ملتقِط به لقطه نه ورکوي اوکه دغه مدعي دلقطه یوه علامه بیان کړه نوملتقِط ته جائزدی چې لقطه ورکړي لیکن ملتقِط قضاءً پردې نه مجبورکړای کیږي .

تشريح :(۱۴)که یو څوک ملتقِط ته راغی دعوی یې وکړه چې لقطه زما ده نو تر څو چې دا مدعي ګواهان قائم نه کړي ملتقط به لقطه نه ورکوي د نورو دعواوو په شان.
(۱۵)او که مدعي دلقطه یوه علامه بیان کړه (مثلا لقطه دراهم دي مدعي دهغو وزن یا عدد وغیره بیان کړه) نو ملتقِط ته جائز دی چې لقطه هغه ته ورکړي ځکه ظاهر داده چې لقطه دهغه ده.
(۱۶)لیکن که مدعي دلقطه علامه بیان کړه بیا هم ملتقِط له لقطه ورکولو څخه انکار وکړ نو قضاءً به ملتقِط پر لقطه ورکولو نه مجبور کیږي ځکه کله غیر مالک دیو شي علامه معلومه کړي بیان یې کړي.

(۱۷)وَلَا يَتَصَدَّقُ بِاللُّقَطَةِ عَلَى غَنِيٍّ (۱۸)وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ غَنِيًّا لَمْ يَجُزْ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا (۱۹)وَإِنْ كَانَ فَقِيرًا فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا (۲۰)وَيَجُوزُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا إِذَا كَانَ غَنِيًّا عَلَى أَبِيهِ وَابْنِهِ وَأُمِّهِ وَزَوْجَتِهِ إِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ

ترجمه :او لقطه به پر غني نه صدقه کوي او که ملتقِط خپله غني وونوده ته له لقطه څخه انتفاع جائزه نه ده او که فقیر وو نو بیا ده لره له لقطه څخه انتفاع جائزه ده او که ملتقِط خپله غني وونوده لره جائزه ده چې دالقطه پر خپل پلار، زوی، مور او ښځه صدقه کړي که هغوئ فقیران وو.
تشريح :(۱۷)دتشهیر له مودي وروسته که ملتقِط لقطه صدقه کوله نو پر غني به یې نه صدقه کوي ځکه دلقطه په باره کې دصدقې کولو حکم دی او اغنیاء محل دصدقې نه دي.
(۱۸)او که ملتقِط خپله غني وونوده ته له لقطه څخه انتفاع جائزه نه ده لما مرّ.
(۱۹)او که خپل دی فقیر وو نو بیا ده له لقطه څخه انتفاع جائزه ده ځکه فقیر محل دصدقې دی.
(۲۰)که ملتقِط خپله غني وو مګر دهغه پلار، زوی او ښځه فقیران دي نو ملتقِط لره جائز دی چې لقطه پر هغوئ صدقه کړي ځکه هغوئ محل دصدقې دي، همدا راز په دې کې دجانبینو (ملتقِط او مالک) رعایت هم دی.

كِتَابُ الخنثى

داکتاب دخنثی داحکامو په بیان کې دی

خنثی له خنث خنثا څخه دی په معنی دهغه انسان چې نرمي او ملائمت پکې وي، او په اصطلاح کې خنثی هغه زوکړی دی چې فرج او ذکر دواړه لري.
له ماقبل سره یې مناسبت دادی چې دخنثی په بعضو احکامو کې دتوقف حکم دی تر څو دهغه حالت واضح نه وي لکه په لقطه کې له تصرف کولو څخه چې دتوقف حکم دی تر هغه چې غالب ګمان داشي چې نور یې مالک طلب کول پري ایښی دی.

(۱) وَإِذَا كَانَ لِلْمَوْلُودِ فَرْجٌ وَذَكَرٌ فَهُوَ خُنْثَى (۲) فَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنَ الذَّكَرِ فَهُوَ غُلَامٌ (۳) وَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنَ الْفَرْجِ فَهُوَ أُنْثَى (۴) فَإِنْ كَانَ يَبُوْلُ مِنْهُمَا وَالْبَوْلُ يَسْبِقُ مِنْ أَحَدِهِمَا نُسِبَ إِلَى الْأَسْبَقِ مِنْهُمَا (۵) وَإِنْ كَانَا فِي السَّبْقِ سَوَاءً فَلَا يُعْتَبَرُ بِالْكَثْرَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ يُنْسَبُ إِلَى أَكْثَرِهِمَا بَوْلًا

ترجمه :که دکوم ماشوم ذکراوفرج دواړه وي نوداخنثی دی بیاکه یې له ذکرڅخه بولې کولي نوداهلک شمارل کیږي اوکه بولې دفرج له خواکولي نوښځه شمارله کیږي اوکه له دواړوخواووڅخه بولې کوي نوحکم هغه اسبق لره دی اوکه دواړه په سبقت کې برابروي نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدکثرت دبولوته اعتبارنشته حال داچې دصاحبینورحمهماالله په نزدترکوم ځای چې زیاتې بولې راوځي هغه طرف ته منسوبیږي.

تشريح :(۱) که دکوم ماشوم ذکراوفرج دواړه وي نوداخنثی دی.

(۲) بیاکه یې له ذکرڅخه بولې کولي نوداهلک شمارل کیږي.

(۳) اوکه بولې دفرج له خواکولي نوښځه شمارله کیږي ځکه له کوم اندام څخه چې بولې کوي داددي دلیل دی چې اصل عضو همداده هغه بل عارضی اوپه منزل دعیب دی.

(۴) که یې له دواړولاروبولې کولي نوچې له کوم اندام څخه لومړی بولې راوځي هغه عضو معتبره اواصلی شمارله کیږي اودهغه حکم پرې جاري کیږي ځکه سبقت دلیل دی چې مجری اصلی همدادی هغه بل عارضی دی.

(۴) که دواړه اندامونه په سبقت کې برابروونودصاحبینورحمهماالله په نزدترکوم ځای چې زیاتې بولې راوځي هغه عضومعتبراواصلی شمارله کیږي اودهغه حکم پري جاري کیږي، ځکه په ډیرواحکاموکې للاکثرحکم الکل، وي دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدکثرت دبولوته اعتبارنشته ځکه دبولوزیات والی کله په یوه عضوه کې دوسعت (پراخي) اودبلې دتنګي په وجه وي.

(۶) وَإِذَا بَلَغَ الْخُنْثَى وَخَرَجَتْ لَهُ لِحْيَةٌ أَوْ وَصَلَ إِلَى النِّسَاءِ فَهُوَ رَجُلٌ (۷) فَإِنْ ظَهَرَ لَهُ ثَدْيٌ كَثَدْيِ الْمَرْأَةِ أَوْ نَزَلَ لَهُ لَبَنٌ فِي ثَدْيَيْهِ أَوْ حَاضَ أَوْ حَبِلَ أَوْ أَمْكَنَ الْوُصُوْلُ إِلَيْهِ مِنْ جِهَةِ الْفَرْجِ فَهُوَ امْرَأَةٌ (۸) فَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ إِحْدَى هٰذِهِ الْعَلَامَاتِ فَهُوَ خُنْثَى مُشْكِلٌ

ترجمه : بیاکه خنثی بالغ شواوږیره یې راغله یایې له ښځوسره دوطی کولوقدرت وونودانرشمارل کیږي اوکه یې ښکاره شوتیان یاشیدې یاحیض ورته راغی یایې حمل ونیویادفرج له لارې وطی ورسره ممکنه وه نوداښځه شمارله کیږی اوکه مذکوروعلاموڅخه کومه علامه ښکاره نه شوه نوداخنثی مشکل دی.

تشریح :(۶)چې کله خنثی بالغ شي نو که چیرته دهغه ږیره راشي یاله ښځوسره دوطی کولوقدرت ولري یادنارینه ؤپه شان هغه له ذکرڅخه احتلام کیږي یادهغه تیان دنارینه په شان برابروراختلي اووتلي نه وي نوداخنثی بیانرشمارل کیږي ځکه په هغه کې دنرعلامات موندل شوې دي.

(۷)اوکه یې دښځوپه شان تیان راختلي اووتلي ښکاره شول یایې په تیانوکې شیدې پیداشوې یاحیض ورغی یایې حمل ونیویاله هغه سره دفرج له لارې وطی کول ممکن وونوپه دغوتولوصورتونوکې داخنثی ښځه شمارله کیږي ځکه داټولې دښځوعلاماتې دي.

(۸)اوکه له مذکوره علاماتوڅخه یوه علامه هم ښکاره نه شوه یامتعارض علامات ښکاره شول نوداخنثی مشکل دی چې خپل مخصوص احکام لري اجمال یې دادی چې په دیني اموروکې دخنثی مشکل په باره کې په احوط اواوثق باندې عمل کول کیږي اودکوم حکم په ثبوت کې چې شک وي دهغوډثبوت حکم نه کول کیږي ددغه اجمال تفصیل مصنف رحمه الله په راتلونکوعباراتوکې بیان کړیدی.

(۹)وَإِذَا وَقَفَ خَلْفَ الإِمَامِ قَامَ بَيْنَ صَفِّ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ (۱۰) وَتُبْتَاعُ لَهُ أَمَةٌ مِنْ مَالِهِ تَخْتِنُهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ (۱۱) فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ ابْتَاعَ لَهُ الإِمَامُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ أَمَةً فَإِذَا خَتَنَتْهُ بَاعَهَا وَرَدَّ ثَمَنَهَا إِلَى بَيْتِ الْمَالِ

ترجمه : خنثی مشکل چې دامام ترشادریږي نودنارینه ؤاوښځود صف په منځ کې به درول کیږي نوکه له ده سره مال وو په هغه سره دي یوه منځه واخیستله شي چې دده ختنه وروکړي اوکه له ده سره مال نه وونوبیادي امام دبیت المال په مال سره منځه واخلي چې دده ختنه وروکړي اوله ختنه کولووروسته به امام دامنځه خرڅه کړي اودهغې ثمن به بیت المال ته واپس ورکړي.

تشریح :(۹) دجماعت په لمانځه کې به خنثی مشکل دنارینه ؤاوښځود صف په منځ کې به درول کیږي ځکه کیدای شي ښځه وي نوکه دنارینه ؤپه صف کې ودریږي دکومونارینه ؤسره چې محاذات ودریږي دهغوئ لمونځ فاسدیږي.اوکیدای شي چې نروي نوکه دښځوپه صف کې ودریږي نودهغوئ لمونځ فاسدیږي لهذااحوط واوثق دادی چې دنارینه ؤاوښځوپه صف کې ودریږي.

(۱۰)که خنثی مشکل حددشهوت ته ورسیږي (اودده ختنه نه یې شوې) نوکه له ده سره مال وو په هغه سره دي یوه منځه واخیستله شي چې دده ختنه وروکړي ځکه دامنځه به دده مملوکه شي اومملوکه مالک ته کتلای شي که مالک نروي که ښځه.

(۱۱)اوکه له ده سره مال نه وونوبیادي امام دبیت المال په مال سره منځه واخلي (ځکه بیت المال دمسلمانانودحوائجولپاره دی) چې دده ختنه وروکړي اوله ختنه کولووروسته به امام دامنځه خرڅه کړي اودهغې ثمن به بیت المال ته واپس ورکړي ځکه نورضرورت نه دی پاتې .

(١٢) وَإِذَا مَاتَ أَبُوهُ وَخَلَّفَ ابْنًا وَخُنْثَى فَالْمَالُ بَيْنَهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ لِلِابْنِ سَهْمَانِ وَلِلْخُنْثَى سَهْمٌ وَهُوَ مُؤَنَّثٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي الْمِيرَاثِ إِلَّا أَنْ يَثْبُتَ غَيْرُ ذَلِكَ وَقَالَا لِلْخُنْثَى نِصْفُ مِيرَاثِ الذَّكَرِ وَنِصْفُ مِيرَاثِ الْأُنْثَى وَهُوَ قَوْلُ الشَّعْبِيِّ رحمه الله وَاخْتَلَفَا فِي قِيَاسِ قَوْلِهِ فَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ الْمَالُ بَيْنَهُمَا عَلَى سَبْعَةِ أَسْهُمٍ لِلِابْنِ أَرْبَعَةٌ وَلِلْخُنْثَى ثَلَاثَةٌ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ الْمَالُ بَيْنَهُمَا عَلَى اثْنَيْ عَشَرَ سَهْمًا لِلِابْنِ سَبْعَةٌ وَلِلْخُنْثَى خَمْسَةٌ

ترجمه: که دخنثى مشکل پلار مړشي په وارثانوکې يوهلک اويوخنثى مشکل پاتې شي نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدميراث ددوئ دواړوترمنځ پردريوحصوباندي تقسيمېږي دهلک لپاره دوې حصې اودخنثى لپاره يوه حصه کېږي، ځکه دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدخنثى دميراث په باب کې دښځې په حکم کې دى البته که له ده پرته څه نورظاهرشي صاحبين رحمهما الله فرمايي چې خنثى ته دنصف مردميراث اونصف ښځه ميراث ورکول کېږي همدا قول دامام شعبى رحمه الله هم دى، بيادامام شعبى رحمه الله دقول دقياس مطابق په تخريج کې دصاحبينو رحمهما الله اختلاف دى امام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې ترکه اوه برخې کېږي څلوردزوى لپاره درې حصې دخنثى کېږي اودامام محمد رحمه الله په نزدپه مذکوره مسئله کې ترکه پردولسو حصوتقسيمېږي دزوى لپاره اوه برخې اوخنثى لره پنځه حصې کېږي.

تشريح: (١٢) که دخنثى مشکل پلار مړشي په وارثانوکې يوهلک اويوخنثى مشکل پاتې شي نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدميراث ددوئ دواړوترمنځ پردريوحصوباندي تقسيمېږي دهلک لپاره دوې حصې اودخنثى لپاره يوه حصه کېږي، ځکه دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدخنثى دميراث په باب کې دښځې په حکم کې دى داځکه که خنثى هلک فرض کړاى شي نوزياته حصه ورکوله کېږي اوکه انجلۍ فرض کړاى شي نوکمه حصه ورکوله کېږي نوکمه حصه متيقنه ده اوپه زياته کې شک دى اودشک په وجه مال نه واجبېږي البته که دهغه (خنثى مشکل کېدو) نه علاوه څه نورښکاره شي يعنې دخنثى مذکرکېدل ثابت شي نوبيا ده ته دمذکرحصه ورکوله کېږي، بعضوحضراتودامطلب داسې بيان کړى دى چې خنثى مؤنث شماردى مګرداکه دهغه علاوه څه نورثابت شي يعنې دخنثى دمؤنث فرض کېدوپه صورت کې دهغه حصه دمذکرفرض کېدوترصورت زياته شي نوبياده ته دمذکرحصه ورکوله کېږي دمؤنث نه مثلا يوه ښځه مړه شوه زوج، ابوين اوولدخنثى يې پاتې شول نومسئله به له دولسو(١٢)څخه ښودله کېږي درې به زوج ته څلورابوينوته اوپنځه خنثى ته ورکول کېږي په دې صورت کې که خنثى مؤنث فرض کړاى شي نوخنثى ته شپږحصې ورکولې کېږي اومسئله عائله کرځي عول يې ديارلسوته کېږي مګرځرنګه چې دمؤنث فرض کېدوپه صورت کې دده حصه ترمذکرفرض کېدونه زياته ده لهذا ده ته دمذکرحصه ورکوله کېږي.

صاحبین رحمهما الله فرمايي چې خنثی ته دنصف مرد میراث اونصف ښځه میراث ورکول کیږي همدا قول دامام شعبی رحمه الله هم دی، بیادامام شعبی رحمه الله دقول دقیاس مطابق په تخریج کې دصاحبینو رحمهما الله اختلاف دی ،دامام محمد رحمه الله په نزدپه مذکوره مسئله کې ترکه پردولسو حصو تقسیمیږي دزوی لپاره اوه برخې اوخنثی لره پنځه حصې کیږي اوامام ابویوسف رحمه الله فرمايي چې ترکه اوه برخې کیږي څلوردزوی لپاره درې حصې دخنثی کیږي .

امام ابویوسف رحمه الله فرمايي چې کل ترکه څلور حصې فرضیږي خنثی ته دنصف ښځې میراث ورکول کیږي اودنصف هلک میراث ورکول کیږي چې مجموعه یې درې حصې جوړیږي ځکه دانجلۍ میراث کل دی یعنې که څلور حصې وي نوټولې دانجلۍ کیږي چې نصف یې دوې حصې دي اودانجلۍ میراث ټول دوې حصې دي چې نصف یې یوه حصه کیږي نوچې کله دوې حصې اویوه حصه سره یوځای شي مجموعه یې درې حصې کیږي نودخنثی کل میراث درې حصې دي اودهلک کل میراث څلورواړه حصی دي نوچې کله هلک اوخنثی دواړه سره جمع شي نوموږپه هغه حساب سره کل ترکه تقسیموو ټولی اوه حصی کیږي لهذا هلک ته څلور حصې اوخنثی ته درې حصې ورکولی کیږي .

امام محمد رحمه الله فرمايي چې خنثی که چیرته هلک وي نو ټول ددوئ دواړوترمنځ نصف نصف تقسیمیږي اوکه خنثی انجلۍ وي نو ټول مال درې حصی کیږی دوې حصې دهلک اویوه حصه دانجلۍ کیږي موږداسی یوعددته ضرورت لروچې په نصف اوحصه سره تقسیم وي اوکم داسي عددشپږدی نودخنثی دهلک فرضیدوپه صورت کې مال ددواړوترمنځ نیم نیم تقسیمیږي یعنې دواړولره درې درې حصې ورکولی کیږي اودخنثی انجلۍ فرضیدوپه صورت کې مال درې حصې کیږي دوې حصی هلک ته یوه حصه انجلۍ ته ورکوله کیږي نوثابته شوه اوخنثی لره دوې حصې خویقیني دی اوشک خالص په یوه حصه زائده کې دی چې دهلک فرضیدوپه صورت کې ده ته ورکوله کیده هغه حصه دي پرمنځ نیمې شي نیمه دي هلک ته اونیمه دي خنثی ته ورکوله شي نوهلک ته درې کاملې حصی اویوه نیمه حصه ورکولی کیږي اوخنثی ته دوې کاملې حصې اویوه نیمه حصه ورکوله کیږي نوځرنګه چې په حصوکې کسرشته ځکه موږاصل مخرج یعنې شپږاوددواړووارثانوسهام دوه چنده کړل چې هغه کسرله منځه ووځي نوله دولسو څخه مسئله ښودله کیږی چې اوه حصې هلک ته اوپنځه حصې خنثی ته ورکولې کیږي .

كِتَابُ المفقود

داكتاب دمفقوددااحكامو په بيان کې دی

مفقود په لغت کې ورک شوي ته وايي ،شرعًاهغه غائب شخص دی چې دهغه په باره کې دانه وي معلومه چې ژوندی دراتلوانتظاردي وکړای شي اوکه مړدی ،له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې په کتاب الخنثی اوکتاب المفقوددواړوکې تربيان حال پورې په بعضواحکاموکې توقف کيږي.

(۱)وَإِذَاغَابَ الرَّجُلُ وَلَمْ يُعْرَفْ لَهُ مَوْضِعٌ وَلَا يُعْلَمُ أَحَيٌّ هو أَمْ مَيِّتٌ نَصَبَ القَاضِي مَنْ يَحْفَظُ مَالَهُ وَيَقُومُ عَلَيْهِ وَيَسْتَوْفِي حُقُوقَهُ(۲)وَيُنْفِقُ على زَوْجَتِهِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ مِنْ مَالِهِ

ترجمه :کله چې يوڅوک داسي غائب شي چې دامعلومه نه وي چې ژوندی دی که مړشوی دی نوقاضی به يوداسي څوک مقررکړي چې دغائب دمال حفاظت اونګراني وکړي اودغائب حقوق (که پرخلکووو) به وصول کړي اوقاضی به دمفقودله مال څخه دمفقودښځې اونابالغ اولادته نفقه ورکوي.

تشریح :(۱)کله چې يوڅوک داسي غائب شي چې دهغه ځای نامعلوم وي چې هلته يې تلاش وکړای شي اونه دامعلومه وي چې ژوندی دی که مړشوی دی نوبيابه قاضی يوڅوک مقررکړي چې دغائب دمال حفاظت اونظارت وکړي اودغائب حقوق (که پرخلکووو) به وصول کړي ځکه قاضی دهرداسي چالپاره نګران مقررکوي چې له خپلوذاتی چاروسمبالولوڅخه عاجزوي اوغائب همداسي دی چې دخپلواموروںګراني نه شي کولای.

(۲)قاضی به دمفقودله مال څخه دمفقودښځې اونابالغ اولادته نفقه ورکوي اوقاعده داده چې کوم خلک چې دمفقوددحضورپه وخت بيله حکمه دقاضی دمفقول له مال څخه دنفقی حقداران دي هغوئ ټولوته دمفقوددغائب کيدوپه صورت کې هم دمفقودله مال څخه نفقه ورکړله کيږي ولی په دي وخت کې دقاضی قضاء خالص تعاون شمارل کيږي،اوکوم خلک چې دمفقوددحضورپه وخت دقاضی دحکم بغيرحقداران نه وي نودمفقوددغائب کيدوپه صورت کې دغوخلکوته دقاضی په حکم دمفقول له مال څخه نفقه نه شي ورکوله کيدای ولی په دي وخت کې نفقه دقاضی په قضاء سره واجبيږي حال داچې قضاء پرغائب جائزه نه ده.

الالغاز:ای رجل يعد ميتا وهو حيّ ينعم ؟

فتل :المفقودلان له فیمایرجع الی ماله حکم الحیاة وفیمایعودالی غیره حکم الممات،ویمکن ان یجاب بانه الکافرلانه یعدمن جملة الاموات بدلیل قوله تعالی (کیف تکفرون بالله وکنتم امواتافاحیاکم) یعني کنتم کفارافهداکم الی الایمان . الاشباه والنظائر) .

(۳)وَلَایُفَرِّقُ بَیْنَهٗ وَبَیْنَ امْرَأَتِهٖ

ترجمه :اوقاضي به دمفقوداودهغه دښځې ترمنځ تفریق نه کوي .

تشریح :(۳)قاضي به دمفقوداودهغه دښځې ترمنځ تفریق نه کوي،امام مالک رحمه الله فرمایلي دي چې کله مفقودغائب شي څلورکاله تیرشي نوبیاقاضي دمفقوداودهغه دښځې ترمنځ تفریق کولای شي له تفریق وروسته به عدت وفات تیره کړي هرځای چې یې خوښه وي نکاح کولای شي،دامام مالک رحمه الله دلیل دادی چې په مدینه منوره کې یوسړی جناتو(پیریانو) وړی وونو حضرت عمر رضي الله عنه دهغه اودهغه دښځې ترمنځ له څلورو کلونو تیریدلو وروسته تفریق وکړ .

داحنافو رحمهم الله دلیل دادی چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي چې دمفقودښځه دهغه مینه ده ترهغه چې ورته دمفقوددمرګ خبرراځي ،اوحضرت علي رضي الله عنه دمفقوددښځې په باره کې فرمایلي دي :هِيَ امرأته ابتُلِيَت فَلْتَصبِر حتّٰی یَستَبِینَ مَوتٌ أو طلاقٌ، دامام مالک رحمه الله ددلیل جواب دادی چې دحضرت عمر رضي الله عنه دحضرت علي رضي الله عنه دقول طرف ته رجوع ثابته ده لهذادحضرت عمر رضي الله عنه په قول سره استدلال صحیح نه دی .

وفی الشامیة لوافتی بقول مالک رحمه الله فی موضع الضرورة لابأس به ،یعني دضرورت په وخت دامام مالک رحمه الله پرقول په فتوی ورکولوکې هیڅ باک نشته .

(۴)فَاِذَاتَمَّ لَهٗ مِائَةٌ وَعِشْرُوْنَ سَنَةً مِنْ یَوْمِ وُلِدَ حَکَمْنَا بِمَوْتِهٖ وَاعْتَدَّتْ اِمْرَأَتُهٗ وَقُسِمَ مَالُهٗ بَیْنَ وَرَثَتِهِ الْمَوْجُوْدِیْنَ فِیْ ذٰلِکَ الْوَقْتِ (۵) وَمَنْ مَاتَ مِنْهُمْ قَبْلَ ذٰلِکَ لَمْ یَرِثْ مِنْهُ شَیْئًا (۶) وَلَا یَرِثُ الْمَفْقُوْدُ مِنْ اَحَدٍ مَاتَ فِیْ حَالِ فَقْدِهٖ

ترجمه :چې کله دمفقوددزوکړې له ورځې یوسل شل کاله پوره شي نوموږ دمفقوددمرګ حکم ورکوودده ښځه به له دغه وخت څخه عدت وفات تیروي اوله دغه وخت څخه چې دمفقودکوم وارثان دي دمفقودمال به پرهغوئ تقسیمیږي اودمفقودکوم وارثان چې دمفقوددمرګ ترحکم کولومخکې مړه شوي دي هغه دمفقود په وارثانو کې نه شمارل کیږي اودمفقوددغائب کیدوپه حال کې چې دهغه کوم رشته داران مړه کیږي مفقود دهغوئ وارث نه شي کیدلای .

تشریح :(۴)کله چې دمفقوددزوکړې له ورځې څخه یوسل شل کاله پوره شي نوموږ دمفقوددمرګ حکم ورکوو،داقول حسن بن زیاد رحمه الله له امام ابوحنیفة رحمه الله څخه نقل کړی دی ،ظاهرمذهب دادی چې دمفقوددهم عمرو له مرګ څخه اندازه کیږي چې اوس نومفقودمړشوی دی ،له امام ابویوسف رحمه الله څخه سل

کاله موده مروي ده او بعضو حضراتو نوي کاله اندازه ورته ایښي ده ، په هر حال کله چې د مفقود د مرګ حکم وکړای شي نو د هغه پر ښځه له همدي ورځې نه عدت وفات تیرول واجبه ده او په همدي وخت کې د مفقود چې کوم وارثان موجود دي د مفقود مال پر هغوئ تقسیمیږي .

(۵) د مفقود هغه وارثان چې د مفقود د مرګ تر حکم مخکې مړه شوي دي هغه د مفقود وارثان نه شمارل کیږي ځکه تر حکم بالموت مخکې مفقود ژوندی شمارل کیږي .

(۶) د مفقود د غائب کیدو په حال کې چې دده کوم وارثان رشته داران مړه کیږي مفقود د هغوئ وارث نه شي کیدلای ولی د مفقود ژوند متحقق نه دی او د وارث کیدو لپاره د مورث مرګ او د وارث حیات شرط دی .

كِتَـابُ الاباق

داکتاب د اباق په بیان کې دی

اباق په لغت کې تښتیدل، په اصطلاح د فقهاؤ کې آبق هغه مریی دی چې له خپل مالک څخه قصداً وتښتي، د کتاب الاباق له ماقبل سره مناسبت دا دی چې مفقود او آبق دواړه د زوال او هلاکت په نښه دي .

امام ثعالبی رحمه الله فرمایلي دي چې آبق هغه دی چې د مولی د ظلم بغیر وتښتي او که د مولی د ظلم په وجه وتښتي نو هغه ته آبق نه ویل کیږي بلکې هارب ورته ویل کیږي ، همدا وجه ده چې اباق عیب دی او هرب عیب نه دی .

(۱) وَاِذَا اَبَقَ مَمْلُوْکٌ فَرَدَّهٗ رَجُلٌ عَلٰی مَوْلَاهُ مِنْ مَسِیْرَةِ ثَلٰثَةِ اَیَّامٍ فَصَاعِدًا فَلَهٗ عَلَیْهِ جُعْلُهٗ وَهُوَ اَرْبَعُوْنَ دِرْهَمًا (۲) وَاِنْ رَدَّهٗ لِاَقَلَّ مِنْ ذٰلِکَ فَبِحِسَابِهٖ (۳) وَاِنْ کَانَتْ قِیْمَتُهٗ اَقَلَّ مِنْ اَرْبَعِیْنَ دِرْهَمًا قُضِیَ لَهٗ بِقِیْمَتِهٖ اِلَّا دِرْهَمًا

ترجمه : که یو مریی وتښتیدی او یو چا د دریو ورځو یا تر هغه زیاتی مسافی څخه مریی خپل بادار ته راووست نو پر مولی لازم دی چې راوړنکي ته اجرت څلویښت درهمه ورکړي او که یې تر دریو ورځو کم مسافت څخه راوګرځاوه رایې وست نو اُجرت په هغه حساب سره کیږي که د مریي قیمت تر څلویښت درهم یو درهم کم وي نو له کل قیمت څخه یو درهم کمیږي باقی مانده به راوستونکي ته په اُجرت کې ورکړي .

تشریح : (۱) که چا د دریو ورځو یا تر هغه له زیاتی مسافی څخه تښتیدلی مریی خپل مولی ته راووست نو پر مولی د راوستونکي څلویښت درهم کیږي .

(۲)که یې تردریوورځوکم مسافې ځخه راووست نواُجرت په هغه حساب سره کیږي ددوو،ورځومسافت راوستونکي اُجرت دڅلويښتودرهمونودوه ثلثه کیږي اودیوې ورځې دمسافت راوستونکي لپاره یوثلث کیږي.

(۳)که چاتښتیدلی مریی خپل مولی ته راووست مګردمریي قیمت ترڅلويښت درهم کم دی (مثلاًدمریي قیمت یودیرش درهم دی) نودطرفینورحمهماالله په نزدله کل قیمت ځخه یودرهم کمیږي باقی مانده (دیرش درهمونه)راوستونکي ته په اُجرت کې ورکول کیږي ځکه داُجرت ورکولومقصوددادی چې خلک دتښتیدلیومریانوراوستلواوراګرځولوته آماده شي چې داصل مالک مال محفوظ شي نوپه مذکورصورت کې به دمریي له قیمت ځخه یودرهم کم کړي چې دمالک هم څه فائده وي.

(۴)وَإِنْ أَبَقَ مِنْ يَدِ الَّذِي رَدَّهُ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَلَا جُعْلَ لَهُ (۵) وَيَنْبَغِي أَنْ يُشْهِدَ إِذَا أَخَذَهُ أَنَّهُ يَأْخُذُهُ لِيَرُدَّهُ عَلَى صَاحِبِهِ.

ترجمه:که له راوستونکي ځخه مریی وتښتیدی نوپرراوستونکي هیڅ تاوان نه واجبیږي اودهغه لپاره بیااُجرت هم نه کیږي اوچې کله تښتیدلی مریی نیسي نوګواهان به قائم کړي چې داددي لپاره نیسم چې ترمالکه یې ورسوم.

تشریح:(۴)که له مریي راوستونکي ځخه مریی وتښتیدی نوپرراوستونکي هیڅ تاوان نه واجبیږي ځکه مریی دهغه په لاس کې امانت دی اوامانت که دتعدی اوظلم بغیرتلف شي نوپرهغه ضمان نه کیږي،اوهغه لره بیااُجرت هم نه کیږي ځکه مریی دهغه په لاس کې په منزله دمبیع فی ید البائع دی نوترڅوچې مریی مالک ته وررونه سپاري داُجرت مستحق نه کیږي.

(۵)دتښتیدلي مریي نیونکي لره پکاردی چې دمریي نیولوپه وخت څوک پردي خبره ګواه جوړکړي چې زماددغونیولو مقصددهغه ترمالکه وررسول دی،دطرفینورحمهماالله په نزدپرراوستونکي ګواه قائمول واجب دی اوکه یې ګواهان قائم نه کړل نوداُجرت مستحق نه کیږي ولی په دې صورت کې داسې ګڼله کیږي چې هغه دخپل ځان لپاره نیولی دی.

(۶)فَإِنْ كَانَ الْعَبْدُ الْآبِقُ رَهْنًا فَالْجُعْلُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ

ترجمه:که تښتیدلی مریی له اصل مالک سره درهن په ډول ایښودل شوی وونودراوستونکي اجرت دمرتهن پرذمه کیږي.

تشریح:(۶)که تښتیدلی مریی اصل له چاسره درهن په ډول ساتلی ووبیاهغه دمرتهن له لاسه وتښتید نودراوستونکي اجرت دمرتهن پرذمه کیږي ولی فی الحال قبضه دمرتهن ده.

كِتَابُ احياء الموات

داكتاب داحياء الموات په بيان کې دی

داحياء لغوی معنی ده کوم شئ ژوندی کول ،اوموات په لغت کې مالاروح فيه (په کوم کې چې روح نه وي (يا ارض لامالک لها (داسي ځمکه دکومې چې مالک نه وي)ته ويل کيږي ،اوشرعا احياء موات غيرابادي ځمکه په تعمير يا کښت کولو سره دانتفاع قابل جوړلو ته ويل کيږي.

شرعي تعريف يې امام قدوری رحمه الله په دې ډول کړی دی الموات ملاينتفع به من الارض لانقطاع الماء عنه اولغلبة الماء عليه اواما اشبه ذالک ممايمنع الزارعة (يعنی ارض موارت هغه ځمکه ده کوم چې په يوه وجه سره دانتفاع قابله نه وي که اوبو دمنقطع والی په وجه سره وي اوکه دډيرو اوبو دراتلو په وجه سره وي يا په دې شان دکوم بل سبب په وجه سره کوم چې له کښت کولو څخه مانع وي ،مثلا پر ځمکه ريګ يا ډبرې ډيرې شي يا ځمکه شوره شي.

دکتاب احياء الموات له ماقبل سره مناسبت دادی چې په دواړو کې داحياء معنی راځي ولی دتبنيدلی مريې په واپس راوستلو کې ومالک ته ،ملک دمالک احياء کيږي.

(۱) فَمَا كَانَ مِنْهَا عَادِيًا لا مَالِكَ لَهُ أَوْ كَانَ مَمْلُوكًا فِي الْإِسْلَامِ لَا يُعْرَفُ لَهُ مَالِكٌ بِعَيْنِهِ وهو بَعِيدٌ مِنَ الْقَرْيَةِ بِحَيْثُ إِذَا وَقَفَ إِنْسَانٌ فِي أَقْصَى الْعَامِرِ فَصَاحَ لَمْ يُسْمَعِ الصَّوْتُ فِيهِ فَهو مَوَاتٌ (۲) مَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ مَلَكَهُ (۳) وَإِنْ أَحْيَاهُ بِغَيْرِ إِذْنِهِ لَمْ يَمْلِكْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وقالا رَحِمَهُمَا اللهُ يَمْلِكُهُ

توجمه :پس هغه ځمکه چې عادي (يعنې قديمه،شاړه ويرانه)وي اوپه اسلام کې کوم مالک نه لري يا په اسلام کې مملوکه وي ليکن دهغې يومعلوم مالک نه وي معلوم اوله کلي څخه دومره ليرې وي چې کله يو داسې سړی چې ډيرلوړآوازيې وي دآبادي په آخرکې پرهسک ځای ودريږي په زوره ناره وکړي نوترهغې ځمکې يې آوازونه رسيږي نودا موات ده اوکه چاموات ځمکه دامام په اجازه آباده کړه نودی يې مالک ګرځي اوکه چادامام داجازې بغيرآباده کړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددی يې نه مالک کيږي اودصاحبينو رحمهما الله په نزددامام داجازې بغيريې هم آبادونکی مالک ګرځي.

تشريح :(۱)دموات ځمکې په شرعی تعريف کې څه قيودات نورهم شته چې امام قدوری رحمه الله په خپل دې قول فماکان عاديا الخ،سره بيان کړي دي کومه ځمکه چې عادی(يعنې قديمه ،ويرانه) وي اوپه اسلام کې دهغې کوم مالک نه وي ياپه اسلام کې مملوکه وي خوهيڅ يومعلوم مالک يې معلوم نه وي اوهمدارازله

آبادي څخه دومره ليرې پرته وي چې يو سړی دلوړآوازخاوند دآبادي په آخرکې پريوهسک ځای وخيژي چيغه وکړي نوترهغې ځمکې نه رسيږي بس داموات ده .

له ابادي څخه ليري والی دامام ابويوسف رحمه الله په نزدشرط دی ولی ظاهره ده چې کومه ځمکه کلي ته نږدې وي له هغې څخه دهغه داوسيدونکوانتفاع منقطع نه وي نوموات هم نه ده نودحکم مدارپرقرب اوبعددی حال داچې دامام محمد رحمه الله په نزدشرط دادی چې دکلي داوسيدونکوانتفاع حقيقة له دي ځمکې څخه منقطع وي نوداسي ځمکه موات ده اګرکه کلي ته نږدې وي . دامام محمد رحمه الله قول راجح دی

(۲)دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدچاچې کومه غيراباده ځمکه دامام المسلمين په اجازت سره اباده کړه نوهغه دهغې مالک ګرځي .

(۳)اوچاچې دامام له اجازت څخه بغيراباده کړه نوهغه دهغې مالک نه ګرځي ولی چې غيراباده ځمکه هم له مال غنيمت څخه ده اوپه مال غنيمت کې چالره داحق نشته چې دی هغه دامام له اجازت څخه بغيرېوسي .اوصاحبينورحمهما الله په نزددامام له اجازت څخه بغيرهم ابادونکی مالک ګرځي ولی چې دامال مباح دی اوپرمال مباح چې څوک وړاندې قابض شي هغه دهغه دی . دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی

(۴)وَيَمْلِكُ الذِّمِّيُّ بِالْإِحْيَاءِ كَمَا يَمْلِكُهُ الْمُسْلِمُ

ترجمه :اوڅرنګه چې مسلمان دغيرآبادي ځمکې مالک ګرځي همدارازيې ذمی هم مالک کيږي .

تشريح :(۴)څرنګه چې مسلمان دغيرآبادي ځمکې په آبادولوسره مالک کيږي همدارازذمی هم مالک کيږي ولی دمِلک سبب احياء ده نولکه په نوروسبابودمِلک کې چې مسلمان اوذمی دواړه برابردي همدارازپه دغه سبب دمِلک (احياء) کې هم برابريږي،البته دامام له اجازې بغيرذمی په اتفاق سره دغيرآبادځمکې مالک نه کيږي .

(۵)وَمَنْ حَجَّرَ أَرْضًا وَلَمْ يَعْمُرْهَا ثَلَاثَ سِنِينَ أَخَذَهَا الْإِمَامُ مِنْهُ وَدَفَعَهَا إِلَى غَيْرِهِ (۶) وَلَا يَجُوزُ إِحْيَاءُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ وَيُتْرَكُ مَرْعًى لِأَهْلِ الْقَرْيَةِ وَمَطْرَحًا لِحَصَائِدِهِمْ

ترجمه :که چاپرغيرآباده ځمکه ډبرې راوتاوکړې مګرتردريوکلونوپورې يې آباده نه کړه نوامام به له ده ځمکه واخلي کوم بل چاته به يې ورکړي اوکومه ځمکه چې آبادي ته نژدې وي دهغې احياء جائزه نه ده اودادااهل قريه ډچراګاه اودرمند ولپاره پرېښودل کيږي .

تشريح :(۵)که چادخلکوله غيرآبادي ځمکې څخه دمنع کولوپه غرض دعلامې په ډول پرغيرآباده ځمکه ډبرې راتاوکړې مګرتردروکلونوپورې اباده نه کړه نوامام به له دغه محجِر څخه داځمکه واخلي کوم بل چاته به يې ورکړي ځکه تحجيراحياء نه ده اوامام ددې مقصدلپاره ورکړې وه چې دی يې آباده کړي چې دهغی له

عشراوخراج څخه مسلمانانوته فائده ورسيږي ليکن چې کله دامقصد حاصل نه شونودحصول مقصودلپاره به يې بل چاته ورکړي .

(۶)کومه ځمکه چې آبادي ته نژدي وي هغه مواته نه ده ځکه يې احياء جائزه نه ده بلکې دکليودخلکو دچراګاه اودرمندانو لپاره پريښودله کيږي څرنګه چې په دي ځمکه پورې دکليودخلکوحقوق متعلق دي ولی چې په داسي ځمکه کې دځمکې والاوحاجت ثابت دی لهذاداموات نه ده .

دڅاهانو، چينوو غيره دحريم بيان

(۷)وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي بَرِّيَّةٍ فَلَهُ حَرِيْمُهَا(۸)فَإِنْ كَانَتْ لِلْعَطَنِ فَحَرِيْمُهَا أَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا(۹)وَإِنْ كَانَتْ لِلنَّاضِحِ فَحَرِيْمُهَا سِتُّوْنَ ذِرَاعًا(۱۰)وَإِنْ كَانَتْ عَيْنًا فَحَرِيْمُهَا خَمْسُ مِائَةِ ذِرَاعٍ(۱۱)فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَحْفِرَ فِي حَرِيْمِهَا بِئْرًا مُنِعَ مِنْهُ

ترجمه :که چاپه ځنګل کې څاه وکيندله نودهغه لپاره حريم دڅاه دی بياکه دغه څاه (کوهی) دحيوانانو داوبولولپاره وي نودهغی حريم څلويښت ګزه دی اوکه څاه دکښتونواوبولولپاره وي نودهغی حريم شپيته ګزه دی اوکه چينه وه نودچينې حريم پنځه سوه ګزه دی نوکه چادڅاه ياچينې په حريم کې څاه ياچينه کيندله نوهغه دي منع کړای شي .

تشريح :(۷) چاچې په ځنګل(غيراباده ځمکه)کې څاه وکندی نوداکس دڅاه دحريم (دڅاه چارچاپيره)هم مالک ګرځي په دي وجه چې له څاه څخه بغيرله حريمه کامله نفع نه شي اخيستل کيدای .

(۸)نوکه هغه څاه څارويوته داوبوورکولولپاره وي نودهغی حريم له هرجانب څخه څلويښت ګزه دی .

(۹)اوکه څاه دکښتونوداوبوکولولپاره وي نودهغه حريم شپيته ګزه دی ،دشپيتوذراعوقول دصاحبينودی اودامام ابو حنيفه رحمه الله په نزددهغی حريم هم څلويښت ګزه دی. دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی

(۱۰)که چاغيراباده ځمکه وکندله اوله هغې څخه جاري چشمه (چينه)راووتله نودچشمي حريم له هرطرف څخه پنځه سوه ګزه دی ولی چې چشمه دزارعت لپاره رايستل کيږي نوضروري ده دداسي ځای موجودوالی په کوم کې چې اوبه ولاړي شي اودداسي حوض موجودوالی په کوم کې چې اوبه جمع شي اودداسي لښتی موجودوالی په کوم کې چې اوبه ترکښت پوري ولاړي شي ددي وجوه پراساس دچشمي حريم ډيرمقررشوی دی .

(۱۱)نوکه چا دبل چادڅاه ياچينې په حريم کې څاه کيندل وغوښتل نوهغه به منع کيږي ولی چې داولنی دڅاه په کيندلوسره پرحريم دهغه حق ثابت شوی دی نودهغه بل دڅاه په کندلوسره داولنی حق فوت کيږي يادهغه په حق کې خلل راځي .

(۱۲) وَمَا تَرَكَ الْفُرَاتُ أَوِ الدِّجْلَةُ وَعَدَلَ عَنْهُ الْمَاءُ فَإِنْ كَانَ يَجُوزُ عَوْدُهُ إِلَيْهِ لَمْ يَجُزْ إِحْيَاؤُهُ وَإِنْ كَانَ لَا يُمْكِنُ أَنْ يَعُوْدَ إِلَيْهِ فَهُوَ كَالْمَوَاتِ (۱۳) إِذَا لَمْ يَكُنْ حَرِيْمًا لِعَامِرٍ يَمْلِكُهُ مَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ

ترجمه: فرات یادجله چې کوم ځای پریږدي له هغه ځای څخه اوبه وګرځي که دوباره هغه ځای ته داوبو راتلوامکان وونو دهغه احیاء جائزه نه ده اوکه هغه ځای ته دوباره داوبوراتلوامکان نه وي نودامواتو ده که چیرته داځای دکومې آبادي حریم نه وونو دامام په اجازه سره دهغه احیاء جائزه ده .

تشریح: (۱۲) ددریاب اوبه کله کله خپل ځای پریږدي په بل طرف بهیدل شروع کوي نو که دفرات دریاب یادجله (مراددا هردریاب چې وي)خپل ځای پریښودنوکتل کیږي به چې دي ځای ته داوبودبیرته راتللوامکان شته اوکه یا؟ په اولنی صورت کې ددي احیاء جائزنه ده ولی چې داتراوسه ددریاب په حکم کې ده په کوم کې چې دعامو خلکو حق دی لهذاددي احیاء اګرکه دامام په اجازت سره وي جائزنه ده .

(۱۳)په دوهم صورت کې که داځای دڅاحریم نه وي نودامواتو دی لهذادامام ابوحنیفه رحمه الله په نزددامام په اجازت سره ددي احیاء جائزده اودصاحبینو رحمهما الله په نزدمطلقا جائزدی .

(۱۴) وَمَنْ كَانَ لَهُ نَهْرٌ فِي أَرْضِ غَيْرِهِ فَلَيْسَ لَهُ حَرِيْمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ الْبَيِّنَةُ عَلَى ذَالِكَ وَعِنْدَهُمَا لَهُ مُسَنَّاةُ النَّهْرِ يَمْشِيْ عَلَيْهَا وَيُلْقِيْ عَلَيْهَا طِيْنَه

ترجمه: که دچاویاله دبل په ځمکه کې تیره شوې وه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددویالې حریم نشته مګرداچې صاحب نهرپردي ګواهان قائم کړي اودصاحبینورحمهما الله په نزددویالې لپاره دویالې پندل کیږي چې داسړی پرولاړشي اویایې دکارولوپه وخت خاوره پري واچوي .

تشریح: (۱۴) که دچالښتی دبل په ځمکه کې تیرشوی وي نودصاحبینوپه نزددلښتی لره حریم شته یعنی لږترلږه به دلښتی پندلونه دلښتي والاوي ترڅوهغه پردي تګ وکړای شي اودلښتی دکندلوپروخت دهغه خاوره پردي واچوي ولی چې دلښتی لپاره دپندل وجودضروري دی نوظاهره داده چې پندل به دلښتی دمالک وي .دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدلښتی لره حریم نشته ولی چې پندل هم دځمکې له جنس څخه دی لهذاظاهره داده چې پندل دصاحب ارض دی اوقول دهغه معتبردی کوم لره چې ظاهرالحال ګواه وي الاداچې دلښتی مالک ګواه پیش کړي چې پندل زمادی ولی چې ګواه دخلاف ظاهرداثبات لپاره وي .دصاحبینوقول راجح دی

كِتَـابُ المأذون

داكتاب دماذون داحكاموپه بيان كې دى

مأذون له اذن څخه دى لغةً په معنى داجازت وركولو دى ، اوپه شريعت كې فك الحجرواسقاط الحق ته ويل كيږي يعنى غلام (بوجه رقيت) اونابالغ (بوجه كم عمري) چې ممنوع عن التجارة وو دمولى اوولى له طرف څخه ددي پابندي ختمولواومولى اوولى ته چې كوم دپابندي لګولوحق حاصل وودهغه ساقطولوته اذن ويل كيږي ، اوله چاڅخه پابندي ختمه شي هغه ته مأذون ويل كيږي .

دكتاب المأذون له احياء الموات سره مناسبت دادى چې په كتاب المأذون كې هم دمريي اوماشوم په معنوي لحاظ احياء راځي .

(۱) إِذَا أَذِنَ الْمَوْلَى لِعَبْدِهِ إِذْنًا عَامًّا جَازَ تَصَرُّفُهُ فِي سَائِرِ التِّجَارَاتِ (۲) وَلَهُ أَنْ يَشْتَرِيَ وَيَبِيعَ وَيَرْهَنَ وَيَسْتَرْهِنَ (۳) وَإِنْ أَذِنَ لَهُ فِي نَوْعٍ مِنْهَا دُوْنَ غَيْرِهِ فَهُوَ مَأْذُوْنٌ فِي جَمِيْعِهَا (۴) فَإِذَا أَذِنَ لَهُ فِي شَيْءٍ بِعَيْنِهِ فَلَيْسَ بِمَأْذُوْنٍ

ترجمه :كه مولى ومريي ته دتجارت عامه اجازه وركړه نوپه هرقسم تجارت كې دهغه تصرف جائزدى اومأذون ته خريدوفروخت جائزدى اوله چاسره رهن هم ساتلى شي اوله چاڅخه رهن هم اخيستلى شي اوكه مولى ومريي ته ديوخاص قسم دتجارت اجازه وركړه دهغه علاوه يې اجازه نه وه وركړې نوهم دى دتجارت په ټولواقساموكې مأذون كيږي اوكه مولى مريي ته ديومعلوم شي دخريداجازه وركړه نودامريى ماذون بلل كيږي.

تشريح :(۱) كه مولى خپل غلام ته دتجارت عام اجازت وركړيه كوم خاص قسم تجارت پوري يې مقيدنه كړ مثلاداسې وويل اذنت لك فى التجارة (ماتاته دتجارت كولواجازت دركړى دى)نوغلام هرقسم تجارت كولى شي ولى چې اسم تجارت عام دى جنس تجارت ته شامل دى نومأذون چې څه وغواړي اخيستلى يې شي اوڅه چې وغواړي خرڅولى يې شي ولى چې اخيستل اوخرڅول اصل التجارت دي .

(۲) اوله چاسره رهن هم ايښودلى شي له چا څخه رهن هم اخيستلى شي اوچاته شئ په اجاره سره هم وركولى شي اوله چاڅخه شئ په اجاره سره هم اخيستلى شي ولى چې دادتجاروله معمولاتوڅخه دي .

(۳) كه مولى غلام ته ديوخاص قسم دتجارت اجازت وركړمثلاوي ويل ، اذنت لك فى التجارة فى البر فقط نوهم هغه دتجارت په ټولواقساموكې مأذون دى ولى چې اذن عبارت دى له پابندي ختم كولوڅخه اوله اسقاط

حق څخه اوکله چې مولی خپل حق ساقط کړنودغلام ملکیت ظاهرېږي نودابه په کومه خاصه نوع پورې مخصوص نه وي .

(۴)اوکه مولی دیوخاص شي دخریدوفروخت اجازه ورکړه مثلاداغوستلودجامويادخوراک دغلې داخيستلوحکم یې ورته وکړنودامريی ماذون نه کيږي ځکه دااستخدام دی (يعنې خدمت اخيستل دی) نوکه په دې سره هم ماذون شي نودخدمت اخيستلودروازه بنديږي .

(۵)واقرارُ المأذونِ بالدّيونِ والغُصوبِ جائزٌ(۶)وليس له أن يتزوّجَ ولا أن يُزوِّجَ مماليكَه(۷)ولا يُكاتِبُ ولا يُعتِقُ على مالٍ (۸)ولا يَهَبُ بعوضٍ ولا بغيرِ عوضٍ(۹)الّا أن يُهدى اليسيرَ من الطّعامِ أو يُضيفَ مَن يُطعِمُه

ترجمه : دمأذون پرخپل ځان دقرض اقرارکول یادکوم شي دغصب کولواقرارکول جائزدی اومریي ته ددې اختیارنشته چې خپله نکاح وکړي اونه دخپلومریيانونکاح ورکولای شي اونه مکاتب جوړولای شي اونه په عوض مال آزادولای شي اونه کوم شی په عوض یابغیرعوض هبه کولای شي البته که لږغوندي خوراک هبه کړي یایوداسي څوک میلمه کړي چې هغه دی میلمه کوي نودا جائزدی .

تشریح :(۵) دمأذون پرخپل ځان دقرض اقرارکول یادکوم شئ دغصب کولواقرارکول جائزدی ولی چې اقراردتجارت له توابعواولوازموڅخه دی اوکه دمأذون اقرارصحیح نه وي نوخلک به له ده سره داخیستلواوخرڅولوله معاملې څخه ځان ساتې .

(۶)مأذون لره جائزنه ده چې خپله نکاح وکړي ولی چې نکاح کول دتجارت له قبیلې څخه نه ده همداشان که دطرفینوپه نزددمأذون غلام په مال کې که غلام یامینځه وي نومأذون دهغوئ نکاح هم نه شې کولی ،حال داچې دامام ابویوسف رحمه الله په نزددمینځې دنکاح کولواختیارعبدمأذون لره حاصل دی .

(۷)که دمأذون په مال کې غلام وي نوده لره دهغه دمکاتب جوړولواختیارنشته اونه دی دهغه دازادولواختیارلري .

(۸)اونه کوم شئ بعوض یابغیرعوض هبه کولی شې ولی چې داتول یاخوابتداءاوانتهاءتبرع دي اویاصرف ابتداءا(لکه هبه بعوض) تبرع دي چې په اذن فی التجارت کې داخل نه دي .

(۹)البته که لږطعام هبه کړي یاکوم داسې څوک میلمه کړي کوم څوک چې دی میلمه کوي نوداجائزده ،یاداسې څوک میلمه کړي کوم چې دی نه میلمه کوي نوداهم جائزده ولی چې داتجارانودزړونودمائل کولولپاره له ضروریات تجارت څخه دي.

(۱۰) وَدَيْنُ الْمَأْذُوْنِ لَهُ مُتَعَلِّقَةٌ بِرَقَبَتِهِ يُبَاعُ لِلْغُرَمَاءِ (۱۱) اِلَّا اَنْ يَّفْدِيَهُ الْمَوْلٰى (۱۲) وَيُقْسَمُ ثَمَنُهُ بَيْنَهُمْ بِالْحِصَصِ (۱۳) فَاِنْ فَضَلَ مِنْ دُيُوْنِهِ شَيْءٌ طُوْلِبَ بِهِ بَعْدَ الْحُرِّيَّةِ

ترجمه: او دعبد ماذون واجب قرض دده له رقبې سره متعلقه وي خرڅیږي به دهغې په عوض کې که فدیه ورنه کړي دده مولی او تقسیمیږي به دده ثمن د حصو په مطابق او کوم چې باقي پاتې شي دهغه مطالبه به کیږي دده له ازادي څخه وروسته.

تشریح: (۱۰) په عبد مأذون چې کومې قرضې دتجارت په وجه سره واجبي شې مثلاً په اخیستلو او خرڅولو او په اجاره اخیستلو او ورکولو وغیره کې مأذون مقروض شې نو دا قرضې به دده له رقبې سره متعلقې وي نو قاضی به دی خرڅ کړي او دده له قیمت څخه به د قرضخواهانو قرضې اداء کړي.

(۱۱) که مولی له خپل طرف څخه دغلام د قرضې فدیه قرض خواهانو ته ورکړي نو بیا به غلام نه خرڅیږي ولی چې اوس دغلام له رقبې سره د قرضخواهانو حق متعلق پاتې نه شو.

(۱۲) دغلام د خرڅیدو په صورت کې که له ثمن څخه د دیونو پوره ادائیګی نه کیدله نو دغلام ثمن به د قرضخواهانو د حصصو په مقدار باندې تقسیمیږي.

(۱۳) بیاهم که څه قرضه باقي پاتې شوه نو دهغې مطالبه به له غلام څخه له ازادي وروسته کیږي ولی چې قرضه دده پر ذمه ثابته شوي ده قرضخواهانو خپله ټوله قرضه نه ده وصول کړي او رقبه کافي نه شوه، مګر د باقي قرضې لپاره به دی دوهم ځل نه خرڅیږي ولی چې په دي کې د مشتري نقصان دی.

(۱۴) وَاِنْ حَجَرَ عَلَيْهِ لَمْ يَصِرْ مَحْجُوْرًا عَلَيْهِ حَتّٰى يَظْهَرَ الْحَجْرُ بَيْنَ اَهْلِ السُّوْقِ

ترجمه: که مولی مأذون مریی محجور کړ نو دی نه محجور کیږي ترڅو چې د بازار خلک دده په محجوریدو خبر نه شي.

تشریح: (۱۴) که مولی عبد مأذون محجور کړ نو هغه محجور ګرځي په دي شرط چې د بازار اکثرو خلک دهغه په محجوروالی خبر شوي وي ترڅو له ده سره معامله کونکو ته ضرر پیښ نه شي ولی چې د بازار خلکو ته دده د محجوروالی علم نه وي نو غلام چې له حجر څخه وروسته کوم تصرف کوي په دي که پر ده قرض لازم شو نو دا قرض به دده له ګټې یا رقبې سره متعلق نه وي بلکه دده له ازادي څخه وروسته به دا قرضې له ده څخه وصول کیږي نو په دي سره د معامله کونکو حق مؤخر ګرځي په کوم کې دهغوئ نقصان دی حال دا چې معامله کونکو له ده سره په دي امید معامله کړي وه چې که دی قرضه اداء نه کړي نو موږ به یې دده له رقبې یا ګټې څخه وصول کړو حال دا چې دده ازادي هم موهومه ده یقیني نه ده.

(۱۵) فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَىٰ اَوْ جُنَّ اَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًا صَارَ الْمَأذُوْنُ مَحْجُوْرًا عَلَيْهِ (۱۶) وَلَوْ اَبَقَ الْعَبْدُ الْمَأذُوْنُ صَارَ مَحْجُوْرًا عَلَيْهِ

ترجمه : که دعبدمأذون مالک مړشویا مجنون شو یامرتدشو (نعوذبالله) اودارالحرب ته ولاړی نوعبد مأذون محجور ګرځي اوکه عبدماذون له مولی څخه وتښتيدی نو دی محجور ګرځي .

تشريح :(۱۵) یعنی که دعبدمأذون مالک مړشویا مجنون شو یامرتدشو (نعوذبالله) اودارالحرب ته ولاړی نوعبدمأذون محجورګرځي اګرکه غلام اودښارخلګوته ددي علم نه وي ولی چې دمولی له طرف څخه اذن او اجازت پرمولی باندي یوغیرلازم تصرف دی نوددي دبقاء هم هغه حکم دی کوم چې ددي ابتداء دی ، نولکه څرنګه چې ابتداء په مولی کې داذن داهلیت وجودضروري دی همداشان بقاء هم دهغه وجود ضروري دی حال داچې دمرګ اوجنون په وجه سره په مولی کې اهلیت اذن نیستي کیږي ،همداشان په مرتدکیدلو (نعوذبالله) اودارالحرب ته په تللوسره اهلیت اذن ختمیږي ولی چې داموت حکمی دی همداوجه ده چې دده مال دده په وارثانو کې تقسیمیږي .

(۱۶) که عبدمأذون له مولی څخه وتښتي نوهم دی محجورګرځي ولی چې په اذن سره دمولی حق ساقطیږي حال داچې مولی له خپل سرکش غلام څخه دخپل حق په ساقطولو راضی نه دی لهذا هغه دلالة محجورګرځي .

(۱۷) وَإِذَا حُجِرَ عَلَيْهِ فَإِقْرَارُهُ جَائِزٌ فِيْمَا فِي يَدِهِ مِنَ الْمَالِ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ لَا يَصِحُّ اِقْرَارُهُ

ترجمه : که پرعبدمأذون باندي مولی حجرولګاوونوله حجرڅخه وروسته دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدده اقرارجائزدی په هغه مال کې کوم چې دده په قبضه کي دی اوصاحبين رحمهماالله فرمايي چې دده اقرارصحيح نه دی .

تشريح :(۱۷) که پرعبدمأذون باندي مولی حجرولګاوونوله حجرڅخه وروسته دده اقرارجائزدی په هغه مال کې کوم چې دده په قبضه کي دی مثلاده اقراروکړچې له ماسره چې کوم مال دی هغه دفلان کس امانت دی یامالې فلان څخه غصب کړی دی یازماپرذمه دفلان قرض دی نودااقرارجائزدی داداامام ابوحنيفه رحمه الله مسلک دی ،دلیل دادی چې حقیقة اوبالفعل دغلام قبضه باقی ده اودحجرپه وجه سره چې حکماده قبضه باطلیږي هغې لره شرط دادی چې مال مقبوض دده له ضرورت څخه زائداوفارغ وي حال داچې دده اقرارکول ددي خبري دلیل دی چې تراوسه دده ضرروت باقي دی لهذا دده قبضه معتبره ده نوپه دي کې اقرارهم صحيح دی ،حال داچې دصاحبينو رحمهماالله په نزدله حجرڅخه وروسته دعبدمأذن اقرارپه هغه مال کې چې دده په قبضه کې وي جائزنه دی ،دصاحبينودلیل دادی چې داقرارصحيح والی که دمولی له طرف څخه داجازت په وجه سره وي نوهغه خودحجرپه وجه سره زائل شواوکه دغلام په مال دقبضې په وجه سره وينوحجرخوددده

قبضه على المال هم باطله كړه ولى چې د محجور قبضه شرعا غير معتبره ده لهذا د صحت اقرار هيڅ وجه نشته.
د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى.

(١٨) وَإِذَا لَزِمَتْهُ دُيُوْنٌ تُحِيْطُ بِمَالِهِ وَرَقَبَتِهِ لَمْ يَمْلِكِ الْمَوْلٰى مَا فِيْ يَدِهِ فَإِنْ أَعْتَقَ عَبِيْدَهُ لَمْ يَعْتِقُوْا عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رحمه الله وَقَالَا رحمهما الله يَمْلِكُ مَا فِيْ يَدِهِ (١٩) وَإِذَا بَاعَ عَبْدٌ مَأْذُوْنٌ مِنَ الْمَوْلٰى شَيْئًا بِمِثْلِ الْقِيْمَةِ أَوْ أَكْثَرَ جَازَ الْبَيْعُ وَإِنْ بَاعَ بِنُقْصَانٍ لَمْ يَجُزْ (٢٠) وَإِنْ بَاعَهُ الْمَوْلٰى شَيْئًا بِمِثْلِ الْقِيْمَةِ أَوْ أَقَلَّ جَازَ الْبَيْعُ فَإِنْ سَلَّمَهُ إِلَيْهِ قَبْلَ قَبْضِ الثَّمَنِ بَطَلَ الثَّمَنُ (٢١) وَإِنْ أَمْسَكَهُ فِيْ يَدِهِ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ جَازَ

ترجمه: كه پر ماذون مريي دومره قرض واجب شي چې دده پر مال اورقبه دواړو محيط وي نو كوم مال چې له ده سره وي مولى دهغه مالک نه كيږي او كه عبد ماذون (مقروض) دخپل مولى په لاس يوشى په مثل قيمت يازيات قيمت خرڅوي دا جائز دى او كه يې په نقصان خرڅوي نو جائزنه دى او كه مولى پرعبد ماذون يوشى په مثل قيمت ياكم خرڅوي نوبيع جائزه ده بيا كه يې دثمن دقبض كيدو مخكې مبيع ده ته حواله كړه نوثمن باطليږي او كه مبيع مولى وګرځوي ترهغه چې قيمت وصولوي نو جائز دى.

تشريح: (١٨) پرعبد مأذون كه دومره اندازه قرض واجب شو چې دده پرمال اورقبې دواړو محيط شونو په دي صورت كې چې كوم مال له ده سره وي د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد مولى دهغه مالک نه دى ولى چې له دي سره دقرضخواهانو حق متعلق شوى دى او دقرض خواهانو حق دمولى ترحق مقدم دى ،نو كه په مذكوره بالاصورت كې مولى دعبد مأذون دغلامانوازادول وغواړي نو هغه نه ازاديږي ولى چې اعتاق له غيرمالک څخه صادريږي ،حال داچې دصاحبينو په نزد په داسې صورت كې مولى دهغه مال مالک ګرځي كوم چې دعبد مأذون په لاس كې دى نو كه مولى دده دغلامانوازادول وغواړي نوازاديږي.
د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى

(١٩) كه عبد مأذون مقروض پرخپل مولى باندي كوم شئ په قيمت مثل ياتر قيمت مثل په زيات قيمت سره خرڅ كړي نو دا جائز دى ولى چې په دي كې تهمت نشته او كه يې په لږ نقصان سره خرڅ كړي نو دا بيع جائزه نه ده ولى چې دمأذون له مال سره دقرضخواهانو حق متعلق شوى دى نو پرخپل مولى په كم قيمت سره په خرڅولو كې دتهمت امكان دى چې قرضخواهانو ته دنقصان رسولو لپاره دي دمالک او مملوک په منځ كې خفيه (پټه) معاهده شوي وي.

ليکن مذکوره بالاجوازحکم به په هغه صورت کې وي چې پرغلام قرض باندي وي ولی چې دقرض په شکل کې دده مولی داجنبی کس په شان وي اودغلام دنه مقروض والی په صورت کې دمولی اوغلام په منځ کې اخيستل اوخرڅول صحيح نه دي ولی چې په دي صورت کې دټولو مالک مولی دی .

(۲۰)که مولی په خپل مأذون اومقروض غلام باندي کوم شئ په مثل قيمت ياکم قيمت سره خرڅ کړي نوداجائزدی ولی کله چې غلام مقروض دی نومولی دده له کتې څخه اجنبی دی اوپه دي بيع کې تهمت هم نشته اودقرض خواهانونفع ده.بياکه مولی پرثمنوله قبضي کولوڅخه وړاندي مبيع عبدمأذون ته تسليم کړاوثمن دين وي عين نه وي نوهغه ثمن باطليږي (يعنی مولی دهغه مطالبه نشي کولی)ولی چې په دي صورت کې ثمن دمولی لپاره دغلام پرذمه قرض دي حال داچې مولی لره داحق نشته چې دغلام پرذمه ثمن واجب کړي ،کله چې ثمن باطل شونوګويامولی پرده بلاقيمته خرڅ کړ،البته مولی ته مبيع واپس اخيستل جائزدی .

(۲۱)اوکه مولی مبيع له ځان سره وساتې ترڅوچې ثمن وصول کړي نوداجائزده ولی چې بائع لره دمبيع له ځان سره دساتلو حق شته .

(۲۲)وَاِنْ اَعْتَقَ الْمَوْلَى الْمَاْذُوْنَ وعليه دُيُوْنٌ فَعِتْقُه جَائِزٌ وَالْمَوْلٰى ضَامِنٌ لِقِيْمَتِه لِلْغُرَمَاءِ (۲۳) ومَابَقِيَ مِنَ الدُّيُوْنِ يُطَالَبُ بِه الْمُعْتَقُ

ترجمه :که مولی خپل ماذون مريی آزادکړنودهغه آزاديدل جائزدی البته مولی به دهغه دقرض غوښتونکو ته دده دقيمت په اندازه ضامن شي اودباقی مانده دين مطالبه به قرض غوښتونکي دهغه له آزاديدو، وروسته کوي .

تشريح :(۲۲) که مولی خپل مأذون مقروض غلام ازادکړنوداجائزده ولی چې تراوسه دمولی ملک باقی دی لهذادخپل ملک په موجب مولی په ده کې تصرف کولی شي البته مولی به دده قرضخواهانوته دده دقيمت په اندازه ضامن وي ولی چې دقرض خواهانوحق دده له رقبې سره متعلق شوی دی مولی په ازادولوسره دهغوئ حق تلف کړ.

(۲۳)اوکه مولی دده قيمت قرض خواهانوته ورکړمګردهغوئ دين اداء نه شونودباقی دين مطالبه به قرض خواهان له ده څخه دده له ازاديدلوڅخه وروسته کوي ولی چې دين دغلام پرذمه پاتې دی .

(۲۴) وَاِذَا وَلَدَتِ الْمَاْذُوْنَةُ مِنْ مَوْلَاهَا فَذٰلِكَ حَجْرٌ عَلَيْهَا (۲۵) وَاِنْ اَذِنَ وَلِيُّ الصَّبِيِّ لِلصَّبِيِّ فِي التِّجَارَةِ فَهُوَ فِي الشِّرَاءِ وَالْبَيْعِ كَالْعَبْدِ الْمَاْذُوْنِ اِذَا كَانَ يَعْقِلُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ

ترجمه :که دماذونې منځې له مولی څخه بچی پیدا شونو دا پرهغې حجر دی او که دماشوم ولي ماشوم ته دتجارت اجازه ورکړه نو هغه ماشوم په خرید و فروخت کې دعبد ماذون په شان دی په دې شرط چې په خرید و فروخت پوهیږي.

تشریح :(۲۴)که ماذونې منځې له مولی سره وطی وکړه اودمنځې له هغه څخه بچی پیدا شونو دا محجوره ګرځي ځکه ظاهر داده چې له ام ولده کیدو وروسته مولی په دې نه راضي کیږي چې دا له خلکو سره اختلاط ولري.

(۲۵)که دماشوم ولي ماشوم ته دتجارت اجازه ورکړه نو هغه ماشوم په خرید و فروخت کې دعبد ماذون په شان دی په دې شرط چې په خرید و فروخت به پوهیږي ځکه عاقل ماشوم له بالغانو سره مشابهت لري ځکه عاقل ممیّز دی، اوله اطفال غیرذی عقل سره هم مشابهت لري ځکه دهغه په عقل کې قصور دی اودغیر پرده ولایت حاصل دی ،نوپه خالص نافع امورو کې له بالغینو سره ملحق دی اوپه ضررناکو امورو کې له اطفالو سره ملحق دی، اوهغه امور چې دائربین النفع والضرر دي په هغو کې دولي له طرفه اذن نه وونوپه اطفالو کې شمار دی او که دولي له طرفه اذن وونوپه بالغینو کې شمار دی لرُجحان جهةِ النّفع علی الضّررِ بدلالةِ الاِذن.

كتَابُ المُزَارعة

داکتاب دمزارعت په بیان کې دی

مزارعة له زرع (په معنی دکرلو ،تخم پاشلو)څخه دی اوپه شریعت کې عقدعلی الزرع ببعض الخارج (یعنی دحاصلاتو په بعض حصه باندې دکښت کولو عقد کولو)ته مزارعة ویل کیږي ،مزارعت ته مخابره او محاقله هم ویل کیږي.

دکتاب المزارعة له ماقبل سره مناسبت دادی چې مزارع اوماذون هریو دغیر په ملک کې کارکونکي دي.

(۱) قَالَ اَبُوْ حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اَلْمُزَارَعَةُ بِالثُّلُثِ بَاطِلَةٌ وَقَالَا جَائِزَةٌ

ترجمه :دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد په ثلث مزارعت باطل دی اودصاحبینو رحمهما الله په نزد جائز دی.

تشریح :(۱) دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په ثلث اوربع یاکم وزیات سره مزارعت باطل دی لان النبی ﷺ نهی عن المُخَابَرَةِ (وهی المزارعة) یعنی نبی کریم ﷺ له مخابره څخه منع فرمایلې ده اومخابره مزارعت ته ویل کیږي ،همداشان یوه وجه دفساد داهم ده چې په مزارعت کې اجرت مجهول یابالکل معدوم وي دصاحبینو په نزد مزارعت په ثلث اوربع وغیره سره جائز دی ولی کله چې نبی کریم ﷺ خیبر فتح کړنو هغه ځای یهودیې

پرهغه ځای برقراروساتل اوادامعامله یې ورسره وکړه چې کوم حاصلات چې وي دهغه نصف به مسلمانانوته ورکوي ،نوکه مزارعت جائزنه وای نونبی کریم ﷺ به ولی کاوو.همداراز مزارعت خوعقدشرکت بین المال والعمل دی نولکه څرنګه چې مضاربت جائزدی چې په هغه کې هم دیوه مال اودبل عمل وي نوهمداشان مزارعت هم بایدجائزوي . فتوی دصاحبینوپرقول ده ځکه امام قدوری رحمه الله راتلونکې مسائل دهغوئ پرمسلک متفرع کړې دي.

(۲)وَهِيَ عِنْدَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ إِذَا كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ جَازَتِ الْمُزَارَعَةُ وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَقَرُ لِآخَرَ جَازَتِ الْمُزَارَعَةُ وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ لِوَاحِدٍ جَازَتْ وَإِنْ كَانَتِ الْأَرْضُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْبَذْرُ وَالْعَمَلُ لِوَاحِدٍ فَهِيَ بَاطِلَةٌ

ترجمه :دصاحبینو رحمهما الله په نزددمزارعت څلورصورتونه دي ،که ځمکه اوتخم دیوه سړي وواوغویی اوکاردبل ووداصورت جائزدی اوکه ځمکه دیوه وه اوکار،غویی اوتخم دبل ووداهم جائزدی اوکه ځمکه اوتخم اوغویی دیوه وواوعمل دبل ووداهم جائزدی اوکه ځمکه اوغویی دیوه وواوتخم اوعمل دبل وودا باطل دی.

تشریح :(۲) دصاحبینوپه نزددمزارعت څلورصورتونه دي چې له هغوڅخه دري صحیح اویوباطل دی.

نمبر ۱- ځمکه اوتخم به دیوه له طرف څخه وي غویی اوکاربه دبل له طرف څخه وي ،داصورت جائزدی ولی چې په دي صورت کې دځمکې مالک مستاجردی عامل یې دبعضوحاصلاتوپه عوض په اجاره نیولی دی اوغویی داجیردعمل تابع دی ولی چې دعمل آله ده اوداداسې صورت دی لکه چې مستاجرخیاط اجیرکړي ترڅوهغه په اجاره سره په خپله ستنه دمستاجرجامې وګنډي لهذاداجائزدی.

نمبر ۲- ځمکه دیوه وي اوکار،غویی اوتخم دبل وي داصورت هم جائزدی ولی چې ددي حاصل دادی چې دتخم مالک دځمکې دمالک ځمکه په کرایه باندې اخلي دځمکې دبعضوحاصلاتوپه عوض کې کوم چې جائزدی.

نمبر ۳- که ځمکه ،تخم اوغویی دیوه وي اوعمل دبل وي نوداهم جائزدی ولی چې ددي حاصل دادی چې دځمکې مالک کارکونکی دځمکې دمالک په الاتوسره دکارکولولپاره مزدورکړی دی نوداداسې ده لکه مستاجرچې خیاط اجیرکړي ترڅودمستاجرپه ستنه سره دمستاجرجامې وګنډي لهذاداجائزده.

نمبر ۴-چې ځمکه اوغویی دیوه وي اوکاراوتخم دبل وي دظاهرروایت مطابق داصورت باطل دی ځکه په دي صورت کې عامل ځمکه اوغوایان په کرایه رانیول اوأجرت یې دپیداوارڅه حصه مقرره کړي ده حال داچې غوایان دبعض پیداوارپه بدله کرایه کول جائزنه دی.

دمزارعت فاسده بيان

(۳)وَلَاتَصِحُّ الْمُزَارَعَةُ إِلَّا عَلَى مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ (۴) وَأَنْ يَكُونَ الْخَارِجُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا (۵) فَإِنْ شَرَطَا لِأَحَدِهِمَا قُفْزَانًا مُسَمَّاةً فَهِيَ بَاطِلَةٌ (۶) وَكَذَالِكَ إِذَا شَرَطَا مَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَالسَّوَاقِي

ترجمه :مزارعت نه دی صحیح مگرداچې موده معلومه وي اودامعلوم وي چې دځمکې په پیداوارکې دځمکې دمالک اومزارع ترمنځ اشتراک په طریقه دشیوع وي که یې دیوه لپاره څه معلومې پیمانې شرط کړې نودامزارعت باطل دی همدارازکه هغه پیداوارچې دلښتیانوشاوخواکیږي دیوه لپاره شرط کړي نودمزارعت داصورت باطل دی .

تشریح :(۳) دمزارعت دصحت لپاره داشرط دی چې دزراعت موده به معلومه وي ولی چې دمدت مجهول والی داختلاف سبب جوړیږي مثلاً دځمکې مالک به دخپلې ځمکې دزرفارغه کولومطالبه کوي اومزارع به دډیرمدې لپاره دفصل پرځمکه دبرقرارساتلوتقاضاکوي .

(۴)اودصحت مزارعت لپاره داهم شرط دی چې دځمکې په حاصلاتوکې به دمزارع اورب الارض په منځ کې اشتراک دشیوع په طریقه سره وي ولی چې مزارعت انتهاء شرکت دی .

(۵)نوکه په حاصلاتوکې اشتراک مشاعاشرط نه شي بلکه دکوم یوه لپاره دڅه معلومو حاصلاتومثلالس قفیزه شرط ولګول شي نودامزارعت باطل دی ولی چې په دي سره شرکت منقطع کیږي په دي وجه چې کیدای شي چې دځمکې ټول حاصلات دي صرف لس قفیزه وي نوهغه بل ته دهیڅ شئ دنه پاتې کیدلوپه وجه سره شرکت منقطع کیږي .

(۶)همدارازکه هغه پیداوارچې دلښتیانوپه شاوخواوي دیوه لپاره شرط کړي نودمزارعت داصورت باطل دی ځکه په دي کې هم دسابق صورت په ډول دانقطاع شرکت امکان شته ،ماذیانات اوسواقی ،هغولښتیانو ته ویل کیږي چې له دریاب یالویوویالوڅخه کوچنې لښتي وي دواړه مرادف الفاظ دي .

(۷)وَإِذَا صَحَّتِ الْمُزَارَعَةُ فَالْخَارِجُ بَيْنَهُمَا عَلَى الشَّرْطِ (۸) وَإِنْ لَمْ تُخْرِجِ الْأَرْضُ شَيْئًا فَلَاشَيْءَ لِلْعَامِلِ (۹) وَإِذَا فَسَدَتِ الْمُزَارَعَةُ فَالْخَارِجُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ فَإِنْ كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ رَبِّ الْأَرْضِ فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ لَايُزَادُ عَلَى مِقْدَارِ مَا شُرِطَ لَهُ مِنَ الْخَارِجِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ بَالِغًا مَا بَلَغَ (۱۰) وَإِنْ كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ الْعَامِلِ فَلِصَاحِبِ الْأَرْضِ أَجْرُ مِثْلِهَا

ترجمه :اوکه عقدمزارعت صحیح شونوحاصلات به دشرط مطابق وي اوکه هیڅ شئ نه شوحاصل نوهیڅ به نه وي عامل لره اوکه مزارعت فاسدشونوټول پیداوارهغه ته ورکول کیږي دچاچې تخم وواوکه تخم دځمکې دوالاله طرفه وونوعامل ته دهغه مثل أجرت شته مګردغه أجرت مثل به دعامل لپاره ترشرط کړای شوي

پیداوارزیات نه وي حال داچې امام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې عامل لره اُجرت مثل دی ځومره ته چې ورسیدی اوکه تخم دعامل له طرفه وونود ځمکې مالک ته دهغه د ځمکې اُجرت مثل ورکول کیږي .

تشريح :(۷)دصحت مزارعت لپاره چې کوم شرائط دي متعاقدینو دهغوپه رعایت کولوسره عقدمزارعت وکړاومثلا حاصلات یې نصف نصف تقسیمول شرط کړل نوکوم حاصلات چې وي هغه به دشرط مطابق تقسیمیږي

(۸)اوکه په کومه وجه سره هیڅ حاصلات ونه شول نوعامل ته به هیڅ اجرت نه حاصلیږي ځکه دهغه اُجرت پیداوارووچې کله پیداوارنه وي نودده حصه هم نشته .

(۹)که مزارعت فاسدشونوټول پیداوارهغه چاته ورکول کیږی دچاچې تخم وي ځکه داپیداواردهغه دملک (تخم) نماء (زیادت) هغه بل ته اُجرت مثل ورکول کیږي ،که تخم دځمکې دمالک وونوعامل ته دهغه مثل اُجرت دی مګردغه اُجرت مثل به پرهغه مقدارزیات نه وي کوم چې دعقدپه وخت عامل لره شرط کړای شوی وو مثلادعامل لپاره یې نصف پیداوارشرط کړی وونوبیابه اُجرت مثل ترنصف پیداوارنه زیاتیږي ځکه هغه دخپل حق په ساقطولوخپله راضي شوی دی که نه دپیداوارپه کم مقداربه نه آماده کیدی دادشیخینو رحمهماالله مسلک دی (اوهمدا قول راجح دی) دامام محمد رحمه الله په نزدعامل ته اُجرت مثل دی که ترشرط کړای شوي مقدارکم وي که زیات وي .

(۱۰)که تخم دعامل له طرفه وي نودځمکې مالک ته دځمکې اُجرت مثل ورکول کیږي ځکه عامل دعقدفاسدپه وجه دهغه دځمکې منافع حاصلې کړې دي لهذاپرعامل دځمکې دمنافع قیمت اداکول لازم دی ،په دي کې هم دشیخینورحمهماالله اوامام محمد رحمه الله ترمنځ دمخکینی صورت په ډول اختلاف دی .

(۱۱)وَإِذَا عُقِدَتِ الْمُزَارَعَةُ فَامْتَنَعَ صَاحِبُ الْبَذْرِ مِنَ الْعَمَلِ لَمْ يُجْبَرْ عَلَيْهِ (۱۲)وَإِنِ امْتَنَعَ الَّذِي لَيْسَ مِنْ قِبَلِهِ الْبَذْرُ أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى الْعَمَلِ (۱۳)وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ بَطَلَتِ الْمُزَارَعَةُ

ترجمه :که عقدمزارعت وشوبیاتخم والاله کارکولوڅخه منع کړای شونودی دمزارعت پرمعامله پوره کولونه مجبورکیږي اوکه له متعاقدینوڅخه له معامله پوره کولوڅخه هغه منع کړای شوچې تخم یې نه وونوحاکم به هغه پرکارکولومجبورکړي اوکه یوله متعاقدینوڅخه مړشونوعقدمزارعت باطلیږي .

تشريح :(۱۱)که دشروط صحت مطابق دمزارعت معامله دمتعاقدینوترمنځ طی شوه نوبیادتخم والادتخم ترکرلومخکې له کارڅخه منع کړای شونودی پرمعامله مزارعت پوره کولونه مجبورکیږي ځکه بغیردهغه دنقصان دامعامله نه شي پوره کیدای ځکه دی به خپل تخم په ځمکه کې هلاکوي بیابه عقدپوره کیږي چې فی الحال دهغه نقصان دی .

(۱۲)که له متعاقدینو څخه هغه یوچې دهغه تخم نه وودمعامله له پوره کولو څخه منع شونوحاکم به هغه پرمعامله کولومجبوروي په دي وجه چې په عقدپوره کولوکې ده ته هیڅ نقصان نه رسیږي اوعقدهم لازم شوی دی لهذاهغه به په پوره کولومجبوره کیږي ،البته که کوم داسې عذرپیښ شوچې په هغه سره اجاره فسخ کیدله نوپه هغه سره مزارعت هم فسخ کیږي.

(۱۳)که له متعاقدینو څخه یو مړشونوپراجاره په قیاسولوسره عقدمزارعت باطل بلل کیږي .

(۱۴)وَإِذَاانْقَضَتْ مُدَّةُ الزَّرْعِ وَلَمْ يُدْرِكْ كَانَ عَلَى الْمُزَارِعِ أَجْرُمِثْلِ نَصِيبِهِ مِنَ الْأَرْضِ إِلَى أَنْ يَسْتَحْصِدَهُ(۱۵)وَالنَّفَقَةُ عَلَى الزَّرْعِ عَلَيْهِمَا عَلَى مِقْدَارِ حُقُوقِهِمَا

ترجمه:که دمزارعت مدت ختم شومګرکښت تراوسه پوري اوم دی نوعامل به دخپلي حصي په اندازه دځمکې اجرت مثل اداء کوي اوپرکښت خرچه پرمتعاقدینو دهغو دحقوقو مطابق کیږي .

تشریح : (۱۴)که دمزارعت مدت ختم شومګرکښت تراوسه پوري اوم دی مثلایوه میاشت دکښت ترپخیدلواوریبلوپوري پاته ده نوعامل به دخپلي حصي په اندازه دځمکې دیوي میاشتې اجرت مثل ورکوي ولی چې په دي کې بقدرالامکان دجانبینو رعایت دی .

(۱۵)لیکن څرنګه چې اوس عقدمزارعت ختم شوی دی اوکښت ددواړومشترک دی لهذاله دي څخه وروسته به هریودخپلي حصي په اندازه دمصرف اوکارذمه واروي .

(۱۶)أُجْرَةُ الْحَصَادِ وَالدِّيَاسِ وَالرِّفَاعِ وَالتَّذْرِيَةِ عَلَيْهِمَا بِالْحِصَصِ(۱۷)فَإِنْ شَرَطَاهُ فِي الْمُزَارَعَةِ عَلَى الْعَامِلِ فَسَدَتْ

ترجمه : دکښت دریبلو،یوځای کولو،دغلي دپاکولواجرت پردواړودحصوپه اندازه دی اوکه دعقدپه وخت مذکوره مصارف خالص دعامل پرذمه شرط شوې وي نوداعقدفاسددی .

تشریح :(۱۶) کله چې کښت پوخ شې که په مدت پوره شوی وي اوکه نه وي نوله دي څخه وروسته دکښت دریبلو،یوځای کولو،دغلي دپاکولواجرت پردواړودحصوپه اندازه دی ولی چې دکښت په تکمیل سره عقدهم پای ته ورسیدی اومال دمتعاقدین په منځ کې مشترک شونوخرڅه به هم پردواړووي .

(۱۷)اوکه دعقدپه وخت مذکورمصارف خالص دعامل پرذمه لازم کړل شول نوداعقدفاسددی ولی چې داداسې شرط دی چې عقدیې مقتضی نه دی اوله متعاقدینو څخه دیوه (یعني دځمکې دمالک) فائده هم ده.

كتَابُ المساقات

داکتاب دمساقات په بیان کې دی

مساقات له سقی څخه دی په معنی د اوبه کولو ،شرعاهغه عقد دی چې یو کس خپل باغ بل چاته ددی لپاره ورکړي ترڅو هغه یې اصلاح وکړي او پالنه یې وکړي او عامل ته له حاصلاتو څخه معلومه حصه ورکړي ،اهل مدینه مساقات ته معامله وایي.

دمساقات له مزارعت سره مناسبت ظاهر دی په حکم ،شرائطو او اختلاف ائمه کې مساقات دمزارعت په شان دی همدارازپه دي کې هم دامام ابو حنیفه رحمه الله او صاحبینو هغه اختلاف دی کوم چې په مزارعت کې تیرشو په مساقات کې هم فتوی دصاحبینو پر قول ده امام قدوری رحمه الله په لاندې عباراتو کې همدا بیان کړی دی.

(۱) قَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ اَلْمُسَاقَاةُ بِجُزْءٍ مِنَ الثَّمَرَةِ بَاطِلَةٌ وَقَالَا جَائِزَةٌ اِذَا ذُكِرَ مُدَّةٌ وَسَمَّيَا جُزْءً مِنَ الثَّمَرَةِ مُشَاعًا

ترجمه : امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایلي دي چې دمیوې په څه حصه مقررولوسره مساقات باطل دی اوصاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې جائزدی چې معلومه موده ذکرکړي او دمیوې حصه په طریقه دمشاع معلومه کړي.

تشریح :(۱) دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دمیوې دجزء شائع په عوض کې مساقات دمزارعت په شان ناجائز دی اوصاحبینو په نزد جائزدی بیاامام قدوری رحمه الله دصاحبینو رحمهما الله دمذهب مطابق دمساقات دصحت دوه شرطونه بیان کړي دي ،لومړی شرط دادی چې دمساقات لپاره موده معلومه ذکرشي او دا شرط قیاسی دی کمامَرفی المُزارعَة لیکن استحسان دادی چې که دمساقات لپاره موده معلومه ذکرنکړي بیاهم جائزدی ځکه دمیوو دپختن معلوم وخت وي،اودمودې نه بیانولو په صورت کې عقد پر هغو میوو واقع کیږي چې مخکې پیداشوې وي ،دوهم شرط دادی چې دمیوو کوم جزء مشاع مقررکړي که نه بیاشرکت نه متحقق کیږي کمامَرفی المُزارعة.

(۲) وَتَجُوْزُ الْمُسَاقَاةُ فِي النَّخْلِ وَالشَّجَرِ وَالْكَرْمِ وَالرِّطَابِ وَاُصُوْلِ الْبَاذِنْجَانِ (۳) فَاِنْ دَفَعَ نَخْلًا فِيْهِ ثَمَرَةٌ مُسَاقَاةً وَالثَّمَرَةُ تَزِيْدُ بِالْعَمَلِ جَازَ (۴) وَاِنْ كَانَتْ قَدِ انْتَهَتْ لَمْ يَجُزْ

ترجمه : مساقات جائزدی په خرماوو اونورو درختو کې ،په انګورو کې ،په سبزیانو کې ،اودبانجڼو په بوټو کې که دباغ مالک دخرماو باغ عامل ته په مساقات ورکړي په کوم کې چې کچه خرماوي دي اودعامل په خواري سره زیاتیږي اولویږي نو دا جائزدی او که میوه پخه شوې وه بیانه دی جائز.

تشریح :(۲) مساقات جائزدی په خرماوو اونورو درختو کې ،په انګورو کې ،په سبزیانو کې ،اودبانجڼو په بوټو کې ولی چې دمساقات جواز دحاجت او ضرورت په وجه سره دی او حاجت په مذکوره ټولو شیانو کې شته

(۳)که دباغ مالک عامل ته دخرماو وباغ په مساقات سره ورکړ په کوم کې چې خامي خرماوي وي کومې چې دعامل په پالنه سره نوري لويدلي شواى نود مساقات داصورت جائزدی .
(۴)اوکه ميوه پخ شوي وه دعامل په پالنه سره نوري نه شواى لويدلي نودمساقات داصورت جائزنه دی ولی چې عامل دخپل عمل په وجه سره مستحق گرځي نوکله چې ميوه پخ شوي ده نودده دعمل هيڅ دخل پاتي نه شو .

(۵)وَاِذَافَسَدَتِ الْمُسَاقَاةُفَلِلْعَامِلِ اَجْرُمِثْلِهٖ(۲)وَتَبْطُلُ الْمُسَاقَاتُ بِالْمَوْتِ(۷)وَتُفْسَخُ بِالْاَعْذَارِ كَمَاتُفْسَخُ الْاِجَارَةُ

ترجمه : که په کومه وجه سره مساقات فاسدشونوعامل ته به اجرمثل ورکول کيږي اوداحدالمتعاقدين په مرگ سره هم مساقات باطليږي اوپه عذرونوسره فسخ کيږي لکه اجاره چې فسخ کيږي .

تشريح :(۵) که په کومه وجه سره مساقات فاسدشونوعامل ته به اجرمثل ورکول کيږي ولی چې مساقات فاسده داجاره فاسده په معنی کې دی نولکه څرنگه چې په اجاره فاسده کې اجيرته اجرمثل ورکول کيږي نوپه مساقات کې به هم اجرمثل ورکول کيږي .
(۶)داحدالمتعاقدين په مرگ سره هم مساقات باطليږي ولی چې مساقات داجاري په معنی کې دی .
(۷)دکوموعذرونوپه اساس چې اجاره فسخ کيږي دهغوعذرونوپه وجه سره مساقات هم فسخ کيږي مثلاعامل غل دی دميوي له پخيدلوڅخه وړاندي يې غلاکوي نوپه دي کې دځمکې دمالک داسې نقصان دی چې ده دهغه التزام نه دی کړی لهذاهغه مساقات فسخ کولی شي .تَمّتِ البُيوع فَللهِ الحمدُ فی الاولی والاخرة .

كتَـابُ النكاح

داکتاب دنکاح داحکامو په بيان کې دی

نکاح په لغت کې له وطی څخه عبارت دی اوتزوّج ته مجازًانکاح ويل کيږي ځکه تزوّج دوطی سبب دی بعضی وايي چې نکاح دوطی اوتزوّج ترمنځ مشترک دی ،په اصطلاح کې عَقدٌ وُضِعَ لِتَملِيک منافِعِ البُضع .
دمنافع بُضع دتمليک لپاره وضع کړای شوي عقدته نکاح ويل کيږي،له مساقات سره يې مناسبت دادی چې په مساقات اونکاح دواړوکې مطلوب ثمره وي .
نکاح عندالتوقان (ای عندشدة الاشتياق الی النّساء) واجب ده اوکه دزنايقين وويعني بغيرنکاح له زناڅخه ساتل ممکن نه وونوفرض ده ،دبعضوحضراتوپه نزدفرض کفايه ده اوپه حالت داعتدال کې (چې کله

پرمهر ،نفقه اووطی قدرت ولري) سنت مؤکده ده ،په هرحال که فرض وي،که فرض کفایه وي که واجب وي که سنت ،دنفلی عبادت ترمشغولتیا افضله ده .

الحکمة :اعلم ان الله سبحانه وتعالی قدخلق الانسان ليعمرهذه الارض التی خلق کل مافيهابدليل قوله تعالی (خلق لکم مافی الارض جميعا) اذاعرفت هذاعرفت ان بقاء الارض عامرة يستلزم وجودالانسان حتی تنتهی مدة الدنياوهذايستلزم التناسل وحفظ النوع الانسانی حتی لايکون خلق الارض ومافيهاعبثافنتج من هذاان عمارالکون متوقف علی وجودالانسان ووجوده متوقف علی وجودالنکاح . (حکمة التشريع)

(۱) اَلنِّكَاحُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقُبُولِ بِلَفْظَيْنِ يُعَبَّرُ بِهِمَا عَنِ الْمَاضِيْ

ترجمه :نکاح په ایجاب اوقبول سره منعقده کیږي چې کله په داسي دوه لفظونو سره وي چې په هغو سره تعبیردزمان ماضي کیږي .

تشريح :(۱)نکاح په ایجاب اوقبول سره منعقده کیږي په داسي دولفظونوسره چې په هغوسره تعبيرله زمان ماضي کیږي مګرسوال دادی چې نکاح له قبیلې دانشاءڅخه ده نوبیاپه صیغه دماضي څنګه تعبيریدای شي ؟

جواب :په لغت کې داسی لفظ موجودنشته چې صراحتًاپرانشاء یعني حدوث امرفی دلالت وکړي ولی ماضی پرزمان ګزشته دلالت کوي اومضارع لکه څرنګه چې پرحال دلالت کوي همدارازپراستقبال هم دلالت کوي لهذاپرحال دهغه دلالت صریح نه شونوصیغه دماضی که څه هم داخبارلپاره وضع شوې ده مګردنکاح دضرورت پوره کیدولپاره شرعًادانشاء په معنی نقل شوې ده .

(۲) أَوْ يُعَبَّرُ بِأَحَدِهِمَا عَنِ الْمَاضِيْ وَالْآخَرِ عَنِ الْمُسْتَقْبَلِ مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ زَوِّجْنِيْ فَيَقُوْلُ زَوَّجْتُکَ

ترجمه :اویاپه داسي دولفظونوسره هم نکاح منقعده کیږي چې په یوه سره ماضي تعبیرشي اوپه بل سره مستقبل تعبیرکړای شي مثلازوج ووایې زوِّجنی ابنتک (ستالورماته په نکاح راکړه) مخاطب ووایې (زوّجتک) ماتاته په نکاح درکړي ده .

تشريح :(۲)یعنې په دوداسي لفظونوسره هم نکاح منعقده کیږي چې په یوه سره ماضی تعبیرکړای شي اوپه بل سره مستقبل تعبیرکړای شي مثلازوج ووایې زَوِّجنی ابنتک (له خپلی لورسره زمانکاح وکړه) مخاطب ووایې زوّجتک (ماتاته په نکاح درکړي ده .

په اصل کې دزوج قول (زوّجنِي) ایجاب نه دی بلکې په دې سره مخاطب وکیل ګرځول دی اوچې کله مخاطب وویل زوّجتک نوداایجاب اوقبول دواړه دي اودنکاح په باب کې یوشخص دطرفینومتولی کیدای شي.

دنکاح دشرطونو بیان

(۳) وَلَا يَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْمُسْلِمِينَ اِلَّا بِحُضُورِ شَاهِدَيْنِ حُرَّيْنِ بَالِغَيْنِ عَاقِلَيْنِ مُسْلِمَيْنِ (۴) اَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ عُدُولًا كَانُوْا اَوْ غَيْرَ عُدُوْلٍ (۵) اَوْ مَحْدُوْدَيْنِ فِي قَذْفٍ

ترجمه: ددو مسلمانانو نکاح نه منعقده کیږي مګر ددو ګواهانو په موجودګی کې او ګواهان به دواړه آزاد، بالغ، عاقل او مسلمان وي یا به ګواه یو نارینه دوې ښځې وي که دواړه عادل وي که غیرعادل او که محدودین في القذف وي.

تشريح: (۳) ددو مسلمانانو نکاح نه منعقده کیږي مګر ددو ګواهانو په موجودګي کې لقوله ﷺ: لانِکاح الابِشُهودٍ، (یعني دګواهانو بغیر نکاح نشته) او ګواهان به هم داسي وي چې دوه آزاد، بالغ، عاقل او مسلمان کسان به وي او ددواړو په یوه وارد متعاقدینو کلام اورسیدل او فهمول ضروري دی.

(۴) یا یو ګواه نارینه وي دوې ښځې وي مګر دګواهانو عادل کیدل شرط نه دی بلکې (۵) فاسق او محدود في القذف (هغه څوک چې پرپاک دامنه ښځه یا سړي دزنی تهمت ولګوي یا ګواهان پیش نه کړای شي نو اتیا دره ووهل شي هغه ته محدود في القذف وایې) هم ګواه جوړیدای شي ځکه دا ټول اهل ولایت دي (ولایت وایي تنفیذُ القول علی الغَیرشَاءَ الغَیراو اَبی) څوک چې اهل ولایت دی هغه اهل شهادت هم دی.

(۵) یا محدود في القذف تحمّل دشهادت کولای شي لیکن که په یوه وجه سره په عدالت کې دګواهي ورکولو ضرورت پیدا شو نو بیا ګواهي نه شي ورکولای.

(۶) فَاِنْ تَزَوَّجَ مُسْلِمٌ ذِمِّيَّةً بِشَهَادَةِ ذِمِّيَّيْنِ جَازَ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَاَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَجُوْزُ اِلَّا اَنْ يَشْهَدَ شَاهِدَيْنِ مُسْلِمَيْنِ

ترجمه: که مسلمان نارینه له ذمیه ښځې سره نکاح وکړه ددوو ذمیانو ګواهانو په ګواهي سره نو دا د شیخینو رحمهما الله په نزد جائزه ده او دامام محمد رحمه الله په نزد نه ده جائزه مګر که دوه مسلمانان ګواهان ګواهي ورکړي.

تشريح: (۶) که مسلمان سړي له ذمیه ښځې سره نکاح وکړه او ګواهان ذمیان شو نو دشیخینو رحمهما الله په نزد جائزدی یعنې نکاح منعقده کیږي لیکن که مسلمان سړي په یوه وجه دنکاح انکار وکړ نو دذمیانو په ګواهي سره نکاح نه ثابتیږي او دامام محمد رحمه الله په نزد دذمیانو په ګواهي سره دمسلمان نکاح نه منعقده کیږي، دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی.

دمحرمات ابدیه تفصیل

(۷) ولا يحل للرجل أن يتزوج بأمه ولا بجداته من قبل الرجال والنساء ولا ببنته ولا ببنت ولده وإن سفلت (۸) ولا بأخته ولا ببنات أخته (۹) ولا بعمته ولا بخالته ولا ببنات أخيه (۱۰) ولا بأم امرأته التي دخل بابنتها أو لم يدخل ولا ببنت امرأته التي دخل بها سواء كانت في حجره أو في حجر غيره (۱۱) ولا بامرأة أبيه ولا أجداده ولا بامرأة ابنه ولا بني أولاده (۱۲) ولا بأمه من الرضاعة ولا بأخته من الرضاعة (۱۳) ولا يجمع بين الأختين بنكاح ولا بملك يمين وطئا ولا يجمع بين المرأة

وعمتها وخالتها ولا ابنة أختها ولا ابنة أخيها (۱۴) ولا يجمع بين امرأتين لو كانت كل واحدة منهما رجلا لم يجز له أن يتزوج بالأخرى (۱۵) ولا بأس بأن يجمع بين امرأة وابنة زوج كان لها من قبل

ترجمه :حلال نه دی سړي ته نکاح کول له خپلې مورسره اونه خپلوآناګانوسره که دنارینه له خواوي که دښځواونه خپلې لورسره اونه له خپلې لمسی سره که څه دلاندې درجې وي اونه خپلې خورسره اونه له خپلوخورځیګانوسره اونه خپلې عمه سره اونه له خپلې خاله سره اونه له خپلوورېګانوسره اونه له خواښې سره که یې دهغې په لوردخول کړی وي اوکه نه اونه دخپلې هغې ښځې له لورسره چې په هغې سره یې دخول کړی وي که هغه انجلۍ دده په پرورښت کې وي اوکه دبل چااونه دخپل پلارا وخپل نیکه له بیبیانوسره اونه له خپلې مېږورسره اونه دلمسي له بي بي سره اونه له خپلې رضاعی مورسره اونه له خپلې رضاعی خورسره اونه به جمع کوي دوې خویندې دنکاح په ذریعه اونه دملک یمین په ذریعه چې وطی یې کړي اونه به سره یوځای کوي ښځه اودهغې عمه یاخاله اونه دهغې خورځه اونه دهغې وریره اونه به داسې دوې ښځي سره جمع کوي چې که په هغوکې یونارینه فرض کړي له هغې بلې سره نکاح یې جائزه نه وي اودښځې اودهغې دمخکینی خاوندلورسره جمع کول روادی.

تشریح :دلته امام قدوری رحمه الله دمحرماتوبیان کوي اسباب دحرمت (۹) دي ،قرابت ،مصاهرة،رضاعت ،جمع المحرمات،تقدیم الحرة علی الامة،قیام حق الغیر من نکاح اوعدة ،شرک،ملک یمین،طلقات ثلاثه.

محرمات ټولې څوارلس دي اوه نسبي دي اوه سببي دي ټولې امام قدوری رحمه الله بیان کړې دي :

(۷) دسړي له خپلې مور،آنااودآناله مور،دپلارله خواله آنااودهغې له مورسره ،وَإِن عَلَونَ،سره نکاح جائزه نه ده همدارازدسړي له خپلې لور،دلورله لوراودزوی له لورسره وإن سفلن،نکاح حرامه ده ،لقوله تعالی (حُرِّمَت عَلَيكُم أُمَّهَاتُكُم وَبَنَاتُكُم) یعنې حرامې کړای شوې دي پرتاسي ستاسې میندې اولوڼه) څرنګه چې په لغت کې أم اصل اوبنت فرع ته وایې نوله دغه آیت څخه دجدات اوبنات الابن اوبنات البنت ټولو حرمت ثابتیږي.

(۸)همدارازپرسړي خپله خور(که سکنی وي یاخالص په پلاریاخالص په مورشریکه وي) اودخورله لونوسره نکاح کول حرامه ده لقوله (وَأَخَواتُکم ....وَبنات الأُختِ) یعنې حرامې کړای شوې دي پرتاسي ستاسې خویندې اوخورځیګانې) .

(۹)همدارازپرسړي له خپلې عمه اوخاله (لأَبٍ وَأُمٍ أَولاحَدِهما) سره نکاح کول حرامه ده لقوله تعالی (وَعمّاتُکم وَخَالاتُکم) یعنې حرامې کړای شوې دي پرتاسي ستاسې عمه ګانې اوخالاګانې) ،همدارازپرسړي دخپل وروړله لونوسره نکاح حرامه ده لقوله تعالی (وَبناتُ الأخ) یعنې حرامې کړای شوې دي پرتاسي ستاسې دوروړلونې) . مذکوره هغه محرماتي دي چې حرمت یې نسبي دی .

(۱۰)همدارازدخپلې ښځې له مورسره نکاح کول حرامه ده برابره خبره ده که یې له بي بي سره صحبت هم کړی وي یایې خالص عقدنکاح کړی وي صحبت یې نه وي کړی لقوله تعالی (وَأُمّهَاتُ نِسَائِکم) یعنې حرامې کړای شوې دي پرتاسي ستاسي دښځومیندې) همدارازدخپلې ښځې له لورسره نکاح کول حرامه ده په دې شرط چې له ښځې سره صحبت کړی وي خالص په عقدنکاح دښځې دلورنکاح نه حرامیږي لقوله تعالی (وَرَبَائِبُکم الّلاتِی فِی حُجُورِکُم مِن نِّسَائِکُم اللّتِی دَخَلتُم بِهِنّ فَان لَم تَکُونُوادَخَلتُم بِهِنّ فَلاجُنَاحَ عَلَیکُم) یعنې حرامې کړای شوې دي پرتاسي ستاسي ربیبه انجونې هغه چې ستاسې په پروربنت کې وي ستاسې له داسي ښځوڅخه چې په هغوسره تاسي دخول کړی وي اوکه تاسي په دغوبیبیانودخول نه وي کړی نوبیاپرتاسی هیڅ ګناه نشته) .

په دغه آیت مبارک کې (فِی حُجُورِکُم) دشرط په ډول نه دی بلکې په غیره کې دپروربنت ذکردعادت په ډول بیان شوی دی چې عادت دادی چې ربیبه دخپلې مورله دوهم خاوندسره پرورش مومي .

(۱۱)همدارازپرسړي دخپل پلاراونیکه له بي بي سره نکاح کول حرامه ده که پلاراونیکه دخول کړی وي اوکه نه،لقوله تعالی (وَلاتَنکحُوامَانَکَحَ آبائُکم) یعنې مه په نکاح کوئ هغه ښځې چې ستاسې پلرونونکاح ورسره کړې وي) همدارازدخپل زوی اولمسي له ښځې سره نکاح کول حرامه ده لقوله تعالی (وَحلائِلُ اَبنَائِکُمُ الّذِینَ مِن اَصلابِکُم) یعنې پرتاسي حرامی کړای شوې دي ستاسي دزامنوبیبیانې هغه چې ستاسې له ملاڅخه وي) په دغه آیت مبارک کې داصلاب قیدد منتهی داعتباردساقط والي لپاره دی چې دمتبنی زوی له ښځې سره نکاح جائزه ده .

الالغاز:ای رجل له امرأتان ارضعت احداهماصبیاحرمت الاخری علیه وحدها؟

فقل :رجل زوج ابنه الصغيرامة فاعتقت فاختارت نفسهافتزوجت باخروله زوجة فارضعت الصبي الذي كان زوج ضرتهابلبن هذاالرجل حرمت ضرتهاعلى زوجهالانه صارابنه من الرضاع فصارمتزوجاحليلة ابنه فلايجوز. (الاشباه والنظائر).

(۱۲)رضاعي مور،خوربلکې تردي مخکې چې دڅومره رشتوحرمت په سبب دنسب يامصاهرة ذکرشوهغه ټولې رشتې درضاعت په سبب سره هم حراميږي لقوله ﷺ يُحرم مِنَ الرّضاع مايُحرم مِنَ النّسب . (يعنې حراميږي په وجه درضاعت هغه چې حراميږي په نسب سره) .

(۱۳)همدارازسړي ته دوې نسبي يارضاعي خويندي دوطی لپاره جمع کول حرام دی داډول چې له دواړوسره نکاح وکړي ياله يوې سره نکاح وکړي هغه بله منځه وي وايې خلي يادواړې منځې وي يوڅوک يې واخلي لقوله تعالی (وَاَن تَجمَعُوابَينَ الاُختينِ) يعنې پرتاسی حرام کړی شوی دی داچې تاسی دوې خويندې سره جمع کوئ .

همدارازپرسړي داحرام دی چې ښځه اودهغی عمه په نکاح سره جمع کړي لقوله ﷺ :لاتنكحُ المرأةُ عَلى عَمّتِهَااوَخَالَتِهَا ولاعَلى اِبنَةِ اَخيهاولاعَلى اِبنةِ اُختِهَا.(يعنې نه دي په نکاح کيږي ښځه دهغی پرعمه اونه دهغی پرخاله اونه دهغی پروريره اونه دهغی پرخورځه .

(۱۴)بلکې قاعده کليه داده چې هرې دوي داسې ښځې په نکاح کې جمع کول حرام دی چې له هغوڅخه يونرفرض کړای شي نوهغه لره بله حلاله نه وي لکه ښځه له خپلې عمه ياخاله وغيره سره .

(۱۵)همداوجه ده چې ښځه اودهغی دپخواني خاوندلورجمع کول جائزدی ځکه که داښځه نرفرض کړای شي نوپردې دهغی دخاوندلورنه ده حرامه ځکه داهغی ښځی ته په نسبت دبيگانه سړي لورده البته که دانجلۍ نرفرض کړای شي نوپرده دغه ښځه په دي وجه چې دده امرأة الاب ده حرامه ده .

هغه ښځې چې په نکاح کې يې جمع کول ناجائزدی

(۱۶)وَمَن زَنٰى بِامرَاَةٍ حَرُمَت عَلَيهِ اُمُّهَا وَابنَتُهَا

ترجمه :که چاله کومې ښځې سره زناوکړه نوپردغه سړي دهغی ښځې مورا ولورحراميږي .

تشريح :(۱۶)که چاله کومې ښځې سره زناوکړه نوپردغه سړي دهغی ښځې موراولوراوپرښځه ددغه سړي پلاراوزوی حراميږي له موراولور،پلاراوزوی څخه مرادی اصول اوفروع دي .

(۱۷)وَاِذَاطَلَّقَ الرّجُلُ امرَاَتَه طَلَاقًابَاءِنًالَم يَجُز لَه اَن يَتَزَوّجَ بِاُختِهَاحَتّٰى تَنقَضِىَ عِدَّتُهَا

ترجمه :که چاخپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړنودهغی له خورسره ددغه سړي نکاح جائزه نه ده ترهغه چې ددې ښځې عده تيره شي .

تشريح :(۱۷)که چاخپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړنوترڅوچې دهغې عدت (عدت دښځې دطلاق يادخاونددوفات په وجه غمرازي ته وايي) تيره نه شي دهغې له خورسره ددغه سړي نکاح نه ده جائزه بلکې له هرې هغې ښځې دده نکاح نه ده جائزه چې له مطلقې سره دهغې جمع کول ممنوع وي ځکه تراوسه لادنکاح اثر(يعنې عدت) باقي دى چې مانع عن النكاح دى.

(۱۸)ولايَجُوزُأنْ يَتَزَوَّجَ الْمَوْلى أمَتَه(۱۹)ولاالمَرْأةُعَبْدَهَا

ترجمه :اودمولى له خپلې منځې سره نكاح كول جائزه نه ده اونه دښځې له خپل مريي سره.

تشريح :(۱۸)دمولى له خپلې منځې سره نكاح كول (۱۹)يادښځې له خپل مريي سره نكاح كول جائزه نه ده ځکه دنکاح په وجه هريوله متناکحينوڅخه دځه حقوقو مالک ګرځي مثلانارينه دوطى اودواعى دوطى حق حاصليږي اوښځې ته نفقه،سكنى اومنع عن العزل حق حاصليږي نودامالكيت دى اودمالكيت اومملوكيت ترمنځ منافات دى.

(۲۰)وَيَجُوزُتَزْوِيجُ الْكِتَابِيَاتِ(۲۱)ولايَجُوزُتَزْوِيجُ الْمَجُوْسِيَّاتِ ولا الْوَثْنِيَّاتِ(۲۲)ويجُوزُتَزْوِيجُ الصَّابِئَاتِ إنْ كَانُوا يُؤْمِنُوْنَ بِنَبِيٍّ وَيَقْرَؤُوْنَ بِكِتَابٍ وإنْ كانُوا يَعْبُدُوْنَ الْكَوَاكِبَ ولا كِتَابَ لَهُمْ لَمْ تَجُزْ مُنَاكَحَتُهُمْ

ترجمه :مسلمان ته له كتابيه سره نكاح كول جائزه ده مګرله مجوسيه اووثنيه سره نکاح جائزه نه ده اوله صابيه ښځوسره نكاح جائزه ده كه يې پريوه نبي ايمان درلوداودكوم كتاب اقرارېې كاوه اوكه هغوئ دستوروعبادت كوي اوهغوئ لره هيڅ كتاب نه وي نوبيا له هغوسره نكاح كول جائزه نه ده.

تشريح :(۲۰)دمسلمان لپاره له كتابيه سره نكاح كول جائزه ده (كتابى هغه دى چې پريونبى ايمان لري اوپه كوم آسماني كتاب اقراركوي) لِقوله تعالى (وَالْمُحصَنَاتِ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواالكِتَاب) يعنې حلالى كړاى شوې دي ستاسي لپاره داهل كتابو څخه محصنه ښځې.

(۲۱)مګرله مجوسيه آتش پرست ښځې سره دمسلمان نكاح كول جائزه نه ده ځکه مجوس له اهل كتابو څخه نه دي اوپيغمبر ﷺ فرمايلي دي چې :سُنّوابِهِم سُنّةَ أهل الكِتاب غَيرَنَاكِحِي نِسَائِهِم ولاآكلي ذَبائِحِهِم.

يعنې له مجوسيانوسره داهل كتابوپه شان چلند كوئ پرته دهغوله ښځوسره په نكاح كولوكې اودهغوپه ذبيحه خوړلوكې.

همدارازله وثنيه يعنې بت پرست ښځې سره هم نكاح كول جائزه نه ده لقوله تعالى (ولاتَنكِحُ الْمُشرِكَاتِ حَتّى يُؤمِن) يعنې نكاح مه كوئ له مشركينوښځوسره ترڅوچې آيمان نه وړي.

(۲۲)البته له صابيه ښځې سره دنكاح په جوازاوعدم جوازكې دامام ابوحنيفة رحمه الله اوصاحبينورحمهماالله اختلاف دى،امام ابوحنيفة رحمه الله په جوازاوصاحبين رحمهماالله په عدم جوازقائل دي،درحقيقت

دااختلاف دصابی په تعریف اوتفسیرکې دی ،دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزدصابی هغه دی چې زبورمني اودستوروخالص تعظیم کوي نوداهل کتاب کیدوپه وجه له هغه سره نکاح جائزه ده ،دصاحبینو رحمهماالله په نزدصابی هغه دی چې دستوروعبادت کوي او هیڅ یو کتاب نه مني نوځرنګه چې دااهل کتاب نه دي بلکې دعبدة الاوثان په ډول دي لهذا له هغوسره نکاح نه ده جائزه .

(۲۳)وَيَجُوزُ لِلْمُحْرِمِ وَالْمُحْرِمَةِ أَنْ يَتَزَوَّجَا فِي حَالَةِ الْإِحْرَامِ

ترجمه :اومحرم اومحرمی لره جائزه ده په حالت داحرام کې نکاح کول .

تشریح :(۲۳)په حالت داحرام کې (که دحج احرام وي که دعمرې اوکه ددواړو) نکاح کول جائزه ده ځکه رسول الله ﷺ په حالت داحرام کې له حضرت میمونة رضي الله عنها سره نکاح وکړه .

دپیغلې اوثیّبه داحکاموبیان

(۲۴)وَيَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْحُرَّةِ الْبَالِغَةِ الْعَاقِلَةِ بِرِضَاءِهَا وَإِنْ لَمْ يَعْقِدْ عَلَيْهَا وَلِيٌّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ بِكْرًا كَانَتْ أَوْ ثَيِّبًا وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ لَا يَنْعَقِدُ إِلَّا بِإِذْنِ وَلِيٍّ

ترجمه :اودحرې،عاقله ،بالغه ښځې نکاح دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزددهغی په رضامندي سره منعقده کیږي که څه هم دهغی ولي عقدنه وي کړی که باکره وي اوکه ثیبه وي ،صاحبینو رحمهماالله فرمایلي دي چې نه منعقده کیږي مګردولي په اجازه سره .

تشریح :(۲۴)دحره ،عاقله بالغه ښځې نکاح دهغی په رضامندي سره دولي دانعقادبغیرهم منعقده کیږي که عقدپخپله ښځه کوي یایې په وکیل وکړي که داښځه باکره وي اوکه ثیبه وي ځکه داخالص په خپل حق کې تصرف کوي اودادتصرف اهل ده همداوجه ده چې داپخپل مال تصرف کولای شي ،داامام ابو حنیفة رحمه الله مسلک دی .

دصاحبینو رحمهماالله په نزددولی له اجازې بغیردښځې نکاح کول جائزه نه ده ،لقوله ﷺ :أَيُّمَا امرأةٍ نَكَحت نَفسها بِغَيرِ إذنِ وليهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ (یعنې هره ښځه چې دخپل ولی داجازې بغیرنکاح وکړي نودهغی نکاح باطله ده .

(۲۵)وَلَا يَجُوزُ لِلْوَلِيِّ إِجْبَارُ الْبِكْرِ الْبَالِغَةِ الْعَاقِلَةِ (۲۶)وَإِذَا اسْتَأْذَنَهَا الْوَلِيُّ فَسَكَتَتْ أَوْ ضَحِكَتْ أَوْ بَكَتْ بِغَيْرِ صَوْتٍ فَذَلِكَ إِذْنٌ مِنْهَا (۲۷)وَإِنْ أَبَتْ لَمْ يُزَوِّجْهَا (۲۸)وَإِذَا اسْتَأْذَنَ الثَّيِّبَ فَلَا بُدَّ مِنْ رِضَاءِهَا بِالْقَوْلِ

ترجمه :اوولی ته داجائزه نه ده چې باکره ،عاقله بالغه ښځه پرنکاح مجبوره کړي اوکه ولی له بالغه باکره ښځې څخه دهغی دنکاح اجازه وغوښته نوهغه چپ شوه یایې وخندل یایې بیله آوازه وژړل نودادهغی له

طرفه اجازه شوه او که هغې انکار وکړ نو ولي به د هغې نکاح نه کوي او که ولی له ثیبه ښځې څخه د هغې د نکاح په باره کې اجازه طلب کړه نو د هغې له طرفه د رضامندي اظهار په خوله ضروري دی.

تشريح :(۲۵) ولی ته جائزه نه ده چې بالغه عاقله ښځه پر نکاح مجبوره کړي که باکره وي که ثیبه ځکه د ښځې له بلوغ وروسته د ولی ولایت اجبار منقطع کیږي.

(۲۶) که ولی له بالغه باکره ښځې څخه د هغې د نکاح کولو اجازه طلب کړه نو دا چپ شوه یا یې وخندل یا یې بیله آوازه وژړل نو دا چپتیا یا خندل یا بلا اوازه ژړل د هغې له طرفه اجازه کیږي په دي شرط چې د استهزاء خندانه وي ځکه باکره ښځه په نکاح کې له رغبت ښکارولو څخه شرم کوي مګر له انکار څخه نه شرمیږي لهذا چپتیا یا خندا د رغبت علامه ده.

(۲۷) که باکره انکار وکړي نو ولی دي د هغې نکاح نه کوي ځکه د بلوغ په وجه د ولی ولایت منقطع شوی دی.

(۲۸) که ولی له ثیبه بالغه ښځې څخه د نکاح په باره کې اجازه طلب کړه نو د هغې له طرفه رضامندی په خوله ضروري ده ځکه د نکاح په امورو کې تجربه لري او له نارینه ؤ سره د اختلاط په وجه یې حیاء هم کمه شوې وي لهذا د هغې په حق کې په خبرو سره د رضامندي له اظهار نه کوم مانع نشته.

(۲۹) وَإِذَا زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِوَثْبَةٍ أَوْ حَيْضَةٍ أَوْ جِرَاحَةٍ أَوْ تَعْنِيسٍ فَهِيَ فِي حُكْمِ الْأَبْكَارِ (۳۰) وَإِنْ زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِالزِّنَا فَهِيَ كَذَالِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا هِيَ فِي حُكْمِ الثَّيِّبِ

ترجمه :که د انجلۍ بکارت زائل شو د ټول غورځولو په وجه یا د حیض په وجه یا د زخم په وجه یا د زیات عمر په وجه نو دا انجلۍ د باکره په حکم کې ده او که د باکره بکارت په زنی سره زائل شو نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دا هم د باکره په حکم کې ده او د صاحبینو رحمهما الله په نزد د ثیبه په حکم کې ده.

تشريح :(۲۹) که د کومې انجلۍ بکارت زائل شو د ټول وهلو په وجه یا د قوت حیض په وجه یا د کوم زخم په وجه یا د زیات عمر په وجه نو په دي ټولو صورتونو کې دا انجلۍ د باکره په حکم کې ده یعنې د استیذان په وخت د هغې سکوت اذن شمارل کیږي ولی دا ښځه په حقیقت کې باکره ده.

(۳۰) که د باکرې بکارت په زنی سره زائل شو نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دا هم د باکرې په حکم کې ده ځکه دا باکره بولي نو که د نکاح په باره کې خبرې کوي نو خلک دا معیوبه بولی نو دا له خبرو څخه منع کوي ځکه د هغې پر سکوت اکتفاء کوله کیږي چې د دي مصالح معطل نه شي، صاحبین رحمهما الله فرمایي چې دا ښځه د ثیبه په حکم کې ده لهذا د هغې پر سکوت اکتفاء نه کوله کیږي ولی دا په حقیقت کې ثیبه ده (د امام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی).

(۳۱) وإذا قال الزوج للبكر بلغك النكاح فسكت وقالت بل رددت فالقول قولها ولا يمين عليها (۳۲) ولا يستحلف في النكاح عند أبي حنيفة رحمه الله وقالا يستحلف فيه

ترجمه :که زوج باکرې ته وویل چې تاته دنکاح خبررسیدلی وونوته چپ پاتی شوې یې اوښځه وایې چې نه بلکې ماانکارکړی دی نودښځې خبره منله کیږي اوپرښځه قسم نشته،دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزدپه نکاح کې قسم نه اخیستل کیږي صاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې په نکاح کې قسم اخیستلای شي .

تشریح :(۳۱)که یوچاباکرې ته ښځې ته وویل چې تاته کله داخبرورسیدی چې ستانکاح له ماسره شوې ده نوته چپ پاتی شوې یې لهذاله ماسره ستانکاح شوي ده ښځې وویل چې نه بلکې له اطلاع سره سم ماردکړی دی لهذانکاح نه ده شوې نوقول دښځې معتبردی ځکه ښځه دلزوم عقدانکارکوي (حال داچې له سړي سره ګواهان نشته)لهذاقول دمنکرمعتبربږي،دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپرښځه قسم نشته صاحبین رحمهما الله وایې پرښځه قسم شته .

(۳۲)مذکوراختلاف پرهغه اصل مبنی دی چې دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزددنکاح په باب کې استحلاف نشته خلافًالهما،فتوی دصاحبینو رحمهما الله پرقول ده .

(۳۳) وينعقد النكاح بلفظ النكاح والتزويج والتمليك والهبة والصدقة (۳۴) ولا ينعقد بلفظ الإجارة والإعارة والإباحة

ترجمه :اونکاح په لفظ دنکاح ،تزویج،تملیک ،هبه اوصدقه سره منعقده کیږي اوپه لفظ داجاره ،اعاره اواباحت سره نه منعقده کیږي .

تشریح :(۳۳)په لفظ دنکاح اوتزویج بغیرنیت ددلالة الحال نکاح منعقده کیږي ځکه دادوه لفظه په نکاح کې صریح دي اوله دغودوالفاظوعلاوه هرهغه لفظ چې دتملیک عین فی الحال لپاره وضع شوی وي لکه تملیک،هبه صدقه،بیع اوشراء نوداکنایه الفاظ دي بغیرنیت یاقرینه په دي سره نکاح نه منعقده کیږي اوکه نیت دنکاح ووییانکاح په منعقده کیږي .

(۳۴)په لفظ داجاره،اباحت اواعاره سره نکاح نه منعقده کیږي ځکه داالفاظ دتملیک عین لپاره نه دي وضع شوي بلکې دتملیک منفعت لپاره وضع شوي دي .

(۳۵) ويجوز نكاح الصغير والصغيرة إذا زوجهما الولي بكرا كانت الصغيرة أو ثيبا (۳۶) والولي هو العصبة

ترجمه :دصغیراوصغیرې نکاح جائزه ده چې کله ولي ددوئ نکاح وروکړي که صغیره باکره وي که ثیبه اوولي عصبه دی .

تشریح :(۳۵)دصغیراوصغیرې نکاح جائزه ده چې کله یې ولي نکاح وکړي که صغیره باکره وي اوکه ثیبه ځکه شرط دولایت موجوددی یعنې دکوچني والي په وجه عاجزکیدل .

(۳۶)دنکاح په باب کې داولیاؤهغه ترتیب دی کوم چې په باب دوارثت کې دعصباتوترتیب دی ترټولومخکې حقدارزوی دی بیالمسی باکړوسی وَاِن سَفل اوکه دانه وویباپلاربیانیکه وَان عَلا اوکه دانه وویباوروربیاوراره دی وَان سَفل اوکه دانه وویباآکابیاداکازوی وَان سَفَل .

(۳۷)فَاِنْ زَوَّجَهُمَا الْاَبُ اَوِ الْجَدُّ فَلَاخِيَارَ لَهُمَا بَعْدَ الْبُلُوْغِ (۳۸)وَاِنْ زَوَّجَهُمَا غَيْرُ الْاَبِ وَالْجَدِّ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا الْخِيَارُ اِنْ شَاءَ اَقَامَ عَلَى النِّكَاحِ وَاِنْ شَاءَ فَسَخَ

ترجمه :که دصغیراوصغیرې نکاح پلاریانیکه یوه وکړه نوتربلوغ وروسته صغیراوصغیرې ته اختیارنشته اوکه پلاراونیکه علاوه بل ولي نکاح ورکړې وه نوتربلوغ وروسته صغیراوصغیرې ته خیاربلوغ حاصل دی که نکاح برقراره ساتي اوکه یې فسخ کوي .

تشریح :(۳۷)که دصغیراوصغیرې نکاح له پلاراونیکه څخه یوه کړي وه نوکه څه هم په غبن فاحش یاغیرکفوکې وه دانکاح لازمیږی تربلوغ وروسته صغیراوصغیرې ته خیارنشته ځکه پلاراونیکه دواړه کامله رایه اوپوره شفقت لري ځکه ددواړونکاح لازمه ده داداسي ده لکه بلوغ وروسته چې پلاریانیکه ددوئ په رضامندي سره نکاح وروکړي .

(۳۸)که له پلاراونیکه علاوه کوم بل ولي نکاح ورکړې وه نوکه څه هم په مهرمثل اوکفوکې کړې وي بیاهم تربلوغ و ـرسته صغیراوصغیرې ته خیاربلوغ حاصل دی که نکاح برقراره ساتي اوکه یې فسخ کوي ځکه له پلارا ریکه علاوه شفقت کامل نشته بلکې قاصردی نودنقصان شفقت په وجه په نکاح کې دخلل واقع کیدوامکان شته چې دهغه تلافی په خیار ا ـ غ سره م ـ کنه ده ځکه دوئ ته خیاربلوغ حاصل دی .

دنکاح داولیاؤبیان

(۳۹)وَلَا وِلَايَةَ لِعَبْدٍ وَلَا صَغِيْرٍ وَلَا لِمَجْنُوْنٍ (۴۰)وَلَا لِكَافِرٍ عَلَى مُسْلِمَةٍ

ترجمه :اومریي،صغیراومجنون ته حق دولایت نه دی حاصل اونه کافرته پرمسلمانه ښځه ولایت حاصل دی .

تشریح :(۳۹)مریی ،صغیراومجنون یوهم دولایت حق نه لري یعنې دوئ دچاولي نه شي جوړیدای ځکه دوئ پرخپلوځانوولایت نه لري نوپرنوروخوپه درجه اولی دوئ ته دولایت حق نه دی حاصل .

(۴۰)کافرپرمسلمانه ښځه ولایت نه لري لقوله تعالی (وَلَن يَجعَلَ اللّٰهُ لِلكَافِرِينَ عَلَى المُؤمِنِينَ سَبِيلا)

هیڅکله نه گرځوي الله تعالی کافرته پرمسلمان باندې کومه لاره .

همدا وجه ده چې مسلمان و کافر يو د بل وارث نه شي کيدای.
البته کافر د خپلې کافرې لور نکاح ورکولای شي لقوله تعالى (والذِينَ كفَرُوا بَعضُهم أولِيَاءُ بَعضٍ) يعنې کفار بعض د بعضو وليان دي. همدا وجه ده چې کافر د بل کافر وارث کيدای شي.

(۴۱) وَقَالَ اَبُوْ حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ يَجُوْزُ لِغَيرِ الْعَصَبَاتِ مِنَ الْاَقَارِبِ التَّزْوِيجُ مِثْلَ الْأُخْتِ وَالْأُمِّ وَالْخَالَةِ

ترجمه: دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد له عصباتو څخه علاوه نورو قريبانو لره نکاح ورکول جائزه ده لکه خور، مور او خاله.

تشريح: (۴۱) دعصباتو په نه موجودګي کې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد ولايت نورو قريبانو ته (ذوی الارحام) لره ثابتيږي لکه مور، آنا، خور، عمّه، مامی، خاله وغيرهم، دامام محمد رحمه الله په نزد ذوی الارحامو ته ولايت نه ثابتيږي دامام ابويوسف رحمه الله قول مضطرب دی مشهور دادی چې امام ابويوسف رحمه الله له امام محمد رحمه الله سره دی (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۴۲) وَمَنْ لَاوَلِيَّ لَهَا اِذَا زَوَّجَهَا مَوْلَاهَا الَّذِي اَعْتَقَهَا جَازَ

ترجمه: دکومې انجلۍ چې ولي نه وي که دهغې نکاح هغه ولي وکړي چاچې دا آزاده کړې ده نو جائزه ده.

تشريح: (۴۲) که دکومې انجلۍ عصبات نسبي نه وو او دهغې نکاح دهغې مولى عتاقة (يعنې هغه مولی چاچې دا آزاده کړې ده) وکړه نو دا جائزه ده ځکه مولی سببی عصبه دی اوله عصباتو څخه آخري عصبه دی، او که کومې انجلۍ هيڅ يو ولي نه وو نو دهغې ولي دوخت امام او خليفه دی لانه (الامام) ولي من لاولي له (يعنې امام ولي دی دهر چاچې ولي يې نه وي.

(۴۳) وَإِذَا غَابَ الْوَلِيُّ الْأَقْرَبُ غَيْبَةً مُنْقَطِعَةً جَازَ لِمَنْ هُوَ اَبْعَدُ مِنْهُ اَنْ يُزَوِّجَهَا (۴۴) وَالْغَيْبَةُ الْمُنْقَطِعَةُ اَنْ يَكُوْنَ فِي بَلَدٍ لَاتَصِلُ اِلَيْهِ الْقَوَافِلُ فِي السَّنَةِ اِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً

ترجمه: که ولي اقرب (مثلا لکه پلار) په غيبت منقطعه سره غائب شو نو ولي ابعد (مثلا نيکه) لره جائز دی چې دهغې نکاح ورو کړي او غيبت منقطعه دادی چې ولي په يو داسي ښار کې وي چيرته چې قافلې په کال کې يو ځل ځي.

تشريح: (۴۳) که دکومې انجلۍ ولي اقرب (مثلا پلار) په غيبت منقطعه سره غائب شو نو ولي ابعد (مثلا نيکه) لره ولايت تزويج ثابتيږي ځکه دولايت مدار پر شفقت دی او دچاله رأيه څخه چې نفع اخيستل ممکن نه وي دنکاح امور و هغه ته په سپارلو کې هيڅ شفقت نه دی ځکه موږ ولي ابعد ته وسپارل او ولي ابعد ترامام مقدم دی.

(۴۴)له غيبت منقطعه څخه مراددادی چې ولي په يوه داسي ښارکې وي چيرته چې قافلې په کال کې يو ځل فقط ځي ،دبعضو حضراتورايه داده چې ادنی موده دسفريعنې درې ورځې مسافت چې ولاړشي غيبت منقطعه متحقق کيږي اودبعضو حضراتورايه داده چې که ولي يوداسي ځای ته ولاړ چې که دهغه رايه معلوموي نوکفوفوتيږي نوداسي ګڼله کيږي چې دی غائب په غيبت منقطعه سره دی اودآخري قول اقرب الی الفقه دی.

دکفائت بيان

(۴۵)وَالْكَفَاءَةُ فِي النِّكَاحِ مُعْتَبَرَةٌ(۴۶)فَإِذَا تَزَوَّجَتِ الْمَرْأَةُ بِغَيْرِ كُفْوٍ فَلِلْأَوْلِيَاءِ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَهُمَا.

ترجمه:په باب دنكاح كې كفائة معتبردی نوكه ښځه خپله نكاح په غيركفوكې وكړي نواولياؤته داحق شته چې ددوئ ترمنځ تفريق وكړي.

تشريح:(۴۵)په باب دنكاح كې كفائة (سړی له ښځې سره په اسلام،نسب،تقوی ،حريت اومال وحرفت كې مساوي كيدوته كفائة وايي) معتبردی اوكفائة دنرله طرفه معتبردی ځكه شريفه ښځه دخسيس فراش كيدل نامناسب وي لهذاكفائت ضروري دی ،دښځې له طرفه معتبرنه دی ځكه دنرلپاره دناتة دفراش دعار(پيغور) باعث نه دی.

(۴۶)كه ښځه خپله نكاح پخپله په غيركفوكې وكړي نوځرنګه چې داكارداولياؤلپاره باعث دعاردی لهذاددفع دعارلپاره اولياؤلره داحق شته چې ددوئ ترمنځ تفريق وكړي اوداحق دښځې تربچې زيږيدو مخكې دی ،كه دښځې له اولياؤ څخه يوه دښځې نكاح په غيركفو كې وكړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدباقي اولياؤته حق دتفريق نه دی حاصل اودصاحبينو رحمهما الله په نزدباقي اولياؤلره حق دتفريق شته ،والصحيح قول ابی حنيفة رحمه الله.

(۴۷)وَالْكَفَاءَةُ تُعْتَبَرُ فِي النَّسَبِ وَالدِّيْنِ وَالْمَالِ وهو أَنْ يَكُونَ مَالِكًا لِلْمَهْرِ وَالنَّفَقَةِ وتُعْتَبَرُ فِي الصَّنَائِعِ.

ترجمه:اوپه نسب كې اوپه دين كې (مراددیانت دی)كفائة معتبردی اوپه مال كې كفائة معتبردی اوهغه داچې خاوند دمهراونفقې مالک وي اوپه كسب كې هم كفائة معتبردی.

تشريح (۴۷)په كوموشيانوكې چې كفائة معتبردی امام قدوری رحمه الله خالص څلورشيان ذكركړي دي :**نمبر ۱**-په نسب كې كفائة معتبردی ځكه خلک پخپلوكې يوپربل په نسب سره فخركوي ،نوقريش پخپلوكې كفودي اوله قريشوپرته نورعرب پخپلوكې كفودي اوباقی عرب دقريشوكفو نه دي،عجم پخپلوكې كفودي دعربوكفونه دي.

نمبر ۲-او په دین (مراد دیانت دی) کې کفائة معتبر دی لهذا فاسق سړی دنیکې ښځې یانیکې انجلی کفو نه دی دا دشیخینو رحمهما الله مسلک دی وجه یې داده چې دین له اعلی مفاخرو څخه دی خلک ښځې ته دهغې دخاوند په نسب کمید وسره چې څومره پیغورورکوي ترهغه ډیرزیات دخاوند دفاسق کیدو پیغورورکوي.
نمبر ۳-په مال کې هم کفائة معتبر دی اوله مال څخه مراد دادی چې خاوند پرنفقه او مهر اداکولو قادروي په غناء کې کفائة شرط نه دی، پرمهر او نفقه قادر دلویو سرمایه دارانو کفو دی.
نمبر ۴-په کسب کې هم کفائة معتبر دی ځکه خلک په ښو کسبونو سره فخرکوي او په ذلیل کسب عار او شرم محسوسوي ،دادصاحبینو رحمهما الله مسلک دی له امام ابو حنیفة رحمه الله څخه دوه روایته دي،له امام ابویوسف رحمه الله څخه هم یو روایت دی چې کفائة معتبر نه دی مګرداکه کسب ډیرذلیل او خواروي،په شرح الطحاوی کې راغلي دي چې دمتقارب کسبونوارباب پخپلوکې کفودي او دمتباعد کسبونو خلک پخپلو کې کفو نه دي.

(۴۸) وَإِذَا تَزَوَّجَتِ الْمَرْأَةُ وَنَقَصَتْ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا فَلِلْأَوْلِيَاءِ الْاِعْتِرَاضُ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ حَتَّى يُتِمَّ لَهَا مَهْرَ مِثْلِهَا أَوْ يُفَرِّقَهَا

ترجمه :که کومه ښځه نکاح وکړي او خپل مهرترمهرمثل کم کړي نو دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد اولیاؤ ته پردي داعتراض حق حاصل دی ترهغه چې خاوند دهغې مهرمثل پوره کړي یا هغه جلا کړي.
تشریح :(۴۸) که بالغه ښځه خپله نکاح وکړي او مهر،ترمهرمثل کم مقررکړي نو دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد اولیاء پردې داعتراض حق لري ترهغه چې خاوند دهغې مهرمثل پوره کړي یا یې پریږدي ،دصاحبینو رحمهما الله په نزد اولیآء حق داعتراض نه لري.
دصاحبینو رحمهما الله دلیل دادی چې ترلس درهمه مهرخود شریعت حق دی او ترهغه زیات دښځې حق دی نو ښځې چې په مهرمثل کې کمبوت وکړ خپل حق یې ساقط کړ او څوک چې خپل حق ساقط کړي پرهغه هیڅ اعتراض نشته،دامام ابو حنیفة رحمه الله دلیل دادی چې اولیآء دخپل خاندان دښځو په ګرانو مهرونو فخرکوي او په کمو عارمحسوسوي نو په مهرکې کموالی دعدم کفو مشابه دی لهذا دعدم کفو په شان دمهردکمي په صورت کې هم اولیآء حق داعتراض لري. (دامام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی).

(۴۹) وَإِذَا زَوَّجَ الْأَبُ ابْنَتَهُ الصَّغِيرَةَ وَنَقَصَ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا أَوِ ابْنَهُ الصَّغِيرَ وَزَادَ فِي مَهْرِ امْرَأَتِهِ جَازَ ذَالِكَ عَلَيْهِمَا (۵۰) وَلَا يَجُوزُ ذَالِكَ لِغَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ

ترجمه :که پلار دخپلې نابالغې لور نکاح وکړه او دهغې مهرېې ترمهرمثل کم مقرر کړیا پلار دخپل نابالغ زوی نکاح وکړه او دهغه دښځې مهرېې ترمهرمثل زیات مقرر کړنو دانکاح پر صغیرا وصغیره نافذیږي او داسي کول له پلار او نیکه پرته بل چاته نه دي روا .

تشریح :(۴۹)که دپلار په نه موجودګي کې نیکه دخپلې نابالغې لمسی نکاح وکړه او دهغې مهرېې ترمهرمثل کم مقرر کړیا پلار دخپل نابالغ زوی نکاح وکړه او دهغه دښځې مهرېې ترمهرمثل زیات مقرر کړنو دانکاح پر صغیرا وصغیره نافذیږي ځکه پلار او نیکه کامل الرأی او وافر الشفقت دي نو ظاهره ده چې په مهر کې کمبوت وزیادت دکومې ګټې لپاره دی . (۵۰)که له پلار او نیکه پرته بل کوم ولي په مهر کې کمبوت یازیادت وکړنو نکاح نه جائزه کیږي ځکه له پلار او نیکه پرته په نورو اولیاؤ کې کامل شفقت نشته .

(۵۱)وَيَصِحُّ النِّكَاحُ إِذَا سَمَّى فِيهِ مَهْراً وَيَصِحُّ النِّكَاحُ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ فِيهِ مَهْراً

ترجمه :او په نکاح کې که مهر مقرر کړي نو هم صحیح ده او که دمهر دمقرر کیدو بغیر وي هم صحیح ده .

تشریح :(۵۱)په نکاح کې که مهر مقرر کړي نو دانکاح صحیح ده او که دمهر دمقرر کیدو بغیر نکاح وکړي نو دا هم صحیح ده ځکه دالله تعالی ارشاددی :فانکحوا ماطاب لکم الخ،او په لغت کې نکاح انضمام او ازدواج ته وایې ،دامعنی په متناکحینو سره پوره کیږي نو که مورد مهر دذکر کولو شرط کښیږدو نو پر نص زیادت راځي چې دا صحیح نه دی،البته مهر شرعا واجب دی لیکن دا وجوب دنکاح دصحت لپاره نه دی بلکې دشرافت محل(یعنې شرافت بضع) دظاهریدو لپاره دی لهذادنکاح دصحت لپاره دمهر دذکر کولو هیڅ ضرورت نشته .

دمهربیان

(۵۲)وَأَقَلُّ الْمَهْرِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ (۵۳)فَإِنْ سَمَّى أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ فَلَهَا عَشَرَةٌ

ترجمه :دمهر کم مقدار لس درهم دی که یې ترلس درهمه کم مهر مقرر کړنو هغې ښځې لره لس درهمه کیږي .

تشریح :(۵۲)دمهر کم مقدار داحنافو رحمهم الله په نزد لږترلږه لس درهمه دی یا هغه چې قیمت یې دعقد په وخت لس درهم وي لقوله ﷺ :لامهر اقل من عشرة دراهم (ترلس درهمه کم مهر نه دی) همدا راز مهر دشریعت حق دی دبضع دشرافت ظاهرولو لپاره لهذا دومره مقدار باید متعین کړای شي چې له هغه څخه دبضع شرافت ظاهرشي مونږ وینو چې دسرقې (غلا)نصاب لس درهم دی نو پرلس درهمه غلاباندي لاس غوڅیږي نو معلومه شوه چې دانسان دعضو یعنې لاس لږترلږه قیمت لس درهم دی پردي په قیاس سره په نکاح کې هم دملک بضع قیمت لږترلږه لس درهم مقرر کړای شوی دی .

(۵۳)که دکومې ښځې لپاره مهرترلس درهمه کم مقررکړې نوپه دې کې درې صورتونه دي يابه خاوندتردخول مخکې طلاق ورکوي يابه مړکيږي يابه دخول کوي وطی به کوي په لومړي صورت کې مهرپنځه درهمه کيږي په باقي دوصورتوکې لس درهمه کيږي.

(۵۴)وَمَنْ سَمّٰى مَهْرًا عَشَرَةً فَمَازَادَفَعَلَيْهِ الْمُسَمّٰى اِنْ دَخَلَ بِهَا اَوْمَاتَ عَنْهَا(۵۵)فَاِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدَّخُوْلِ بِهَا وَالْخَلْوَةِ فَلَهَا نِصْفُ الْمُسَمّٰى

ترجمه:که چالس درهمه یاترهغه زیات مهرمقررکړنوپرهغه مسمّی مهرکیږي که یې له ښځې سره کوروالـه وکړه یامړشواوکه تردخول اوخلوة مخکې طلاق ورکړنو هغی لره نصف مسمّی مهرکیږي.

تشريح:(۵۴)که یې دکومې ښځې مهرلس درهمه یازیات مقررکړل بیادخول راغی یااحدله زوجینو مړشو نوپه دې دوصورتونوکې پرخاوندکل مهرمسمّی واجبيږي ځکه په دخول سره مبدل یعنې بضع سپارل متحقق شواومبدل په سپارلوسره بدل واجبيږي لهذاپرخاوندبدل یعنې مهرواجبيږي،اوپه مرګ سره شی خپل انتهاء ته رسيږي اوشی چې خپل انتهاء ته ورسيږي پخپلوټولو احکامواومواجبوسره متقرراومؤکدکيږي اودنکاح په احکاموکې مهرهم دی لهذادمرګ په وجه دا هم ثابتيږي.

(۵۵)که تردخول مخکې خاونددې ښځې ته طلاق ورکړي نوپرخاونددښځې لپاره نصف مهرمسمّی واجبيږي.

الالغاز:ای امرأة اخذت ثلاثة مهورمن ثلاثة ازواج فی یوم واحد؟

فقل:امرأة حامل طلقت ثم وضعت فلهاکمال المهرثم تزوجت وطلقت قبل الدخول ثم تزوجت فمات من یومه فاستحقت کمال المهر.(الاشباه والنظائر)

(۵۶)فَاِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ یُسَمِّ لَهَا مَهْرًا اَوْعَلٰی اَنْ لَامَهْرَ لَهَا فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا اِنْ دَخَلَ بِهَا اَوْمَاتَ عَنْهَا(۵۷)وَاِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدَّخُوْلِ بِهَا اَوِالْخَلْوَةِ فَلَهَا الْمُتْعَةُ(۵۸)فَهِیَ ثَلٰثَةُ اَثْوَابٍ مِنْ کِسْوَةِ مِثْلِهَا وَهِیَ دِرْعٌ وَخِمَارٌ وَمِلْحَفَةٌ

ترجمه:که چاله ښځې سره نکاح وکړه مګرد هغی دمهرېې هیڅ ذکرونکړیایې داشرط ولګاوه چې هغی لره به مهرنه وي نوکه خاوندپه هغی دخول وکړیاخاوندمړشونوښځې لره مهرمثل کیږي اوکه یې تردخول یاخلوت مخکې طلاق ورکړنوښځې لره متعه واجبيږي اومتعه درې جامې دي قمیص،پړونی،چادر.

تشريح:(۵۶)که چاله کومې ښځې سره نکاح وکړه مګرد هغی دمهرېې هیڅ ذکرونکړیایې شرط ولګاوه چې هغي لره به هیڅ مهرنه وي نوبیاکه خاونددخول په وکړیااحدله زوجینومړشونوښځې لره مهرمثل کیږي

ځکه مهر ابتداءً دشريعت حق دی او انتهاءً دښځې حق دی لهذا ښځه ابتداءً دمهر نفی نه شي کولای البته بقاءً ابرأ(خاوند له مهر ځخه دبري کولو) حق لري.

(۵۷)که په مذکورو دوصورتو کې خاوند ښځې ته تردخول او خلوت مخکې طلاق ورکړي نو ښځې لره متعه واجبيږي.

(۵۸)متعه درې جامې دي :قميص،پړونی ،چادر،او داکپړې به دهغی درجې وي چې ددي په ډول ښځې يې اغوندي ليکن دومره به قيمتي نه وي چې ترنصف مهر مثل زياتي وي اونه به دومره کمزوري وي چې ترپنځه درهم کمی وي.

(۵۹)وَإِنْ تَزَوَّجَ الْمُسْلِمُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ وَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا

ترجمه :که يو مسلمان سړي له کومې ښځې سره پرشرابو يا خنزير نکاح وکړه نودا نکاح صحيح ده او ښځې لره مهر مثل کيږي.

تشريح :(۵۹)که يوه مسلمان سړي له يوې ښځې سره نکاح وکړه او مهر يې شراب يا خنزير مقرر کړنو دا نکاح صحيح ده ځکه مخکې دا خبره تيره شوه چې دمهر دنه ذکر کولو په صورت کې نکاح صحيح ده نو دفساد تسميه په صورت کې خو په طريقه اولی سره صحيح کيږي،او په دي صورت کې ښځې ته مهر مثل ورکول کيږي ځکه شراب او خنزير د مسلمان په حق کې مال متقوم نه دی او دغير مال ذکر داسي دی چې ګواکې دوئ دمهر له ذکر کولو ځخه ساکت دي او په صورت دسکوت کې مهر مثل واجبيږي.

(۶۰)وَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا ثُمَّ تَرَاضَيَا عَلَى تَسْمِيَةِ مَهْرٍ فَهُوَ لَهَا إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا (۶۱)وَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا وَالْخَلْوَةِ فَلَهَا الْمُتْعَةُ

ترجمه :اوکه يې نکاح وکړه اوښځې يې ته مهرنه دی مسمی کړی بيا خاونداوښځه دمهرپريو متعين مقدارسره راضي شول نوکه خاونددخول په وکړيامړشونودي ښځې ته متعين شوی مقدارواجبيږي اوکه خاوندښځې ته تردخول او خلوت مخکې طلاق ورکړنو ښځې لره متعه واجبيږي.

تشريح :(۶۰)که په وخت دعقد کې يې مهرنه دی ذکر کړی بيا خاونداوښځه پريوه متعين مقدارسره راضي شول نوکه خاونددخول په وکړيامړشوپه دي دوصورتوکې دښځې لپاره متعين مقدارواجبيږي،دغه حکم هغه وخت دی چې ترعقدوروسته حاکم دهغی لپاره مهرمقررکړی وي ځکه دحاکم مهرمقررول دزوجينو دمهر مقررولو قائم مقام دی.

(۶۱)په مذکوره صورت کې (یعنې چې دعقدپه وخت کې مهرنه دی ذکرشوی) خاوندښځې ته تردخول اوخلوت مخکې طلاق ورکړنودطرفینورحمهماالله په نزدښځې لره متعه واجبیږي ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدنصف مهرلازمیږي .

(۶۲)وَإنْ زَادَهَا فِي الْمَهْرِ بعد الْعَقْدِ لَزِمَتْه الزِّيَادَةُ إنْ دَخَلَ بِهَا او مات عنها (۶۳)وَتَسْقُطُ الزِّيادَةُ بِالطَّلاقِ قَبْلَ الدَّخُولِ (۶۴)فَإنْ حَطَّتْ مِن مَهْرِهَا صَحَّ الْحَطُّ

ترجمه :که خاوندله عقدوروسته په مقررمهرکې زیادت وکړنودازیادت لازمیږي که خاونددخول په وکړیامړشواوپه طلاق تردخول مخکې سره دازیادت ساقطیږی اوکه ښځې له خپل مهر(مهرمسمّی فی العقد) څخه څه ساقط کړنوداصحیح دی .

تشریح :(۶۲)که خاوندله عقدوروسته په مقررمهرکې زیادت وکړاوښځې هم قبول کړنوکه خاوندپه هغې دخول وکړیامړشونوپرخاونددازیادت لازمیږي ځکه خاونداوښځه دواړه پردې راضي دي .

(۶۳)مګرپه دغه صورت کې که تردخول مخکې خاوندښځې ته طلاق ورکړنوزیادت ساقطیږي ځکه تنصیف مخصوص دی ل مفروض فی حالة العقدسره لهذااصل مهرهغه چې په حالت دعقدکې مقررشوی ووده غه تنصیف خوکیږي وروسته چې کوم زیادت راغلی دی دهغه تنصیف نه کیږي،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدله اصل مهرسره په زیادت کې هم تنصیف کیږي .

(۶۴)که ښځې په خپل مهرمسمّی فی العقدکې څه کمبوت وکړیایې ټول مهرساقط کړنوداصحیح دی ځکه مهربقاءً دښځې حق دی اوداکمبوت ښځې دبقاء په دوران کې کړی دی .

(۶۵)وَإذَا خَلا الزَّوْجُ بِامْرَأتِه وَلَيْسَ هُنَاكَ مَانِعٌ مِنَ الْوَطْيِ ثمّ طَلَّقَهَا فَلَهَا كَمَالُ مَهْرِهَا (۶۶)وإنْ كَانَ أحَدُهُمَا مَرِيْضاً او صَائِماً فِي رَمَضَانَ اوْ مُحْرِماً بِحَجٍّ اوْ عُمْرَةٍ او كَانَتْ حَائِضاً فَلَيْسَتْ بِخَلْوَةٍ صَحِيْحَةٍ وَلَوْ طَلَّقَهَا فَيَجِبُ نِصْفُ الْمَهْرِ

ترجمه :که چاله خپلې ښځې سره خلوت وکړاوهلته له وطی څخه کوم مانع نه وویاخاوندښځې ته طلاق ورکړنودې ښځې ته کامل مهرکیږي اوکه دخلوة په وخت احدله زوجینوناروغ ووپااحدله زوجینودرمضان روژه نیولې وه یایې دحج یاعمرې احرام تړلی وویاښځه دحیض په حالت کې وه نوداخلوة ،خلوة صحیحه نه دی نوکه یې ښځې ته طلاق ورکړدې ښځې ته نصف مهرکیږي.

تشریح :(۶۵)که چاله خپلې ښځې سره خلوة صحیحه وکړچې په هغه کې له وطی څخه هیڅ مانع حسی یاشرعی نه وویاخاونددې ښځې ته طلاق ورکړي نودې ښځې لره کامل مهرکیږي ځکه ښځې دموانعوپه

رفع کولو سره مبدل (يعنې منافع دبضع) خاوندته وسپارلې اودښځې په وس کې همدومره وولهذا دښځې حق په بدل (يعنې مهر) کې ثابتيږي اوپرښځه عدت هم شته.

(۶۶) که دخلوة په وخت کې کوم مانع حسي موجودوومثلا احدله زوجينو مريض وويا ښځه دکم عمري په وجه قابله دوطی نه وه ياله زوجينوسره دريم څوک هم ووکه څه هم هغه ويده وويا ړوندوو، يادخلوة په وخت کې شرعي مانع موجودوومثلا احدله زوجينودرمضان روژه نيولې وه ياېې دحج ياعمرې احرام تړلی ووکه فرض احرام وي که نفلي ياښځه دحيض په حالت کې وه نوپه مذکوروصورتونوکې خلوة، خلوة صحيحه نه دی لهذا که خاوند طلاق ورکوي نوداطلاق قبل الدخول گڼل کيږي ښځې لره نصف مهرلازميږي.

(۶۷) وَإِذَا خَلَا الْمَجْبُوبُ بِامْرَأَتِهِ ثُمَّ طَلَّقَهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ

ترجمه: که مقطوع الذکرله خپلې بي بي سره خلوت وکړبيايې طلاق ورکړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدښځې لره کامل مهرکيږي.

تشريح: (۶۷) که مقطوع الذکرله خپلې ښځې سره خلوت وکړاوله مذکوروموانعوڅخه يومانع هم نه وونودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدکه خاوندطلاق ورکوي نوښځې لره کامل مهرکيږي ځکه ښځې مبدل سپارلی دی اودښځې همدومره قدرت وولهذاخلوت صحيحه دی نوښځه دبدل مستحق گرځي.

دصاحبينو رحمهما الله په نزدپه داسې صورت کې ښځې لره نصف مهرکيږي ځکه مقطوع الذکردمريض په نسبت زيات عاجزدی ځکه مريض کله ناکله پرجماع قادرکيدای شي ليکن مقطوع الذکرپرجماع بلکل قدرت نه لري، لهذاداخلوت صحيحه نه دی نودطلاق قبل الدخول په وجه ښځې لره نصف مهرکيږي (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی).

(۶۸) وَتُسْتَحَبُّ الْمُتْعَةُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ (۶۹) إِلَّا مُطَلَّقَةً وَاحِدَةً وَهِيَ الَّتِي طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْراً

ترجمه: اوهرې مطلقې لره متعه مستحبه ده مگريوه مطلقه (له دې څخه مستثنی ده هغې لره متعه مستحبه نه ده بلکې واجبه ده) هغه مطلقه ده چې خاوندقبل الدخول طلاق ورکړی وي اودې ته يې مهرنه وي مقررکړی.

تشريح: (۶۸) دطلاق په وجه دپيداشوې وحشت ددفع کولولپاره هرې مطلقې لره متعه مستحبه ده.

(۶۹) مگريوه مطلقه داسې ده چې هغې لره متعه مستحبه نه ده بلکې واجبه ده داهغه مطلقه ده چې خاوندقبل الدخول طلاق ورکړی وي اودعقدپه وخت دې ته مهرنه وي مقررشوی دې ښځې ته متعه په دې وجه واجبه ده چې دا [illegible] دنصف مهرمثل بدل دی کمامرّ.

(۷۰)وَاِذَازَوَّجَ الرَّجُلُ بِنْتَهٗ عَلٰى اَنْ يُزَوِّجَهُ الرَّجُلُ اُخْتَهٗ اَوْ اِبْنَتَهٗ لِيَكُوْنَ اَحَدُ الْعَقْدَيْنِ عِوَضًا عَنِ الْاٰخَرِ فَالْعَقْدَانِ جَائِزَانِ وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مَهْرُ مِثْلِهَا

ترجمه :که چا خپله لور بل چاته په دي شرط ورپه نکاح کړه چې هغه به خپله لور يا خورده ته ورپه نکاح کوي چې له عقدينو څخه يو دبل عوض شي نو دواړه عقده جائزدي ښځو هرې يوې ته مهرمثل کيږي .

تشريح :(۷۰)که چا د خپلې لور يا خور نکاح له بل چا سره په دي شرط وکړه چې هغه خپله لوريا خورده ته ورپه نکاح کوي چې پکې به احد دعقدينو دبل عوض وګڼل شي نو داحنافو رحمهم الله په نزد دا شرط فاسددی ښځو هرې يوې ته مهرمثل کيږي او دواړه عقده جائزدي ځکه نکاح د شروط فاسده ؤپه وجه نه فاسد يږي البته هغوئ يو داسي شی مهر مقرر کړی دی چې دمهرجوړيدو صلاحيت نه لري لهذا هغو ته مهرمثل کيږي دا داسي دی لکه شراب يا خنزير چې د ښځې لپاره مهر مقرر شي ،دا ډول نکاح ته نکاح شغار وايي .

(۷۱)وَاِذَازَوَّجَ حُرٌّ اِمْرَأَةً عَلٰى خِدْمَتِهٖ سَنَةً اَوْ عَلٰى تَعْلِيْمِ الْقُرْاٰنِ جَازَ فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا(۷۲)وَاِنْ تَزَوَّجَ عَبْدٌ اِمْرَأَةً حُرَّةً بِاِذْنِ مَوْلَاهُ عَلٰى خِدْمَتِهٖ سَنَةً جَازَ وَلَهَا خِدْمَتُهٗ

ترجمه :که کوم آزادسړي له يوې ښځې سره نکاح وکړه دښځې پريوه کال خدمت يادقرآن کريم پرتعليم نونکاح جائزه ده اوښځې ته مهرمثل کيږي او که مريي دمولی په اجازه له آزادې ښځې سره پريوه کال خدمت نکاح وکړه نودا جائزه ده اوښځې ته مهردمريي يوکلنی خدمت کيږي .

تشريح :(۷۱)که کوم آزادسړي له يوې ښځې سره نکاح وکړه او ښځې ته يې وويل چې تريوه کاله پورې زه ستاخدمت کوم داستامهردی اويا زه تاته دقرآن کريم تعليم درکوم دا به ستامهروي نونکاح جائزه ده ښځې لره مهرمثل کيږي ځکه دآزادسړي خدمت اوتعليم دقرآن منافع دي مال نه دی حال دا چې په عقدنکاح کې ابتغاء بالمال (دمال په ذريعه طلب کول) مشروع دی لقوله تعالى (اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ) .

(۷۲)که مريي دخپل مولی په اجازه له آزادې ښځې سره نکاح وکړه اومهريې يوکال خدمت کول مقرر کړنودا نکاح جائزه ده ځکه دمريي خدمت مال دی ځکه داتسليم رقبه لره متضمن دی لهذا خدمت دمهرپه توګه مقررول صحيح دی .

(۷۳)وَاِذَا اجْتَمَعَ فِي الْمَجْنُوْنَةِ اَبُوْهَا وَابْنُهَا فَالْوَلِيُّ فِيْ نِكَاحِهَا ابْنُهَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَاَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ اَبُوْهَا

ترجمه :دليونی ښځې چې پلار او زوی دواړه وي نو دامام ابوحنيفة رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله په نزد دي ښځې ولايت نکاح زوی ته حاصليږي او دامام محمد رحمه الله په نزد ولايت پلار ته حاصليږي .

تشریح :(۷۳)که دلیوني ښځې پلاراوله پخواني خاوندڅخه بالغ زوی وي نودشیخینورحمهماالله په نزدددي ښځې دنکاح ولایت زوی ته حاصلیږي ځکه ولایت مبنی برعصوبت دی اوپه عصبه کیدوکې زوی ترپلارمقدم دی لهذاولایت زوی ته حاصلیږي،دامام محمد رحمه الله په نزدولایت پلارته حاصلیږي ځکه دولایت مدارپرشفقت دی اوشفقت په پلارکې زیات دی . (دشیخینورحمهماالله قول راجح دی) .

(۷۴)ولایجوزنِکاحُ العَبدِوَالاَمَةِاِلَّابِاِذنِ مَولاهُمَا(۷۵)وإِذَازَوَّجَ الْعَبدَبِاِذنِ مَولاهُ فَالْمَهرُدَینٌ فی رَقَبَتِهٖ یُبَاعُ فِیهِ

ترجمه :دمریي اومنځې نکاح دمولی داجازې بغیرنه ده صحیح اوکه مریي دمولی په اجازه نکاح وکړه نومهردین ګرځي دده په رقبه کې چې ددي لپاره مریی خرڅول کیږي .

تشریح :(۷۴)دمریي اومنځې نکاح دمولی داجازت بغیرجائزه نه ده (یعنې نه نافذیږي بلکې دمولی پراجازه موقوفه کیږي)ځکه دمریي اومنځې نکاح دهغوپه حق کې عیب شمارل کیږي لهذادمولی داجازې بغیرهغوئ ددي نکاح دنفاذمالک نه شي کیدای .

(۷۵)که مریي دمولی په اجازه نکاح وکړه نومهردمریي په غاړه قرض اوواجبیږي اوددي مهرداداکیدولپاره مریی خرڅول کیږي البته که ددي مریي په ثمنوپوره مهرادانه کړای شونودوباره نه خرڅیږي بلکې دباقي مهرمطالبه له مریي څخه له آزادیدووروسته کیږي .

(۷۶)وَإِذَازَوَّجَ الْمَولیٰ اَمَتَهُ فَلَیسَ عَلَیهِ اَنْ یُبَوِّءَهَابَیتًالِلزَّوجِ(۷۷)ولٰکِنَّهَاتَخدِمُ الْمَولیٰ وَیُقَالُ لِلزَّوجِ مَتیٰ ظَفِرْتَ بِهَا وَطِئتَهَا

ترجمه :که مولی دخپلې منځې نکاح وکړه نوپرمولی دانه دی لازم چې دخاوندلپاره کوټه مهیاکړي بلکې منځه به دخپل مولی خدمت کوي اوزوج ته ویل کیږي چې کله دي موقع پیداکوله بس وطی کوه .

تشریح :(۷۶)که مولی دخپلې منځې نکاح وکړه نوپرمولی دانه ده لازمه چې دخاوندلپاره کمره (کوټه) دشپې تیرولوتیاره کړي بلکې منځه به دخپل مولی خدمت کوي .

(۷۷)خاوندته ویل کیږي چې کله دي موقع پیداکوله وطی کوه ځکه دمولی حق دمنځې په رقبه اومنافع (پرته له منافع دبضع) دواړوکې دي چې داحق کثیردی اودزوج حق خالص په منافع کې دی چې قلیل دی اودکثیرابطال دقلیل دحصول لپاره لازم نه دی حال داچې قلیل بغیرابطال دکثیرممکن وي .

(۷۸)وَإِنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً عَلیٰ اَلْفِ دِرْهَمٍ عَلیٰ اَنْ لَایُخْرِجَهَامِنَ الْبَلَدِاَوعَلیٰ اَنْ لَایَتَزَوَّجَ عَلَیهَاامْرَأَةً فَلَانَ وَفَیٰ بِالشَّرْطِ فَلَهَا الْمُسَمّٰی(۷۹)وَإِنْ تَزَوَّجَ عَلَیهَااَوْاَخْرَجَهَامِنَ الْبَلَدِفَلَهَامَهْرُمِثْلِهَا

ترجمه:که سړي له ښځې سره په یوزرنکاح وکړه په دې شرط چې خاوندبه داله خپل ښارڅخه نه باسي یاداچې ددې په موجودګي کې به له بلې ښځې سره نکاح نه کوي نوکه خاوندپه شرط وفاوکړه نوښځې ته مهرمسمّی کیږي اوکه سړي دشرط مخالفت وکړله بلې ښځې سره یې نکاح وکړه یایې داله خپل ښارڅخه وایستله نوبیاښځې لره مهرمثل کیږي .

تشریح:(۷۸)که چاله یوې ښځې سره نکاح وکړه اویوزرروپۍ مهریې مقررکړاوښځې داشرط ولګاوه چې خاوندبه داترښارنه باسي یاداچې ددې په موجودګي کې به بله ښځه نه په نکاح کوي نوکه خاونداشرط پوره کړنوښځې ته مهرمسمّي یعنې یوزرروپۍ کیږي ځکه په دې ښځه راضي ده .

(۷۹)اوکه سړي شرط پوره نکړبلکې دهغې په موجودګی کې یې له بلې ښځې سره نکاح وکړه یایې ښځه ترښاروایسته نوبیاښځې ته مهرمثل کیږي ځکه خاونددعقدپه وخت یوداسې شی ذکرکړی دی چې په هغه کې دښځې نفع ده لیکن دنفع دفوت کیدوپه وجه دښځې رضامندی معدومه شوه لهذادهغې مهرمثل به مکمل ورکوي .

(۸۰)وإذاتَزَوَّجَهَاعلى حَيَوَانٍ غَيْرِمَوْصُوْفٍ صَحَّتِ التَّسْمِيَةُ ولَهَاالْوَسَطُ مِنْه(۸۱)وَالزَّوْجُ مُخَيَّرٌ اِنْ شَاءَ اَعْطَاهَاذَالِكَ وإنْ شَاءَ اَعْطَاهَاقِيْمَتَه

ترجمه:که سړي له ښځې سره پریوداسې حیوان نکاح وکړه چې دهغه وصف یې بیان نه کړنودامهرمقررول صحیح دی اوښځې لره درمیانه درجه حیوان کیږي اوزوج ته اختیاردی که درمیانه درجه حیوان ورکوي اوکه ددرمیانه درجه حیوان قیمت ورکوي .

تشریح:(۸۰)که چاله کومې ښځې سره نکاح وکړه اومهریې یوداسې حیوان مقررکړچې جنس یې معلوم وومثلاًآس یاخریاغویی دی مګردهغه وصف یې نه دی بیان کړی چې اعلی درجه آس دی که درمیانه که ادنی درجه نومهرمقررول صحیح دی .

(۸۱)زوج ته اختیاردی که درمیانه درجه حیوان ورکوي یاکه ددرمیانه درجه حیوان قیمت ورکوي ، دااختیارځکه ورکول شوی دی چې دحیوان درمیانه والی په قیمت سره معلومیږي لهذادادپه حق کې قیمت اصل دی اودتسمیه په اعتبارحیوان اصل دی ځکه تسمیه پرهغه راغلې ده ځکه نوخاوندله دواړوڅخه یواختیارولی شي .

(۸۲)وَاِنْ تَزَوَّجَهَاعلى ثَوْبٍ غَيْرِمَوْصُوْفٍ فَلَهَامَهْرُمِثْلِهَا

ترجمه :كه سړي له ښځې سره پريوه داسي كپړه نكاح وكړه چې وصف يې نه دی بيان كړی نوښځې ته مهرمثل كيږي .

تشريح :(۸۲)كه په نكاح كې يې مهر كپړه مقرركړاودكپړې وصف يې بيان نه كړيعنې جنس يې نه دی بيان كړی بس دومره يې ورته وويل چې كپړه دركوم نوښځې ته مهرمثل كيږي ځكه دلته دكپړې جنس مجهول دی ولی دكپړوډيراجناس دي،اوكه يې دكپړې جنس بيان كړمثلاورته ويې ويل چې هراتي كپړه دركوم نودامهرمقررول صحيح دی زوج دكپړې ياقيمت وركولواختيارلري ،لمابينا .

دنكاح متعه اوموقت بيان

(۸۳)وَنِكَاحُ الْمُتْعَةِ(۸۴)وَالْمُوَقَّتِ بَاطِلٌ

ترجمه :نكاح متعه اوموقت باطله ده .

تشريح :(۷۳)متعه په اتفاق دائمهؤباطله ده،متعه داده چې يوسړی ښځې ته ووايي چې زه له تاڅخه دومره وخت ددومره مال په عوض نفع اخلم،دنكاح متعه پربطلان دامت اجماع ده .

(۷۴)نكاح موقت هم باطله ده ،دنكاح موقت صورت دادی چې يوسړی له يوې ښځې سره سمدلاسه دګواهانوپه مخ كې نكاح وكړي مګرابدي نه وي بلكې ترمحدودوخته پوري وي مثلاترلسوورځويايوې مياشتې پوري نكاح وكړي،اودنكاح موقت دبطلان وجه داده چې په دې كې هم دمتعه معنی راځي (ځكه دنكاح موقت مطلب هم همدادی چې څوورځې نفع اخلم) دامام زفر رحمه الله په نزدنكاح موقت صحيح اولازمه ده ولی نكاح په شروط فاسده ؤسره نه باطليږي ،دامام زفر رحمه الله قول راجح دی،دامام زفر رحمه الله دقول مطلب دادی چې دانكاح نوره لازمه اوابدي ده توقيت يې باطل دی .

دفضولي دنكاح كولوبيان

(۸۵)وَتَزْوِيجُ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُمَا مَوْقُوفٌ فَإِنْ أَجَازَهُ الْمَوْلَى جَازَ وَإِنْ رَدَّهُ بَطَلَ

ترجمه :كه كوم فضولی چادمريي يامنځې نكاح دهغه دمولی له اجازې بغيروكړه نودانكاح موقوفه كيږي كه مولی اجازه وركړه نافذه كيږي اوكه يې ردكړه نوباطليږي .

تشريح :(۸۵)كه يوفضولی چادمريي يامنځې نكاح دهغودمولی داجازې بغيروكړه نودانكاح موقوف كيږی كه مولی اجازه وركړه نونافذيږي كه نه باطليږي،په ماقبل كې يعنې ولايجوزنكاح العبدالخ ،كې هم دي نژدي دغه مضمون بيان شوی دی مګرلږڅه فرق يې شته هغه دادی چې هلته مباشرخپله مريی يامنځه ده اودلته مباشرعقدمريی اومنځه نه ده بلكې فضولی (فضولی هغه څوک دی چې دغيرپه حق كې داذن شرعی بغيرمتصرف وي) دی .

(۸۶) وكَذالِكَ لَوْزَوَّجَ رَجُلٌ امْرَأةً بِغَيرِرَضاهَا اَوْرَجُلاً بِغَيرِرَضَاه

ترجمه: همدارازکه سړي له ښځې سره نکاح وکړه دهغې درضامندي بغيريابنځې دسړي له رضامندي بغيرله هغه سره نکاح وکړه نوداهم ددوئ تراجازه پورې موقوف کيږي.

تشريح: (۸۶)که چاله ښځې سره نکاح وکړه دهغې داجازت بغيريابنځې له سړي سره نکاح وکړه دهغه داجازي بغيرنوداهم تَزويجُ العَبدوالامَة بِغَيرِاذنِ مولاهما،په ډول موقوف کيږي که دوئ ته په اطلاع رسيدوسره يې اجازه وکړه نونافذه کيږي که نه باطليږي ځکه دادغيرپه حق کې تصرف دی لهذادهغه داجازت بغيرنه نافذيږي.

(۸۷) وَيَجُوزُلِابْنِ العَمِّ اَنْ يُزَوِّجَ بِنتَ عَمِّهِ مِنْ نَفْسِه (۸۸) وإذَااَذِنَتِ المَرأةُ لِرَجُلٍ اَنْ يُزَوِّجَهَا مِنْ نَفْسِه فَعَقَدَ بِحَضرَةِ شَاهِدَينِ جَازَ

ترجمه: داکازوی ته جائزدی چې دی دخپل آکالورخپل ځان ته په نکاح کړي اوکه ښځه چاته له دې سره دنکاح کولواجازه ورکړي نوهغه ددوگواهانوپه موجودگی کې عقدوکړي نوداجائزدی.

تشريح: (۸۷)يعنې که دآکازوی خپله نکاح دخپل آکاله کوچنۍ لورسره وکړه حال داچې ددې انجلۍ له ده علاوه بل نژدې قريب نشته نوداجائزدی داسړی له خپل طرفه اصيل اودانجلۍ له طرفه ولي شمارل کيږي.

(۸۸)همدارازکه يوې ښځې يوسړی وکيل وگرځاوه اوورته ويې ويل چې زمانکاح له خپل ځان سره وکړه هغه ددوگواهانوپه موجودگی کې عقدوکړنوداهم جائزدی اوداسړی له خپل طرف څخه اصيل اودښځې له طرفه وکيل شمارل کيږي اوپه دې دواړوصورتوکې دسړي زَوّجتُ ويل دايجاب اوقبول دواړوقائم مقام کيږي.

(۸۹) وَإذَاضَمِنَ الوَلِيُّ المَهرَلِلمَرأةِ صَحَّ ضَمَانُه ولِلمَرأةِ الخِيارُفِي مُطَالَبَةِ زَوجِهَا اَووَلِيِّهَا

ترجمه: که دښځې ولي دښځې دمهرضامن شونوداضمانت جائزدی اوښځې ته اختياردی که دخپل مهر مطالبه له خاوند څخه کوي اوکه يې ولي څخه.

تشريح: (۸۹)که دښځې ولی دښځې لپاره دهغې دخاوندله طرفه دمهرضامن شونوداجائزدی ځکه ولی پرخپل ځان دشي لازم کولواهل دی اوښځې ته اختياردی چې دامهرله خپل خاوندڅخه طلبوي يااله ولي څخه ځکه په تولو کفالو کې داقانون دی چې صاحب مال له مديون اوکفيل دواړوڅخه مطالبه کولای شي.

(۹۰) وإذَافَرَّقَ القَاضِي بَينَ الزَّوجَينِ فِي النِّكَاحِ الفَاسِدِقَبلَ الدُّخُولِ فَلَامَهرَلَهَا (۹۱) وكَذَالِكَ بَعدَالخَلوَةِ (۹۲) وإذَا دَخَلَ بِهَافَلَهَامَهرُمِثلِهَاولَايُزَادُعَلَى المُسَمّٰى

ترجمه: او که قاضي په نکاح فاسده کې قبل الدخول دزوجینو ترمنځ تفریق وکړنو ښځې لره مهرنه کیږي اوهمدارازکه ترخلوت وروسته وي او که یې دخول په کړي وونودې لره مهرمثل کیږي او ترمهرمسمّی زیات نه کیږي.

تشریح: (۹۰)که سړي اوښځې نکاح فاسده وکړه (مثلا بغیرشاهدانو یې نکاح وکړه) بیا قبل الدخول (یعني وطی) قاضي ددوئ ترمنځ تفرق وکړنوښځې لره مهرنه کیږي ځکه په نکاح فاسده کې خالص په عقدسره مهرنه واجبیږي بلکې په استیفاء دمنافع سره واجبیږي.

(۹۱)همدارازپه نکاح فاسده کې له ښځې سره خلوة شوی وي بیاهم ښځې لره مهرنه کیږي ځکه په نکاح فاسده کې خلوة هم فاسدوي اوخلوة فاسده دوطی قائم مقام نه کیږي لهذاپه نکاح فاسده کې له خلوة وروسته هم مهرنه واجبیږي.

(۹۲)البته که یې له ښځې سره جماع وکړه نوبیادې لره مهرمثل کیږي ځکه په داراسلام کې پروطی کولو یاحدجاري کیږي یامهر، مگرحدخودشبهه نکاح په وجه ساقط دی لهذامهرمثل واجبیږي، مگرمهرمثل به دزوجینوترمنځ دمقررشده مقدارڅخه زیات نه وي ځکه ښځه پرمقررشده مقدارراضي ده.

(۹۳)وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ(۹۴)وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا مِنْهُ(۹۵)وَمَهْرُ مِثْلِهَا يُعْتَبَرُ بِأَخَوَاتِهَا وَعَمَّاتِهَا وَبَنَاتِ عَمِّهَا(۹۶)وَلَا يُعْتَبَرُ بِأُمِّهَا وَخَالَتِهَا إِذَا لَمْ تَكُونَا مِنْ قَبِيلَتِهَا

ترجمه: او(په نکاح فاسده کې له تفریق وروسته)پرښځه عدت واجبیږي اوددې ښځې دبچی نسب له ده څخه ثابتیږي اومهرمثل معتبریږي دهغې په خویندو، عمه گانو، دآکاپه لوڼوسره اودهغې په موراوخاله سره نه معتبریږي چې کله هغه ددې له خاندان څخه نه وي.

تشریح: (۹۳)په نکاح فاسده کې له تفریق وروسته پرښځه عدت واجبیږي ځکه په نکاح فاسده کې شبهة النکاح ده لهذاشبهة النکاح داحتیاط په ځای کې له حقیقت نکاح سره لاحقه کړای شوې ده.

(۹۴)داختلاط نسب څخه دحفاظت په خاطرددې ښځې دبچي نسب له دغه سړي څخه ثابتیږي ځکه دنسب په اثبات کې احتیاط کیږي دماشوم له ضائع کیدو څخه دحفاظت لپاره.

(۹۵)دښځې مهرمهل دهغې دخاندان په ښځوسره معتبریږي کومې ښځې چې دهغې دپلارجانب ته منسوبې وي مثلا خویندې، عمه گانې، اودآکالوڼې، ددغوچې څومره مهروودښځې مهرمثل هم ددې هومره کیږي ځکه ښځه دپلاردقبیلې طرفته منسوبیږي دهغوپه شرافت سره ښځه شریفه گڼله کیږي.

(۹۶)په مهرمثل کې دښځې موراوخاله ته اعتبارنشته په دې شرط چې دادواړه ښځې دهغې دپلارله قبیلې څخه نه وي.

دمهرمثل بيان

(۹۷)وَيُعْتَبَرُ فِى مَهْرِ الْمِثْلِ اَنْ تَتَسَاوىٰ الْمَرْاَتَانِ فِى السِّنِّ وَالْجَمَالِ وَالْمَالِ وَالْعَقْلِ وَالدِّيْنِ وَالْبَلَدِ والعَصْرِ

ترجمه:معتبريږي په مهرمثل کې چې دوې ښځې په عمر کې،په جمال کې،په مال کې،په عقل اودين کې،په ښاراوزمانه کې سره برابرې وي .

تشريح:(۹۷)يعنې په مهرمثل کې څه نوروشيانوته هم اعتبارورکول کيږي مثلاداچې دوې ښځې به په عمر کې،په جمال کې،په مال کې،په عقل کې ،په دين کې،په ښاراوزمانه کې سره برابرې وي،همداراز په بکارت اوثيوبت،په علم وادب اوحسن اخلاق کې به برابرې وي ځکه مهرمثل ددي اوصافوپه اختلاف سره مختلف کيږي .

(۹۸)يَجُوْزُ تَزْوِيْجُ الْاَمَةِ مُسْلِمَةً كَانَتْ اَوْ كِتَابِيَةً(۹۹)ولايجوزاَنْ يَتَزَوَّجَ اَمَةً على حُرَّةٍ(۱۰۰)وَيَجُوْزُ تَزْوِيْجُ الْحُرَّةِ عَلَيْهَا۔

ترجمه:اوآزادچالره جائزدی چې له منځې سره نکاح وکړي که مسلمانه وي که کتابيه وي اوداجائزنه دی چې منځه پرحره په نکاح کوي اوداجائزدی چې حره پرمنځه په نکاح کړي .

تشريح:(۹۸)حرلره جائزدی چې له منځې سره نکاح وکړي که مسلمانه وي که کتابيه وي که څه هم خاوندله حرې ښځې سره دنکاح قدرت لري .

(۹۹)البته دانه ده جائزه چې حره دچاپه نکاح کې وي اودی بيامنځه په نکاح کړي که څه هم دحره په رضامندي سره وي لقوله ﷺ لاتُنكح الامَةُ عَلَى الحُرّة (يعنې چې حره يې په نکاح وي له منځې سره دي نکاح نه کوي) .

(۱۰۰)البته داجائزدی چې دچاپه نکاح کې منځه وي اوبياهغه حره په نکاح کړي لقوله ﷺ :وتُنكحُ الحُرّةُ على الامَة . (يعنې چې منځه يې په نکاح وي حره ښځه په نکاح کولای شي) .

(۱۰۱)وَلِلْحُرِّ اَنْ يَتَزَوَّجَ اَرْبَعًا مِنَ الْحَرَائِرِ وَالْاِمَاءِ لَيْسَ لَهٗ اَنْ يَتَزَوَّجَ اَكْثَرَ مِنْ ذَالِكَ(۱۰۲)ولايَتَزَوَّجُ الْعَبْدُ اَكْثَرَ مِنِ اثْنَيْنِ (۱۰۳)فَاِنْ طَلَّقَ الْحُرُّ اِحْدَى الْاَرْبَعِ طَلَاقًا بَائِنًا لَمْ يَجُزْ لَهٗ اَنْ يَتَزَوَّجَ رَابِعَةً حَتّٰى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا

ترجمه:حُرسړي لره جائزدی چې له څلوروآزادوښځواومنځوسره نکاح وکړي اوترڅلورله زياتوښځوسره نکاح کول جائزنه ده اومريی به تردوله زياتوښځوسره نکاح نه کوي که آزادسړي له خپلوڅلوروښځوڅخه يوې ته طلاق بائن ورکړنوبياله څلورمې ښځې سره نکاح ورته جائزه ده ترهغه چې دمطلقه عدت تيره شي .

تشریح :(۱۰۱)آزادسړی په یوه وخت له څلورو ښځوسره نکاح کولای شي که څلورواړه آزادې وي که څلور سره منځې یابعض آزادې اوبعض منځې ،ترڅلوروله زیاتوښځوسره نکاح کول جائزه نه ده لقوله تعالی (فَانكِحُوا مَاطَابَ لَكُم مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وثُلثَ وَرُبَاعَ) یعنې نکاح کوئ له هغوسره کومې ښځې چې ستاسې خوښې وي دوې یادرې یاڅلور.

(۱۰۲)مریي لره تردوښځودزیاتونکاح ناجائزه ده ځکه رقیت په نعمتونوکې تنصیف راولي اودښځوحلال والی هم دالله تعالی له طرفه نعمت دی لهذاپه دغه نعمت کې هم تنصیف راځي.

(۱۰۳)که حرسړي له خپلوښځوڅخه یوې ته طلاق ورکړکه څه هم طلاق بائن وي نوترڅوچې دامطلقه خپله عده تیره نه کړي ترهغه وخته داسړی له بلې ښځې سره نکاح نه شي کولای ځکه تراوسه دمطلقه نکاح من وجه باقي ده ولې چې دنکاح بعض احکام یعنې عدت تراوسه باقي ده.

(۱۰۴)وَإِذَازَوَّجَ الْأَمَةَمَوْلاهَاثُمَّ أَعْتَقَتْ فَلَهَاالْخِيارُ حُرًّا كَانَ زَوْجُهَااو عبداً(۱۰۵)و كذٰلِكَ الْمُكاتَبَةُ

ترجمه :که مولی خپله منځه چاته په نکاح ورکړه بیایې دامنځه آزاده کړه نودې منځې لره دنکاح برقرارساتل اوفسخ کول دواړواختیارشته که دهغې خاوندآزادوي اوکه مریی وي اوداحکم دمکاتبې هم دی.

تشریح :(۱۰۴)که مولی دخپلې منځې نکاح وکړه یامنځې دمولی په اجازه خپله نکاح وکړه بیادامنځه آزاده شوه نودې منځې لره خیارعتق دی یعنې دنکاح دبرقرارساتلواوفسخ کولودواړواختیارلري که یې خاوند آزادوي اوکه مریی وي ځکه دمنځې ترآزادیدومخکې خاونددوطلاقومالک وواوله آزادیدووروسته ددریوطلاقومالک کیږي لهذامعتقه منځې ته دزوج دملک دزیادت دفع کولولپاره داصل عقدختم کولواختیارورکړل شوی دی.

(۱۰۵)همداحکم دمکاتبې هم دی یعنې له آزادیدووروسته هغې لره خیارعتق حاصل دی بدلیل سابق.

(۱۰۶)وإِنْ تَزَوَّجَتْ أَمَةٌ بِغَيرِ إِذْنِ مَوْلاهَا ثُمَّ أَعْتَقَتْ صَحَّ النِّكَاحُ(۱۰۷)ولاخِيارَ لَهَا

ترجمه :اوکه منځې دمولی داجازې بغیرنکاح وکړه بیادامنځه آزاده کړای شوه نودانکاح صحیح کیږي اومنځې ته خیارعتق نه ورکول کیږي.

تشریح :(۱۰۶)که منځې دمولی داجازې بغیرنکاح وکړه بیادامنځه آزاده کړای شوه نودانکاح یې صحیح ده ځکه مقتضي دنکاح موجوددی ولی رکن دنکاح (یعنې ایجاب اوقبول) دهغه له اهل څخه صادرشوی دی ولې چې منځه دعاقله بالغه کیدوپه وجه اهل عبارت ده اومانع دنکاح منتفي دی ځکه نفاذدنکاح ممنوع وودمولی دحق په وجه اودمولی حق په آزادولوسره زائل شولهذانکاح صحیح شوه.

(۱۰۷)مګر منځې ته خيارعتق نه حاصلېږي ځکه نکاح نافذه شوې ده دمنځې له آزاديدو ،وروسته نوپه آزاديدوسره دزوج دملک زيادت نه متحقق کيږي .

(۱۰۸)وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَتَيْنِ فِي عَقْدٍ وَاحِدٍ إِحْدَاهُمَا لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا صَحَّ نِكَاحُ الَّتِي يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا (۱۰۹) وَبَطَلَ نِكَاحُ الْأُخْرَى

ترجمه :که چاپه يوه عقدکې له دوښځوسره نکاح وکړه له دواړوڅخه ديوې نکاح ده لره نه ده حلاله نوچې کومه حلاله ده دهغې نکاح صحيح ده اودهغې بلې نکاح باطله ده .

تشريح (۱۰۸)که چاپه يوه عقدکې له دوښځوسره نکاح وکړه له دواړوڅخه يوه ده ته حلاله ده اويوه دمحرمه کيدوپه وجه يادمشرکه کيدوپه وجه ياپه دي وجه چې زوج آخرلري حرامه ده نوکوم چې حلاله ده دهغې نکاح صحيح ده .

(۱۰۹)هغه بله چې حرامه ده دهغې نکاح باطله ده ځکه مبطل له دواړوڅخه په يوه کې دی لهذاپرهغې اقتصارکيږي .

(۱۱۰)وَإِنْ كَانَ بِالزَّوْجَةِ عَيْبٌ فَلَا خِيَارَ لِزَوْجِهَا (۱۱۱) وَإِذَا كَانَ بِالزَّوْجِ جُنُونٌ أَوْ جُذَامٌ أَوْ بَرَصٌ فَلَا خِيَارَ لِلْمَرْأَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَهَا الْخِيَارُ

ترجمه :که په ښځه کې کوم عيب وونوخاوندلره هيڅ اختيارنشته اوکه خاوندليونی ووياپه جذام يافيس ناروغي مبتلاوونودامام ابوحنيفة رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله په نزدښځې ته اختيارنشته امام محمد رحمه الله فرمايلي دي چې ښځې لره اختيارشته .

تشريح :(۱۱۰)که په ښځه کې کوم عيب وومثلاليونی وه يادجذام يافيس په ناروغي اخته وه نوددغه عيب په وجه خاوندته دنکاح دفسخ اختيارنشته ځکه په دي کې دښځې ضررد ی ولی دښځې حق بلکل ضائع کيږي ،پاتی شودخاوندضرردهغه دفعه خودادول ممکنه ده چې سړی به معيوبې ښځې ته طلاق وکړي .

(۱۱۱)که په سړي کې کوم عيب وومثلاليونی وياپه جذام يافيس ناروغي اخته وونودامام محمد رحمه الله په نزددفع ضررلپاره پرمجبوب اوعنين باندي په قياس کولوسره ښځې ته دنکاح دفسخ اختياروركوي، دشيخينورحمهماالله په نزدښځه دنکاح دفسخ اختيارنه لري ځکه پرسړي واجب داد ی چې له ښځې سره وطی وکړي دهغې دمهرتصحيح وکړي اوپه زوج داکارترسره کيدای شي .

(۱۱۲)وَإِنْ كَانَ عِنِّينًا أَجَّلَهُ الْحَاكِمُ حَوْلًا فَإِنْ وَصَلَ فِي هَذِهِ الْمُدَّةِ فَلَا خِيَارَ لَهَا (۱۱۳) وَإِلَّا فَرَّقَ بَيْنَهُمَا إِنْ طَلَبَتِ الْمَرْأَةُ ذَلِكَ (۱۱۴) وَالْفُرْقَةُ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ وَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ إِذَا كَانَ قَدْ خَلَا بِهَا

ترجمه :كه سړى نامردوونو حاكم به (دعلاج لپاره)يو كال مهلت وركړي بياكه په كال كې ده له ښځې سره وطى وكړه نوښځې ته اختيار نشته كه نه بيابه حاكم ددوئ ترمنځ تفريق كوي كه ښځې دتفريق غوښتنه وكړه اوداتفريق به يو طلاق بائن شي اوښځې لره پوره مهر كيږي كه خاوند خلوة ورسره كړى وو.

تشريح :(۱۱۲)كه خاوندنامردووا وښځې دتفريق مطالبه وكړه نوحاكم (دعلاج لپاره)خاوندته يو كال مهلت وركړي كه داسړي په كال كې له دې ښځې سره يوځل وطى وكړه نوفِبِهاونِعمت (دزوجينوترمنځ تفريق نه كيږي) .

(۱۱۳)اوكه يې په كال يوځل هم وطى ونه شوكړاى اوزوج طلاق وركولوته هم تيارنه وونوحاكم به ددوئ ترمنځ تفريق وكړي .

(۱۱۴)دحاكم داتفريق به طلاق بائن وي كه خاوند خلوة صحيحه ورسره وكړنوښځې ته پوره مهركيږي كه نه نصف مهرلازميږي .

عنين هغه سړى دى چې له ښځوسره وطى نه شي كولاى ياداچې له ثيبه ښځوسره وطى كولاى شي له باكره سره يې نه شي كولاى ياله بعضوسره وطى كولاى شي له بعضوسره يې نه شي كولاى دهغوپه حق كې عنين شمارل كيږي .

(۱۱۵)وإنْ كانَ مَجبُوبًا فرَّقَ القَاضِي بَيْنَهُمَا فِي الْحَالِ ولم يُؤَجِّلْه(۱۱۶)وَالْخَصِيُّ يُؤَجَّلُ كَمَا يُؤَجَّلُ الْعِنِّينُ

ترجمه :اوكه خاوندمجبوب وونوحاكم به خاوندته له مهلت وركولوبغيرفى الحال ددواړوترمنځ تفريق كوي اوخصى ته مهلت وركول كيږي لكه نامردته چې مهلت وركول كيږي.

تشريح :(۱۱۵)كه خاوندمجبوب (يعني مقطوعُ الذكروالخُصيَتَينِ مَعًاومَقطوعُ الذّكرفَقَط) وواوښځه دتفريق مطالبه وكړي نوحاكم به خاوندته له مهلت وركولوبغيرفى الحال ددوئ ترمنځ تفريق كوي ځكه دمقطوع الذكرله طرفه وطى متوقع نه ده لهذاهغه ته په مهلت وركولو كې هيڅ فائده نشته .

(۱۱۶)كه خاوندخصى وونوهغه هم دنامردپه شان مهلت وركول كيږي ځكه ممكن دى چې دهغه آله په انتشاركې راشي اوپروطى قادرشي ،خصى هغه دى چې خصيتين يې ايستل شوي وي اوآله يې پاتى وي .

(۱۱۷)وإذَا أَسْلَمَتِ الْمَرْأَةُ وزَوْجُهَا كَافِرٌ عَرَضَ عَلَيْهِ الْقَاضِي الْإِسْلامَ فَإِنْ أَسْلَمَ فَهِيَ امْرَأَتُه(۱۱۸)وإنْ أَبَى عَنِ الْإِسْلَامِ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا وكَانَ ذَالِكَ طَلَاقًا بَائِنًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ومُحَمَّدٍ رحمه الله وقَالَ أَبُو يُوسُفَ رحمه الله هِيَ الْفُرْقَةُ بِغَيْرِ طَلَاقٍ

ترجمه :كه ښځه مسلمانه شوه اوخاوندكافروونو قاضى به پرخاونداسلام ورعرض كړي كه خاوندمسلمان شونوداښځه يې بي بي ده اوكه يې له اسلام څخه انكاروكړنو قاضى به ددوئ ترمنځ تفريق كوي اوداتفريق دطرفينو رحمهما الله په نزدطلاق بائن كيږي اوامام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دى چې دافرقت بلاطلاق دى .

تشريح :(۱۱۷)که ښځه مسلمانه شوه اودهغې خاوندکافروونوکه ليونی ياماشوم نه ووپه اسلام پوهيده نوقاضي به پرخاونداسلام عرض کړي که قاضي داسلام په وړانديزکولوسره خاوند مسلمان شونودا ښځه يې بي بي ده اونکاح قائمه ده ځکه منافي دنکاح نشته.

(۱۱۸)که خاوندله اسلام راوړلوڅخه انکاروکړنوقاضي به ددوئ ترمنځ تفريق وکړي ځکه مسلمانه ښځه دکافرپه نکاح کې نه شي پاتې کيدلای اوداتفريق دطرفينورحمهماالله په نزدطلاق بائن ګرځي اوامام ابويوسف رحمه الله فرمايي چې داتفريق طلاق نه کيږي بلکې فسخ دنکاح کيږي (دطرفينورحمهماالله قول مفتی به دی).

(۱۱۹)وإنْ أَسْلَمَ الزَّوْجُ وَتَحْتَهُ مَجُوسِيَّةٌ عُرِضَ عَلَيْهَا الإِسْلامُ فَإِنْ أَسْلَمَتْ فَهِيَ امْرَأَتُه(۱۲۰)وإنْ أَبَتْ فَرَّقَ الْقَاضِيْ بَيْنَهُمَا(۱۲۱)ولَمْ تَكُنِ الْفُرْقَةُ طَلاقًا(۱۲۲)فَإِنْ كانَ قَدْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ(۱۲۳)وإنْ لَمْ يَكُنْ دَخَلَ بِهَا فَلا مَهْرَ لَهَا۔

ترجمه :اوکه خاوندمسلمان شواوده په نکاح کې مجوسيه ښځه وه نوپرمجوسيه به اسلام ورعرض کړای کيږي که هغې اسلام قبول کړنودايې ښځه ده اوکه يې له اسلام څخه انکاروکړنوقاضي به ددوئ ترمنځ تفريق وکړي اودافرقت طلاق نه کيږي بياکه خاوندپه دي ښځه سره دخول کړی وونوښځې لره کامل مهرکيږي اوکه يې دخول نه وو کړی نوبياښځې لره مهرنه کيږي.

تشريح :(۱۱۹)که خاوندمسلمان شواودهغه په نکاح کې مجوسيه ښځه وه نوقاضي به پرمجوسيه اسلام وړاندې کړي که چيرته هغې اسلام راوړنودادي سړي ښځه ده نکاح قائمه ده.

(۱۲۰)اوکه ښځې له اسلام راوړلوڅخه انکاروکړنوقاضي به ددوئ ترمنځ تفريق وکړي ځکه له مجوسيه ښځې سره دمسلمان نکاح ابتداءً اوبقاءً حرامه ده.

(۱۲۱)دافرقت دښځې په وجه راغلی دی اوښځه دطلاق اهل نه ده لهذادافرقت طلاق نه کيږي.

(۱۲۲)بياکه خاوندپه دي دخول کړی وونوښځې لره کامل مهرواجبيږي ځکه ددخول په وجه مهرمؤکدشوی دی.

(۱۲۳)اوکه يې دخول نه وو کړی نوبياښځې لره مهرنه کيږي ځکه فرقت دښځې له طرفه واقع شوی دی اوعدم دخول په وجه مهرمؤکدشوی هم نه دی.

(۱۲۴)وَإِذَا أَسْلَمَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ لَمْ تَقَعِ الْفُرْقَةُ عَلَيْهَا حَتّٰى تَحِيْضَ ثَلٰثَ حِيَضٍ(۱۲۵)فَإِذَا حَاضَتْ بَانَتْ مِنْ زَوْجِهَا(۱۲۶)وإذَا أَسْلَمَ زَوْجُ الْكِتَابِيَّةِ فَهُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا

ترجمه:که په دارحرب کې ښځې اسلام راوړنو پرهغې فرقت نه واقع کيږي ترهغه چې درې حيضه ورته راشي ياچې کله حيض ورته راشي نوله زوج څخه بائنه کيږي او که دکتابيه ښځې خاوند مسلمان شونودوئ دواړه پرخپله نکاح پاتيږي.

تشريح:(۱۲۴)که په دارحرب کې يوه ښځه مسلمانه شوه اودهغې خاوندکافروونوپه خالص اسلام راوړلوسره دزوجينوترمنځ تفريق نه راځي بلکې که ښځه له ذوات حيض څخه وه نوله دروحيضونو تريدلو وروسته فرقت واقع کيږي اوکه حامله وه نودماشوم زيږيدلوو روسته فرقت واقع کيږي ځکه دخاوندداسلام اميد شته مگرپرهغه داسلام وړاندې کول په دارحرب کې داوسيدوپه وجه متعذردی لهذاداپه منزله دطلاق رجعي کيږي.

(۱۲۵)له دروحيضوتيريدووروسته داښځه له خپل خاوندڅخه بائنه کيږي که مدخوله وه که غيرمدخوله، بيا که فرقت قبل الدخول وونوپه اتفاق سره پردې ښځه له فرقت وروسته بل عدت نشته اوکه مدخوله وه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبياهم عدت نشته،دصاحبينورحمهماالله په نزددرې حيضه به نورتيروي بل عدت تيرول پرهغې لازم دی.

(۱۲۶)که دکتابيه ښځې خاوندمسلمان شونودوئ دواړه پرخپله نکاح پاتيږي ځکه دمسلمان سړي اوکتابيه ښځې ترمنځ نکاح ابتداءً صحيح ده نوبقاءً په طريقه اولی صحيح کيږي.

(۱۲۷)وَإِذَا خَرَجَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ إِلَيْنَا مِنْ دَارِ الْحَرْبِ مُسْلِمًا وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا (۱۲۸)وَإِنْ سُبِيَ أَحَدُهُمَا وَقَعَتِ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا (۱۲۹)وَإِنْ سُبِيَا مَعًا لَمْ تَقَعِ الْبَيْنُونَةُ

ترجمه:که يوله زوجينومسلمان شوله دارحرب څخه ودار اسلام ته راغی نوددواړوترمنځ فرقت واقع کيږي اوکه احدله زوجينومسلمانانونيونوهم ددوئ ترمنځ فرقت واقع کيږي اوکه زوجين دواړه گرفتارکړای شونوددوئ ترمنځ فرقت نه واقع کيږي.

تشريح:(۱۲۷)که يوله زوجينومسلمان شوله دارحرب نه ودار اسلام ته راغی نوددواړوترمنځ فرقت واقع کيږي دتبائن دارين په وجه (ځکه تباثن دارين دمنافع دحصول منافي دی اوکوم شی چې دحصول مصالح منافي وي هغه نکاح قطع کوي)

(۱۲۸)همدارازکه يوله زوجينومسلمانانوگرفتارکړداراسلام ته يې راوړنوهم فرقت واقع کيږي لماقلنا.

(۱۲۹)که دواړه زوجين گرفتارکړای شونوددوئ ترمنځ فرقت نه واقع کيږي ځکه تباثن دارين نه دی راغلی صرف داده چې پردواړورقيت طاري شواورقيت له نکاح سره منافي نه دی.

(۱۳۰) وإذا خرجت المرأة إلينا مهاجرة جاز لها أن تتزوج في الحال فلا عدة عليها عند أبي حنيفة رحمه الله (۱۳۱) فإن كانت حاملا لم تتزوج حتى تضع حملها

ترجمه :که یوه ښځه له دارحرب څخه وداراسلام ته هجرت وکړي نوهغی لره جائزدی چې فی الحال نکاح وکړي دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپرهغی عدت تیرول واجب نه دی او که حامله وه نونکاح دي نه کوي ترهغه چې ماشوم يې پيدا شي.

تشريح :(۱۳۰) که یوه ښځه له دارحرب څخه وداراسلام طرف ته هجرت راوکړي راشي که داښځه مسلمانه وي یاذمیه وي اوبیاهیڅکله هم ودارحرب ته دتلوهوډنه لري نوله دي ښځې سره فی الحال نکاح کول جائزه ده اودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپردي عدت تیرول واجب نه دی ځکه عدت دملک نکاح داحترام دظاهرولولپاره واجبه وي اوحال داچې دحربي سړي دملک نکاح هیڅ احترام نشته.

دصاحبینو رحمهما الله په نزدپردغه ښځه عدت تیرول واجب دی ځکه ددغی ښځې له خپل خاوند څخه فرقت وداراسلام ته له داخلیدووروسته واقع شوی دی اوهرهغه فرقت چې په داراسلام کې واقع شي پرهغه داسلام احکام لازمیږي اوعدت هم داسلام له احکامو څخه دی لهذاعدت واجبیږي (دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی)

(۱۳۱) که هجرت کونکې ښځه حامله وي نودحمل له وضع مخکې دي نکاح نه کوي، داقول امام محمد رحمه الله له امام ابوحنیفة رحمه الله څخه روایت کړی دی وجه يې داده چې حمل له غير (يعني حربي کافر) څخه ثابت النسب دی نوچې کله دنسب په حق کې دحربي کافرلپاره فراش ثابت شونوله نکاح څخه دمنع په حق کې هم احتیاطًا دهغی فراش کیدل ظاهریږي لهذانکاح نه شي کولای.

دمرتدینو دنکاح بیان

(۱۳۲) وإذا ارتد أحد الزوجين عن الإسلام وقعت البينونة بينهما (۱۳۳) وكانت الفرقة بينهما بغير طلاق (۱۳۴) فإن كان الزوج هو المرتد وقد دخل بها فلها كمال المهر (۱۳۵) وإن لم يدخل بها فلها نصف المهر (۱۳۶) وإن كانت المرأة هي المرتدة فإن كان قبل الدخول فلا مهر لها (۱۳۷) وإن كانت الردة بعد الدخول فلها المهر (۱۳۸) وإن ارتدا معا ثم أسلما معا فهما على نكاحهما

ترجمه :که احدله زوجینوله اسلام څخه مرتدشو (العياذ بالله) نوددواړوترمنځ فرقت واقع کیږي اودافرقت به بغیرطلاق وي نوکه خاوندمرتدشواوپه ښځه يې دخول کړی وونوښځې لره کامل مهرکیږي اوکه خاونددخول نه وکړی نوبیاښځې لره نصف مهرکیږي اوکه ښځه مرتده شوه که تردخول مخکې وي نوداسې

ښځې لره مهرنشته اوکه تردخول وروسته مرتده شوه نوښځې لره کامل مهرواجبيږي اوکه زوجين په يوه وارمرتدشول بياپه يوه واردواړه مسلمان شول نودواړه پرخپله نکاح پاتې دی.

تشريح :(۱۳۲)که له زوجينوڅخه يوله اسلام څخه مرتدشو(العياذبالله) نودشيخينورحمهماالله په نزددواړوترمنځ فی الحال فرقت واقع کيږي.

(۱۳۳)اودافرقت به طلاق نه وي،دامام محمد رحمه الله په نزدکه ردّت دخاوندله طرفه وونودافرقت طلاق دی که نه بيانه دی(دشيخينورحمهماالله قول راجح دی).

(۱۳۴)که خاوندمرتدشواوپه ښځه يې دخول هم کړی وونوښځې لره کل مهرکيږي ځکه ددخول (جماع) په وجه مهرمؤکدشو.

(۱۳۵)اوکه خاونددخول نه ووکړی نوبياښځې لره نصف مهرکيږي ځکه فرقت قبل الدخول دی چې له طلاق قبل الدخول سره مشابه دی.

(۱۳۶)که ښځه مرتده شوه نوکه تردخول مخکې ونوداسې ښځې لره مهرنشته ځکه هغې دارتدادپه وجه له خاوندڅخه بضع وګرځوله نوداقبل ترقبض له بائع څخه دمبيع له تلف کولوسره مشابه دی.

(۱۳۷)که ښځه تردخول وروسته مرتده شوه نوښځې لره کامل مهرواجبيږي ځکه ددخول په وجه مهرمؤکدشوی دی البته دعدت په زمانه کې نفقه ښځې لره نه واجبيږي ځکه فرقت دښځې له طرفه راغلی دی نودناشزه کيدوپه وجه هغې لره نفقه نه کيږي.

(۱۳۸)که زوجين په يوه وارمرتدشول بيرته په يوه واردواړه مسلمان شول نودعدم اختلاف دين په وجه دواړه استحساناًپرخپله نکاح پاتې دی دتجديدنکاح ضرورت نشته.

(۱۳۹)وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ الْمُرْتَدُّ مُسْلِمَةً وَلَا مُرْتَدَّةً وَلَا كَافِرَةً(۱۴۰)وَكَذَلِكَ الْمُرْتَدَّةُ لَا يَتَزَوَّجُهَا مُسْلِمٌ وَلَا كَافِرٌ وَلَا مُرْتَدٌّ

ترجمه :اوجائزنه دی چې مرتدسړی له مسلمانې ښځې سره نکاح وکړي اونه له مرتدې ښځې سره اونه له کافرې ښځې سره همداراز مرتده ښځه ده چې نکاح به نه کوي له هغې سره نه مسلمان ،نه کافراونه مرتد.

تشريح :(۱۳۹)مرتدسړی له هيڅ ښځې سره نکاح نه شي کولای نه له مسلمانې ښځې سره نه له کافرې سره اونه له مرتدې سره ځکه مرتدواجب القتل دی هغه ته چې کوم مهلت ورکول کيږي هغه صرف دي لپاره چې غوراوفکروکړي.

(۱۴۰)همداراز مرتده ښځه هم ده چې نه مسلمان ،نه کافراونه مرتدسړی له هغې سره نکاح کولای شي ځکه مرتده هم دغوراوفکرمحبوسه کيږي.

(۱۴۱)وإنْ كانَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مُسْلِمًا فَالْوَلَدُ على دِيْنِه(۱۴۲)وكذا إِنْ أَسْلَمَ أَحَدُهُمَا وله وَلَدٌ صَغِيْرٌ صارَ وَلَدُه مُسْلِمًا بِإِسْلامِه(۱۴۳)وإنْ كانَ أَحَدُ الأَبَوَيْنِ كِتَابِيًا والآخرُ مَجُوْسِيًا فَالْوَلَدُ كِتَابِيٌّ

ترجمه :كه يوله زوجينو مسلمان وونوبچى دهغه په دين كيږي همدارازكه يوله زوجينو مسلمان شواودوئ نابالغ بچى درلودنو داحددزوجينوداسلام په وجه بچى هم مسلمان بلل كيږي اوكه له موراوپلارڅخه يوكتابى اوبل مجوسي وي نوبچى كتابى كيږي.

تشريح :(۱۴۱)كه احدله زوجينومسلمان وي نوبچى دهغه په دين كيږي ځكه په دي كې دبچي لپاره نظرد شفقت دى ځكه چې الاسلامُ يَعلوولَاى يُعلى عَليه .

(۱۴۲)همدارازكه يوله زوجينومسلمان شواودوئ مجنون يانابالغ بچى درلودنوداحددزوجينوداسلام په وجه بچى هم مسلمان بلل كيږي لماقُلنا.

(۱۴۳)كه له زوجينو څخه يوكتابى بل مجوسى يابت پرست وونوبچى كتابي كيږي ځكه په دي كې دماشوم لپاره يوقسم شفقت دى ولى كتابى په احكاموكې مسلمان ته قريب دى ځكه له كتابى سره نكاح جائزه ده اودكتابى ذبيحه جائزه ده حال داچې دمجوسى اوبت پرست دااحكام نشته.

دكافر دنكاح بيان

(۱۴۴)وإذا تَزَوَّجَ الكافِرُ بِغَيْرِ شُهُوْدٍ(۱۴۵)أو في عِدَّةِ كافرٍ وذالِكَ في دِيْنِهِمْ جائزٌ ثُمَّ أَسْلَمَا أُقِرَّا عَلَيْه

ترجمه :كه كافربغيردگواهانونكاح وكړه يابنځه دكوم كافرپه عدت كې وه اوحال داچې دادول نكاح ددوئ په دين كې جائزه هم ده بيادواړه زوجين مسلمان شول نودواړه پرهغه نكاح برقرارساتل كيږي.

تشريح :(۱۴۴)كه كوم كافرله كافرې ښځې سره بغيردگواهانونكاح وكړه (۱۴۵)يابنځه دكوم كافرپه عدت كې وه چې دهغه په نكاح كې وه حال داچې دادول نكاح ددوئ په دين كې جائزه هم ده بيازوجين دواړه مسلمان شول نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددواړه به پرهغه نكاح برقرارساتل كيږي ځكه دنكاح په وخت دحق شرع لپاره حرمت ثابتول ممكن نه دى ځكه كفارپه فروعومخاطب نه دي اونه دحق دوزج لپاره حرمت ثابتيږي ځكه زوج ددي اعتقادنه لري.

(۱۴۶)وَإِذَا تَزَوَّجَ الْمَجُوْسِيُّ أُمَّه أو ابْنَتَه ثُمَّ أَسْلَمَا فُرِّقَ بَيْنَهُمَا

ترجمه :كه مجوسى (آتش پرست) له خپلې موريالورسره نكاح وكړه بيادوئ دواړه مسلمان شول نوددواړوترمنځ تفريق بايدوكړاى شي.

تشریح :(۱۴۶)که مجوسی (آتش پرست) له خپلې موریالوریاله محارمه ابدیه ؤښځه له چاسره نکاح وکړه بیادواړه یایو مسلمان شو، یایې په حالت دکفرکې کوم مسلمان حاکم ته مرافعه وکړه نوددواړوترمنځ دي تفریق راوستل شي ځکه ښځه دمحرمیت په وجه محل دنکاح نه ده اوکوم حکم چې محل طرف ته راجع وي په هغه کې ابتداء اوبقاء برابردي.

دښځوترمنځ دنوبت بیان

(۱۴۷)وإذا كانَ لِرَجُلٍ امْرَأتانِ حُرّتانِ فَعَلَيهِ أنْ يَعدِلَ بَيْنَهُمَا فِي القَسْمِ بِكْرَيْنِ كانَتا أوْ أحَدُهُمَا بِكْرًا وَالأُخْرى ثَيِّبًا (۱۴۸)وإنْ كانَتْ إحداهُمَا حُرّةً وَالأُخرى أمَةً فَلِلْحُرّةِ الثُّلُثانِ ولِلأمَةِ الثُّلُثُ

ترجمه :که دکوم سړي دوې حرې ښځې وي نوپرده دهغوئ ترمنځ په نوبت کې برابري کول ضروري ده که دواړې باکرې وي یایوه باکره بله ثیبه وي اوکه یوه حره اوبله منځه وه نوحرې لره دوه ثلث اومنځې ته یوثلث کیږي.

تشریح :(۱۴۷)که دیوسړي دوې یادیرې حرې ښځې وي نوپرخاونددوئ ترمنځ په شپه تیرولو، ملبوساتو، مأکولاتوکې برابري کول لازم دی که دواړې باکرې وي یادواړې ثیبې وي یایوه باکره اوبله ثیبه وي لقوله ﷺ :مَن كانَت له امرأتانِ ومالَ الِى احدهمافى القسم جَاءَ يَومَ القِيامَةِ وشقه مَائِلٌ . (یعنې که دچادوې بیبیانې وي اودی په نوبت کې له هغوښځه یوې ته مائل وي نودقیامت په ورځ به په داسي حال کې راشي چې یوطرف به یې مائل وي).

په دغه حدیث شریف کې دبرابري نه کونکولپاره وعیدبیان شوی دی ،لهذابرابري لازمي ده.

قسم،دقاف په زبرسره شرعًادوزج دخپلومنکوحاتوترمنځ په مأکولاتومشروباتو،ملبوساتواوشپه تیرولوکې برابري کولوته وایې.

(۱۴۸)که دچاپه نکاح کې یوه حره ښځه وي اویوه منځه وي نوآزادې لره دوه ثلثه کیږي اومنځې لره یوثلث کیږي ځکه پردي باندي اثرواردشوی دی ،عن عبادة بن عبد الله الاسدی ﷺ قالَ اِذَانكحَت الحُرَّة على الامَةِ فَلهذِه الثلثان وَلهذِه الثلث (یعنې چې منځه یې په نکاح وي بیاحره په نکاح کړي نوحرې لره دوه ثلثه اومنځې ته یوثلث دی.

(۱۴۹)وَلا حَقَّ لَهُنَّ فِي القَسْمِ فِي حَالَةِ السَّفَرِ ويُسافِرُ الزَّوْجُ بِمَنْ شاءَ مِنْهُنَّ (۱۵۰)وَالأوْلَى أنْ يُقرِعَ بَيْنَهُنَّ فَيُسافِرُ بِمَنْ خَرَجَتْ قُرْعَتُهَا (۱۵۱)وإذا رَضِيَتْ إحدَى الزَّوجاتِ بِتَركِ قِسْمِهَا لِصَاحِبَتِهَا جازَ (۱۵۲)وَلَهَا أنْ تَرْجِعَ فِي ذَالِكَ

ترجمه: او په سفر کې هغوئ ته دنوبت په باره کې هيڅ حق نشته خاوند چې کومه يوه په سفربيايې بيولای يې شي مگربهتردادی چې ددوئ ترمنځ قرعه اندازي وکړي دچاچې نوم راوخوت په هغی دي سفروکړي اوکه له زوجاتوڅخه يوه خپل نوبت ملگرې ته په وړپريښودلوراضي شي نوداجائزدی بيادې لره اختيارشته چې بيرته رجوع وکړي.

تشريح: (۱۴۹)که دچاديرې ښځې وي نوپه حالت دسفرکې دوئ لره دنوبت حق نشته خاوندچې کومه يوه په سفرورسره بوځي سفرورسره بيايې بيولای يې شي ځکه دخاوندخودااختيارشته چې له دوئ څخه يوه په سفرورسره بوځي نودااختياريې هم شته چې له هغونه يوه دسفرلپاره خوښه کړي.

(۱۵۰)مگربهتردادی چې دهغوئ دزړونوخوشحاله کولولپاره ددوئ ترمنځ قرعه اندازي وکړي که دهرې يوې نوم وخوت هغه به ورسره بوځي اوداموده پرهغی نه حسابيږي.

(۱۵۱)که له منکوحاتوڅخه يوه دخپل نوبت ملگرې ته په وړپريښودلوراضي شي نوداجائزدی ځکه دادهغی حق دی هغه يې دساقطولوحق لري.

(۱۵۲)بياهغه دااختيارهم لري چې خپل نوبت ته رجوع وکړي ځکه هغی داسي حق ساقط کړی دی چې تراوسه واجب شوی نه وونوددې په ساقطيدوسره نه ساقطيږي.

كِتَابُ الرّضَاع

داکتاب درضاع داحکاموپه بيان کې دی

رضاع ،دراء په زبراوزيردواړوسره مستعمل دی،په لغت کې تی رودلوته وايې اوشرعًادښځې له تيانوڅخه په مخصوص وخت کې دشيدورودلوته وايې.

دکتاب الرضاع له ماقبل سره مناسبت دادی چې له نکاح څخه مقصودتوالداوتناسل دی اودولدلپاره رضاع ضروري ده ځکه يې له نکاح وروسته درضاعت ذکرمناسب وباله.

(۱)وَقَلِيلُ الرِّضَاعِ وَكَثِيرُهُ إِذَاحَصَلَ فِي مُدَّةِ الرِّضَاعِ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ

ترجمه: دشيدورودل قليل اوکثيرمقدارچې کله په موده درضاع کې حاصل شي نوله هغه سره تحريم متعلق کيږي.

تشريح :(۱)درضاعت کم اوزيات په حکم کې برابردی په دې شرط چې په موده درضاعت کې حاصل شي نوله هغه سره تحريم متعلق کيږي لقوله تعالى :(وَأُمَهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ الخ) يعنې حرامې کړی شوي دي پرتاسې ستاسې هغه ميندې چاچې تاسې ته تی درکړی دی .
وِلقوله ﷺ :يُحَرَّمُ مِنَ الرِّضَاعِ مَايُحَرَّمُ مِنَ النَّسَبِ (يعنې حراميږي له رضاعت څخه هغه چې حراميږي له نسب څخه) .
په مذکوره نصوصوکې درضاعت دکم اوزيات هيڅ فرق نه دی بيان شوی لهذاپه قليل اوکثيردواړوسره تحريم ثابتيږي .

(۲)وَمُدَّةُ الرِّضَاعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا وَعِنْدَهُمَا سَنَتَانِ (۳)وَإِذَامَضَتْ مُدَّةُ الرِّضَاعِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِالرِّضَاعِ التَّحْرِيمُ

ترجمه :اوموده درضاعت دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددېرش مياشتې دي اودصاحبينورحمهماالله په نزددوه کاله دي چې کله موده درضاعت تيره شي نوبيا له رضاعت سره تحريم نه متعلق کيږي.
تشريح :(۲)درضاعت موده دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددېرش مياشتې دي،دصاحبينورحمهماالله په نزددوه کاله دي،دصاحبينورحمهماالله دليل دالله تعالى ارشاددی(وَحَمْلُه وَفِصَالُه ثَلَاثُونَ شَهْرًا) يعنې دماشوم حمل اوفصال دېرش مياشتې دي) نوالله تعالى دحمل اوتی رودلو موده دېرش مياشتې بيان کړې ده اوادنى موده دحمل شپږمياشتې دي لهذاموده دتی ورکولودوه کاله پاتی شو .
دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل همدا آيات شريف دی داستدلال وجه داده چې الله تعالى دوه شيان بيان کړي دي (حمل اوفصال) ددې دواړولپاره يې يوه موده بيان کړې ده نوداموده دهريوه لپاره پوره پوره کيږي نه داچې پرهغوتقسيميږي ددې مثال داسې دی لکه ديوچاچې پرزيداوبکرقرض دی،قرض غوښتونکي دوئ دواړوته وويل چې ماتاسی ته يوکال مهلت درکړی دی نودايوکال مهلت له دواړوڅخه هريوه لره پوره کيږي نه داچې تقسيميږي شپږشپږمياشتې موده شمارله کيږي،البته دحمل دمودې دکموالی دليل موجوددی اودفصال دکموالي هيڅ دليل نشته لهذاهغه پرخپل ظاهردی (دصاحبينورحمهماالله قول راجح دی) .
(۳)درضاعت دمودې (على اختلاف القولين) له تيريدووروسته که ماشوم ته تی ورکړي نوله دې سره تحريم نه متعلق کيږي يعنې حرمت رضاعت نه ثابتيږي لقوله ﷺ :لارِضَاعَ بَعْدَالفِصَالِ ،له تی پريکولووروسته رضاعت نشته .

د رضاعت د احکامو بیان

(۴) ويحرم من الرّضاع مايحرم من النّسب (۵) الّا امّ اخته من الرّضاع فانّه يجوز ان يتزوّجها ولا يجوز ان يتزوّج امّ اخته من النّسب (۶) واخت ابنه من الرّضاع يجوز ان يتزوّجها ولا يجوز ان يتزوّج اخت ابنه من النّسب

ترجمه: له رضاعت نه هغه رشتې حراميږي کومې چې له نسب څخه حراميږي مګر نه د رضاعي خور مور چې د هلک نکاح ورسره روا ده او د خپلې نسبي خور له مور سره نکاح کول ناجائزه ده او پر ته د خپل رضاعي زوی له خور چې له هغې سره نکاح روا ده او د خپلې نسبي زوی له خور سره نکاح نه ده روا.

تشريح: (۴) امام قدوری رحمه الله يوه ضابطه بيان کړي ده چې کومې ښځې د نسب په وجه حرامې دي هغه ټولې ښځې د رضاعت په وجه هم حراميږي لقوله ﷺ: يُحَرَّمُ مِنَ الرّضَاعِ مَا يُحَرَّمُ مِنَ النّسبِ (يعني حراميږي له رضاعت څخه هغه چې حراميږي د نسب څخه). مګر له دې ضابطې څخه يې لاندينی دوه صورتونه مستثنی کړي دي.

(۵) د رضاعي خور له نسبي مور سره نکاح جائزه ده د دې صورت دادی چې زيد او ساجده د يوې پردۍ ښځې تی وروده مګر زيد د ساجدې د نسبي مورتی نه دی رودلی نو زيد ته د هغه د رضاعي خور ساجدې له نسبي مور سره نکاح جائزه ده مګر د نسبي خور له مور سره نکاح جائزه نه ده ځکه د نسبي خور مور يا د ده هم مور کيږي که دوئ دواړه حقيقي ورور او خوروي يا د ده د پلار موطوءه کيږي که د دواړو پلار يو او ميندې يې جلاوي له دغو دواړو (مور او د پلار له موطوءه) سره نکاح جائزه نه ده.

(۶) د استثناء دوهم صورت دادی چې د رضاعي زوی له نسبي خور سره نکاح جائزه ده مثلاً زيد د بکر د ښځې تی وروده نو د زيد له نسبي خور سره د بکر نکاح جائزه ده مګر د نسبي زوی له خور سره نکاح جائزه نه ده ځکه د نسبي زوی خور که د ده له نطفې څخه وي نو خو د ده لور کيږي او که د ده له نطفې څخه نه وي او د ده د زوی صرف په مور شريکه خوروي نو دا ربيبه کيږي او له دې دواړو (د لور او ربيبه که يې د هغې په مور دخول کړی وو) سره نکاح جائزه نه ده.

(۷) ولا يجوز ان يتزوّج امرأة ابنه من الرّضاع كما لا يجوز ان يتزوّج امرأة ابنه من النّسب

ترجمه: او د رضاعي زوی له ښځې سره نکاح جائزه نه ده لکه د نسبي زوی له ښځې سره چې نکاح نه ده جائزه.

تشريح: (۷) د رضاعي زوی له ښځې سره نکاح کول جائزه نه ده لکه د نسبي زوی له ښځې سره چې نکاح جائزه نه ده لقوله ﷺ: يُحرم مِن الرّضاع ما يُحرم مِنَ النّسب (يعني حراميږي له رضاع نه هغه چې حراميږي له نسب نه).

سوال :له آیت مبارکه (وَحلائِلُ اَبنائِکُمُ الّذِینَ مِن اَصلابِکُم) یعنې پرتاسی حرامی شوې دي ستاسی دزامنو ښځې هغه چې ستاسی له ملاڅخه وي) څخه معلومیږي چې خالص دصلبی زوی ښځه حرامه ده درضاعی زوی ښځه نه ده حرمه حال داچې تاسی هغه حرامه بولئ؟

جواب :په آیت کریمه کې داصلاب قید دمتبنی دښځې دخارجولولپاره دی نه درضاعی زوی دښځې لپاره لهذادصلبی زوی په شان درضاعی زوی ښځه هم حرامه ده .

(۸)وَلَبَنُ الفَحلِ یَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحرِیمُ(۹)وهوأَن تُرضِعَ المَرأةُ صَبِیَّةً فَتَحرِمُ هٰذِهِ الصَّبِیَّةُ عَلیٰ زَوجِهَا وَعلی آبَاءِهِ وأبنَاءِهِ (۱۰)وَیَصِیرُ الزَّوجُ الّذِی نَزَلَ لَهَا مِنهُ اللَّبَنُ اَبًا لِلمُرضَعَةِ

ترجمه :اودسړي له شیدوسره تحریم متعلق کیږي هغه داچې ښځه کومې ماشومې ته تی ورکړي نو داماشومه ددي ښځې پرخاوندا اودهغه پرابااو اودهغه پرزامنوحرامیږي اودازوج دچاپه وجه چې دمرضِعه شیدې رانازلې شوې دي ددي ماشومې پلار کیږي .

تشریح :(۸)دسړي له شیدوسره تحریم متعلق کیږي .

(۹)مکرله دي څخه مراددنارینه له تي څخه راوتونکې شیدې نه دي بلکې له دي څخه مراددادي چې دنرپه وجه چې دده دښځې شیدې راځي که داشیدې دغه ښځه یوې ماشومې ته ورکړي نوداتی خوړونکې ماشومه (دتی ورکونکې ښځې)پرزوج حرامیږي اودهغه پرپلرونو اودهغه پرزامنوحرامیږي .

(۱۰)اوزوج دچاپه وجه دمرضِعه (تی ورکونکې) شیدې راغلې دي دمرضَعه (چاته چې تی ورکړای شوی دی)پلار کیږي .

(۱۱)ویَجُوزُ أَن یَتَزَوَّجَ الرَّجُلُ بِأُختِ أَخِیهِ مِنَ الرَّضَاعِ کَمَا یَجُوزُ أَن یَتَزَوَّجَ بِأُختِ أَخِیهِ مِنَ النَّسَبِ وذالِکَ مِثلُ الأَخِ مِنَ الأَبِ إذَا کَانَ لَهُ أُختٌ مِن أُمِّهِ جَازَ لِأَخِیهِ مِن أَبِیهِ أَن یَتَزَوَّجَهَا

ترجمه :اودخپل رضاعی ورورله خورسره نکاح کول جائزه ده لکه دخپل نسبی ورورله خورسره چې نکاح جائزه ده هغه په دي ډول چې یوپه پلارشریک ورورااودهغه یوه په مورشریکه خورده نوپه پلارشریک ورورله جائزه ده چې له هغی خورسره نکاح وکړي .

تشریح :(۱۱)دخپل رضاعی ورورله نسبی خورسره نکاح کول جائزه ده (مثلاخالددماجددمورتی وروده نوخالددماجدله نسبی خورسره نکاح کولای شی حال داچې داانجلۍ دماجددرضاعی ورورخالدنسبي خورده) وجه یې داده چې دخپل نسبی ورورله خورسره نکاح جائزه ده مثلادشاهددوه زامن دي اومیندې ددواړوجلاجلادي شاهدله دي دوښځوڅخه یوې ته طلاق ورکړهغی مطلقی له عدت تیرولووروسته له کوم

بل چاسره نكاح وكړه له هغه ځخه يې يوه لورپيداشوه نوداانجلۍ دشاهددداړوزامنوځخه ديوه په مورشريكه خورده اودهغه بل په حق كې اجنبيه ده نودادوهم هلك له دغې انجلۍ سره نكاح كولاى شي حال داچې داانجلۍ دهغه دنسبي وروږخورده .

(۱۲)وَكُلُّ صَبِيَّيْنِ اجْتَمَعَا عَلَى ثَدْيٍ وَاحِدٍ لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَزَوَّجَ الْآخَرَ (۱۳) وَلَا يَجُوزُ أَنْ تَتَزَوَّجَ الْمُرْضَعَةُ أَحَدًا مِنْ وُلْدِ الَّتِي أَرْضَعَتْ (۱۴) وَلَا يَتَزَوَّجُ الصَّبِيُّ الْمُرْضَعُ أُخْتَ زَوْجِ الْمُرْضِعَةِ لِأَنَّهَا عَمَّتُهُ مِنَ الرَّضَاعِ

ترجمه: هرهغه دوه ماشومان چې ديوې ښځې پرتي سره جمع شي نودد وئ يوله بل سره نكاح كول ناجائزه ده اومرضَعه (چاته چې تى وركول شوى دى) دمرضِعه (تى وركونكې) له زامنوسره له يوه سره نكاح نه شي كولاى اومرضَعه (هغه هلک چې تى وركول شوى دى) دمرضِعه دخاوندله خورسره نكاح نه شي كولاى ځكه دادهغه رضاعي عمه ده .

تشريح: (۱۲)هرهغه دوه ماشومان چې ديوې ښځې پرتي سره جمع شي ديوه له بل سره نكاح كول جائزه نه ده ځكه داپخپلو كې وروراوخوردي .

(۱۳)اومرضَعه (چاته چې تى وركول شوى دى) دمرضِعه (تى وركونكې) له زامنوسره نكاح نه شي كولاى ځكه دمرضِعه زامن دهغې رضاعى وروڼه دي،اودمرضِعه له لمسي سره هم نكاح نه شي كولاى ځكه دادهغې وراره دى .

(۱۴)مرضَع (هغه هلک چې تى وركول شويدى) دمرضِعه دخاوندله خورسره نكاح نه شي كولاى ځكه دادهغې رضاعى عمه ده ځكه دمرضِعه خاونددهغه رضاعى پلاردى .

(۱۵)وَإِذَا اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِالْمَاءِ وَاللَّبَنُ هُوَ الْغَالِبُ يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ (۱۶) فَإِنْ غَلَبَ الْمَاءُ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ (۱۷) وَإِذَا اخْتَلَطَ بِالطَّعَامِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ وَإِنْ كَانَ اللَّبَنُ غَالِبًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ (۱۸) وَإِذَا اخْتَلَطَ بِالدَّوَاءِ وَاللَّبَنُ غَالِبٌ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ

ترجمه: كه شيدې په اوبو كډې شوې اوشيدې غالبې وي نوله هغوسره تحريم متعلق كيږي اوكه اوبه غالب وي نوله هغوسره تحريم نه متعلق كيږي اوكه شيدې له دوډۍ سره ګډې شي نودامام صاحب رحمه الله په نزدله دي سره تحريم نه متعلق كيږي كه څه هم شيدې غالب وي اوصاحبينو رحمهما الله فرمايلي دي چې له دي سره تحريم متعلق كيږي اوكه شيدې له دواسره ګډې شى اوشيدې غالب وي نوله دي سره تحريم متعلق كيږي .

تشريح: (۱۵)كه شيدې په اوبو ګډې شي اوشيدې غالب اوبه مغلوبې وي بيايې يوماشوم وخوري نوپه دي سره حرمت رضاعت ثابتيږي .

(۱۶)که اوبه غالب وي اوشيدې مغلوبې وي نوپه دي سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي ځکه مغلوب حکماغيرموجودشمارل کيږي .

(۱۷)که شيدې له دوده سره ګډي شي اودامخلوطې شيدې پراورېخي نه شي نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپه دي سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي که څه هم شيدې غالب وي،دصاحبينورحمهما الله په نزدکه شيدې غالب وي نوله دي سره تحريم متعلق کيږي ځکه اعتبارغالب لره دی .

دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې په مقصوديعنې غذاحاصلولوکې دوده اصل دہ اوشيدې يې تابع دي لهذاپه حصول مقصوديعنې غذاحاصلولوکې شيدې مغلوبې شوې که څه هم په حقيقت کې غالبې وې ځکه نوتحريم نه ورسره متعلق کيږي (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۱۸)که شيدې له دواسره ګډي شي اوشيدې غالب وي نوپه دي سره حرمت رضاعت ثابتيږي ځکه په غذاحاصلولوکې شيدې مقصوددی ځکه چې دشيدې غالب کيدل ددي دليل دی چې دواء خالص دتقويت لپاره ورسره ګډه شوې ده .

(۱۹)وَإِذَا حُلِبَ اللَّبَنُ مِنَ الْمَرْأَةِ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَوْجَرَ بِهِ الصَّبِيُّ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ

ترجمه :که دښځې ترمړکيدووروسته دهغی شيدې راوايستلې شوې بيياداشيدې ديوماشوم په خوله کېورواچولې شي نوله دي سره تحريم متعلق کيږي .

تشريح :(۱۹)که ښځه مړه شوه وروسته ترمرګ شيدې ورڅخه ولوشلې شي بيياداشيدې ديوه ماشوم په خوله کې ورواچولې شي نوپه دي سره حرمت رضاعت راځي ځکه شيدې له مرګ وروسته داسي دي لکه ترمرګ مخکې ،لهذادرضاعت معنی پکې راځي په دي وجه حرمت رضاعت ثابتيږي .

(۲۰)وَإِذَا اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِلَبَنِ الشَّاةِ وَهُوَ الْغَالِبُ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ (۲۱)فَإِنْ غَلَبَ لَبَنُ الشَّاةِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ (۲۲)وَإِذَا اخْتَلَطَ لَبَنُ امْرَأَتَيْنِ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ بِأَكْثَرِهِمَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَلَّقَ بِهِمَا التَّحْرِيمُ

ترجمه :که دښځې شيدې دپسه له شيدوسره ګډي شي اودښځې شيدې غالب وي نوله هغوسره تحريم متعلق کيږي اوکه دپسه شيدې غالب وي نوله هغوسره تحريم نه متعلق کيږي که ددوښځوشيدې سره ګډي شوې نوله اکثره سره تحريم متعلق کيږي دامام ابويوسف رحمه الله په نزداوامام محمد رحمه الله فرمايلي دي چې له دواړوسره تحريم متعلق کيږي .

تشريح :(۲۰)که دښځې شيدې دپسه له شيدوسره ګډي شي اودښځې شيدې غالب وي نوله هغوسره تحريم متعلق کيږي .

(۲۱)او که دپسه شيدې غالب وي نوله هغوسره تحريم نه متعلق کيږي غالب ته په اعتبارور کولوسره کمافي الماء.

(۲۲)که ددوښځوشيدې سره ګډې شي بيايې يو ماشوته ورکړي نوامام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې دکومې ښځې شيدې غالب وي له هغې سره تحريم متعلق کيږي ځکه ددواړوښځوشيدې سره ګډې شوې يوشی وګرځيدې نوپردې درضاعت دحکم په مبنی کولو کې اقل داکثرتابع ګرځيدلی دي.

امام محمد رحمه الله اوامام زفر رحمه الله فرمايلي دي چې له دواړوسره تحريم متعلق کيږي ځکه شی پرخپل جنس نه غالب کيږي ولی شی پخپل جنس کې داتحادمقصودپه وجه مستهلکيږي نه نوشی پخپل جنس کې چې ګډشي معدوم کيږي نه نويودبل تابع نه دي ،له امام ابو حنيفة رحمه الله څخه په دې باره کې دوه روايات منقول دي په يوه روايت کې له امام ابويوسف رحمه الله سره دی اوپه بل روايت کې له امام محمد رحمه الله اوامام زفر رحمه الله سره دی. (دامام محمد رحمه الله قول راجح دی).

(۲۳)وَإِذَا نَزَلَ لِلْبِكْرِ لَبَنٌ فَأَرْضَعَتْ صَبِيًّا يَتَعَلَّقُ بِهِ التَّحْرِيمُ (۲۴)وَإِذَا نَزَلَ لِلرَّجُلِ لَبَنٌ فَأَرْضَعَ بِهِ صَبِيًّا لَمْ يَتَعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ

ترجمه:که دباکره ښځې شيدې راغلې بیاهغې یو ماشوم ته تی ورکړنوله دغوشيدوسره تحريم متعلق کيږي اوکه دنارينه په تيانو کې شيدې راغلې بیاهغه یو ماشوم ته ورکړې نوله دې سره تحريم نه متعلق کيږي.

تشريح:(۲۳)که دباکره ښځې په تيانو کې شيدې راغلې بيايې داشيدې يوماشوم ته ورکړې نوپه دې شيدوسره حرمت رضاعت ثابتيږي ځکه دحرمت رضاعت په باره کې نص (وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاتِي أَرْضَعْنَكُمْ) حرامې کړای شوې دي پرتاسوستاسو هغه ميندې چې تاسی ته يې تی درکړی دی) مطلق دی چې دباکره اوثيبه ترمنځ کوم فرق نشته پکې.

(۲۴)که دنارينه په تيانو کې شيدې راغلې دغه شيدې بيايوماشوم ته ورکړای شوې نوپه دې سره حرمت رضاعت نه ثابتيږي ځکه دنارينه شيدې په حقيقت کې شيدې نه دي ځکه شيدې دهغه چامتصوری کيږي دچاڅخه چې ولادت متصورکيږي څرنګه چې له نارينه څخه ولادت نه متصورکيږي ځکه نوشيدې هم نه متصوريږي.

(۲۵)وَإِذَا شَرِبَ صَبِيَّانِ مِنْ لَبَنِ شَاةٍ فَلَا رِضَاعَ بَيْنَهُمَا

ترجمه:که دوماشومانوديوه پسه شيدې ورودې نوددوئ ترمنځ حرمت رضاعت نه ثابتيږي.

تشريح:(۲۵)که دوماشومانوديوه پسه شيدې ورودې نوددوئ ترمنځ حرمت رضاعت نه راځي ځکه دحيوانانوشيدې ددوی حکم لري اودپسه شيدې هيڅ حرمت نه لري همداوجه ده چې دپسه په شيدوخوړلو سره دپسه لپاره موروالی نه ثابتيږي اودپسه دبچي اوماشوم ترمنځ اخوة نه ثابتيږي.

(٢٦)وَإِذَاتَزَوَّجَ الرَّجُلُ صَغِيْرَةً وَكَبِيْرَةً فَأَرْضَعَتِ الْكَبِيْرَةُ الصَّغِيْرَةَ حَرُمَتَا عَلَى الزَّوْجِ (٢٧)فَإِنْ كَانَ لَمْ يَدْخُلْ بِالْكَبِيْرَةِ فَلَا مَهْرَ لَهَا وَلِلصَّغِيْرَةِ نِصْفُ الْمَهْرِ (٢٨)وَيَرْجِعُ بِهِ الزَّوْجُ عَلَى الْكَبِيْرَةِ فَإِنْ كَانَتْ تَعَمَّدَتْ بِهِ الْفَسَادَ وَإِنْ لَمْ تَتَعَمَّدْ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهَا

ترجمه :كه چاله يوې لويه اويوې كوچنۍ ښځې سره نكاح وكړه بيادالووكوچنۍ ته تى وركړنوپرخاوند دواړې حرامېږي اوكه خاوندپه لويه سره دخول نه ووكړى نوپرخاونددلويه مهرنه واجبېږي اوكوچنۍ ته نصف مهرواجبېږي اوخاوندبه دانصف مهرله لويه ښځې څخه واپس اخلي كه لويه ښځې په تى وركولوسره دنكاح دفساداراده كړې وه اوكه لويه ښځې دفساداراده نه وه كړې نوبياپرلويه ښځه هيڅ نشته .

تشريح :(٢٦)كه چايولويه ښځه اويوه دتي انجلۍ په نكاح كړې بيادالوښځې هغى دتي انجلۍ ته تى وركړنودادواړې پرخاوندباندي حرامېږي ځكه تى وركونكې دتى رودونكې مورشوه نوخاوندموراولورپه نكاح كې سره جمع كړي دي اوموراولورپه نكاح كې سره جمع كول حرام دى .

(٢٧)كه خاوندپه كبيره دخول نه ووكړى نوپرخاونددلويه لپاره مهرنه واجبېږي ځكه دكبيرې وكوچنۍ ته په تى وركولوسره فرقت قبل الدخول ددي له خواراغلى دى اوقبل الدخول دښځې له خوافرقت نصف مهرساقطوي،اوكوچنۍ لره نصف مهركيږي ځكه فرقت دصغيرې له خوانه دى و... شوى .

(٢٨)خاوندته اختيارشته چې كوچنۍ ته وركړى نصف مهرله كبيرې څخه واپس واخلي كه هغى په تى وركولوسره دفسادنكاح اراده كړې وه اوكه هغى دفسادنكاح اراده نه وه كړې بلكې دلوږې اوهلاكت دليري كولواراده يې وه نوپه دې صورت كې خاونددنصف مهرلپاره كبيرې ته رجوع نه شي كولاى،دامام محمد رحمه الله په نزدكه كبيرې دفسادنكاح قصدكړى وي اوكه يې نه وي كړى په دواړوصورتوكې خاونددنصف مهرلپاره كبيرې ته رجوع كولاى شي .

(٢٩)وَلَا تُقْبَلُ فِي الرَّضَاعِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مُنْفَرِدَاتٍ (٣٠)وَإِنَّمَا يَثْبُتُ بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْرَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ

ترجمه :اودرضاعت دثابتولولپاره تنهادښځوگواهي نه قبليږي بلكې رضاعت ددونارينه ؤيايونردوښځوپه گواهي سره ثابتيږي .

تشريح :(٢٩)يعني درضاعت دثابتولولپاره تنهادښځوگواهي نه قبليږي ځكه رضاعت داسي شى دى چې په هغه نارينه هم خبريږي اوخالص دښځوگواهي په هغوشيانوكې معتبره ده چې په هغونارينه نه شى خبريداى .

(۳۰)اوپه اثبات درضاعت سره څرنگه چې نکاح باطليږي چې ابطال دمِلک دی اوابطال دمِلک ددوعادلو يامستورونارينه وُپه گواهي سره يادېوه نردوښځوپه گواهي سره کيږي خالص دښځوپه گواهي سره نه کيږي .

كِتَابُ الطلاق

داکتاب دطلاق په بيان کې دی

طلاق په لغت کې رفع دقيدته وايي،په شريعت کې قيدنکاح فی الحال يافی المآل دالفاظو مخصوصه وُپه ذريعه رفع کولوته وايي .

دطلاق له رضاعت سره مناسبت دادی چې طلاق اورضاعت دواړه موجب دحرمت دي مگرپه رضاعت سره حرمت ابدي ثابتيږي اوپه طلاق سره غيرابدی نوداهتمام شان دحکم لپاره يې اشدمقدم کړاواخف يې مؤخرکړ.

دطلاق لپاره شرط دادی چې طلاق ورکونکی به عاقل بالغ وي اوښځه به دده په نکاح کې وي يابه په داسې عدت کې وي چې دهغی په وجه دادمحل طلاق کيدوصلاحيت لري اودطلاق حکم زوال مِلک عن المحل دی .

(۱)اَلطَّلَاقُ عَلٰى ثَلَاثَةِ اَوْجُهٍ اَحْسَنُ الطَّلَاقِ وَطَلَاقُ السُّنَّةِ وَطَلَاقُ الْبِدْعَةِ (۲)فَاَحْسَنُ الطَّلَاقِ اَنْ يُّطَلِّقَ الرَّجُلُ اِمْرَاَتَهٗ تَطْلِيْقَةً وَاحِدَةً فِيْ طُهْرٍ وَّاحِدٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيْهِ وَيَتْرُكَهَا حَتّٰى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا (۳)وَطَلَاقُ السُّنَّةِ اَنْ يُّطَلِّقَ الْمَدْخُوْلَ بِهَا ثَلَاثًا فِيْ ثَلَاثَةِ اَطْهَارٍ (۴)وَطَلَاقُ الْبِدْعَةِ اَنْ يُّطَلِّقَهَا ثَلَاثًا بِكَلِمَةٍ وَّاحِدَةٍ اَوْ ثَلَاثًا فِيْ طُهْرٍ وَّاحِدٍ (۵)فَاِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ وَقَعَ الطَّلَاقُ وَبَانَتْ اِمْرَاَتُهٗ مِنْهُ وَكَانَ عَاصِيًا

ترجمه :دطلاق درې قسمونه دي :احسن،سنت ،بدعت،احسن دادی چې سړی خپلې منکوحې ته يوطلاق په داسې طهرکې ورکړي چې په هغه کې يې جماع نه وي ورسره کړي اوداپرېږدي ترهغه چې عدت يې تيره شي اوطلاق سنت دادی چې خاوندخپلې مدخول بهامنکوحې ته په دريوطهرونوکې درې طلاقونه ورکړي طلاق بدعت دادی چې خاوندخپلې منکوحه ته په يوه خبره سره دوه يادرې طلاقونه ورکړي ياپه يوه طهرکې درې طلاقه واقع کړي که چاخپلې ښځې ته طلاق بدعت ورکړنوطلاق واقع کيږي اودده ښځه بائنه گرځي اوداسړی گناهکاريږي .

تشريح :(۱)دطلاق درې قسمونه دي :احسن ،سنت ،بدعت .

(۲)طلاق احسن دادی چې سړی خپلې منکوحې یوطلاق په داسي طهرکې ورکړي چې په هغه کې یې جماع نه وي ورسره کړي اوبیایې پرېږدي ترهغه چې عدت یې تیره شی،وجه یې داده چې یوطلاق واقع کول له ندامت نه لیري دی ولی خاوندته دتدارک امکان شته چې دی په عدت کې رجوع کولای شي اوله عدت وروسته بغیرحلاله تجدیددنکاح کولای شي اوتریوه په زیاتوطلاقوکې ښځې لره دشدت وحشت ضرردی چې په یوه طلاق کې کم دی ،اودااطلاق په نسبت ونوروطلاقوته احسن دی نه فی نفسه .

(۳)طلاق سنت دادی چې خاوندخپلې منکوحې ته مدخول بهاته په دریوطهرونوکې درې طلاقونه ورکړي په هرطهرکې یوطلاق ورکړي (ځکه پیغمبر ﷺ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ته وفرمایل چې ای ابن عمره! په داسي کارکولوتاته الله تعالی حکم نه دی کړی تاسنت لره پرېښودل سنت دادی چې ته انتظاروکړې دطهربیاپه هرطهرکې طلاق ورکړې،اودطلاق دسنت کیدوڅخه مراددادی چې پردې عتاب نه راځي دامعنی یې نه ده چې پردې ثواب ورکول کیږي ځکه طلاق فی نفسه عبادت نه دی بس دلته له سنت څخه مرادمباح دی .

(۴)طلاق بدعت دادی چې خاوندخپلې منکوحې ته په یوه خبره سره دوه یادرې طلاقونه ورکړي یاپه یوه طهرکې دوه یادرې طلاقونه ورکړي اوداطلاق ځکه بدعت دی چې په طلاق کې اصل ممانعت دی ولی دطلاق په وجه هغه نکاح منقطع کیږي چې هغوپوری دینیه اودنیویه مصلحتونه معلق دي مګرله ښځې څخه دخلاصون دضرورت په وجه طلاق مباح ګرځیدلی دی اودامقصودپه یوه طلاق سره حاصلیږي لهذاپریوه ځای ددریوطلاقونوجمع کولویاپه یوه طهرکې ددریوطلاقونودواقع کولوضرورت نشته ځکه دې طلاق ته بدعت وایي .

(۵)لیکن که چاخپلې ښځې ته طلاق بدعت ورکړنوطلاق واقع کیږي اوښځه یې بائنه ګرځي ځکه ممانعت دمعنی فی غیره په وجه دی لهذاطلاق بدعت فی نفسه مشروع دی .

(۶)وَالسُّنَّةُ فِي الطَّلَاقِ مِنْ وَجْهَيْنِ سُنَّةٌ فِي الْوَقْتِ وَسُنَّةٌ فِي الْعَدَدِ (۸)فَالسُّنَّةُ فِي الْعَدَدِ يَسْتَوِي فِيهَا الْمَدْخُولُ بِهَا وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا (۷)وَالسُّنَّةُ فِي الْوَقْتِ تَثْبُتُ فِي حَقِّ الْمَدْخُولِ بِهَا خَاصَّةً وهو أَنْ يُطَلِّقَهَا وَاحِدَةً فِي طُهْرٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيه (۹)وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي حَالِ الطُّهْرِ وَالْحَيْضِ

ترجمه :سنت فی الطلاق دوه دوله دی یوسنت فی الوقت یوسنت فی العدد ،بیاپه سنت فی العددکې مدخول بهااوغیرمدخول بهادواړې برابرې دي اوسنت فی الوقت خاص په مدخول بهاکې ثابتیږي هغه داچې ښځې ته په داسی طهرکې طلاق ورکړي چې په هغه طهرکې یې ورسره جماع نه یې کړې اوغیرمدخول بهاته په طهراوحیض دواړوحالاتوکې طلاق ورکول سنت فی الوقت دی .

تشريح :(۶)سنت فی الطلاق دوه دوله دی **نمبر ۱**-سنت فی الوقت . **نمبر ۲**-سنت فی العدد.
سنت فی الوقت دادی چې سړی ښځې ته په داسی طهر کې طلاق ورکړي چې له جماع څخه خالي وي، اوسنت فی العدد دادی چې په حالت د طهر کې فقط یو طلاق ورکړای شي .
(۷)بیا په سنت په العدد کې مدخول بها او غیر مدخول بها دواړې برابرې دي ځکه په یوه کلمه د دریو طلاقو نوله واقع کولو څخه ځکه ممانعت شوی دی چې خاوند له ندامت څخه وساتل شي او دا خبره په غیر مدخول بها کې هم موجوده ده .
(۸)سنت فی الوقت خاص په مدخول بها کې ثابتیږي هغه دا چې ښځې ته په داسی طهر کې طلاق ورکړي چې په هغه طهر کې یې ورسره جماع نه یې کړې ځکه مشروعیت د طلاق د حاجت په وجه دی او ملحوظ دلیل د حاجت دی او دلیل د حاجت د تجدد رغبت په زمانه کې اقدام علی الطلاق دی او د تجدد رغبت زمانه هغه طهر دی چې خالي له جماع وي، د حیض زمانه خو د نفرت زمانه ده ،او په طهر کې په یوه ځل جماع سره رغبت کمیږي نو په حالت د حیض او طهر مع الجماع کې دلیل د حاجت نشته ځکه نو سنت فی الوقت خالص دادی چې په داسی طهر کې طلاق ورکړي چې له جماع څخه خالي وي .
(۹)پاتی شوه د غیر مدخول بها معامله هغې ته په طهر او حیض دواړو حالاتو کې طلاق ورکول سنت فی الوقت بلل کیږي ولی په غیر مدخول بها کې رغبت په هر حال کې ډیروي .

(۱۰)وَإِذَا كَانَتِ الْمَرْأَةُ لَاتَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ فَأَرَادَ أَنْ يُطَلِّقَهَا لِلسُّنَّةِ طَلَّقَهَا وَاحِدَةً فَإِذَا مَضَى شَهْرٌ أَطْلَقَهَا أُخْرَى وَإِذَا مَضَى شَهْرٌ أَطْلَقَهَا أُخْرَى(۱۱)وَيَجُوزُ أَنْ يُطَلِّقَهَا وَلَا يَفْصِلُ بَيْنَ وَطْيِهَا وَطَلَاقِهَا بِزَمَانٍ(۱۲)وَطَلَاقُ الْحَامِلِ يَجُوزُ عَقِيْبَ الْجِمَاعِ

ترجمه :که ښځې ته د کم عمرۍ په وجه یا د زیات عمر له کبله حیض نه راتی او سړي غوښتل چې دي ته په سنت طریقه درې طلاقه ورکړي نو بیا دي یو طلاق ورکړي بیا چې کله یوه میاشت تیره شی نو دوهم طلاق دي ورکړي بیا چې بله میاشت تیره شی نو دریم طلاق دي ورکړي او دا هم جائزدی چې په داسی حالت کې طلاق ورکړي چې د طلاق او وطی ترمنځ په زمانه سره فصل نه وي راغلی او حامله ښځې ته له جماع وروسته طلاق ورکول جائزدی .

تشريح :(۱۰)که ښځې ته د کم عمري په وجه یا د زیات عمر په وجه حیض نه راتلی او خاوندیې غوښتل چې دې ته په سنت طریقه طلاق ورکړي نو طریقه یې داده چې یو طلاق ورکړي او پریږي یې ږدي ترهغه چې یوه میاشت تیره شي بیا دې دوهم طلاق ورکړي بیا دې یوه میاشت پریږدي بیا دې دریم طلاق ورکړي نو درې طلاقه به په دریو میاشتو کې شي او دا ځکه چې میاشت د صغیرې او کبیرې په حق کې د حیض قائم مقام ده .

(۱۱)داهم جائزدی چې صغیره او کبیره ته په داسې حالت کې طلاق ورکړي چې دهغې دطلاق او وطی ترمنځ په زمانه سره فصل ونه کړي ځکه په ذوات الحیض کې طلاق له جماع وروسته دکراهیت اصل وجه احتمال دحمل دی ځکه دانه معلومیږي چې ښځه حامله ده په وضع دحمل به عدت تیروي او که غیرحامله ده عدت به په دریو حیضونو سره تیروي او په صغیره او کبیره څرنګه چې احتمال دحمل نشته ځکه ددوئ په حق کې طلاق وروسته ترجماع هم بلاکراهة مباح دی.

(۱۲)حاملې ښځې ته له جماع وروسته طلاق ورکول جائزدی ځکه له حاملې سره په وطی کولو عدت نه مشتبه کیږي ولی چې دحاملې دعدت طریقه وضع دحمل متعینه ده.

(۱۳)وَيُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ ثَلَاثًا يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ تَطْلِيقَتَيْنِ بِشَهْرٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَا يُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ إِلَّا وَاحِدَةً

ترجمه :اوحاملې ښځې ته به دسنت موافق درې طلاقونه ورکوي دهرودوطلاقوترمنځ به یوه میاشت فصل کوي دامام ابوحنیفة رحمه الله اوامام ابویوسف رحمه الله په نزدا اوامام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې هغې ته به طلاق نه ورکوي دسنت موافق مګریوطلاق.

تشریح :(۱۳)که سړی غواړي چې حامله ښځې ته درې طلاقه په مسنونه طریقه ورکړي نودشیخینو رحمهما الله په نزدبه دهرودوطلاقوترمنځ یوه میاشت فصل کوي ځکه اباحت دطلاق دحاجت په وجه دی اومیاشت دلیل دحاجت دی لکه دآئسه اوصغیره په حق کې،امام محمد رحمه الله اوامام زفر رحمه الله فرمایلي دي چې حاملې ښځې ته طلاق سنت خالص یوطلاق دی ځکه په طلاق کې اصل ممانعت دی اوشریعت پردي واردشوی دی چې طلاق دعدت پرفصولومتفرق کړای شي اوپه آئسه اوصغیره کې خومیاشت له فصول عدت څخه ده مګردحاملې په حق کې میاشت له فصول عدت څخه نه ده نوحامله دممتدة الطهرپه ډول ده.

(۱۴)وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالِ الْحَيْضِ وَقَعَ الطَّلَاقُ (۱۵)وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا فَإِذَا طَهُرَتْ وَحَاضَتْ وَطَهُرَتْ فَهُوَ مُخَيَّرٌ إِنْ شَاءَ طَلَّقَهَا وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا

ترجمه :که چاپه حالت دحیض کې خپلې منکوحې ته طلاق ورکړنوطلاق واقع کیږي اوده ته مستحبه ده چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي چې کله دابنځه له حیض څخه پاکه شي اوبیاحائضه شي بیاله هغه حیض څخه پاکه شي نوبیاخاوندته اختیاردی چې که طلاق ورکوي اوکه یې ښځه کوي.

تشریح :(۱۴)که چاپه حالت دحیض کې ښځې ته طلاق ورکړنو طلاق واقع کیږي ځکه په حالت دحیض کې طلاق منع لغیره دی هغه داچې عدت درازیږي (ځکه په کوم حیض کې چې طلاق ورکړي هغه په عدت کې نه شمارل کیږي همدارازترهغه وروسته طهرهم نه شمارل کیږي) اومنهی لغیره مشروع لذاته وي.

(۱۵)لیکن په حالت دحیض کې طلاق ورکونکې ته خپلې ښځې ته مراجعت کول مستحب دی دادبعضو مشائخو قول دی ، اصح دادی چې مراجعت واجب دی اووروسته ترمراجعت چې کله دابنځه له هغه حیض څخه پاکه شی په کوم کې طلاق ورکړی وواوبیاحائضه شی بیاچې له دوهم حیض څخه پاکه شي نوبیاخاوندلره اختیاردی چې دی په طهرثانی کې دي ته طلاق ورکوي یایې ښځه کوي،امام محمد رحمه الله په مبسوط کې همداصورت ذکرکړی دی.

امام طحاوی رحمه الله ذکرکړي دي چې په کوم حیض کې چې طلاق واقع شوی دی له هغه وروسته په اول طهرکې دطلاق واقع کولواختیارلري،امام ابوالحسن کرخی رحمه الله ددي دواړوروایاتوداسي تطبیق کړی دی چې دامام طحاوی رحمه الله ذکرشوی روایت دامام ابوحنیفة رحمه الله قول دی اودمبسوط ذکرکرده روایت دصاحبینو رحمهما الله قول دی.

(۱۶)وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ إِذَا كَانَ عَاقِلًا بَالِغًا(۱۷)وَلَا يَقَعُ طَلَاقُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ وَالنَّائِمِ(۱۸)وَإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ بِإِذْنِ مَوْلَاهُ وَطَلَّقَ وَقَعَ طَلَاقُهُ(۱۹)وَلَا يَقَعُ طَلَاقُ مَوْلَاهُ عَلَى امْرَأَتِهِ

ترجمه :واقع کیږي طلاق دهرخاوندچې عاقل بالغ وي اودماشوم،لیوني اوویده طلاق نه واقع کیږي اوکه مریی دخپل مولی په اجازه له یوې ښځې سره نکاح وکړه بیایې طلاق ورکړنودهغه طلاق واقع کیږي اودمولی طلاق دمریي پرښځه نه واقع کیږي.

تشریح :(۱۶)هرهغه خاوندچې عاقل،بالغ اوبیداروي اوخپلې منکوحې ته طلاق ورکړي نو طلاق یې واقع کیږي.

(۱۷)اوکه ماشوم یالیونی یاویده طلاق ورکړي نو طلاق نه واقع کیږي ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي :كل طلاقٍ جائزٌ الاطَلاق الصّبِيّ والمَجنُون (یعنې هرطلاق جائزدی پرته دماشوم اولیوني له طلاق نه) اوویده ځرنګه چې عدیم الاختیاردی حال داچې اختیارفی التکلم دتصرف شرط دی ځکه دویده طلاق نه واقع کیږي .

(۱۸)که مریي دخپل مولی په اجازه له یوې ښځې سره نکاح وکړه اوبیایې هغې ته طلاق ورکړنودهغه طلاق واقع کیږي.

(۱۹)که دهغه مولی دهغه ښځې ته طلاق ورکړنو دمولی طلاق دهغه پرښځه نه واقع کیږي ځکه مِلک نکاح دمرېي حق دی نو دهغه ساقطول هم دهغه حق کیږي نه دمولی .

دصريح طلاق بيان

(۲۰)وَالطَّلَاقُ عَلٰى ضَرْبَيْنِ صَرِيْحٍ وَكِنَايَةٍ (۲۱)فَالصَّرِيْحُ قَوْلُهُ اَنْتِ طَالِقٌ وَمُطَلَّقَةٌ وَطَلَّقْتُكِ (۲۲)فَهٰذَا يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ (۲۳)وَلَا يَقَعُ بِهِ اِلَّا وَاحِدَةٌ وَاِنْ نَوٰى اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ (۲۴)وَلَا يَفْتَقِرُ بِهٰذِهِ الْاَلْفَاظِ اِلٰى نِيَّةٍ

ترجمه :طلاق (مرادتطليق دی) دوه قسمه دی ،صريح ،کنايه،صريح دادی چې سړی خپلې ښځې ته ووايې انتِ طالق (ته طلاقه يې) انتِ مطلقه (تاته طلاق درکړای شوی دی) طلقتکِ (ماتاته طلاق درکړی دی) اوپه دي الفاظوسره رجعی طلاق واقع کیږي اوپه دي الفاظوسره خالص يو طلاق واقع کیږي که څه هم سړي تريوه دزيات نيت کړی وي اودا الفاظ نيت ته احتياج نه لري.

تشريح :(۲۰)طلاق(مرادتطليق يعنې طلاق ورکول دی) دوه قسمه دی :صريح،کنايه .

(۲۱)صريح دادی چې مراديې په واضح ډول ظاهروي مثلاسړی خپلې ښځې ته ووايې انتِ طالق (ته طلاقه يې) انت مُطلّقه (تاته طلاق درکړای شويدی) طلقتُکِ (ماتاته طلاق درکړی دی) .

(۲۲)په دغوالفاظوسره رجعی طلاق واقع کیږي ځکه دغه الفاظ دطلاق په معنی کې استعمالیږي په غيرطلاق کې نه استعماليږي لهذادا الفاظ دطلاق په معنی کې صريح دي اوله صريح طلاق وروسته په آيت مبارکه (وَبُعُولَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ) يعنې ددي ښځوخاوندان دبيرته رديدوحق لري) سره رجعت ثابت دی .

(۲۳)په مذکوره الفاظوسره خالص يو طلاق واقع کیږي که څه هم سړي تريوه دزياتونيت کړی وي ځکه لفظ دطالق صفت فرددی ولی چې داديوې ښځې صفت دی حتی ددولپاره طالقان اوددیرولپاره طوالق ويل کیږي اوهرهغه لفظ چې صفت فردوي هغه دعدداحتمال نه لري ځکه عدددفردضددی اوشی دخپل ضداحتمال نه لري لهذاپه انتِ طالقٌ سره ددويازياتو طلاقو نيت کول صحيح نه دی .

(۲۴)صريح طلاق نيت ته احتياج نه دی ځکه نيت دمبهم دمتعين کولو لپاره وي اودا الفاظ دغلبه استعمال په وجه دطلاق په معنی کې صريح دي په دي کې هيڅ ابهام نشته لهذادغه الفاظ پرخپله معنی په دلالت کولو کې نيت ته احتياج نه لري .

(۲۵)وَاَنْتِ الطَّلَاقُ وَاَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاقُ وَاَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا فَاِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ وَاِنْ نَوٰى اثْنَتَيْنِ لَا يَقَعُ اِلَّا وَاحِدَةٌ (۲۶)وَاِنْ نَوٰى بِهِ ثَلَاثًا كَانَ ثَلَاثًا

ترجمه: اوکه خاوندخپلې ښځې ته وویل انت الطلاق یاطالق الطلاق یاطالق طلاقا(یعنې ته طلاقه یې) نوکه یې یونیت نه وو کړی نویورجعي طلاق واقع کیږي اوکه یې ددونیت کړی وونوهم صرف یورجعی طلاق واقع کیږي اوکه یې ددروطلاقو نیت کړی وونودرې طلاقونه واقع کیږي.

تشریح: (۲۵) که خاوندخپلې ښځې ته وویل انت الطلاق یاطالق الطلاق یاطالق طلاقا(یعنې ته طلاقه یې) په دې دریوصورتونوکې که هغه نیت نه وو کړی یایې دیوه طلاق نیت کړی وویاددونویورجعی طلاق واقع کیږي ځکه دامذکور الفاظ دطلاق په معنی کې دغلبه استعمال په وجه صریح دي اوپه صریح سره رجعی طلاق واقع کیږي اونیت ته احتیاج نه دي اوځرنگه چې دامصادردي په مصادروکې دعدداحتمال نه وي ځکه ددوطلاقودنیت په وخت کې هم یورجعي طلاق واقع کیږي.

(۲۶)که په مذکوره الفاظوسره خاونددریوطلاقونونیت کړی وونودرې طلاقونه واقع کیږي ځکه دامصدراسم جنس دی اواسم جنس دوه فرده لري یوفردحقیقی بل فردحکمي،فردحقیقی یې یوطلاق دی اوفردحکمی کل مجموعه یعنې درې طلاقه دي،نوچې کله خاونددرې طلاقونونیت وکړي نودفردحکمي په وجه صحیح دی.

دکنائي طلاق بیان

(۲۷) وَالضَّرْبُ الثَّانِي اَلْكِنَايَاتُ وَلَا يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ اِلَّا بِالنِّيَّةِ اَوْ بِدَلَالَةِ حَالٍ.

ترجمه: دطلاق دوهم قسم کنایه دی ،په کنایه سره طلاق نه واقع کیږي مگرپه نیت سره یاپه دلالت حال سره.

تشریح: (۲۷)دطلاق دوهم قسم کنایه دی ،کنایه دادی چې مرادیې مستتراومخفی وي،اوپه کنایه سره طلاق نه واقع کیږي مگرداچې نیت وي یادنیت قائم مقام دلالت حال وغیره وي ،ځکه الفاظ کنایه خالص دطلاق لپاره نه دي وضع شوي بلکې دطلاق وغیرطلاق دواړواحتمال لري لهذادتعین معنی لپاره ضروري دی چې نیت یادلالت حال وي.

(۲۸) وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ مِنْهَا ثَلَاثَةُ اَلْفَاظٍ يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ وَلَا يَقَعُ بِهَا اِلَّا وَاحِدَةٌ وَهِيَ قَوْلُهُ اِعْتَدِّي وَاسْتَبْرِئِي رَحِمَكِ وَاَنْتِ وَاحِدَةٌ

ترجمه: کنایه دوه قسمه دي له هغوځخه درې الفاظ هغه دي په کوموسره چې رجعی طلاق واقع کیږي اوپه هغوسره خالص یوطلاق واقع کیږي اوهغه دخاوندقول اعتدی (ته عده تیره وه) اواستَبرِئِی رَحِمَکِ (ته خپل رحم پاک کړه) اوانتِ واحدةٌ (ته یوه ښځه یې).

تشريح :(۲۸)يعنې کنايه دوه قسمه دي ،يو هغه چې په هغوسره يو رجعي طلاق واقع کيږي او بل هغه چې په هغوسره يو بائن طلاق واقع کيږي ،اول قسم درې الفاظ دي يعنې :اعتدى (ته عده تيروه) استبرئى رحمک (ته خپل رحم پاک کړه) انتِ واحدة (ته يوه يې).

دادرې الفاظ هريودوې دوې معنى ګانې لري داعتدى يوه معنى ده ته دخپلې عدې ورځې شماره اوبله معنى يې ده ته دالله تعالى نعمتونه شماره،که خاونددا ولې معنى نيت کړي وونودهغه په نيت سره اوله معنى متعينه کيږي اودامعنى دطلاق دمقدم کيدوتقاضاکوي ځکه امرباالاعتدادبغيرطلاق صحيح نه دى لهذاطلاق سابقامقدربلل ضروري دى ګواکې خاوندورته وويل :طلقتکِ اوانت طالق فاعتدى.

دوهم لفظ يعنې استبرئى رحمک ،هم ددومعنى وُاحتمال لري يوداچې ته عده تيره کړه ،ځکه له عده تيرولوڅخه مقصودرحم پاکول دى نوګواکې مقصوددعدې صراحتًاذکرکړای شو،نواستبرئى رحمک داعتدى په معنى دى اوبله معنى يې داده چې له حيض څخه رحم پاک کړه چې په مسنونه طريقه طلاق درکړای شي،په دې صورت کې که خاونددلومړۍ معنى نيت کړى وونومعنى اوله متعينه کيږي اودامعنى دطلاق سابق مقتضى کيږي.

دريم لفظ يعنې انت واحدة هم ددومعنى وُاحتمال لري اول داچې واحدةٌ دمصدرمحذوف صفت وبلل شي يعنې تطليقة واحدة اودبله معنى يې داده چې خاونددې صفت کوي وايې چې ته زماپه نزديوه ښځه يې يازماپه قوم کې يوه ښځه يې،يعنې ستاپه ډيربله ښځه نشته،په دې صورت کې که دخاونداوله معنى مرادوه نوګواکې هغه ورته وويل انت تطليقة واحدة په دغه کلام سره يورجعې طلاق واقع کيږي لهذاپه انتِ واحدةٌ سره هم يورجعي طلاق واقع کيږي.

(۲۹) وَبَقِيَّةُ الْكِنَايَاتِ إِذَا نَوَى بِهَا الطَّلَاقَ كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا كَانَتْ ثَلَاثًا وَإِنْ نَوَى اثْنَتَيْنِ كَانَتْ وَاحِدَةً وَهٰذَا مِثْلُ قَوْلِهِ أَنْتِ بَائِنٌ وَبَتَّةٌ وَبَتْلَةٌ وَحَرَامٌ وَحَبْلُكِ عَلَى غَارِبِكِ وَالْحَقِي بِأَهْلِكِ وَخَلِيَّةٌ وَبَرِيَّةٌ وَوَهَبْتُكِ لِأَهْلِكِ وَسَرَّحْتُكِ وَاخْتَارِي وَفَارَقْتُكِ وَأَنْتِ حُرَّةٌ وَتَقَنَّعِي وَاسْتَتِرِي وَاغْرُبِي وَابْتَغِي الْأَزْوَاجَ

ترجمه :په باقي کناياتوسره چې کله دطلاق نيت وکړي نويوبائن طلاق واقع کيږي اوکه يې ددرونيت ووډرې واقع کيږي اوکه يې ددونيت وونويوواقع کيږي هغه الفاظ لکه خاوندچې ووايې :اَنتِ بَائِنٌ،ته له ماجلايې،وبتّةٌ وبتلَةٌ،ستاله ماڅخه قطع تعلق ده،اوحرامٌ،ته حرامه يې،وحَبلکِ على غَارِبِکِ ،ستاخپل اختياردى،والحقِي بِاهلکِ ،ته خپلوقريبانوته ولاړه شه،وخلِيةٌ ،ته پريښودله شوې يې،وبرِيةٌ،ته برې يې،ووهَبتُکِ لاهلِکِ،ماته خپلوقريبانوته هبه کړې يې،وَسَرحتُکِ،ماته پرې ايښې يې،واختَارِي،ته خپل

ځان اختيار کړه،وَفارِقتِکِ،ماته جلاکړې يې،وانتِ حرةٌ،ته آزاده يې،وتقنعي،ته پړونی په سرکړه،واستبرئی،ته پرده وکړه،واغربِی،ته ليرې شه،وابتغی الازواَج،ته خاوند طلب کړه .

تشريح :(۲۹)يعني له پورتنيو دريومذکوروالفاظونه علاوه په باقی کناياتوسره يوبائن طلاق واقع کيږي که يې ديوه نيت کړی وويايې ددونيت کړی وواوکه يې ددريونيت کړی وونودرې طلاقه واقع کيږي په دې سره ځکه طلاق بائن واقع کيږي چې دغه الفاظ خالص له طلاق څخه کنايه نه دي بلکې له طلاق علی وجه البينونة څخه کنايه دي .

په دغوالفاظوسره که دريوطلاقونيت وکړي نوهغه ځکه صحيح کيږي چې بينونة دوه قسمه دی خفيفه ومغلظه ،نوڅرنگه چې لفظ ددواړواحتمال لري لهذاچې دکوم يوه نيت وکړي هغه واقع کيږي البته ددونيت کول نه صحيح کيږي ځکه دوه عددمحض دی اومذکورالفاظ پرعدددال نه دي لهذاددونيت په وخت کې ادنی البينونة يعنې يوواقع کيږي،اودا الفاظ امام قدوری رحمه الله له انتِ بائنٌ څخه تروابتغی الازواج پورې ذکرکړي دي .

(۳۰)فَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ لَمْ يَقَعْ بِهٰذِهِ الْاَلْفَاظِ طَلَاقٌ (۳۱)اِلَّا اَنْ يَكُوْنَا فِي مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ فَيَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ فِي الْقَضَاءِ وَلَا يَقَعُ فِيْمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالٰى اِلَّا اَنْ يَنْوِيَهُ (۳۲)وَاِنْ لَمْ يَكُوْنَا فِي مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ وكَانَا فِي غَضَبٍ اَوْ خُصُوْمَةٍ وَقَعَ الطَّلَاقُ بِكُلِّ لَفْظَةٍ لَا يَقْصِدُ بِهَا السَّبُّ وَالشَّتِيْمَةُ (۳۳)وَلَمْ يَقَعْ بِمَا يَقْصِدُ بِهَا السَّبُّ وَالشَّتِيْمَةُ اِلَّا اَنْ يَنْوِيَهُ

ترجمه :که يې په دغوالفاظوسره دطلاق نيت نه وونوطلاق نه واقع کيږي مگرداکه زوجين دطلاق په مذاکره کې وونوقضاءً په دې سره طلاق واقع کيږي مگربين العبدوبين الله تعالی نه واقع کيږي مگرداچې دطلاق نيت وکړي اوکه زوجين په مذاکره دطلاق کې نه وو بلکې دغصې ياجنجال په حالت کې وونوطلاق په هرهغه لفظ واقع کيږي چې په هغه سره ښکنځل اوبدويل نه قصدکړای کيږي اوپه کوم لفظ سره چې ښکنځل اوبد ويل مقصودوي په هغه سره طلاق نه واقع کيږي مگرداکه په هغه سره نيت دطلاق وکړي .

تشريح :(۳۰)په کنايه الفاظوسره طلاق بغيرله نيت دطلاق نه واقع کيږي ځکه دغه الفاظ دغيرطلاق احتمال هم لري اومع الاحتمال طلاق نه واقع کيږي .

(۳۱)البته که دزوجينوترمنځ مذاکره دطلاق کيدله اوپه همدې حالت کې زوج په يولفظ کنايه سره ښځه مخاطبه کړه نوبيله نيته هم قضاءً طلاق واقع کيږي که څه هم ديانةً يعنی فيمابينه وبَينَ الله بلانيت طلاق نه واقع کيږي مگرداچې دی يې نيت وکړي .

(۳۲)که زوجينومذاکره دطلاق نه کوله بلکې دغصې ياجنجال په حالت کې وونوپرهرهغه لفظ طلاق واقع کيږی چې په هغه سره ښکنځل اوبدنه قصديږي .

(۳۳)په کوم لفظ سره چې ښکنځل او بد ويل قصد يږي په هغه سره طلاق نه واقع کيږي مګر داچې په هغه سره نيت د طلاق وکړي.

امام قدوری رحمه الله د مذاکره طلاق په حالت کې بلا نيت د وقوع طلاق په باره کې ټول الفاظ کنايه برابر بللي دي حال داچې په هغو کې لاندې تفصيل شته.

احوال درې دي: **نمبر ۱**-د رضامندي حالت. **نمبر ۲**-د مذاکره طلاق حالت مثلا ښځه له خاوند څخه د طلاق غوښتنه کوي. **نمبر ۳**-حالت د غضب يعنې له دواړو طرفو د غصې خبرې کيدې.

همدا راز کنايات هم درې قسمه دي: **نمبر ۱**-هغه الفاظ کنايه چې د ښځې له جانبه د طلاق د سوال جواب هم کيدای شي او د هغې د کلام رد هم. **نمبر ۲**-هغه الفاظ چې جواب کيدای شي مګر رد نه شي کيدای. **نمبر ۳**-هغه الفاظ چې جواب هم کيدای شي او ښکنځل هم، نو د رضامندي په حالت کې په الفاظ کنايه ؤسره په يوه لفظ بغير نيت طلاق نه واقع کيږي او مذاکره طلاق په حالت کې د خاوند د قول لم انو الطلاق (ما د طلاق نيت نه دی کړی) قضاءً تصديق نه کيږي په هغو الفاظو کې چې جواب کيدای شي او رد نه شي کيدای، هغه دا اته الفاظ دي: خلية، برية، بائن، بتة، حرام، اعتدی، امرک بيدک، اختاری، وجه يې دا ده چې ښځې د طلاق سوال کړی دی او خاوند له د غو اتو الفاظو څخه يو لفظ په جواب کې ورته وويل نو ظاهره ده چې د خاوند مراد له دې څخه طلاق وي او حاکم په ظاهر د عمل کولو پابند دی نه په باطن.

البته هغه الفاظ چې جواب او رد دواړه کيدای شي په هغو کې د خاوند د قول لم انو الطلاق تصديق کيږي، ځکه په دې الفاظو کې د ردّ احتمال شته يا د ښکنځلو، مګر هغه الفاظ چې خالص طلاق کيدای شي ردّ او ښکنځل نه شي کيدای په هغو کې د خاوند د قول لم انو الطلاق تصديق نه کيږي هغه درې الفاظ دي: اعتدی، اختاری، امرک بيدکِ، وجه يې دا ده چې غصه پر طلاق مرادولو دلالت کوي لهذا په عدم نيت طلاق کې د هغه د قول تصديق نه کيږي.

(۳۴)وَإِذَا وَصَفَ الطَّلَاقُ بِضَرْبٍ مِنَ الزِّيَادَةِ كَانَ بَائِنًا مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ أَنْتِ طَالِقٌ بَائِنٌ وَأَنْتِ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ أَوْ أَفْحَشَ الطَّلَاقِ أَوْ طَلَاقُ الشَّيْطَانِ وَالْبِدْعَةِ أَوْ كَالْجَبَلِ أَوْ مِلأَ الْبَيْتِ

ترجمه: که يې طلاق په وصف زائد سره متصف کړنو دا طلاق بائن کيږي مثلا ورته ويې ويل انت طالق بائن (ته په بائن طلاق طلاقه يې) وانت طالق اشد الطلاق (ته په سخت طلاق طلاقه يې) وانت طالق افحش الطلاق (په فحش طلاق سره طلاقه يې) او طلاق الشيطان او طلاق البدعة (ته دې د شيطان په طلاق طلاقه يې يا ته په طلاق بدعت طلاقه يې) او انت طالق کالجبل او انت طالق ملأ البيت (ته په داسې طلاق طلاقه يې لکه دا غر لکه دا ټول کور په دو مره طلاق طلاقه يې).

تشريح :(۳۴)كه خاوند طلاق په زائد وصف سره متصف كړنو دا طلاق بائن كيږي مثلا ورته ويې ويل :انت طالق بائن (ته په بائن طلاق طلاقه يې) وانت طالق اشد الطلاق ((ته په سخت طلاق طلاقه يې) وانت طالق افحش الطلاق (په فحش طلاق سره طلاقه يې) اوطلاق الشيطان اوطلاق البدعة (ته دي دشيطان په طلاق طلاقه يې ياته په طلاق بدعت طلاقه يې) اوانت طالق كالجبل اوانت طالق ملأالبيت (ته په داسې طلاق طلاقه يې لكه داغرلكه داټول كورپه دومره طلاق طلاقه يې) وجه يې داده چې طلاق خوپه نفس لفظ دطلاق سره واقع كيږي چې كله يې په زائدوصف سره متصف كړنو داسې يوې معنى لره مفيددى چې په لفظ دطلاق كې نشته ،وهُوَالبَينُونَةُ.

(۳۵)وَإِذَاأَضَافَ الطَّلَاقَ إِلٰى جُمْلَتِهَاأَوْإِلٰى مَايُعَبَّرُبِهِ عَنِ الْجُمْلَةِ وَقَعَ الطَّلَاقُ مِثْلُ أَنْ يَقُولَ أَنْتِ طَالِقٌ أَوْرَقَبَتُكِ طَالِقٌ أَوْ عُنُقُكِ طَالِقٌ أَوْرُوحُكِ طَالِقٌ أَوْبَدَنُكِ أَوْجَسَدُكِ أَوْفَرْجُكِ أَوْوَجْهُكِ (۳۶) وَكَذَالِكَ إِنْ طَلَّقَ جُزْءًاشَائِعًامِنْهَامِثْلُ أَنْ يَقُولَ نِصْفُكِ أَوْثُلُثُكِ طَالِقٌ (۳۷) وَإِنْ قَالَ يَدُكِ أَوْرِجْلُكِ طَالِقٌ لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ (۳۸) وَإِنْ طَلَّقَهَانِصْفَ تَطْلِيقَةٍ أَوْثُلُثَ تَطْلِيقَةٍ كَانَتْ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً

ترجمه :كه خاوند دښځې كل طرف ته دطلاق نسبت وكړيايې دطلاق نسبت دښځې يو داسې جزء ته وكړچې په هغه سره كل تعبيريږي نوطلاق واقع كيږي مثلاورته ويې انتِ طَالِقٌ اورَقبتِک طَالِقٌ اوعُنُقک طَالِقٌ اورُوحکِ طَالِقٌ اَبدنُک طَالِقٌ اوجَسدک طالقٌ اوفرجُک اووجهُک ،همدارازكه زوج دطلاق نسبت دښځې جزء غيرمعين ته وكړنوهم طلاق واقع كيږي مثلاويې ويل :نِصفُک طَالِقٌ ياثُلثُک طَالِقٌ ،اوكه زوج وويل يدُکِ طَالِقٌ اورِجلکِ طَالِقٌ نوطلاق نه واقع كيږي اوكه چاخپلې منكوحې ته نصف طلاق وركړيايې ثلث طلاق وركړنو داپوره طلاق شمارل كيږي .

تشريح (۳۵)كه خاوند دښځې كل طرف ته دطلاق نسبت وكړلكه انت طالق نوطلاق واقع كيږي،همدارازكه دطلاق نسبت دښځې داسې جزء ته وكړي چې په هغه سره كل تعبريږي نوهم طلاق واقع كيږي لكه رقبتک طالق اوعنقک طالق اورحک طالق الخ،وجه يې داده چې په دې اندامونوسره دكل تعبيركيږي نوداپه منزله دانتِ طالق دى .

(۳۶)همدارازكه خاونددطلاق نسبت دښځې يوجزء غيرمعين طرف ته وكړي نوهم طلاق واقع كيږي لكه نصفک طالق ياثلثک طالق،وجه يې داده چې جزء شائع دبيع وغيره تصرفاتومحل دى نودطلاق محل هم دى البته دښځې بدن دطلاق په حق كې متجزى نه دى لهذاپه كل كې طلاق ثابتيږي .

(۳۷)که زوج وویل یدک طالق اورجلک طالق نوطلاق نه واقع کیږي ځکه په دي کې دطلاق اضافت دغیرمحل طلاق طرف ته شوی دی نولغوه کیږي لکه دښځې لاړویانوکانوته طرف ته دطلاق اضافت کول.
(۳۸)که چاخپلې منکوحې ته نصف طلاق ورکړیاثلث طلاق ورکړنوهغه پوره طلاق شمارل کیږي اوداښځه په یوه طلاق سره مطلقه کیږي وجه یې داده چې طلاق متجزی یعنې ټکړې ټکړې نه کیږي اوقاعده ده چې دبعضُ مالایتجزی ذکردکل دذکرپه ډول وي ځکه په دي الفاظوسره پوره طلاق واقع کیږي.

(۳۹)وَطَلَاقُ الْمُکْرَہِ(۴۰)وَالسَّکْرَانِ وَاقِعٌ

ترجمه:اودمجبورکړای شوي اودنشه طلاق واقع کیږي.

تشریح:(۳۹)که یوڅوک مجبورکړای شي چې دی به خپلې منکوحې ته طلاق ورکوي اوهغه په مجبورۍ سره طلاق ورکړنوطلاق واقع کیږي وجه یې داده چې مکره دطلاق واقع کیدواراده کړي ده اوپه ده کې دطلاق واقع کولواهلیت هم شته لهذادمکره قصددطلاق له حکم څخه نه خالي کیږي ددي لپاره چې تخلف دحکم عن العلة رانه شي اودمکره حاجت رفع شی،دمکره حاجت دادی چې له کوم شي نه چې دی دارول شوی دی له هغه به خلاصون ومومي.
(۴۰)دسکران (په نشه مست)طلاق هم واقع کیږی ځکه دهغه عقل په داسی سبب زائل شوی دی چې معصیت اوګناه ده لهذادزجراوتوبیخ په ډول دهغه عقل حکماباقی بلل شوی دی.

(۴۱)وَيَقَعُ الطَّلَاقُ إِذَا قَالَ نَوَيْتُ بِهِ الطَّلَاقَ(۴۲)وَيَقَعُ طَلَاقُ الْأَخْرَسِ بِالْإِشَارَةِ

ترجمه:اودمکره اوسکران طلاق واقع کیږی که یې وویل چې زماپه دي سره دطلاق اراده وه اودګونګي طلاق په اشاره سره واقع کیږي.

تشریح:(۴۱)یعنې مکره اوسکران په حالت داکراه اوسکرکې طلاق ورکړییایې وویل چې په دي سره یې دطلاق اراده وه نوطلاق واقع کیږي،دعاموفقهاؤپه نزددسکران صریح طلاق هم بلانیت واقع کیږي نودایاهیڅ معنی نه لري چې اذاقال نویت به الطلاق،لهذاداسهودکاتب بلله کیږي،په بعضونسخوکې داعبارت دي ویقع بالکنایات اذاقال نویت به الطلاق،همدانسخه صحیح ده ځکه محتاج ونیت ته کنایات دي،په بعضونسخوکې ویقع الطلاق بالکتاب الخ،راغلي دي که دانسخه صحیحه وي نومرادیې دادی چې که چاخپلې ښځې ته طلاق پرکاغذوغیره ولیکه نوکه یې نیت دطلاق وو واقع کیږي که نه وو بیانه واقع کیږي.

(۴۲)دګونګي طلاق په اشاره سره واقع کیږي ځکه دګونګي اشاره معهوده ومعروفه ده لهذاددفع حاجت لپاره هغه په دلالت کې دعبارت په ډول ده.

دتعليق بالشرط بيان

(۴۳)وإذا أضاف الطلاق الى النكاح وقع عقيب النكاح مثل أن يقول لها ان تزوجتك فأنت طالق أو قال كل امرأة أتزوجها فهي طالق (۴۴)وإذا أضافه الى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول لامرأته ان دخلت الدار فأنت طالق

ترجمه: كه چاطلاق دنكاح طرف ته منسوب كړنوله نكاح وروسته واقع كيږي مثلا زوج وويل ان تزوجتك فانتِ طالق (كه ماله تاسره نكاح وكړه نوته طلاقه يې) ياېې داسي وويل كل امرأة اتزوجهافهى طالق (هرهغه ښځه چې زه نكاح كوم هغه دي طلاقه وي) اوكه يې دطلاق نسبت شرط (مثلادخول ددارته) وكړنوترشرط وروسته واقع كيږي مثلاخپلې ښځې ته ووايې ان دخلتِ الدارفانتِ طالق (كه ته سراى ته داخله شوې نوته طلاقه يې).

تشريح: (۴۳)كه چادطلاق نسبت دنكاح طرف ته وكړنوله نكاح وروسته واقع كيږي مثلا زوج وويل ان تزوجتك فانتِ طالق (كه ماته په نكاح كړې نوته طلاقه يې) ياېې داسې وويل كل امرأة اتزوجهافهى طالق (هره ښځه كه ماپه نكاح كړه هغه دي طلاقه وي) په دوهم صورت كې چې كله هم له يوې ښځې سره نكاح وكړي نوهغه طلاقيږي اودهغې لپاره دخاوندپرذمه نصف مهرلازميږي.

(۴۴)كه چادخپلې ښځې طلاق په يوشرط (مثلادخول ددار) پورې معلق كړمثلاداسې يې وويل ان دخلتِ الدارفانتِ طالق (كه ته سراى ته داخله شوې نوته طلاقه يې) نوله وجودشرط يعني دخول دداروروسته طلاق واقع كيږي ،اوداحكم متفق عليه دى ځكه مِلک نكاح فى الحال قائم دى اوظاهرداده چې دشرط تروجودپورې باقي پاتې دى نوپه وخت دوجوددشرط كې ګواكې زوج تكلم بالطلاق كړى دى.

(۴۵)ولا يصح اضافة الطلاق الا أن يكون الحالف مالكا (۴۶)أو يضيفه الى ملكه (۴۷)فإن قال لأجنبية ان دخلت الدار فأنت طالق ثم تزوجها فدخلت الدار لم تطلق

ترجمه: اواضافت دطلاق نه دى صحيح مګرداچې حالف (دتعليق په وخت) دطلاق مالک وي اوياطلاق دخپل مِلک طرف ته منسوب كړي اوكه يې بيګانه ښځې ته وويل ان دخلت الدارفانت طالق (كه ته سراى ته داخله شوې نوته طلاقه يې) بيايې له دغې ښځې سره نكاح وكړه بياهغه سراى ته ننوته نوطلاق نه واقع كيږي.

تشريح: (۴۵)يعنې ضابطه داده چې په شرط پورې طلاق معلق كول هغه وخت صحيح دى چې حالف(زوج) دتعليق په وخت دطلاق مالک وي يعنې كومې ښځې ته چې طلاق وركوي هغه به دده منكوحه وي مثلاخپلې منكوحې ته ووايې ان دخلت الدارفانتِ طالق (كه ته سراى ته داخله شوې نوته طلاقه يې).

(۴۶)یاطلاق خپل مِلک ته منسوب کړي نوهم تعلیق صحیح دی مثلا بیگانه ښځې ته ووایي اِن نکحتکِ فانتِ طَالِقٌ (که ماله تاسره نکاح وکړه نوته طلاقه یې).

(۴۷)که په وخت دتعلیق زوج دطلاق مالک نه وو اونه یې طلاق دخپل مِلک طرف ته منسوب کړنو طلاق نه واقع کیږي مثلا بیگانه ښځې ته ووایې چې ان دخلتِ الدارفانتِ طالقٌ (که ته سرای ته داخله شوې نوته طلاقه یې) بیادې سړي له دغې ښځې سره نکاح وکړه بیاهغه سرای ته داخله شوه نوطلاق نه واقع کیږي ځکه په وخت دتعلیق کې نه دی مالک دطلاق دی اونه یې طلاق دملک طرف ته منسوب کړی دی.

(۴۸)وَأَلْفَاظُ الشَّرْطِ إِنْ وَإِذَا وَإِذَامَا وَكُلُّ وَكُلَّمَا وَمَتٰى وَمَتٰى مَا فَفِيْ كُلِّ هٰذِهِ الْأَلْفَاظِ إِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ انْحَلَّتِ الْيَمِيْنُ وَوَقَعَ الطَّلَاقُ (۴۹)إِلَّا فِيْ كُلَّمَا فَإِنَّ الطَّلَاقَ يَتَكَرَّرُ بِتَكَرُّرِ الشَّرْطِ حَتّٰى يَقَعَ ثَلَاثُ تَطْلِيْقَاتٍ

ترجمه: او الفاظ دشرط اِن او اِذا او اِذَامَا او کل او کلما او مَتٰی او مَتٰی مَا، دي د دي ټولو الفاظ شرط حکم دادی چې کله شرط راشي نوقسم په پوره کیدوسره ختمیږي او طلاق واقع کیږي البته دکلما په لفظ کې طلاق مکرریږي دشرط په مکرریدوسره ترهغه چې درې طلاقونه واقع شي.

تشريح: (۴۸)الفاظ شرط اِن واذاالخ، دي مګر کل په حقیقت کې له الفاظ شرط څخه نه دی ځکه له لفظ دشرط وروسته فعل وي حال داچې دکل له لفظ وروسته اسم وي البته لفظ دکل ملحق بالفاظ شرط دی لتَعلیقِ الفِعل بِالاسمِ الذی یَلیهَالکه کل امرأةٍ اتزوجهافَهِی طَالِقٌ (له هرهغې ښځې سره چې زه نکاح وکړم هغه طلاقه ده).

نوله کلمی دکلما پرته دباقی ټولو الفاظ شرط حکم دادی چې کله شرط پرځای شی نوقسم په پوره کیدوسره ختمیږي ځکه له لفظ دکلما پرته باقی الفاظ شرط لغةً دعموم اوتکرارتقاضانه کوي لهذا په یوځل فعل پیدا کیدوسره شرط پوره کیږي اوبغیرشرط یمین باقی نه پاتیږی.

(۴۹)پاتی شولفظ دکلماځکه چې هغه په افعالوکې دتعمیم تقاضاکوي اودتعمیم لپاره تکرارلازم دی ځکه په لفظ دکُلماکې له شرط پیدا کیدووروسته هم یمین باقی پاتیږي ترهغه چې درې طلاقه واقع شي.

(۵۰)فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ ذٰلِكَ وَتَكَرَّرَ الشَّرْطُ لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ

ترجمه: بیاکه (ددوهم زوج له حلاله وروسته) اول زوج له دغې ښځې سره نکاح وکړه اوشرط یې مکرر وموندنوبیاهیڅ طلاق نه واقع کیږي.

تشريح: (۵۰)که چاخپلې ښځې ته وویل کُلمادَخلتِ الدّارفَانتِ طَالِقٌ، بیاښځه یوپه بل پسې درې ځله سرای ته ننوته نوپرهغې درې طلاقه واقع کیږي بیاکه دزوج ثانی له حلاله وروسته داښځه اول خاوندپه نکاح کړه اوشرط یې مکررومونديعني داښځه بیادرې ځله سرای ته ننوته نوبیاهیڅ طلاق نه واقع کیږي ځکه

داخاوند دسابقه نکاح په وجه ددریو طلاقونو مالک وو هغه پوره شول لهذا چې جزاء نه ده پاتې نو قسم هم ختم شو ځکه بقاء د قسم له شرط و جزاء سره ده او چې کله قسم ختم شو نو له دخول ددار وروسته طلاق نه واقع کیږي.

(۵۱)وَزَوَالُ الْمِلْكِ بَعْدَ الْيَمِيْنِ لَا يُبْطِلُهَا (۵۲)فَإِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ فِي مِلْكٍ انْحَلَّتِ الْيَمِيْنُ وَوَقَعَ الطَّلَاقُ (۵۳)وَإِنْ وُجِدَ فِي غَيْرِ الْمِلْكِ انْحَلَّتِ الْيَمِيْنُ وَلَمْ يَقَعْ شَيْءٌ

ترجمه: اوله یمین وروسته د مِلک زائلیدل یمین لره نه باطلوي که شرط په مِلک کې پیدا شو نو یمین پوره کیږي او طلاق واقع کیږي او که په غیر یمین کې شرط پرځای شو نو یمین پوره کیږي او طلاق نه واقع کیږي.

تشریح: (۵۱)یعني که له قسم وروسته دسړي مِلک په یوه یا دوطلاقو سره زائل شو نو قسم نه باطلیږي مثلاً زوج خپلې ښځې ته وویل ان دخلتِ الدارفانتِ طالق، بیا تردخول ددار مخکې یې دا ښځه بائنه کړه نو ددغه زوال د مِلک په وجه یمین نه باطلیږي ځکه د یمین بقاء په شرط و جزاء سره ده او مفروض دادی چې شرط نه دی پرځای شوی لهذا شرط باقي دی او دبقاء محل په وجه جزاء هم باقي ده نو کله چې شرط و جزاء دواړه باقي دي نو یمین هم باقي دی.

(۵۲)بیا که دغه ښځه بیرته دحالف په نکاح کې راشي او سرای ته داخله شي نو طلاق واقع کیږي او قسم پوره کیږي.

(۵۳)او که دوباره دحالف په نکاح کې تر راتلو مخکې دا ښځه سرای ته داخله شوه نو قسم پوره کیږي لِوُجودِ الشّرط لیکن طلاق نه واقع کیږي لِعدمِ المَحلیّةِ.

(۵۴)وَإِذَا اخْتَلَفَا فِي وُجُوْدِ الشَّرْطِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ فِيْهِ إِلَّا أَنْ تُقِيْمَ الْمَرْأَةُ الْبَيِّنَةَ (۵۵)فَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ لَا يُعْلَمُ إِلَّا مِنْ جِهَتِهَا فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا فِي حَقِّ نَفْسِهَا مِثْلُ أَنْ يَقُوْلَ إِنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ فَقَالَتْ قَدْ حِضْتُ طُلِّقَتْ

ترجمه: که دزوجینو په وجود د شرط کې اختلاف شو نو دزوج قول معتبریږي مګر دا که ښځې ګواهان قائم کړل او که شرط داسې یو شی وو چې دهغه علم خالص ښځې ته کیده نو بیا د ښځې قول خالص دهغې په حق کې قبلیږي مثلاً خاوند ورته وویل ان حضتِ فانت طالق (چې کله تا ته حیض راشي نو ته طلاقه یې) او ښځې وویل ما ته حیض راغلی دی نو طلاق واقع کیږي.

تشریح: (۵۴)که دزوجینو په وجود د شرط کې اختلاف شو مثلاً زوج وایي چې شرط نه دی پرځای شوی لهذا طلاق نه دی واقع شوی او ښځه وایي چې شرط پرځای شوی دی او طلاق واقع شوی دی نو که له ښځې

سره ګواهان نه وويياد خاوند قول متعبر دی ځکه دخاوندله اصل سره موافق دی ولی اصل عدم شرط دی او قول د متمسک بالاصل معتبرو ي .

(۵۵) البته که شرط داسی شی وي چې دهغه علم خالص ښځې ته کيږي نوپه وجود دشرط کې دهغی قول خالص دهغی په حق کې قبليږي دبل چاپه حق کې نه قبليږي مثلا خاوند خپلې ښځې ته وويل ان حضت فانت طالق (چې کله تاته حيض راشی نوته طلاقه يې) ښځې وويل چې ماته حيض راغی نو استحسانا طلاق واقع کيږي ځکه حيض يو داسی شرط دی چې علم يې خالص ښځې ته کيداى شي ښځه پخپل حق کې امينه ده (او دامين قول دهغه په حق کې قابل قبول وي) .

(۵٦) وَإِذَا قَالَ لَهَا إِذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةُ مَعَكِ فَقَالَتْ قَدْ حِضْتُ طَلُقَتْ هِيَ وَلَمْ تَطْلُقْ فُلَانَةُ (۵۷) وَإِذَا قَالَ لَهَا إِذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ فَرَأَتِ الدَّمَ لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ حَتَّى يَسْتَمِرَّ الدَّمُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِذَا تَمَّتْ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ حَكَمْنَا بِوُقُوعِ الطَّلَاقِ مِنْ حِيْنَ حَاضَتْ (۵۸) وَإِنْ قَالَ لَهَا إِذَا حِضْتِ حَيْضَةً فَأَنْتِ طَالِقٌ لَمْ تَطْلُقْ حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضِهَا

ترجمه :که خاوند ښځې ته وويل اذا حضت فانت طالق وفلانة معکِ ،ښځې وويل ماته حيض راغلی دی نو دامطلقه کيږي اوفلانة (يعنې دهغی بن) نه طلاقيږي اوکه خاوند ښځې ته وويل اذا حضت فانت طالق بيادې ښځې وينه وليده نوطلاق نه واقع کيږي ترهغه چې درې ورځې پرلپسې وينه جاري شي بياکه پوره درې ورځې وينه راغله نوموږ دوقوع طلاق حکم کووله هغه وخته چې وينه شروع شوې ده اوکه خاوند خپلې ښځې ته وويل اذا حضت حيضة فانت طالق نودا ښځه نه طلاقيږي ترڅوله دغه حيض څخه پاکه نه شي .

تشريح:(۵٦) که خاوند له خپلوښځوڅخه يوې ته وويل اذا حضت فانتِ طالق وفلانة معکِ (چې کله تاته حيض راشي نوته او فلانۍ طلاقې ياست) دې ښځې وويل چې ماته حيض راغلی دی نو دامطلقه کيږي اوفلانة (يعنې دهغی بن) نه طلاقيږي ځکه دا ښځه پر خپل بن د طلاق په واقع کيدوکې شاهده بلکې متهمه ده لهذا دبن په حق کې دهغی قول معتبر نه دی ځکه د متهم شهادت مردود دی .

(۵۷) که خاوند وويل اذا حضت فانت طالق (چې کله تاته حيض راشي نوته طلاقه يې) بيادې ښځې وينه وليده نوپه خالص وينه ليدلو سره طلاق نه واقع کيږي ترهغه چې پرلپسې درې ورځې وينه جاري شي ځکه تردريوورځوکم منقطع کيدونکې وينه حيض نه دی البته که پوره درې ورځې وينه راغله نوله کومې ورځې نه چې وينه شروع شوې وه له هغی ورځې نه د طلاق د واقع کيدو حکم کيږي ځکه له دريوورځونه دوينی دجريان په وجه معلومه شوه چې داوينه درحم ده لهذا داول امرڅخه حيض شمارل کيږي .

(۵۸) که خاوند وويل اذا حضت حيضة فانتِ طالق (چې کله تاته يو حيض راشي نوته طلاقه يې) نو دا ښځه چې ترڅوله خپل حيض څخه پاکه نه شي نه طلاقيږي ځکه حيضةٌ بالتاء حيض کامل ته وايي اودحيض کمال

دهغه په ختم کیدوسره راځي اوختم کیدل یې په طهرسره راځي لهذادطهرپه شروع کیدوسره طلاق واقع کیږي ترهغه مخکې نه.

(۵۹)وَطَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْداً (۶۰)وَطَلَاقُ الْحُرَّةِ ثَلَاثًا حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْداً

ترجمه:دمنځې طلاقونه دوه دي،اودهغې عدت دوه حیضه دي که دهغې خاوندحروي اوکه مریی وي اودحرې ښځې طلاقونه درې دي که دهغې خاوند حُروي اوکه مریی.

تشریح:(۵۹)دمنځې طلاقونه دوه دي اودهغې عدت دوه حیضه دي که یې خاوند حُروي اوکه مریی.

(۶۰)دحُرې ښځې طلاقونه درې دي که یې خاوندحُروي اوکه مریی،ځکه ښځه چې محل دنکاح اوحلاله شي دادهغې په حق کې نعمت دی ولی چې دنکاح په وجه دادنفقې،جامې،سکنی وغیره مستحقه ګرځي اودنعمتونوپه نیمی کیدوکې رقیت دخل لري نومنځې ته خالص یونیم طلاق ورکول کافي ووچې دحُرې ښځې دطلاق نصف دی مګرځرنګه چې طلاق تجزیه اوتقسیم نه قبلوي ځکه نیم طلاق پوره شوی نودوه طلاقونه شول.

دطلاق قبل الدخول بیان

(۶۱)وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا ثَلَاثًا وَقَعْنَ عَلَيْهَا (۶۲)وَإِنْ فَرَّقَ الطَّلَاقَ بَانَتْ بِالْأُولَى وَلَمْ تَقَعِ الثَّانِيَةُ وَالثَّالِثَةُ (۶۳)وَإِنْ قَالَ لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً وَقَعَتْ عَلَيْهَا وَاحِدَةٌ

ترجمه:که چاخپلې ښځې ته تردخول مخکې درې طلاقه ورکړل نودرې واړه طلاقونه واقع کیږي اوکه یې درې طلاقه متفرق کړل نوپه لومړي لفظ سره ښځه بائنه ګرځي اودوهم اودریم طلاق نه واقع کیږي اوکه خاوندخپلې ښځې ته وویل انتِ طالق واحدة وواحدة (تاته یوطلاق دی اویو) نویوطلاق واقع کیږي.

تشریح:(۶۱)که خاوندخپلې ښځې ته قبل الدخول درې طلاقونه ورکړل مثلاورته ویې ویل:انتِ طالق ثلثا(ته په درې طلاقونوطلاقه یې) نودرې سره طلاقونه واقع کیږي ځکه وقوع دطلاق په مذکوره جمله کې په حقیقت کې دمصدرمحذوف په ذریعه دی اوداعدددهغه مصدرصفت واقع شوی دی نودانتِ طالق ثلثامعنی داسی کیږي چې انتِ طالق طلاقًاثلثا،نوپه انتِ طالق سره علیحده طلاق نه واقع کیږي بلکې په طلاقًاثلثاسره په یوه واردرې طلاقه واقع کیږي.

(۶۲)که یې درې طلاقونه متفرق کړل مثلاویې ویل انت طالق ،طالق ،طالق نوپه لومړي لفظ دطلاق سره ښځه بائنه کیږي اوپرښځه دغیرمدخول بهاکیدوپه وجه عدت هم نشته نودخاونددوهم اودریم ځل طالق ویلوپه وخت کې ښځه پردی شوې وه ځکه دادوهم اودریم طلاق نه واقع کیږي.

(۶۳) که خاوند خپلې غیر مدخول بهابښځې ته وویل انت طالق واحدة وواحدة (ته په یوه طلاق طلاقه یې اویو) نو یو بائن طلاق واقع کیږي ځکه دا په لومړي واحدة سره بائنه شوه لهذا دوهم ځل واحدةٌ لغوه کیږي.

(۶۴) وإنْ قالَ لَهَا أنْتِ طَالِقٌ وَاحِدةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ وَقَعَتْ وَاحِدَةٌ (۶۵) وإنْ قالَ لَهَا وَاحِدَةً قَبْلَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعَتْ عَلَيْهَا ثِنْتَانِ (۶۶) وَإنْ قَالَ وَاحِدَةً بَعْدَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعَتْ عَلَيْهَا وَاحِدَةٌ (۶۷) وَإنْ قَالَ لَهَا أنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعْدَ وَاحِدَةٍ أوْ مَعَ وَاحِدَةٍ أوْ مَعَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعَتْ ثِنْتَانِ

ترجمه: که یې ښځې ته وویل ته په یوه طلاق طلاقه یې مخکې تر یوه نو یو واقع کیږي او که یې ورته وویل ته په یوه طلاق طلاقه یې چې تر هغه مخکې هم یو دی نو دوه واقع کیږي او که یې وویل ته په یوه طلاق طلاقه یې تر هغه وروسته یو دی نو یو طلاق واقع کیږي او که یې وویل ته په یوه طلاق طلاقه یې تر یوه وروسته یا له یوه سره یا له هغه سره یو دی نو دوه واقع کیږي.

تشریح: په دغه عبارت کې امام قدوری رحمه الله څلور صورتونه ذکر کړي دي: **نمبر ۱**-انت طالق واحدة قبل واحدة (ته په یوه طلاق طلاقه یې تر یوه مخکې). **نمبر ۲**-انت طالق واحدة بعدها واحدة (ته په یوه طلاق طلاقه یې تر هغه وروسته یو. **نمبر ۳**- انت طالق واحدة قبلها واحدة (ته په یوه طلاق طلاقه یې چې تر هغه مخکې هم یو دی). **نمبر ۴**- انت طالق واحدة بعد واحدة. (ته په یوه طلاق طلاقه یې وروسته تر یوه) په دې کې په لومړیو دوو صورتونو کې یو طلاق او په آخري دوو صورتونو کې دوه طلاقه واقع کیږي.

دراصل دا صورتونه پر دوو اصولو موقوف دي: **نمبر ۱**-ظرف یعنې قبل او بعد چې کله په هاء کنایه یعنې ضمیر سره مقید کړای شي نو ظرف د مابعد لپاره صفت کیږي او که په هاء کنایه سره مقید نه کړای شي نو د خپل ماقبل صفت کیږي، او له صفت څخه مراد صفت معنوی دی نحوي نه دی لکه جائنی زید قبله عمرو، یعنې عمرو مخکې راغی او زید وروسته او په جائنی زید قبل عمرو، یعنې زید مخکې راغی عمرو، وروسته.
نمبر ۲-د ماضی طرف ته منسوب شی طلاق واقع شی نو هغه په زمانه حال کې واقع کیږي نه په ماضی کې.

(۶۴) که چا خپلې غیر مدخول بهابښځې ته وویل: انتِ طالق واحدة قبل واحدة نو لفظ د قبلُ د ماقبل صفت کیږي او معنی یې داسې ده چې واحدةٌ اول مخکې واقع شوی دی او واحدةٌ ثانی وروسته، نو چې کله واحدةٌ اولی واقع شو نو ښځه بائنه کرځي لهذا د واحدةٌ ثانی لپاره محل باقی نه دی په دې وجه ثانی لغوه شو لهذا په دې صورت کې یو طلاق واقع کیږي.

(۶۵) که خاوند وویل انت طالق واحدة بعدها واحدة په دې صورت کې لفظ د بعد د مابعد صفت کیږي معنی یې داسې شوه چې تا ته یو طلاق دی تر هغه وروسته یو دی نو په واحدةٌ اولی سره ښځه بائنه کرځي لهذا واحدةٌ ثانی د محل طلاق د فوت کیدو په وجه لغوه کیږي نو په دغه صورت کې هم یو طلاق واقع کیږي.

(۶۶)که خاوند ووېل :انتِ طالق واحدةٌ قبلها واحدة، په دي صورت کې لفظ د قبل د مابعد صفت کيږي يعني تاته يو طلاق دی تر هغه مخکې يو، دا کلام تقاضا کوي چې واحدةٌ ثانی په ماضی کې واقع وي او اولی فی الحال ځرنګه چې په ماضی کې طلاق واقع کول په حال کې واقع کول دی لهذا دواړه طلاقونه په زمانه حال کې يو ځای واقع کيږي نو په دغه صورت کې دوه طلاقونه واقع کيږي.

(۶۷)که يې ووېل انت طالق واحدة بعد واحدة، يعنې تاته يو طلاق دی وروسته تر يوه، په دي صورت کې لفظ د بعد د ماقبل صفت کيږي دا کلام تقاضا کوي چې واحدةٌ ثانی په ماضی کې واقع وي او اولی فی الحال، او په ماضی کې طلاق واقع کول په حال کې طلاق واقع کول دی لهذا دادواړه طلاقونه په زمانه حال کې يو ځای واقع کيږي، نو په دغه صورت کې هم دوه طلاقونه واقع کيږي.

که چا ووېل انت طالق واحدة مع واحدة يا انت طالق واحدة معها واحدة، نو دوه طلاقه واقع کيږي ځکه کلمه دمع داقتران او اتصال لپاره راځي لهذا دواړه يو ځای واقع کيږي.

(۶۸)وَاِنْ قَالَ لَهَا اِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَاَنْتِ طَالِقٌ وَّاحِدَةً وَّوَاحِدَةً فَدَخَلَتِ الدَّارَ وَقَعَتْ عَلَيْهَا وَاحِدَةٌ عِنْدَ اَبِىْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ تَقَعُ ثِنْتَانِ

ترجمه :که خاوند ښځې ته ووېل که ته سرای ته داخله شوې نو تاته يو طلاق دی او يو بيا هغه سرای ته داخله شوه نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد پر هغې يو طلاق واقع کيږي او صاحبينو رحمهما الله فرمايلي دي چې دوه طلاقه واقع کيږي.

تشريح :که يې متعدد طلاقونه په شرط پورې معلق کړل او يو يې پر بل دواو په ذريعه عطف کړل نو ددي دوه صورتونه دي شرط به يا مقدم وي يا به مؤخر، که شرط مؤخروي لکه چې ووايې انت طالق واحدة وواحدة ان دخلتِ الدار (تاته يو طلاق دی او يو که ته دا سرای ته داخله شوې) نو په اتفاق دوه طلاقه واقع کيږي.

(۶۸)او که يې شرط مقدم کړ مثلا ويې ويل :ان دخلتِ الدار فانتِ طالق واحدةٌ وواحدةٌ (که ته دا سرای ته داخله شوې نو تاته يو طلاق دی او يو) بيا غير مدخول بها ښځه سرای ته داخله شوه نو دصاحبينو رحمهما الله په نزد په دي صورت کې دوه طلاقه واقع کيږي او دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد يو طلاق واقع کيږي (دصاحبينو رحمهما الله قول راجح دی).

دصاحبينو رحمهما الله دليل دادی چې کلمه دواو مطلقًا دجمع لپاره راځي لهذا دواړه طلاقه واقع کيږي ځکه په حرف واو سره جمع داسې ده لکه په لفظ دجمع سره او ځرنګه چې دشرط دمؤخر کيدو په صورت کې په اتفاق دوه طلاقونه واقع کيږي همدارازد تقديم په صورت کې هم دوه واقع کيږي.

دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادى چې مطلقاً جمع داتصال اوترتيب دواړو احتمال لري نوکه داتصال دمعنى رعايت وکړاى شي نودوه واقع کيږي اوکه دترتيب دمعنى رعايت وکړاى شي نويوواقع کيږي لکه په انتِ طالق واحدةً وواحدةً منجزکې يوواقع کيږي نومعلومه شوه چې تريوه په زيات کې شک دى اودشک په وجه طلاق نه واقع کيږي ځکه تريوه زيات نه واقع کيږي.

صاحبينو رحمهما الله دشرط دتقديم صورت دشرط دتاخيرپرصورت قياس کړى دى ليکن داقياس صحيح نه دى ځکه دتاخيرپه صورت کې شرط اول دکلام لره بدلونکى دى نواول دکلام پرشرط موقوف کيږي له وجوددشرط وروسته دوه طلاقه واقع کيږي اودتقديم په صورت کې اول دکلام بدلونکى شى نشته نواول دکلام پرآخردکلام موقوف هم نه دى په دي وجه دوه طلاقه پرترتيب واقع کيږي اوځرنګه چې ښځه غيرمدخول بهاده ځکه په واحدةً اولى سره بائنه کيږي اودوهم واحدةً نه واقع کيږي.

(٦٩)وَإذَا قَالَ لَهَا أنْتِ طَالِقٌ بِمَكَّةَ فَهِيَ طَالِقٌ فِي الْحالِ فِي كُلِّ الْبِلادِ (٧٠)وكَذَالِكَ إذَا قَالَ لَهَاأنْتِ طَالِقٌ فِي الدَّارِ (٧١)وَإنْ قَالَ لَهَا أنْتِ طَالِقٌ إذَا دَخَلْتِ بِمَكَّةَ لَمْ تُطَلَّقْ حَتّٰى تَدْخُلَ مَكَّةَ

ترجمه: که چاخپلې ښځې ته وويل :انتِ طالق بمکة ،نودافى الحال طلاقيږي په هرښارکې چې وي همداراز که ښځې ته ووايې انت طالق فى الداراوکه يې ورته وويل انت طالق اذادخلتِ مکة،نوچې ترڅوښځه مکې مکرمې ته نه يې داخله شوې طلاق نه واقع کيږي.

تشريح:(٦٩)که چاخپلې ښځې ته وويل انتِ طالق بمکة (ته په مکه کې طلاقه يې).

(٧٠)يا انت طالق فى الدار(ته په سراى کې طلاقه يې) نوطلاق فى الحال واقع کيږي ځکه طلاق داسى شى نه دى چې په يومکان پورې خاص وي بل ځاى بيانه واقع کيږي بلکې چې کله واقع شي نوهرځاى واقع کيږي .

(٧١)که يې وويل انتِ طالق اذادخلتِ مکة (ته طلاقه چې کله ته مکې ته داخله شي) نوترڅوچې ښځه مکې مکرمې ته نه يې داخله شوې طلاق نه واقع کيږي ولى طلاق يې تردخول دمکې معلق کړى دى.

(٧٢)وَإنْ قَالَ لَهَا أنْتِ طَالِقٌ غَداً وَقَعَ عَلَيْهَا الطَّلاقُ بِطُلُوْعِ الْفَجْرِ الثَّانِيْ

ترجمه: که خاوندخپلې ښځې ته وويل چې سباورځ ته، طلاقه يې نوسبادسپيدوراختلوسره پرهغې طلاق واقع کيږي.

تشريح:(٧٢)که زوج خپلې ښځې ته وويل سباورځ ته طلاقه يې نوسبادسپيدوراختلوسره پرهغې طلاق واقع کيږي ځکه داښځه يې په ټول سباکې په طلاق متصفه کړه اوداهغه وخت کيداى شي چې کله طلاق په

اول جزء کې واقع شی او که خاوند دسباورځې دآخري حصی نیت کړی وو نو دیانةً دده تصدیق کیږي نه قضاءً.

(۷۳)وَإِنْ قَالَ لِإِمْرَأَتِهِ إِخْتَارِيْ نَفْسَكِ يَنْوِيْ بِذٰلِكَ الطَّلَاقَ أَوْ قَالَ لَهَا طَلِّقِيْ نَفْسَكِ فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا مَادَامَتْ فِي مَجْلِسِهَا ذَالِكَ ف(۷۴)إِنْ قَامَتْ مِنْهُ أَوْ أَخَذَتْ فِي عَمَلٍ آخَرَ خَرَجَ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا (۷۵)وَإِنْ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فِي قَوْلِهِ إِخْتَارِيْ نَفْسَكِ كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً وَلَا يَكُوْنُ ثَلَاثًا وَإِنْ نَوَى الزَّوْجُ ذَالِكَ

ترجمه :که خاوند خپلې ښځې ته وویل اختاری نفسکِ په دي سره خاوند دطلاق نیت کړی وو او یاخاوند ورته وویل طلقی نفسکِ نوښځې ته اختیارشته چې خپل ځان ته طلاق ورکړي ترڅو چې په هغه مجلس کې وي او که هغه له مجلس څخه ولاړه شوه یاپه یوبل مجلس شروع شوه نواختیاریې له لاسه وځي او که ښځې په دغه مجلس کې خپل ځان مختارکړ دخاوند د اختاری ویلوپه صورت کې نودایوبائن طلاق کیږي اودرې طلاقونه نه کیږي که څه هم زوج دهغونیت کړی وي .

تشریح :(۷۳)که خاوند خپلې ښځې ته وویل اختاری نفسک (ته خپل ځان اختیارکړه) اوپه دي سره دخاوندنیت دطلاق وواویایې داسی ورته وویل طلقی نفسکِ (ته خپل ځان طلاق کړه) نودا ښځه چې ترڅوپه دغه مجلس کې وي خپل ځان طلاقولای شي .

(۷۴)که ښځه له دغه مجلس څخه ولاړه شوه یاپه یوبل کارمشغوله شوه نواختیاریې له لاسه وځي ځکه ښځې ته دطلاق اختیارورکول په حقیقت کې هغه دطلاق مالکه ګرځول دی اوتملیکات په هغه مجلس کې دجواب تقاضاکوي کمافی البیع ،ولی دمجلس ټولې ګړۍ دیوه ساعت په منزله دي لهذا ښځه په مجلس کې طلاق واقع کولای شي مګرد مجلس له بدلیدووروسته یې اختیارنه پاتیږي .

(۷۵)دخاوندله اختاری نفسکِ (ته خپل ځان اختیارکړه) ویلووروسته که ښځې په دغه مجلس کې خپل ځان اختیارکړنو دایوبائن طلاق کیږي ولی دښځې خپل ځان اختیارول هغه وخت ثابتیږي چې کله له نفس سره دښځې اختصاص ثابت شي یعنې دخاوندملک زائل شی اوښځه دخپل ځان مالکه شی ظاهره خبره ده چې داکارپه طلاق بائن سره حاصلیږي،که خاونددریو طلاقونونیت کړی وونودرې طلاقه نه واقع کیږي ځکه اختیارمنقسم واقسامو ته نه کیږي .

(۷۶)وَلَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ النَّفْسِ فِي كَلَامِهِ أَوْ فِي كَلَامِهَا

ترجمه :(په لفظ داختاری سره دطلاق واقع کیدولپاره) لفظ دنفس ذکرکول ضروري دی دخاوندپه کلام کې یادښځې په کلام کې .

تشريح :(۷۶)په لفظ داختاري سره دطلاق واقع کيدولپاره له زوجينوڅخه ديوه په کلام کې لفظ دنفس ذکرکول ضروري دی لکه چې خاونداختاري ووايې اوښځه په جواب کې اخترت ورته ووايې نوطلاق نه واقع کيږي ځکه بغيرذکردلفظ دنفس دښځې په قول اخترتُ کې احتمال شته چې ښځه خپل خاونداختياروي لهذاطلاق نه واقع کيږي .

(۷۷)وإنْ طَلَّقَتْ نَفْسَهَا في قَوْلِه طَلِّقِيْ نَفْسَكِ فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجعِيةٌ (۷۸) فَإنْ طَلَّقَتْ نَفْسَهَا ثَلاثاً وَقَدْ أرَادَ الزَوْجُ ذَالِكَ وَقَعْنَ عَلَيْهَا

ترجمه :اوکه دخاونددقول طلقي نفسکِ په جواب کې ښځه خپل ځآن ته طلاق ورکړي نوداېورجعي طلاق کيږي اوکه ښځې ځان ته درې طلاقونه ورکړل اوخاوندهم دهغونيت کړی وونودرې طلاقونه واقع کيږي .

تشريح :(۷۷)که دخاونددقول طلقي نفسکِ (ته خپل ځان طلاق کړه) په جواب کې ښځې خپل ځان ته طلاق ورکړنو يو رجعي طلاق کيږي ځکه تفويض دصريح طلاق دی اوپه صريح طلاق سره رجعی واقع کيږی .

(۷۸)که ښځې خپل ځان ته درې طلاقونه ورکړل اوخاوندهم ددې نيت کړی وونودرې واقع کيږي ځکه دطلقِي معنی افعَل فِعل الطّلاق ده اوطلاق مصدراسم جنس دی چې له هغه څخه يو طلاق مراديږی سره له احتمال دکل نوکه يې دکل نيت کړی وونودرې سره واقع کيږي که نه يو واقع کيږي .

دطلاق دتفويض بيان

(۷۹)وَإنْ قَالَ لَها طَلِّقِيْ نَفْسَكِ مَتىٰ شِئْتِ فَلَها أنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا فِي الْمَجْلِسِ وبَعْدَه (۸۰)وإنْ قَالَ لِرَجُلٍ طَلِّقْ امْرَأتِيْ فَلَه أنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ وبَعْدَه (۸۱)وإنْ قَالَ لَه طَلِّقْهَا إنْ شِئْتَ فَلَه أنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ خَاصَّةً

ترجمه :که خاوندخپلې ښځې ته ووېل طلقي نفسکِ متی شئتِ ،نوپه مجلس اووروسته ترمجلس دواړوکې ښځه دطلاق واقع کولواختيارلري اوکه يوه سړي بل ته ووېل طلق امرأتی نوهغه وکيل ته اختياردی چې داښځې ته په مجلس کې طلاق ورکوي که وروسته ترمجلس،که خاونديل سړي ته ووېل طلقها ان شئتِ نوهغه يواځې په مجلس کې طلاق ورکولای شي .

تشريح (۷۹)که خاوندخپلې ښځې ته ووېل طلقي نفسکِ متی شئتِ (ته خپل ځان طلاق کړه څه وخت چې دي خوښه وي) نوښځې لره اختيارشته که په مجلس کې طلاق واقع کوي ياترمجلس وروسته ځکه کلمه دمتی عامه ده ټولو وختونوته لهذاداسي شولکه خاوندچې خپلې ښځې ته ووايې طلقي نفسکِ فی ایّ وقتٍ شئتِ (ته خپل ځان طلاق کړه کوم وخت چې ستاخوښه وي) .

(۸۰)که یوسړي بل ته وویل چې طلق امرأتی (ته زما ښځه طلاقه کړه) نوهغه وکیل ته اختیارشته چې دده ښځې ته په مجلس کې طلاق ورکړي یاترمجلس وروسته ولی داتوکیل دی تملیک نه دی خاوندله وکیل څخه دطلاق په واقع کیدوکې دمرستې طلب کړی دی اوتوکیل پرمجلس منحصرنه وي .

(۸۱)که خاوندبل چاته وویل طلقهاان شئتِ (زماښځې ته طلاق ورکړه که ستاخوښه وه) نوداخالص په مجلس کې طلاق ورکولای شي ترمجلس وروسته یې نه شي ورکولای ځکه تعلیق بالمشیت تملیک دی توکیل نه دی اوتملیکات په هغه مجلس کې دجواب تقاضاکوي.

(۸۲)وَاِنْ قَالَ لَهَا اِنْ كُنتِ تُحِبِّينِي اَوْ تُبغِضِينِي فَاَنتِ طَالِقٌ فَقَالَتْ اَنَا اُحِبُّكَ اَوْ اُبغِضُكَ وَقَعَ الطَّلَاقُ وَاِنْ كَانَ فِي قَلبِهَاخِلَافُ مَااَظهَرَتْ(۸۳)وَاِنْ طَلَّقَ الرَّجُلُ اِمرَاَتَهُ فِي مَرَضِ مَوتِهِ طَلَاقًابَائِنًافَمَاتَ وَهِيَ فِي العِدَّةِ وَرِثَتْ مِنهُ(۸۴)وَاِنْ مَاتَ بَعدَانقِضَاءِعِدَّتِهَافَلَامِيرَاثَ لَهَا

ترجمه :که خاوندښځې ته وویل ان کنتِ تُحبِّينِي اوتُبغَضِينِي فَانتِ طَالِقٌ نوښځې ورته وویل انااحبک اوابغضک نوطلاق واقع کیږي که څه هم دهغې په زړه کې ددې خلاف وي چې دې په ظاهره ویلي دي اوکه سړي خپلې ښځې ته په مرض موت کې طلاق بائن ورکړبیادی مړشوپه داسې حال کې چې داپه عدت کې وه نوداله خپل خاوندڅخه میراث وړای شي اوکه خاوندښځې له عدت تیرولووروسته مړشونوبیاښځې لره میراث نشته .

تشریح :(۸۲)که خاوندښځې ته وویل ان کنتِ تحبینی اوتبغضینی فانتِ طَالِقٌ (که ته له ماسره محبت لرې یابغض لرې نوته طلاقه یې) ښځې ورته وویل انااحبک اوابغضک (زه له تاسره محبت یابغض لرم) نوطلاق واقع کیږي که څه هم دهغې په زړه کې دهغه خلاف وي چې په ظاهره وایې ولی چې کله دحقیقت حال علم متعذرشونوسبب ظاهریعنې اخبار(دښځې خبرورکول) دحقیقت حال دلیل بلل شوی دی .

(۸۳)که خاوندپه مرض موت کې خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړاوهغه ښځه په دې راضي نه وه بیاداسړی مړشوچې ښځه یې تراوسه لاپه عدت کې ده اوښځه مستحقه دوراثت هم ده نودادخپل خاوندوارثه ګرځي (دې ته طلاق فارّوایې) ولی دخاوندپه مرض وفات کې دښځې حق دهغه له مال سره متعلق کیږي نوپه دغه حالت کې چې خاوندطلاق بائن ورکړدهغې دوراثت دحق باطلولواراده یې کړې ده لهذاددې غلطه اراده بیرته پرده ورګرځي په دې ډول چې دطلاق عمل دعدت تیرولوتروخته مؤخرکړای شوی دی چې له ښځې څخه دحِرمان وراثت ضرردفع شي .

(۸۴)که خاونددښځې ترعدت تیرولووروسته مړشونوبیاښځې لره میراث نشته .

الالغاز :قال لامرأته ان خرجتِ من هذاالماءِ وهی فی نهرجارٍ فانت طَالِقٌ فماالحیلة ؟

فقل :تخرج ولایحنث لان الماء الذی کانت فیه زال بالجریان . (الاشباه والنظائر) .

(۸۵)وَاِذَاقَالَ لِامْرَاَتِهٖ اَنْتِ طَالِقٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى مُتَّصِلًا لَمْ يَقَعِ الطَّلَاقُ عَلَيْهَا

ترجمه :که خاوند ښځې ته وویل انت طالق متصل یې ان شاء الله ورسره وویل نو طلاق نه واقع کیږي .

تشریح :(۸۵)که خاوند ښځې ته وویل انت طالق ان شاء الله تعالی (ته طلاقه یې ان شاء الله) اولفظ دان شاء الله یې له انت طالق سره متصل ووایه نو طلاق نه واقع کیږي ځکه په داسی شرط سره تعلیق چې دهغه وجود معلوم نه وي ابتداء دکلام لره مغیروي په دي وجه دان شاء الله د متصل ویلو شرط ایښودل شوی دی .

(۸۶)وَاِنْ قَالَ لَهَا اَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا اِلَّا وَاحِدَةً طُلِّقَتْ ثِنْتَيْنِ(۸۷)وَاِنْ قَالَ ثَلَاثًا اِلَّا ثِنْتَيْنِ طُلِّقَتْ وَاحِدَةً

ترجمه :که چاچیلې ښځې ته وویل انت طالق ثلاثا الا واحدة نو دوه طلاقه واقع کیږي اوکه یې انت طالق ثلاثا الا اثنین وویل نو یو طلاق واقع کیږي .

تشریح :(۸۶)که چاچیلې ښځې ته وویل انت طالق ثلاثا الا واحدة (تا لره درې طلاقه دي مګریو) نو دوه واقع کیږي .

(۸۷)اوکه یې ورته وویل انت طالق ثلاثا الا اثنین (تا لره درې طلاقه دي مګردوه) نو یو طلاق واقع کیږي،حاصل دا چې استثناء وایې تکلم بالباقی بعد الاستثناء ته نو د صحت استثناء شرط دادی چې وروسته تر استثناء په مستثنی منه کې څه شی پاتی شی چې متکلم په باقی مانده سره متکلم شي حتّی که خاوند وویل انت طالق ثلاثا الا ثلاثا (تا لره درې طلاقه دي مګردرې) نو درې واړه طلاقونه واقع کیږي ځکه تر استثناء وروسته هیڅ شی پاتی نه دی چې په هغه سره متکلم تکلم وکړي .

(۸۸)وَاِذَا مَلَكَ الزَّوْجُ امْرَاَتَهٗ اَوْ شِقْصًا مِنْهَا(۸۹)اَوْ مَلَكَتِ الْمَرْاَةُ زَوْجَهَا اَوْ شِقْصًا مِنْهُ وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُمَا

ترجمه :که خاوند د خپلې منکوحې مالک شو یا د هغی دیو جزء مالک شو یا ښځه د خپل خاوند مالکه شوه یا د هغه دیو جزء مالکه شوه نو د دوئ ترمنځ فرقت راځي .

تشریح :(۸۸)که خاوند د خپلې منکوحې (چې هغه د بل چا مینځه وه) مالک شو یا د هغی دیو جزء مالک شو .
(۸۹)یا ښځه د خپل خاوند(چې د بل چا مریی وو) مالکه شوه یا د هغه دیو جزء مالکه شوه نو په دي دواړو صورتونو کې د دواړو ترمنځ فرقت بغیر طلاق واقع کیږي ځکه د مِلک نکاح او مِلک یمین ترمنځ منافات دی .

كتَابُ الرَّجعة

داکتاب درجعة په بيان کې دی

رجعت،دراء په زبراوزيرسره مګرپه زبرسره لوستل افصح دی رَجَعَ يَرجِعُ له باب دضَرب څخه معنی يې ګرځيدل،ويل کيږي اِلی اللهِ مَرجِعُکم ،په اصطلاح دشريعت کې مِلک نکاح چې دعدت په دوران کې قائم دی،برقرارساتلوته رجعت وايي.

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې رجعت ترطلاق طبعًامؤخردی ځکه يې وضعًاهم مؤخرکړچې وضع دطبع موافق شي.

(١)وَاِذَاطَلَّقَ الرَّجُلُ اِمرَاَتَه تَطلِيقَةً رَجعِيَةً اَوتَطلِيقَتَينِ فَلَه اَن يُرَاجِعَهَا فِی عِدَّتِهَا رَضِيَتِ المَرأةُ بِذَالِکَ اَولَم تَرضَ

ترجمه :که خاندخپلې (مدخول بها) ښځې ته يوطلاق رجعی يادوه طلاقه رجعی ورکړل نوخاوندته اختيارشته چې دی دې ښځې ته دهغې په عدت کې مراجعت وکړي که ښځه په دې راضي وي اوکه نه وي.

تشريح :(١)که خاوندخپلې مدخول بهاښځې ته يورجعي طلاق يادوه رجعي طلاقونه ورکړل نوخاوندته اختيار شته چې دی دې ښځې ته دهغه په عدت کې دننه مراجعت وکړي که ښځه په دې کارخوښه اوکه ناخوښه ځکه زوجيت تراوسه باقي دی ولي خاونداوس هم پردې ښځه ظهار،ايلاء،لعان اوطلاق واقع کولای شي اوترڅوچې عدت باقي وي زوجين يودبل وارث ګرځي دادزوجيت دبقاء دليل دی لهذاسړي لره رجعت جائزدی.

(٢)وَالرَّجعَةُ اَن يَقُولَ لَهَارَاجَعتُکِ اَورَاجَعتُ اِمرَاَتِي اَويَطَاَهَا اَويُقَبِّلَهَا اَويَلمَسَهَا بِشَهوَةٍ اَويَنظُرَ اِلی فَرجِهَا بِشَهوَةٍ

ترجمه :اوررجعت دادی چې سړی ښځې ته ووايي راجعتک اورجعت امرأتی ياله هغې سره وطی وکړي يامچه ورڅخه واخلي ياپې په شهوت سره مس کړي يادهغې فرج ته په شهوت وګوري.

تشريح :(٢)رجعت په قول اوفعل دواړوسره کيدای شي،رجعت قولی لکه خاوندچې ووايي رَاجَعتُکِ (ماتاته رجوع کړې ده) که ښځه حاضره وي اوراجعت امرأتی (ماخپلې ښځې ته رجوع کړې ده) که ښځه غائبه وه داالفاظ په رجعت کې صريح دي ځکه نيت ته احتياج نه لري اورجعت فعلی لکه دسړي له ښځې سره وطی کول،مچه ترې اخيستل،په شهوت سره لاس وروړل ،اودفرج داخل ته په شهوت سره کتل ،اوهرهغه عمل چې په هغه سره حرمت مصاهرة ثابتيږي په هغه سره رجعت هم ثابتيږي مګررجعت مکروه دی ځکه نوله هغه وروسته مراجعت قولی مستحب دی.

(٣)وَيُستَحَبُّ لَه اَن يُشهِدَ عَلَی الرَّجعَةِ شَاهِدَينِ (٤)وَاِن لَم يُشهِد صَحَّتِ الرَّجعَةُ

ترجمه :زوج لره مستحب دی چې پررجعت دوه ګواهان قائم کړي اوکه ګواهان نه وي هم رجعت صحيح دی.

تشریح :(۳)زوج لره مستحب دی چې پررجعت دوه وګواهان ودروي یعني دومسلمانانوسړوته ووایي چې تاسې ګواهان شئ ماخپلې ښځې ته رجوع کړې ده .

(۴)که خاوندګواهان ونه درول نوهم رجعت صحیح دی ځکه رجعت دنکاح دبرقرارساتلونوم دی اودنکاح دبرقرارساتلولپاره شهادت شرط نه دی لهذادرجعت لپاره هم شهادت شرط نه دی .

(۵) وَإِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ فَقَالَ قَدْ كُنْتُ رَاجَعْتُهَا فِي الْعِدَّةِ فَصَدَّقَتْهُ فَهِيَ رَجْعَةٌ (۶) وَإِنْ كَذَّبَتْهُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا (۷) وَلَا يَمِينَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۸) وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ قَدْ رَاجَعْتُكِ فَقَالَتْ مُجِيبَةً لَهُ قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي لَمْ يَصِحِّ الرَّجْعَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه :که له عدت تیرولووروسته خاوندوویل چې ماښځې ته په عدت کې مراجعت کړی دی اوښځې دسړي تصدیق وکړنورجعت ثابتیږي اوکه ښځې تکذیب وکړنودښځې قول معتبریږي اودښځې دانکارپه صورت کې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپرښځه قسم نشته که خاوندخپلې ښځې ته وویل چې ماتاته رجوع کړې ده ښځې متصلاجواب ورکړچې زماعدت تیره شوې ده نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدرجعت نه صحیح کیږي .

تشریح :(۵)که له عدت تیریدووروسته خاوندخپلې ښځې ته وویل چې ماتاته په عدت کې رجوع کړې ده اوښځې دده تصدیق وکړنورجعت ثابتیږي .

(۶)که ښځې تکذیب وکړنودښځې قول معتبریږي وجه یې داده چې خاونددداسې شي خبرورکړی دی چې دهغه انشاء دی فی الحال نه شي کولای نودی پکې متهم کیږي مګردښځې په تصدیق کولوسره تهمت لیرې کیږي ځکه دتصدیق په صورت کې رجعت ثابتیږي .

(۷)دښځې په انکارپه صورت کې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپرښځه قسم نشته اودصاحبینورحمهماالله په نزدښځې ته قسم ورکول کیږي ،داله هغواتومسائلوڅخه ده په کوموکې چې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزداستحلاف نشته . (دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی)

(۸)که خاوندخپلې ښځې ته وویل چې ماتاته رجعت کړی دی ښځې متصلاپه جواب کې ورته وویل چې زماعدت تیره شوې ده نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدرجعت نه صحیح کیږي ځکه دعدت تیریدوپه خبرکې امینه ده .

(۹) وَإِذَا قَالَ زَوْجُ الْأَمَةِ بَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا قَدْ كُنْتُ رَاجَعْتُكِ فِي الْعِدَّةِ فَصَدَّقَهُ الْمَوْلَى وَكَذَّبَتْهُ الْأَمَةُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه :که دمنځې خاوندهغې ته له عدت تیریدووروسته وويل چې ماتاته په عدت کې رجوع کړې ده دمنځې مولی دهغه تصدیق وکړاوخپله منځې دهغه دتکذیب وکړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددمنځې قول معتبریږي .

تشریح :(۹)که دمنځې خاوندهغې ته له عدت تیریدووروسته وويل چې ماتاته په عدت کې رجوع کړې ده دمنځې مولی دهغه تصدیق وکړاوخپله منځې دهغه دتکذیب وکړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددمنځې قول معتبریږي ،دصاحبینو رحمهما الله پر نزددمولی قول معتبردی .

دصاحبینورحمهماالله دليل دادی چې له عدت تیریدووروسته منافع دبضع دمولی مملوک دي نودخاوندلپاره دمنافع بضع اقرارکول خالص پخپل حق کې اقراردی داداسي دی لکه مولی چې پرخپله منځه دنکاح اقراروکړي مثلاً ووايې چې مادخپلې منځې نکاح له فلان سړي سره وکړه نوپه دغه اقرارکې دمولی قول معتبردی،دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې درجعت حکم پربقاء دعدت اوتیریدلودعدت مبنی دی اودعدت په بقاء اوعدم بقاء کې دښځې قول معتبردی نوکوم شی چې پرعدت مبنی وي یعنې رجعت په هغه کې هم دښځې قول معتبریږي .(دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۱۰)وَإِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ لِعَشَرَةِ أَيَّامٍ انْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا وَإِنْ لَمْ تَغْتَسِلْ (۱۱)وَإِنِ انْقَطَعَ الدَّمُ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ لَمْ تَنْقَطِعِ الرَّجْعَةُ حَتَّى تَغْتَسِلَ أَوْ يَمْضِيَ عَلَيْهَا وَقْتُ صَلَوةٍ أَوْ تَتَيَمَّمَ وَتُصَلِّيَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ إِذَا تَيَمَّمَتِ الْمَرْأَةُ انْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ وَإِنْ لَمْ تُصَلِّ

ترجمه :کله چې ددریم حیض وینه پرلسوورځوبنده شي نورجعت ختمیږي اوعدت پوره کیږي که څه هم غسل يې نه وي کړی اوکه وینه ترلسوورځوکمه بنده شوه نورجعت نه منقطع کیږي ترهغه چې غسل کوي یادیوه لمانځه وخت پرې تیرشي یاتیمم وکړي لمونځ اداکړي دادشیخینورحمهماالله مسلک دی ،امام محمد رحمه الله فرمايلي دي چې کله ښځه تیمم وکړي نورجعت ختمیږي که څه هم لمونځ يې نه وي کړی .

تشریح :(۱۰)که پرپوره لس ورځې دځږې ښځې ددریم حیض اودمنځې ددوهم حیض وینه بنده شي نورجعت منقطع کیږي اودښځې عدت ختمیږي که څه هم ښځې غسل نه وي کړی .

(۱۱)که ترلسوورځوکم وینه بنده شي نوخالص دوینې په بندیدوسره رجعت نه منقطع کیږي ترهغه چې دابښځه غسل کوي یادیو لمانځه وخت پرې تیرشي ،ځکه درجعت ختم کیدل دعدت پرتیریدلوموقوف دی اودعدت تیریدل موقوف دی له دریم حیض څخه ترفارغ کیدواوله دریم حیض څخه فارغ کیدل موقوف دی ترحصول دطهارت پوري،که دحیض ورځې پوره لس ورځې وي نوطهارت په محض وینه بندیدوسره حاصلیږي ځکه حیض ترلسوورځوزیات احتمال نه لري لهذادلسوورځودپوره کیدوپه صورت کې خالص

دوينې په بنديدو سره دا ښځه له حيض څخه فارغه کيږي او دهغې عدت هم تيريږي او د رجعت حکم هم منقطع کيږي که غسل وکړي او که نه، او ترلسو ورځو کم که د دريم حيض وينه بنده شوه نو ځرنګه چې په دې صورت کې دوينې دراګرځيدو احتمال شته ځکه نوضروري دی چې دانقطاع دم حکم ته قوت ورکړي په غسل ورکولو سره او يا دپاکو ښځو له احکامو څخه ديوه حکم په لازميدو سره مثلاً چې کله پردغه ښځه دلمانځه وخت تير شو نو لمونځ دهغې پرذمه دين شو او دا د پاکو ښځو له احکامو څخه دی.

که دمعتده رجعيه د دريم حيض وينه ترلسو ورځو کم بنده شوه بيا دعذر په وجه دې ښځې تيمم وکړ لمونځ يې اداکړ يا فرض لمونځ يا نفل نو دشيخينو رحمهما الله په نزد استحساناً رجعت منقطع شو يعنې انقطاع د رجعت په تيمم او لمانځه دواړو سره راځي، دامام محمد رحمه الله په نزد خالص په تيمم کولو سره هم رجعت ختميږي.

دامام محمد رحمه الله دليل دادی چې دعذر په وخت کې تيمم طهارت مطلقه دی لکه په تيمم سره هغه ټول احکام ثابتيږي کوم چې په غسل سره ثابتيږي لهذا د غسل چې کوم حکم دی هغه د تيمم هم دی.

دشيخينو رحمهما الله دليل دادی چې تيمم په حقيت کې ملوِث دی نه مطهِّر ليکن شريعت دبناء برضرورت (چې واجبات دهغه پرذمه ځوچنده نه شي) هغه مطهِّر معتبر کړی دی نوضرورت خو دلمانځه داداء په وخت کې متحقق کيږي نه ترهغه مخکې لهذا بغيرله اداء دلمانځه طهارت ته اعتبار نشته. (دامام محمد رحمه الله قول راجح دی).

(۱۲) وَإِنْ اغْتَسَلَتْ وَنَسِيَتْ شَيْئًا مِنْ بَدَنِهَا لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ فَإِنْ كَانَ عُضْوًا كَامِلًا فَمَا فَوْقَهُ لَمْ تَنْقَطِعِ الرَّجْعَةُ (۱۳) وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ انْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ

ترجمه: او (که ترلسو ورځو کم له وينې بنديدو وروسته) ښځې غسل وکړ او دبدن څه حصه يې هيره شوې وه چې اوبه نه يې پرې تویَ کړې نو که هغه حصه يوه عضو کامله يا ترهغه زيات وي نو رجعت نه منقطع کيږي او که هغهٔ حصه تريوه عضو کم وي نو رجعت منقطع کيږي.

تشريح: (۱۲) که ترلسو ورځو کم وينه بنده شوه وروسته ښځې غسل وکړ او دبدن څه حصه يې هيره شوه چې پرهغه يې اوبه نه دي اچولي که چيرته دا حصه يو اندام يا زيات وي نو رجعت نه منقطع کيږي ځکه دغسل نه کيدو په وجه عدت باقي ده.

(۱۳) که دا حصه تريوه اندام کمه وي نو رجعت منقطع کيږي دا حکم استحساناً دی، وجه داستحسان داده په عضو کامل او مادون العضو کې وجه دفرق ده چې ترعضو کم دقلت په وجه ژر وچيږي نو هغې حصې ته داوبو نه رسيدلو يقين نه شي کيدای ولی کيدای شي چې هغه حصه يې پرېمنځلې وي مګر ژر بيرته وچه شوې وي، ځکه مونږ په احتياط دعمل کولو په خاطر وويل چې د رجعت حکم منقطع شوی دی ددې برخلاف که کامله

عضوه وچه پاتی وي نودرجعت حکم نه منقطع کيږي ځکه عضو کامله ژرنه وچيږي اودعاګاله کامل عضوځخه انسان غافل کيږي هم نه لهذاداويل کيږي چې تراوسه يې هغه حصه نه ده پريمنځلې نوچې کله داسي ده نودغسل دنامکمل کيدوپه وجه عدت باقی ده .

(۱۴)وَالْمُطَلَّقَةُ الرَّجْعِيَّةُ تَتَشَوَّفُ وَتَتَزَيَّنُ (۱۵)وَيُسْتَحَبُّ لِزَوْجِهَا أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَيْهَا حَتَّى يَسْتَأْذِنَهَا أَوْ يُسْمِعَهَا خَفْقَ نَعْلَيْهِ

توجمه :کومې ښځې ته چې رجعی طلاق ورکړی شوی دی هغی ته پکاردی چې دزوج لپاره ځان آراسته اوښائسته کړي اودهغی خاوندته مستحب دادی چې پرهغی ورداخل نه شي ترڅوچې یااجازه ورځخه وغواړي یادبوټوترپی یې ورواوروي.

تشريح :(۱۴) کومې ښځې ته چې رجعی طلاق ورکړی شوی دی هغی ته پکاردی چې دزوج لپاره ځان آراسته اوښائسته کړي ځکه دهغوئ ترمنځ زوجيت قائم دی اورجعت مستحب دی اوتزيين يې داعي دی .

(۱۵)که دخاونداراده دمراجعت نه وي نوهغه لره مستحب دی داچې دښځې له خبرولويادبوټوپه ترپې وراورولوبغيرهغی ته ورنه شي ځکه ښځه اکثروخت په کورکې لوڅه ناسته وي نودخاوندنظربه پرداسی ځای ولګيږي چې په هغه سره رجعت ثابتيږي بيابه طلاق ورکوي نوبلاوجه به دښځې درازه شي .

(۱۶)وَالطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ لَا يُحَرِّمُ الْوَطْءَ (۱۷)وَإِنْ كَانَ طَلَاقًا بَائِنًا دُوْنَ الثَّلٰثِ فَلَهٗ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا فِي عِدَّتِهَا وَبَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا

توجمه :اوطلاق رجعی وطی نه حراموي اوکه خاوندتردريوکم طلاقونه (يويادوه) طلاقه بائن ورکړي وونوبياخاوندته اختياردی که له معتدې سره په عدت کې نکاح کوي اوکه له عدت تيريدووروسته .

تشريح :(۱۶)طلاق رجعی وطی نه حراموي ځکه طلاق رجعي مِلک نکاح نه زائلوي همداوجه ده چې دښځې له رضامندي بغيرخاوندهغی ته مراجعت کولای شي .

(۱۷)که خاوندتردريوکم يويادوه طلاقه بائن ورکړي وونوبياخاوندته اختياردی که له معتدې سره په عدت کې نکاح کوي اوکه له عدت تيريدووروسته ،ځکه ښځه محل دنکاح ده اوحلت محل تراوسه باقی دی ولی دحلت زوال پردريم طلاق معلق دی اومعلق بالشرط دشرط تروجودمخکې معدوم وي نوچې حلت محل ثابت شونوخاوندلره نکاح کول هم حلاله ده .

(۱۸)وَلَوْ كَانَ الطَّلَاقُ ثَلَاثًا فِي الْحُرَّةِ أَوِ اثْنَتَيْنِ فِي الْأَمَةِ لَمْ تَحِلَّ لَهٗ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ نِكَاحًا صَحِيْحًا وَيَدْخُلَ بِهَا ثُمَّ يُطَلِّقَهَا أَوْ يَمُوْتَ عَنْهَا (۱۹)وَالصَّبِيُّ الْمُرَاهِقُ فِي التَّحْلِيْلِ كَالْبَالِغِ (۲۰)وَوَطْءُ الْمَوْلٰى أَمَتَهٗ لَا يُحِلُّهَا

ترجمه :كه يې خُرې ښځې ته درې طلاقونه وركړي وواومنځې ته دوه طلاقه نوبيادابنځه خاوندته نه حلاليږي ترڅوچې داله بل خاوندسره صحيح نكاح وكړي اوهغه په دي سره دخول وكړي بياهغه ياطلاق وركړي يامړشي اومراهق هلک په تحليل کې دبالغ په شان دى اومولى چې له مطلقى منځې سره وطى كوي په هغه سره منځه نه حلاليږي .

تشريح :(۱۸)كه خاوندخپلې حرې ښځې ته دَرې طلاقه وركړل ياپې منكوحې منځې ته دوه طلاقه وركړل نودابنځه خاوندته نه حلاليږي ترهغه چې له بل چاسره صحيح نكاح وكړي اوهغه په دي سره دخول وكړي بياهغه ياطلاق وركړي يامړشي اوښځه عدت تيره كړي لقوله تعالى (فَاِنْ طَلَّقَهَافَلَاتَحِلُّ لَه مِنْ بَعْدُحَتّٰى تَنْكِحَ زَوجًاغَيْرَہ) يعنې بياله دوطلاقوروسته كه خاونددريم طلاق وركړنومطلقه دي خاوندته نه ده حلاله ترهغه چې له بل خاوندسره نكاح كوي .

اوله نكاح كولوڅخه مراددبل زوج له هغى سره وطى كول دى .

(۱۹)مراهق (وَهُوَالذى تَتَحركُ آلته وتَشتَهِى وَقَدَّرہ شمس الائمة بِعَشرِسِنِين) چې له مطلقه ثلاثه سره نكاح وكړي وطى وكړي نوزوج اول ته په حلالولو كې دبالغ په حكم كې دى ځكه له مراهق سره نكاح صحيح وشوه وطى راغله اودتحليل لپاره همدا شرط دى انزال نه دى شرط .

(۲۰)كه چاخپلې داسى ښځې ته دوه طلاقه وركړل چې هغه دبل چامنځه وه بياله عدت تيريدووروسته دهغى منځې مولى له هغى سره وطى وكړه نودابنځه زوج اول ته نه حلاليږي ځكه دزوج دوطى كولوشرط په نص سره ثابت دى وهوقوله تعالى (حَتّٰى تَنكِحَ زَوجًاغَيره) اومولى زوج نه دى .

الالغاز :اى مطلقة ثلاثادخل بهاالثانى ولم تحل ؟

فقل :اذاكان العقدفاسدا . (الاشباه والنظائر)

(۲۱)وَاِذَاتَزَوَّجَهَابِشَرطِ التَّحْلِيْلِ فَالنِّكَاحُ مَكْرُوْهٌ(۲۲)فَاِنْ طَلَّقَهَابَعْدَوَطْئِهَاحَلَّتْ لِلْاَوَّلِ

ترجمه :كه چاله هغى ښځې سره چې درې طلاقه وركړل شوي ووپه شرط دتحليل نكاح وكړه نودانكاح مكروه ده اوكه يې هغى ته طلاق وركړله وطى وروسته نوزوج اول ته حلاليږي .

تشريح :(۲۱)كه چادبل چاله مطلقه مغلظه سره دتحليل لپاره نكاح وكړه نودانكاح مكروه ده .

(۲۲)ليكن كه هغه وطى ورسره وكړه ترهغه وروسته يې طلاق وركړنوزوج اول ته حلاليږي ځكه په نكاح صحيح كې دخول راغى ،كه څه هم دى صراحةً ورته ووايې :زَوجتکِ عَلى ان اُحللکِ (يعنې ماله تاسره نكاح كړې ده په دي شرط چې تاوزوج اول ته حلاله كړم) مګرداسى كول مكروه تحريمى دى لِحدِيث رَسُول الله

لعن الله المُحلل والمحلل له (الله تعالى لعنت کړی دی پرحلاله کونکي اوپرهغه دچاليپاره چې حلاله کړای کيږي .

(۲۳) وَإِذَا طَلَّقَ الْحُرَّةَ تَطْلِيقَةً أَوْ تَطْلِيقَتَيْنِ وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا وَتَزَوَّجَتْ بِزَوْجٍ آخَرَ فَدَخَلَ بِهَا ثُمَّ عَادَتْ إِلَى الْأَوَّلِ عَادَتْ بِثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ وَيَهْدِمُ الزَّوْجُ الثَّانِي مَا دُونَ الثَّلَاثِ كَمَا يَهْدِمُ الثَّلَاثَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَهْدِمُ الزَّوْجُ الثَّانِي مَا دُونَ الثَّلَاثِ

ترجمه :که چاخپلې حُرې ښځې ته درې طلاقونه ورکړل اوهغې له خپلې عدت تيريدووروسته له بل خاوندسره نکاح وکړه اوهغه په دي دخول وکړبيرته دزوج اول طرف ته وګرځيده نودا ښځه (لومړي خاوندته) له دريوطلاقونوسره راځي دشيخينو رحمهماالله په نزدزوج ثانی تردريوکم طلاقونه منهدم کوي لکه چې درې منهدم کوي اودامام محمد رحمه الله په نزدزوج ثانی تردريوکم طلاقونه نه منهدم کوي .

تشريح :(۲۳)که چاخپلې حُرې ښځې ته يويادوه طلاقونه ورکړل ښځې عدت تيره کړه وروسته ترعدت تيرولوبې له بل خاوندسره نکاح وکړه هغه هم طلاقً ورکړښځې عده تيره کړه بيابې بيرته له اول زوج سره نکاح وکړه نودا ښځه اول زوج ته له دريوطلاقونوسره راځي يعني زوج اول ازسرنوددريوطلاقونومالک کيږي .

دشيخينورحمهماالله په نزدزوج ثاني تردريوطلاقونوکم داسی مندهم کوي لکه درې چې منهدم کوي ځکه چې کله درې منهدم کوي نوتردريوکم خوپه طريقه اولی منهدم کوي،دامام محمد رحمه الله په نزدزوج ثاني تردريوطلاقونوکم نه شي منهدم کولای بلکې دا ښځه که اول زوج ته ځي نودی به دمابقی من الثلاث مالک وي (دامام محمد رحمه الله قول راجح دی) .

(۲۴) وَإِذَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فَقَالَتْ قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي وَتَزَوَّجْتُ بِزَوْجٍ آخَرَ وَدَخَلَ بِيَ الزَّوْجُ الثَّانِي وَطَلَّقَنِي وَانْقَضَتْ عِدَّتِي وَالْمُدَّةُ تَحْتَمِلُ ذَالِكَ جَازَ لِلزَّوْجِ الْأَوَّلِ أَنْ يُصَدِّقَهَا إِذَا كَانَ غَالِبُ ظَنِّهِ أَنَّهَا صَادِقَةٌ

ترجمه :که چاخپلې ښځې ته درې طلاقونه ورکړل بياښځې وويل چې زماعدت تيره شوه اوماله بل خاوندسره نکاح وکړه هغه په مادخول وکړاوماته يې طلاق راکړاوزماعدت تيره شوه حال داچې دازمانه ددي تولوشيانواحتمال هم لري نواول زوج ته جائزدی چې دی ددې ښځې تصديق وکړي په دې شرط چې غالب ګمان يې دهغې دريښتينوالي وي .

تشريح :(۲۴)که چاخپلې حُرې ښځې ته درې طلاقونه ورکړل څه تيريدونه پس ښځې وويل چې زماعدت تيره شوه اوماله بل خاوندسره نکاح وکړه هغه په مادخول وکړاوماته يې طلاق راکړاوزماعدت پوره شوه حال

داچې دا ښځه چې کومه موده بیانوي دا زمانه ددي تولو شیانو احتمال هم لري نو اول زوج ته جائزدی چې ددي ښځې تصدیق وکړي په دي شرط چې غالب گمان یې دهغې درېښتینوالي وي ځکه نکاح معامله ده یاامردینی دی ،معامله ځکه ده چې بضع ددخول په وخت متقوم وي اوامردینی ځکه دی چې له نکاح سره حلت متعلق دی اوپه دي دواړوکې خبرواحد مقبول دی.

كِتَابُ الْأَيلاءِ

داکتاب دایلاء په بیان کې دی

ایلاء،آلی یولی ایلاءً ځخه په معنی دقسم خوړلو،اوشرعًاترڅلورومیاشتوزیات خپلې منکوحې ته دنه ورتګ قسم خوړلوته وایې ،دکتاب الایلاء له ماقبل سره مناسبت دادی چې دښځې دتحریم څلورطریقې دي یعنې طلاق،ایلاء،ظهار،لعان، په دغوڅلوروکې یې ترټولولومړی طلاق ذکرکړی دی ځکه طلاق په طرق دتحریم کې اصل دی اوپخپل وخت کې مباح دی بیا ایلاء ذکرکړای شوي ده ځکه ایلاء په اباحت کې طلاق ته قریبه ده ولی دادیمین کیدوپه حیثیت مشروع ده مګرپه دي کې دښځې له حق وطی ځخه دځان منع کولوپه وجه دظلم معنی هم شته په دي وجه یې ترطلاق وروسته ذکرکړی دی.

(۱) وَإِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ وَاللهِ لَا أَقْرَبُكِ أَوْ لَا أَقْرَبُكِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ فَهُوَ مُولٍ

ترجمه :چې کله خاوند خپلې ښځې ته ووایې والله که درنژدي شوم یاوالله که زه ترڅلورومیاشتوتاته نژدي درشم نو دا سړی ایلاء کونکی کیږي.

تشریح :(۱)که خاوندخپلې ښځې ته وویل والله که زه تاته نژدي درشم یاوالله که زه له تاسره جماع وکړم یاوالله که زه ترڅلورومیاشتوپورې تاته درنژدي شم یاداچې که زه تاته درنژدي شوم نوپرمادي حج وي یازمامریی آزاددی یاته طلاقه یې نو دا سړی ایلاء کونکی شمارل کیږي لقوله تعالی (وَالَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ) یعنې هغه کسان چې له خپلوښځوسره ایلاء کوي دهغوئ لپاره څلورمیاشتې انتظاردی.

(۲) فَإِنْ وَطِئَهَا فِي الْأَرْبَعَةِ الْأَشْهُرِ حَنِثَ فِي يَمِينِهِ وَلَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ وَسَقَطَ الْإِيلَاءُ (۳) وَإِنْ لَمْ يَقْرَبْهَا حَتّٰى مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ بَانَتْ مِنْهُ بِتَطْلِيقَةٍ وَاحِدَةٍ

ترجمه :که خاوندپه څلورمیاشتې کې دننه له دي ښځې سره وطی وکړه نوحانث کیږي اوپرخاوندکفاره یمین واجبیږی اوایلاء ساقطیږی اوکه خاوندپه موده دایلاء کې ښځې ته نژدي نه ورغی ترڅوچې څلورمیاشتې تیرې شوې نو دا ښځه له ده ځخه په یوه طلاق سره بائنه ګرځي.

تشريح :(۲)که خاوند په موده دایلاء یعنې څلورمیاشتې دننه کې له دې ښځې سره وطی وکړه نو بخپل قسم کې حانث کیږي دمحلوف علیه فعل دارتکاب په وجه اوپرخاوندکفاره یمین واجبیږي اوایلاء ساقطیږي دایلاء دساقطیدومطلب دادی چې که څلورمیاشتې تیري شي نوطلاق نه واقع کیږي ځکه دحانث کیدوپه وجه یمین باقي نه پاتیږي اودیمین نوم دی ایلاء،نوچې یمین نه شوپاتی نوایلاء هم نه پاتیږي .

(۳)که خاوندپه موده دایلاء کې ښځې ته نژدې نه ورغی حتی چې څلورمیاشتې تیري شوي نودا ښځه پردغه خاوندپه یوه طلاق سره بائنه کیږي ځکه خاونددښځې حق جماع په منع کولوسره پرهغې ظلم کړی دی نوشریعت خاوندته ددې ظلم بدله داسې ورکړه چې دایلاء له مودې وروسته یې نعمت دنکاح ورڅخه زائل کړ.

(۴)فَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَقَدْ سَقَطَتِ الْيَمِينُ (۵)وَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى الْأَبَدِ فَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ فَإِنْ عَادَ فَتَزَوَّجَهَا عَادَ الْإِيلَاءُ (۶)فَإِنْ وَطِئَهَا لَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ وَإِلَّا وَقَعَتْ بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ تَطْلِيقَةٌ أُخْرَى (۷)فَإِنْ تَزَوَّجَهَا ثَالِثًا عَادَ الْإِيلَاءُ وَوَقَعَتْ عَلَيْهَا بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ تَطْلِيقَةٌ أُخْرَى (۸)فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ لَمْ يَقَعْ بِذَلِكَ الْإِيلَاءِ طَلَاقٌ وَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ (۹)فَإِنْ وَطِئَهَا كَفَّرَ عَنْ يَمِينِهِ (۱۰)فَإِنْ حَلَفَ عَلَى أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ لَمْ يَكُنْ مُوْلِيًا

ترجمه :که یې قسم خوړلی وو پرڅلورومیاشتونویمین ساقطیږي اوکه یې دهمیشه قسم کړی وونویمین باقي پاتی دی بیاکه دی دوباره نکاح وکړي نوایلاء راګرځي که خاوندوطی ورسره وکړه نوپرخاوندکفاره لازمیږي که نه دڅلورومیاشتوپه تیریدوسره دوهم طلاق واقع کیږي که یې دریم ځل نکاح وکړه نوایلاء راګرځي اودڅلورومیاشتوپه تیریدوسره دریم طلاق واقع کیږي بیاکه هغې سره دزوج ثاني وروسته نکاح وکړي نوپه دې ایلاء سره طلاق نه واقع کیږي اوقسم باقي دی که یې وطی ورسره وکړه نودقسم کفاره به ورکوي اوکه دڅلورومیاشتوکم قسم وخوري نوداسړی ایلاء کونکی نه بلل کیږي .

تشريح :(۴)که څلورمیاشتې تیرې شوې خاوندله ښځې سره وطی ونه کړه نوددې دوه صورتونه دي یوداچې څلورمیاشتې یې ښځې ته دنه ورنژدې کیدوقسم خوړلی وي (۵)دوهم داچې دهمیشه لپاره دنژدې نه ورتلوقسم خوړلی وي په لومړي صورت کې دڅلورومیاشتوپه تیریدوسره قسم ساقطیږي ځکه په دې صورتکې قسم دڅلورومیاشتوپه مودسره موقت وولهذاددې مودې په تیریدوسره قسم ساقطیږي .

په دوهم صورت کې که څلور میاشتې بلا وطی تیرې شوې نو پرښځه یوبائن طلاق واقع کیږي اوقسم باقي دی ځکه په دي صورت کې قسم په وخت سره مقیدنه دی لهذاایمین مؤبد کیږي اودموجب حنث (یعنې وطی) دنه وجودپه وجه خاوند حانث کیږي هم نه چې قسم مرتفع شی ځکه نویمین پرخپل حال پاتی دی.

(۶)که له بینونت اوعدت تیرولوو روسته ایلاء کونکي بیاله دغي ښځې سره نکاح وکړه نوایلاء هم راګرځي که چیرته خاوندپه موده دایلاء کې وطی وکړه نوقسم ماتیږي اودقسم کفاره لازمیږي اوایلاء ختم شوه،اوکه یې وطی ونکړه نودڅلورومیاشتوپه تیریدوسره دوهم طلاق واقع کیږي ځکه مطلق عن الوقت په وجه اوس هم باقي دی اوپه نکاح کولوسره دښځې حق ثابت شونوظلم متحقق کیږي نودطلاق بائن په ذریعه داظلم لیري کیږي.

(۷)که یې دریم ځل له دغی ښځې سره نکاح وکړه نوایلاء بیرته راګرځي اودڅلورومیاشتوپه تیریدوسره دریم طلاق واقع کیږي په دي شرط چې په دغه موده کې یې له ښځې سره وطی نه وي کړې،په مخکینی دلیل کې داخبره تیره شوه چې قسم مطلق عن الوقت په وجه اوس هم باقي دی اودنکاح په کولوسره دښځې حق ثابتیږی نوظلم راځي .

(۸)بیاچې کله ښځه ددریو طلاقونوپه وجه مغلظه شی که دزوج ثاني له حلاله کیدوو روسته بیاایلاء کونکي له هغی سره نکاح وکړه نوایلاء باطلیږي ولی ایلاء خالص له لومړي مِلک سره مقیده وه البته یمین باقي دی ځکه یمین مطلق عن الوقت دی اودوطی نه کولوپه وجه حانث شوی هم نه دی .

(۹)بیاکه یې له دغی ښځې سره وطی وکړه نودخپل قسم کفاره به اداکوي ځکه اوس قسم مات شو.

(۱۰)که چاترڅلورمیاشتې کم خپلې ښځې ته دنه ورتلوقسم وخوړمثلا وي ویل واللهِ لاأقربکِ شَهرًاأوشَهرین أوثلاثةَ أشهُر. (والله که زه تاسره یوه میاشت،یادوې میاشتې یادرې میاشتې صحبت وکړم)نوداسړی ایلاء کونکی نه بلل کیږي لقوله ابن عباس ﷺ لاایلاء فیمَادُون أربعةَ أشهُر(ترڅلورمیاشتې کم ایلاء نشته) .

(۱۱)وَإنْ حَلَفَ بِحَجٍّ أوْ بِصَوْمٍ أوْ بِصَدَقَةٍ أوْ عِتْقٍ أوْ طَلاقٍ فَهوَ مُؤْلٍ(۱۲)وإنْ آلَى مِنَ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ كانَ مُؤْلِياً(۱۳)وإنْ آلَى مِنَ الْبائِنَةِ لَمْ يَكُنْ مُؤْلِيًا

ترجمه :که چادحج قسم وکړ،یایې دروژې قسم وکړ،یایې دصدقې قسم وکړ،یایې په عتقه رقبه قسم وخوړیایې په طلاق قسم وخوړنوداسړی ایلاء کونکی شمارل کیږي اوکه چاله خپلې مطلقه رجعیه سره ایلاء وکړه نوداسړی ایلاء کونکی شمارل کیږي اوکه یې له مطلقه بائنه سره ایلاء وکړه نوداسړی ایلاء کونکی نه شمارل کیږي .

تشریح (۱۱)که چادحج قسم واخیست مثلا ویې ویل اِن قَربتُک فَعَلیّ حَجُّ البَیتِ (که ماله تاسره صحبت وکړنوپرما حج بیت الله لازم دی) یایې دروژې قسم وکړمثلا ویې ویل اِن قَربتُک فَعَلیّ صَومُ سَنَةٍ (که ماله تاسره صحبت وکړنوپرما یوکال روژې لازمي دي) یایې دصدقی قسم وخوړمثلا ویې ویل اِن قَربتُک فَعَلیّ صدقَةٌ (که ماله تاسره صحبت وکړنوپرماصدقه لازمه ده) یاپه عتق رقبه قسم وکړمثلا ویې ویل اِن قَربتُک فَعَبدِي حُرٌ (که ماله تاسره صحبت وکړنوزمامریی آزاددی) یایې په طلاق قسم وخوړمثلا ویې ویل اِن قَربتُک فَضرتُکِ طَالِقٌ (که ماله تاسره صحبت وکړنوستابن طلاقه ده) .

په مذکوره ټولوصورتونوکې داسړی ایلاء کونکی شمارل کیږي ولی دقسم یعنې شرط وجزاء دذکرپه وجه له وطی څخه منع متحققه شوه اوداجزاوې یعنې حج،روژه وغیره مانع له ارتکاب دشرط دي ولی په دي ټولوجزاوکې مشقت دی ځکه نوچې کله دشرط ارتکاب کوي نوجزاء یقیناواقع کیږي اوپه وقوع دجزاء کې مشقت دی لهذاجزاء مانع عن الشرط شوه نوپه دغوټولوصورتونوکي له ښځې سره له وطی کولوڅخه منع راغله اوله ښځې څخه دوطی منع کولونوم دی ایلاء،لهذاپه دي ټولوصورتونوکې ایلاء راځي که څلورمیاشتې موده بغیروطی تیره شوه نوپردغه ښځه یوبائن طلاق واقع کیږي .

(۱۲)که چاله خپلې مطلقه رجعیه سره ایلاء وکړه نودبقاء زوجیت په وجه داسړی ایلاء کونکی شمارل کیږي .

(۱۳)که یې له مطلقه بائنه سره ایلاء وکړه نوداسړی ایلاء کونکی نه بلل کیږي ځکه زوجیت نشته له بینونت وروسته دښځې لپاره دوطی حق نشته نوخاوندمانع لحق المرأة هم نه دی .

(۱۴) وَمُدَّةُ الْإِيلَاءِ الْأَمَةِ شَهْرَانِ

ترجمه :دمنځې دایلاء موده دوې میاشتې ده .

تشریح :(۱۴)که دچاښځه منځه وه نودهغې موده دایلاء دوې میاشتې دي ولی موده دایلاء دبائنه کیدولپاره مقرره شوې ده نودرقیت په وجه نیمه موده کیږي لکه دمنځې دعدت موده چې دځري ښځې دعدت دموې نصف ده .

(۱۵) فَإِنْ كَانَ الْمُوْلِي مَرِيْضًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْجِمَاعِ أَوْ كَانَتِ الْمَرْأَةُ مَرِيْضَةً أَوْ كَانَتْ رَتْقَاءَ أَوْ صَغِيْرَةً لَا يُجَامَعُ مِثْلُهَا أَوْ كَانَتْ بَيْنَهُمَا مَسَافَةٌ لَا يَقْدِرُ أَنْ يَصِلَ إِلَيْهَا فِي مُدَّةِ الْإِيْلَاءِ فَفَيْءُهُ أَنْ يَقُوْلَ بِلِسَانِهِ فِئْتُ إِلَيْهَا فَإِنْ قَالَ ذَالِكَ سَقَطَ الْإِيْلَاءُ (۱۶) وَإِنْ صَحَّ فِي الْمُدَّةِ بَطَلَ ذَالِكَ الْفَيْءُ وَصَارَ فَيْءُهُ الْجِمَاعُ

ترجمه :که ایلاء کونکی مریض ووپرجماع قادرنه وویاښځه ناروغه وه یارتقاء وه یاکوچنۍ وه چې ددې هومره انجونوسره وطی نه شي کیدای یازوجین دومره سره لیری ووچې خاوندپه څلورمیاشتې دي ته نه

شو رسیدلای نو دهغه رجوع داده چې په خوله ووایې چې فئت الیهاکه یې داوویل نو ایلاء ساقطیږي او که دی په موده دایلاء کې جوړشونو دارجوع یې ساقطیږي اوس یې رجوع داده چې جماع وکړي.

تشریح:(۱۵)که ایلاء کونکی دناروغي په وجه پرجماع قادرنه وویابښځه ناروغه وه یارتقاء(چې دښځې شرمگاه له هډونویانوروشیانوډډکیدوپه وجه بندوي) یاکوچنۍ وي دجماع قابله نه وي یازوجین دومره سره لیري وي چې خاوندترڅلورومیاشتوپورې دې ته رسیدلای نه شي نوپه دې ټولوصورتونوکې خاونددرجوع بالقول اختیارلري که خاوندپه موده دایلاء کې فِئْتُ اِلَیهَا(ماد هغې طرف ته رجوع کړې ده) وویل یایې وویل ابطلتُ الاِیلاءَ(ماایلاء باطله کړه) یایې وویل رَجَعتُ عَمّاقُلتُ(ماچې څخه ویلي وو له هغه نه مي رجوع وکړه) نو ایلاء ساقطیږي ځکه خاونددعجز په وجه دښځې دحق جماع منع کونکی دی دهغه اراده ضرررسول نه دی ځکه په دې وخت کې ښځې لره حق دجماع نه وو البته په ژبنۍ ایلاء سره خاوندښځه په وحشت کې مبتلاکړې وه اوځرنګه چې توبه په حسب دجنایت وي نوپه خوله دښځې راضي کیدل کافي دی چې کله په ژبنۍ وعده سره ظلم مرتفع شونوپرښځه دطلاق واقع کیدوسزاخاوندته نه ورکوله کیږي.

(۱۶)که داسړي په موده دایلاء کې پرجماع قادرشونو دهغه ژبنۍ رجوع باطلیږي اوس به په جماع کولوسره رجوع کوي ځکه تردې مخکې چې مقصودپه خلف حاصل شي داسړي پراصل قادرشو.

(۱۷)وَاِذَاقَالَ لِاِمْرَأَتِهِ اَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ سُئِلَ عَنْ نِيَّتِهِ فَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ الْكَذِبَ فَهُوَ كَمَاقَالَ(۱۸)وَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ بِهِ الطَّلَاقَ فَهِيَ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ اِلَّا اَنْ يَنْوِيَ الثَّلَاثَ(۱۹)وَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ بِهِ الظِّهَارَ فَهُوَ ظِهَارٌ(۲۰)وَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ بِهِ التَّحْرِيمَ اَوْلَمْ اُرِدْ بِهِ شَيْئًا فَهِيَ يَمِينٌ يَصِيرُ بِهِ مُؤْلِيًا

ترجمه:که چاخپلې ښځې ته وویل چې انتِ عَلَيّ حرامٌ نوله دغه سړي څخه دنیت په باره کې پوښتنه کیږي که ده وویل چې ماددروغواراده کړې وه نوداسي دی لکه دی چې وایې اوکه یې وویل چې مادطلاق نیت کړی وونویوبائن طلاق دی مګرداکه ددریوطلاقونونیت یې کړی وي اوکه یې وویل چې مادظهارنیت کړی وونوداظهارکیږي اوکه یې وویل چې مادښځې دحرامیدونیت کړی وویامي هیڅ اراده نه وه نوداقسم کیږي چې دهغه په وجه ایلاء کونکی شمارل کیږي.

تشریح:(۱۷)که چاخپلې ښځې ته وویل انتِ عَلَيّ حَرَامٌ(ته پرماحرامه یې) نوله دغه سړي به دنیت په اړه پوښتنه وشي ځکه دهغه داکلام دډیرومعناؤاحتمال لري دیوې معنی دمتعین کولولپاره دقائل نیت معلومیږي که قائل وویل چې ماددروغواراده کړې ده نوداسي دی لکه دی چې وایې ولی دخپل کلام څخه حقیقي معنی اراده کړې ده ځکه داښځه دده لپاره حلاله وه وبیاانتِ علی حرامٌ دواقع مطابق نه دی

لهذا نو دا دروغ دي او د کلام حقيقي معنى نيت کول شرعًا معتبر دى، ليکن قضاءً د هغه تصديق نه کيږي ولى دا په ظاهر قسم دى .

(۱۸) که قائل وويل چې ما د طلاق نيت کړى وو نو يو بائن طلاق واقع کيږي او که يې د دريو طلاقو نو نيت کړى وو نو دري واقع کيږي ولى چې انت علی حرام له کنايات څخه دى چې بحث يې مخکې تير شو .

(۱۹) که قائل وويل چې زما ظهار نيت وو نو د شيخينو رحمهما الله په نزد د اظهار کيږي او د امام محمد رحمه الله په نزد ظهار نه کيږي، د امام محمد رحمه الله دليل دا دى چې ظهار د حلالې ښځې له محرمه سره تشبيه کولو ته وايي لهذا په ظهار کې تشبيه ورکول رکن دى او دلته له حرف تشبيه دنه وجود په وجه تشبيه نشته ځکه نو ظهار هم نشته .

د شيخينو رحمهما الله دليل دا دى چې قائل په خپل کلام کې لفظ د حرمت مطلق ذکر کړى دى او په ظهار کې د حرمت يوه نوع شته او په مطلق کې د مقيد احتمال وي نو چې کله قائل د محتمل نيت کړى دى نو د هغه تصديق کيږي .

(۲۰) که قائل وويل چې ما د ښځې د حراميدو نيت کړى دى يا مي هيڅ اراده نه ده کړي نو دا قسم کيږي ځکه د حلال په حرامولو کې اصل دا دى چې هغه يمين دى چې کله ثابته شوه چې د قائل قول يمين دى نو د هغه په وجه ايلاء کونکى شمارل کيږي که يې په څلورمياشتې کې د ښځه وطى وکړه نو د قسم کفاره به ورکوي که نه بيا د څلورو مياشتو وروسته ښځه د ايلاء په وجه بائنه کيږي .

كِتَابُ الخُلع

دا کتاب د خُلع په بيان کې دى

خُلع بضم الخاء، (ايستل) اسم د هغوئ د قول خَالعتِ المَرأةُ زَوجَها واختلَعَت مِنه بِمَالِه ، او شرعاً له ښځې څخه په لفظ د خلع سره د نکاح په مقابله کې مال اخيستلو ته وايي .

له ماقبل سره يې مناسبت دا دى چې ايلاء له مال څخه د خالي والي په وجه اقرب و طلاق ته ده او په خُلع کې د ښځې له جانبه مال وي ځکه يې له طلاق وروسته متصل ايلاء او بيا خُلع ذکر کړي ده .

(۱) وَإِذَا تَشَاقَّ الزَّوجَانِ وَخَافَا أَن لَا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَلَا بَأسَ أَن تَفتَدِيَ نَفسَهَا مِنهُ بِمَالٍ يَخلَعُهَا بِه (۲) فَإِذَا فَعَلَ ذٰلِكَ وَقَعَ بِالخُلعِ تَطلِيقَةٌ بَائِنَةٌ وَلَزِمَهَا المَالُ

ترجمه :که دزوجینو ترمنځ جنجال راغی او داسي محسوسیده چې نوردالله تعالی حدودنه شي قائم کیدای نوپه دي کې هیڅ باک نشه چې ښځه دځپل ځان فدیه خاوندته ورکړي اوله خاوندسره ددغه مال په بدل خلع وکړي چې کله خاونددافدیه واخلي خلع وکړي نودخلع په وجه پرښځه یوبائن طلاق واقع کیږي اوپرښځه مال ورکول واجبیږي .

تشریح (۱)که دزوجینو ترمنځ تاوتریخ والی زیات شواوداسی محسوسیده چې نوردالله تعالی حدودیعنې یودبل حقوق دزوجیت نه شي اداکولای نوپه دي کې هیڅ باک نشته چې ښځه دځپل ځان فدیه وخاندته ورکړي اوله خاوندسره ددغه مال په بدل خلع وکړي لقوله تعالی (لاجُنَاحَ عَلَیکُم فِیمَاافتَدَت بِہٖ) یعنې پردوئ هیڅ گناه نشته چې ښځه دځان فدیه ورکړي .

(۲)کله چې خاوندفدیه واخلي خُلع وکړي نوپرښځه یوبائن طلاق واقع کیږي ځکه لفظ دخلع له کنایات طلاق څخه دی اوپه الفاظ کنایه ؤسره بائن طلاق واقع کیږي اوپرښځه فدیه ورکول واجبیږي ځکه ښځې خپله دا قبول کړی دی .

(۳)وَاِنْ کَانَ النُّشُوْزُ مِنْ قِبَلِه کُرِهَ لَهٗ اَنْ یَّاخُذَ مِنهَا عِوَضًا (۴)وَاِنْ کَانَ النُّشُوْزُ مِنْ قِبَلِهَا کُرِهَ لَهٗ اَنْ یَّاخُذَ اَکْثَرَ مِمَّا اَعْطَاهَا (۵)فَاِنْ فَعَلَ ذَالِکَ جَازَ فِی الْقَضَاءِ

ترجمه :که دخاوندله طرفه نشوزوونوبیاخاوندته له ښځې څخه څه عوض اخیستل مکروه دی اوکه نشوز دښځې له جانبه وي نوترهغه مقدارزیات اخیستل مکروه دی کوم چې خاونددمهرپه توگه ښځې ته ورکړی وي اوکه خاوندترمهرزیات واخیست نوقضاءً جائزدی .

تشریح :(۳)که دخاوندله طرفه نشوزاواظهاردنفرت وونوخاوندلره له ښځې څخه دخُلع څه عوض اخیستل مکروه دی ځکه خاونددبلې ښځې دکولوپه نیت دغه ښځه په وحشت کې اچوي لهذادپریښودلوپه عوض دمال په اخیستلودي مزیدپه وحشت کې نه اچوي .

(۴)که نشوزاودنفرت اظهاردښځې له طرفه وونودمهرپه اندازه فدیه اخیستل خاوندلره بلاکراهته جائزدی ترهغه زیات اخیستل مکروه دی .

(۵)په دواړوصورتوکې که نشوزدښځې له طرفه وي اوکه دخاوندکه خاوندترمهرزیات فدیه واخیستله نوقضاءً جائزدی لاطلاق قوله تعالی (لاجُنَاحَ عَلَیکُم فِیمَاافتَدَت بِہٖ) یعنې پردوئ هیڅ گناه نشته چې ښځه دځان فدیه ورکړي .

(۶)وَاِنْ طَلَّقَهَا عَلٰی مَالٍ فَقَبِلَتْ وَقَعَ الطَّلَاقُ وَلَزِمَهَا الْمَالُ (۷)وکَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا

ترجمه :که خاوند خپلې ښځې ته پر مال طلاق ورکړ او ښځې هغه قبول کړ نو طلاق واقع کيږي او د ښځې پر ذمه مال لازميږي او طلاق بائن کيږي .

تشريح :(۶) که خاوند خپلې ښځې ته په عوض د مال طلاق ورکړ مثلا ورته ويې انتِ طَالِقٌ على الفِ دِرهَمٍ (ته طلاقه يې په عوض د زرو درهمو) او ښځې هغه قبول کړ نو طلاق واقع کيږي او د ښځې پر ذمه مال لازميږي ځکه طلاق پر مال تصرف معاوضه دی او تصرف معاوضه د متعاوضينو پر اهليت او د محل پر صلاحيت موقوف وي دا دواړه شيان دلته موجود دي ځکه خاوند اهل تصرف دی ولی چې ده لره فی الحال د طلاق يا د معلق طلاق ورکولو مستقلا اختيار شته دلته ده طلاق د ښځې تر قبوليت پوري معلق کړی دی لهذا د هغې قبوليت شرط دی که يې قبول کړي نو طلاق واقع کيږي او پر هغې مال لازميږي که يې قبول نه کړي بيا نشته،ښځه هم اهل د تصرف ده ولی هغه پر خپله ذمه د مال لازمولو مالکه ده ځکه هغه پر خپل ځان پوره ولايت لري،او په محل کې د هغه د تصرف صلاحيت شته ولی مِلک نکاح داسی شی دی چې عوض اخيستل يې جائز دی که څه هم مال نه وي .

(۷) نو د دغه مال په عوض چې کوم طلاق واقع شي هغه به بائن وي ځکه ښځه مال پر خپله ذمه هغه وخت قبلوي چې د هغې نفس هغې ته وسپارل شي .

(۸) وَاِنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِی الْخُلْعِ مِثْلُ اَنْ يُخَالِعَ الْمَرْاَةَ الْمُسْلِمَةَ عَلٰى خَمْرٍ اَوْ خِنْزِيْرٍ فَلَا شَیْءَ لِلزَّوْجِ (۹) وَالْفُرْقَةُ بَائِنَةٌ (۱۰) وَاِنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِی الطَّلَاقِ كَانَ رَجْعِيًّا

ترجمه :که په خلع کې مال باطل شي مثلا مسلمان له خپلې ښځې سره پر شرابو يا خنزير خلع وکړي نو خاوند لره هيڅ نه کيږي او دا فرقت طلاق بائن کيږي او که په طلاق بالمال کې عوض باطل شي نو طلاق رجعی کيږي .

تشريح :(۸) که په خُلع کې عوض باطل شي مثلا مسلمان له خپلې ښځې سره په شرابو يا خنزير يا مردار خلع وکړي نو د خاوند لپاره پر ښځه هيڅ شی د خلع د بدل په توګه نه واجبيږي .

(۹) او دا فرقت طلاق بائن کيږي . (۱۰) که يې مدخل بها ښځې ته په عوض د مال طلاق ورکړی وو (او دا طلاق دريم طلاق نه وو) حال دا چې عوض په يوه وجه سره باطل دی نو پر ښځه طلاق رجعی واقع کيږي او خاوند لره پر ښځه هيڅ نه واجبيږي .

په دواړو صورتو کې طلاق ځکه واقع کيږي چې د ښځې طلاق د هغې تر قبليد و معلق کړی شوی دی او هغې قبول کړی هم دی او په لومړي صورت کې د طلاق بائن او په دوهم صورت کې د رجعی کيدو وجه دا ده چې کله په دواړو صورتو کې عوض باطل شو نو په لومړي صورت کې عمل کونکی لفظ د خُلع دی او لفظ د خلع له

الفاظ كنايه ؤڅخه دى ،په كنايه الفاظوسره طلاق بائن واقع كيږي په دوهم صورت كې صريح لفظ دطلاق عمل كونكى دى په صريح لفظ سره طلاق رجعى واقع كيږي .

په دواړوصورتوكې پرښځه عوض ځكه نه واجبيږي چې دعوض واجبيدودوه صورتونه دي ياپرښځه مسمّى واجبيږي ياغيرمسمّى واجبيږي دواړه نه دي ممكن اول خوپه دي وجه چې مسلمان شراب وغيره نه چاته سپارلى شي اونه يې قبض كولاى شي اودوهم ځكه صحيح نه دى چې ښځې ددي التزام نه دى كړى .

(۱۱) وَمَا جَازَ اَنْ يَكُوْنَ مَهْرًا فِي النِّكَاحِ جَازَ اَنْ يَكُوْنَ بَدَلًا فِي الْخُلْعِ

ترجمه :هغه شى چې جائزوي چې په نكاح كې مهرشي جائزدى چې هغه په خُلع كې بدل خلع شي .

تشريح :(۱۱)كوم شى چې په عقدنكاح كې مهرګرځيداى شي هغه په اتفاق په عقدخلع كې بدل خلع ګرځيداى شي،ولى دعقدنكاح په وخت بضع متقوم دى اوپه وخت دخُلع غيرمتقوم،لهذاهغه شى چې دبضع متقوم عوض كيداى شي هغه دبضع غيرمتقوم په درجه اولى عوض كيداى شي .

(۱۲) فَاِنْ قَالَتْ لَهٗ خَالِعْنِيْ عَلٰى مَافِيْ يَدِيْ فَخَالَعَهَا وَلَمْ يَكُنْ فِيْ يَدِهَا شَيْءٌ فَلَاشَيْءَ لَهٗ عَلَيْهَا (۱۳) وَاِنْ قَالَتْ خَالِعْنِيْ عَلٰى مَافِيْ يَدِيْ مِنْ مَالٍ فَخَالَعَهَا وَلَمْ يَكُنْ فِيْ يَدِهَا شَيْءٌ رَدَّتْ عَلَيْهِ مَهْرَهَا (۱۴) وَاِنْ قَالَتْ خَالِعْنِيْ عَلٰى مَافِيْ يَدِيْ مِنْ دَرَاهِمَ اَوْمِنَ الدَّرَاهِمِ فَفَعَلَ فَلَمْ يَكُنْ فِيْ يَدِهَا شَيْءٌ فَعَلَيْهَا ثَلٰثَةُ دَرَاهِمَ

ترجمه :كه ښځې خپل خاوندته وويل چې له ماسره خُلع وكړه دهغه په بدل چې زماپه لاس كې دى نوخاوندخُلع ورسره وكړه حال داچې دښځې په لاس كې هيڅ نشته نوخاوندلره پرښځه هيڅ شى نه واجبيږي اوكه ښځې خپل خاوندته وويل چې له ماسره خلع وكړه پرهغه مال چې زماپه لاس كې دى بياخاوندخلع ورسره وكړه مګردښځې په لاس كې هيڅ نه وونوښځه به خاوندته خپل مهرواپس كوي اوكه ښځې وويل چې له ماسره خلع وكړه دهغه په بدل كې چې زماپه لاس كې دي له عامويا خاصودرهمونوڅخه اوخاوندهمداسي ورسره وكړل مګردښځې په لاس كې هيڅ نه وونوپرښځه درې درهمونه واجبيږي .

تشريح :(۱۲)كه ښځې خپل خاوندته وويل چې كوم څه زماپه لاس كې دي پرهغه له ماسره خلع وكړه خاوندخلع ورسره وكړه اوحال داچې دښځې په لاس كې هيڅ نشته نوپرښځه هيڅ شى نه واجبيږي ځكه ښځې په خپله خبره كې مال نه دى ذكركړى لهذاچې كله يې په لاس كې څه نشته نوخاوندته دوكه وركونكې نه شماركيږي نودهيڅ شي ضامنه كيږي هم نه .

(۱۳)كه ښځې خپل خاوندته وويل چې زماپه لاس كې چې كوم مال دى پرهغه له ماسره خلع وكړه خاوندخُلع ورسره وكړه مګردښځې په لاس كې څه نه وونوپه دي صورت كې به ښځه خاوندته دمهرمقدارواپس كوي

ځکه ښځې پخپل قول کې مال ذکرکړی دی ولی چې خاوندبغیرعوض دمِلک نکاح په زائلیدونه راضي کیږي .

خاوندته دعوض ورکولوڅلورصورتونه دي (۱)مسمّی (یعنې مافی یدها) (۲)دهغه قیمت (۳) دبضع قیمت یعنې مهرمثل (۴)مقدارمهرچې ښځې له خپل خاوندڅخه وړی دی ،اولني درې احتماله باطل دي ،ځکه مسمّی اودهغه قیمت هریومجهول دی اودبضع قیمت یعنې مهرمثل ځکه نه واجبیږي چې په حالت دخروج کې مِلک بضع هیڅ قیمت نه لري لهذاڅلورم احتمال یعنې مقدارمهرواجب کیدل متعین شوچې له خاوندڅخه ضرردفع کړای شي .

(۱۴)که ښځې وویل له ماسره خلع وکړه پرهغودرهمونوچې زماپه لاس کې دي اوخاوندخلع ورسره وکړه مګردښځې په لاس کې هیڅ نه وونوپه دغه صورت کې پرښځه درې درهمونه واجبیږي ولی ښځې دراهم دجمع په صیغه سره ذکرکړي دي اواقل دجمع درې دي ځکه درې درهمونه واجبیږي .

(۱۵)وَاِنْ قَالَتْ طَلِّقْنِیْ ثَلَاثًا بِاَلْفٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً فَعَلَيْهَا ثُلُثُ الْاَلْفِ (۱۶)وَاِنْ قَالَتْ طَلِّقْنِیْ ثَلٰثًا عَلٰی اَلْفٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً فَلَاشَیْءَ عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ عَلَیْهَا ثُلُثُ الْاَلْفِ

ترجمه :که ښځې وویل چې ماته درې طلاقونه دزروپه بدله کې راکړه مګرخاوندهغې ته یوطلاق ورکړنو پرښځه دزرودریمه لازمیږي اوکه ښځې وویل طلقنی ثلثاعلی الف،اوخاوندیوطلاق ورکړنودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدپرښځه هیڅ نه واجبیږي اوصاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې پرښځه دزروثلث واجبیږي .

تشریح :(۱۵)که ښځې خپل خاوندته وویل چې ماته درې طلاقونه راکړه دیوزرپه بدل کې ،مګرخاوندهغې ته یوطلاق ورکړنوپرښځه دیوزردریمه واجبیږي ځکه چې کله ښځې دیوزرپه بدل کې ددریوطلاقونو غوښتنه وکړه نوګواکې هرطلاق یې دزروپردریمه وغوښت،ولی لفظ دباء پرعوض داخله ده اوعوض پرمعوّض منقسم کیږي،اوطلاق بائن واقع کیږي ولی داطلاق علی مال دی اوطلاق پرمال بائن وي .

(۱۶)که ښځې دبالف پرځای علی الف وویل اوخاونددهغې په جواب کې ددریوپرځای یوطلاق ورکړنو د امام ابوحنیفة رحمه الله په نزدیورجعی طلاق واقع کیږي اوپرښځه هیڅ شی نه واجبیږي، دصاحبینو رحمهما الله په نزددزرورپودیوې دریمې په عوض یوبائن طلاق واقع کیږي ولی طلاق علی مال عقد معاوضه دی اوپه معاوضاتوکې کلمه دعلی دباء په حکم کې ده اودباء حکم په تیره مسئله تیرشو ،دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې کلمه دعلی دشرط لپاره ده اومشروط دشرط پراجزاؤنه منقسم کیږي بخلاف الباء .

(۱۷)وَلَوْقَالَ الزَّوْجُ طَلِّقِیْ نَفْسَکِ ثَلَاثًا بِاَلْفٍ اَوْ عَلٰی اَلْفٍ فَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا وَاحِدَةً لَمْ یَقَعْ عَلَیْهَا شَیْءٌ مِنَ الطَّلَاقِ

ترجمه:که خاوند خپلې ښځې ته وويل طلقي نفسک ثلثابالف ياعلى الف ،نوښځې پرخپل ځان يوطلاق واقع کړنوهيڅ نه واقع کيږي.

تشريح:(۱۷)که خاوند خپلې ښځې ته وويل طلقي نفسک ثلثابالف (ته خپل ځان ته دزروپه عوض درې طلاقه ورکړه) ياعلى الف (ته خپل ځان ته پرزرودرې طلاقه ورکړه) نوښځې پرخپل ځان يوطلاق واقع کړنوهيڅ نه واقع کيږي ولی خاونددخپلې ښځې په بينونت راضی نه دی مگرداچې خاوندته پوره يوزروسپارلي شي.

(۱۸)وَالْمُبَارَاةُ كَالْخُلْعِ(۱۹)وَالْخُلْعُ وَالْمُبَارَاةُ يُسْقِطَانِ كُلَّ حَقٍّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الزَّوْجَيْنِ عَلَى الْآخَرِ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِالنِّكَاحِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ الْمُبَارَاةُ تُسْقِطُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَا تُسْقِطَانِ إِلَّا مَا سَمَّيَا

ترجمه:اومبارأة دخلع په شان دی اوخلع اومبارأت ساقطوي هرهغه حق چې دزوجينوپربل وي دنکاح متعلق دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد،امام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دی چې خالص مبارأة حق ساقطوي اوامام محمد رحمه الله فرمايلي دي چې دواړه هيڅ نه ساقطوي مگرهغه چې معتين يې کړي.

تشريح:(۱۸)يعنې مبارأة(مبارأة دادی چې خاوندخپلې ښځې ته ووايې چې زه په عوض دزرورروپوستاله نکاح څخه بري يم) دخلع په شان دی يعنې په دواړوسره طلاق بائن واقع کيږي.

(۱۹)مبارأة اوخلع هريوداسی دی چې دزوجينونه هريوله هغه حق څخه چې دنکاح متعلق وي بري کوي مثلامهراونفقه ماضيه وغيره،دادامام ابوحنيفة رحمه الله مسلک دی.

دامام محمد رحمه الله مسلک دادی چې هرهغه حق چې زوجين يې بيان کړي هغه ساقطوي له هغه علاوه نه ساقطيږي،امام ابويوسف رحمه الله په خلع کې له امام محمد رحمه الله سره دی اوپه مبارأت کې له امام ابوحنيفة رحمه الله سره دی.

ددې اختلاف ثمره له دې مثال څخه واضح کيږي چې دښځې مهرزردرهم وي بيابښځه له خپل خاوندسره قبل الدخول له خپل مهرڅخه پرسلودرهمونوخلع وکړي نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدښځې لره جائزنه دی چې خپل خاوندته څه رجوع وکړي،دصاحبينورحمهما الله په نزدښځه خپل خاوندته په څلورسوه درهمه رجوع کولای شي (چې ښځې ته دفرقت قبل الدخول په وجه نصف مهرورسيږي اوصرف دومره ساقطيږي څومره چې دواړوبيان کړی وي يعنې سل درهمه).

که ښځې زردرهمه قبض کړه بيايې پرسلودرهمونوخلع وکړه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدخاوندته له سلودرهمونوعلاوه هيڅ نه کيږي ،دصاحبينورحمهما الله په نزدښځه خاوندته په دومره مقداررجوع کولای شي چې نصف مهرهغې ته ورسيږي يعنې څلورسوه درهمه به مزيدغواړي،که په مذکوره صورتونوکې

زوجينو مبارأت وکړنو هم د امام ابو حنيفة رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد حکم هغه دی چې مخکې ذکرشو، مګر د امام ابو يوسف رحمه الله د مبارأت په صورت کې له امام ابو حنيفة رحمه الله سره دی.

كِتَابُ الظهار

داکتاب د ظهار په بيان کې دی

ظهار لغةً مصدر دی هغه وخت ويل کيږي چې کله يو سړی خپلې ښځې ته داووايي چې ته پر ما داسې يې لکه زما د مور شا، او شرعًا منکوحه ښځې ته له يوې داسې ښځې سره تشبيه ورکولو ته وايې چې پر ده هميشه حرامه وي لکه مور، خور، خاله، عمّه، وغيره او دا حرمت که نسبي وي که رضاعي وي يا په وجه د مصاهرت وي.

د کتاب ظهار له خلع سره مناسبت دا دی چې ظهار او خلع د هر يوه وجه په ظاهره نشوزوي بيا خلع پر ظهار ځکه مقدمه شوې دی چې په خلع کې تحريم زيات دی ځکه د خلع په صورت کې نکاح منقطع کيږي تحريم ثابتيږي او په ظهار کې نکاح باقي وي حرمت ثابتيږي.

د ظهار لپاره شرط دا دی چې مشبهه ښځه په صحيح نکاح سره منکوحه وي نو له ام الولد، مدبره قِنه او متبائنه سره ظهار صحيح نه دی او د ظهار اهل هغه څوک دی چې د کفارې اهل وي حتی د ذمی، ليوني او ماشوم ظهار نه دی صحيح.

(۱) وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ لِامْرَأَتِهِ أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْهِ لَا يَحِلُّ لَهُ وَطْؤُهَا وَلَا لَمْسُهَا وَلَا تَقْبِيلُهَا حَتَّى يُكَفِّرَ عَنْ ظِهَارِهِ (۲) فَإِنْ وَطِئَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ اِسْتَغْفَرَ اللهَ وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ غَيْرُ الْكَفَّارَةِ الْأُولٰى (۳) وَلَا يُعَاوِدُ حَتَّى يُكَفِّرَ (۴) وَالْعَوْدُ الَّذِي تَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ هُوَ أَنْ يَعْزِمَ عَلَى وَطْئِهَا

ترجمه: که خاوند خپلې ښځې ته انتِ علی کظهر امی وويل نو دا ښځه پر هغه حراميږي بيا د پ سړي لره له هغې سره نه وطی کول حلاله ده او نه هغې ته لاس وروړل او نه له هغې څخه مچه اخيستل تر هغه چې خاوند د خپل ظهار کفاره ورکوي او که ظهار کونکي تر کفاره ورکولو مخکې له دې ښځې سره وطی وکړه نو دا سړی دې استغفار وکړي او له لومړۍ کفارې نه علاوه پر ده هيڅ شی نه کيږي بيا دې دوباره دا فعل نه کوي تر هغه چې کفاره ورکوي او هغه راګرځيدل چې په هغه سره کفاره واجبيږي هغه دا دی چې دی له ښځې سره د وطی کولو عزم ولري.

تشريح :(۱)که سړي خپلې ښځې ته انتِ عليّ کظهر امّي وويل نو دا ښځه پردغه سړي حراميږي بياده لره نه وطي ورسره کول حلال دی او نه لاس وروړل او نه مچه اخيستل ورته حلال دی،او ښځې ته هم سړي ته پرخپل ځان قدرت ورکول حرام دی ترهغه چې خاوند دخپل ظهار کفاره ورکوي ځکه ظهار جنايت دی ولی چې ظهار کول نامناسب او دروغ کاردی پردي باندي دغه سړي ته داسزا ورکول مناسبه ده چې دده ښځه پرې حرامه کړای شي ترهغه چې کفاره اداکوي او داجرم په کفاره ليري کيږي.

(۲)که ظهار کونکي ترکفاره ورکولو مخکې له دي ښځې سره وطی وکړه نو داسړی دي استغفار وکړي اوپرده له لومړی کفارې نه علاوه نور څه نه واجبيږي.

(۳)بيادي وطی نه کوي ترهغه چې کفاره ورکوي ولی چې پيغمبر ﷺ يوه داسي سړي ته چې ظهاريې کړی وو ترکفاره مخکې يې وطی کړې وه وفرمايل :اِستغفِرِالله ولاتعُدحتّی تُکَفِّر(يعنې له خپل رب څخه مغفرت وغواړه اودافعل دوباره مه کوه ترهغه چې کفاره ورکوې) نو که له استغفار پرته بل څه واجبيدلای نو رسول الله ﷺ به پرهغه تنبيه فرمايلي وای.

(۴)پرظهارکونکي کفاره هغه وخت واجبيږي چې کله دی له ظهار وروسته له دي ښځه سره دوطی کولو عزم وکړي او که ظهارکونکی دمظاهرعنها په حرمت راضي وي له هغی سره دوطی کولو عزم نه لري نو بيا پرظهار کونکي کفاره نه واجبيږي.

(۵)وَإِذَاقَالَ أَنْتِ عَلَيَّ كَبَطْنِ أُمِّيْ أَوْ كَفَخِذِهَا أَوْ كَفَرْجِهَا فَهُوَ مُظَاهِرٌ (٦) وَكَذَالِكَ إِنْ شَبَّهَهَا بِمَنْ لَا يَحِلُّ لَهُ النَّظْرُ إِلَيْهَا عَلَى سَبِيْلِ التَّابِيْدِ مِنْ مَحَارِمِهِ مِثْلَ أُخْتِهِ أَوْ عَمَّتِهِ أَوْ أُمِّهِ مِنَ الرِّضَاعَةِ

ترجمه :که چاخپلې کوروالاته وويل انتِ عليّ کبطن امی ياکفخذامی ياکفرج امی نو داسړی ظهارکونکی دی همدارازکه چاخپلې ښځې له خپلو محارمو څخه له يوې داسې ښځې سره تشبيه ورکړه چې پرده په شهوت سره هغی ته کتل دائماحرام دی لکه دهغه خور،دهغه عمّه يادهغه رضاعی مور(نوهم داسړی مظاهر کيږي).

تشريح :(۵)که چاخپلې ښځې ته وويل انتِ علی کبطن امی ياکفخذامی (ته پرمازمادمور دخيټې په شان يې يادهغې دورانه په شان يادهغې دفرج په شان يې) په دي ټولو صورتونو کې داسړی ظهارکونکی شمارل کيږي ځکه ظهاروايې دخپلې ښځې له خپلې محرمی ابديه سره تشبيه ورکولوته او دامعنی له هرداسي اندام سره په تشبيه ورکولو کې متحققه کيږي چې هغه ته کتل ناجائزوي.

(۶)که چاخپلې ښځې له خپلو محارمو نه له داسي ښځې سره تشبیه ورکړه چې پرده هغې ته په شهوت کتل دائمی حرام وي مثلاً خور،عمّه،رضاعی مورو غیره نوداسړی ظهارکونکی شمارل کیږي ولی دابښځې په دائمی تحریم کې دمورپه شان دي .

(۷)وَکَذالِکَ اِنْ قَالَ رَأسُکِ عَلَیَّ کَظَهْرِ اُمِّیْ اَوْ فَرْجُکِ اَوْ وَجْهُکِ اَوْ رَقَبَتُکِ (۸) اَوْ نِصْفُکِ اَوْ ثُلُثُکِ

ترجمه :همدارازکه یې وویل :رأسک علی کظهرامی یافرجک علی کظهرامی یاوجهک علی کظهرامی یارقبتک علی کظهرامی یانصفکِ علی کظهرامی یاثلثک علیّ کظهرامی ،نوداسړی ظهارکونکی شمارل کیږي .

تشریح :(که چاخپلې ښځې ته وویل رأسک علی کظهرامی یافرجک علی کظهرامی یاوجهک علی کظهر امی یارقبتک علی کظهرامی (یعنې ستاسرپرمازمادمورد شاپه ډول دی یاستافرج پرمازمادمورد شاپه ډول دی یاستامخ پرماباندي زمادمورد شاپه ډول دی یاستاغاړه پرمازمادمورد شاپه ډول دی) په دي ټولو صورتوکې داسړی مظاهربلل کیږي ځکه په دي اعضاؤهریوه سره پوره بدن تعبیریږي لهذاددي اعضاؤ تشبیه ورکول دټولې ښځې دتشبیه ورکولوپه ډول دی .

(۸)همدارازکه یې وویل نصفکِ علی کظهرامی یاثُلثکِ علیّ کظهرامی (ستانصف پرمازمادمورد شاپه ډول دی یاستادریمه پرمازمادمورد شاپه ډول دی) نوهم داسړی ظهارکونکی کیږي ځکه حکم دظهارپه لومړي جزءکې ثابتیږي بیاپه ټول بدن کې سرایت کوي .

(۹)وَاِنْ قَالَ اَنْتِ عَلَیَّ مِثْلُ اُمِّیْ یُرْجَعُ اِلٰی نِیَّتِهٖ فَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ بِهِ الْکَرَامَةَ فَهُوَ کَمَا قَالَ (۱۰) وَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ الظِّهَارَ فَهُوَ ظِهَارٌ (۱۱) وَاِنْ قَالَ اَرَدْتُ الطَّلَاقَ فَهُوَ طَلَاقٌ بَائِنٌ (۱۲) وَاِنْ لَّمْ تَکُنْ لَهٗ نِیَّةٌ فَلَیْسَ بِشَیْءٍ

ترجمه :اوکه یې وویل انتِ علیّ کامی یاانت علیّ مثل امی نوددغه سړي نیت به پوښتل کیږي که ده وویل چې مادعزت اراده کړې وه نوداداسی دی اوکه یې وویل چې مادظهاراراده کړې وه نوداظهارکیږي اوکه یې وویل چې مادطلاق اراده درلوده نوطلاق بائن واقع کیږي اوکه یې هیڅ نیت نه درلودنوداکلام لغوه دی .

تشریح :(۹)که چاخپلې ښځې ته وویل انتِ علی کامی یاانت علی مثل امی (ته پرمازمادمورپه شان یې) نوددغه دنیت په هکله به پوښتنه کیږي چې حکم یې ظاهرشی که ده وویل چې زمااراده داوه چې ته مستحقه داکرام یې زماپه نزدزمادمورپه شان نوداداسي دی لکه دی چې وایي،اوپردغه مسلمان هیڅ شی نه واجبیږي ولی دتشبیه په ذریعه تعظیم عام رواج دی .

(۱۰)که یې وویل چې زمادظهاراراده وه نوداظهارکیږي ځکه له ټولې مورسره په تشبیه ورکولوکې له یوه اندام سره تشبیه ورکول موجوددی مګرصریح نه دی لهذانیت ته احتیاج پیدادی .

(۱۱)که يې وويل چې ما د طلاق اراده کړې وه نو طلاق بائن واقع کيږي ځکه په دغه کلام کې د ښځې تشبيه له مور سره په حرم کې ده نو دا داسې دی لکه خاوند چې خپلې ښځې ته انت عليّ حرام (ته پر ما حرامه يې) وويل او د طلاق نيت يې وکړ او مخکې دا خبره تيره شوه چې انتِ عليّ حرام له الفاظ کنايه څخه دی او په لفظ کنايه سره طلاق بائن واقع کيږي.

(۱۲)که دې سړي په دې کلام سره هيڅ نيت نه وو کړی نو دا کلام د شيخينو رحمهما الله په نزد لغوه کيږي ولی دا کلام پر تعظيم ورحمل کړای کيږي ، د امام محمد رحمه الله په نزد دا کلام د عدم نيت په صورت کې ظهار کيږي (د شيخينو رحمهما الله قول راجح دی)

(۱۳)وَلَا يَكُونُ الظِّهَارُ اِلَّا مِنْ زَوْجَتِهٖ (۱۴)فَاِنْ ظَاهَرَ مِنْ اَمَتِهٖ لَمْ يَكُنْ مُظَاهِراً

ترجمه :او ظهار نه کيږي مګر له خپلې ښځې سره نو که چاله خپلې منځې سره ظهار وکړ نو داسړی مظاهر نه شمارل کيږي.

تشريح :(۱۳)يعني له ښځې پرته له نورو ښځو سره نه کيږي . (۱۴)که چاله خپلې منځې سره ظهار وکړ نو داسړی مظاهر نه شمارل کيږي ځکه په آيت کريمه کې (وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ) يعني هغه خلک ظهار کوي له خپلو ښځو سره) له النساء څخه مراد زوجات دي او مملوکه منځې ته زوجه نه ويل کيږي.

(۱۵)وَمَنْ قَالَ لِنِسَاءِهٖ اَنْتُنَّ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ كَانَ مُظَاهِراً مِنْ جَمَاعَتِهِنَّ(۱۶)وَعَلَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ كَفَّارَةٌ

ترجمه :که چا خپلو ډيرو ښځوته وويل انتنّ عليّ کظهر امي نو داسړی له ټولو سره ظهار کونکی شمارل کيږي او پر ده دهرې يوې لپاره کفاره واجبيږي.

تشريح :(۱۵)که چاله خپلو ډيرو ښځوته وويل انتنّ عليّ کظهر امي (تاسی پر ما زما د مور د شا په ډول ياست) نو داسړی له ټولو سره ظهار کونکی کيږي ولی ده د ټولو طرف ته د ظهار نسبت کړی دی لهذا له ټولو سره ظهار ثابتيږي لکه داسړی چې خپلو ټولو ښځوته د طلاق په نسبت سره ووايې انتُنّ طوالق (تاسی طلاقی ياست) نو پر ټولو طلاق واقع کيږي.

(۱۶)او پر دغه سړي دهرې يوې لپاره کفاره واجبيږي ځکه د ظهار په وجه دهرې ښځې په حق کې حرمت ثابت شو او کفاره د دې لپاره وي چې حرمت ختم کړي لهذا چې څومره حرمتونه وي هغه قدر کفارې به وي.

د کفاره ظهار بيان

(۱۷)كَفَّارَةُ الظِّهَارِ عِتْقُ رَقَبَةٍ فَاِنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا (۱۸) كُلُّ ذَالِكَ قَبْلَ الْمَسِيْسِ(۱۹)وَيُجْزِيْ فِيْ ذَالِكَ عِتْقُ الرَّقَبَةِ الْمُسْلِمَةِ وَالْكَافِرَةِ وَالذَّكَرِ وَالْاُنْثٰى وَالصَّغِيْرِ وَالْكَبِيْرِ.

ترجمه :كفاره د ظهار داده چې ظهار كونكى مريى آزاد كړي كه مريى نه وونو پيوسته دوې مياشتې روژې به نيسي او كه يې دهغو قدرت هم نه درلود نو شپيتو مسكينانو ته به ډوډۍ وركوي او دا ټول تر وطى مخكې ضروري دي او كافى ده په كفاره ظهار كې آزادول د رقبى كه مسلمان وي كه كافر، كه مذكر وي كه مؤنث بالغ وي كه نابالغ .

تشريح :(۱۷)كفاره د ظهار داده چې مظاهر د كفارې په نيت مريى آزاد كړي او كه يې د مريي آزاديدو قدرت نه درلودنو پيوسته دوې مياشتې به روژې ونيسي او كه يې دهغو قدرت هم نه درلودنو شپيتو مسكينانو ته به ډوډۍ وركړي ځكه قرآني نص (فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ)

ژباړه :يعني هغه كسان چې له خپلو ښځو سره ظهار كوي بيا د خپلې كړې خبرې تلافى كول غواړي نو دهغوئ پر ذمه يو مريى يا مينځه آزادول دى مخكې تر دې چې دواړه (خاوند او ښځه يو بل ه اختلاط سره كوي) په دې سره تاسي ته نصيحت كيږي الله تعالى ستاسي په كړونو ښه خبردى بيا كه چا مريي يا مينځې وس نه درلودنو دهغه پر ذمه دوې مياشتې پيوسته روژې نيول دى مخكې تر دې چې هغوئ دواړه (يعني خاوند او ښځه يو له بل سره اختلاط كوي) كه د چا دا هم په وس كې نه وو نو دهغه پر ذمه شپيتو مسكينانو ته ډوډۍ وركول دى دا حكم ځكه بيان كړاى شوى دى چې پر الله تعالى او دهغه پر رسول ايمان ولرئ) په همدې ترتيب وارد شوى دى .

(۱۸)بيا كفاره د ظهار كه په اعتاق وي كه په صومه سره يا په اطعام سره هريوه تر وطى مخكې ضروري ده ځكه وطى د حرمت په وجه منهى عنه ده نو كفاره تر وطى مقدم كول ضروري دى چې تر كفاره وروسته وطى حلاله واقع شي .

(۱۹)په كفاره كې مطلقا رقبه آزادول كافى دى كه كافر وي كه مسلمان ،مذكر وي كه مؤنث،بالغ وي كه نابالغ ځكه لفظ د رقبه ډې ټولو ته ويل كيږي او په آيت كريمه (فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ)كې رقبه مطلق ذكر ده په كوم صفت سره مقيده نه ده .

(۲۰)ولايَجزئ الْعَمْيَاءُ وَلا مَقْطُوعَةُ الْيَدَيْنِ أَوِ الرِّجْلَيْنِ(۲۱)وَيَجُوزُ الْأَصَمُّ وَالْمَقْطُوعُ إِحْدَى الْيَدَيْنِ وَإِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ خِلَافٍ(۲۲)ولاتَجُوزُ مَقْطُوعُ إِبْهَامَيِ الْيَدَيْنِ(۲۳)ولايَجُوزُ الْمَجْنُونُ الَّذِي لايَعْقِلُ

ترجمه :او نه كافى كيږي ړنده رقبه او نه هغه چې دواړه لاسونه يا پښې يې غوڅې وي او جائز دى كوڼ مريى آزادول او هغه چې يو لاس يې غوڅ وي او هغه چې يوه پښه يې غوڅه وي او نه دى جائز هغه چې د دواړو لاسونو ګوتې يې غوڅې وي او نه دى جائز هغه مجنون چې بلكل نه پوهيږي .

تشريح :(۲۰)په كفاره ظهاركې روندمريى آزادول جائزنه دى همدارازهغه چې لاسونه ياپښې يې غوڅ شوي وي آزادول جائزنه دى ځكه ددي عيوبوپه وجه دهغه جنس منفعت فوت شوى دى نوداحكماهلاک شوى دى .

(۲۱)داسى مريى آزادول جائزدى چې كوڼ وي همدارازهغه مريى آزادول هم جائزدى چې يولاس ديوه طرف اويوه پښه دبل طرف يې غوڅ شوي وي ځكه دهغه جنس منفعت نه دى فوت شوى بلكې مختل شوى دى اومختل كيدل مانع نه دى .

(۲۲)كه دكوم مريي دلاسونوگوتې غوڅې شوي وي نوپه كفاره ظهاركې دهغه آزادول جائزنه دى ځكه دگوتوپه غوڅيدوسره دهغه دنيولوقوت زائليږي چې دهغه په وجه جنس منفعت له منځه ځي اودكوم مريي چې جنس منفعت له منځه تللى وي دهغه آزادول جائزنه دى .

(۲۳)همدارازهغه ليونى مريى چې عقل يې بلكل نه وي دهغه آزادول هم جائزنه دى ځكه له اندامونوڅخه كټه اخيستل بغيرممكن نه دى لهذاداهم فائت المنفعت شوځكه يې آزادول جائزنه دى .

(۲۴)ولايَجُوزُ عِتْقُ الْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ وَالْمُكَاتَبِ الَّذِى أَدَّى بَعْضَ الْمَالِ(۲۵)فَإِنْ أَعْتَقَ مُكَاتَبًا لَمْ يُؤَدِّ شَيْئًا جَازَ(۲۶)فَإِنْ اِشْتَرَى أَبَاهُ أَوْ اِبْنَهُ وَيَنْوِيْ بِالشِّرَاءِ الْكَفَّارَةَ جَازَ عَنْهَا

ترجمه :اونه دى جائزآزادول دمدبراوام ولداوداسي مكاتب چې څه مال يې دكتابت په ډول اداكړى وي البته كه يې داسى مكاتب آزادكړچې تراوسه يې دكتاب مال نه دى اداكړى نوداجائزدى كه مظاهرخپل پلاريازوى واخيستل اوپه اخيستلوسره يې نيت دكفارې وكړنوداله كفارې څخه كافى كيږي .

تشريح :(۲۴)په كفاره ظهاركې مدبر،ام ولدآزادول نه دى جائزځكه مدبردتدبيرپه وجه اوام ولدداستيلاد په وجه مستحق دحريت دي نوپه دوئ كې رقيت ناقص دى ځكه يې په كفاره كې آزادول جائزنه دى،همداراز داسي مكاتب آزادول هم جائزنه دى چې څه مال يې دبدل كتابت په ډول اداكړى وي اوخپل ځان يې عاجزكړى نه وي ځكه دبدل كتابت په اداكولوسره دى آزاديږي اوبدل دقربت معنى باطلوي ځكه يې په كفاره كې آزادول ناجائزدى .

(۲۵)البته كه مظاهرداسى مكاتب آزادكرچې تراوسه يې مال كتابت نه وواداكړى نوداجائزدى ځكه په ده كې رقيت له هرجانب نه قائم دى همداوجه ده چې داكتابت انفساخ قبلوي .

(۲۶)كه ظهاركونكي دكفاره ظهارپه نيت خپل پلاريازوى واخيستل نوكفاره يې اداكيږي ځكه كه څه هم دوئ ذى رحم محرم په وجه آزاديږي مگرد ده نيت دكفارې آزادولو دى ځكه په دوئ سره كفاره اداكيږي .

(۲۷) وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدٍ مُشْتَرَكٍ عَنِ الْكَفَّارَةِ وَضَمِنَ قِيْمَةَ بَاقِيْهِ فَأَعْتَقَهُ لم يجز عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يُجْزِئُهُ إِنْ كَانَ الْمُعْتِقُ مُوْسِراً وإِنْ كان مُعْسِراً لم يجز

ترجمه: که مظاهر د مشترک مریی نصف حصه په نیت د کفارې آزاد کړ او د باقی مانده نصف د قیمت ضامن شو بیایې هغه آزاد کړنو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد نه کافی کیږي او د صاحبینو رحمهما الله په نزد کافي کیږي که معتِق غنی وو او که تنګدست وو بیا نه کافي کیږي.

تشريح: (۲۷) که ظهار کونکي د مشترک مریی نصف حصه په نیت د کفارې آزاد کړ په داسی حال کې چې آزادونکی غنی وو او د باقی مانده نصف د قیمت خپل شریک لره ضامن شو نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد په دي سره کفاره نه اداکیږي او د صاحبینو رحمهما الله په نزد که معتق غنی وو نو اداکیږي او که فقیر وو نه اداکیږي.

د صاحبینو رحمهما الله دلیل دادی چې د نصف مریي خودی مالک وو او په ضمان ورکولو سره د شریک د حصی هم مالک شو نو دی د پوره مریي آزادونکی شو په داسی حالکې چې مریی دده په مِلک کې دی، البته که معتق غني وو نو دی د خپل شریک د حصی ضامن کیږي نو داعتق په عوض شو لهذا داله کفارې څخه کفایت کوي او که تنګدست وو نو مریي به سعی کوي نو داعتق په دي وجه چې بغیر عوض دی له کفارې څخه کفایت نه کوي.

دامام ابو حنیفة رحمه الله دلیل دادی چې کله ظهار کونکي خپله حصه آزاده کړه نو د شریک حصه د هغه په مِلک کې ناقصه پاتی شوه (ځکه اوس هغه مریی ساتل محال دی دا آزادیږي) بیا چې د ضمان په ذریعه د مظاهر په مِلک کې راځي نو ناقص به راځي او د ناقص په آزادولو سره کفاره نه اداکیږي (د امام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی)

(۲۸) وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ عَنْهَا جَازَ (۲۹) وإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ ثُمَّ جَامَعَ الَّتِيْ ظَاهَرَ مِنْهَا ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ لم يجز عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه: که یې نصف مریی په کفاره کې آزاد کړ بیایې باقی مانده مریی هم په کفاره کې آزاد کړ نو دا جائز دی او که یې نصف مریی آزاد کړ بیا ظهار کونکي له مظاهر منها سره وطی وکړه بیایې باقی مانده مریی آزاد کړ نو د امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دا اعتاق کافی نه دی.

تشریح :(۲۸)که ظهارکونکي نصف مريی په کفاره کې آزاد کړيايې باقی مانده مريی هم آزاد کړ نو دا جائز دی ځکه مظاهرپه دوه ځله کلام کولوسره مريی آزاد کړنو کوم نقصان چې په نصف آخرکې راغلی دی هغه دده په مِلک کې په کفاره کې په آزادولوسره پيداشوی دی داقسم نقصان دکفارې دادالپاره مانع نه دی .

(۲۹)که مظاهرنصف مريی په کفاره کې آزاد کړيا ظهارکونکي له مظاهرمنهاسره وطی وکړه بيايې باقی مانده مريی آزاد کړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدد غه اعتاق نه دی کافي،دصاحبينو رحمهما الله په نزدکافی دی،دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې په اعتاق کې تجزيه کيدای شي (يعني که يې مريی لږلږآزاداوه نوچې څومره يې آزادکړی دی هغومره آزاديږي) اوداعتاق شرط دادی چې ترجماع مخکې وي لقوله تعالی (فَتَحرِيرُرَقبَةٍ مِن قَبل اَن يَتماسّا) يعنې هغه کسان چې له خپلو ښځوسره ظهارکوي نودهغوئ پرذمه يو مريی يامنځه آزادول دی مخکې تردې چې دواړه يعنې خاونداوښځه اختلاط سره کوي) دلته دنصف آزاديدل ترجماع وروسته راغلی دی لهذاداجائزنه دی،دصاحبينو رحمهما الله په نزدځکه چې اعتاق متجزی نه شی کيدای ځکه دنصف مريی آزادول دپوره مريي آزادول دی لهذادصاحبينو رحمهما الله په نزدپوره مريی آزاديدل ترجماع مخکې راغی ځکه جائزکيږي (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۳۰)وَاِذَالَم يَجِدِ المُظَاهِرُ مَايُعتِقُه فَكَفَّارَتُه صَومُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ وليس فِيهِمَاشَهرُ رَمَضَانَ ولايَومُ الفِطرِ ولايَومُ النَّحرِ ولا اَيَامُ التَّشرِيقِ (۳۱)فَاِن جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنهَافِي خِلالِ الشَّهرَينِ لَيلاً عَامِداً اَو نَهَارَ انَاسِياًاِستَانَفَ عِندَابِی حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ (۳۲)وَاِن اَفطَرَيَوماًمِنهُمَا بِعُذرٍ اَو بِغَيرِ عُذرٍ اِستَاْنَفَ

ترجمه :که ظهارکونکي مريی ونه مونده چې آزاديې کړي نو کفاره دوې مياشتې پيوسته روژې نيول دی په دې شرط چې دهغودومياشتوپه منځ کې به رمضان نه وي اوعيدالفطربه نه وي اويوم النحربه نه وي اوايام تشريق به نه وي اوکه ظهارکونکي ددغودومياشتوپه منځ کې له دمظاهرمنهاسره وطی وکړه که دشپې عمداً اوه يادورځې سهواً اوه نودطرفينو رحمهما الله په نزدبه داسرې له سره روژې نيسي اوکه ظهارکونکي ددومياشتوپه منځ کې يوه ورځ افطاروکړدعذرپه وجه يابغيردعذرنه نوله سره به روژې نيسي.

تشریح :(۳۰)که ظهارکونکې دکفارې داداکولولپاره مريی ونه مونده يعنې دمريی پرآزاديدوقادرنه وونوبيادهغه کفاره پيوسته دوې مياشتې روژې دي په دي شرط چې ددي دومياشتوپه دوران کې به درمضان روژه نه وی ځکه درمضان روژه له ظهار څخه نه واقع کيږی اودکوچني اختروځ به نه وي اودلوی اختروځ به نه وي اودرې ورځې دتشريق به نه وي ولی په دغوورځوکې روژه نيول منهی عنه ده نوپه دي سره کامل واجب نه شي اداکيدای ،اودادوې مياشتې روژې که دمياشتې له حسابه نيسی نوپه هرصورت

جائزدی که څه هم دوارړ میاشتې دنه ویشت وي او که دمیاشتې له منځ نه شروع وي نوبیاشپیته ورځې پوره کول ضروري دی که یې له نه پنځوس روژونیولووروسته افطاروکړنوبیرته له سره روژې نیول ضروري دي .
(۳۱)که مظاهرله مظاهرمنهاسره ددي دومیاشتوپه منځ کې وطی وکړه یادشپې عمداًوه یادورځې سهواًوه نودطرفینورحمهماالله په نزدبه داسړی له سره بیرته روژې نیسي ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدله سره دروژونیولوضرورت نشته ،دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دادی چې دشپې عمداًودورځې سهواًوطی کول مفسدصوم نه دی لهذادواطی دروژو دپیوسته نیولومانع نه دی اوپه کفاره کې تتابع شرط ده هغه شته لهذااعاده ضروري نه ده .
دطرفینورحمهماالله دلیل دادی چې په روژوکې دوه شرطونه دي یوداچې تروطی به مخکې وي دوهم داچې له وطی به خالي وي اودمیاشتوپه منځ کې دوطی کولوپه وجه دوهم شرط نه راځي ځکه اعاده ضروري ده .
(۳۲)که ظهارکونکي ددومیاشتوپه منځ کې یوه ورځ افطاروکړ دعذرپه وجه یابغیردعذرنه په دواړوصورتو کې به داسړی له سره روژې نیسي ولی په روژوکې تتابع شرط ده چې فوت شوه حال داچې داسړی پرتتابع قادرهم دی . (دطرفینورحمهماالله قول راجح دی) .

(۳۳)وإنْ ظَاهَرَ الْعَبْدُ لَمْ يُجْزِهِ فِي الْكَفَّارَةِ إلَّا الصَّوْمُ (۳۴)فَإِنْ أَعْتَقَ الْمَوْلَى عَنْهُ أوْ أَطْعَمَ لَمْ يُجْزِهِ

ترجمه :که کوم مریی ظهاروکړنوپه کفاره کې نه دي جائزمګرروژې اوکه دده مولی دده له طرفه مریی آزادکړیایې دوډۍ ورکړه نوهم نه کافی کیږي .

تشریح :(۳۳)که کوم مریی له خپلې ښځې سره ظهاروکړنودهغه کفاره خالص په روژوسره اداکیږي ځکه مریی پرهیڅ شي ملکیت نه لري لهذادی نه دمریي په آزادولوسره کفاره اداکولای شي اونه دډوډۍ په ورکولوسره کفاره اداکولای شي .
(۳۴)که دهغه مولی دهغه له طرفه مریی آزادکړیایې مسکینانوته ډوډۍ ورکړه نوهم نه کافی کیږي ځکه دامریی دمالک کیدواهل نه دی لهذادمولی په مالک کیدوسره نه مالک کیږي .

(۳۵)وَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعِ الْمُظَاهِرُ الصِّيَامَ أَطْعَمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا (۳۶)وَيُطْعِمُ كُلَّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ قِيمَةَ ذَالِكَ (۳۷)فَإِنْ غَدَّاهُمْ وَعَشَّاهُمْ جَازَ قَلِيلًا كَانَ مَا أَكَلُوهُ أَوْ كَثِيرًا (۳۸)وَإِنْ أَطْعَمَ مِسْكِينًا وَاحِدًا سِتِّينَ يَوْمًا أَجْزَأَهُ (۳۹)وَإِنْ أَعْطَاهُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ لَمْ يُجْزِهِ إلَّا عَنْ يَوْمِهِ (۴۰)وَإِنْ قَرُبَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا فِي خِلَالِ الْإِطْعَامِ لَمْ يَسْتَأْنِفْ

ترجمه :که ظهارکونکي دروژونیولوطاقت نه درلودنوپه کفاره کې به شپیتومسکینانوته ډوډۍ ورکړي اوهرمسکین ته به نصف صاع غنم یایوه صاع خرمایایوه صاع اوربشې ورکوي یابه دهغوقیمت ورکوي

اوکه شپیتو مسکینانو ته دوه وخته یعنې سهاراو ماښام ډوډۍ ورکړي نوهم جائزده که کمه ورکوي اوکه زیاته ورکوي اوکه یوه مسکین ته شپیته ورځې ډوډۍ ورکوي نوداهم کافي دی اوکه یوه مسکین ته په یوه ورځ کې دټولو ورځودوډۍ ورکړي نوکفایت نه کوي مګرله یوې ورځې نه اوکه مظاهرله مظاهرمنهاسره دډوډۍ ورکولوپه منځ کې وطی وکړه نوله سره ډوډۍ ورکول نه غواړي.

تشریح :(۳۵)که مظاهرد مرض یا دزیات عمرپه وجه دروژو نیولو طاقت نه درلودنوپه کفاره کې به شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي.

(۳۶)صورت یې دادی چې دفطرانې په ډول به هرمسکین ته نیمه کاسه غنم یایوه کاسه خرمایایوه کاسه اوربشې ورکوي یابه ددغوشیانو قیمت ورکوي ځکه مقصوددفع دحاجت دمسکین ده اودامقصودپه قیمت اداکولو سره حاصلیدای شي.

(۳۷)که یې شپیتو مسکینانو ته دوه وخته یعنې سهاراو ماښام ډوډۍ ورکړه هم جائزه ده که هغوئ کمه خوري اوکه زیاته ځکه په آیت کریمه کې لفظ داطعام دی اواطعام حقیقي معنی پرخوراک کولوقادرکول دی اودسهاراو ماښام په ډوډۍ برابرولو کې دامعنی راځي.

(۳۸)که یوه مسکین ته شپیته ورځې ډوډۍ ورکړي نوکفاره اداکیږي ځکه مقصودله کفارې څخه دمحتاج حاجت لیرې کول دی اوحاجت هره ورځ نوی نوی پیداکیږي نودوهمه ورځ هغه مسکین ته ورکول داسې دی لکه بل مسکین ته چې یې ورکړه لهذاترشپیتو ورځوپورې یوه مسکین ته ډوډۍ ورکول شپیتو مسکینانو ته دډوډۍ ورکولوپه ډول ده.

(۳۹)که یې یوه مسکین ته په یوه ورځ ټوله ډوډۍ ورکړه نوخالص دیوې ورځې لپاره کافي کیږي ځکه تعدددحاجت نشته.

(۴۰)که مظاهرد ډوډۍ ورکولوپه منځ کې له مظاهرمنهاسره وطی وکړه نوله سره دډوډۍ ورکولوضرورت نشته ځکه په آیت کریمه کې دابیان نشته چې ډوډۍ به تروطی مخکې وي.

(۴۱)وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ كَفَّارَتَا ظِهَارٍ فَاَعْتَقَ رَقَبَتَيْنِ لَا يَنْوِيْ لِاَحَدِهِمَا بِعَيْنِهَا جَازَ عَنْهُمَا (۴۲)وَكَذَالِكَ اِنْ صَامَ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ اَوْ اَطْعَمَ مِاءَةً وَعِشْرِيْنَ مِسْكِيْنًا جَازَ (۴۳)وَاِنْ اَعْتَقَ رَقَبَةً وَاحِدَةً عَنْهُمَا اَوْ صَامَ شَهْرَيْنِ كَانَ لَهُ اَنْ يَجْعَلَ ذَالِكَ عَنْ اَيَّتِهِمَا شَاءَ

ترجمه :که پرچاد ظهاردوې کفارې واجبې وي بیاهغه ددواړو کفاروڅخه دوه مریيان آزادکړل اوپه دواړو کې یې دیوه معین نیت نه وکړی نوداددواړوله طرفه جائزکیږي همداراز که یې څلورمیاشتې روژې ونیولې یایې یوسل شلو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړه نوداجائزدی اوکه یې ددواړوله طرفه یومریی آزادکړیایې دوې میاشتې روژې ونیولې نوداسړي اختیارلري چې له دادوکفاروڅخه یې دکومې یوې لپاره مقررکړي.

تشریح :(۴۱)که پرچاباندي دظهاردوې کفارې وي هغه ددواړوله طرفه دوه مریيان آزادکړل اوله دواړو څخه يې یو ددوکفاروڅخه دیوې لپاره معین کړی نه و.
1 (۴۲)یایې بلاتعین څلورمیاشتې روژې ونیولې یایې یوسل شلومسکینانوته ډوډۍ ورکړه نوداجائزدی ځکه جنس یو دی دمتعین کولوضرورت يې نشته.
(۴۳)که پرچادوې کفارې واجبې وې هغه ددواړوله طرفه یومریی آزادکړیایې دوې میاشتې پیوسته روژې ونیولې نودادیوې کفارې له طرفه صحیح کیږي لهذاداسړی اختیارلري چې په دادوکفاروکې دکومې یوې لپاره دده خوښه وي دهغی لپاره دې مقررکړي.

كتَابُ اللعان

داکتاب دلعان په بیان کې دی

لعان دلاعن مصدردی لغةً په معنی درټلواولیرې کولو،شرعًاڅلوروشهادتونوته وایې چې په قسمونوسره مؤکدوي بیادنارینه شهادتونه مقرون باللعن وي اودښځې شهادتونه به مقرون بالغضب وي ،اودنارینه شهادتونه دنارینه په حق کې قائم مقام دحدقذف دي اودښځې شهادتونه دهغی په حق کې قائم مقام حدزنادي یعنې وروسته ترلعان پرنارینه حد قذف نشته اوپرښځه حدزنانشته.
دکتاب اللعان له کتاب الظهارسره مناسبت دادی چې ظهاراولعان دواړه موجب دحرمت دي بیایې ظهار ځکه مقدم کړی دی چې ظهارپه نسبت ولعان ته اقرب واباحت ته دی ولی لعان که دغیرمنکوحه طرف ته منسوب کړای شي نوموجب دحدقذف دی اوموجب دحد محض معصیت دی.
دلعان لپاره شرط قیام زوجیت دی اوسبب يې دنارینه پرښځه داسی الزام لګول دی چې په اجنبیه کې موجب دحدوي اورکن دلعان داسی شهادتونه دي چې مؤکدباللعن وي اوحکم دلعان وروسته ترتلاعن حرمت وطی والاستمتاع ده.

(۱)وَإِذَاقَذَفَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ بِالزِّنَاوَهُمَامِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِوَالْمَرْأَةُمِمَّنْ يُحَدُّقَاذِفُهَاأَوْنَفَى نَسَبَ وَلَدِهَاوَطَالَبَتْهُ الْمَرْأَةُ بِمُوْجَبِ الْقَذْفِ فَعَلَيْهِ اللِّعَانُ(۲)فَإِنِ امْتَنَعَ مِنْهُ حَبَسَهُ الْحَاكِمُ حَتّٰى يُلَاعِنَ أَوْيُكَذِّبَ نَفْسَهُ فَيُحَدُّ(۳)وَإِنْ لَاعَنَ وَجَبَ عَلَيْهَا اللِّعَانُ(۴)فَإِنِ امْتَنَعَتْ حَبَسَهَاالْحَاكِمُ حَتّٰى تُلَاعِنَ أَوْتُصَدِّقَهُ

ترجمه :که خاوندپرخپله ښځه دزناتهمت ولګاوه اودواړه له اهل شهادت څخه هم دي اوښځه داسې وه چې قاذف يې په حدکیږي یاښځې دماشوم نفی وکړه اوښځې له خاوندڅخه موجب دقذف مطالبه وکړه

نوپر خاوند لعان واجبيږي او که خاوند له لعان کولو څخه منع وکړي نو حاکم به دی بندي کوي ترهغه چې لعان کوي يا خپل ځان دروغجن ثابت کړي نو حد به پرې جاري کيږي که خاوند لعان کاوه نو پر ښځه هم لعان کول واجبيږي او که ښځې له لعان کولو څخه منع وکړه نو حاکم به يې بندي کوي ترهغه چې لعان وکړي يا د خپل خاوند تصديق وکړي.

تشريح :(۱) که خاوند پر خپله ښځه د زنا تهمت ولګاوه مثلاً ورته ووايې ته زانيه يې يا ما ته پر زناليدلې يې يا ورته ووايې اې زانيې! يا خاوند د خپلې ښځې د بچي د نسب نفی وکړي (مثلاً ووايې چې دا ماشوم له زنا څخه دی يا ووايې دا له ما نه دی) او ښځې له خپل خاوند څخه موجب قذف (يعنې لعان) مطالبه وکړه نو پر خاوند لعان واجبيږي په دې شرط چې زوجين دواړه پريو مسلمان د ګواهي ورکولو اهل وي يعنې کافر يا مملوک يا نابالغ يا محدود في القذف نه وي او ښځه داسي وي چې د هغې قاذف په حد کيږي داسې ښځه به نه وي چې له هغې سره په نکاح فاسده کې وطی شوې وي يا يې په ژوندکې چيرته زنا کړې وي يا د هغې لپاره ماشوم غير معروف الاب وي ځکه د دا دول ښځې قاذف نه په حد کيږي.

(۲) که خاوند له لعان کولو څخه انکار وکړ نو حاکم د وخت به دی بندي کړي ترهغه چې لعان وکړي خپل ځان بري کړي يا خپل ځان دروغجن ثابت کړي په دوهم صورت کې پر ده حد قذف جاري کيږي ولی لعان قائم مقام د حد وو نو چې لعان يې ونکړ نو پر ده اصل جاري کول واجبيږي.

(۳) که خاوند لعان وکړ نو پر ښځه هم لعان کول واجبيږي ليکن خاوند مدعي دی لهذا دلعان ابتداء به له زوج څخه کيږي.

(۴) که ښځې له لعان کولو څخه ډډه وکړه نو حاکم به هغه بندي کړي ترهغه چې د لعان وکړي يا د خپل خاوند تصديق وکړي چې دی رښتيا وايې ولی لعان پر ښځه هم واجب دی او دايې پر پوره کيد و قادره ده لهذا د دي حق په وجه محبوسه کړای کيږي.

(۵) وَإِذَا كَانَ الزَّوْجُ عَبْدًا أَوْ كَافِرًا أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ فَقَذَفَ امْرَأَتَهُ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ (٦) وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ وَهِيَ أَمَةٌ أَوْ كَافِرَةٌ أَوْ مَحْدُودَةٌ فِي قَذْفٍ أَوْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ فِي قَذْفِهَا وَلَا لِعَانَ

ترجمه :که خاوند مريې وو يا کافر وو يا محدود في القذف وو او پر خپله ښځه يې د زنا تهمت ولګاوه نو پر ده حد قذف واجبيږي او که خاوند اهل شهادت وو مګر ښځه د چا مينځه وه يا کافره وه يا محدوده في القذف وه يا داسې ښځه وه چې قاذف يې نه په حد کيدی نو پر داسې ښځه د تهمت لګولو په وجه پر خاوند نه حد واجبيږي او نه لعان.

تشريح :(۵)كه خاوند مريي يا كافر وو (صورت يې دادى چې زوجين دواړه كافران وي بيا ښځه مسلمانه شي او پر خاوند له اسلام عرض ولو مخكې هغه پر خپله ښځه دزنا تهمت ولګوي) يا محدود في القذف وي (محدود في القذف هغه دى چې پر چا دزنا د تهمت لګولو په وجه حد قذف وركړاى شوى وي) په دې دريو صورتونو كې كه خاوند پر خپله ښځه دزنا تهمت ولګاوه نو پر هغه لعان نه واجبيږي ولى لعان په داسى وجه متعذر دى چې هغه وجه دخاوند له طرفه ده لهذا اوس دواجب اصلى يعنې حد قذف طرف ته رجوع كيږي او حد قذف دالله تعالى په قول (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلاَ تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا)

ژباړه :هغه كسان چې تهمتونه لګوي په پاك لمنو ښځو او بيا پر خپله دعوى څلور شاهدان نه شي حاضرولاى نو داسى خلك اتيا دُرّې ووهئ او دهغوئ هيڅ ګواهي كله هم مه قبلوئ) ثابت دى .

(۶)كه خاوند اهل شهادت وو مګر دهغه ښځه دچا منځه وه يا كافره وه يا محدوده فى القذف وه يا دده ښځه داسى ښځه وه چې قاذف يې نه په حد كيدى په دې وجه چې داماشومه وه يا ليونۍ وه يا معروف الزنا وه نو په دې ټولو صورتونو كې دهغى پر خاوند حد نه واجبيږي او نه لعان ځكه دا ښځه نه اهل شهادت ده او نه دهغى په جانب كې احصان (احصان دادى چې يو بالغ آزاد مسلمان نكاح صحيح وكړي وطى وكړي) شته نو داهل شهادت نه كيدو په وجه لعان نه واجبيږي او دمحصنه نه كيدو په وجه پر خاوند حد قذف نه لازميږي .

(۷)وَصِفَةُ اللِّعَانِ أَنْ يَبْتَدِئَ الْقَاضِيُ بِالزَّوْجِ فَيَشْهَدَ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ يَقُوْلُ فِى كُلِّ مَرَّةٍ أَشْهَدُ بِاللهِ إِنِّى لَمِنَ الصَّادِقِيْنَ فِيْمَا رَمَيْتُهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا ثُمَّ يَقُوْلُ فِى الْخَامِسَةِ لَعْنَةُ اللهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِيْنَ فِيْمَا رَمَاهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا وَيُشِيْرُ إِلَيْهَا فِى جَمِيْعِ ذَالِكَ (۸)ثُمَّ تَشْهَدُ الْمَرْأَةُ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ تَقُوْلُ فِى كُلِّ مَرَّةٍ أَشْهَدُ بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِيْنَ فِيْمَا رَمَانِى بِهِ مِنَ الزِّنَا وَتَقُوْلُ فِى الْخَامِسَةِ غَضَبُ اللهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِيْنَ فِيْمَا رَمَانِى بِهِ مِنَ الزِّنَا

ترجمه :دلعان طريقه داده چې قاضى به په خاوند شروع وكړي هغه به څلور ځله شاهدي وركړي او هر ځل به وايې چې زه الله تعالى ګواه جوړوم چې كوم تهمت زنا چې زه پر ښځه لګوم په هغه كې زه صادق يم بيا به پنځم ځل ووايې چې دالله تعالى لعنت دې وي پر ما كه زه په دغه الزام كې دروغجن وم په دې ټولو كې به دښځې په طرف اشاره كوي بيا به ښځه څلور ځله ګواهي وركړي او هر ځل به وايې چې زه الله تعالى ګواه جوړوم چې ده چې دزنا كوم الزام پر ما لګولى دى په دې كې دى دروغجن دى او پنځم ځل به ووايې چې دالله تعالى غضب دې پر ما وي كه به دى دزنا په هغه الزام كې رښتينى وي چې پر مايې تهمت لګولى دى .

تشريح :(۷)دلعان طريقه داده چې قاضي به زوجين حاضرکړي دلعان شروع به په زوج سره وکړي هغه به څلورځله ګواهي ورکړي هرځل به وايې چې زه الله تعالی شاهد ګرځوم چې کوم تهمت دزنا چې ما پردغه ښځه لګولی دی په هغه کې زه رېښتينی يم او پنځم ځل به ووايې چې ماچې کوم تهمت پردغه ښځه لګولی دی که به په دې کې زه دروغجن يم نو دالله تعالی لعنت دې پرما وي او خاوند به ددې خبرو کولو په وخت دښځې طرف ته اشاره کوي.

(۸)بيا به هم داډول ښځه څلورځله ګواهي ورکړي او هرځل به وايې چې زه دالله تعالی په قسم سره ګواهي ورکوم چې دغه سړي چې دزناکاري کوم تهمت پرمالګولی دی په هغه کې دی دروغجن دی پنځم ځل به ووايې چې ده چې دزناکاري کوم تهمت پرمالګولی دی که داسړی په دې تهمت کې رېښتينی وي نو پرمادې دالله تعالی غضب وي.

دښځې په طرف کې پنځم ځل دپرمادې لعنت وي پرځای پرمادې غضب وي ،ځکه اختيارشوی دی چې ښځې پخپل کلام کې لعنت ډېراستعمالوي نو دشناخت په وجه په داسې موقع کې هغه په دې سره دبددعاء جرأت کوي او له غضب سره دنه شناخت په وجه له بددعاء کولو څخه ډډه کوي.

(۹)فَإِذَا الْتَعَنَا فَرَّقَ الْقَاضِيْ بَيْنَهُمَا وَكَانَتِ الْفُرْقَةُ تَطْلِيْقَةً بَائِنَةً عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَكُوْنُ تَحْرِيْمًا مُؤَبَّدًا (۱۰)وَإِنْ كَانَ الْقَذْفُ بِوَلَدٍ نَفَى الْقَاضِيْ نَسَبَهُ وَأَلْحَقَهُ بِأُمِّهِ

ترجمه :که زرجينو لعان وکړنو قاضي به ددوئ ترمنځ تفريق کوي او دافرقت دطرفينو رحمهما الله په نزد بائن طلاق دی او دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دا حرمت ابدی کيږي او که الزام په نفي دولد سره وونو قاضي به دماشوم نسب له دغه سړي څخه نفي کوي او ماشوم به له مور سره کوي.

تشريح :(۹)که زوجينو لعان وکړنو په محض لعان کولو سره فرقت نه راځي بلکې قاضي به ددوئ ترمنځ تفريق کوي حتی که دقاضي ترفرقت مخکې له دوئ دوڅخه يو مړشو نو هغه بل به يې وارث ګرځي، دافرقت دطرفينو رحمهما الله په نزد طلاق بائن دی ځکه دافرقت دعنين دفرقت په ډول دقاضي په تفريق سره راغلی دی نو دفرقت په شان دا هم طلاق بائن کيږي.

دامام ابويوسف رحمه الله په نزد په لعان کولو سره حرمت ابدي ثابتيږي لهذا داښځه هغه ته دهميشه لپاره حراميږي لقوله ﷺ المتلاعنان لايجتمعان أبدًا (يعنې لعان کونکي سړی او ښځه به هيڅکله نه جمع کيږي) (دطرفينو رحمهما الله قول راجح دی)

(۱۰)که چاپرخپلې ښځې دزنا تهمت داسې ولګاوه چې داماشوم زماله نطفې څخه نه دی نو له لعان وروسته به قاضي دماشوم نسب له سړي څخه نفي کوي او ماشوم به له مور سره يوځای کوي.

(۱۱) فَإِنْ عَادَ الزَّوْجُ وَأَكْذَبَ نَفْسَهُ حَدَّهُ الْقَاضِيْ (۱۲) وَحَلَّ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا (۱۳) وَكَذَا إِنْ قَذَفَ غَيْرَهَا فَحُدَّ بِهِ أَوْ زَنَتْ فَحُدَّتْ (۱۴) وَإِنْ قَذَفَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ صَغِيْرَةٌ أَوْ مَجْنُوْنَةٌ فَلَا لِعَانَ بَيْنَهُمَا وَلَا حَدَّ

ترجمه :بیا که خاوند له خپل قول څخه رجوع وکړه او د خپل ځان تکذیب یې وکړنو قاضی به ده ته حد قذف ورکوي او ده لره له هغې ښځې سره نکاح کول حلال ده همدارازکه دا سړي پرپردی ښځه د زنا تهمت ولګاوه بیا په حدقذف شویا (که تر لعان وروسته) دې ښځې زنا وکړه او بیا هغه په حد زنا سره په حد شوه که خاوند پر خپله ښځه د زنا تهمت ولګاوه او هغه نابالغه ماشومه وه یا لیونی وه نو د دوئ د تر منځ لعان نه کیږي او نه حد کیږي .

تشريح :(۱۱) تر لعان وروسته که خاوند له خپل قول څخه رجوع وکړه او د خپل ځان تکذیب یې وکړنو قاضی به هغه په حدقذف سره ووهي ځکه ده پر خپل ځان د حدقذف د واجبیدو اقرار وکړنو په وجه د اقرار سره دی په حدقذف سر وهل کیږي .

(۱۲) د طرفینو رحمهما الله په نزد خاوند چې خپل ځان دروغجن کړي تر هغه وروسته له هغې ښځې سره نکاح کولای شي ځکه چې کله خاوند په حدقذف سره ووهل شونو په ده کې دلعان اهلیت نه دی پاتې شوی نو د تحریم نکاح حکم چې په لعان پوري معلق وو هغه هم مرتفع شو .

(۱۳) همدارازکه دغه سړي پرپردی ښځه د زنا تهمت ولګاوه بیا دا سړی په حدقذف سره ووهل شونو هم دې سړي ته له هغې ښځې سره نکاح کول جائزه ده لما رَوینا ،همدارازکه تر لعان وروسته دې ښځې زنا وکړه بیا په حد زناء سره ووهله شوه نو هم دې سړي لره له دغې ښځې سره نکاح کول جائزه ده ولې وروسته تر حد په ښځه کې د لعان اهلیت نه پاتېږي لهذا د تحریم نکاح هم مرتفع شو .

(۱۴) که خاوند پر خپله ښځه د زنا تهمت ولګاوه او دده ښځه نابالغه ماشومه ده یا لیونی ده نو په دې دوصورتو کې لعان نه کیږي ځکه د صغیره او مجنونه قاذف که بیګانه سړی وي نو حد قذف نه پرې جاري کیږي نو همدارازله خاوند څخه هم د لعان مطالبه نه کیږي ولې لعان د حد قذف قائم مقام دی .

(۱۵) وَقَذْفُ الْأَخْرَسِ لَا يَتَعَلَّقُ بِهِ اللِّعَانُ

ترجمه :د ګونګي له تهمت لګولو سره لعان نه متعلق کیږي .

تشريح :(۱۵) که ګونګي خپلې ښځې ته د زنا تهمت وروړي کړنو له دې سره لعان نه متعلق کیږي ځکه لعان له صریح قذف (تهمت) سره متعلق کیږي لکه حدقذف چې په صریح قذف سره واجبیږي حال دا چې په ګونګي کې د تهمت لګولو شبه موجوده ده و الحُدُودُ تندرئُ بِالشُّبهات (حدود د شبهې په وجه لیري کړای کیږي) .

(۱۶)وَإِذَاقَالَ الزَوْجُ لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّيْ فَلَا لِعَانَ (۱۷)وإِنْ قَالَ زَنَيْتِ وهٰذَاالْحَمْلُ مِنَ الزِّنَالَاعَنَاولَمْ يَنْفِ الْقَاضِيْ الْحَمْلَ مِنْه

ترجمه :كه خاوند وويل چې ستاحمل له ما څخه نه دى نوپه دي لعان نشته اوكه خاوند وويل چې تازناكړې ده اوداحمل له زنا څخه دى نوزوجين به لعان كوي اوقاضى به ددغه حمل دنسب له ده څخه نفى نه كوي .

تشريح :(۱۶)كه خاوند خپلې ښځې ته وويل چې ستاحمل له ما څخه نه دى نودامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد په دي سره لعان نه واجبيږي اونه حداودصاحبينو رحمهما الله په نزدكه دي ښځې دتهمت لګيدوله وخته څخه ترشپږومياشتوكم ماشوم وزيږداوه نودحمل دنفى په كولوسره لعان واجبيږي،دامام ابو حنيفة رحمه الله دليل دادى چې كله دحمل نفى وكړاى شوه هغه وخت دحمل كيدل يقيني نه دى (ولي ممكن چې خيټه يې له هواډكه وي چې دحمل خيال پرې راځي) لهذاخاوندتهمت لګونكى نه شمارل كيږي نوچې تهمت ثابت نه شونولعان هم نه واجبيږي . (دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دى)

(۱۷)كه خاوند خپلې ښځې ته وويل چې تازناكړې ده اوداحمل له زنا څخه دى نوزوجين به لعان كوي ځكه لفظ دزناصراحةً مذكوردى په دي وجه دزناتهمت راغلى دى البته قاضى به ددي حمل دنسب نفى له ده څخه نه كوي ولى دماشوم نفى كول دماشوم داحكامونه يوحكم دى او احكام دولدله ولادت وروسته مرتب كيږي نه ترولادت مخكې .

(۱۸)وَإِذَانَفَى الرَّجُلُ وَلَدَامْرَأَتِهٖ عَقِيْبَ الْوِلَادَةِاَوْفِيْ حَالِ الَّتِيْ تُقْبَلُ التَّهْنِئَةُفِيْهَااَوْتُبْتَاعُ لَهٗ آلَةُالْوِلَادَةِصَحَّ نَفْيُهٗ ولَاعَنَ بِهٖ(۱۹)وإِنْ نَفَاهُ بَعْدَذَالِكَ لَاعَنَ ويَثْبُتُ النَّسَبُ وقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ ومُحَمَّدٌرَحِمَهُ اللهُ يَصِحُّ نَفْيُهٗ فِيْ مُدَّةِالنِّفَاسِ

ترجمه :كه خاوند دخپلې ښځې دماشوم دنسب نفى وكړه له پيداكيدووروسته ياپې هغه وخت نفى وكړه كله چې دماشوم مباركي اخيستله كيده ياهغه وخت چې دپيدايش شيان اخيستل كيده نودهغه نفى كول صحيح دى اولعان به كوي اوكه خاوندله دغووختونووروسته دماشوم نفى وكړه نولعان به كوي اودماشوم نسب ثابتيږي اوصاحبينو رحمهما الله فرمايلي دي چې په موده دنفاس كې دننه دماشوم نفى كول صحيح دى .

تشريح :(۱۸)كه خاونددخپلې ښځې دماشوم دپيداكيدووروسته دماشوم نسب له خپل ځان څخه نفى كړياپې هغه وخت چې كله دماشوم مباركي اخيستله كيده ياهغه وخت يې نفى وكړه كله چې دماشوم دپيدايش شيان اخيستل كيږي نوپه دي دريوصورتونوكې نفى كول صحيح ده (يعنې له خاوندڅخه دماشوم نسب نه ثابتيږي) ځكه خاوندنه صراحةً په هغه اعتراف كړى دى اونه دلالةً اوددي نفى دولدپه وجه به خاوندلعان كوي ولى دولددنفى په وجه خاوندتهمت لګونكى شمارل كيږي .

(۱۹) که خاوند له دغو ختونو وروسته د ماشوم نفی وکړه نو لعان به کوي او د ماشوم نسب له ده څخه ثابتیږي ځکه هغه دلالةً د ثبوت نسب اعتراف کړی دی او دلالةً اعتراف د هغه سکوت او مبارکي اخیستل دی دا د امام ابو حنیفة رحمه الله مسلک دی.

د صاحبینو رحمهما الله په نزد په موده د نفاس کې دننه د ماشوم نفی کول صحیح دی ولی په موده قصیره کې د ماشوم نفی صحیح ده او په موده طویله کې نه ده صحیح د دې ترمنځ فاصل موده د نفاس ده ولی نفاس د ولادت اثر دی (د امام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی).

(۲۰) وَإِذَا وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ فَنَفَى الْأَوَّلَ وَاعْتَرَفَ بِالثَّانِي ثَبَتَ نَسَبُهُمَا وَحُدَّ الزَّوْجُ (۲۱) وَإِنِ اعْتَرَفَ بِالْأَوَّلِ وَنَفَى الثَّانِي ثَبَتَ نَسَبُهُمَا وَلَاعَنَ

ترجمه: که ښځې په یوه خېټه دوه ماشومان وزیږېدل نو خاوند د لومړي ماشوم د نسب نفی وکړه او په دوهم یې اقرار وکړ نو دواړو ماشومانو نسب ثابتیږي او خاوند ته حد قذف ورکول کیږي او که خاوند د لومړي ماشوم اعتراف وکړ او د دوهم نفی یې وکړه نو د دواړو ماشومانو نسب ثابتیږي او خاوند به لعان کوي.

تشریح: (۲۰) که ښځې په یوه وار دوه ماشومان پیدا شول یعنې د دواړو ماشومانو ترمنځ تر شپږ میاشتې کمه فاصله وه بیا خاوند د لومړي ماشوم د نسب نفی وکړه او د دوهم یې اقرار وکړ نو له دغه سرې څخه د دواړو ماشومانو نسب ثابتیږي ځکه د دواړه غبرګولی دي له یوه مني څخه پیدا شوي دي نو دا څرنګه کیدای شي چې یو ماشوم د ده زوی وي او بل یې نه وي زوی او خاوند ته حد قذف ورکول کیږي ولی ده د دوهم ماشوم د نسب دعوی وکړه خپل ځان یې دروغجن وښود.

(۲۱) که خاوند د لومړي ماشوم اعتراف وکړ د دوهم یې نفی وکړه نو په دې صورت کې هم د دواړو ماشومانو نسب ثابتیږي لِمَاتَقَدَّمَ البته په دې صورت کې پر خاوند لعان واجبیږي ولی خاوند د دوهم ماشوم نفی وکړه تهمت یې ولګاوه او له نفی وروسته یې رجوع وکړه خپل ځان یې دروغجن ثابت کړ ځکه حد قذف نه ورکول کیږي او لعان واجبیږي.

كِتَابُ الْعِدَّة

دا کتاب د عدت په بیان کې دی

عدت په لغت کې شمارلو ته وایې او شرعاً هغه انتظار ته وایې چې ښځې لره له زوال نکاح یا شبهه نکاح وروسته لازمیږي.

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې عدت ځرنګه چې دخپل وجودپه لحاظ شرعًاپرفرقت نکاح مرتب دی ځکه يې له وجوه دفرقت يعنې طلاق ،ايلاء،خلع اولعان وروسته داذکرکړی دی .

(۱) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا أَوْ رَجْعِيًّا أَوْ وَقَعَتِ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُمَا بِغَيْرِ طَلَاقٍ وَهِيَ حُرَّةٌ مِمَّنْ تَحِيضُ فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَقْرَاءٍ (۲) وَالْأَقْرَاءُ الْحَيْضُ (۳) وَإِنْ كَانَتْ لَا تَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ (۴) وَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا (۵) وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً فَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ (۶) وَإِنْ كَانَتْ لَا تَحِيضُ فَعِدَّتُهَا شَهْرٌ وَنِصْفٌ

ترجمه :که چاخپلې ښځې ته طلاق بائن ياطلاق رجعی ورکړياددوئ ترمنځ بغير طلاق فرقت راغی اودا ښځه حُره ښځه ده اوله ذوات الحيض څخه ده نودهغی عدت درې حيضونه کيږي اوله اقراء څخه حيض مراددی اوکه حُرې ښځې ته دکوچني والی يازيات عمرپه خاطرحيض نه راتلی نودهغی عدت درې مياشتې کيږي اوکه ښځه حامله وه نودهغی عدت دادی چې وضع دحمل وکړي اوکه مطلقه ښځه منځه وه نودهغی عدت دوه حيضه کيږي اوکه هغی ته حيض نه راته نودهغی عدت يوه نيمه مياشت کيږي.

تشريح :(۱)که چاخپلې ښځې ته طلاق بائن يارجعی ورکړياددوئ ترمنځ بغيرطلاق فرقت واقع شو(مثلاښځې پلاردزوج پرخپل ځان قادرکړ)اودا ښځه حره ښځه وه اوله ذوات الحيض څخه وه نودهغی عدت له وخت دطلاق اوفرقت درې کامل حيضونه کيږي که په حالت دحيض کې يې طلاق ورکړنودا حيض نه شمارل کيږي .

(۲)دعدت په باره کې راغلی آيت کريمه (وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ) مطلقی ښځې دي خپل ځانونه تردريوحيضونوپه انتظارکې وساتي) دلته له لفظ دقروء څخه دامام شافعی رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نزدطهرمراددی لهذاددوئ په نزدعدت درې طهرونه دي مګردااحنافو رحمهم الله په نزدله قروء څخه حيض مراددی لهذاعدت درې حيضونه دي .

(۳)که حرې ښځې ته دکوچني والي يازيات عمرته درسيدوپه وجه حيض نه راته نودهغی عدت درې مياشتې دي لقوله تعالی (وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ) يعنې ستاسی له مطلقه بيبيانوڅخه هغه ښځې چې دزيات عمرپه وجه له حيض راتلوڅخه مايوسې شوې دي که تاسی ته دهغوئ په عدت کې شبه وي نودهغوئ عدت درې مياشتې دي اوهمدارازهغه ښځې دکم عمري په وجه حيض نه ورته راځي .

(۴)که مطلقه ښځه حامله وه نودهغی عدت په وضع دحمل سره ده لقوله تعالی (وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ) يعنې دحامله ښځوعدت دحمل په پيداکيدوسره ده .

(۵)كه مطلقه ښځه منځه وه نو كه له ذوات الحيض څخه وه نو دهغى دوه حيضونه دي ځكه مرييتوب نعمت اوعذاب نيمى كوي نو دمنځې عدت بايديونيم حيض وي ليكن حيض متجزى نه شي كيداى ځكه يې نصف حيض پوره كړى دى په دي ډول د منځې عدت دوه حيضه كيږي .

(۶)كه مطلقه منځه له ذوات الحيض څخه نه وي نو دهغى حيض يوه نيمه مياشت ده ولى مياشت متجزى كيداى شي نو په رقيت سره په عمل كولو دهغى تنصيف كيږي اوكه مطلقه منځه حامله وي نو دحُرې په ډول دهغى عدت په وضع دحمل ده .

دزوج دوفات عدت

(۷)وَإِذَامَاتَ الرَّجُلُ عَنْ اِمْرَأَتِهِ الْحُرَّةِ فَعِدَّتُهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشَرَةُ أَيَّامٍ (۸)وإِنْ كَانَتْ أَمَةً فَعِدَّتُهَا شَهْرَانِ وَخَمْسَةُ أَيَّامٍ (۹)وإِنْ كَانَتْ حَامِلًا فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا

ترجمه :كه دحُري ښځې ميړه مړشو نو دهغى عدت څلورمياشتې لس ورځې ده اوكه متوفى عنهازوجها منځه وي نو دهغى عدت دوې مياشتې پنځه ورځې دي اوكه متوفى عنهازوجها حامله وي نو دهغى عدت په وضع دحمل سره ده .

تشريح :(۷)كه دحُري ښځې خاوندوفات شونو دهغى عدت څلورمياشتې لس ورځې دي كه ښځه مدخول بهاوي كه غيرمدخول بها،كه بالغه وي يانابالغه،كه مسلمانه وي كه كتابيه،له ذوات الحيض څخه وي كه له غيرذوات الحيض څخه لقوله تعالى (وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا)

ژباړ :هغه كسان چې وفات شي له تاسونه اوپريږدي ښځې نوداښځې به خپل ځانونه څلورمياشتې لس ورځې انتظاركې ساتي)

(۸)كه متوفى عنهازوجهامنځه وه نو دهغى عدت دوې مياشتې لس ورځې ده لى رقيت عذاب نيمى كوي .

(۹)كه متوفى عنهازوجهاحامله وه نو دهغى عدت په وضع دحمل سره ده كه حُره وي كه منځه ولى دالله تعالى قول (وَأُولَاتُ الاحمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ)

ژباړه :دحامله ښځوعدت دهغوئ دحمل په پيدا كيدوسره ده .) مطلق دى .

(۱۰)وَإِذَا وَرِثَتِ الْمُطَلَّقَةُ فِي الْمَرَضِ فَعِدَّتُهَا أَبْعَدُ الْأَجَلَيْنِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه :كه مطلقه په مرض موت كې وارثه شوه نو دهغى عدت دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد ابعد الاجلين ده .

تشريح :(۱۰)كه چاپخپل مرض موت كې خپلې ښځې ته يو طلاق بائن يادرې طلاقه بائن وركړل بياښځه لاپه عدت كې وه خاونديې مړشونو دهغه وارثه ګرځي اوددي ښځې عدت به ابعد الاجلين وي يعنې پردغه ښځه

ددريو طلاقونو په وجه درې حيضه تيرول واجب دي او د خاوند دوفات په وجه څلور مياشتې لس ورځې تيرول واجبي دى په دغو دوکې چې کومه موده زياته وي هغه به تيروي.
که درې حيضونه تيرشول ليکن څلور مياشتې لس ورځې نه وي پوره شوې نو ويل کيږي چې تر اوسه يې عدت نه ده تيره شوې ترهغه چې څلور مياشتې لس ورځې پوره شي او که څلور مياشتې لس ورځې پوره شي مگر درې حيضونه يې تيرشوي په دې ډول چې ښځه ممتدة الطهروي نو داويل کيږي چې تراوسه يې عدت نه ده تيره شوې ترهغه چې درې حيضه راشي که څه هم دآياس ترکلونو پورې انتظار غواړي، دادطرفينو رحمهما الله مسلک دی ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزد دهغی عدت خالص درې حيضه دي (دطرفينو رحمهما الله قول راجح دی) او که طلاق رجعي وونو په اتفاق به عدت الوفات تيروي.

(۱۱) فَإِنْ أُعْتِقَتِ الْأَمَةُ فِي عِدَّتِهَا مِنْ طَلَاقٍ رَجْعِيٍّ انْتَقَلَتْ عِدَّتُهَا إِلَى عِدَّةِ الْحَرَائِرِ (۱۲) وإِنْ أُعْتِقَتْ وَهِيَ مَبْتُوتَةٌ أَوْ مُتَوَفًّى عَنْهَا زَوْجُهَا لَمْ تَنْتَقِلْ عِدَّتُهَا إِلَى عِدَّةِ الْحَرَائِرِ (۱۳) وإِنْ كَانَتْ آيِسَةً فَاعْتَدَّتْ بِالشُّهُوْرِ ثُمَّ رَأَتِ الدَّمَ انْتَقَضَ مَا مَضَى مِنْ عِدَّتِهَا وكَانَ عَلَيْهَا أَنْ تَسْتَأْنِفَ الْعِدَّةَ بِالْحَيْضِ

ترجمه: که منځه دطلاق رجعي په عدت کې آزاده شوه نو دهغی عدت دحروښځو دعدت طرف ته منتقل کيږي او که داآزاده کړای شوه په داسی حال کې چې بائنه وه ياېې خاوندمړشوی وونو دهغی عدت دحروښځو دعدت طرف ته نه منتقل کيږي او که مطلقه ښځه آئسه وه بيادې په مياشتو سره عدت تيرولو بيايې وينه وليده نو څومره عده چې يې تيره شوې ده هغه ماتيږي او پرهغې له سره په حيضونو سره عدت تيرول لازميږي.

تشريح: (۱۱) که منکوحه منځې ته دهغی خاوند طلاق رجعي ورکړيادا خپل مولی په عده کې آزاده کړه نو دهغی عدت دحروښځو دعدت طرف ته منتقله کيږي ولی په طلاق رجعي سره نکاح نه منقطعه کيږي بلکې من کل وجه باقی ده نوگواکې خپل مولی دمنکوحه کيد وپه حالت کې آزاده کړې ده.
(۱۲) که منځې دطلاق بائن عدت تيروله ياېې خاوند وفات شوی وودوفات عدت يې تيروله چې خپل مولی آزاده کړه نو په دې صورت کې دهغی عدت دحروښځودعدت طرف ته نه منتقل کيږي ځکه دطلاق بائن يامرگ په وجه نکاح زائليږي نوگواکې مولی هغه دغير منکوحه په حالت کې آزاده کړې ده.
(۱۳) که مطلقه ښځه دآياس په کلونو کې وه هغی په مياشتو سره عده تيروله بياهغی ترسن آياس مخکې دعادت مطابق وينه وليده نو هغی چې څومره عده په مياشتو تيره کړې ده هغه باطله شوه اوس به له سره په حيضونو سره عدت تيروي ولی دعادت مطابق وينه راتلل اياس باطلوي.

(۱۴) وَالْمَنْكُوحَةُ نِكَاحًا فَاسِدًا وَالْمَوْطُوءَةُ بِشُبْهَةٍ عِدَّتُهُمَا الْحَيْضُ فِي الْفُرْقَةِ وَالْمَوْتِ

ترجمه :که دکومې ښځې نکاح فاسده شوې وه اوهغه ښځه چې په شبه وطی ورسره شوې وي ددوئ دواړو عدت په فرقت اومرګ دواطي کې په حيض سره ده .

تشريح :(۱۴)که له کومې ښځې سره نکاح فاسده شوې وه (مثلا بغيرشهوديې نکاح کړې وه) يا له يوې ښځې سره وطی په شبه شوې وه (مثلا په غلطی سره يې دخپلې ښځې پرځای له هغې سره وطی وکړه) نوپردغه ښځه دفرقت اومرګ دواطي په صورت کې عدت واجبيږي ځکه پرهغې عدت درحم دپاکوالي دمعلوميدولپاره وي نه دنکاح دحق اداکولولپاره اودرحم دپاکوالي علم په حيض سره کيږي دحيض نه راتلوپه صورت کې مياشت دهغه قائم مقام کيږي.

(۱۵) وَإِذَا مَاتَ مَوْلَى أُمِّ الْوَلَدِ عَنْهَا أَوْ أَعْتَقَهَا فَعِدَّتُهَا ثَلٰثُ حِيَضٍ (۱۶) وَإِذَا مَاتَ الصَّغِيرُ عَنِ امْرَأَتِهِ وَبِهَا حَبَلٌ فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا (۱۷) فَإِنْ حَدَثَ الْحَبَلُ بَعْدَ الْمَوْتِ فَعِدَّتُهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشَرَةُ أَيَّامٍ

ترجمه :که دأم ولدمولی مړشويامولی أم ولدآزاده کړه نودهغی عدت به درې حيضه وي اوکه دښځې نابالغ خاوندوفات شوپه داسی حال کې چې دهغه ښځه حامله ده نودهغی عدت په وضع دحمل سره ده اوکه حمل دهلک (زوج) له مرګه وروسته پيداشونودهغی عدت څلورمياشتې لس ورځې ده .

تشريح :(۱۵) که دأم ولدمولی مړشويامولی أم ولده آزاده کړه نودأم ولدعدت به درې حيضه وي که داله ذوات الحيض څخه وه اودرې مياشتې به وي که له ذوات الاشهرڅخه وه ځکه داعدت دنکاح په وجه نه ده بلکې دوطی په وجه په هغه حال کې واجبه شوې ده چې داآزاده ده لهذادهغی عدت به درې حيضه ياقائم مقام ددريوحيضونووي کمافي الوَطئِ بِشُبهَةٍ.

(۱۶)که نابالغ هلک (چې له هغه څخه حمل نه راځي) مړشواوخپله ښځه يې په داسي حال کې پريښوده چې هغه حامله ده نودهغی عدت به په وضع دحمل سره وي ولی دالله تعالی قول (وَاُولاتُ الاَحمَالِ اَجَلُهُنَّ اَن يَضَعنَ حَملَهُنَّ) يعنې دحامله ښځوعدت به په پيداکيدودحمل وي) مطلق دی ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزددهغی عدت څلورمياشتې لس ورځې دي ځکه حمل ثابت النسب نه دی لهذاحادث بعدالموت په شان دی . (دطرفينو رحمهماالله قول راجح دی) .

(۱۷)اوکه حمل دهلک (زوج) له مرګه وروسته ټينګ شوی وي نوددې ښځې عدت څلورمياشتې لس ورځې دی ولی دمرګ په وخت همداعدت مقررشوی دی لهذاوروسته په حمل ټينګيدوسره عدت نه متغيرکيږي،اودماشوم نسب په دواړوصورتوکې نه ثابتيږي ولی دصغيرنطفه نه وي نودهغه له طرفه حمل هم نه متصوريږي .

(۱۸) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالِ الْحَيْضِ لَمْ تَعْتَدَّ بِالْحَيْضَةِ الَّتِي وَقَعَ فِيهَا الطَّلَاقُ (۱۹) وإِذَا وَطِءَتِ الْمُعْتَدَّةُ بِشُبْهَةٍ فَعَلَيْهَا عِدَّةٌ أُخْرَى وَتَدَاخَلَتِ الْعِدَّتَانِ فَيَكُونُ مَا تَرَاهُ مِنَ الْحَيْضِ مُحْتَسَبًا مِنْهُمَا جَمِيعًا وإِذَا انْقَضَتِ الْعِدَّةُ الْأُولَى ولَمْ تُكْمِلِ الثَّانِيَةُ فَعَلَيْهَا إِتْمَامُ الْعِدَّةِ الثَّانِيَةِ

ترجمه :که خاوند ښځې ته په حال د حیض کې طلاق ورکړنو په عدت کې هغه حیض نه شمارل کیږي په کوم کې چې طلاق واقع شوی دی او که کومه ښځه په عدت کې وه له هغې سره وطی بالشبه وکړای شوه نو پر هغې یوه بله عده واجبیږي او دواړې عدې تداخل سره خوري اوس چې کوم حیض راځي هغه په دواړو عدو کې شمارل کیږي که مخکینۍ عده پوره شوې وه او دوهم عده نه وه پوره شوې نو دوهم عده پوره کول ضروري دي.

تشریح :(۱۸)که خاوند ښځې ته په حال د حیض کې طلاق ورکړنو په عدت کې هغه حیض نه شمارل کیږي په کوم کې چې طلاق ورکړای شوی دی ځکه د دغه حیض څه حصه تیره شوې ده نو که دا په عدت کې شمار کړای شي نو عدت کامل درې حیضه نه کیږي حال دا چې په عدت کې پوره درې حیضه تیرول ضروري دي.
(۱۹)که کومه ښځه له طلاق بائن څخه په عدت کې وه له هغې سره وطی بالشبه وکړای شوه نو پر هغې ښځې د تجدد سبب په وجه یوه بله عده واجبیږي او د دواړو عدو ترمنځ تداخل راځي اوس چې کوم حیض له دوهم عدت وروسته راځي هغه په دواړو عدو کې شمارل کیږي که مخکینۍ عده پوره شوه او دوهم عدت لانه وپوره شوی نو دوهم عدت پوره کول ضروري دی مثلا معتدې د اول عدت یو حیض تیر کړ له هغې سره وطی بالشبه وشوه نو اوس به درې حیضه نور تیروي په دې د وله به دا ښځه څلور حیضه تیروي چې له هغو څخه به لومړی په لومړي عدت کې شمارل کیږي او د منځ دوه حیضونه به په دواړو عدو کې شمارل کیږي او آخری حیض به خالص په دوهم عدت کې شمارل کیږي.

(۲۰) وَابْتِدَاءُ الْعِدَّةِ فِي الطَّلَاقِ عَقِيبَ الطَّلَاقِ (۲۱) وفِي الْوَفَاةِ عَقِيبَ الْوَفَاةِ (۲۲) فَإِنْ لَمْ تَعْلَمْ بِالطَّلَاقِ أَوِ الْوَفَاةِ حَتَّى مَضَتْ مُدَّةُ الْعِدَّةِ فَقَدِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا (۲۳) وَالْعِدَّةُ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ عَقِيبَ التَّفْرِيقِ بَيْنَهُمَا أَوْ عَزْمِ الْوَاطِئِ عَلَى تَرْكِ وَطْئِهَا

ترجمه :او په طلاق کې عدت له طلاق ورکولو وروسته شروع کیږي او په وفات کې د خاوند له وفات وروسته شروع کیږي او که ښځه په طلاق یا وفات نه وه خبره تر هغه چې د عدت زمانه تیره شوه نو د ښځې عدت پوره شو او په نکاح فاسده کې د زوجینو ترمنځ له تفریق وروسته یا د وطی کونکي د وطی پریښودلو له پخې ارادې وروسته.

تشریح :(۲۰)د طلاق په صورت کې د عدت ابتداء له طلاق ورکولو وروسته کیږي.

(۲۱)اودوفات په صورت کې دخاوندله وفات وروسته ابتداء کیږي ولی طلاق اووفات دعدت سببونه دي لهذا دعدت ابتداء دسبب له وجود وروسته کیږي .
(۲۲)که خاوند طلاق ورکړی وومګر ښځه په خبره نه وه یایې خاوندوفات شوی وومګر ښځه ناخبره وه ترهغه چې دعدت زمانه تیره شوه نودښځې عدت پوره شو لهذا دمعلومیدووروسته دعدت اعاده نشته ولی عدت دزمانی تیرولونوم دی نوچې کله زمانه تیره شوه نوعدت پوره شو .
(۲۳)په نکاح فاسده کې دمدخول بهاښځې دعدت ابتداء له هغه وخت کیږي چې کله حاکم دزوجینوترمنځ تفریق وکړي یاوطی کونکی دوطی پریښودلوعزم وکړي یعنې په خوله ووایې تَرَکْتُ وطئهااوتَرَکْتُها (مادهغې وطی پریښوده یاووایې چې ماهغه پریښوده) اوخالص عزم معتبرنه دی،البته په غیرمدخول بها کې خالص تفریق بالابدان کافي دی .

(۲۴)وَعلى الْمَبْتُوتَةِوَالْمُتَوَفّٰى عَنهَازَوْجُهَااِذَاكانتْ بَالِغَةًمُسلِمَةًاَلْاِحْدَادُ(۲۵)وَالْاِحْدَادُاَنْ تَتْرُكَ الطِّيْبَ وَالزِّيْنَةَ وَالدُّهْنَ وَالْكُحْلَ اِلَّامِنْ عُذْرٍ ولاتَخْتَضِبَ بِالْحِنَّاءِ ولاتَلْبَسَ ثَوْبًامَصْبُوْغًابِعُصْفُرٍ ولابِوَرْسٍ ولابِزَعْفَرَانٍ(۲۶)ولااِحْدَادَ عَلٰى كافِرَةٍ(۲۷)ولاصَغِيْرَةٍ(۲۸)وعلى الْاَمَةِاَلْاِحْدَادُ

ترجمه :اوپرمعتده بائنه اومتوفی عنهازوجهاچې کله بالغه اومسلمانه وي غم اوتأسف کول واجب دی هغه داچې خوشبوئي لګول ،زینت کول،تیل لګول،سترګې تورول،پریږدي مګرداچې یوعذروي اولاسونه به نه سره کوي اوداسی جامه به نه اغوندي چې په عصفر،یاوَرَس یازعفرانوسره رنګیدلې وي اوپرکافره ښځه غم نشته اوپرنابالغه انجلۍ هم غم نشته البته پرمنځه تأسف واجب دی .

تشریح :(۲۴) پرمعتده بائنه اومتوفی عنهازوجهاچې کله بالغه اومسلمانه وي غم کول واجب دی ،دنکاح دنعمت پرفوت کیدودتأسف لپاره .
(۲۵)دښځې غم کول دادی چې دابه خوشبوئي لګول،زینت کول،تیل لګول،که خوشبوداروي که غیر خوشبوداراوسترګې تورول پریږدي البته که کوم عذروونوبیاددي شیانواستعمال جائزدی اِذَالضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ (ضرورتونه محظورات مباح کوي) اونکروځې به نه لګوي اوپه عصفر،یاوَرَس یازعفران رنګیدلې جامه به نه اغوندي ځکه په دي شیانوکې دواعی درغبت دي چې ممنوع دي .
(۲۶)پرکافره ښځه غم کول نشته ولی تأسف شرعي حق دی اودا په شرعی حقوقومخاطبه نه ده .
(۲۷)پرنابالغه انجلۍ هم غم نشته ځکه چې دالله تعالی خطاب له هغې ځخه پورته شوی دی .
(۲۸)البته پرمنځه غم کول واجب دی ولی منځه په ټولوهغوحقوقودشرع مخاطبه ده په کوموکې چې دهغې دمرلی حق نه باطلیږي .

(۲۹)وَلَيس فِي عِدَّةِ نِكَاحِ الْفَاسِدِ(۳۰)ولا فِي عِدَّةِ أُمِّ الْوَلَدِ إِحْدَادٌ(۳۱)ولا يَنْبَغِي أَنْ تُخْطَبَ الْمُعْتَدَّةُ(۳۲)ولا بَأْسَ بِالتَّعْرِيْضِ فِي الْخِطْبَةِ

ترجمه :اود نكاح فاسدي په عدت كې غم نشته اونه دأم ولدپه عدت كې تأسف شته او معتده ښځې ته دنكاح پيغام وركول مناسب نه دى اوهيڅ باک نشته دنكاح دپيغام په وړاندې كولوكې.

تشريح :(۲۹)دنكاح فاسدي په عدت كې غم نشته.

(۳۰)همدارازكه مولى أم ولده آزاده كړه يامولى مړشونوپرأم ولده دهغه په عدت كې تأسف واجب نه دى ځكه تأسف خودنعمت نكاح دزائليدوپه وجه واجبيږي چې له دي ښځوڅخه هيڅ نعمت دنكاح نه دى زائل شوى.

(۳۱)معتدې ښځې ته دنكاح پيغام وركول مناسب نه دى بلكې حرام دى لقوله تعالى (وَلٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّا أَن تَقُولُوا قَوْلًا مَّعْرُوفًا) يعنې تاسى له هغوسره پټ قراردادمه كوئ مګرداچې معروف قول وكړئ.

(۳۲)البته دتعريض اجازه شته مثلاداسى ويل چې زه دنكاح اراده لرم ياداسي ووايې چې زه ستاطرف ته راغب يم ياداسى ووايې چې زه داغوارم چې موږدواړه يوځاى اوسيداى،دتعريض دجوازدليل دالله تعالى ارشاددى (وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ) يعنې پرتاسوهيڅ ګناه نشته په هغه كاركې چې تاسى ښځوته دكوزده كولودتعريض په ډول وواياست).

(۳۳)ولا يَجُوزُ لِلْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ وَالْمَبْتُوتَةِ الْخُرُوجُ مِن بَيْتِهَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا(۳۴)وَالْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا تَخْرُجُ نَهَارًا أَوْ بَعْضَ اللَّيْلِ(۳۵)ولا تَبِيتُ فِي غَيْرِ مَنْزِلِهَا

ترجمه :اوجائزنه دى ملطقى بائنى اورجعيه لره دشپې يادورځې له كوره وتل اومتوفى عنهازوجهادورځې اودشپې څه حصه وتلاى شي اوله خپل كورنه علاوه به چيرته شپه نه تيروي.

تشريح (۳۳)كومې حُرې ښځې ته چې طلاق رجعى ياباﺋﻦ وركړاى شوى وي هغى لره دشپې يادورځې له خپل كورڅخه وتل جائزنه دى ولى دهغى نفقه دهغى پرزوج واجبه ده لهذادمنكوحې غيرمطلقى په شان هغه له كورڅخه دوتلوحاجت نه لري.

(۳۴)متوفى عنهازوجهادورځې اودشپې څه حصه له كوره دباندې دوتلوشرعًااجازه لري ولى دهغى نفقه پرهيچانه ده لهذادروزي دتلاش لپاره وتلوته محتاجه ده اوكله طلب دمعاش دشپې ترراتلوپوري درازشي ،البته كه له هغى سره بقدركفايت روزي وي نوبيادمطلقى په شان هغې ته له كوره وتل جائزنه دى.

(۳۵)مګرشپه به په هرحال پخپل كوركې تيروي ولى بهردشپې تيرولوحاجت نشته.

(۳۶) وَعلى الْمُعْتَدَةِ اَنْ تَعْتَدَّ فِي الْمَنْزِلِ الَّذِىْ يُضَافُ اِلَيْهَا بِالسُّكْنٰى حَالَ وُقُوْعِ الْفُرْقَةِ (۳۷) فَاِنْ كَانَ نَصِيْبُهَا مِنْ دَارِ الْمَيِّتِ لَا يَكْفِيْهَا وَاَخْرَجَهَا الْوَرَثَةُ مِنْ نَصِيْبِهِمْ اِنْتَقَلَتْ (۳۸) وَلَا يَجُوْزُ اَنْ يُسَافِرَ الزَّوْجُ بِالْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ

ترجمه :اوپرمعتده واجب دی چې دفرقت دوقوع په وخت عدت په هغه مکان کې تیره کړي کوم مکان چې هغه ته ددې داوسید نسبت کیږي اوکه دوفات شوي خاوند په مکان کې دښځې حصه دهغی داوسیدو لپاره کافي نه وه اونوروو ارثانو هغه له خپلی حصی څخه ایستلې وه نو بیا منتقله کیدای شي اوخاوندلره مطلقه رجعیه په سفر بیول جائزنه دی .

تشریح :(۳۶) پرمعتده ښځه واجب دی چې دوقوع فرقت اووفات زوج په وخت عدت په هغه کورکې تیره کړي کوم ته چې ددې نسبت داوسیدو کیږي حتی که دادخپل اوسیدو له کوره بغیرپه بل کورکې وه چې خاوندیې طلاق ورکړنو فوراً به خپل کورته راځي .

(۳۷) که دوفات شوي خاوندله سرای څخه دښځې حصه دتنګي په وجه دومره وه چې دانه شوای پکې اوسیدلای اونوروو ارثانوهم داله خپلی حصی ایستلې وه نو په دي صورت کې دا ښځه کوم بل مکان ته منتقله کیدای شي ولی داانتقال دعذرپه وجه دی اوپه عباداتو کې اعذارمؤثروي .

(۳۸) خاوندلره مطلقه رجعیه په سفربیول جائزنه دی ولی دالله تعالی قول (لَاتُخرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ) یعنې داښځې دخپل اوسیدوله کورونوڅخه مه وباسئ) عام دی زوج وغیرزوج ټولوته شامل دی .

(۳۹) وَاِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ اِمْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا ثُمَّ تَزَوَّجَهَا فِي عِدَّتِهَا وَطَلَّقَهَا قَبْلَ اَنْ يَدْخُلَ بِهَا فَعَلَيْهِ مَهْرٌ كَامِلٌ وَعَلَيْهَا عِدَّةٌ مُسْتَقِلَّةٌ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَهَا نِصْفُ الْمَهْرِ وَعَلَيْهَا تَمَامُ الْعِدَّةِ الْاُوْلٰى .

ترجمه :که خاوند خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړبیا دهغی په عدت کې خاوند دوباره له هغی سره نکاح وکړه مګرله هغی سره ترخلوت مخکې یې هغی ته دوباره طلاق ورکړنوپرخاوند پوره مهرواجبیږي اوپرښځه مستقلا دوهم عدت واجبیږی اوامام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې ښځې ته نصف مهرواجبیږي اوپرښځه خالص اول عدت پوره کول واجب دی .

تشریح :(۳۹) که خاوند خپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړبیا دهغی عدت لانه وه تیره چې خاوند دوباره له هغی سره نکاح وکړه مګرتروطی اوخلوة صحیحه مخکې یې هغی ته دوباره طلاق ورکړنودشیخینو رحمهما الله په نزدددوهمی نکاح اوطلاق په وجه پرخاوندپوره مهرواجبیږي اوپرښځه مستقلا دوهم عدت واجبیږي،دامام محمد رحمه الله په نزدپرخاونددښځې لپاره دطلاق قبل الدخول ورکولوپه وجه نصف مهرواجبیږي اوپرښځه خالص دلومړي عدت پوره کول واجب دی .(دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی) .

دنسب دثبوت بیان

(۴۰) وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِسَنَتَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ مَا لَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَا (۴۱) وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ بَانَتْ مِنْ زَوْجِهَا (۴۲) وَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَكَانَتْ رَجْعَةً

ترجمه: اودمطلقه رجعیه دولدنسب ثابتیږي که هغې پردوه کاله یاتردوه کاله زیات زیږولی ووترڅوچې ښځې دعدت تیریدواقرارنه وي کړی اوکه یې تردوه کاله کم ماشوم پیداشونوداښځه له خپل خاوندڅخه بائنه کیږي اوکه یې تردوه کاله زیات وخت کې ماشوم وزیږیدنوهم نسب ثابتیږي اودارجعت دی.

تشریح: (۴۰) که مطلقی رجعیه دطلاق له وخت څخه پردوه کاله یاتردوه کاله زیاته موده کې ماشوم وزیږاوه نوله خاوندڅخه ددغه ماشوم نسب ثابتیږي په دې شرط چې ښځې تردې مخکې دعدت تیریدواقرارنه وي کړی ځکه کیدای شي چې داښځه ممتدة الطهروي اوطهرددرازیدوپه وجه ددې عدت درازه شوې وي اوخاونددعدت په زمانه کې وطی کړې وي ولی له معتده رجعیه سره وطی کول جائزدی اوپه دی وطی سره رجعت هم ثابت شواودماشوم نسب هم ثابتیږي.

(۴۱) که یې تردوه کاله کم ماشوم وزیږاوه نوداښځه له خپل خاوندڅخه بائنه ګرځي اوددغه ماشوم نسب دهغې له خاوندڅخه ثابتیږي اودثبوت نسب وجه داده چې که یې وطی دنکاح په حالت کې کړې وي بیاخوظاهره ده اوکه یې په عدت کې وطی کړې وي بیاهم نسب ثابتیږي ولی له معتدی رجعیه سره وطی کول شرعًاجائزدی لیکن خاوندپه دغه وطی سره مراجعت کونکی نه شمارل کیږي ځکه چې که دااحتمال شته چې وطی له طلاق وروسته شوې ده نوداهم احتمال شته چې ترطلاق مخکې وطی شوې وي نوپه رجعت کې شک پیداشواودشک په وجه رجعت نه ثابتیږي.

(۴۲) که ماشوم دطلاق له وخته څخه په دوه کاله زیاته موده کې پیداشونوهم نسب ثابتیږي ځکه په دې صورت کې علوق یقینااله طلاق وروسته شوی دی ځکه اکثره موده دحمل دوه کاله ده اوظاهرحال دادی چې داعلوق له همدې شخص څخه شوی دی ولی له مسلمان څخه زنامنتفی ده نوچې کله دعدت په زمانه کې له مطلقه رجعیه سره وطی کړای شوې ده نوداسړی ددې وطی په وجه مراجعت کونکی شمارل کیږي.

(۴۳) وَالْمَبْتُوتَةُ يَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا إِذَا جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ (۴۴) وَإِذَا جَاءَتْ بِهِ لِتَمَامِ سَنَتَيْنِ مِنْ يَوْمِ الْفُرْقَةِ لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ (۴۵) إِلَّا أَنْ يَدَّعِيَهُ الزَّوْجُ (۴۶) وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا مَا بَيْنَ الْوَفَاةِ وَبَيْنَ سَنَتَيْنِ

ترجمه :اودبائنې ښځې دماشوم نسب ثابتيږي که يې تردوه کاله کم وزيږاوه اوکه دفرقت له وخت څخه پوره دوه کاله بعديې ماشوم وزيږيدنودهغه نسب نه ثابتيږي مګرداکه دزوج دهغه دعوی وکړي اودمتوفی عنهازوجهادبچي نسب دوفات له وخت څخه په دوه کاله کې دننه ثابتيږي .

تشريح :(۴۳)کومې ښځې ته چې طلاق بائن ورکول شوی وي بياهغه له فرقت نه تردوه کاله کم ماشوم وزيږوي نوددي ماشوم نسب دمطلقی له خاوند څخه ثابتيږي ځکه دااحتمال موجوددی چې دطلاق په وخت دماشوم نطفه برقراره شوې وي اوددي کاريقين نشته چې دنطفی ترقرارنيو مخکې دښځې فراش کيدل زائل شوی وولهذااحتياطًانسب ثابتيږي .

(۴۴)که دفرقت له وخت څخه پوره دوه کاله بعدماشوم وزيږوي نونسب نه ثابتيږي ځکه په دي صورت کې حمل په يقين سره له طلاق وروسته پيداشوی دی داځکه چې له معتده بائنه سره وطی حرامه دی لهذادا ماشوم دمطلقی له خاوند څخه نه دی .

(۴۵)البته که خاونددعوی وکړه چې داماشوم زماله نطفې څخه دی نوبيادماشوم نسب ثابتيږي ولی دادي ماشوم نسب خپله پرځان لازم کړی دی اوددي شرعي توجيه داهم کيدای شي چې دي سړي دعدت په زمانه کې داخيال کړی وي چې له معتدې بائنې سره وطی حلاله ده اوکړې يې وي اوځرنګه چې په ثبوت دنسب کې احتياط کيږي لهذادماشوم نسب ثابتيږي.

(۴۶)دکومې ښځې چې خاوندوفات شونودهغې دماشوم نسب دهغې دخاوندله وفات وروسته په دوه کاله کې دننه ثابتيږي که څه هم غيرمدخول بهاوي په دي شرط چې دعدت تيريدواقراريې نه وي کړی،دامام زفر رحمه الله په نزددوفات دعدت تيريدووروسته په شپږمياشتې تيريدوکه يې ماشوم وزيږيدنونسب نه ثابتيږي .

(۴۷)وَاِذَااعْتَرَفَتِ الْمُعْتَدَّةُ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِهَاثُمَّ جَاءَتْ بِوَلَدٍلِاَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ اَشْهُرٍ ثَبَتَ نَسَبُه (۴۸)وَاِنْ جَاءَتْ لِسِتَّةِ اَشْهُرٍ لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ

ترجمه :اوکه کومې معتدې اعتراف وکړچې زماعدت تيره شوه بيا(داقرارله وخت څخه) ترشپږمياشتې کمه موده کې يې ماشوم پيداشونوددي ماشوم نسب ثابتيږي اوکه داقرارتروخت پوره شپږمياشتې يې ماشوم وزيږيدنودهغه نسب نه ثابتيږي .

تشريح :(۴۷)که کومه معتده اعتراف وکړي چې زماعدت تيره شوه بياداسې وشول چې دهغې داقرارله وخته ترشپږمياشتې په کمه موده کې يې ماشوم پيداشونوددغه ماشوم نسب ثابتيږي ځکه چې ترشپږ مياشتې کم چې ماشوم پيداشومعلومه شوه چې داقرارپه وخت داښځه حامله وه اوځرنګه چې دحاملې عدت

په وضع دحمل ده ځکه دادعدت تیریدوپه خبره کې دروغجنه ده لهذادهغې تیراقرارباطل دی ځکه نودماشوم نسب ثابتیږي .

(۴۸)که دعدت دتیریدوداقرارله وخته څخه په پوره شپږمیاشتې کې ماشوم پیداشونونسب نه ثابتیږي ځکه له اقرارڅخه معلومیږي چې حمل تراقراروروسته راغلی دی ولی ښځه په خبرورکولوکې امینه ده اوقول دامین معتبردی ترڅوچې دهغه کذب متحقق نه وي .

(۴۹)وَإِذَا وَلَدَتِ الْمُعْتَدَةُ وَلَداً لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُه عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ بِوِلَادَتِهَا رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ (۵۰) إِلَّا أَنْ يَكُونَ هُنَاكَ حَبَلٌ ظَاهِرٌ (۵۱) أَوِ اعْتِرَافٌ مِنْ قِبَلِ الزَّوْجِ فَيَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْ غَيْرِ شَهَادَةٍ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يَثْبُتُ فِي الْجَمِيعِ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ

ترجمه :که معتده ښځه ماشوم وزیږوي نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدددي ماشوم نسب نه ثابتیږي مګرداکه دماشوم پرولادت دوه سړي یایوسړی دوې ښځې شاهدي ورکړي مګرداکه حمل مخکې لاښکاره شوی وواویاخاوندحمل اعتراف وکړي نوبیادشهادت بغیرنسب ثابتیږي اوصاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې په ټولوصورتوکې دیوې ښځې په ګواهي سره نسب ثابتیږي .

تشریح :(۴۹)که معتده ښځه ماشوم وزیږوي اوخاوندله ولادت څخه انکاروکړي نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدنسب هله ثابتیږي چې کله دماشوم په زیږتون دوه سړي یایوسړی دوې ښځې ګواهي ورکړي .

(۵۰)البته که حمل مخکې لاښکاره وو.

(۵۱)یاخاوندپه حمل اعتراف وکړنوپه دې دوصورتوکې له ګواهي بغیرنسب ثابتیږي .

دصاحبینو رحمهماالله په نزدپه مذکوروټولوصورتوکې دیوې ښځې په ګواهي سره نسب ثابتیږي ،دصاحبینو رحمهماالله دلیل دادی چې دعدت په قائم کیدوسره ښځه دخپل خاوندفراش (وَهُوَتَعِينُ الْمَرْأَةِ لِمَاءِ الزّوج بِحَيْثُ يَثْبُت مِنه نَسَبُ كُلّ وَلَدٍ تَلِدَه) ده اوفراش کیدل نسب لازموي لهذادنسب ثابتولوهیڅ ضرورت نشته هودې ته حاجت شته چې داماشوم واقعًادې ښځې زیږولی دی که نه نوداخبره دیوې ښځې په ګواهي سره ثابتیږي .

دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې ښځه چې عدت تیروي ځکه دادخاوندمکمل فراش نه ده لهذادفراش دناقص والی په وجه دنسب دثبوت لپاره کافی نه دی نودنسب دثبوت لپاره کامل ګواهي ضروري ده اوکامله ګواهي داده چې دوه نارینه وي یایونردوې ښځې ګواهي ورکړي البته که حمل ښکاره وویاخاوندګواهي ورکړي نوبیاګواهي ضروري نه ده (دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی)

(۵۲)اِذَاتَزَوَّجَ امْرَاۃً فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ لِاَقَلَّ مِنْ سِتَّۃِ اَشْهُرٍ مُنْذُ یَوْمِ تَزَوَّجَهَا لَمْ یَثْبُتْ نَسَبُه (۵۳)وَاِنْ جَاءَتْ بِه لِسِتَّۃِ اَشْهُرٍ فَصَاعِدًا یَثْبُتُ نَسَبُه سَوَاءٌ اعْتَرَفَ بِه الزَّوْجُ اَوْ سَكَتَ (۵۴)وَاِنْ جَحَدَ الْوِلَادَۃَ یَثْبُتُ بِشَهَادَۃِ امْرَاَۃٍ وَاحِدَۃٍ تَشْهَدُ بِالْوِلَادَۃِ

ترجمه :که سړي له کومې ښځه سره نکاح وکړه دنکاح له ورځې څخه ترشپږمیاشتې په کمه موده کې دې ښځې ماشوم وزیږاوه نوددي ماشوم نسب نه ثابتیږي اوکه پرشپږمیاشتې یاترهغه زیات وخت یې وزیږاوه نودماشوم نسب ثابتیږي که خاونددي ماشوم اقراروکړي اوکه څه ونه وایې اوکه خاوندله ولادت څخه انکاروکړنویوه ښځه چې دولادت ګواهي ورکړي دهغې په ګواهي سره ولادت ثابتیږي .

تشریح :(۵۲)که یوسړي له ښځې سره نکاح وکړه دنکاح له وخته څخه ترشپږمیاشتې په کمه موده کې دې ښځې ماشوم وزیږاوه نوددغه ماشوم نسب له دې سړي څخه نه ثابتیږي ولی دحمل لږترلږه موده شپږمیاشتې دي اوماشوم ترشپږمیاشتې په کم وخت کې پیداشوی دی نومعلومه شوه چې نطفه ترنکاح مخکې برقراره شوې ده نوداثابته شوه چې دانطفه له دغه خاوند څخه نه ده نونسب هم له ده څخه نه ثابتیږي .

(۵۳)که دنکاح له وخت څخه پرشپږمیاشتې یاترهغه زیات وخت یې ماشوم راوړنوددغه ماشوم نسب ثابتیږي که خاونددي ماشوم اقراروکړي یاچپ پاتی شي ولی دښځې فراش کیدل هم ثابت دی اودحمل موده هم پوره ده .

(۵۴)که ماشوم پرشپږمیاشتې یاترهغه په زیات وخت کې پیداشومګرخاونددماشوم له پیداکیدوڅخه انکاروکړنودیوې ښځې چې دولات ګواهي ورکړي په ګواهي سره ولادت ثابتیږي ولی نسب دفراش په وجه ثابت دی حاجت وتعین دولدته دی هغه دیوې ښځې په ګوهي سره متعین کیږي کمامرّ.

دحمل دمودې بیان

(۵۵)وَاَكْثَرُ مُدَّۃِ الْحَمْلِ سَنَتَانِ (۵۶)وَاَقَلُّه سِتَّۃُ اَشْهُرٍ

ترجمه :دحمل زیاته موده دوه کاله ده اودحمل لږترلږه موده یې شپږمیاشتې ده .

تشریح :(۵۵)دحمل اکثره موده دوه کاله ده ځکه دحضرت عائشی ﷺ قول دی چې ماشوم دمورپه خیټه کې تردوه کاله زیات نه شي اوسیدلای که څه هم ،،،،

(۵۶)اودحمل لږترلږه موده شپږمیاشتې دي لقوله تعالی (وَحَمْلُه وَفِصَالُه ثَلَاثُوْنَ شَهْرًا) یعنې دماشوم په حمل کې اوسیدل اوهغه له تې څخه جلاکول دیرش میاشتې دي) بیایې فرمایلي دي وَفِصَالُه فِیْ عَامَیْنِ یعنې تی رودل دوه کاله وي نوحمل ته شپږمیاشتې پاتیږي .

(۵۷)وَاِذَا طَلَّقَ الذِّمِّیُّ الذِّمِّیَّۃَ فَلَا عِدَّۃَ عَلَیْهَا (۵۸)وَاِنْ تَزَوَّجَتِ الْحَامِلُ مِنَ الزِّنَا جَازَ النِّكَاحُ وَلَا یَطَاُهَا حَتّٰی تَضَعَ حَمْلَهَا

ترجمه :که ذمی سړي خپلې ذمیه ښځې ته طلاق ورکړنوپرهغې عدت نشته اوکه چاله هغې ښځې سر نکاح وکړه چې له زناڅخه حامله وه نونکاح جائزه ده اوله هغې سره به وطی نه کوي ترهغه چې حمل يې پيداشي .

تشريح :(۵۷)که ذمی سړي خپله ذمیه ښځه طلاقه کړه اويا ذمي مړشونوپردغه ذمیه باندي دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدعدت نشته په دي شرط چې عدم عدت ددوئ په دين کې جائزوي ولی عدت واجبيږي لحق الله وحق الزوج حال داچې ذمیه خوپه حقوق الله مخاطبه نه ده اوپاتی شوحق دزوج نوهغه دعدم اعتقادپه وجه داحق خپله ساقط کړی دی،دصاحبينو رحمهما الله په نزدپردغه ښځه عدت واجبه ده .

(۵۸)که ښځه له زناڅخه حامله وه نودطرفينو رحمهما الله په نزدله هغې سره نکاح کول جائزه ده ولی ماء دزانی هيڅ حرمت نه لري ،مګردحمل له وضع مخکې وطی نه شي کولای چې دبل چاکښت ته خپلې اوبه ورنه شي،ليکن که نکاح کونکی خپله دغه زاني وونوبيادحمل تروضع مخکې هم وطی جائزه ده،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدله حاملې ښځې سره نکاح جائزه نه ده والصحيح قوله .

كتَـابُ النفقات

داکتاب دنفقاتوپه بيان کې دی

نفقة لغةً هغه څه چې انسان يې پخپل عيال مصرفوي،اوشرعًا خوراک،جامې اوسُکنی ته وايې،چې دوجوب يې درې اسباب دي زوجيت،قرابت،مِلک،بيازوجيت اصل النسب دی اونسب اقوی من الملک دی ځکه امام قدوری رحمه الله دنفقه زوجيت بيان شروع کړی دی .

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې امام قدوری رحمه الله کله دنکاح اوطلاق له مباحثوفارغ شونودنفقاتوبيان يې شروع کړی دی چې له هغوڅخه نفقة المنکوحة اونفقة المطلقة اونفقة المحارم هم دي چې له نکاح سره متعلق دي .

دنفقی دوجوب دليل دالله تعالی ارشاددی (لِيُنفِقْ ذُوسَعَةٍ مِن سَعَتِهِ) وقوله تعالی (وَعلى المَولُودِلَه رِزقُهُنَ وَكِسوَتُهُنَ بالمَعرُوف) وقوله ﷺ فی حديث حجة الوداع :ولَهُنَ عَلَيكُم رِزقُهُنَ وَكِسوَتُهُنَ بالمَعرُوف ،اونفقه داحتباس بدله ده اوقاعده داده چې هرڅوک دبل چاپه مقصودی حق کې محبوس وي نودمحبوس نفقه پرهغه کيږي .

دېبيانو د نفقې بيان

(١) اَلنَّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِلزَّوْجَةِ عَلٰى زَوْجِهَا مُسْلِمَةً كَانَتْ اَوْ كَافِرَةً اِذَا سَلَّمَتْ نَفْسَهَا اِلٰى مَنْزِلِهٖ فَعَلَيْهِ نَفَقَتُهَا وَ كِسْوَتُهَا وَ سُكْنَاهَا (٢) يُعْتَبَرُ ذَالِكَ بِحَالِهِمَا جَمِيْعًا مُوْسِرًا كَانَ الزَّوْجُ اَوْ مُعْسِرًا

ترجمه: دښځې نفقه دهغې پرزوج واجبه ده که ښځه مسلمانه وي، که کتابيه وي چې کله ځان تسليم کړي دخاوند کورته نوپرخاوند دهغې نفقه، دهغې جامه اوسُکنى واجب دي اومعتبريږي په حال ددواړو سره که خاوندغني وي اوکه تنګدست وي.

تشريح: (١) دښځې نفقه دهغې پرخاوندواجبه ده که څه خاوندصغيريافقيروي اوزوجه که مسلمانه وي که کتابيه، که فقيره وي که دولت منده، موطؤه وي که غيرموطؤه، په دي شرط چې خپل ځان دخاوندکورته وسپاري نوپرخاوند دهغې مأکولات، مشروبات، جامې اوسُکنى واجب دي ولى نفقه دحبس عوض ده اوهر څوک چې دبل چاپه مقصودى حق کې محبوس وي نونفقه يې هم پرهغه کيږي نوښځه دخپل خاوندپه وجه محبوسه ده لهذادښځې نفقه پرخاوندواجبه ده.

(٢) دنفقې په مقدارکې دزوجينوکوم يوه حال معتبردى، امام قدورى رحمه الله فرمايلي دي چې ددواړوحال معتبريږي همداقول دامام خصاف رحمه الله مختاردى اوهمداقول مفتى به دى.

ددي قول عقلاڅلورصورتونه جوړيږي: **نمبر ١**-دواړه زوجين دولت مند دي. **نمبر ٢**-دواړه تنګدست دي. **نمبر ٣**-خاوندغنى اوښځه فقيره ده. **نمبر ٤**-ښځه مالداره اوخاوندتنګدست وي، په لومړي صورت کې ددولت مندونفقه واجبيږي په دوهم صورت کې دتنګى نفقه واجبيږى اوپه دريم اوڅلورصورت کې درميانه درجه نفقه واجبيږي.

(٣) فَاِنِ امْتَنَعَتْ مِنْ تَسْلِيْمِ نَفْسِهَا حَتّٰى يُعْطِيَهَا مَهْرَهَا فَلَهَا النَّفَقَةُ (٤) وَاِنْ نَشَزَتْ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا حَتّٰى تَعُوْدَ اِلٰى مَنْزِلِهٖ.

ترجمه: که ښځې خپل ځان خاوندته له سپارلوڅخه منع کړترهغه چې خاونددهغې مهرورکوي نوهغې لره نفقه شته اوکه هغې نافرمانى وکړه نوبياهغې لره نفقه نشته ترهغه چې بيرته دخاوندکورته راځي.

تشريح: (٣) که ښځې خپل ځان خاوندته نه حواله کاوه ترهغه چې خاونددهغې مهرمعجّل ورکړي نوپه دي صورت کې دښځې نفقه نه ساقطيږى بلکې نفقه ورکول پرخاوندواجبه ده ولى دښځه ځان ګرځول دخپل حق په وجه دى نوداحتباس فوت کيدل په داسى وجه راغلى دى چې دخاوندله طرفه پيداشوى دى نوګواکې احتباس نه دى فوت شوى لهذادهغې نفقه نه ساقطيږي.

(۴)كه ښځه سركښي كوي دخاوندله اجازې بغيردخاوندله كوره ووته نوبيايې نفقه نه كيږي ځكه احتباس هغې خپله ختم كړى دى اونفقه داحتباس عوض وولیکن كه هغه بيرته راغله واپس دخاوندكورته نوبيامحبوسه شوه لهذابيايې نفقه واجبيږي.

(۵)وَإِذَا كَانَتْ صَغِيرَةً لَا يُسْتَمْتَعُ بِهَا فَلَا نَفَقَةَ لَهَا وَإِنْ سَلَّمَتْ إِلَيْهِ نَفْسَهَا (۶) وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ صَغِيرًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْوَطْيِ وَالْمَرْأَةُ كَبِيرَةً فَلَهَا النَّفَقَةُ مِنْ مَالِهِ

ترجمه:كه ښځه كوچنۍ وه چې له هغې سره جماع نه شواى كيداى نوهغې لره نفقه نه واجبيږي كه څه هم داخپل ځان وخاوندته وسپاري اوكه خاوندماشوم ووپروطى قادرنه واوښځه بالغه وه نودې ښځې لره دخاوندله مال څخه نفقه واجبه ده.

تشريح:(۵)كه ښځه دومره كوچنۍ وه چې له هغې سره جماع نه شواى كيداى نودهغې نفقه پرخاوندنه ده واجبه كه څه هم داخپل ځان وخاوندته وسپارى ولى نفقه دداسې احتباس په عوض كې واجبيږي چې په هغه احتباس كې خاوندله هغې څخه فائده حاصله كړاى شي اودصغيرى احتباس داسې نه دى.

(۶)كه خاوندماشوم ووپروطى قادرنه وواوښځه بالغه وه وقابل داستمتاع وه نودې ښځې لره دخاوندله مال څخه نفقه واجبه ده ولى ښځې خپل ځان سپارلى دى اوقابله داستمتاع هم ده عجزخودخاوندله طرفه دى دښځې له طرفه نشته.

(۷)وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فَلَهَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنَى فِي عِدَّتِهَا رَجْعِيًّا كَانَ أَوْ بَائِنًا (۸) وَلَا نَفَقَةَ لِلْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا (۹) وَكُلُّ فُرْقَةٍ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْمَرْأَةِ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا

ترجمه:اوكه خاوندخپلې ښځې ته طلاق وركړنودهغې په عدت كې نفقه اوسُكنى واجبيږي كه طلاق رجعى وي اوكه بائن اومتوفى عنهازوجهالره نفقه نشته اوهرهغه فرقت چې دښځې له خوادمعصيت په وجه راشي نوهغې ښځې لره نفقه نه كيږي.

تشريح:(۷)كه چاخپلې ښځې ته طلاق وركړكه طلاق رجعى وي ياباﺋن په دواړوصورتوكې په عدت كې نفقه اوسُكنى واجبيږي ولى دطلاق رجعى په صورت كې خونكاح قائمه ده ځكه نفقه واجبيږى اودطلاق بائن په صورت كې نفقه ځكه واجبيږي چې نفقه داحتباس عوض دى اواحتباس دمقصودبالنكاح (يعنې ماشوم)په حق كې اوس هم قائم دى ولى عدت خودماشوم دحفاظت لپاره واجبه شوې ده نوداحتباس په وجه ښځې لره نفقه واجبيږي.

(۸)که دښځې خاوند مړشونوهغې لره نفقه نشته ځکه نفقه (شیئًا فشیئًا) واجبیږي اوله مرګ وروسته خاوند لره مال نشته چې په هغه کې نفقه واجبه شی او دوارثانو په مِلک کې نفقه واجبول ممکن نه دی.

(۹)هرهغه فرقت چې دښځې له خواپه وجه دمعصیت راغلی وي مثلاښځه مرتده شوه یایې دخپل خاوند زوی پرځان قادرکړنودغې ښځې لره نفقه نه کیږي ولی دي خپل ځان ناحق اوبلاوجه محبوس کړیدی نودا داسې شوه لکه داچې په نافرماني کولوسره له کوره وتلې وي.

(۱۰)فَإِنْ طَلَّقَهَا ثُمَّ ارْتَدَّتْ سَقَطَتْ نَفَقَتُهَا (۱۱)وَإِنْ أَمْكَنَتْ اِبْنَ الزَّوْجِ مِنْ نَفْسِهَا فَإِنْ كَانَ بَعْدَ الطَّلَاقِ فَلَهَا النَّفَقَةُ (۱۲)وَإِنْ كَانَ قَبْلَ الطَّلَاقِ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا

ترجمه:که یې ښځې ته طلاق ورکړبیادامرتده شوه(العیاذبالله) نودې دي نفقه ساقطیږي اوکه یې دخاوند زوی پرخپل ځان قادرکړنوکه ترطلاق وروسته وي نودې لره نفقه واجبیږي اوکه ترطلاق مخکې وي نوبیادې لره نفقه نه کیږي.

تشریح:(۱۰)که خاوندخپلې ښځې ته طلاق ورکړترهغه وروسته دا(العیاذبالله) مرتده شوه نوددې ښځې نفقه ساقطیږي.

(۱۱)که ترطلاق وروسته ښځې دخاوندزوی ته پرځان قدرت ورکړنودې ښځې لره نفقه واجبه ده ځکه په دواړوصورتوکې فرقت په طلاق ثابت شوی دی دارتداداودخاوندزوی پرخپل ځان قادرکول په دې فرقت کې هیڅ دخل نه لري البته هغه ښځه چې مرتده شوه هغه به قیدکیږي ترهغه چې توبه وباسي، اوقیدکړای شوې ښځې لپاره نفقه نه وي اوکومې ښځې چې دخاوندزوی ته پرخپل ځان قدرت ورکړی دی هغه نه قیدکړای کیږي لهذادهغې لپاره نفقه شته.

(۱۲)که یې دخاوندزوی ترطلاق مخکې پرخپل ځان قادرکړنودې ښځې لره نفقه نه کیږي ځکه فرقت دقدرت په ورکولوراغلی دی چې داسې فرقت دی چې دښځې له خوادمعصیت په وجه راغلی دی په کوم کې چې نفقه نه ورکوله کیږي.

(۱۳)وَإِذَا حُبِسَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَيْنٍ (۱۴)أَوْ غَصَبَهَا رَجُلٌ كَرْهًا فَذَهَبَ بِهَا (۱۵)أَوْ حَجَّتْ مَعَ غَيْرِ مَحْرَمٍ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا (۱۶)فَإِنْ مَرِضَتْ فِي مَنْزِلِ الزَّوْجِ فَلَهَا النَّفَقَةُ

ترجمه:که ښځه دقرض په وجه قیدکړای شوه یایوچاپه زوریوړه غصب یې کړه یاښځه له یوغیرمحرم (له خپل خاوندپرته) له بل چاسره حج ته ولاړه نوهغې لره نفقه نه کیږي اوکه ښځه دخپل خاوندپه کورکې ناروغه شوه نوهغې لره نفقه واجبه ده.

تشريح :(۱۳)که ښځه قرضداره وه قرض غوښتونکې هغه دقرض په وجه بنده کړه.
(۱۴)یاښځه چاپه زورغصب کړه یوېې وړه. (۱۵)یاښځه له غیرمحرم (له خپل خاوندپرته) له بل چاسره حج ته ولاړه نوپه دغودریوصورتونوکې ښځې لره نفقه نه کیږي ځکه نفقه داحتباس بدله وي دلته احتباس زائل شوی دی ،مګردامام ابویوسف رحمه الله په نزدمغصوبه اوهغه چې له غیرمحرم سره حج ته تللې ده ،هغې لره نفقه شته.
(۱۶)که ښځه دخپل خاوندپه کورکې پاتی شوه ناروغه شوه نوهغې لره استحساناًنفقه واجبه ده ولی احتباس قائم دی ځکه چې دخاوندله خپلې ناروغې ښځې سره اُنس زیاتیږي اودهغې په پرېښودلوغمجن کیږي اودادده دکورحفاظت کوي اومانع دوطی دعارض په وجه دی لهذاداناروغي دحیض مشابه شوځکه دې ناروغې ښځې لره نفقه واجبه ده.

(۱۷)وَتُفْرَضُ عَلَى الزَّوْجِ نَفَقَةُ خَادِمِهَا إِذَا كَانَ مُوسِرًا (۱۸)وَلَا تُفْرَضُ لِأَكْثَرَ مِنْ خَادِمٍ وَاحِدٍ (۱۹)وَعَلَيْهِ أَنْ يُسْكِنَهَا فِي دَارٍ مُفْرَدَةٍ لَيْسَ فِيهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ تَخْتَارَ ذَالِكَ (۲۰)وَإِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ مِنْ غَيْرِهَا فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُسْكِنَهُ مَعَهَا

ترجمه :پرخاونددښځې دخادم نفقه مقرریږي که چیرته هغې غني وواوتریوه دزیاتوخادمانونفقه پرخاوندنه مقرریږي اوپرخاونداواجب دی چې دی خپلې ښځه په جلامکان کې واوسوي چې په هغه کې دخاوندله کورنیانوڅخه بل څوک نه اوسیږي مګرداکه ښځه داخوښه کړي اوکه خاوندله بلې ښځې څخه اولاددرلود نوخاوندلره داختیارنشته چې دی دغه اولادله دغی ښځې سره واوسوي.
تشريح :(۱۷)که خاوندمالداروونوپرده دښځې دخادم نفقه هم واجبه ده ولی پرخاونددښځې کفایت واجب دی اودخادم نفقه دښځې دکفایت تکمیل دی ولی ښځې لره خادم درلودل ضروري دی.
(۱۸)مګردطرفینورحمهماالله په نزدتریوه خادم دزیاتونفقه پرخاوندنه ده واجبه ځکه یوخادم دکوردننه اودباندې کارونه کولای شي نودوخادمانوته ضرورت نشته ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدپرخاونددښځې ددوخادمانونفقه واجبه ده ځکه یوخادم دکوردننه اوبل دکوردباندې کارونه کوي.
(۱۹)پرخاونداواجبه ده چې دی خپله ښځه په علیحده کې مکان کې واروي چې په هغه کې دخاوندله کورنیانوڅخه څوک نه اوسیږي البته که ښځې داخوښوله چې دخاوندله کورنیانوسره واوسیږي نوبیااختیار لري ولی دادخپل حق په کمي خپله راضی شوه.
(۲۰)که دخاوندله بلې کوروالاڅخه دومره زوی ووچې په جماع پوهیده نوخاونددااختیارنه لري چې دی دازوی له ښځې سره واروي ولی دخاوندپرذمه دښځې سُکنی واجبه ده نوپه هغه کې بل څوک ورسره شریک کول جائزدي ولی په دی سره ښځه په ضررکیږي.

(۲۱)وَلِلزَّوْجِ أَنْ يَمْنَعَ وَالِدَيْهَا وَوَلَدَهَا مِنْ غَيْرِهِ وَأَهْلَهَا مِنَ الدُّخُولِ عَلَيْهَا (۲۲) وَلَا يَمْنَعُهُمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَيْهَا وَلَا مِنْ كَلَامِهِمْ مَعَهَا فِي أَيِّ وَقْتٍ اخْتَارُوْا

ترجمه: او خاوند ده اختيار لري چې دې ښځې ته له راتګ څخه منع کړي دهغې مور او پلار او دهغې زوی چې له بل خاوند څخه وي اودهغې نورقريبان البته خاوند نه شي منع کولای داخلک ښځې ته په کتلو سره اوله هغې سره له خبرو کولو نه چې کله يې زړه وغواړي.

تشريح:(۲۱)خاوند ده اختيار لري چې دښځې مور او پلار، دهغې زوی چې له بل خاوند څخه دی اودهغې نورقريبان هغې ته له راتګ څخه منع کړي ولې داکوردخاوند ذاتي مِلک دی لهذادی دا اختيار لري چې څوک له خپل مِلک څخه له راتګ نه منع کړي.

(۲۲)البته هروخت چې هغوئ وغواړي چې دا ښځه ووينې اوياخبرې ورسره وکړي نوخاوند دامذکورخلک دهغې له ليدلو اوله هغې سره دخبرو کولو نه نه شي منع کولای ځکه په دې کې قطع رحمی راځي اوقطع رحمی حرامه ده اودخاوند په دې کې هيڅ ضررهم نشته.

بعضو علماؤ فرمايلي دي چې خاوند ښځه خپل مور او پلار ته له ورتلو او دهغې مور او پلار دلته له راتګ څخه په هره اونۍ کې يو ځل نه شي منع کولای اوله مور او پلار نه بغير نورو قريبانو ته په کال کې يو ځل دملاقات کولو اجازه شته.

(۲۳)وَمَنْ أَعْسَرَ بِنَفَقَةِ امْرَأَتِهِ لَمْ يُفَرَّقْ بَيْنَهُمَا (۲۴) وَيُقَالُ لَهَا اسْتَدِيْنِي عَلَيْهِ

ترجمه: که څوک خپلې ښځې ته له نفقې ورکولو نه تنګدست شو نو دزوجينو ترمنځ تفريق نه راځي او ښځې ته ويل کيږي چې دخپل خاوند پرذمه قرض اخله.

تشريح:(۲۳)کوم څوک چې خپلې ښځې ته له نفقې ورکولو څخه تنګدست شي نو ددې په وجه دزوجينو ترمنځ تفريق نه کيږي. (۲۴)بلکې قاضي به ښځې ته وايي چې دخپل خاوند پرذمه قرض اخله (يعنې په دې شرط دې دخوراک سامان اخلي چې دهغه قيمت ددې خاوند اداکوي دخاوند په مالدار کيدو سره دهغه له مال څخه قرض اداکيږي) ولې په تفريق کې دزوج حق بالکليه باطليږي اوپه قرض اخيستو کې دښځې په حق کې يو څه تاخير راځي اودتاخير حق ضرر په نسبت دبطلان حق کم دی لهذادا طريقه اولی ده.

(۲۵)وَإِذَا غَابَ الرَّجُلُ وَلَهُ مَالٌ فِي يَدِ رَجُلٍ يَعْتَرِفُ بِهِ وَبِالزَّوْجِيَّةِ فَرَضَ الْقَاضِي فِي ذٰلِكَ الْمَالِ نَفَقَةَ زَوْجَةِ الْغَائِبِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَوَالِدَيْهِ (۲۶) وَيَأْخُذُ مِنْهَا كَفِيْلًا بِهَا (۲۷) وَلَا يَقْضِي بِنَفَقَةٍ فِي مَالِ الْغَائِبِ إِلَّا لِهٰؤُلَاءِ

ترجمه :اوکه سړی غائب شو اودهغه یو څه مال دچاپه قبضه کې دی چې هغه اقرارپه کوي اوپه زوجيت هم اقرارکوي نوقاضی به ددغه غائب سړي په مال کې دهغه دښځې دهغه دنابالغه اولاداودهغه دموراوپلار نفقه مقرروي اوله دي ښځې څخه به دهغه کفيل اخلي اودغائب په مال کې له مذکوروخلکونه پرته دبل چا دنفقې حکم نه ورکول کيږي.

تشريح :(۲۵)که خاوندغائب شو اودهغه څه مال دچاپه قبضه کې دی اوداسړی په دي مال اقرارکوي اوپه دي هم اقرارکوي چې دابنځه دغائب کوروالاده نوقاضی به په دغه مال کې دغائب دښځې دهغه دنابالغه اولاداودهغه دموراوپلارنفقه مقرره کړي،همدارازکه قاضی ته علم ووکه څه هم دچاپه لاس کې چې مال دی هغه اقرارنه وي کړی بیابه هم قاضی دغائب د مذکورورشته دارانولپاره له هغه مال څخه نفقه مقرروي.


(۲۶)ليکن قاضی به له دغې ښځې څخه کفيل اخلي چې هغه به پردي قسم اخلی چې خاونددې ته نفقه نه ده ورکړې،داکار دغائب درعايت له مخي کيږي،ځکه کيدای شي چې هغې له خاوند څخه خپله نفقه وصول کړې وي ياخاونددي ته طلاق ورکړی وي اوعدت تيروي.

(۲۷)قاضی دغائب په مال کې دمذکوروخلکو(ښځه،موراوپلار،نابالغه اولاد) پرته دبل هيچادنفقې حکم نه شي ورکولای ځکه دښځې وغيره نفقه دقاضی ترحکم ورکولومخکې واجبه وه همداوجه ده چې دي خلکودقاضی ترحکم مخکې خپله نفقه وصول کولای شوای مگرځرنگه چې دغائب پرمال قابض چاهغوئ ته نه ورکاوه ځکه نودقاضی حکم دهغوئ اعانت شو، پاتې شوه دنوروقريبانونفقه ،هغه خودقاضی په قضاء سره واجبيږي اودقاضی قضاء پرغائب نه ده جائزه.

(۲۸)وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لَهَا بِنَفَقَةِ الْإِعْسَارِ ثُمَّ أَيْسَرَ فَخَاصَمَتْهُ تَمَّمَ لَهَا نَفَقَةَ الْمُوسِرِ (۲۹)وَإِذَا مَضَتْ مُدَّةٌ لَمْ يُنْفِقِ الزَّوْجُ عَلَيْهَا وَطَالَبَتْهُ بِذَلِكَ فَلَا شَيْءَ لَهَا (۳۰)إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْقَاضِي فَرَضَ لَهَا النَّفَقَةَ (۳۱)أَوْصَالَحَتِ الزَّوْجَ عَلَى مِقْدَارِهَا فَيَقْضِي لَهَا بِنَفَقَةِ مَا مَضَى

ترجمه :که قاضی دښځې لپاره دفقيري نفقه مقرره کړه بياخاوندمالدارشواوښځې له قاضی سره (دمالداري دنفقې) دعوی وکړه نوقاضی به دهغې لپاره دمالداري نفقه پوره کوي اوکه څه موده تيره شوه اوخاوندخپلې ښځې ته نفقه نه وه ورکړې اوښځې يې غوښتنه وکړه نوښځې له هيڅ شی نه کيږي مگرداچې قاضی دهغې لپاره نفقه مقرره کړې وي يادې له خاوندسره پريوه مقدارصلح وکړه نودې لره دتيرې نفقې فيصله کيږي.

تشريح :(۲۸)که قاضی ديوې ښځې لپاره دتنگی اوفقيری نفقه مقرره کړه بياخاوندمالدارشواوښځې له قاضی سره دمالداري دنفقې غوښتلودعوی وکړه نوقاضي به دهغې لپاره دمالداري نفقه مقرره کړي ځکه



دفراخي اوتنگی موافق نفقه بدلیږي رابدلیږي چې کله دخاوند حال بدل شونوښځه دخپل پوره حق مطالبه کولای شي.

(۲۹)که څه موده تیره شوه اوخاوندخپلې ښځې ته نفقه نه وه ورکړې بیاهغې له خاوندڅخه ددې مودې دنفقې مطالبه وکړه نوښځې لره هیڅ نه کیږي ولې په نفقه کې دعطیه معنی راځي لهذادنفقې وجوب مستحکم نه دی چې پرخاونددین شي.

(۳۰)البته که قاضي دښځې لپاره پرخاوندنفقه فرض کړي . (۳۱)یاښځه له خاوندسره پریوه خاص مقدارصلح وکړي اوس چې څومره موده بغیرنفقه تیره شوې ده نوقاضي به دتیرې نفقې دهغې لپاره حکم ورکوي ولې چې کله دقاضي په قضاء یامصالحت سره نفقه دخاوندپرذمه دین شو نوبیادزمانې په تیریدوسره نه ساقطیږي ،البته که له زوجینوڅخه یومړشویاددوئ ترمنځ فرقت راشي نوبیادتیروورځونفقه ساقطیږي.

(۳۲)وَإِنْ مَاتَ الزَّوْجُ بَعْدَ مَا قُضِيَ عَلَيْهِ بِالنَّفَقَةِ وَمَضَتْ شُهُورٌ سَقَطَتِ النَّفَقَةُ (۳۳)وَإِنْ أَسْلَفَهَا نَفَقَةَ سَنَةٍ ثُمَّ مَاتَ لَمْ يُسْتَرْجَعْ مِنْهَا بِشَيْءٍ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ يُحْتَسَبُ لَهَا نَفَقَةُ مَا مَضَى وَمَا بَقِيَ لِلزَّوْجِ

ترجمه :که خاوندوروسته ترهغه چې دنفقې فیصله پرې وشوه مړشواوڅومیاشتې تیرې شوې نونفقه ساقطیږي اوکه خاوندښځې ته دیوه کال نفقه ورکړه بیاخاوندمړشونوله ښځې څخه هیڅ شی واپس نه اخیستل کیږي،امام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې څومره زمانه تیره شوې ده دهغې نفقه دې ښځې نه ورحساب کړي باقي دخاونده ده.

تشریح :(۳۲)که پرخاونددنفقې فیصله وشوه مگربیاهم څومیاشتې خاوندنفقه نه ده ورکړې بیایاښځه یاخاوندمړشونونفقه ساقطیږي ولې نفقه یوه عطیه ده اوغیرمقبوض عطیې دمرگ په وجه ساقطیږي.

(۳۳)که خاوندښځې ته دیوکال نفقه ورکړه بیایوله زوجینوڅخه مړشونودشیخینورحمهماالله په نزدله ښځې یادهغې له ترکه څخه هیڅ شی واپس نه اخیستل کیږي ولې نفقه عطیه ده چې قبض یې راغلی دی اوعطیات وروسته ترمرگ نه ورلې کیږي ،ولې دهغوحکم پوره کیږي،دامام محمد رحمه الله په نزدڅومره زمانه چې تیره شوې ده دهغې نفقه ښځې ته وربښودله کیږي باقي بیرته خاوندته ورکول کیږي.

(۳۴)وَإِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ حُرَّةً فَنَفَقَتُهَا دَيْنٌ عَلَيْهِ يُبَاعُ فِيهَا (۳۵)وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ أَمَةً فَبَوَّأَهَا مَوْلَاهَا مَعَهُ مَنْزِلًا فَعَلَيْهِ النَّفَقَةُ (۳۶)وَإِنْ لَمْ يُبَوِّئْهَا فَلَا نَفَقَةَ لَهَا عَلَيْهِ

ترجمه: که مريي له حُرې ښځې سره نکاح وکړه نو ددې ښځې نفقه پرمريي قرض کيږي او مريي په دغه نفقه کې خرڅول کيږي او که حُرسړي له منځې سره نکاح وکړه او مولی منځې ته له خاوندسره شپه تيرول مهياکړه نوپرخاوند دهغې نفقه واجبيږي او که مولی جلاځای نه وورکړی نوبياپرخاوندنفقه نه واجبيږي.

تشريح: (۳۴)که مريي دمولی په اجازه له يوې حُرې ښځې سره نکاح وکړه نو ددې ښځې مقرره شوې نفقه پرمريي قرض کيږي ولي ده دمولی په اجازه دعقدمباشرت کړی ددې التزام يې کړی دی نو دنوروقرضوپه شان داهم دده په حق کې ظاهريږي، که مولی داقرضه ادانه کړه نومريي به دخپلې ښځې په نفقه کې خرڅول کيږي.

(۳۵)که حُرسړي ديوچاله منځې سره نکاح وکړه او مولی دې منځې ته له خاوندسره شپه تيرول مهياکړه (مستقل جلاځای يې ورکړ)نوپرخاونددې نفقه واجبيږي ولي دمنځې له جانبه احتباس راغی اونفقه داحتباس عوض ده.

(۳۶)که مولی جلاځان ته ځای نه وورکړی نوبياپرخاوند نفقه نه واجبيږي ولي احتباس نه دی راغلی.

داولاددنفقې بيان

(۳۷)وَنَفَقَةُ الْأَوْلَادِ الصِّغَارِ علی الْأَبِ لَایُشَارِکُهُ فِیهَا اَحَدٌ کَمَا لَایُشَارِکُهُ فِی نَفَقَةِ الزَّوْجَةِ اَحَدٌ (۳۸)فَاِنْ کَانَ الصَّغِیرُ رَضِیعاً فَلَیْسَ عَلی اُمِّهِ اَنْ تُرْضِعَهُ (۳۹)وَیَسْتَاجِرُ لَهُ الْاَبُ مَنْ تُرْضِعُهُ عِنْدَهَا (۴۰)فَاِنْ اسْتَأْجَرَهَا وَهِیَ زَوْجَتُهُ اَوْ مُعْتَدَّتُهُ لِتُرْضِعَ وَلَدَهَا لَمْ یَجُزْ (۴۱)وَاِنْ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا فَاسْتَأْجَرَهَا عَلی اِرْضَاعِهِ جَازَ

ترجمه: دنابالغ اولادنفقه پرپلار واجبه ده په دې کې له پلار هيڅوک نه شريک کيږي لکه دده دښځې په نفقه کې چې له ده سره څوک نه شريک کيده او ماشوم تی رودونکی وي نو قضاءً دهغه پرموردې ماشوم ته تی ورکول واجب نه دي او پلار به ماشوم ته دتي ورکولوپاره داسي يوه ښځه په مزدوري راولي چې دماشوم له مورسره ماشوم ته تی ورکوي او که خاوند دخپل ماشوم مور ماشوم ته دتي ورکولوپاره په مزدوري راوسته حال داچې دادده ښځه ده يادده معتده ده نو دا جائزنه دی او که دمعتدې عدت تيره شوه بيايې په مزدوري مقرره کړه نو دا جائزدی.

تشريح: (۳۷)دنابالغ اولادچې (فقيران او آزادوي) نفقه خالص دهغوئ پرپلار واجبه ده په دې کې له هغه سره هيڅوک نه شريک کيږي لکه دده دښځې په نفقه کې چې له ده سره څوک نه شريک کيږي لقوله تعالی

(وَعَلَى المَولُودِلَه رِزقُهُنّ) يعني دوالداتو حق پرمولودله(زوج) واجب دى اودوالداتو حق دولدپه وجه واجب دى نوچې دولدپه وجه پرپلارد والداتورزق واجب دى نوپرهغه خود ولدرزق په درجه اولى واجبيږي.

(۳۸)که ماشوم (شيرخور) تى رودونكى وونوقضاءً دهغه پرموردې ماشوم ته تى وركول واجب نه دى ولى تى وركول دنفقى قائم مقام دى اودصغيرنفقه پرپلارواجبه ده څوک به نه وي ورسره شريک البته ديانةً ښځې ته دتى وركولوامركيږي ولى داله بابه داستخدام ځخه دى لکه دکورجاروكولواو د وړ ى پخولوچې هغى ته ديانةً حكم كيږي.

(۳۹)پلار به ماشوم ته دتى وركولولپاره يوه داسي ښځه په مزدورۍ مقرره كړي چې ماشوم ته به له موسره تى وركوي اودماشوم له مورسره دتى وركولووجه داده چې دپرورښت حق دمور دى.

(۴۰)که خاونددماشوم موردماشوم دتى وركولولپاره په مزدوري مقرره كړه حال داچې په دغه وخت كې دخاوندپه نكاح كې ده يادهغه دطلاق په عدت كې ده نوداپه مزدوري مقررول جائزنه دى ځكه ديانةً پردغه ښځه خپله تى وركول واجب دى مگرپه احتمال دعجزهغه معذوره بلله شوې وه نوچې كله هغي په مزدوري پرتى وركولواقدام وكړ نومعلومه شوه داپرتى وركرلوقادره ده ځكه پرهغى تى وركول واجب دى.

(۴۱)که دمعتدې عدت تيره شوه بياخاونددخپل ماشوم (چې له همدغى ښځه څخه دى) دتى وركولولپاره دا ښځه په مزدوري مقرره كړه نوداجاره جائزه ده ولى چې كله عدت تيره شوه نونكاح بلكليه زائله شوه اوښځه پردى غوندې شوه.

(۴۲)فَإِنْ قَالَ الأَبُ لَا أَستَأجِرُهَا وَجَاءَ بِغَيرِهَا فَرَضِيَتِ الأُمُّ بِمِثلِ أُجرَةِ الأَجنَبِيَّةِ كَانَتِ الأُمُّ أَحَقَّ بِهِ (۴۳)وَإِنِ التَمَسَتْ زِيَادَةً لَم يُجبَرِ الزَّوجُ عَلَيهَا

ترجمه:که دماشوم پلاروويل چې زه ددې موركې په اجاره نه مقرره كوم اوبله ښځه يې راوستله بيادبيگانه ښځې دأجرت پرمقدارمورراضي شوه نومورپه هغه زياته حقداره ده اوكه دې زيات أجرت غوښت نوپرهغه دې زوج نه مجبوركړاى كيږي.

تشريح:(۴۲)كه دماشوم پلاروويل چې زه ددې ماشوم مور(چې طلاقه شوې ده) په مزدوري نه مقرروم بلكې پردى تى وركونكې ښځه يې راوسته بياڅومره مزدوري چې پردى ښځه غواړي هغه مقداريابغير أجرت خپله دماشوم مورراضى شوه نوپه دې صورت كې دماشوم موردماشوم مستحقه ده ولى هغه پرخپل ماشوم زياته مشفقه ده لهذامورته په سپارلوكې دماشوم رعايت هم دى.

(۴۳)كه دماشوم دپردى ښځې ترأجرت زياتى پيسې غوښتې نودماشوم پلارنه مجبوركيږي چې ماشوم دهغه مورته په زيات أجرت وسپاري ولى په دې كې دپلارضرردى.

(۴۴) وَنَفَقَةُ الصَّغِيرِ عَلى أَبِيهِ وإنْ خَالَفَهُ فِي دِيْنِهِ كَمَا تَجِبُ نَفَقَةُ الزَّوْجَةِ عَلَى الزَّوْجِ وإنْ خَالَفَتهُ فِي دِيْنِهِ

ترجمه :دصغير نفقه دهغه پرپلار رواجبه ده كه څه هم هغه له ده سره په دين كې مخالف وي لكه دښځې نفقه چې پرخاوند واجبه ده كه څه هم دا په دين كې دخاوند مخالفه ده .

تشريح :(۴۴) يعنې دصغير نفقه دهغه پرپلار رواجبه ده كه څه هم پلار له هغه سره په دين كې مخالف وي ولى دالله تعالى قول (وعلى المَولُودِ لَه رِزقُهُنّ) مطلق دى،همداراز،زوى دپلار جزء وي نو دخپل ذات په حكم كې دى او څرنګه چې دخپل ذات نفقه فرض ده نو دخپل جزء يعنې اولادنفقه هم فرض ده،لكه دښځې نفقه چې پرخاوند واجبه ده كه څه هم هغه په دين كې له خاوند څخه مخالفه وي ولى دښځې نفقه په عوض داحتباس ده او احتباس په زوجه غير مسلمه كې موجود دى ځكه پرزوج دغير مسلمه ښځې نفقه واجبه شوه .

دماشوم دپرورښت دمستحق بيان

(۴۵) وَإذَا وَقَعَتِ الفُرْقَةُ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ فَالأُمُّ أَحَقُّ بِالوَلَدِ (۴۶) فَإن لم تَكُنِ الأُمّ فَأمُّ الأمّ أَوْلى مِنْ أمِّ الأَبِ (۴۷) فإذَا لَم تَكُنْ لَه أمّ الأمّ فَأمّ الأَبِ أَوْلى مِنَ الأَخَوَاتِ (۴۸) فَإنْ لم تَكُنْ لَه جَدّةٌ فالأَخَوَاتُ أَوْلى مِنَ العَمَّاتِ وَالخَالاتِ (۴۹) وتَقَدّمَ الأُخْتُ مِنَ الأَبِ وَالأُمّ (۵۰) ثم الأُخْتُ مِنَ الأُمّ ثُمّ الأُخْتُ مِنَ الأَبِ (۵۱) ثُمّ الخَالاتُ أَوْلى مِنَ العَمَّاتِ وَيَنْزِلْنَ كَمَا يَنْزِلْنَ الأَخَوَاتُ (۵۲) ثُمّ العَمَّاتُ يَنْزِلْنَ كَذالِكَ

ترجمه :كه دزوجينوترمنځ تفريق راغى نو دماشوم زيات حقدار دهغه مورده كه مورنه وه بيا آنا زياته حقداره ده په نسبت دپلار رومورته اوكه يې آنانه وه نو دپلار مورپه نسبت دخويندو زياته حقداره ده اوكه هغه دپلار دخوا آنانه وه نو بيا دعمّه ګانو او خالاګانو په نسبت خويندې زياتى حقدارې دي او په هغوكې حقيقى خور مقدمه ده بيا هغه په مورچې خوروي بيا هغه چې په پلار خوروي بيا خالاګانى زياتى حقدارې دي په نسبت دعمّه ګانو او په دوئ كې هم هغه ترتيب دى كوم چې په خويندو كې دى بيا عمّه ګانى په همدى ترتيب دي .

تشريح :(۴۵) كه دزوجينوترمنځ جدائى راغله نو دماشوم زيات حقدار دهغه مورده ولى مورترټولو زياته مشفقه ده او دماشوم په تربيت ترهرچا ښه پوهيږي لهذا ماشوم چې مورته وسپارل شي دماشوم په حق كې زيات بهتر دى .

(۴۶)که دماشوم مورنه وه نوبیاآنایادآناموروَاِن بَعُدت دماشوم زیات حقداري دي په نسبت وهغه آناته چې دپلار دخواوي وجه يې داده چې داولايت دمیندوله خواڅخه دهغوئ دشفقت په وجه مستفاددی لهذاکومه چې مورته نژدي وي هغه ښځه زیاته حقداره ده ترهغې چې دپلار له خوایې قریبه وي .

(۴۷)که دموردخوا آنانه وه نوبیاهغه چې دپلاردخوایې آناده په نسبت دخویندوزیاته حقداره کیږي ولی دهغې آنا شفقت دپیدائشي قرابت په وجه دی ترخویندوزیات دی .

(۴۸)که دپلاردخوا آنانه وه بیادعمّه ګانواوخالاګانوپه نسبت خویندې زیاتی حقدارې دي ولی خویندې دعمّه ګانواوخالاګانوپه نسبت قریبی رشته دارې دي .

(۴۹)بیاپه خویندوکې زیاته حقداره حقیقی خویندی دي (چې په موراوپلاردواړويې خوروي) ولی حقیقی خوردوه قرابته والاده .

(۵۰)بیاهغه خورچې په موريې خوروي زیاته حقداره ده په نسبت دهغی خورچې په پلارشریکه وي ولی داحق دموردجانبه دی .

(۵۱)که خویندي نه وي نوبیاخالاګانی زیاتی حقدارې دي په نسبت دعمّه ګانواوپه خالاګانوکې هم دخویندوتفصیل دی ذات قرابتین مقدمه کیږي ترذات قرابت واحده،بیاقرابت دام مقدم دی ترقرابت اب.

(۵۲)که خالاګانی نه وي نوبیاعمّه ګانی زیاتی حقدارې دي اوپه عمّه ګانوکې هم هغه تفصیل دی چې ذات قرابتین مقدم دي ترذات قرابت واحده څخه اوپه قرابت واحده کې دموروالاقرابت مقدم دی دپلارترقرابت.

(۵۳) كُلُّ مَنْ تَزَوَّجَتْ مِنْ هٰؤُلاءِ سَقَطَ حَقُّهَا فِي الْحَضَانَةِ (۵۴) إِلَّا الْجَدَّةَ إِذَا كَانَ زَوْجُهَا الْجَدَّ

ترجمه :که له مذکوروښځونه کومې ښځې نکاح وکړه نودهغی حق دپرورښت ساقطیږي مګرنه آناکه دهغی زوج دماشوم نیکه وو.

تشریح :(۵۳)که په مذکوروښځوکې هره یوه دماشوم څخه له پردي سړي سره نکاح وکړي نودهغی حق دپرورښت ساقطیږي ولی اجنبی څوک داماشوم حقیرشی ګڼې اوپه تیز(غیرشفقتی) نظرورته ګوري لهذاپه دی کې دماشوم رعایت نشته .

(۵۴)البته که ددي ماشوم آناخپله نکاح ددي ماشوم له نیکه سره وکړه نوحق دپرورښت یې نه ساقطیږي ولی نیکه دماشوم دپلارقائم مقام دی لهذادهغه شفقت باقی پاتیږي،همداحال دهرداسی خاونددی چې ددي ماشوم ذی رحم محرم وي ولی دقرابت قریب په وجه شفقت قائم دی .

(۵۵)فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لِلصَّبِيِّ امْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِهِ فَاخْتَصَمَ فِيهِ الرِّجَالُ فَأَوْلَاهُمْ بِهِ أَقْرَبُهُمْ تَعْصِيبًا (۵۶)وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ أَحَقُّ بِالْغُلَامِ حَتَّى يَأْكُلَ وَحْدَهُ وَيَشْرَبَ وَحْدَهُ وَيَلْبَسَ وَحْدَهُ وَيَسْتَنْجِيَ وَحْدَهُ (۵۷)وبِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَحِيضَ (۵۸)وَمَنْ سِوَى الْأُمِّ وَالْجَدَّةِ أَحَقُّ بِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَبْلُغَ حَدًّا تُشْتَهَى

ترجمه :که دماشوم له کورنۍ څخه دهغه دپرورښت لپاره کومه ښځه نه وه بیادنارینه وُپه دې کې اختلاف سره راغی نوپه نارینه کې دماشوم دپرورښت زیات حقدارهغه څوک دی چې په عصبه کیدوکې (دماشوم) زیات قریب وي اوموراوآناپه هلک ماشوم ترهغه وخته حقدارې دي چې کله داهلک یوائې خوراک کوي یوائې څیښاک کوي یوائې کالي اغوندي اویوائې استنجاء کوي اوموراوآنادانجلۍ ترهغه وخته حقدارې دي چې هغې ته حیض رائې اوله موراوآناپرته نورې ښځې دانجلۍ دپرورښت ترهغه وخته حقدارې دي چې انجلۍ حدشهوت ته رسیږي .

تشریح :(۵۵)که دماشوم دکورنۍ څخه دماشوم دپرورښت کونکې ښځه نه وه بیانارینه وُدهغه دپرورښت په هکله اختلاف سره وکړنوپه نارینه وُکې دپرورښت زیات حقدارهغه دی چې په عصبه کېدوکې ددې ماشوم زیات قریب وي ځکه دولایت حق زیات قریب ته ورکول کیږي اودعصباتوترتیب په نکاح کولوکې دولایت په باب کې معلوم شوی دی،البته ماشوم عصبه غیرمحرم(لکه مولی عتاقة اوابن العم) ته نه سپارل کیږي تَحرزًاعنِ الفِتنَةِ .

(۵۶)موراوآنادهلک ترهغه وخته حقدارې دي چې کله ماشوم مستغنی شي په دې ډول چې یوائې خوراک کولای شي څښاک کولای شي اویوائې کالي اغوستلای شي استنجاء کولای شي ولی کمال استغناء په قدرت علی الاستنجاء سره حاصلیږي،له هغه وروسته هلک پلارته سپارل کیږي ولی بیاهلک دنارینه وُداخلاقوزده کړې ته محتاج دی اوماشوم هلک په اخلاقوجوړولوکې پلارته زیات قدرت حاصل دی .

(۵۷)موراوآنادانجلۍ ترهغه وخته حقدارې دي ترڅوچې هغې ته حیض رائې یعنې بالغه شي ځکه تربلوغ وروسته هغې ته دنکاح په ذریعه دمحصنه کولواوله زناڅخه دحفاظت کولوضرورت دی اوپلارته په دې باب زیات قدرت حاصل دی .

(۵۸)له موراوآناپرته نورې ښځې (چې حق دپرورښت لري) دانجلۍ دپرورښت ترهغه وخته زیاتې حقدارې دي چې انجلۍ حدشهوت ته رسیږي چې اندازه یې نهه کاله مقرره شوې ده .

(۵۹)وَالْأَمَةُ إِذَا أَعْتَقَهَا مَوْلَاهَا وَأُمُّ الْوَلَدِ إِذَا أُعْتِقَتْ فَهِيَ فِي الْوَلَدِ كَالْحُرَّةِ (۶۰)وَلَيْسَ لِلْأَمَةِ وَأُمِّ الْوَلَدِ قَبْلَ الْعِتْقِ حَقٌّ فِي الْوَلَدِ (۶۱)وَالذِّمِّيَّةُ أَحَقُّ بِوَلَدِهَا الْمُسْلِمِ مَا لَمْ يَعْقِلِ الْأَدْيَانَ وَيُخَافُ عَلَيْهِ أَنْ يَأْلَفَ الْكُفْرَ

ترجمه: او منځه که مولی آزاده کړه اوام ولده چې کله آزاده کړای شي نودوئ دولدپه باره کې دحرو ښځو شان دي اوام ولدا و منځې لره ترآزادي مخکې دماشوم دپرورښت هیڅ حق نشته او ذمیه دمسلمان ماشو زیاته حقداره ده ترڅو چې ماشوم په دین نه وي پوهیدلی اوددي ویره وي چې له کفرسره مانوس نه شي.

تشريح: (۵۹) که منځه خپل مولی آزاده کړه یاأم ولده چې کله آزاده کړای شي نودآزادو ښځوپه شان هغوئ دماشوم دپرورښت حق لري ولی دپرورښت دحق دثبوت په وخت کې دوئ آزادې دي.

(۶۰) ترآزادیدومخکې منځه اوام ولددماشوم دپرورښت هیڅ حق نه لري ولی دوئ دمولی په خدمت دمشغول کیدوپه وجه دماشوم له پرورښت کولوڅخه عاجزدي.

(۶۱) که مسلمان سړي له یوې ذمیه کتابیه سره نکاح وکړه بیایې له هغی نه ماشوم پیداشونوداماشوم به دخیرالابوین یعنې مسلمان پلارتابع وي مګردهغه دپرورښت زیاته مستحقه دهغه ذمیه مورده لیکن داترهغه وخته پورې چې ترڅوماشوم په دین نه وي پوهیدلی اودماشوم له کفرسره دمیني پیداکولوویره نه وي ولی تردغه حالت مخکې ماشوم مورته په سپارلوکې پرهغه شفقت دی اوله دي حالت وروسته ضرردی (یعنې له کفرسره دمانوس کیدواحتمال شته) ځکه له ذمیه نه اخیستل کیږي مسلمان پلارته حواله کیږي.

(۶۲) وإذا أرادت المطلقة أن تخرج بولدها من المصر فليس لها ذالك (۶۳) إلا أن تخرج به إلى وطنها وقد كان الزوج تزوجها فيه

ترجمه: که مطلقې ښځې اراده وکړه چې خپل ماشوم له ښارڅخه بهربوځي نودااختیاردې لره نشته مګرداکه ښځې غوښتل چې ماشوم خپل هغه وطن ته بوځي په کوم کې خاوندله هغی سره نکاح کړي ده نوښځې ته ددي اختیارشته.

تشريح: (۶۲) دعدت له پوره کیدووروسته که مطلقې ښځې وغوښتل چې خپل ماشوم له ښارڅخه بهربل ښارته بوځي نودي لره دااختیارنشته ولی په دی صورت کې پلارله خپل ماشوم څخه بی خبره دی دپلارپه دی کې ضرردی.

(۶۳) اوکه ښځې غوښتل چې ماشوم خپل هغه وطن ته بوځي په کوم کې چې خاوندله هغی سره نکاح کړي ده نوښځې ته دااختیارشته ولی خاوندچې په کوم وطن کې نکاح کړي ده عرفایې هلته پرخپل ځان قیام لازم کړی دی ځکه خاوندعادةً په هغه ښارکې ژوندکوي چیرته چې نکاح کوي.

(۶۴) وعلى الرجل أن ينفق على أبويه وأجداده وجداته إذا كانوا فقراء وإن خالفوه في دينه

ترجمه: پرانسان واجب دی چې پرخپل موراوپلار، نیکه ګانواوآناګانونفقه وکړي په دي شرط چې هغوئ فقیران وي که څه هم په دین کې له ده سره مخالف وي.

تشریح :(۶۴)یعني پرانسان واجب دی چې دی خپل مور،پلار،نیکه ،آناته نفقه ورکړي په دي شرط چې هغوئ فقیران وي که څه هم په دین کې دده مخالف وي دوالدینودنفقې دلیل دالله تعالی ارشاد دی(وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا)په دنیاکې له موراوپلارسره په معروفه طریقه ژوندکوئ.
چې دادکافرینوموراوپلارپه باره کې نازل شوی دی چې په دنیاکې له کافرینوموراوپلارسره په معروفه طریقه سلوک کوئ اوپه معروفه طریقه ژونددانه دی چې خپله دالله تعالی په نعمتونوکې عیش کوي اوموراوپلارپریږدي چې له لوږي مړه شي،پاتی شوه دنیکه ګانواوآناګانونفقه هغه ځکه واجبه ده چې هغوئ لهآباؤاوامهاتوڅخه دي همداوجه ده چې که پلارنه وي نونیکه دهغه قائم مقام کیږي .

(۶۵)وَلَا تَجِبُ النَّفَقَةُ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّينِ إِلَّا لِلزَّوْجَةِ وَالْأَبَوَيْنِ وَالْأَجْدَادِ وَالْجَدَّاتِ وَالْوَلَدِ وَوَلَدِ الْوَلَدِ(۶۶)وَلَا يُشَارِكُ الْوَلَدَ فِي نَفَقَةِ أَبَوَيْهِ أَحَدٌ

ترجمه :ددین داختلاف سره دهیچانفقه نه ده واجبه پرته له خپلې ښځې،له موراوپلار،نیکه ګانواوآناګانو اوزوی اولمسي نه اودموراوپلارپه نفقه کې له زوی سره هیڅوک شریک نه دي .

تشریح :(۶۵)ددین داختلاف سره دهیچانفقه نه ده واجبه پرته له خپلې کوروداني،موراوپلار،نیکه ګانو او آناګانو،زوی اولمسي نه،ددین داختلاف سره دښځې نفقه ځکه واجبه ده چې دښځې نفقه داحتباس په مقابل کې ده اواحتباس داتحاددین اواختلاف دین دواړوصورتوکې موجوددی،اودمذکوره رشته دارانونفقه ځکه واجبه ده چې دهغوئ پخپلوکې علاقه دجزئیت ده اودانسان جزء دهغه دذات په حکم کې دی نوڅرنګه چې دانسان دخپل ځان نفقه دهغه دکافرکیدوپه وجه نه منع کیږي همداسي دهغوچې له ده سره دجزئیت علاقه لري دهغوئ نفقه هم دکفرپه وجه نه بندیږي البته که هغوئ حربي وونوبیایې نفقه نه ده واجبه.
(۶۶)که موراوپلارتنګدست ووااودهغوزوی مالداروونودهغوئ نفقه پرزوی واجبیږي هیڅ بل څوک له هغه سره په نفقه ورکولوکې نه شریک کیږي ولی نفقه دقرابت په وجه واجبیږي اوزوی له موراوپلارسره ترټولو زیات قرابت لري ځکه دموراوپلارنفقه خالص پرده واجبیږي،اودموراوپلارپه نفقه کې هلک اونجلۍ دواړه برابردي.

(۶۷)وَالنَّفَقَةُ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ إِذَا كَانَ صَغِيرًا فَقِيرًا(۶۸)أَوْ كَانَتِ امْرَأَةً بَالِغَةً فَقِيرَةً(۶۹)أَوْ كَانَ ذَكَرًا زَمِنًا أَوْ أَعْمَى فَقِيرًا(۷۰)وَتَجِبُ ذَٰلِكَ عَلَى مِقْدَارِ الْمِيرَاثِ

ترجمه :اونفقه دهرذی رحم محرم لپاره واجبه ده که هغه ماشوم وي اوفقیروي یابالغه فقیره ښځه وي یانروي خوفالج وهلی وي یاړوندوي اوفقیروي اودا په قدردمیراث واجبیږي .

تشریح (۶۷)ذی رحم محرم که نابالغ محتاج وي (۶۸)یاذی رحم محرم بالغه ښځه وي محتاجه وي (۶۹)یانارینه بالغ وي خو محتاج وي ،شل وي یا ړوند وي ،نو دي ټولو لپاره نفقه واجبه ده،ولی احسان کول په قرابت قریبه کې واجبیږي په قرابت بعیده کې نه وي ،د قرابت قریبه او بعیده فاصل دادی چې که ذی رحم محرم وي نو قرابت قریبه دی که نه قرابت بعیده وقد قال الله تعالی (وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ) یعنې پر وارث دهغه په مثل واجبیږي .

(۷۰)بیانفقه په قدر د میراث واجبیږي ولی په قدر د حاصلا تو انسان تاوان ګالي یعنې څومره چې ده ته حصه په میراث کې رسیږي په هغه حساب به بالفعل مورث ته نفقه ورکوي .

(۷۱)وَتَجِبُ نَفَقَةُ الْإِبْنَةِ الْبَالِغَةِ وَالْإِبْنِ الزَّمِنِ عَلَى أَبَوَيْهِ أَثْلَاثًا عَلَى الْأَبِ الثُّلُثَانِ وَعَلَى الْأُمِّ الثُّلُثُ (۷۲)وَلَا تَجِبُ نَفَقَتُهُمْ مَعَ إِخْتِلَافِ الدِّيْنِ (۷۳)وَلَا تَجِبُ عَلَى الْفَقِيْرِ

ترجمه :دبالغې انجلۍ نفقه او دبالغ هلک چې شل وي نفقه یې پر مور او پلار درې حصې کیږي دوې حصې پر پلار یوه حصه پر مور واجبیږي او ذی رحم محرم نفقه ددین داختلاف باوجود نه لازمیږي (دمذکورو رشته دارانو نفقه) پر فقیر نه واجبیږي .

تشریح :(۷۱)دبالغې انجلۍ نفقه او دبالغ هلک چې شل وي (په دې شرط چې فقیران وي) نفقه یې پر مور او پلار درې حصې کیږي دوه حصې پر پلار او یوه حصه پر مور واجبیږي ځکه چې والدین که دخپل زوی یالور وارث وي نو هغوئ په همدې حساب سره میراث ورکول کیږي لهذا پر دوئ نفقه هم په هغه مقدار واجبیږي دیوه روایت مطابق ټوله نفقه پر پلار واجبه ده .

(۷۲)دذوی الارحامو نفقه ددین داختلاف باوجود نه واجبیږي ولی داختلاف دین سره دوارث کیدو اهلیت باطلیږي حال داچې دوجوب نفقه لپاره دوارث کیدو اعتبار ضروري دی .

(۷۳)دذوی الارحامو نفقه پر فقیر نه واجبیږي ولی نفقه دصله رحمی په توګه واجبیږي حال داچې فقیر خپله ددې مستحق دی چې څوک له ده سره احسان وکړي نو پر ده د نورو نفقه څرنګه واجبیږي .

(۷۴)وَإِذَا كَانَ لِلْإِبْنِ الْغَائِبِ مَالٌ قُضِيَ عَلَيْهِ بِنَفَقَةِ أَبَوَيْهِ (۷۵)وَإِنْ بَاعَ أَبُوهُ مَتَاعَهُ فِي نَفَقَتِهِ جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۷۶)وَإِنْ بَاعَ الْعَقَارَ لَمْ يَجُزْ

ترجمه :که دغائب زوی مال وو نو په هغه کې دده د مور او پلار د نفقې حکم جاري کیږي او که دهغه پلار دده مال پخپله نفقه کې خرڅ کړنو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد دا جائز دی لیکن که پلار ځمکه خرڅه کړه نو جائزه نه ده .

تشريح :(۷۴)كه دغائب زوى مال له يو چاسره امانةً موجودوي نوقاضى به په هغه مال كې دوالدينو دنفقى حكم كوي كمامرّ قَرِيبًا وقدبَيناوَجهَه.
(۷۵)دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدموراوپلارلره دخپل غائب زوى منقول جائيدادپخپله نفقه كې خرڅول استحساناجائزدى . (۷۶)ليكن كه پلاردخپل غائب زوى ځمكه (غيرمنقول جائيداد) خرڅ كړي نوجائزنه دى،دصاحبينورحمهماالله په نزدجائيدادمنقول وغيرمنقول يوشى خرڅول هم جائزنه دى اوقياس هم همدادى ولى دپلارولايت دزوى په بالغ كيدوسره منقطع شوى دى همداوجه ده چې كه زوى حاضروي نوپلاردخپل زوى دمال خرڅولو اختيارنه لري .
دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادى چې پلارلره دغائب په مال كې دحفاظت ولايت حاصل دى اومنقول مال خرڅوك دحفاظت له قسم څخه دى اوپه غيرمنقول كې داشى نشته ولى هغه خپله محفوظ وي .

(۷۷)وَاِنْ كَانَ لِلْاِبْنِ الْغَائِبِ مَالٌ فِي يَدِ اَبَوَيْهِ فَاَنْفَقَا مِنْهُ لَمْ يَضْمَنَا (۷۸)وَاِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي يَدِ اَجْنَبِيٍّ فَاَنْفَقَ عَلَيْهِمَا بِغَيْرِ اِذْنِ الْقَاضِي ضَمِنَ

ترجمه :كه دغائب زوى مال دموراوپلارپه قبضه كې وواووالدينوهغه مصرف كړنودوئ ضامنان نه كيږي اوكه دغائب زوى مال دكوم بيګانه په لاس كې وواوهغه دده پرموراوپلارمصرف كړدقاضى داجازې بغيرنوهغه ضامن كيږي .

تشريح :(۷۷)كه زوى غائب وواودهغه مال دده دموراوپلارپه لاس كې وواوموراوپلارله هغه څخه خپله نفقه راواخيسته نودوئ نه ضامن كيږي ولى هغوئ خپل حق وصول كړځكه دهغونفقه دقاضى ترقضاء مخكې واجبه ده على مامرّ.
(۷۸)كه دغائب زول مال دبل چاپه لاس كې ووهغه دده پرموراوپلارنفقه كوله دقاضى داجازې بغيرنوداسړى ضامن كيږي ولى دي سړي دغيرپه مال كې بغيرولايت تصرف كړى دى ځكه دى خوخالص دحفاظت كولونائب دى كوم بل اختياره لره نشته ،البته كه قاضى هغه ته حكم وكړچې دى دغائب موراوپلارته دهغه له مال څخه نفقه وركړي نوبياداسړى نه ضامن كيږي ولى دقاضى حكم پرده لازم دى دقاضى ولايت عام دى پرټولو خلكو.

(۷۹)وَاِذَا قَضَى الْقَاضِي لِلْوَلَدِ وَالْوَالِدَيْنِ وَلِذَوِي الْاَرْحَامِ بِالنَّفَقَةِ فَمَضَتْ مُدَّةٌ سَقَطَتْ (۸۰)اِلَّا اَنْ يَاْذَنَ لَهُمُ الْقَاضِي فِي الْاِسْتِدَانَةِ عَلَيْهِ

ترجمه : چې کله قاضي (پريوچا)دهغه دزوی ،موراوپلاراوذوی الارحامونفقه مقرره کړه بيا له نفقه ورکولوبغيرڅه موده تيره شوه نونفقه ساقطيږي مګرداچې قاضي دهغه پرذمه دقرض اخيستلوحکم ورکړي.

تشريح :(۷۹)کله چې قاضي پريوچادهغه دزوی ،دموراوپلاراونوروقريبانونفقه مقرره کړي بيا له نفقه ورکولوبغيرڅخه موده تيره شوه نودهغی مودې نفقه ساقطيږي ځکه ددي خلکونفقه دضرورت پوره کولو لپاره واجبيږي حتی که داخلک مالدارونودهغوئ لپاره نفقه نه واجبيږي اوددومره وخت په تيريدوسره ددغه وخت ضرورت پوره شوی دی ځکه ددغې مودې نفقه ساقطه شوه .

(۸۰)البته که قاضي دي خلکوته پرغائب دقرضي اخيستلوحکم ورکړنوبيادوخت په تيريدوسره دهغوئ نفقه نه ساقطيږي ولی قاضي لره ولايت عامه حاصل دی لهذادقاضي حکم داسی دی لکه غائب چې خپله اجازه ورکړي چې زماپرذمه قرضه اخلئ نوداقرضه دهغه پرذمه شوه نوځکه دمودې په تيريدوسره نه ساقطيږي .

(۸۱)وَعَلَى الْمَوْلَى أَنْ يُنْفِقَ عَلَى عَبْدِهِ وَأَمَتِهِ (۸۲)فَإِنْ امْتَنَعَ مِنْ ذَلِكَ وكَانَ لَهُمَا كَسْبٌ اكْتَسَبَا وَأَنْفَقَا مِنْهُ (۸۳)وإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمَا كَسْبٌ أُجْبِرَ الْمَوْلَى عَلَى بَيْعِهِمَا

ترجمه :اوپرمولی لازم دی چې خپل مريی اومنځې ته نفقه ورکړي که يې منع وکړه له دي کارڅخه اودوئ مزدوري کولای شي نومزدوري دي وکړي خپله نفقه دي برابره کړي اوکه يې کسب نه درلودمزدوري يې نه شوای کولای نومولی مجبورکيږي دهغوئ پرخرڅولو .

تشريح :(۸۱)پرمولی واجب دی چې خپل مريي اومنځې ته نفقه ورکړي مريی اومنځه که خالص مريان وي که مدبروي که ام ولد،که صغيروي که کبير،ددي ټولونفقه پرمولی واجبه ده .

(۸۲)که مولی دوئ له نفقه ورکولوڅخه منع وکړه نوورته وبه کتل شي چې مريی اومنځه دګټې صلاحيت لري که نه که يې ګټه کولای شوای نوکاراومزدوري دي وکړي خپله ګزاره دي وکړي ياداچې مخکې يې مزدوري کړې وه هغه دي پرځان مصرف کړي ولی په دي کې دطرفينورعايت دی په دي ډول چې مملوک به يې وګټي وبه يې خوري ژوندی به پاتې وي اودمولی مِلک به باقي پاتی وي .

(۸۳)که دواړودمزدوري صلاحيت نه درلودمثلامريی شل دی اومنځه داسې ده چې خلک يې په مزدوري نه بيايي نوپه دي صورت کې مولی مجبورکيږي چې دوئ خرڅ کړي ولی دادواړه دنفقی مستحق دي اوپه خرڅولو کې ددواړوحق اداکيږي چې مولی ته دمملوک دقيمت په حصول سره دهغه حق هم اداکيږي .

داکتاب دعتاق په بیان کې دی.

عتق لغةً دقوت په معنی دی اوپه عتق اصطلاحی کې هم دضعف (یعنې رقیت) ازاله ده اودحکمیه قوت (یعنې حریت) اثبات دی ،شرعًادمولی له خپل مملوک څخه خپل حق دملکیت په داسي طریقه ساقطول چې هغه آزادشي،دي ته عتق وایې.

امام قدوری رحمه الله چې کله له مباحثودطلاق اودهغه له متعلقاتویعنې نفقات وغیره څخه فارغ شونومباحث دعتاق یې شروع کړل،دطلاق اوعتاق ترمنځ مناسبت دادی چې په دواړوکې رفع دقیدده اوله دواړوڅخه یوهم وروسته تروقوع فسخ نه قبلوي ،بیاطلاق که څه هم غیرمندوب دی بیایې مقدم کړی دی وجه یې داده چې دنکاح په مقابل کې مذکورشي،اوداعتاق له نفقاتوسره مناسبت دادی چې په اعتاق کې داحیاء معنی راځي ولی کفرحکمًامرگ دی لقوله تعالی (اَوَمَن کَانَ مَیْتًافَاَحیَینَاهُ اَی کَافِرًافَهَدَینَاه) اورق دکفراثردی نوپه دي وجه ازاله درق احیاء ده اوداداحیاء معنی په نفقاتوکې هم شته چې ظاهره ده.

اعتاق مندوب الیه عمل دی قال ﷺ :ایمامؤمن اعتق مؤمنافی الدنیااعتق الله بکل عضومنه عضوًامنه من النار.

همداوجه ده چې دنارینه لپاره مریی اودښځې لپاره منځه آزادول مستحسن بلل شوی دی ددي لپاره چې مقابلة الاعضاء بالاعضاء راشي.

(۱) وَالْعِتْقُ يَقَعُ مِنَ الْحُرِّ الْبَالِغِ الْعَاقِلِ فِی مِلْکِه (۲) فَإِذَاقَالَ لِعَبْدِهٖ اَوْ اَمَتِهٖ اَنْتَ حُرٌّ اَوْ مُعْتَقٌ اَوْ عَتِیْقٌ اَوْ مُحَرَّرٌ اَوْ حَرَّرْتُکَ اَوْ اَعْتَقْتُکَ فَقَدْ عَتَقَ نَوَی الْمَوْلٰی الْعِتْقَ اَوْلَمْ يَنْوِ (۳) وَکَذَالِکَ اِذَاقَالَ رَأْسُکَ حُرٌّ اَوْرَقَبَتُکَ اَوْبَدَنُکَ اَوْقَالَ لِاَمَتِهٖ فَرْجُکِ حُرٌّ

ترجمه :اوآزادي واقع کیږي دآزاد،عاقل ،بالغ پخپل مِلک کې نوکه یې خپل مریي یامنځې ته وویل چې ته آزادیې یاآزادکړای شوی یې یاداچې ماته حُرکړځولی یې یاته مي آزادکړی یې نوهغه آزادیږي که مولی دآزادي نیت کړی وي که نه همدارازکه یې ورته وویل چې ستاسرآزاددی یاستاغاړه آزاده ده یاستابدن آزاددی یاخپلې منځې ته ووایې ستاشرمګاه آزاده ده.

تشریح :(۱)امام قدوری رحمه الله دصحت اعتاق څلورشرطونه ذکرکړي دي :**نمبر ۱**-آزادونکی به خپله آزادوي،ځکه اعتاق خالص په خپل مِلک کې صحیح کیږي اوڅوک چې خپله مملوک وي دهغه هیڅ مِلک نه دي لهذامملوک هیڅالره نه شي آزادولای . **نمبر ۲**-آزادونکی به بالغ وي ولی نابالغ دآزادولواهلیت نه لري ولی آزادول په ظاهرضرروي همداوجه ده چې ولی ته دنابالغ دطرف څخه دآزادولوشرعًااجازه نشته .

نمبر ۳-آزادونکی به عاقل وي ولی په ليوني کې دهيڅ ډول تصرف اهليت نه وي . **نمبر ۴**-مريی به دآزادونکي ملک وي ياداچې دمريي دآزادولونسبت دخپل ملک طرف ته وکړي لکه اِن مَلَکتُکَ فَاَنتَ حُرٌ (که زه ستامالک شوم نوته آزادېږي) لقوله ﷺ :لاعِتقَ فِيمَالايَملک ابنِ آدمَ . ژ:يعنې انسان چې دکوم شي مالک نه وي په هغه کې هيڅ عتق نشته .

(۲)که مولی خپل مريي يامنځې ته وويل :انت حريا انت معتق يا انت عتيق يا انت محرر يا قدحررتک يا اعتقتک ،نوهغه آزادېږي که په دغو الفاظوسره دمولی دآزادولونيت وي اوکه يې نه وي ولی داالفاظ دآزادولوپه معنی کې صريح دي شرعًااوعرفًاپه دي معنی کې مستعمل دي اوالفاظ صريحه په عمل کولوکې دنيت محتاج نه وي .

(۳)که مولی خپل مملوک ته وويل رأسک حرياوجهک حرٌ يابدنک حر،يايې منځې ته وويل :فرجکِ حر،نوپه دي ټولو الفاظوسره مملوک آزادېږي ځکه داالفاظ داسی دي چې په هغوسره ټول بدن تعبيرېږي وقدمرّفی الطلاق .

(۴)وَلَوْقَالَ لامِلْکَ لِی عَلَيْکَ وَنَوَی بِذَالِکَ الْحُرِيَّةَ عَتَقَ (۵)وَاِنْ لَمْ يَنْوِ لَمْ يَعْتِقْ (۶)وكَذالِکَ جَمِيعُ كِنَايَاتِ الْعِتْقِ (۷)وَاِنْ قَالَ لاسُلْطَانَ لِی عَلَيْکَ وَنَوَى بِهِ الْعِتْقَ لَمْ يَعْتِقْ

ترجمه :که مولی وويل لامِلک لی عليک اوپه دي کلام سره يې دآزادولونيت کړی وونوآزادېږي اوکه يې دآزادول نيت نه ووکړی نونه آزادېږي همدارازدټولوکناياتودعتق داحکم دی اوکه يې وويل لاسلطان لی عليک اوپه دي سره دآزادولونيت وکړنونه آزادېږي .

تشريح :(۴)که مولی خپل مملوک ته وويل لاملک لی عليک (پرتازمامِلک نشته) اوپه دي کلام سره هغه دآزادولونيت کړی ونودامملوک آزادېږي .

(۵)که يې دآزاديدونيت نه ووکړی نونه آزادېږي ځکه داله الفاظ کنايه ؤځخه دي ولی په دي کې دوه احتماله دي يوداچې زمامِلک پرتاځکه نشته چې ماته خرڅ کړی يې دوهم احتمال داچې مِلک مې ځکه نشته چې ماته آزادکړی يې لهذاداکلام دکنائی کيدوپه وجه دنيت محتاج دی .

(۶)همداحکم دنوروکنايات عتق هم دی لکه دمولی قول خَرجتَ مِن مِلکِي (ته زماله مِلک څخه ووتې) ولاسبيل لی عليک (مالره پرتاهيڅ سلطه نشته) ولارق لی عليک وغيره (پرتازمارقيت نشته) .

(۷)که مولی خپل مريي ته وويل لاسلطان لی عليک (پرتازماسلطنت نشته)اودآزادی نيت يې کړی وونومريی نه آزادېږي ځکه سلطان له قبض څخه عبارت دی اوداکيدای شي چې مِلک قائم وي اوقبض نه يې راغلی لکه په مکاتب کې چې دمولی مِلک قائم دی مګرقبض نشته .

(۸) وَإِنْ قَالَ لِعَبْدِهِ هٰذَا ابْنِي وَثَبَتَ عَلٰى ذَالِكَ (۹) اَوْ قَالَ هٰذَا مَوْلَايَ اَوْ يَا مَوْلَايَ عَتَقَ (۱۰) وَإِنْ قَالَ يَا ابْنِي اَوْ يَا اَخِي لَمْ يَعْتِقْ

ترجمه :که مولی خپل مريي ته وويل هذاابنی بياهم پرهمدغه خبره ولاړوواويايې وويل هذامولای يامولای نوآزاديږي اوکه يې وويل ياابنی اوياأخی نومريی نه آزاديږي .

تشريح :(۸)که مولی دخپل مريي طرف ته په اشاره کولوسره وويل :هذاابنی (دازمازوی دی) بياپردغه خبره ولاړوو(وثبت علی ذالک قيداتفاقی دی) نوکه مريی معروف النسب نه وواودمريي عمردومره دی چې دمولی هغومره زوی پيداکيدای شي نوله مولی څخه دهغه نسب ثابتيږي،چې نسب ثابت شونوآزاديږي هم ولی دنسب نسبت دمولی طرف ته له هغه وخته معتبردی چې کله نطقی قرارنيولی نوله آزادي هم له هغه وخت نه ثابتيږي .

اوکه دمريي نسب معلوم وونوله مولی څخه دهغه نسب نه ثابتيږي البته مريی آزاديږي ولی دهذاابنی حقيقی معنی متعذره ده په دي وجه پرمجازی معنی يعنې آزادي محمول کيږي ولی زوی کيدل دآزادي سبب دی نوويل دسبب مرادمسبب دی .

(۹)که مالک خپل مريي ته په اشاره کولوسره وويل :هذامولای(دازمامولی دی) يايې مريي ته ناري وهلې يامولای (ای زمامولی) نوبغيرنيته آزاديږي ولی لفظ دمولی مشترک دی يوه معنی يې معتِق (يعنې آزادونکی) ده اوبله معنی يې معتَق (آزادکړای شوی) ده ،اوپه مريي کې خالص دغه معنی مناسبه ده لهذاداله الفاظ صريحه ؤ(لکه ياحرياعتيق) سره ملحق کيږي بلانيت عمل کوي .

(۱۰)که مولی خپل مريي ته وويل ياابنی اوياأخی (ای زمازويه يااى زماوروره) نومريی نه آزاديږي ولی دغه الفاظ عادةً داکرام اوشفقت لپاره استعماليږي حقيقی معنی يې نه مراديږي .

(۱۱) وَإِنْ قَالَ لِغُلَامٍ لَا يُوْلَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ هٰذَا ابْنِي عَتَقَ عَلَيْهِ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَعِنْدَهُمَا لَا يَعْتِقُ (۱۲) وَإِنْ قَالَ لِاَمَتِهِ اَنْتِ طَالِقٌ وَنَوٰى بِهِ الْحُرِّيَّةَ لَمْ تَعْتِقْ

ترجمه :که يې مريی ته وويل چې هذاابنی،اودهغه په مثل هلک ددومره عمردمولی نه زوکيږي نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددامريی آزاديږي اودصاحبينو رحمهماالله په نزدنه آزاديږي اوکه خپلې منځې ته وويل انت طالق اوپه دي سره يې دآزاديدونيت وکړنومنځه نه آزاديږي .

تشريح :(۱۱)که مولی مريي ته وويل :هذاابنی ،اودمريي اومولی دعمرتناسب داووچې دهغه عمرهلک ددي عمرله مولی څخه پيداکيدل غيرممکن وو،(مثلا مولی دشلوکالووواومريی دپنځه ويشتوکالو) نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددامريی آزاديږي ،دصاحبينورحمهماالله په نزدنه آزاديږي، دصاحبينو رحمهما الله دليل دادی چې داکلام پرحقيقی معنی محمول کول محال دی لهذاداکلام لغوه دی،دامام ابوحنيفة

رحمه الله دليل دادی چې کله دکلام حقيقی معنی متعذره شوه نوپرمجازی معنی يعنې آزادی محمول کيږي (دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۱۲)که مولی خپلې منځې ته وويل انتِ طالقٌ (ته طلاقه يې) يا انتِ بائنٌ (ته بائنه يې) اوپه دي سره يې دآزادولونيت کړی وونو منځه نه آزاديږي ولی مِلک يمين قوي دی ترمِلک نکاح نوکوم الفاظ چې ضعيف (نکاح) زائلوي ضروري نه ده چې هغه به قوي (مِلک يمين) هم زائلوي ،اودطلاق دټولو الفاظوصريحه او کنايه ؤهمدا حکم دی .

(۱۳)وإنْ قَالَ لِعَبْدِهِ أَنْتَ مِثْلُ الْحُرِّ لَمْ يَعْتِقْ(۱۴)وإنْ قَالَ مَا أَنْتَ إِلَّا حُرٌّ عَتَقَ عَلَيْهِ(۱۵)وإذَا مَلَكَ الرَّجُلُ ذَا رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ عَتَقَ عَلَيْهِ

توجمه :که يې خپل مريی ته وويل انت مثل الحر،نومريی نه آزاديږي اوکه يې ورته وويل :ماانت الاحر،نومريی آزاديږي اوکه څوک دخپل ذی رحم محرم مالک شونو هغه پرآزاديږي .

تشريح :(۱۳)که مولی خپل مريي ته وويل انت مثل الحر(ته په مثل دآزاديې) نو مريی نه آزاديږي ځکه لفظ دمثل په عرف کې په بعضو اوصافو کې دمشترک کيدو لپاره راځي نومعلومه نه ده چې مريي ته له آزادسره په کوم وصف کې تشبيه ورکړله شوې ده لهذا په آزاديدو کې يې شک شواودشک په وجه آزادي نه واقع کيږي.

(۱۴)اوکه مالِک مريي ته وويل ماانت الاحرٌ(ته نه يې مګرآزاد) نومريی آزاديږي ولی له نفی څخه استثناء کول دتاکيدپه ډول اثبات دی لکه په کلمه دشهادة لااله الاالله ،کې .

(۱۵)که څوک دخپل ذی رحم محرم (هُوَ الْقَرِيبُ الَّذِي حَرُمَ نِكَاحُهُ أَبَدًا) مالک شونودا ذی رحم محرم پرهغه آزاديږي که مالک کوچنی وي که لوی ،که مجنون وي که عاقل ،ذمي وي که مسلمان ،لقوله ﷺ :مَنْ مَلَكَ ذَارَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ فَهُوَ حُرٌّ(څوک چې دخپل ذی رحم محرم مالک شی هغه آزاديږي .

(۱۶)وَإِذَا أَعْتَقَ الْمَوْلَى بَعْضَ عَبْدِهِ عَتَقَ عَلَيْهِ ذَلِكَ الْبَعْضُ وَيَسْعَى فِي بَقِيَّتِهِ لِمَوْلَاهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وقالا يَعْتِقُ كُلُّه

توجمه :که مولی دخپل مريي څه حصه آزاده کړه نودامام صاحب رحمه الله په نزدهغومره اندازه آزاديږي، اومريی به په خپله باقی مانده حصه کې دمولی لپاره سعی کوي اودصاحبينو رحمهما الله په نزدټول مريی آزاديږي .

تشريح :(۱۶)که مولی دخپل مريي څه حصه آزاده کړه (مثلاورته ويې ويل :ثُلُثُكَ اَونصفُكَ حُرٌ،ستاثلث يانصف آزاددی) نودامام صاحب رحمه الله په نزدهغه قدرآزاديږي اومريی به دخپلی باقی مانده حصی قيمت کټي مولی ته به يې ورکوي په دي ډول بياټول مريی آزاديږي،دصاحبينو رحمهما الله په نزد که مولی يوه حصه آزاده کړه نوټول مريی آزاديږي .

دصاحبینو رحمهما الله په نزد اعتاق تجزی (ټکړې) نه شي کیدای او کوم شی چې ټکړې نه شي کیدای هغه دچایوې حصی یایوه جزء ته منسوبول داسی دی لکه دټول طرف ته منسوبول نو اعتاق دمریي یوې حصی طرف ته منسوبول دټول طرف ته منسوبول دی ځکه نو ټول مریی آزادیږي، دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد اعتاق ټکړې کیدای شي لهذا مولی چې څومره آزاد کړی دی هغومره آزادیږي (دامام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی).

(۱۷) وَإِذَا كَانَ الْعَبْدُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ فَأَعْتَقَ أَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ عَتَقَ فَإِنْ كَانَ مُوسِرًا فَشَرِيكُهُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَ شَرِيكَهُ قِيمَةَ نَصِيبِهِ وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ (۱۸) وَإِنْ كَانَ الْمُعْتِقُ مُعْسِرًا فَالشَّرِيكُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ نَصِيبَهُ وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ وَهٰذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَيْسَ لَهُ إِلَّا الضَّمَانُ مَعَ الْيَسَارِ وَالسِّعَايَةُ مَعَ الْإِعْسَارِ

ترجمه: که مریی ددوشریکانو سره مشترک وي یوه خپله حصه آزاده کړه نو آزادیږي که دی مالدار وو نو شریک یې په خیار دی که یې خوښه وي آزاد دي کړي او که یې خوښه وي نو خپل شریک دي دخپلی حصی دقیمت ضامن وګرځوي او یا دي په مریی سعایت وکړي او که تنګدست وي نو شریک ته اختیار دی که یې خوښه وي خپله حصه دي آزاده کړي او یا که یې خوښه وي په مریي دي سعایت وکړي دادامام ابو حنیفة رحمه الله مسلک دی او امام ابو یوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمایلي دي چې هغه لره نشته مګر د مالداري په صورت کې ضمان او د تنګدستی په صورت کې سعایت کول.

تشریح: (۱۷) که مریی ددوشریکانو ترمنځ مشترک وو له هغوئ نه یوه خپله حصه آزاده کړه نو آزادونکی به له دوحالو څخه خالی نه وي یا به مالدار وي یا به فقیر وي که مالدار وي نو شریک ته په دریو شیانو کې اختیار دی **نمبر ۱**- که یې خوښه وي دخپل شریک په شان دي خپله حصه آزاده کړي ولی په باقی حصه کې دده ملک قائم دی، په دي صورت کې وَلاء (میراث چې له آزاد کړده مریی څخه یا دعقد موالات په وجه حاصل شي، هغه ته وایي) ددواړو مشترک کیږي ځکه اعتاق له دواړو صادر شوی دی.

نمبر ۲- که یې خوښه وي نو له خپل شریک څخه دي دخپلی حصی قیمت تاوان واخلي ولی هغه چې خپله حصه آزاده کړه دده حصه یې هم فاسده کړه ځکه اوس دی خپله حصه نه خرڅولای شي او نه یې هبه کولای شي، بیا معتِق چې دخپل شریک کوم تاوان ورکوي په هغه مقدار به مریي ته رجوع کوي، او وَلاء په دي صورت کې خالص معتِق لره ده ځکه اعتاق له ده صادر شوی دی.

نمبر ۳-که یې خوښه وي په مریي دي دخپلې حصې په اندازه وګټي ترې وادي خلي ځکه دمعتق مالدارکیدل مانع دسعایت نه دی،په دي صورت کې هم وَلاء ددواړوشریکانوترمنځ مشترکه کیږي ولی دعتق صدورله دواړوڅخه شوی دی.

(۱۸)که آزادونکی فقیروي نوشریک ددوشیانواختیارلري :نمبر۱-که یې خوښه وي نوخپله حصه دي هم آزاده کړي ولی دده مِلک باقی دی اوکه یې خوښه وي نوپه مریي دي بقدرحصه ګټه وکړي ،په دواړوصورتوکې وَلاء ددواړومشترکه ده،دادامام ابوحنیفة رحمه الله مسلک دی ،دصاحبینوپه نزدکه معتِق مالداروي نوخالص له بل شریک څخه ضمان اخیستل کیږي اوکه فقیروي نوپه مریي به بقدرحصه ګټه وکړي وابه یې خلي .(دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی)

(۱۹)وَإِذَا اشْتَرَى رَجُلَانِ ابْنَ أَحَدِهِمَا عَتَقَ نَصِيبُ الْأَبِ وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ(۲۰)وَكَذَلِكَ إِذَا وَرِثَاهُ فَالشَّرِيكُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَعْتَقَ نَصِيبَهُ وَإِنْ شَاءَ اسْتَسْعَى الْعَبْدَ

ترجمه :که دوکسانوله دوئ څخه دیوه زوی واخیست نودپلارحصه آزادیږي اوپرده ضمان نه دی واجب همدارازکه دوکسانوته یومریی په میراث کې ورپیداشو(نوهم دغه حکم یې دی) هغه بل شریک ته اختیاردی که خپله حصه آزادوي اوکه په مریي سعی کوي.

تشریح :(۱۹)که دوه کسان سره یوځای شول له دوئ څخه یې دیوه زوی واخیست نودپلارحصه آزادیږي ولی دخپل ذی رحم محرم مالک شو،اوبیادهغه بل شریک حصه هم آزادیږي لیکن پرپلاردهغه ضمان نه واجبیږي ولی دمریي اخیستل ددواړوپه قول حاصل شوی دی نوشریک په دغه آزادي راضی دی ولی دذورحم محرم اخیستل اعتاق دی نودادا سي دی لکه یوشریک چې بل ته دهغه دحصی دآزادولوصریحه اجازه ورکړي.

(۲۰)همدارازکه دوکسانوته یومریی په میراث ورپیداشواومریی له دواړوڅخه دیوه ذورحم محرم دی نوهم آزادیږي اودمریي پرذورحم محرم دهغه ضمان نه کیږي،دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدهغه بل شریک که غواړي خپله حصه دي آزاده کړي اوکه غواړي په مریي دي ګټه وکړي خپله حصه دي وصول کړي.

(۲۱)وَإِذَا شَهِدَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشَّرِيكَيْنِ عَلَى الْآخَرِ بِالْحُرِّيَّةِ سَعَى الْعَبْدُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِهِ مُوسِرَيْنِ كَانَا أَوْ مُعْسِرَيْنِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَا إِذَا كَانَا مُوسِرَيْنِ فَلَا سِعَايَةَ وَإِنْ كَانَا مُعْسِرَيْنِ سَعَى لَهُمَا وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مُوسِرًا وَالْآخَرُ مُعْسِرًا سَعَى لِلْمُوسِرِ وَلَمْ يَسْعَ لِلْمُعْسِرِ

ترجمه: که له دوشریکینو څخه هریوه پرخپل ملګري دمریي آزادولوګواهي ورکړه نومریی به له دواړو څخه دهریوه لپاره دهغه دحصی په اندازه ګټه کوي که شریکین مالداروي که تنګدست وي، دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد، اوصاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې که شریکین مالداروي نوپرمریي ګټه کول نه دي واجب اوکه دواړه فقیران وي نومریی به ددواړولپاره ګټه کوي اوکه یوشریک مالداروي اوبل فقیروي نودفقیرلپاره به ګټه کوي دمالدارلپاره نه.

تشریح: (۲۱)که له دوشریکانو څخه هریوه پرخپل ملګري په مشترک مریي کې دهغه دحصی دآزادونو ګواهي ورکړه اوهغه انکارکاوه نومریی آزادیږي، دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدبه مریی له دواړو څخه دهریوه لپاره دهغه په حصه ګټه کوي اداکوي به یې که شریکان مالداران وي اوکه فقیران وي یایومالداروي بل فقیروي ولی دهریوه ګمان دادی چې دده شریک خپله حصه آزاده کړي ده اودهریوه داخیال دی چې زه به دخپلې حصې له خپل شریک څخه ضمان واخلم یابه په مریي ګټه وکړم لیکن ضمان اخیستل خومتعذردی ولی شریک انکارکوي لهذا استعساء(ګټه کول) متعین شو، اودولاء دواړه مستحق ګرځي.

دصاحبینو رحمهما الله په نزدکه شریکان مالداران وونوپرمریي هیڅ ګټه کول نه دي واجب ولی دصاحبینو رحمهما الله له اصولو څخه دادی چې شریک که مالداروونوپرمریی ګټه کول نشته نودهریوه مالدارکیدل دمریي له ګټې کولوبري کیدل دی، اوکه شریکین دواړه فقیران وي نوپرمریي ددواړولپاره ګټه کول واجبه ده ولی دهرشریک ګمان دادی چې پرهغه بل دتنګدستي په وجه ضمان نشته بلکې په مریی ګټه کول واجب ده، اوکه یوشریک مالداروبل فقیروونودفقیرلپاره به ګټه کوي دمالدارلپاره نشته لماعَلمتَ.

(۲۲)وَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا لِوَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى أَوْ لِلشَّيْطَانِ أَوْ لِلصَّنَمِ عَتَقَ (۲۳)وَعِتْقُ الْمُكْرَهِ وَالسَّكْرَانِ وَاقِعٌ (۲۴)وَإِذَا أَضَافَ الْعِتْقَ إِلَى مِلْكٍ أَوْ شَرْطٍ صَحَّ كَمَا يَصِحُّ فِي الطَّلَاقِ

ترجمه: که چاخپل مریی دالله لپاره یادشیطان لپاره یادبُت لپاره آزادکړنومریی آزادیږي اودمُکره اوسکران عتق واقع کیږي اوکه چاآزادي دمِلک طرف ته منسوبه کړه یایې دشرط طرف ته منسوبه کړه نوداصحیح ده لکه په طلاق کې چې صحیح دی.

تشریح: (۲۲)که چاخپل مریی دالله لپاره یادشیطان لپاره یادبُت لپاره آزادکړنوپه درې واړه صورتوکې مریی آزادیږي (لیکن په آخري دوصورتوکې معتِق ګناهګاریږي بَل اِن قَصدالتعظیم کَفَر) ولی داعتاق صدورله اهل اعتاق (یعنې عاقل بالغ) څخه شوی دی اوپخپل محل کې راغلی (ولی مریی دهغه مملوک دی) لهذاآزادیږي.

(۲۳)که یوځوک دخپل مریي په آزادولومجبورکړای شوییایې آزادکړیاپه نشه مست انسان خپل مریی
آزادکړنوآزادیږي ولی اعتاق له خپل اهل څخه پخپل محل کې صادرشوی دی کمامرّ.
(۲۴)که چادمریي آزادي دملک طرف ته منسوبه کړه مثلاویې ویل اِن مَلکتُکَ فَانتَ حُرٌ (که زه ستامالک
شوم نوته آزادیې) یایې دشرط طرف ته منسوب کړمثلا ویې ویل اِن دخلت الدارفانت حر(که ته سرای ته
داخل شوې نوته آزادیې) نوداصحیح دی ولی آزادول له قبیلی داسقاط دی اواسقاطات په شرط پورې معلق
کول صحیح دی لکه طلاق چې صحیح دی وَقدسبَق بَیانه.

(۲۵)وَاِذَااخرَجَ عَبْدُالْحَرْبِيِّ مِن دَارِالْحَرْبِ اِلَيْنَامُسْلِمًاعَتَقَ(۲۶)واِذَااَعْتَقَ جَارِيَةً حَامِلًاعَتَقَتْ وَعَتَقَ حَمْلُهَا(۲۷)وان
اَعْتَقَ الْحَمْلَ خَاصَةً عَتَقَ ولم تُعْتَقِ الْاُمُّ(۲۸)واِذَااَعْتَقَ عَبْدَه عَلى مالٍ فَقَبِلَ الْعَبْدُ عَتَقَ فَاِذَاقَبِلَ صَارَ حُرًّا وَلَزِمَهُ الْمَالُ

توجمه:که دحربی کافرمریی مسلمان شوداراسلام ته راغی نودی آزادیږي اوکه مالک خپله حامله منځه
آزاده کړه نومنځه آزادیږي اوحمل یې هم آزادیږي اوکه یې خاص حمل آزادکړنوحمل آزادیږي اوموریې نه
آزادیږي اوکه چاخپل مریی دمال په عوض آزادکړاومریي قبول هم کړه نوآزادیږي اودمریي پرذمه مال
واجبیږي.

تشریح:(۲۵)که دحربی کافرمریی مسلمان شوداراسلام ته راغی نوآزادیږي ولی دي مریي داسلام په
حالت کې خپل ځان په داراسلام کې محفوظ کړی دی اوابتداءً یومسلمان غلام نه شي جوړیدای ځکه
داآزادیږي.

(۲۶)که مالک خپله حامله منځه آزاده کړه نودمنځې په تبع سره حمل هم آزادیږي ولی حمل دمنځې داندام په
شان دی نوځرنګه چې دمنځې په آزادیدوسره دمنځې نوراندامونه آزادیږي همدارازدهغی حمل هم آزادیږي
.

(۲۷)که یې خالص حمل آزادکړنوفقط حمل آزادیږي دهغه مورنه آزادیږي ولی منځه چې دحمل تابع
کوو قلب دموضوع راځي ځکه چې منځه خومتبوع ده اوتابع کیدل یې لازمیږي.
(۲۸)که چاخپل مریی دمال په عوض آزادکړمثلامریي ته یې وویل :انت حرّ علی الف درهم اوبالف درهم
،مریي په همدغه مجلس کې داخبره قبوله کړه نوداصحیح دی اومریی فی الحال آزادیږي اومال مشروط
دمریي پرذمه دین کیږي.

الالغاز:ای رجل صارمملوکالعبده وصارالعبدحرًا؟
فقل:حربی دخل دارنامع عبده بلاامان والعبدمسلم عتق واستولی علی سیده ملکه.(الاشباه والنظائر)

(۲۹)وَلَوْ قَالَ اِنْ اَدَّيْتَ اِلَيَّ اَلْفًا فَاَنْتَ حُرٌّ صَحَّ وَلَزِمَهُ الْمَالُ وَصَارَ مَاْذُوْنًا (۳۰) فَاِنْ اَحْضَرَ الْمَالَ اَجْبَرَ الْحَاكِمُ الْمَوْلٰى عَلٰى قَبْضِهٖ وَعَتَقَ الْعَبْدُ

ترجمه: که مولی خپل مریي ته وویل اِن اَدّیتَ اِلَی الفًا فانتَ حُر، نو دا صحیح دی او پر ده مال لازمیږي او مریی ماذون کیږي که ده مال حاضر کړ نو حاکم به مولی د مال په قبض کولو مجبوروي او مریی آزادیږي.

تشریح: (۲۹) که د مریي آزادي د مال تر اداکولو معلقه شي مثلا ورته ووایي: اِن ادّیتَ اِلیّ الفًا فانتَ حُرٌّ (که تا ماته زر روپی راکړې نو ته آزاد یې) نو دا تعلیق صحیح دی او مریی ماذون فی التجارة کیږي ولی ادائیګی د مال بغیر د تجارت او کسب نه شي کیدای لهذا دادلالةً اذن دی.

(۳۰) که مریي مشروط مال راوړ نو حاکم به مولی د مال په قبض کولو مجبوروي او مریی آزادیږي.

الالغاز: ای عبد علق علی شرط ووجد ولم یعتق؟

فقل: اذا قال له، ان صلیت رکعة فانت حر، فصلا هاثم تکلم ولو صلی رکعتین عتق، فالرکعة لابد من ضم اخری الیها لتکون جائزة. (الاشباه والنظائر)

(۳۱)وَوَلَدُ الْاَمَةِ مِنْ مَوْلَاهَا حُرٌّ (۳۲) وَوَلَدُهَا مِنْ زَوْجِهَا مَمْلُوْكٌ لِسَيِّدِهَا (۳۳) وَوَلَدُ الْحُرَّةِ مِنَ الْعَبْدِ حُرٌّ

ترجمه: او د منځې زوی چې دهغی له مولی څخه وي آزاد دی او د منځې زوی چې دهغی له خاوند څخه وي دهغی د مولی مملوک دی او د حُري ښځې زوی چې له مریي (خاوند) څخه وي آزاد دی.

تشریح: (۳۱) که د منځې زوی چې دهغی له مالک څخه پیدا شوی وي هغه آزادیږي ولی دا بچی د مولی له نطفی څخه پیدا شوی دی نو ذورحم محرم کیدو په وجه آزادیږي.

(۳۲) که د منځې زوی دهغی له خاوند څخه پیدا شوی وو نو دا ماشوم د منځې د مولی مملوک کیږي ولی ماشوم په رقیت کې د مور تابع دی.

(۳۳) د حُري ښځې زوی چې له مریي خاوند څخه یې وي د مور تابع کیږي آزادیږي.

بَابُ التّدبير

دا باب د تدبیر په بیان کې دی

تدبیر په لغت کې دیو کار په انجام کې فکر کولو ته وایي، او شرعًا د مریي آزادي تر خپله مرګه معلق کولو ته وایي.

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې په ماقبل کې داعتاق واقع فی الحياة بيان وواوس داعتاق بعدالموت بيان کوي.

(۳۴)وَإِذَاقَالَ الْمَوْلىٰ لِمَمْلُوْكِهٖ إِذَامِتُّ فَأَنْتَ حُرٌّ أَوْ أَنْتَ حُرٌّ عَنْ دُبُرٍ مِنِّيْ أَوْ أَنْتَ مُدَبَّرٌ أَوْ قَدْ دَبَّرْتُكَ فَقَدْ صَارَ مُدَبَّرًا لَايَجُوْزُ بَيْعُهٗ وَلَاهِبَتُهٗ (۳۵) وَلِلْمَوْلىٰ أَنْ يَّسْتَخْدِمَهٗ وَيُؤَاجِرَهٗ (۳۶) وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً فَلَهٗ أَنْ يَّطَأَهَا وَلَهٗ أَنْ يُّزَوِّجَهَا

ترجمه: که مولی خپل مريي ته وويل چې کله زه مړشم نوته آزاديې ياترماوروسته ته آزاديې ياته مدبريې ياماته مدبرکړی يې نومريی مدبرکيږي بيامولی لره دده خرڅول اوهبّه کول نه دی جائزاومولی له ده څخه خدمت اخيستلای شي اوچاته يې په اُجرت ورکولای شي اوکه مدبره منځه وه نوله هغی سره وطی کولای شي اوپه نکاح يې ورکولای شي.

تشريح: (۳۴)که مولی خپل مريي ته وويل چې کله زه مړشم نوته آزاديې ياله ماپس ته آزاديې ياته مدبريې ياماته مدبرکړی يې نومريی مدبرکيږي ولی داالفاظ په تدبيرکې صريح دي نيت ته احتياج نه لري چې کله مدبرشونومولی لره دهغه بيع اوهبّه اوپه وراثت کې چاته تمليګاورکول جائزنه دی البته ترمرګ مخکې به آزادولای شي.

(۳۵)که چاخپل مريی مدبروګرځاوه نوبيامولی خدمت ورځنی اخيستلای شي اوچاته يې په مزدوري ورکولای شي.

(۳۶)اوکه مدبره منځه وه نوله هغی سره وطی کولای شي اوجبرًايې له چاسره نکاح ورکولای شي ولی دمولی مِلک قائم دی اودمِلک په وجه مولی ته دغه ددغوتصرفاتوولايت حاصل دی.

(۳۷)فَإِذَامَاتَ الْمَوْلىٰ عَتَقَ الْمُدَبَّرُ مِنْ ثُلُثِ مَالِهٖ إِنْ خَرَجَ مِنَ الثُّلُثِ (۳۸) فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ مَالٌ غَيْرُهٗ يَسْعىٰ فِيْ ثُلُثَيْ قِيْمَتِهٖ (۳۹) فَإِنْ كَانَ عَلَى الْمَوْلىٰ دَيْنٌ يَسْعىٰ فِيْ جَمِيْعِ قِيْمَتِهٖ لِغُرَمَاءِهٖ (۴۰) وَوَلَدُ الْمُدَبَّرَةِ مُدَبَّرٌ

ترجمه: چې کله مولی مړشي نومدبردمولی له ثُلث دمال څخه آزاديږي که دی له ثلث څخه وتلای شوای اوکه له مولی سره له مدبرپرته نورهيڅ مال نه وونومدبربه دخپل قيمت په دوه ثلثه کې سعی کوي اوکه پرمولی دين وونومدبربه پخپل پوره قيمت کې دقرضدارانولپاره سعی کوي اودمدبره منځې اولادهم مدبرکيږي.

تشريح: (۳۷)مولی خپل مريی مدبرګرځولی وودادی مولی مړشونومدبردمولی له ثلث دمال څخه آزاديږي ځکه تدبيرپه اصل کې دوصيت په حکم کې راځي ولی چې تدبيرتبرع مضاف الی وقت الموت ده اودوصيت وقوع له مرګ وروسته وي اوپه دي وجه چې وروسته ترمرګ واقع کيږي نوله ثلث دمال څخه آزاديږي.

(۳۸)که دمولی په ترکه کې له مدبرپرته نورهیڅ مال نه وونوپه دي صورت کې دمدبرآزادي هغه شان شته لیکن مدبربه دخپل قیمت دوه برخې دوراثانولپاره گټي ولی دمدبرآزادي دمولی دترکه له ثلث څخه کیږي لهذا یوثلث خو دمولی له ترکه څخه آزادیږي په باقی دوثلثینو کې به دوارثانولپاره مزدوري کوي.

(۳۹)که دمولی په ترکه کې یواځې مدبروواومزیدپرهغه قرضونه هم وواوقرض هم دومره چې دمدبرله قیمت سره برابریازیات وي نومدبربه خپل پوره قیمت گټي وارثانوته به یې ورکوي ولی قرض تروصیت مقدم دی اومدبرعتق ماتول هم ممکن نه دی لهذا دمدبرقیمت به قرض غوښتونکوته ورکول کیږي.

(۴۰)دمدبره منځې اولادهم دمورتابع یعنې مدبرکیږي ولی چې اولاددمورتابع دی یعتق بعتقها ویرق برقها ویدبربتدبیرها.

(۴۱)فَإِنْ عَلَّقَ التَّدْبِيْرَ بِمَوْتِهٖ عَلٰى صِفَةٍ مِثْلُ أَنْ يَّقُوْلَ إِنْ مِتُّ مِنْ مَرَضِيْ هٰذَا أَوْ فِيْ سَفَرِيْ هٰذَا أَوْ مِنْ مَرَضٍ كَذَا فَلَيْسَ بِمُدَبَّرٍ وَيَجُوْزُ بَيْعُهٗ (۴۲)وَإِنْ مَاتَ الْمَوْلٰى عَلَى الصِّفَةِ الَّتِيْ ذَكَرَهَا عَتَقَ كَمَا يَعْتِقُ الْمُدَبَّرُ

ترجمه:که مولی دخپل مریي تدبیرترخپل مخصوص صفت مرگ پوري معلق کړمثلا ویې ویل چې که زه پخپله دغه ناروغي کې مړشوم یاپه دي سفرکې مړشوم یاپه فلان مرض مړشوم (نوته مدبریې) نوفی الحال مریی نه دی مدبراو ددغه مریي بیع جائزه ده او که مولی په هغه صفت چې ده یې ذکرکړی دی مړشونومریی آزادیږي چې مدبرمطلق چې آزادیږي.

تشریح:(۴۱) که مولی دخپل مریي تدبیرترخپل مخصوص صفت مرگ پوري معلق کړمثلا ویې ویل چې که زه پخپله دغه ناروغي کې مړشوم یاپه دي سفرکې مړشوم یاپه فلان مرض مړشوم نوته مدبریې فی الحال مریی مدبرنه کیږي ولی دمرگ په هغه صفت واقع کیدل یقیني نه دی نوفی الحال سبب نه منعقد کیږي نوچې سبب منعقدنه دی نودامعلق پاتیږی دنوروتعلیقاتوپه شان، اوپه ده کې تصرف ممنوع دی لهذاددي مریي بیع، هبه وغیره جائزدي.

(۴۲)که مولی په هغه صفت سره چې ده ذکرکړی دی مړشونودمدبرمطلق په څیردامدبرهم آزادیږي ولی دژوندپه آخري لمحه کې صفت مذکوره متعین شوترددختم شونودی دمدبرمطلق په شان شو.

بَابُ الاستيلاد

داباب داستیلاد په بیان کې دی.

داستیلاد لغوي معنی دبچي طلب کول دی ،شرعًادمولی له منځې ځخه دوطی په ذریعه دبچې طلبولوته وایې.
له ماقبل سره یې مناسبت دادی چې مدبر اوأم ولده هریوه ته حق دحریت حاصل دی مگرفی الحال حریت یوه ته هم حاصل نه دی لهذا له تدبیرورو سته یې استیلاد ذکر کړی دی.

(۴۳)وَإِذَاوَلَدَتِ الْأَمَةُمِنْ مَوْلَاهَافَقَدْصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍلَّه لَايَجُوْزُلَه بَيْعُهَاوَلَاتَمْلِيْكُهَا(۴۴)وَلَه وَطْئُهَاوَاسْتِخْدَامُهَاوَإِجَارَتُهَا وَتَزْوِيْجُهَا

ترجمه:که منځې بچی راوړله خپل مولی ځخه نومنځه دهغه أم ولده گرځي بیانومولی لره دهغې خرڅول،چاته په ملکیت ورکول جائزنه دی اومولی لره جائزدی له هغې سره وطی کول له هغې ځخه خدمت اخیستل اوهغه په أجرت ورکول اودهغې نکاح ورکول.

تشریح:(۴۳)که مولی له خپلې منځې سره وطی وکړه دهغې بچی پیداشونومنځه دهغه أم ولده گرځي اوکوم احکام چې دمدبرې ووهغه احکام دأم ولدې هم دي لهذامولی لره دهغې خرڅول،چاته په ملکیت ورکول له چاسره درهن په توگه ایښودل جائزنه دی.

(۴۴)البته مولی له هغې سره وطی کولای شي له هغې ځخه خدمت اخیستلای شي هغه په أجرت ورکولای شي اودهغې جبرًاله چاسره نکاح ورکولای شي ولی دمولی مِلک قائم دی.

(۴۵)وَلَايَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَاإِلَّاأَنْ يَعْتَرِفَ بِهِ الْمَوْلَى(۴۶)فَإِنْ جَاءَتْ بِوَلَدٍبَعْدَذَالِكَ ثَبَتَ نَسَبُه مِنْهُ بِغَيْرِإِقْرَارٍ(۴۷)فَإِنْ نَفَاهُ انْتَفٰى بِقَوْلِه(۴۸)وَإِنْ زَوَّجَهَافَجَاءَتْ بِوَلَدٍفَهُوَفِي حُكْمِ أُمِّه

ترجمه:اودأم ولدې دبچي نسب نه ثابتیږي مگرداچې مولی په هغه اعتراف وکړي بیاکه منځې ترهغه وروسته بچی وزیږاوه نودهغه نسب له مولی ځخه دمولی داقراربغیرثابتیږي اوکه مولی دبچي نفی وکړه نودهغه په خبره نفی کیږي اوکه مولی دهغې نکاح وروکړه اودهغې زوی پیداشونوهغه دخپلې مورپه حکم کې کیږي.

تشریح:(۴۵)دأم ولدې دبچي نسب له مولی ځخه ترهغه نه ثابتیږي ترڅوچې مولی په هغه اقرارونه کړي ځکه له منځې سره دوطی کولومقصدقضاء شهوت وي ولدمقصودنه وي لهذاثبوت نسب لپاره دعوی ضروري ده،بخلاف نکاح چې په هغې کې داولادمقصودکیدل متعین دی نودعوی دنسب ته هیڅ ضرورت نشته.

(۴۶)که مولی دمنځې دیوه بچي اقرار وکړنوله هغه وروسته که منځې بل بچی راوړ دهغه نسب له مولی څخه دمولی داقراربغیرثابتیږي دهغه لپاره دمولی داقرارضرورت نشته ځکه داول بچي په اقرارکولوسره مولی داثابته کړه چې له دي منځې سره دوطی کولومقصودولددی لهذابیادنسب دثبوت لپاره دمولی داقرارضرورت نشته.

(۴۷)البته که مولی دبچي نفی وکړه نوبیادبچي نسب له مولی څخه نه ثابتیږی،دنسب دنفی لپاره دلعان هم ضرورت نشته ځکه دمنځې فراش کیدل ضعیف دی حتی چې مولی دامنځه بل چاته په نکاح ورکولای شي دهغی فراش ختمولای شي بخلاف دمنکوحې.

(۴۸)که مولی دام ولدنکاح له بل چاسره وکړه اودهغی له دغه سړی څخه بچی پیداشونودابچی دخپلې مورپه حکم کیږي ولی حق دحریت له مورڅخه دبچي طرف ته سرایت کوي لهذادمولی له وفات وروسته بچی هم له خپلې مورسره آزادیږي.

(۴۹)وَإِذَامَاتَ الْمَوْلٰی عَتَقَتْ مِنْ جَمِيعِ الْمَالِ(۵۰)وَلَاتَلْزَمُهَا السِّعَايَةُ لِلْغُرَمَاءِ إِنْ كَانَ عَلَى الْمَوْلٰى دَيْنٌ

ترجمه:چې کله مولی مړشي نوام ولده له ټول مال څخه آزادیږي اوپرام ولده دقرض غوښتونکولپاره مزدوري کول نه ده لازمه که دمالک پرذمه قرضونه وو.

تشریح:(۴۹)دمولی له مرګ وروسته ام ولده دمولی له ټول مال څخه آزادیږي ولي دانسان حاجت خپل اولادته حاجت اصلیه دی اودبچي مورپه حاجت اصلیه کې له بچي سره مساوي ده لهذادانسان احتیاج خپلې ام ولدې ته هم حاجت اصلیه دی اوکوم شی ته چې دانسان حاجت اصلیه وي هغه دتکفین په ډول دوارثانوترحق مقدم دی.

(۵۰)که پرمولی قرضونه وونوپرام ولده دخپل قیمت په اندازه دقرضدارانولپاره مزدوري کول هم لازمه نه ده لماقلنا.

(۵۱)وَإِذَاوَطِئَ رَجُلٌ أَمَةَ غَيْرِهِ بِنِكَاحٍ فَوَلَدَتْ مِنْهُ ثُمَّ مَلَكَهَا صَارَتْ أُمَّ وَلَدٍلَهُ(۵۲)وَإِذَاوَطِئَ الْأَبُ جَارِيَةَ ابْنِهِ فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ فَادَّعَاهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍلَهُ(۵۳)وَعَلَيْهِ قِيمَتُهَا۵۴وَلَيْسَ عَلَيْهِ عُقْرُهَاوَلَاقِيمَةُ وَلَدِهَا(۵۵)وَإِنْ وَطِئَ أَبُ الْأَبِ مَعَ بَقَاءِ الْأَبِ لَمْ يَثْبُتِ النَّسَبُ مِنْهُ(۵۶)فَإِنْ كَانَ الْأَبُ مَيِّتًا ثَبَتَ النَّسَبُ مِنَ الْجَدِّ كَمَا يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنَ الْأَبِ

ترجمه:که یوسړی دبل چاله منځې سره په نکاح وطی وکړي چې له هغی څخه یې بچی پیداشوبیازوج ددي منځې مالک شونودایې ام ولده ګرځی اوکه پلاردخپل زوی له منځې سره وطی وکړه اوبچی یې ځني

پیداشوبیایې ده دعوی وکړه نودبچي نسب له وطی کونکي څخه ثابتیږي اومنځه دوطی کونکي اُم ولده ګرځي اوپرپلاردهغی قیمت لازمیږي اودمنځې مهرلازم نه دی اونه دهغی دولد قیمت لازم دی اوکه دپلارپه موجودګی کې نیکه وطی ورسره وکړه نوله نیکه یې نسب نه ثابتیږي،اوکه پلارمړشوی ووبیایې له نیکه څخه نسب ثابتیږي لکه له پلارڅخه چې نسب ثابتیږي .

تشریح :(۵۱)که چادبل چاله منځې سره نکاح وکړه اوله ده څخه یې بچی پیداشوبیاپه یوه طریقه دازوج ددي منځې مالک شونودامنځه دهغه اُم ولده ګرځي ولی دام ولدکیدوسبب جزئیت دی یعنې دولدپه واسطه دمولی اومنځې ترمنځ جزئیت ثابتیږي اوهمداجزئیت دام ولدکیدوسبب دی چې په مذکورصورت کې راغلی دی .

(۵۲)که چادخپل زوی له منځې سره وطی وکړه اوله هغه څخه یې بچی پیداشوبیاهغه دعوی وکړه چې دابچی له ماڅخه دی نودبچي نسب له وطی کونکي څخه ثابتیږي اودبچي موردوطی کونکي ام ولده ګرځي که دوطی کونکي زوی (دمنځې مالک) دده تصدیق وکړي اوکه یې ونکړي ولي پلارته داولایت حاصل دی چې هغه دخپل ځان لپاره دخپل زوی دمال مالک شي لقوله ﷺ :انتَ ومالک لاِبیکَ (ته اوستامال ستادپلاردي) نوپلارته داولایت هم حاصل دی چې دخپل زوی دمنځې مالک شی دبقاء ماءاونسل لپاره.

(۵۳)البته دبقاء نسل حاجت دبقاء نفس ترحاجت کم دی لهذاپلاردزوی دمملوکه خوراکي شیانوبلاقیمت مالک ګرځي مګردمنځې په قیمت سره مالک ګرځي .

(۵۴)څرنګه چې پلارددي منځې مالک کیږي ځکه پرهغه له هغی سره دوطی کولوپه وجه مهرنه لازمیږي ،اوپرپلاردبچي قیمت هم نه لازمیږي ولي دهغی حمل دپلارپه مِلک کې راغلی دی نوداحرالاصل دی.

(۵۵)که نیکه دخپل لمسي له منځې سره وطی وکړه اوپه منځ کې پلارهم ژوندی دی نوله نیکه څخه نسب نه ثابتیږي ځکه دپلارپه وجودکې نیکه لره ولایت نه حاصلیږي .

(۵۶)که پلارمړشوی وونوله نیکه څخه دپلارپه ډول نسب ثابتیږي اومنځه دهغه ام ولده ګرځي ولي دپلاردنشتوالي په صورت کې نیکه لره ولایت حاصلیږي .

(۵۷)وَاِذَاکَانَتِ الْجَارِیَةُ بَیْنَ شَرِیْکَیْنِ فَجَاءَتْ بِوَلَدٍفَادَّعَاهُ اَحَدُهُمَاثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وصَارَتْ اُمَّ وَلَدِلَهُ (۵۳)وَعَلَیْهِ نِصْفُ عُقْرِهَاوَنِصْفُ قِیْمَتِهَا(۵۸)ولیس عَلَیْهِ شَیٌٔ مِنْ قِیْمَةِ وَلَدِهَا

ترجمه :که منځه ددوکسانوسره شریکه وه بیایې بچی پیداشواوله شریکینوڅخه یوه یې دعوی وکړه نوددي بچي نسب له هغه څخه ثابتیږي اومنځه دهغه ام ولده ګرځي اوپرده (دخپل شریک لپاره) دمنځې نصف مهراونصف قیمت لازمیږي اوپرده دمنځې دبچي قیمت نه دی لازم .

تشريح :(۵۷)که یوه منځه ددوکسانو مشترکه وه بیایې بچی پیداشو اوله شریکینو څخه یوه دعوی وکړه چې دابچی له ما څخه دی نو ددي بچي نسب له مدعي څخه ثابتیږي ولی نصف منځه دهغه ملک ده ځکه نودهغه دحصی په اندازه نسب ثابتیږي اوباقی مانده نسب هم ثابتیږی ځکه چې نسب حصی نه وي ولي چې دهغه سبب (یعنی استقرارحمل) اجزاء نه وي اومنځه ددي مدعي اُم ولده ګرځي.

(۵۸)اوپرده دخپل شریک لپاره دمنځې نصف مهرواجبیږي ولي ده له مشترکې منځې سره وطی کړي ده،اوپرمدعي دمنځې نصف قیمت هم لازمیږي ولي دتکمیل استیلاد وروسته مدعي دخپل شریک دحصی هم مالک ګرځي نودشریک دحصی قیمت پرده لازم دی.

(۵۹)مګردبچي قیمت پرمدعی نه دی لازم ولی له قیمت اداکولووروسته منځه دمدعی ام ولده شوه نوداسي ګڼله کیږي چې بچی هم دده په ملک کې پیداشوی دی ځکه دبچي هیڅ قیمت پرمدعی نه لازمیږي.

(۶۰)فَإِنْ ادَّعَيَاهُ مَعًا ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُمَا وكانَتِ الأَمَةُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُمَا (۶۱) وَعَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفُ الْعُقْرِ تَقَاصَّا بِمَا لَهُ عَلَى الآخَرِ (۶۲) وَيَرِثُ الإِبْنُ مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِيرَاثَ ابْنٍ كَامِلٍ (۶۳) وهُمَا يَرِثَانِ مِنْهُ مِيرَاثَ أَبٍ وَاحِدٍ

ترجمه :که دواړوشریکانو په یوه واردبچي دنسب دعوی وکړه نوله دواړوڅخه دبچي نسب ثابتیږي اومنځه ددواړوأم ولده ګرځی اوله شریکینو څخه پرهریوه نصف مهردخپل شریک لپاره واجبیږي ددواړو(نصف مهر) دي مقاصه کړي چې دده پرهغه بل واجب دی اوبچی له هریوه څخه دکامل زوی میراث وړي اوشریکین دواړه له دغه بچي څخه دیوه پلارمیراث وړي.

تشريح :(۶۰)که دواړوشریکانو په یوه واردبچي دنسب دعوی وکړه نوله دواړوڅخه دبچي نسب ثابتیږي ځکه داستحقاق په سبب (یعنې ملکیت اودعوی) کې دواړه برابرشریک دي نوپه استحقاق کې هم دواړه برابریږي،اونسب که څه هم ناقابل تقسیم دی مګربعضی متعلقه احکام یې داسي دی چې هغه حصی کیدای شي نوکوم احکام چې اجزاء کیدای شي هغه په متجزي کیدوسره ددواړوشریکانوپه حق کې ثابتیږي اوکوم احکام چې حصې نه شي کیدای هغه دهرشریک په حق کې کامل ثابتیږي اومنځه ددواړوشریکانوام ولده ګرځي ولی ددي دبچي نسب له دواړوڅخه ثابت دی.

(۶۱)پرشریکینو هریوه نصف مهردخپل شریک لپاره واجبیږي ولي له دوئ نه هریودخپل شریک په حصه کې وطی کونکی دی مګردامهرواجب الاداء نه دی بلکې دواړه دي پخپل منځ کې مقایصه وکړي یعنې هریوبه له هغه بل څخه خپل حق وضع کړي ولي چې دقبض کولوفائده نشته.

(۶۲)بچی دهریوه دزوی کیدوپه وجه له هریوه څخه دکامل زوی دمیراث حقدارکیږي ځکه دوئ هریوه دهغه دنسب دعوی کړي ده نوګواکې دهغه دوارث کیدواقراریې کړیدی لهذاپرهریوه خپل اقرارحجت دی.

(۶۳)شریکین په دواړو سببینو کې برابر دي په دي وجه له بچي څخه دیوه پلار میراث وړي.

(۶۴)وَإذَا وَطِیَ الْمَوْلٰی جَارِیَةَ مُکَاتَبِهٖ فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ فَادَّعَاهُ فَإنْ صَدَّقَهُ الْمُکَاتَبُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ (۶۵) وکانَ علیه عُقْرُهَا وَقِیْمَةُ وَلَدِهَا وَلَاتَصِیْرُ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ (۶۶) وإنْ کَذَّبَهُ الْمُکَاتَبُ فِی النَّسَبِ لَمْ یَثْبُتْ نَسَبُهُ مِنْهُ

ترجمه: که مولی د خپل مکاتب له منځې سره وطی وکړه بیا دهغی بچی پیدا شو او مولی دهغه دعوی وکړه که مکاتب دهغه تصدیق وکړنوله مولی څخه یې نسب ثابتیږي اوپرمولی دمنځې مهراودهغی دبچي قیمت واجبیږي او منځه دهغه اُم ولده نه کیږي اوکه مکاتب دنسب په باره کې دهغه تکذیب وکړنوبیادماشوم نسب له مولی څخه نه ثابتیږي.

تشریح: (۶۴)که مولی د خپل مکاتب له منځې سره وطی وکړه دمنځې زوی پیدا شو مولی دهغه دعوی وکړه چې داماشوم له ماڅخه دی اومکاتب هم دمولی تصدیق وکړنوله مولی څخه دماشوم نسب ثابتیږي ځکه دمولی لپاره سبب دمِلک یعنې رقیت دمکاتب موجود دی اودنسب دثبوت لپاره همدا کافي دی.

(۶۵)پرمولی دمنځې مهراودبچي قیمت واجب دی ولي چې مولی دمغرور(دوکه شوې) چاپه معنی دی ځکه مولی په دي اعتماد دخپل مکاتب له منځې سره وطی کړې وه چې پرمکابت دمن وجه ملکیت په وجه پرمنځه هم من وجه ملکیت قائم دی حال داچې دمکاتب منځه دمولی ملکیت نه ده لهذا داماشوم دمغرور (دوکه شوي خاوند، مغرورهغه چاته وایې چې دمِلک یمین یامِلک نکاح په اعتماد له یوې ښځې سره وطی وکړي اوله هغی نه یې بچی پیداشي بیاهغه ښځه دبل چاشي) دولدپه شان دی دمغرور دولدحکم دادی چې هغه له خاوندڅخه ثابت النسب ګرځي اودقیمت په عوض آزادیږي بس همداحکم دمذکورماشوم هم دی، اودامنځه دمولی اُم ولده نه ګرځي ولی حقیقتاً مولی لره پردغه منځه ملکیت نه دی حاصل.

(۶۶)که مکاتب دخپل مولی ددعوی تکذیب وکړنودماشوم نسب له مولی څخه نه ثابتیږي ولی په ثبوت دنسب کې دمِلک دمکاتب ابطال دی نودمکاتب دتصدیق بغیرنه ثابتیږي.

کِتَابُ المکاتب

داکتاب دمکاتب په بیان کې دی.

مکاتب، له کَتَبَ یَکْتُبُ کتابةً څخه لغةً دجمع کیدوپه معنی دی له دي څخه کُتَیْبَةٌ، عظیم لښکر، اوکتابت په معنی دجمع الحروف دی، شرعاًمریی یداً یعنې دتصرف له لحاظه بالفعل اودرقبه له لحاظه دبدل کتابت له اداکیدووروسته آزادولوته کتابت وایې دکتابت رکن ایجاب اوقبول دی اوشرط دبدل کتابت معلومول دی.

له ماقبل سره مناسبت دادی چې کتابت هم دتدبيراواستيلاد په شان دعتق له توابعوڅخه دی ځکه يې دمکاتب احکام دلته ذکرکړي دي .

(۱)وَإِذَا كَاتَبَ الْمَوْلٰى عَبْدَهُ أَوْ أَمَتَهُ عَلٰى مَالٍ شَرَطَهُ عَلَيْهِ وَقَبِلَ الْعَبْدُ ذَالِكَ الْعَقْدَ صَارَ مُكَاتَبًا (۲) وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمَالَ حَالًا وَيَجُوزُ مُؤَجَّلًا وَمُنَجَّمًا (۳) وَيَجُوزُ كِتَابَةُ الْعَبْدِ الصَّغِيرِ إِذَا كَانَ يَعْقِلُ الشِّرَاءَ وَالْبَيْعَ

ترجمه :که مولی مریی یامنځه دداسي معلوم مال په عوض مکاتب کړل چې پرهغويې شرط کړی وواومریی دغه عقدقبول کړي نومریی مکاتب کيږي اومولی لره جائزدی چې ټول مال فی الحال ورکول شرط کړي اوجائزدی چې په قسطونوسره ورکول شرط کړي اوجائزدی مکاتب کول دنابالغ هلک په دي شرط چې په خريداوفروخت پوهيده .

تشريح :(۱)که مولی مریی یامنځه دداسي معلوم مال په عوض مکاتب کړل چې پرهغويې شرط کړی وواومريي دغه عقدقبول کړنومریی مکاتب کرځي ولی دکتابت رکن (يعنې ايجاب وقبول) اوشرط (يعنې مال معلوم) شته .

(۲)مولی لره جائزدی چې پرمکاتب دټول مال ادائيګی فی الحال شرط کړي مثلاً ورته ووايې چې که تالس زره روپۍ فی الحال راکړې نوته آزادیې اوترمعلومې مودې په قسطونوداداکولوشرط کول هم جائزدی ولی عقدمعاوضه دی نوداله ثمن فی البيع سره مشابه دي نولکه ثمن فی البيع چې حالاًوصول کول هم جائزدی اوپه قسطونو هم جائزدی،همدارازمال کتابت هم دی .

(۳)نابالغ مریی مکاتب کول جائزدی په دي شرطچې په خريداوفروخت پوهيږي ولي چې عاقل اودقبوليت اهل دی اوداتصرف دده په حق کې نفع بخش هم دی .

(۴) فَإِذَا صَحَّتِ الْكِتَابَةُ خَرَجَ الْمُكَاتَبُ عَنْ يَدِ الْمَوْلٰى وَلَمْ يَخْرُجْ مِنْ مِلْكِهِ (۵) فَيَجُوزُ لَهُ الْبَيْعُ وَالشِّرَاءُ وَالسَّفَرُ (۶) وَلَا يَجُوزُ لَهُ التَّزَوُّجُ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْمَوْلٰى

ترجمه :چې کله کتابت صحيح شونومکاتب دمولی له قبضی ووت مګردهغه له ملکيته نه دی وتلی اوس خونوهغه لره خريدوفروخت اوسفرکول جائزدی البته دهغه نکاح کول جائزه نه ده مګرداچې مولی اجازه ورکړي .

تشريح :(۴)يعنې درکن اوشرط کتابت دموجوديدلوپه وجه چې کله کتابت صحيح شي نومکاتب دځپل مولی له قبضی څخه وځي ځکه مقصودکتابت (يعنې بدل اداکول) متحقق شو،مګردمولی له ملکيته نه

وځي ولی کتابت عقد معاوضه دی چې له جانبینو مساوات غواړي که مریی فی الحال آزادشي نو مساوات پاتیږي ځکه مریی ته آزادي ورحاصله شوه مګرمولی ته مال تراوسه نه دی حاصل شوی.

(۵)مکاتب څرنګه چې دمولی له قبضی څخه وځي لهذانوردهغه لپاره خرید وفروخت اوسفرکول جائزدي ولي په کتابت سره مریی ته دګټې کولواجازه حاصلیږي اوګټه له خرید وفروخت اوسفربغیرنه شي کیدای ځکه نومکاتب ته خرید وفروخت اوسفرکول جائزدی.

(۶)که مکاتب دمولی داجازې بغیرنکاح وکړه نوداجائزه نه ده ولي کتابت دقیام مِلک سره سره پرمریي دتصرف کولودپابندي لیري کولوته وایې چې دادهغه دمقصود(آزادي) پورې درسیدووسیله شي اونکاح کول ددي مقصدوسیله نه ده بلکې په دي کې نوره مخله ده ،البته دمولی په اجازه مکاتب ته نکاح کول جائزه ده ولی تراوسه ملکیت دمولی حاصل دی.

(۷)وَلَايَهَبُ وَلَايَتَصَدَّقُ اِلَّا بِالشَّيْءِ الْيَسِيْرِ وَلَا يَتَكَفَّلُ (۸)فَاِنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ مِنْ اَمَةٍ لَهُ دَخَلَ فِي كِتَابَتِهِ وَكَانَ حُكْمُهُ مِثْلَ حُكْمِ اَبِيْهِ وَكَسْبُهُ لَهُ

ترجمه :مکاتب به شی نه هبه کوي اونه به صدقه کوي البته دمعمولي شي دهبه کولواجازه شته اونه به کفیل جوړیږي اوکه دمکاتب له منځې څخه زوی پیداشونوله پلارسره په کتابت کې داخلیږي اودهغه حکم دپلاردحکم په شان دی اودبچي ګټه پلارلره کیږي.

تشریح :(۷)مکاتب دهبه کولواوصدقه کولواختیارنه لري ولي داشیان له قبیلې دتبرعاتوڅخه دي اومکاتب دتبرعاتواجازه نه لري البته دیومعمولي شي دهبه کولواجازه لري ولي داله ضروریاتودتجارت څخه دي اوقاعده ده چې څوک دکوم شي مالک کیږي هغه دهغه شي دضروریاتواوتوابعوهم مالک کیږي ،اومکاتب لره داجائزنه دی چې دچاکفیل شي ولی کفالت محض تبرع ده اودتجارت له ضروریاتوڅخه هم نه دی نومکاتب لره کفالت نه دی جائز.

(۸)که دمکاتب له منځې یوبچی پیداشواومکاتب دهغه دنسب دعوی وکړه نوداستیلاددنه جائزکیدو باوجودنسب ثابتیږي اوبچی له پلارسره په کتابت کې داخلیږي ولي مکاتب که څه هم هغه آزادولای نه شي مګرپه قدردامکان دصله رحمی دتحقق لپاره یې مکاتب ګرځوي لهذانورنوداماشوم دپلارپه حکم کې کیږي اودبچي ګټه دپلارلپاره کیږي ولي دزوی ګټه دپلارګټه شمارله کیږي.

(۹)وَاِنْ زَوَّجَ الْمَوْلٰى عَبْدَهُ مِنْ اَمَتِهِ ثُمَّ كَاتَبَهُمَا فَوَلَدَتْ مِنْهُ وَلَدًا دَخَلَ فِي كِتَابَتِهَا وَكَانَ كَسْبُهُ لَهَا (۱۰)وَاِنْ وَطِئَ الْمَوْلٰى مُكَاتَبَتَهُ لَزِمَهُ الْعُقْرُ (۱۱)وَاِنْ جَنٰى عَلَيْهَا اَوْ عَلٰى وَلَدِهَا لَزِمَتْهُ الْجِنَايَةُ (۱۲)وَاِنْ اَتْلَفَ مَالًا لَهَا غَرِمَهُ

ترجمه :که مولی دخپل مريي نکاح له خپلې کومې منځې سره وکړه بيايې دواړه مکاتب کړل بيادمنځې له مريي څخه زوی پيداشونوبچی دموږپه کتابت کې داخلیږي اودبچي ګټه مورته ورکوله کیږي اوکه مولی له خپلې مکاتبې سره وطی وکړه نوپرمولی دهغې مهرلازم دی اوکه مولی پرمکاتبه يادهغې پربچي جنايت وکړنوپرمولی دهغه تاوان لازمیږي اوکه مولی دمکاتبی مال تلف کړنوپرهغه تاوان لازمیږي.

تشريح :(۹)که مولی دخپل مريي نکاح له خپلې يوې منځې سره وکړه بيايې دواړه مکاتب کړل بيادمنځې زوی پيداشونودابچی دموږپه کتابت کې داخلیږي اودبچي ګټه دمورکیږي ولي بچی دمورتابع وي همداوجه ده چې ماشوم په آزادي اوغلامي کې دمورتابع وي.

(۱۰)که مولی له خپلې مکاتبی سره وطی وکړه نوپرمولی دهغې لپاره مهرلازم دی ولي مولی له هغې سره يوداسي عقدکړی دی (يعني عقدکتابت) چې دهغه په وجه ده خپل ځان دمنځې په ځان اومنافعوکې له تصرف کولو څخه منع کړی دی اودمنځې وطی له منافعو څخه ده.

(۱۱)که مولی پرمکاتبه يادهغې پربچي جنايت وکړنوپرمولی دهغې تاوان لازمیږي لِمَا بَيَّنَّا فِي وَطِي الْمَولى مُكَاتبته.

(۱۲)که مولی دمکاتبی مال تلف کړنوهم تاوان به ورکوي ولي مولی دمکاتب په ګټه کې ديوه بيګانه په شان دی دتصرف اجازه نه لري.

(۱۳)وَإِذَا اشْتَرَى الْمُكَاتَبُ أَبَاهُ أَوْ إِبْنَهُ دَخَلَ فِي كِتَابَتِهِ (۱۴)وَإِنْ اشْتَرَى أُمَّ وَلَدِهِ مَعَ وَلَدِهَا دَخَلَ وَلَدُهَا فِي الْكِتَابَةِ وَلَمْ يَجُزْ لَه بَيْعُهَا (۱۵)وَإِنْ اشْتَرَى ذَارَحْمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ لَا وِلَادَ لَه لَمْ يَدْخُلْ فِي كِتَابَتِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه :که مکاتب خپل پلاريازوی واخيست نوهغه هم دده په کتابت کې داخليږي اوکه مکاتب خپله ام ولده دهغې له بچي سره واخيسته نودهغې بچی په کتابت کې داخليږي اوده لره دام ولدې خرڅول نه جائزکيږي اوکه مکاتب خپل يوداسي ذی رحم محرم واخيست چې دولادت رشته يې نه ورسره درلوده نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددادهغه په کتابت کې نه داخلیږي.

تشريح :(۱۳)که مکاتب خپل پلار (مراداصول دي) يازوی (مرادفروع دي) واخيستل نوهغوئ هم دده په کتابت کې داخلیږي ځکه مکاتب که څه هم خپل پلاراوزوی آزادولای نه شي مګربقدرامکان دصله رحمي دتحقق لپاره مکاتب يې ګرځولای شي.

(۱۴)که مکاتب خپله ام ولده له خپل بچي سره واخيسته نوبچی دپلارپه کتابت کې داخلیږي ولي په تيره مسئله کې بيان وشوچې زوی دپلارپه کتابت کې داخلیږي مګرخپله ام ولده دهغه په کتابت کې نه داخلیږي البته دام ولدکيدوپه وجه اوس دهغې خرڅول جائزنه دی.

(۱۵) که مکاتب خپل يو داسي ذی رحم محرم واخيست چې د ولادت رشته يې نه وه ورسره (لکه ورور، خور، اکا وغيره) نود امام ابو حنيفة رحمه الله په نزد داخلک دهغه په کتابت کې نه داخليږي، دصاحبينو رحمهما الله په نزد داخليږی، صاحبينو رحمهما الله قياس کړی دی دولادت پر رشته ځکه صله رحمی واجب کيدل دواړولره شامل دی.

دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې مکاتب خالص پرکسب وګټه قادروي حقيقی ملک هغه ته نه حاصليږي (ولي په ده کې رقيت موجود دی) اوخالص قدرت پرکسب دولادت په رشته کې دصله رحمی لپاره کافي دی مګرپه نورورشتوکې دصله رحمي لپاره نه دی کافي.

دبدل کتابت له اداکولو څخه دمکاتب دعجز بيان

(۱۶) وَإِذَا عَجَزَ الْمُكَاتَبُ عَنْ نَجْمٍ نَظَرَ الْحَاكِمُ فِي حَالِهِ فَإِنْ كَانَ لَهُ دَيْنٌ يَقْبِضُهُ أَوْ مَالٌ يَقْدَمُ عَلَيْهِ لَمْ يَعْجَلْ بِتَعْجِيزِهِ وَانْتَظَرَ عَلَيْهِ الْيَوْمَيْنِ أَوِ الثَّلَاثَةَ (۱۷) وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَجْهٌ وَطَلَبَ الْمَوْلَى تَعْجِيزَهُ عَجَّزَهُ الْحَاكِمُ وَفَسَخَ الْكِتَابَةَ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَا يُعَجِّزُهُ حَتَّى يَتَوَالَى عَلَيْهِ نَجْمَانِ

ترجمه: که مکاتب ديو قسط له اداکولو څخه عاجزشونوحاکم به دهغه په حالت کې غورکوي که دهغه پرچاقرضه وه چې ده قبض کوله ياده ته له يوې خوا څخه مال راتلونکی وونوحاکم دي دهغه په عجزبللوکې تلوارنه کوي بلکې دوې درې ورځې دي انتظاروړته وکړي اوکه دهغه دحصول مال هيڅ لاره نه وه اومولی دهغه دعاجزکولودرخواست وکړي نوحاکم دي هغه عاجزوګڼي اوکتابت دي فسخ کړي اوامام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې ترڅوپرهغه پيوسته دوه قسطه بالانه شي ترهغه وخته دي عاجزنه بلل کيږي.

تشريح: (۱۶) که چاخپل مريی په قسطونوسره دبدل کتابت په اداکولومکاتب کړييا هغه ديوه قسط له اداکولوڅخه عاجزشونوکه دده پرچادومره قرض ووچې هغه قبض کړي قسط په اداکولای شي ياهغه ته له يوې خواڅخه ځه مال راتلونکی وي نوحاکم دي دهغه په عاجزبللوکې بيړه نه کوي بلکې دوې درې ورځې دي انتظاروړته وکړي ولي په دي کې دطرفينورعايت دی اودرې ورځې داسي يوموده ده چې دعذرونوداظهارلپاره مقرره شوې ده لکه قرضدارته چې دادائيګي قرض لپاره درې ورځې وخت ورکول کيږي.

(۱۷) که دهغه دحصول مال هيڅ لاره نه وه اومولی دهغه دعاجزکولوغوښتنه کوله نودطرفينو رحمهما الله په نزدحاکم دي هغه عاجزوبولي کتابت دي فسخ کړي ولي دمکاتب عاجزکيدل متحقق شو، امام ابويوسف

رحمه الله فرمايلي دي چې ترڅوپرهغه پيوسته دوه قسطونه وانه وړي ترهغه وخته دي حاکم په عجزحکم نه کوي ،دطرفينو رحمهما الله قول راجح دی .

الالغاز:ای کتابة ينقضها غير المتعاقدين ؟

فقل :اذا کان المکاتب مديوناً فللغرماء نقضها . (الاشباه والنظائر)

(۱۸) وَإِذَا عَجَزَ الْمُكَاتَبُ عَادَ إِلَى أَحْكَامِ الرِّقِّ (۱۹) وَكَانَ مَا فِي يَدِهِ مِنَ الْإِكْتِسَابِ لِمَوْلَاهُ

ترجمه :چې کله مکاتب عاجزشي نوواپس درقيت احکاموته راګرځي اوهغه څه ګټه چې دده په لاس کې ده هغه دده دمولی کيږي .

تشريح :(۱۸)که دمکاتب دعجزفيصله وشوه که قاضي هغه عاجزبللی وي يايې پخپله رضامندي خپل ځان عاجزوښودنودی واپس درقيت داحکاموطرف ته راګرځي ولي چې کتابت فسخ شو .

(۱۹)کومه ګټه چې دده په لاس کې ده هغه دده دمولی کيږي ولي داخبره ظاهره شوه چې دادهغه دمريي ګټه ده اوداځکه چې ګټه ياپرمکاتب وقف وه يادهغه پرمولی په دي ډول چې که مال کتابت اداکوي نوپرمکاتب وقف ده که نه دهغه پرمولی مګراوس دعجزپه وجه توقف زائل شولهذاداکسب دمولی کيږي.

(۲۰) فَإِنْ مَاتَ الْمُكَاتَبُ وَلَهُ مَالٌ لَمْ تَنْفَسِخِ الْكِتَابَةُ وَقُضِيَ مَا عَلَيْهِ مِنْ إِكْسَابِهِ وَحُكِمَ بِعِتْقِهِ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيَاتِهِ (۲۱) وَمَا بَقِيَ فَهُوَ مِيرَاثٌ لِوَرَثَتِهِ (۲۲) وَيَعْتِقُ أَوْلَادُهُ (۲۳) وَإِنْ لَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً وَتَرَكَ وَلَدًا مَوْلُودًا فِي الْكِتَابَةِ سَعَى فِي كِتَابَةِ أَبِيهِ عَلَى نُجُومِهِ فَإِذَا أَدَّى حَكَمْنَا بِعِتْقِ أَبِيهِ قَبْلَ مَوْتِهِ وَعَتَقَ الْوَلَدُ (۲۴) وَإِنْ تَرَكَ وَلَدًا مُشْتَرًى فِي الْكِتَابَةِ قِيلَ لَهُ إِمَّا أَنْ تُؤَدِّيَ الْكِتَابَةَ حَالًا وَإِلَّا رُدِدْتَ فِي الرِّقِّ

ترجمه :که مکاتب مړشواوده لره مال شته نوعقدکتابت نه فسخ کيږي اوڅه چې پرده پاتی دی هغه دده له کسب څخه اداکيږي اودهغه دآزادي حکم ورکول کيږي دهغه دژوندپه آخري جزکې اوڅه چې باقی پاتی شی هغه دده دوارثانوميراث کيږي اودده اولادآزاديږي اوکه مکاتب دومره مال نه ووپري ايښی چې دبدل کتابت دادائيګی لپاره کافي شي البته يوداسی بچی يې پريښودچې دکتابت په حالت کې پيداشوی وونوهغه به سعی کوي دپلارپه کتابت کې په قسطونوسره چې کله هغه مال کتابت اداکړي نوبياموږدهغه دپلاردآزادي حکم ورکوودهغه ترمرګ مخکې اوبچی يې هم آزاديږي اوکه مکاتب داسی زوی پريښودچې ده په حالت دکتابت کې اخيستی وونوهغه ته ويل کيږي چې ياته فی الحال بدل کتابت اداکړه که نه ته دغلامي طرف ته رديږي .

تشريح :(۲۰)که مکاتب دبدل کتابت له ادائیگی څخه مخکې مړشواوپه ترکه کې يې مال پرېښودن
عقد کتابت نه فسخ کيږي بلکې له ترکه څخه بدل کتابت اداکيږي اودهغه دژوندپه آخري جزء کې دهغه
دآزادي حکم ورکول کيږي.
(۲۱)دبدل کتابت له ادائیگي وروسته که مال پاتی شو هغه دده وارثانو ته ورکول کيږي.
(۲۲)دمکاتب اولاد تبعًاللوالد آزاديږي.
(۲۳)که مکاتب دومره مال نه پرېښودچې دبدل کتابت داداکولولپاره کافي کيدای شوای البته يوداسی
زوی يې پاتی شوچې دمکاتب په حالت دکتابت کې پيداشوی وونوهغه به مزدوري کوي دخپل پلاربدل
کتابت به په قسطونوسره اداکوي له هغه وروسته حکم ورکول کيږي دهغه دپلاردآزاديدوترهغه ترمړګ
مخکې اوبچی آزاديږي ولي بچی دده په کتابت کې داخل دی اودبچي ګټه دپلارد ګټې په شان ده نودی دبدل
کتابت په ادائیگی کې دخپل پلارخليفه کيږي نوداسي شوګواکې پلاريې مال پري ايښی دی.
(۲۴)که مکاتب داسی يوزوی پرېښودچې ده په حالت دکتابت کې اخيستی وونودامام ابوحنيفة رحمه الله په
نزدولدته ويل کيږي چې ياته فی الحال بدل کتابت اداکړه که نه ته دغلامي طرف ته راګرځي، دصاحبينو
رحمهماالله په نزدده حکم هم دهغه په شان دی کوم چې په حالت دکتابت کې پيداشوی وو.
صاحبين رحمهماالله په حالت دکتابت کې اخيستل شوی ولدپرهغه قياسوي چې په حالت دکتابت کې
پيداشوی وي،دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې دولدمشترَی اوولدمولودترمنځ فرق شته هغه دادی چې
ولدمولوددعقدپه وخت له پلارسره متصل دی ځکه حکم دعقدترهغه پوري سرايت وکړاوولدمشتری نه په
وخت دعقدکې له پلارسره متصل دی چې حکم دعقدترهغه پورې سرايت وکړي اونه دهغه طرف ته
دعقداضافت شوی دی.

(۲۵)وَإِذَا كَاتَبَ الْمُسْلِمُ عَبْدَهُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ أَوْ عَلَى قِيمَةِ نَفْسِهِ فَالْكِتَابَةُ فَاسِدَةٌ(۲۶)فَإِنْ أَدَّى الْخَمْرَ وَالْخِنْزِيرَ عَتَقَ وَلَزِمَهُ أَنْ يَسْعَى فِي قِيمَتِهِ(۲۷)وَلَا يَنْقُصُ مِنَ الْمُسَمَّى وَيُزَادُ عَلَيْهِ إِذَا زَادَتْ قِيمَتُهُ

ترجمه :که مسلمان خپل مريی دشرابويا خنزيرپه عوض ياخپله دده دقيمت په عوض مکاتب کړنوداکتابت
فاسددی بياکه مکاتب مريي شراب ياخنزيرورکړنوآزاديږي اوپرده لازميږي چې پخپل قيمت کې سعی
وکړي اوداقيمت به ترمسمّی کم نه وي اوزيات کيدای شي چې کله يې قيمت زيات شي.
تشريح :(۲۵)که مسلمان خپل مسلمان مريی دشرابويا خنزيرپه عوض ياخپله ددغه مريي دقيمت په عوض
مکاتب (مثلاًيې قال بعتک علی قيمتک) نوداکتابت فاسددی په لومړي صورت (يعني دشرابواوخنزيرپه
صورت کې) خوځکه فاسددی چې شراب اوخنزيردمسلمان په حق کې مال متقوم نه دی (نوګواکې

عقد بلابدل شوی دی) لهذا فاسدیږي، او دمریي قیمت چې بدل کتابت مقررکړي په هغه صورت کې ځکه فاسدیږي چې دمریي قیمت هرډول مجهول دی.

(۲۶) بیاکه مکاتب شراب یاخنزیرورکړل نومکاتب آزادیږي ولی شراب اوخنزیرفی الجمله مال دی لیکن مکاتب به خپل قیمت ګټي مولی ته به یې ورکوي ځکه دفسادعقدپه وجه پرمکاتب ردرقبه واجبیږي مګرد آزادي په وجه رقبه متعذردی نودقیمت ردول واجب دی.

(۲۷) مګرداقیمت به ترشرابو اوخنزیرکم نه وي ولي پرهغه مکاتب راضی شوی دی اوتردي زیات کیدای شي که دشرابو یاخنزیرقیمت زیات شي چې مکاتب یې آداکړي اوژرآزادشي که یې کم کړی نوممکن چې مولی پرمکاتب جوړ‌ولو او آزادولو راضی نه شي ځکه نوکه زیات ورکړي جائزدی.

(۲۸) وإِنْ كَاتَبَهُ عَلَى حَيَوَانٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ فَالْكِتَابَةُ جَائِزَةٌ (۲۹) وإِنْ كَاتَبَهُ عَلَى ثَوْبٍ لَمْ يُسَمِّ جِنْسَهُ لَمْ يَجُزْ وإِنْ أَدَّاهُ لَمْ يَعْتِقْ

ترجمه: که یې دیو داسي حیوان په عوض مکاتب کړچې دهغه وصف معلوم نه وونو عقد کتابت صحیح کیږی اوکه یې د داسی جامي په عوض چې دهغې جنس یې نه ووبیان کړی نونه جائزکیږی اوکه هغه جامه ورکړي نه آزادیږي.

تشریح: (۲۸) که چاخپل مریی دیوه داسي حیوان په عوض مکاتب کړچې دهغه جنس معلوم وو (چې پسه دی یاآس دی) مګروصف یې نه وومعلوم چې اعلی دی یاادنی نوعقدکتابت صحیح کیږي ولي جهالت یسیردی داوسط درجه حیوان ته خبره ګرځي اوکه یې جنس نه ووبیان کړی نودشدت جهالت په وجه نه صحیح کیږي.

(۲۹) که چاخپل مریی دیوې داسی جامی په عوض مکاتب کړچې جنس یې نه ووبیان کړی نونه جائزکیږي، که یې جامه ورکړه نه آزادیږي ولي په شدید جهالت مجهول دی متعین کول یې متعذردی.

(۳۰) وَإِنْ كَاتَبَ عَبْدَيْهِ كِتَابَةً وَاحِدَةً بِأَلْفِ دِرْهَمٍ وَإِنْ أَدَّيَا عَتَقَا (۳۱) وإِنْ عَجَزَا رُدَّا إِلَى الرِّقِّ (۳۲) وإِنْ كَاتَبَهُمَا عَلَى أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا ضَامِنٌ عَنِ الْآخَرِ جَازَتِ الْكِتَابَةُ وأَيُّهُمَا أَدَّى عَتَقَا (۳۳) وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِنِصْفِ مَا أَدَّى (۳۴) وإِذَا أَعْتَقَ الْمَوْلَى مُكَاتَبَهُ عَتَقَ بِعِتْقِهِ وَسَقَطَ عَنْهُ مَالُ الْكِتَابَةِ

ترجمه: که یې په یوه کتابت سره خپل دوه مریيان مکاتب وګرځول دزرودرهمونوپه عوض که هغوئ زر درهمونه اداکړل نودواړه آزادیږي اوکه دواړه عاجزشول نودواړه درقیت طرف ته ګرځي اوکه یې دواړه په دي شرط مکاتب کړل چې له دوئ نه به هریو دبل ضامن کیږي نوداکتابت جائزدی اوهریوچې بدل کتابت اداکړي

نو دواړه آزادېږي او هغه به خپل شريک ته په نصف سره رجوع کوي او که مولی مکاتب مريی آزاد کړ نو دی د مولی په آزادي سره آزادېږي او بدل ورنه ساقطيږی.

تشريح :(۳۰) که چا په يوه کتابت کې خپل دواړه مريیان مثلاً د زرو روپو په عوض مکاتب کړل نو که هغوئ زر روپی ادا کړې نو د حصول شرط په وجه دواړه آزادېږي.

(۳۱) او که دواړه عاجز شول نو دواړه بيرته مريیان کېږي او د کل بدل کتابت له اداکيدو بغيريو هم نه آزادېږي ولي د کتابت ديوو الي په وجه ديوه په ډول دي.

(۳۲) که يې دواړه په دې شرط مکاتب کړل چې له هغوئ نه به هريو د هغه بل ضامن کيږي نو دا کتابت جائز دی بيا چې له دوئ نه هريو بدل کتابت ادا کړي نو دواړه آزادېږي.

(۳۳) کوم يو چې بدل کتابت ادا کړي هغه خپل شريک ته د بدل کتابت په نصف سره رجوع کولای شي.

(۳۴) که مولی مکاتب مريی د بدل کتابت له اداکولو څخه مخکې آزاد کړ نو هغه د مولی په آزادولو سره آزادېږي، او بدل کتابت ساقطيږي ولي چې د مولی مِلک تراوسه قائم دی نو دی پخپل مِلک کې تصرف کولای شي.

(۳۵) وَإِذَا مَاتَ مَوْلَى الْمُكَاتَبِ لَمْ تَنْفَسِخِ الْكِتَابَةُ (۳۶) وَقِيلَ لَهُ أَدِّ الْمَالَ إِلَى وَرَثَةِ الْمَوْلَى عَلَى نُجُومِهِ (۳۷) فَإِنْ أَعْتَقَهُ أَحَدُ الْوَرَثَةِ لَمْ يَنْفُذْ عِتْقُهُ (۳۸) وَإِنْ أَعْتَقُوهُ جَمِيعًا عَتَقَ وَسَقَطَ عَنْهُ مَالُ الْكِتَابَةِ

ترجمه :او که د مکاتب مولی مړشو نو کتاب نه فسخ کيږي او دغه مکاتب ته ويل کيږي چې بدل کتابت د قسطونو مطابق د مولی وارثانو ته ادا کړه او که له وارثانو څخه يوه دی آزاد کړ نو د هغه آزاديدل نه نافذ کيږي او که ټولو وارثانو آزاد کړ نو بيا آزادېږي او مال د کتابت يې له ذمې څخه ساقطيږي.

تشريح :(۳۵) که د مکاتب مولی مړشو نو کتابت نه فسخ کيږي ولي د کتابت په فسخ کولو سره د مکاتب حق باطليږي په دې ډول چې کتابت د آزادي سبب دی او آزادي د مکاتب حق دی او د چا د حق سبب هم د هغه حق کيږي نو کتابت د ده حق شو او حق يې د مرګ په وجه نه باطليږي.

(۳۶) لهذا دې مکاتب ته ويل کيږي چې بدل کتابت د قسطونو مطابق د مولی وارثانو ته ادا کړه.

(۳۷) بيا که د مولی له وارثانو څخه يوه دا مکاتب آزاد کړ نو د هغه آزاديدل نه نافذ کيږي ولي هغه يې خومالک نه دی او دا ځکه چې مکاتب لکه په نورو اسبابو د مِلک سره چې د چا نه مملوک کيږي همدا راز دوراثت په سبب هم د چا مملوک نه ګرځي البته د مکاتب پر ذمه چې کوم مال دی هغه د ورثه و طرف ته منتقل

(۳۸)که ټولو وارثانو دی آزاد کړنو استحسانا مفت آزادیږي او مال کتابت یې له ذمې څخه ساقطیږي وجه داستحسان داده چې داپه اصل کې له بدل کتابت څخه بري کول دی او چې کله مکاتب د کتابت له عوض څخه بري شي نو دی آزادیږي .

(۳۹)وَإِذَا كَاتَبَ الْمَوْلَى أُمَّ وَلَدِهِ جَازَ (۴۰)وَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى سَقَطَ عَنْهَا مَالُ الْكِتَابَةِ (۴۱)وَإِنْ وَلَدَتْ مُكَاتَبَتُهُ مِنْهُ فَهِيَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَتْ مَضَتْ عَلَى الْكِتَابَةِ وَإِنْ شَاءَتْ عَجَّزَتْ نَفْسَهَا وَصَارَتْ أُمَّ وَلَدٍ لَهُ

ترجمه :اوکه مولی خپله ام ولده مکاتبه کړه نوجائزدی اوکه مولی مړشونوبدل کتابت دهغی له ذمې ساقطیږی اوکه یې له مولی څخه بچی پیداشونومنځې ته اختیاردی که عقدکتابت باقي پریږدي اوکه ځان عاجزکوي چې دمولی أم ولده وګرځي .

تشریح :(۳۹)که مولی خپله ام ولده مکاتبه کړه نوداکتابت جائزدی ولي دمولی مِلک پ هغی کې باقی دی لهذادهغه داتصرف جائزدی .

(۴۰)بیاکه دبل کتابت ترااداکیدومخکې مولی مړشونوبدل کتابت دهغې له ذمې څخه ساقطیږي ولی دادام ولدکیدوپه وجه آزادیږي اوکتابت باطل شو .

(۴۱)که مولی خپله منځه مکاتبه کړه اوبیایې له مولی څخه بچی پیداشونومنځې لره اختیاردی که عقدکتابت پرخپل حال پریږدي له مولی څخه خپل مهراخلي اوبدل کتابت چې اداکړي فی الحال آزادیږي اوکه ځان عاجزکوي ام ولداوسیږي دمولی له مرګه پس آزادیږي ،داختیاروجه یې داده چې دې لره له دوجهتونو حریت حاصل شویو دکتابت په وجه دوهم دام ولدکیدوپه وجه نو دې لره په دغودوکې اختیاردی .

(۴۲)وَإِذَا كَاتَبَ مُدَبَّرَتَهُ جَازَ (۴۳)فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى وَلَا مَالَ لَهُ غَيْرُهَا كَانَتْ بِالْخِيَارِ بَيْنَ أَنْ تَسْعَى فِي ثُلُثَيْ قِيمَتِهَا أَوْ جَمِيعِ مَالِ الْكِتَابَةِ

ترجمه :که مولی خپله مدبره منځه مکاتبه کړه داجائزدی بیاکه مولی مړشواوله دغی مدبرې پرته دهغه نورمال نه وونودې لره اختیاررکول کیږي چې یادخپل دوه ثلثه وګټي وارثانوته یې ورکړي اویاکل بدل کتابت وګټي وریې کړي .

تشریح :(۴۲)که مولی خپله مدبره منځه مکاتبه وګرځوله نوداجائزدی ولي هغه فی الحال آزادي حاصلولوته محتاجه ده .

(۴۳)بیاکه دبدل کتابت له اداکیدونه مخکې مولی مړشواوله دغې مدبرې پرته هغه نورمال نه درلودنودامام ابو حنیفة رحمه الله په نزددې مدبرې لره اختیارورکول کیږي چې یادخپل قیمت دوه ثلثه وګټي وارثانوته یې ورکړي اویاکل بدل کتابت وګټي وریې کړي.
دامام ابویوسف رحمه الله په نزدیه دي دوچې کوم یوکم هغه دي وګټي وردي کړي ،دامام محمد رحمه الله په نزددبدل کتابت له دوثلثانواودقیمت له دوثلثانونه چې کوم یوکم وي هغه دي وګټي وردي کړي.
دامام ابو حنیفة رحمه الله دلیل دادی چې اعتاق متجزي دی لهذامدبره مذکوره دیوه ثلث آزادي مستحقه شوې ده اودوه حصی رقبه یې مملوکه پاتی ده اودې ته آزادي په دوه جهته حاصله ده یومعجّل دتدبیرپه ذریعه اوبل مؤجل دکتابت په ذریعه لهذاپه دواړوکې مختاره شوه ،دامام ابو حنیفة رحمه الله قول راجح دی.

(۴۴)وَإِنْ دَبَّرَ مُكَاتَبَتَهُ صَحَّ التَّدْبِيرُ (۴۵)وَلَهَا الْخِيَارُ إِنْ شَاءَتْ مَضَتْ عَلَى الْكِتَابَةِ وَإِنْ شَاءَتْ عَجَزَتْ نَفْسَهَا وَصَارَتْ مُدَبَّرَةً (۴۶)وإِنْ مَضَتْ على كِتَابَتِهَا فَمَاتَ الْمَوْلَى وَلَا مَالَ لَهُ فَهِيَ بِالْخِيَارِ إِنْ شاءَتْ سَعَتْ فِي ثُلُثَي مالِ الْكِتَابَةِ أَوْ ثُلُثَي قِيمَتِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه :اوکه خپله مدبره مکاتبه کړه نوداجائزدی اودې لره اختیاردی چې یاعقدکتابت پرخپل حال پریږدي اویاځان عاجزکړي مدبره شي اوکه هغې کتابت اختیارکړبیایې مولی مړشواوله دې مدبرې پرته یې نورهیڅ مال نه درلودنودامختاره ده چې یادمال کتابت په دوحصوکې سعی وکړي یادخپل قیمت دوې حصې وګټي دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد.

تشریح :(۴۴)که مولی خپله مدبره مکاتبه کړه نوداجائزدی ولي هغې ته په دوه جهته حریت حاصل شویعنې په تدبیراوکتابت اوددې دوترمنځ هیڅ منافات نشته.
(۴۵)اوس هغې لره اختیاردی چې یادتعجیل حریت لپاره کتابت پرخپل حال پریږدي اویاځان عاجزکړي مدبره شي ولي پرمملوک نه دی لازم چې هغه به مکاتب وي.
(۴۶)بیاکه یې کتابت اختیارکړاودبدل کتابت تراداکیدومخکې یې مولی مړشواوله دې مدبرې پرته یې نورهیڅ مال نه درلودنودامام ابو حنیفة رحمه الله په نزددامختاره ده چې یادوې حصې مال کتابت وګټي وارثانوته یې ورکړي اویاخپل دوې حصی قیمت وګټي وارثانوته یې ورکړي،دصاحبینورحمهماالله په نزدهغې لره اختیارنشته بلکې په دي کې چې کوم یوکم وي هغه دي وګټي وردي کړي.

(۴۷)وَإِذَا أَعْتَقَ الْمُكَاتَبُ عَبْدَهُ عَلَى مالٍ لَمْ يَجُزْ (۴۸)وَإِذَا وَهَبَ عَلَى عِوَضٍ لَمْ يَصِحَّ

ترجمه :که مکاتب خپل مریی په عوض دمال آزادکړنوداجائزنه دی اوکه مکاتب په عوض هبه کړنوداهم جائزنه دی .

تشریح :(۴۷)که مکاتب خپل مریی په عوض دمال آزادکړنوداجائزنه دی ولي آزادول نه کسب وګټه ده اوله توابعودکسب څخه دی بلکې داله رقبې څخه خپل مِلک ساقطول دی اودمفلس پرذمه قرض ثابتول دی لهذاداجائزنه دی .

(۴۸)همدارازکه مکاتب خپل مریی په عوض سره چاته هبه کړنوداجائزنه دی ولي هبه ابتداءً تبرع ده چې مکاتب یې اختیارنه لري .

(۴۹)وَاِنْ کَاتَبَ عَبْدَہ جَازَ (۵۰)فَاِنْ اَدّٰی الثَّانِيْ قَبْلَ اَنْ يَعْتِقَ الْاَوَّلُ فَوَلَاؤُہ لِلْمَوْلٰى الْاَوَّلِ (۵۱)وَاِنْ اَدّٰی الثَّانِيْ بَعْدَ عِتْقِ الْمُكَاتَبِ الْاَوَّلِ فَوَلَاؤُہ لَہ

ترجمه :اوکه مکاتب خپل مریی مکاتب کړنوداجائزدی بیاکه مکاتب ثانی دمکاتب اول ترآزادیدومخکې بدل کتابت اداکړنودهغه ولاء دمکاتب اول مولی لره کیږي اوکه مکاتب ثانی داول ترآزادي وروسته بدل کتابت اداکړنوبیادمکاتب ثانی ولاء مکاتب اول لره کیږي .

تشریح :(۴۹)که مکاتب له خپلو مریيانو څخه یومریی مکاتب کړنو استحساناً جائزدی وجه داستحسان داده چې دمریي په مکاتب کولوسره هغه ته مال حاصلیږي نولکه څرنګه چې مکاتب لره دمریيانوخریدوفروخت دحصول مال لپاره جائزدی همداسي دمریي دمکاتب کولوهم اجازه ورته شته بلکې کله خوپه نسبت دبیع کتابت دیرګټورثابت شي ولي دکتابت په وجه مِلک نه زائلیږي ترڅوچې بدل کتابت یې نه وي وصول کړی حال داچې په بیع کې مِلک له مخه لازائلیږي .

(۵۰)بیاکه مکاتب ثانی(دمکاتب مکاتب) دمکاتب اول ترآزادیدومخکې بدل کتابت اداکړنودمکاتب ثانی ولاء دمکاتب اول مولی لره کیږي ولي په مکاتب ثانی کې هم دهغه مولی یوقسم ملکیت وونوداعتاق نسبت فی الجمله دهغه طرف ته صحیح دی .

(۵۱)که مکاتب ثانی داول ترآزادي وروسته بدل کتابت اداکړنودمکاتب ثانی ولاء دمکاتب اول لپاره کیږي ولي په دي صورت کې مکاتب اول دخپلي آزادي په وجه دولاء اهل دی لهذاولاء ده لره ثابتیږي .

كِتَابُ الوَلَاء

داکتاب دولاء په بیان کې دی .

ولاء،دواوپه زبرسره لغةً په معنی دنصرت ومحبت ده،شرعًاداسي قرابت حکمي ته ویل کیږي چې په عتق یاعقدموالات (عقدموالات له دي څخه عبارت دی چې یوسړی له بل سره معاهده وکړي چې که مایوجنایت وکړنودهغه تاوان پرتادی اوکه زه مړشوم نوته زماوارث یې،صاحب عقدته مولی الموالات وایي) سره حاصل وي بیااول یعني هغه چې په عتق سره حاصل وي هغه ته وَلاء العتاقة وایي اودابل (یعني حاصل من الموالات) ته وَلاء الموت وایي ،دوَلاء حکم دمیراث استحقاق دی .

له کتاب المکاتب وروسته یې کتاب الوَلاء ځکه ذکرکړی دی چې وَلاء دکتابت له آثاروڅخه ده په دي وجه چې دبدل کتابت له اداکیدووروسته مِلک رقبه زائلیږي مکاتب آزادیږي نوولاء ثابتیږي اوأثردشي له شي وروسته وي .

(۱)وَإِذَاأَعْتَقَ الرَّجُلُ مَمْلُوكَهُ فَوَلاؤُهُ لَه (۲)وكَذالِكَ الْمَرْأةُ تُعْتِقُ (۳)فَإِنْ شَرَطَ أَنَّه سَائِبَةٌ فَالشَرْطُ بَاطِلٌ وَالوَلاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ (۴)وَإِذَاأَدّى الْمُكاتَبُ عَتَقَ وَوَلاؤُهُ لِلْمَوْلى (۵)وكَذالِكَ اِنْ عَتَقَ بَعْدَمَوْتِ الْمَوْلى فَوَلاؤُهُ لِوَرَثَةِ الْمَوْلى

ترجمه :که چاخپل مریی آزادکړنودهغه وَلاء مولی لره کیږي همدارازکه ښځې خپل مملوک آزادکړ(نوښځه هم دهغه دوَلاء مستحقه کرځي) اوکه یې داشرط کړچې دامریی به سائبه وي نوداشرط باطل دی اوولاء به هغه چالره کیږي چاچې آزادکړی دی اوچې مکاتب بدل کتابت اداکړي نوآزادیږي اودهغه وَلاء مولی لره کیږي اوهمدارازکه دمولی له مرګه پس آزادشي نودهغه وَلاء دمولی وارثانولره کیږي.

تشریح :(۱)که چاخپل مریی آزادکړنودهغه ولاء مولی لره کیږي ځکه مولی دمریي رقیت لیري کړی معنًی یې ژوندی کړی دی ځکه یې مولی وارث ګرځي .

(۲)همدارازکه ښځې خپل مملوک آزادکړنوښځه هم دهغه دولاء مستحقه کیږي لمابیّنا .

(۳)که مولی په اعتاق کې داشرط کښیښنودچې دامریی به سائبه وي یعني له آزادي وروسته به دهیچاپه ولاء کې نه وي بلکې خودمختاربه وي زه دهغه وارث نه یم اوکه یې یوجنایت وکړنوزه دهغه دیت هم نه آداکوم نوداشرط باطل دی اوولاء یې دهغه چاکیږي چاچی دی آزادکړی دی ځکه داشرط له نص دحدیث شریف یعني قوله ﷺ :الوَلاءلِمَن اعتق(چاچې آزادکړوَلاء دهغه ده) خلاف دی .

(۴)کله چې مکاتب بدل کتابت اداکړي اودهغه مولی ژوندی وي نودی آزادیږي اودهغه ولاء مولی لره کیږي ولي دی دمولی پرمِلک آزادشوی دی .

(۵)که دمولی له مرګه پس آزادشوی وونوهم داحکم دی ولي اعتاق دمولی له جهته دی که څه هم په تاخیرسره دی .

(۶)فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى عَتَقَ مُدَبَّرُوهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلادِهِ وَوَلاؤُهُم لَه (۷)وَمَنْ مَلَكَ ذَارَحِمٍ مَحرَمٍ مِنْهُ عَتَقَ عَلَيْهِ وَوَلاؤُه لَه

ترجمه :که مولی مړشونو دهغه مدبرمريپيان اودهغه امهات اولادآزاديږي اودهغوئ وَلاء ده لره کيږي اوڅوک چې دذی رحم محرم مالک شي هغه پرده آزاديږي اودهغه وَلاء به دهغه مولی لره کيږي.

تشريح :(۶)که مولی مړشونودهغه مدبرمريپيان اودهغه امهات اولادآزاديږي اودهغوئ وَلاء مولی لره کيږي ولي مدبردمولی په تدبيرآزادشوی دی اوامِ ولددمولی په استيلادسره آزاده شوې ده اووَلاء آزادونکي لره وي.

(۷)څوک چې دخپل ذی رحم محرم مالک شی نوهغه پرده آزاديږي اودآزادشوي وَلاء مولی لره کيږي ولي سبب دوَلاء يعني اعتاق دهغه له جانبه راغلی دی.

(۸)وَإِذَاتَزَوَّجَ عَبْدُرَجُلٍ اَمَةَ الْآخَرِفَأَعْتَقَ مَوْلَى الْأَمَةِ الْأَمَةَ وَهِيَ حَامِلٌ مِنَ الْعَبْدِعَتَقَتْ وَعَتَقَ حَمْلُهَا(۹)وَوَلاءُالْحَمْلِ لِمَوْلَى الْأُمِّ لَايَنْتَقِلُ عَنْهُ أَبَدًا(۱۰)فَإِنْ وَلَدَتْ بَعْدَعِتْقِهَالِأَكْثَرَمِنْ سِتَّةِأَشْهُرٍوَلَدًافَوَلاؤُهُ لِمَوْلَى الْأُمِّ(۱۱)فَإِنْ أَعْتَقَ الْأَبَ جَرَّوَلاءَ اِبْنِهِ وَانْتَقَلَ عَنْ مَوْلَى الْأُمِّ إِلَى مَوْلَى الْأَبِ

ترجمه :که دچامريي دبل چاله منځې سره نکاح وکړه بيادمنځې مولی منځه آزاده کړه اوحال داچې دامنځه له هغه مريي څخه حامله ده نومنځه آزاديږي اودهغې حمل هم آزاديږي اودحمل وَلاء دمورمولی لره کيږي اوداوَلاء هيڅکله نه منتقليږي اوکه منځې ترخپل آزاديدووروسته ترشپږمياشتې په زياته موده کې بچی راوړنودهغه وَلاء هم دهغې دمورآزادونکي لره کيږي بياکه پلارآزادشونودی دخپل وَلاء ځان ته راکشوي اووَلاء دمورله مولی څخه دپلاردمولی طرف ته منتقليږي.

تشريح :(۸) که دچامريي دبل چاله منځې سره نکاح وکړه بيادمنځې مولی منځه آزاده کړه اوحال داچې دامنځه له هغه مريي څخه حامله ده نومنځه آزاديږي اوتبعادهغې حمل هم آزاديږي.

(۹)اودحمل وَلاء دمورمولی ته ورکول کيږي اوداوَلاء دمورله مولی څخه هيڅکله نه منتقليږي ځکه داحمل دمورپرآزادونکي بالقصدآزادشوی دی ځکه هغه دمورجزء دی چې بالقصداعتاق قبلوي لهذاده وَلاء دمورله آزادونکي څخه کله هم نه منتقليږي.

(۱۰)که منځې ترخپل آزاديدووروسته ترشپږمياشتې په زياته موده کې بچی راووړنودهغه وَلاء هم دهغه دمورآزادونکي ته ورکوله کيږي ځکه داحمل دمورپه تبعيت سره آزادشوی دی ځکه دمورله عتق وروسته دی په موريوري متصل دی لهذاپه وَلاء کې هم دمورتابع کيږي.

(۱۱)مگرخرنګه چې داعتاق په وخت متحقق الوجودنه دی ځکه دهغه اعتاق مقصودي نه گرځي لهذادهغه وَلاء دمورآزادونکي لره ابدي نه کيږي بلکې که دهغه پلارآزادشونوهغه دبچي وَلاء خپل ځان طرف ته کشوي

او ولاء د مورد مولی څخه منتقله کيږي او س د پلار د مولی طرف ته منتقله کيږي وجه يې داده چې ولاء په منزله دنسب ده او نسب د پلار طرف ته منسوبيږي نو ولاء هم د پلار کيږي.

(۱۲) وَمَنْ تَزَوَّجَ مِنَ الْعَجَمِ بِمُعْتَقَةِ الْعَرَبِ فَوَلَدَتْ لَهُ أَوْلَادًا فَوَلَاءُ أَوْلَادِهَا لِمَوَالِيهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَكُونُ وَلَاءُ أَوْلَادِهَا لِأَبِيهِمْ لِأَنَّ النَّسَبَ إِلَى الْآبَاءِ

ترجمه: که عجمی د کوم عربي له منځې سره نکاح وکړه بيايې له هغې څخه اولاد پيدا شو نو د طرفينو رحمهما الله په نزد د اولاد وَلاء د هغه د مولی کيږي او امام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې د هغه د اولاد وَلاء د هغه د پلار کيږي ولي نسب د پلار جانب ته کيږي.

تشريح: (۱۲) که حر الاصل عجمي ديوه عربي له آزادې کړاى شوې منځې سره نکاح وکړه بيايې له هغې څخه اولاد وشو نو د طرفينو رحمهما الله په نزد د اولاد ولاء د هغې معتقې ښځې د مولی کيږي، د امام ابويوسف رحمه الله په نزد د اولاد ولاء د هغه د پلار کيږي ولي چې ولاء په منزله د نسب ده او نسب د پلار جانب ته کيږي.

د طرفينو رحمهما الله دليل دادی چې ولاء عتاقه قوي او د احکامو په حق کې معتبر دی تردي چې په دي کې کفائت معتبريږي (معتَق عجم د معتِق عرب کفؤ نه دی) او د عجميانو په حق کې نسب ضعيف دی ولي عجميانو خپل نسبونه ضائع کړي دي همداوجه ده چې په هغوکې کفائت نه دی معتبر او ضعيف د قوي معارض نه کيږي، د طرفينو رحمهما الله قول راجح دی.

(۱۳) وَوَلَاءُ الْعِتَاقَةِ تَعْصِيبٌ (۱۴) فَإِنْ كَانَ لِلْمُعْتَقِ عَصَبَةٌ مِنَ النَّسَبِ فَهُوَ أَوْلَى مِنْهُ (۱۵) فَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ عَصَبَةٌ مِنَ النَّسَبِ فَمِيرَاثُهُ لِلْمُعْتِقِ

ترجمه: او ولاء عتاقه موجب د عصوبت دی که د آزاد شوي نسبي عصبات وو نو هغه تر آزادونکي مقدم دي او که د آزاد شوي نسبي عصبات نه وو نو د هغه ميراث آزادونکي ته ورکول کيږي.

تشريح: (۱۳) يعني ولاء عتاقه موجب د عصوبت دی لهذا له ذوی الفروض وروسته او تر ذوی الارحامو مقدم دي.

(۱۴) که د آزاد شوي ذوی الفروض نه وي مگر نسبي عصبات يې وو نو هغه هم تر آزادونکي په باب د ميراث کې مقدم دي ولي نسبي عصوبت تر سببي عصوبت مقدم دی.

(۱۵) او که د آزاد شوي نسبي عصبات نه وو نو د هغه ميراث آزادونکي ته ورکول کيږي.

(۱۶) فَإِنْ مَاتَ الْمَوْلَى ثُمَّ مَاتَ الْمُعْتَقُ فَمِيرَاثُهُ لِبَنِي الْمَوْلَى دُونَ بَنَاتِهِ (۱۷) وَلَيْسَ لِلنِّسَاءِ مِنَ الْوَلَاءِ إِلَّا مَا أَعْتَقْنَ أَوْ أَعْتَقَ مَنْ أَعْتَقْنَ (۱۸) أَوْ كَاتَبْنَ أَوْ كَاتَبَ مَنْ كَاتَبْنَ (۱۹) أَوْ دَبَّرْنَ أَوْ دَبَّرَ مَنْ دَبَّرْنَ (۲۰) أَوْ جَرَّ وَلَاءُ مُعْتَقِهِنَّ أَوْ مُعْتَقِ مُعْتَقِهِنَّ

ترجمه :که مولی مړشوبیادهغه آزادشوی مړیی مړشونودآزادشوي میراث دمعتِق نارینه اولادته ورکول کیږي انجونوته نه ورکول کیږي اوښځولره ولاء نشته مګرداکه کومې ښځې آزادکړی وي یادښځې معتَق آزادکړی وي یاهغه چې ښځې مکاتب کړی وي یادښځې مکاتب مکاتب کړیاهغه چې ښځې مدبرکړی وي یادښځې مدبرکړي مدبرکړیاښځه دخپل آزادکرده ولاء راکش کړي یادخپل آزادشوي دآزادکړي ولاء راکش کړي.

تشریح :(۱۶)که مولی مخکې مړشوبیادهغه آزادشوی مړیی مړشونودآزادشوي میراث معتِق نارینه اولادته ورکول کیږي.

(۱۷)انجونوته نه ورکول کیږي ولې ولاء په باب دمیراث کې موجب دعصوبت ده اوښځولره عصوبت نشته لهذاهغوئ لره ولاء هم نه کیږي البته په لاندي صورتونو کې ښځولره ولاء کیږي ،څوک چې ښځې آزادکړی وي یادهغی آزادکړي آزادکړی وي.

(۱۸)یاهغه چې ښځې مکاتب کړی وي یادښځې مکاتب مکاتب کړی وي.

(۱۹)یاهغه چې ښځې مدبرکړی وي (چې صورت یې دادی چې یوې ښځې خپل مړیی مدبرکړدامرتده شوه دارحرب ته ولاړه قاضی دهغی دلحوق دارحرب حکم صادرکړنودهغی مدبرآزادشوبیادا بیرته مسلمانه شوه داراسلام ته راغله اومدبرمړشونودهغی ولاء دې ښځې ته ورکول کیږي) یادښځې مدبرکړي مدبرکړ.

(۲۰)یاښځه دخپل آزادکړي ولاء راکش کړي یادخپل آزادکړي دآزادکړي ولاء راکش کړي ،په دي صورتوکې ښځې لره ولاء کیږي.

دخپل آزادکړي دولاء راکشولوصورت دادی چې دیوې ښځې مړیي دهغی په اجازه سره دیوقوم له آزادې کړای شوې ښځې سره نکاح وکړه اوله هغی څخه یې اولادوشونوداولادولاء دمورد مولی کیږي بیاکه دمړیي مالکې دامړیی آزادکړنودی داولادولاء خپل طرف ته راکشوي بیاکه دامړیی مړشونودهغه داولادولاء دهغه دمالکې ښځې کیږي،دمتعق المعتق دولاء راکشولوصورت دادی چې یوې ښځې مړیی واخیست آزادیې کړبیاهغه آزادشوي مړیي مړیی واخیست اودي دوهم مړیي دیوقوم له آزادې کړای شوې ښځې سره نکاح وکړه اوله هغی څخه اولادوشوالخ ،باقی تفصیل دمخکینی صورت په شان دی.

(۲۱)وَاِذَاتَرَکَ الْمَوْلٰی اِبْنًا وَاَوْلَادَ اِبْنٍ آخَرَ فَمِیْرَاثُ الْمُعْتَقِ لِلْاِبْنِ دُوْنَ بَنِی الْاِبْنِ لِاَنَّ الْوَلَاءَ لِلْکُبْرِ

ترجمه :که مولی یوزوی پرینښوداوبل یې دزوی اولادپریښودنودآزادشده ولاءزوی لره کیږي نه لمسیانولره ولې چې ولاء کبیرلره کیږي.

تشريح :(۲۱)که مولی خپل يو زوی پريښوداو بل طرف ته يې دزوی اولاد پريښودنو دآزادشده ولاء يې زوی لره کيږي نه دهغه بل زوی اولادلره ځکه ولاء کبيرلره وي اوزوی کبيريعنې اقرب ومولی ته دی.

دولاء موالات متعلق احکام

(۲۲)وَإِذَا أَسْلَمَ رَجُلٌ عَلَى يَدِ رَجُلٍ وَوَالاهُ عَلَى أَنْ يَرِثَهُ وَيَعْقِلَ عنه إذا جَنَى (۲۳)أَوْ أَسْلَمَ عَلَى يَدِ غَيْرِهِ وَوَالاهُ فَالْوَلاءُ صَحِيحٌ وَعَقْلُهُ عَلَى مَوْلاهُ (۲۴)فَإِنْ مَاتَ وَلا وَارِثَ لَهُ فَمِيرَاثُهُ لِلْمَوْلَى

ترجمه :که چادبل په لاس اسلام راوړاودي نوي مسلمان شوي له هغه سره پردي خبره موالات وکړچې دی به دهغه وارث وي اودهغه له طرفه به تاوان ورکوي که دی جنايت وکړاويايې اسلام دبل په لاس راوړله ده سره يې عقدموالات وکړنوولاء صحيح ده اودده تاوان دده پرمولی کيږي بياکه هغه مړشواوهيڅ وارث يې نه وونودهغه ميراث دهغه مولی لره کيږي.

تشريح :(۲۲)که يوغيرمسلم دمسلمان په لاس اسلام راوړاودي نوي مسلمان له هغه سره موالات وکړ(دکومودوکسانوترمنځ چې دادول قول وقرارو شي چې موږيودبل داسي مددکاريوچې که ديوه پرذمه کوم ديت لازم شي نوهغه بل به يې برداشت کوي اوکه يومړشونوهغه بل به يې وارث وي نوداعقدموالات دی اوپه دوئ کې هريوه ته مولی الموالات وايې) يعنې نوي مسلمان ورته وويل چې که زه مړشوم نوته زمادټول مال وارث يې اوکه له ماځخه کوم جنايت صادرشونوزماله طرفه به ديت ته ورکوې.

(۲۳)يايې اسلام ديوه په لاس راوړاوعقدموالات يې له بل سره وکړنوپه دي دواړوصورتوکې داعقدصحيح دی دنوي مسلمان له مرګه وروسته هغه سړی دده وارث ګرځي اوصدورجنايت په صورت کې دنوي مسلمان له طرفه به هغه سړی ديت ورکوي.

(۲۴)ليکن شرط دادی چې نوی مسلمان به دهيچاآزادکرده نه وي اونه به يې هيڅ وارث وي نوبيادده ميراث له ده سره دموالات کونکي کيږي اوکه دنوي مسلمان موالات کونکي يووارث وي نوبياهغه په ميراث ورلوکې ترعقدموالات کونکي مقدم دی ولي هغه شرعي وارث دی لهذادهغه حق ترعقدموالات کونکي په وجه نه شي باطليدای.

(۲۵)وَلِلْمَوْلَى أَنْ يَنْتَقِلَ عنه بِوَلائِهِ إِلَى غَيْرِهِ مَا لَمْ يَعْقِلْ عَنْهُ (۲۶)فَإِذَا عَقَلَ عَنْهُ لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَتَحَوَّلَ بِوَلائِهِ عَنْهُ إِلَى غَيْرِهِ (۲۷)وَلَيْسَ لِمَوْلَى الْعَتَاقَةِ أَنْ يُوَالِيَ أَحَداً

ترجمه: او عقد موالات کونکي ته دا جائزدی چې له چاسره ده موالات کړی دی له هغه څخه خپل ولاء دبل طرف ته وګرځوي ترهغه وخته چې هغه دده له طرفه تاوان نه وي اداکړی که یې دده له طرفه تاوان اداکړنو بیا خپله ولاء له هغه څخه دبل طرف ته نه شي ګرځولای اوآزادشوي لره له بل سره موالات کول جائزنه دی.

تشریح:(۲۵)عقدموالات کونکي ته داجائزدی چې له چاسره چې ده موالات کړی دی له هغه وګرځي له بل سره موالات وکړي په دي شرط چې دهغه دجنایت په صورت کې دهغه اول مولی دده له طرفه عاقل ګرځیدلی څه دیت یې نه وي اداکړی ،وجه یې داده چې عقدموالات دوصیت په شان غیرلازم عقددی لهذا له هغه څخه ګرځیدل جائزدی.

(۲۶)که اول مولی عاقله وګرځیددده له یوجنایت څخه یې دیت اداکړنو بیاده لره له اول مولی څخه دبل طرف ته ګرځیدل جائزنه دی ولي اوس دده له ولاء سره داول مولی حق متعلق شوی دی.

(۲۷)آزادشوي لره له بل سره موالات کول جائزنه دی ولی دمتعَق میراث دمعتِق لپاره لازمي دی حال داچې موالات غیرلازم دی نودلازم دبقاء سره غیرلازم نه ظاهریږي.

كِتَابُ الجِنَايات

داکتاب دجنایاتوپه بیان کې دی.

جنایات دجنایهٔ جمع ده په لغت کې دتعدّی اوتجاوزپه معنی دی،اوپه اصطلاح کې جنایت له هغې تعدّی څخه عبارت دی چې په نفس یااطرافو دنفس (لکه لاس،پښه،پزه،غوږوغیره) کې واقع وي.

دکتاب العتاق سره مناسبت دادی چې په اعتاق کې احیاء ده اوپه جنایت کې هلاکت دی نودوئ ترمنځ دتقابل نسبت دی ،یادامناسبت دی چې په جنایت کې قصاص شته چې په هغه کې هم احیاء راځي قال الله تعالی (ولکم فِي القِصَاصِ حَيوةٌ يَا اُولِي الاَلبَابِ).

(۱) اَلْقَتْلُ عَلٰى خَمْسَةِ اَوْجُهٍ عَمَدٌ وَّشِبْهُ عَمَدٍ وَّخَطَاءٌ وَمَا اُجْرِىَ مَجْرَى الْخَطَاءِ وَالْقَتْلُ بِسَبَبٍ

ترجمه: قتل پرپنځه قسمه دی ،عمد،شبه عمد،خطاء،جاري مجری الخطاء اوقتل بالسبب.

تشریح:(۱)هسی خودقتل دیراقسام دي مکرراتلونکي احکام یعني قصاص ،دیت کفاره وغیره چې له کوموانسامو سره متعلق دي هغه پنځه دي :**نمبر ۱**-قتل عمد. **نمبر ۲**-شبه عمد.**نمبر ۳**-قتل خطاء.

نمبر ۴-قائم مقام خطاء. **نمبر ۵**-قتل بسبب، چې تفصیل یې امام قدوری رحمه الله په راتلونکي عباراتو کې کړی دی.

(۲)فَالْعَمَدُ مَاتَعَمَّدَ ضَرْبَهُ بِسَلاحٍ أَوْ مَاأُجْرِيَ مَجْرَى السَّلاحِ فِي تَفْرِيقِ الْأَجْزَاءِ كَالْمُحَدَّدِ مِنَ الْخَشَبِ وَالْحَجَرِ وَالنَّارِ (۳)وَمُوْجَبُ ذَالِكَ الْمَاثَمُ وَالْقَوَدُ (۴)إِلَّا أَنْ يَعْفُوَ الْأَوْلِيَاءُ (۵)وَلَا كَفَّارَةَ فِيْهِ

ترجمه: قتل عمد دادی چې په سلاح دیوچادویشتلو قصد وکړي یا په داسی شي سره چې دجزاؤپه ټکړې کولو کې داسلحې قائم مقام وي لکه تیره لرګی یا ډبره یا اوردي موجب ګناه او قصاص دی مګر داکه دمقتول اولیاء قاتل معاف کړي او په دي کې کفاره نشته.

تشریح:(۲)قتل عمد دادی چې دانسان په اسلحه دویشتلو اراده وکړي یا په داسي شي دوهلو قصد وکړي چې دانسان داجزاؤپه غوڅولو کې داسلحې قائم مقام وي لکه یو تیره لرګی، ډبره او اور، وجه یې داده چې دقتل عمد لپاره قصد ضروري دی او قصد یو مخفي شی دی چې پر هغه بلادلیل وقوف کیدل ممکن نه دی چې کله قاتل داسي آلات استعمال کړل چې په هغو سره قتل واقع کیږي نو دا دقصد قتل دلیل دی ځکه ورته قتل عمد ویل کیږي.

(۳)دقتل عمد حکم دادی چې قاتل سخت ګناهګاریږي ولي له شرک بالله وروسته دانسان قتل له اکبرالکبائر څخه ده او له قاتل څخه قصاص اخیستل کیږي.

(۴)مګر داکه دمقتول اولیاؤ قاتل معاف کړیا یې له هغه سره صلح وکړه ولي قصاص اخیستل داولیاؤ حق دی نو دوئ یې معافولای شي.

(۵)دقتل عمد په صورت کې پر قاتل کفاره نشته ولی قتل ګناه کبیره ده او په کفاره کې دعبادت معنی شته لهذا دکفارې سبب ګناه کبیره نه شی کیدای.

(۶)وَشِبْهُ الْعَمَدِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رحمه الله أَنْ يَتَعَمَّدَ الضَّرْبَ بِمَا لَيْسَ بِسَلاحٍ وَلَا مَاأُجْرِيَ مَجْرَاهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ إِذَا ضَرَبَهُ بِحَجَرٍ عَظِيْمٍ أَوْ بِخَشَبَةٍ عَظِيْمَةٍ فَهُوَ عَمَدٌ وَشِبْهُ الْعَمَدِ أَنْ يَتَعَمَّدَ ضَرْبَهُ بِمَا لَا يُقْتَلُ بِهِ غَالِبًا (۷)وَمُوْجَبُ ذَالِكَ عَلَى الْقَوْلَيْنِ الْمَاثَمُ وَالْكَفَّارَةُ وَلَا قَوَدَ فِيْهِ وَفِيْهِ دِيَةٌ مُغَلَّظَةٌ عَلَى الْعَاقِلَةِ

ترجمه: او قتل شبه عمد دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد دادی چې قاتل په داسی شي سره دوهلو قصد وکړي چې نه اسلحه وي او نه داسلحې قائم مقام وي او صاحبینو فرمایلي دي چې که قاتل په لویه ډبره سره یا په لوی لرګي سره وواهه نو دا قتل عمد کیږي او شبه عمد دادی چې په داسی شي سره دوهلو قصد وکړي چې غالبًا په

هغه قتل نه کيږي اوددي موجب ددوارو قولو مطابق گناه اوکفاره ده اوپه دي کې قصاص نشته اوپه دي کې پرعاقله ديت مغلظه دی .

تشريح :(۶)قتل شبه عمد دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزددادی چې قاتل په داسی شي سره دوهلو قصدوکړي چې نه اسلحه وي اونه قائم مقام داسلحې وي اودشبه عمد ځکه دی چې قاتل داسي آله استعمال کړېده چې په قتل کې غالبانه استعماليږي بلکې په دي آله سره دغيرقتل يعنې تاديب قصد کيږي نودعمديت معنی دقاصر کيدوپه وجه دي ته شبه عمد وايي، دصاحبينو رحمهما الله په نزدشبه عمددادی چې قاتل په داسي شي سره دمقتول دوهلو قصدوکړي چې په هغه سره غالبًاقتل نه کيږي .

لهذا دصاحبينو رحمهما الله په نزدکه قاتل په لويه درنه ډبره سره ياپه يولوی لرگي سره ، واهه نوداشبه عمد نه دی بلکې قتل عمد دی ځکه په دي سره غالبامرگ واقع کيږي نوداپه منزله دآله قتل کيږي .

(۷)دشبه عمدعلی اختلاف القولين حکم دادی چې قاتل گناهگاريږي ولی قاتل دوهلوپه قصدقتل کړی دی اودقاتل پرعاقله (له کومې محکمې سره چې دده تعلق وي هغه محکمه دده عاقله دي که يې له محکمې سره تعلق نه وونودده کورنۍ ته عاقله وايي) ديت مغلظه (يعنې سل اوښان چې پکې پنځه ويشت يوکلني وي پنځه ويشت دوه کلني پنځه ويشت درې کلني اوپنځه ويشت څلورکلني) دی .

فائده :دديت په باره کې قاعده داده چې کوم ديت سمدلاسه په قتل سره واجبيږي هغه دقاتل پرکورنۍ واجب دی اوکه وروسته ترقتل په مصالحت وغيره سره واجبيږي هغه خپله پرقاتل واجب دی .

(۸)وَالْخَطَاءُعَلٰى وَجْهَيْنِ خَطَاءٌفِى الْقَصْدِوهو اَنْ يَرْمِىَ شَخْصًايَظُنُّهُ صَيْدًاَوْاِذَاهو آدَمِيٌّ وَخَطَاءٌفِى الْفِعْلِ وهو اَنْ يَرْمِىَ غَرَضًافَيُصِيْبَ آدَمِيًّا(۹)ومُوْجَبُ ذَالِكَ الْكَفَّارَةُوَالدِّيَةُعَلَى الْعَاقِلَةِوَلَااِثْمَ فِيْهِ

ترجمه :اوقتل خطاء پردوه قسمه دی : خطاء فی القصد هغه داچې يوسړی وولي په دي خيال چې گواکې ښکاردی حال داچې هغه انسان دی اوخطاء فی الفعل هغه داچې نښه ولي هغه پرانسان ولگيږي اوددي موجب کفاره ده اوپرعاقله ديت دی اوپه دي کې گناه نشته .

تشريح :(۸)قتل خطاء پردوه قسمه دی نمبر۱-خطاء فی القصد . نمبر۲-خطاء فی الفعل ،خطاء فی القصدداده چې يوڅوک دښکارپه گمان سره وولي ،ياپې حربي کافروباله ويې ويشت هغه مسلمان وو،اوخطاء فی الفعل داده چې چاپرښکاريانښه غشی ورخوشي کړهغه په انسان کې ولگيد،دقتل خطاء ددواړوقسمونوحکم دادی چې په دي کې پرقاتل کفاره شته اودقاتل پرعاقله ديت دی لقوله تعالى (فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ) يعنې رقبه مؤمنه به آزادوي اودمقتول والاؤته به ديت ورکوي) .

(۹)دقتل خطاء په دواړو قسمونو کې پر قاتل ګناه نشته،مګرمراددقتل دګناه نفی ده فی نفسه فعل له ګناه څخه خالی نه دی ولي دغشي ويشتلوپه وخت چې کوم احتياط ضروري ووده له احتياط څخه کارنه دی اخيستی.

(۱۰)وَمَا أُجْرِيَ مَجْرَى الْخَطَاءِ مِثْلُ النَّائِمِ يَنْقَلِبُ عَلَى رَجُلٍ فَيَقْتُلُهُ(۱۱)فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْخَطَاءِ

ترجمه :اوقتل جاری مجری خطاء دادی چې مثلاويده پريوځاورواوړي هغه ووژني ددي هغه حکم دی کوم چې دقتل خطاء دی.

تشريح :(۱۰)دقتل څلورم قسم قائم مقام خطاء دی،قائم مقام خطاء دادی چې مثلايوڅوک دخوب په حالت کې په اړخ اوړي يوڅوک ده ته نژدې پروت وي هغه مړکړي.

(۱۱)ددي هغه حکم دی لکه دقتل خطاء ،ولی په دی صورت کې هم قاتل دمخطي په شان معذوردی.

(۱۲)وَأَمَّا الْقَتْلُ بِسَبَبٍ كَحَافِرِ الْبِئْرِ وَوَاضِعِ الْحَجَرِ فِي غَيْرِ مِلْكِهِ(۱۳)وَمُوْجَبُهُ إِذَا تَلَفَ فِيْهِ آدَمِيٌّ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ (۱۴)وَلَا كَفَّارَةَ فِيْهِ

ترجمه :اوقتل بالسبب لکه دبل په ځمکه کې کوهی کيندونکی اوډبره ايښودونکی ددي موجب پرعاقله دیت دی چې کله يوانسان پکې تلف شي اوپه دي کې کفاره نشته.

تشريح :(۱۲)دقتل پنځم قسم قتل بسبب دی،قتل بسبب دادی چې مثلايوچادحاکم داجازې بغيردبل چا په ځمکه کې کوهی وکينده بياپه هغه کې يوڅوک ولويدمړشويايې په داسی ځمکه کې ډيره کښيښوده چې يوڅوک ورسره ټکرشومړشو،دي قتل بسبب ځکه وايې کوهی کيندونکی دمقتول په وژلوکې متعمدنه دی اونه مخطی دی البته دکوهي په کيندلوسره يې تعدّی وکړه دقتل سبب يې جوړکړ.

(۱۳)ددغه حکم دادی چې دکوهي کيندونکي پرعاقله ديت واجبيږي ولی دتلفيدوسبب يې جوړکړی دی.

(۱۴)البته پرده کفاره نه واجبيږي ولی دی بنفسه دقتل مباشرنه دی.

هغه خلک چې قصاص ورڅني اخيستل کيږي

(۱۵)وَالْقِصَاصُ وَاجِبٌ بِقَتْلِ كُلِّ مَحْقُوْنِ الدَّمِ عَلَى التَّابِيْدِ إِذَا قُتِلَ عَمْدًا(۱۶)وَيُقْتَلُ الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْحُرُّ بِالْعَبْدِ وَالْعَبْدُ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ(۱۷)وَالْمُسْلِمُ بِالذِّمِّيِّ(۱۸)وَلَا يُقْتَلُ الْمُسْلِمُ بِالْمُسْتَأْمَنِ(۱۹)وَيُقْتَلُ الرَّجُلُ بِالْمَرْأَةِ وَالْكَبِيْرُ بِالصَّغِيْرِ(۲۰)وَالصَّحِيْحُ بِالْأَعْمَى وَالزَّمِنِ

ترجمه :او قصاص د هر دائمی محفوظ الدم په قتل کولو سره واجبيږي چې کله قصداً او وژل شي او قتل کيږي آزاد د آزاد په بدله کې او آزاد د مريي په بدله کې او مريی د آزاد په بدله کې او مريی د مريي په بدله کې او مسلمان د ذمی په بدله کې او مسلمان د مستامن په بدله کې نه وژل کيږي او سړی د ښځې په بدل کې قصاصيږي او لوی د کوچني په بدله کې قصاصيږي او روغ جوړ سړی د رانده او شل په بدله کې قصاصيږي.

تشريح :(۱۵)په قتل عمد کې قصاص هغه وخت واجبيږي چې کله مقتول يو داسي څوک وي چې د هغه وينه د هميشه لپاره محفوظه وي لکه مسلمان او ذمی،بخلاف حربي کافر او مستامن ځکه حربي خو غير محقون الدم دی او مستامن که څه هم په دار اسلام کې محقون الدم دی مګر دا على التاييد نه دی بلکې چې کله دی واپس دار حرب ته ولاړ شي نو دی مباح الدم ګرځي.

(۱۶)آزاد به د آزاد په بدله کې قصاصيږي او د مريي په بدله کې هم قصاصيږي او مريی هم د مريي او آزاد په بدله کې قصاصيږي ولي د الله تعالى قول (اِنّ النّفسَ بِالنّفسِ) يعنې نفس د نفس په مقابله کې قصاصيږي) مطلق دی ،او بل دا چې په قصاص کې مساوات ضروري دی او مذکور خلک د معصوم الدم کيدو په اعتبار سره مساوي دي.

(۱۷)مسلمان د ذمی په بدل کې قصاصيږي ولي رسول الله ﷺ مسلمان د ذمی په بدل قصاص کړی دی،او بل دا چې ذمی په دي وجه چې على التاييد محفوظ الدم دی له مسلمان سره مساوي دی ځکه د ذمی په بدله کې مسلمان قصاصيږي.

(۱۸)البته مسلمان د مستامن په بدله کې نه قصاصيږی ولی مستامن على التاييد د محفوظ الدم نه کيدو په وجه له مسلمان سره مساوي نه دی.

(۱۹)سړی د ښځې په بدله کې قصاصيږي او لوی د کوچني په بدله کې.

(۲۰)او روغ جوړ سړی د رانده او شل په بدله کې قصاصيږي ولي په نصوصو کې [illegible] ،او بل دا که د قصاص لپاره هر ډول مماثلت ته اعتبار ور کول شي نو د قصاص دروازه بنديږي.

هغه خلک چې قصاص نه ور څخه اخيستل کيږي [illegible]

(۲۱)وَلا يُقتَلُ الرَّجُلُ بِابنِهِ وَلا بِعَبدِهِ وَلا بِمُدَبَّرِهِ وَلا بِمُكاتَبِهِ وَلا [illegible]

ترجمه :څوک د خپل زوی په بدله کې نه قصاصيږي او نه د خپل مريي په بدله [illegible] په بدله [illegible] او نه د خپل مکاتب په بدله کې او نه د خپل زوی د مريي په بدله کې قصاصيږي [illegible]

تشريح :(۲۱)پلاردزوی په بدله کې نه قصاصيږي ولي پلاردزوی دزندګي سبب دی نوزوی لره دااستحقاق نه شي کيدای چې دی پلارفناء کړي همداحکم دنيکه اوآناهم دی وان علاالماييناکه مولی خپل مريي يامدبريامکاتب قتل کړنوددوئ په بدل کې مولی نه قصاصيږي ولي په دي صورت کې دقصاص وارث مولی دی نوپرخپل ځان قصاص واجبول لازميږي چې دا باطل دی ،همدارازکه چاخپل زوی مريي وواژ نوهم قاتل نه قصاصيږي ځکه چې زوی لاپرپلاردقصاص مستحق نه شي کيدای .

(۲۲)وَمَنْ وَرِثَ قِصَاصًا عَلٰى أَبِيْهِ سَقَطَ (۲۳)وَلَا يُسْتَوْفَى الْقِصَاصُ اِلَّا بِالسَّيْفِ

ترجمه :که څوک پرخپل پلاردقصاص وارث شي نوساقطيږي،او قصاص نه اخيستل کيږي مګرپه توره سره .

تشريح :(۲۲)که څوک پرخپل پلاردقصاص وارث شي نو قصاص ساقطيږي ځکه فرع پرخپل اصل قصاص نه شي واجبولای ،ددي صورت دادی چې چاخپل خُسروواژه دقاتل له ښځې پرته دمقتول بل هيڅ وارث نشته بيادابنځه هم مړه شوه نوددي ښځې زوی چې دقاتل له نطفې څخه دی دهغه قصاص وارث شوچې دده پرپلارواجب دی نوداقصاص ساقطيږي .

(۲۳)قصاص به په توره اخيستل کيږي نه په بل شي سره لقوله ﷺ :لاَقَوَدَاِلاَّبِالسَّيف (يعنې قصاص نشته مګرپه تورسره) مګرله تورې څخه مراداسلحه ده که توره وي که ټوپک وغيره .

دمکاتب اومرهون پر قتل د قصاص احکام

(۲۴)وَإِذَا قُتِلَ الْمُكَاتَبُ عَمْدًا وَلَيْسَ لَهُ وَارِثٌ اِلَّا الْمَوْلٰى فَلَهُ الْقِصَاصُ اِنْ لَمْ يَتْرُكْ وَفَاءً (۲۵)وَاِنْ تَرَكَ وَفَاءً وَوَارِثُهُ غَيْرُ الْمَوْلٰى فَلَا قِصَاصَ لَهُمْ وَاِنِ اجْتَمَعُوْا مَعَ الْمَوْلٰى

ترجمه :که مکاتب عمداًقتل کړای شواوده لره له مولی پرته بل وارث نه وونومولی لره دقصاص اخيستلو حق حاصل دی که مکاتب مال نه ووپري ايښی اوکه يې مال پري ايښی وواووارث يې له مولی پرته بل څوک وونوهغوئ لره دقصاص حق نشته که څه هم له مولی سره يوځای شي .

تشريح :(۲۴)که چامکاتب عمداًقتل کړاوده دومره مال پريښود چې په هغه سره بدل کتابت اداکيده اوله مولی پرته يې بل وارث نه درلود نود شيخينو رحمهما الله په نزد مولی دقصاص اخيستلو حق لري،دامام محمد رحمه الله په نزدمولی دقصاص اخيستلو حق نه لري ولي دقصاص اخيستلوپه سبب کې اشتباه ده ځکه که چيرته داومنله شي چې دآزادي په حالت کې مړشوی دی نودقصاص اخيستلو سبب وَلاء ده اوکه داومنله شي چې

دغلامي په حالت کې مړشوی دی نودقصاص اخیستلوسبب مِلک دی لهذامولی دقصاص اخیستلوحق نه لري،دشیخینورحمهماالله دلیل دادی چې په دواړوصورتوکې دقصاص اخیستلوحق مولی لره حاصل دی ولي مولی معلوم دی اوحکم (یعني قصاص وصول کول) هم متحددی سبب که څه هم مشتبه دی مګرداحکم لره مضرنه دی.

(۲۵)که چامکاتب عمداً قتل کړاوهغه دبدل کتاب په اندازه مال پرینښوداوله مولی پرته دهغه بل وارث هم وونوپه دي صورت کې وارثانولره دقصاص اخیستلوحق نشته که څه هم وارثان له مولی سره یوځای شي ولي په دي صورت کې دقصاص په مستحِق کې اشتباه ده ځکه چې که آزادمړشوی وي نودقصاص مستحقین وارثان دي اوکه غلام مړشوی وي نوبیامستحِق دقصاص مولی دی.

(۲۶)وَإِذَاقُتِلَ عَبْدُ الرَّهْنِ لَايَجِبُ الْقِصَاصُ حَتّٰى يَجْتَمِعَ الرَّاهِنُ وَالْمُرْتَهِنُ(۲۷)وَمَنْ جَرَحَ رَجُلًاعَمَدًافَلَمْ يَزَلْ صَاحِبَ فِرَاشٍ حَتّٰى مَاتَ فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ

ترجمه :که مرهون مریی ووژل شي نوقصاص نه واجبیږي ترهغه چې راهن اومرتهن سره یوځای شي اوکه چاعمداً څوک زخمي کړاوزخمي صاحب فراش شوترهغه چې مړشونوپرهغه قصاص واجبیږي.

تشریح (۲۶)که مرهون مریی چاقتل کړنوتنهاراهن یایواځې مرتهن دقصاص اخیستلوحق نه لري بلکې ددواړوجمع کیدل شرط دی مرتهن ځکه تنهادقصاص اخیستلوحقدارنه دی چې مرتهن دمرهون مریي مالک نه دی اوراهن تنهاځکه حقدارنه دی چې که راهن دقصاص متولی شي نوددغه مرتهن حق فی الدَین باطلیږي.

(۲۷)که چاعمداً څوک زخمي کړاوزخمي برابرصاحب فراش شوترهغه چې مړشونوپرزخمي کونکي قصاص واجبیږي ،ځکه سبب دمرګ (زخم) موجوددی اوپه ظاهره داسې شی هم نه دی پیښ شوی چې حکم دسبب باطل کړي لهذادحکم اضافت دسبب جانب ته کیږي.

له نفس نه علاوه دقصاص بیان

(۲۸)وَمَنْ قَطَعَ يَدَ غَيْرِهِ عَمَدًامِنَ الْمَفْصَلِ قُطِعَتْ يَدُهُ(۲۹)وَكَذٰلِكَ الرِّجْلُ وَمَارِنُ الْأَنْفِ وَالْأُذُنِ(۳۰)وَمَنْ ضَرَبَ عَيْنَ رَجُلٍ فَقَلَعَهَافَلَاقِصَاصَ عَلَيْهِ(۳۱)فَإِنْ كَانَتْ قَائِمَةً وَذَهَبَ ضَوْءُهَافَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ تُحْمٰى لَهُ الْمِرْاٰةُ وَيُجْعَلُ عَلٰى وَجْهِهِ قُطْنٌ رَطْبٌ وَتُقَابَلُ عَيْنُهُ بِالْمِرْاٰةِ حَتّٰى يَذْهَبَ ضَوْءُهَا(۳۲)وَفِي السِّنِّ الْقِصَاصُ

ترجمه :که چاد بل چالاس قصداله بند څخه ورغوځ کړنودده لاس غوځیږي همدارازدپښې اوپزې اوغوږ دنرمۍ حکم دی که چاڅوک پرسترګه وواهه سترګه یې ورواېستله نوپرهغه قصاص نشته اوکه پرځپل ځای قائمه وه خالص روښنائي یې ولاړه نوپرهغه قصاص لازمیږي دهغه لپاره به ښیښه ګرمیږي اودده پرمخ به کیږه وراچوي اودده سترګې ته به ښیښه نیسي ترهغه چې دسترګې روښنائي یې ولاړه شي اوپه غاښ کې قصاص شته .

تشریح :(۲۸)که چاعمدادبل چالاس پربندورغوځ کړنودپریکونکي لاس ورپرې کیږي لقوله تعالی (وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ) (دزخمونوبدله دهغوبرابرده) څرنګه چې قصاص دمماثلت خبرورکوي لهذااصول دادي چې جنایت فیمادون النفس په هرهغه صورت کې چې مماثلت کیدای شي په هغه کې به قصاص وي لکه په مذکورصورت کې ،اوپه کوم صورت کې چې مماثلت متعذروي نوقصاص به نوي لکه دځنګلې له نیمی څخه چې لاس ورغوځ کړي نودمماثلت رعایت ممکن نه دی لهذا قصاص به نه وي .
(۲۹)همداحکم دپښې دی چې (له بجلکویالینګي) څخه پرې شي اودپزې په نرمۍ اودغوږپه غوځیدوکې هم دی ولې دمماثلت رعایت ممکن دی .
(۳۰)که چایوڅوک پرسترګه وواهه سترګه یې دباندې راوایسته نوپرهغه قصاص نه کیږي ولې دسترګې په ایستلوکې دمماثلت رعایت ممکن نه دی .
(۳۱)اوکه سترګه پرځپل ځای پاتی وه دهغی روښني یې ورختمه کړه نودمماثلت دممکن کیدوپه وجه قصاص کیږي،اودقصاص اخیستلوصورت دادی چې دوهونکي پرمخ اودابله سترګه به یوه کیږه واچوي اودکومې سترګي روښنائي چې ورختموي دهغی مقابل به ګرمه ښیښه کښیږدي نودسترګي روښنائي ورختم کوي ،داله صحابه ﷺ څخه منقول دی .
(۳۲)که چادبل چاغاښ ورمات کړنوپه دي کې قصاص شته لقوله تعالی (وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ) دغاښ په بدله کې غاښ دی .

(۳۳)وَفِي كُلِّ شَجَّةٍ يُمْكِنُ فِيهَا الْمُمَاثَلَةُ الْقِصَاصُ (۳۴)وَلَا قِصَاصَ فِي عَظْمٍ إِلَّا فِي السِّنِّ

ترجمه :پرهرداسي زخم کې چې مماثلت ممکن وي قصاص شته اوپه هډ کې قصاص نشته مګرپه غاښ کې .
تشریح :(۳۳)اصول دادي چې هرداسي زخم چې په هغه کې مماثلت ممکن وي په هغه کې قصاص شته لقوله تعالی (وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ)دزخمونوبدله دهغوبرابرده) .
(۳۴)که چادبل چاهډورمات کړنوپه قصاص اخیستلوکې دکموالي اوزیادت داحتمال په وجه مماثلت متعذردی لهذا قصاص نه واجبیږي البته دغاښ ماتولوپه صورت کې قصاص شته لمامرّ .

(۳۵) لَيْسَ فِيمَا دُوْنَ النَّفْسِ شِبْهُ عَمْدٍ وإنَّمَا هُوَ عَمْدٌ أَوْ خَطَأٌ

ترجمه: او فيمادون النفس کې شبه عمد نشته هغه يا عمد دی يا خطاء دی.

تشريح: (۳۵) په جنايت فيمادون النفس کې (يعنی له قتل نه علاوه په نورو جنايتونو) کې شبه عمد نشته ،شبه عمد خالص په قتل کې شته ولي شبه عمد آله ته خبره ځي اوپواځې همدا قتل د آله په اختلاف سره مختلف کيږي (چې که يې د قتل په آله وهلی وونو قتل عمد دی که نه شبه عمد) حال دا چې نور جنايتونه د آله په اختلاف سره نه مختلف کيږي لهذا فيمادون النفس کې شبه عمد نشته په هغه کې يا عمد دی يا خطاء دی وبس.

(۳۶) وَلا قِصَاصَ بَيْنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ فِيمَا دُوْنَ النَّفْسِ (۳۷) وَلا بَيْنَ الْحُرِّ وَالْعَبْدِ ولا بَيْنَ الْعَبْدَيْنِ (۳۸) وَيَجِبُ الْقِصَاصُ فِي الأَطْرَافِ بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ

ترجمه: او قصاص نشته د سړي او ښځې ترمنځ په جنايت فيمادون النفس کې او نه د ځرا و مريي ترمنځ او نه د دو مريانو ترمنځ او په اطرافو کې قصاص واجب دی د مسلمان او کافر ترمنځ.

تشريح: (۳۶) په جنايت فيمادون النفس کې د سړي او ښځې ترمنځ قصاص نشته (لهذا که سړي د ښځې لاس ورغوځ کړ يا ښځې د سړي لاس ورغوځ کړ نو قصاص نشته.

(۳۷) همدا راز د ځرا و مريي ترمنځ او د دو مريانو ترمنځ فيمادون النفس کې قصاص نه لازميږي ولي اطراف د انسان د اموالو درجه لري په اطرافو کې د تفاوت في القيمة په وجه مماثلت معدوم دی ځکه قصاص نه واجبيږي.

(۳۸) د مسلمان او کافر (مراد ذمی دی) ترمنځ په اطرافو (اعضاء) کې قصاص واجب دی ځکه د مسلمان او کافر د اطرافو قيمت شريعت يو ايښی دی لهذا د مساوات او مماثلت په وجه قصاص واجبيږي.

(۳۹) وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ مِنْ نِصْفِ السَّاعِدِ أَوْ جَرَحَهُ جَائِفَةً فَبَرَأَ مِنْهَا فَلا قِصَاصَ عَلَيْهِ (۴۰) وإذَا كَانَتْ يَدُ الْمَقْطُوعِ صَحِيحَةً وَيَدُ الْقَاطِعِ شَلَّاءَ أَوْ نَاقِصَةَ الأَصَابِعِ فَالْمَقْطُوعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَطَعَ الْيَدَ الْمَعِيبَةَ وَلا شَيْءَ لَهُ غَيْرُهَا وإِنْ شَاءَ أَخَذَ الأَرْشَ

ترجمه: که چا د بل چا لاس د څنګل له نيمی څخه ورغوځ کړ يا يې هغه په سر کې زخمي کړ يا هغه زخم جوړ شو نو پر جارح قصاص نه کيږي او که يې د مقطوع صحيح سالم ورغوځ کړی وي او د پرې کونکي لاس شل يا يې ګوتې کمې وي نو مقطوع ته اختيار دی چې يا د هغه د امعيوب لاس ورغوځ کړي له دي پرته بل هيڅ حق نه لري او يا د لاس پوره ديت واخلي.

تشریح :(۳۹) که چادبل چالاس دڅنګل له نیمی ځخه ورغوځ کړیایې هغه په جائفه زخم (هغه زخم چې دننه سرایت وکوي) په سرکې زخمي کړیاهغه زخم جوړشونوپه دغودوصورتونوکې پرجنایت کونکي قصاص نه کیږي ځکه دمماثلت رعایت ممکن نه دی ځکه څنګل هډدی چې پکې مماثلت متعذردی کمامرّ،اوله جائفه زخم ځخه عموماځوک نه جوړیږي نودقصاص اخیستلوپه صورت کې غالب ګمان دجنایت کونکي دمرګ جوړیدودی حال داچې اول جوړشولهذا دمماثلت رعایت ممکن نه دی.

(۴۰) که چادبل چاصحیح سالم لاس ورغوځ کړاودغوځونکي لاس شل یایې ګوتې کمې وي نوچې دچالاس غوځ شوی دی هغه ته اختیاردی چې یادامعیوب لاس ورغوځ کړي په دي صورت کې هغه له دي پرته بل هیڅ نشته اویادلاس پوره دیت واخلي وجه یې داده چې کامل حق وصول کول خومتعذردی اوترخپل حق په کم راضي کیدل اوچشم پوشي کول دهغه لپاره جائزدی.

(۴۱) وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا فَاسْتَوْعَبَتِ الشَّجَّةُ مَابَيْنَ قَرْنَيْهِ وَهِيَ لَاتَسْتَوْعِبُ مَابَيْنَ قَرْنَيِ الشَّاجِّ فَالْمَشْجُوجُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ اقْتَصَّ بِمِقْدَارِ شَجَّتِهِ يَبْتَدِئُ مِنْ أَيِّ الْجَانِبَيْنِ شَاءَ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْأَرْشَ كَامِلًا

ترجمه :که چادبل چاسرزخمي کړاوزخم دهغه دسردواړه جانبه ونیول اوحال داچې دازخم دزخمي کونکي دسردواړه جانبه نه نیسي نومشجوج ته اختیاردی که دخپل زخم په مقدارقصاص اخلي له هره جانبه چې دده خوښه وي شروع دي ورته وکړي اویادي کامل دیت واخلي.

تشریح :(۴۱) که چادبل چاسرورزخمي کړاوزخم دهغه دسردواړه جانبه (یعنې راسته اوچپه) دواړه ونیول حال داچې دزخمی کونکي سردزخمي ترسرلوی دی دازخم دهغه دسردواړه جانبه نه نیسي نومشجوج ته اختیاردی چې یادخپل زخم په مقدارقصاص واخلي اوداهم اختیاردی چې له کوم جانب نه یې خوښه وي شروع دي کړي،اویادي کامل دیت واخلي وجه یې داده چې دشاج (زخمي کونکي) دسردواړه جانبه زخمي کول پرجنایت زیادت دی چې جائزنه دی اودمشجوج دزخم په مقدارزخم کولوکې دومره عیب نه راځي څومره چې مشجوج ته لاحق شوی دی نوپه دي ډول دمشجوج حق ناقص پاتیږي لهذا مشجوج لره اختیاردی.

(۴۲) وَلَاقِصَاصَ فِي اللِّسَانِ (۴۳) وَلَافِي الذَّكَرِ إِلَّا أَنْ يَقْطَعَ الْحَشَفَةَ

ترجمه :نه په ژبه کې قصاص شته اونه په ذکرکې مګرداکه خالص سرورځني پرې کړي.

تشریح :(۴۲) که چادبل چاژبه ورغوځه کړه یایې ذکروړپرې کړنوقصاص نه واجبیږي ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزد که ژبه یاذکریې له بیخه وړپرې کړه نوقصاص واجبیږي که نه بیانه واجبیږي،ولي له بیخه په پرې

کولو کې مماثلت ممکن دی چې دهغه بل به هم له بیخه ژبه یاذکرورپرې کړي،زموږدلیل دادی چې ژبه اوذکر کله منقبض وي او کله خلاص وي لهذا د مساوات اعتبار ممکن نه دی .

(۴۳)البته که چادبل چادذکرحشفه (هغه گردی سر) ورپرې کړنوقصاص اخیستل کیږي ځکه ځای دغوځید ومعلوم دی نولکه لاس چې له بند ځخه پرې کړای شي همداسي په دي کې هم مماثلت ممکن دی ځکه قصاص واجبیږي .

(۴۴)وَإِذَا اصْطَلَحَ الْقَاتِلُ وَأَوْلِيَاءُ الْمَقْتُوْلِ عَلٰى مَالٍ سَقَطَ الْقِصَاصُ وَوَجَبَ الْمَالُ قَلِيْلًا كَانَ أَوْ كَثِيْرًا (۴۵)فَإِنْ أَعْفَى أَحَدُ الشُّرَكَاءِ مِنَ الدَّمِ أَوْ صَالَحَ مِنْ نَصِيْبِهِ عَلٰى عِوَضٍ سَقَطَ حَقُّ الْبَاقِيْنَ مِنَ الْقِصَاصِ وَكَانَ لَهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِنَ الدِّيَةِ

ترجمه :که قاتل او د مقتول اولیاؤ پر مال معلوم صلح سره وکړه نو قصاص ساقطیږي او مال واجبیږي که لږ وي که ډیر او که له شریکانو ځخه یوه قصاص معاف کړیایې دخپلی حصی په بدل کې په عوض مصالحت وکړنو د باقی ورثه ؤ حق قصاص ساقطیږي او په دي کې دوئ لره حصه کیږي .

تشریح :(۴۴)که قاتل او د مقتول اولیاؤ پر یوه معلوم مال صلح سره وکړه چې قاتل به دومره مال ورکوي او د مقتول اولیاء به د قصاص ترحق تیریږي نو دا صحیح دی له قاتل ځخه قصاص ساقطیږي او مصالح مال پر هغه واجبیږي که پرلږ مال یې صلح وکړه او که پرډیر،وجه یې داده چې قصاص د وارثانو داسي یو حق دی چې په معافولو سره یې ساقطول جائزدی نو په عوض یې ساقطول هم جائزدی .

(۴۵)که د مقتول له وارثانو ځخه یوه خپل حق د قصاص معاف کړیایې دخپلې حصی په بدل پر عوض مصالحت وکړنو د باقی وارثانو حق قصاص هم ساقطیږي،البته په دیت کې دوئ لره حصه کیږي وجه یې داده چې قصاص متجزي نه کیږي چې کله بعض ساقط شي نو کل ساقطیږي .

(۴۶)وَإِذَا قَتَلَ جَمَاعَةٌ وَاحِدًا عَمَدًا اُقْتُصَّ مِنْ جَمِيْعِهِمْ (۴۷)وَإِذَا قَتَلَ وَاحِدٌ جَمَاعَةً فَحَضَرَ أَوْلِيَاءُ الْمَقْتُوْلِيْنَ قُتِلَ لِجَمَاعَتِهِمْ وَلَا شَيْءَ لَهُمْ غَيْرَ ذٰلِكَ (۴۸)فَإِنْ حَضَرَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ قُتِلَ لَهُ وَسَقَطَ حَقُّ الْبَاقِيْنَ

ترجمه :که یوې ټولی خلکو یو سړی عمداً قتل کړنو له دوئ ټولو ځخه قصاص اخیستل کیږي او که یوه سړي یوه ټولی خلک ووژل او د مقتولینو اولیاء د قصاص اخیستلو لپاره حاضرشول نو قاتل د هغو ټولو له طرفه وژل کیږي له دي نه علاوه هغوئ لره هیڅ شی نشته او که د مقتولینو له اولیاؤ ځخه یو حاضرشونو قاتل د هغه لپاره قتل کړای کیږي او د نورو حق ساقطیږي .

تشریح :(۴۶)که یو ټولی خلکو یو سړی عمداً و واژه نو له دوئ ټولو څخه قصاص اخیستل کیږي ولي دصنعاء او ه کسان دیوه سړي په قتل کې شریک شوي وو نو حضرت عمر ﷺ ټول قتل کړل او ویې فرمایل چې ټول اهل صنعاء په جمع دا کار کړی وای نو ما به هغوئ ټول قتل کړي وای.

(۴۷)که یوه سړي یوه ټولی خلک ووژل او دمقتولینو اولیاء دقصاص اخیستلو لپاره را حاضر شول نو قاتل دهغو ټولو له طرفه قتل کیږي له دي نه علاوه دمقتولینو اولیاؤ لره هیڅ شی نه کیږي ولي دوئ ټول دهغه پر قتل جمع شول او په خروج دروح کې تجزي نشته لهذا داسي ګڼل کیږي چې هریوه خپله پوره حق دقصاص علی سبیل الکمال حاصل کړی دی.

(۴۸)که دمقتولینو له اولیاؤ څخه یو حاضر شو نو هم دهغه لپاره قاتل قتل کړای کیږي او دباقی کسانو حق ساقطیږي ولي دهغوئ حق په قصاص کې دی هغه فوت شو نو داسي شو لکه قاتل چې دقصاص تر حصول مخکې مړ شي.

(۴۹)وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقِصَاصُ فَمَاتَ سَقَطَ عَنْهُ الْقِصَاصُ

ترجمه :پر چا باندي چې قصاص وي که هغه پخپل مرګ مړ شو نو له هغه څخه قصاص ساقطیږي.

تشریح (۴۹)که پر چا قصاص واجب وو بیا هغه پخپل مرګ مړ شو نو له هغه څخه قصاص ساقطیږي ولي له کوم محل نه چې دقصاص وصول کیده هغه محل ختم شو.

(۵۰)وَإِذَا قَطَعَ رَجُلَانِ يَدَ رَجُلٍ وَاحِدٍ فَلَا قِصَاصَ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَعَلَيْهِمَا نِصْفُ الدِّيَةِ

ترجمه :که دوه کسانو دیوه سړي لاس ورغوڅ کړ نو له دواړو څخه پر یوه هم قصاص نشته او پر دواړو نصف دیت واجبیږي.

تشریح :(۵۰)که دوه کسان را ولاړ شو دیوه سړي لاس یې ورغوڅ کړ نو له دواړو څخه پر یوه قصاص نشته ولي له دواړو څخه هریوه بعض لاس پرې کړی دی ځکه دلاس پریکیدل ددواړو له دباؤ څخه حاصل شوی دی او محل یعني لاس متجزی هم دی لهذا دوئ دواړو هریوه ته دبعض لاس دپریکید و اضافت کیږي نو که له دواړو څخه دهریوه پوره لاس ورپرې کوي نو په جنایت او قصاص کې مماثلت نه پاتیږي، او پر دوئ دواړو نصف دیت واجبیږي ځکه دیوه لاس دیت دپوره نفس ددیت نصف دی دوئ دواړو یو لاس غوڅ کړی دی نو له دواړو څخه پر هریوه دنصف دیت نیمی واجبیږي.

(۵۱)وَإِنْ قَطَعَ وَاحِدٌ يَمِينَيْ رَجُلَيْنِ فَحَضَرَا فَلَهُمَا أَنْ يَقْطَعَا يَدَهُ وَيَأْخُذَا مِنْهُ نِصْفَ الدِّيَةِ يَقْتَسِمَانِهَا نِصْفَيْنِ (۵۲)فَإِنْ حَضَرَ وَاحِدٌ مِنْهُمَا فَقَطَعَ يَدَهُ فَلِلْآخَرِ عَلَيْهِ نِصْفُ الدِّيَةِ

ترجمه :که یوه سړي ددوکسانو راسته لاسونه وریږي کړل بیاهغوئ دواړه دقصاص اخیستلو لپاره حاضر شول نو ددواړو حق دی چې دده لاس وریږي کړي اوله ده څخه نصف دیت واخلي دواړه یې پخپلوکې نیم نیم تقسیم کړي اوکه له دواړو څخه یودقصاص اخیستلو لپاره حاضرشواوهغه دمجرم لاس ورغوڅ کړنودهغه بل لپاره پرده نصف دیت کیږي.

تشریح :(۵۱)که یوه سړي ددوکسانوراسته لاسونه پرې کړل بیاهغوئ دواړه دقصاص اخیستلولپاره حاضرشول نو ددواړو حق دی چې دهغه لاس ورغوڅ کړي اوله ده څخه نصف دیت واخلي اودادیت به هغوئ دواړه نیمی نیمی تقسیم کړي وجه یې داده چې دادواړه داستحقاق په سبب کې برابردي نودواړه دهغه په حکم کې هم برابریږي.

(۵۲)که له دواړو څخه یودقصاص اخیستلولپاره حاضرشواوهغه دمجرم لاس ورغوڅ کړنوهغه بل لره پرمجرم اوس خالص نصف دیت کیږي وجه یې داده چې حاضرلره دثبوت حق په وجه دخپل حق وصول کول جائزدی چې کله هغه خپل حق وصول کړ(یعني دمجرم لاس یې ورغوڅ کړ) نوهغه بل ته محل داستیفاء نه دی پاتي ځکه دهغه حق په دیت کې متعین شوولي دهغه حق معافی یادوصول عوض بغیرنه ساقطیږي.

(۵۳)وَإِذَا اَقَرَّ الْعَبْدُ بِقَتْلِ الْعَمَدِ لَزِمَهُ الْقَوَدُ (۵۴)وَمَنْ رَمٰى رَجُلًا عَمَدًا فَنَفَذَ السَّهْمُ مِنْهُ اِلٰى آخَرَ فَمَاتَا فَعَلَيْهِ الْقِصَاصُ لِلْاَوَّلِ وَالدِّيَةُ الثَّانِي عَلٰى عَاقِلَتِهِ

ترجمه :که مریي دچادوژلو عمدًا اقرار وکړنوپرمریي قصاص لازمیږي که چاڅوک عمدًا په غشي وویشت اوهغه دده تربدن ووت په بل سړي کې هم ولګیداودواړه مړه شول نوداول قتل په وجه پرده قصاص واجبیږي اوددوهم لپاره دیت دقاتل پرعاقله.

تشریح :(۵۳)که مریي دیوچاعمدًادوژلواقراروکړنوپرمریي قصاص واجبیږي ولي له مریي څخه په قصاص اخیستلوکې پرمریي هیڅ تهمت نشته (ځکه ترمولی زیات دمریي نقصان دی) البته که مریي پرخپل ځان دمال اقرار وکړنودتهمت په وجه یې اقرارنه دی صحیح.

(۵۴)که چاعمدًا یوڅوک په ګولۍ یاپه غشي وویشت هغه دده تربدن ووت په بل سړي کې هم ولګیده اوپه دې سره دواړه مړه شول نوداول قتل عمدًادی دهغه په وجه پرویشتونکي قصاص واجبیږي اوقتل ثاني قتل خطاء دی لهذادهغه په وجه دقاتل پرعاقله دیت واجبیږي.

كِتَابُ الدِيَاتِ

داکتاب ددیاتو په بیان کې دی.

دیات ددیهٔ جمع ده ،شرعًاهغه مال ته ویل کیږي چې دنفس بدل وي،اوارش هغه مال ته ویل کیږي چې ترنفس په کم جنایت کې واجب وي ،دکتاب الدیات له کتاب الجنایات سره مناسبت ظاهردی چې جنایت ددیت سبب دی.

(۱)وَإِذَا قَتَلَ رَجُلٌ رَجُلًا شِبْهَ عَمْدٍ فَعَلَى عَاقِلَتِهِ دِيَةٌ مُغَلَّظَةٌ وَعَلَيْهِ كَفَّارَةٌ (۲)وَدِيَةُ شِبْهِ الْعَمْدِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَأَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ مِائَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَرْبَاعًا خَمْسٌ وَعِشْرُونَ بِنْتَ مَخَاضٍ وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ بِنْتَ لَبُونٍ وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ حِقَّةً وَخَمْسٌ وَعِشْرُونَ جَذَعَةً (۳)وَلَا يَثْبُتُ التَّغْلِيظُ إِلَّا فِي الْإِبِلِ خَاصَّةً فَإِنْ قُضِيَ بِالدِّيَةِ مِنْ غَيْرِ الْإِبِلِ لَمْ تَتَغَلَّظْ

ترجمه :که چاپوڅوک دشبه عمدپه قتل سره وواژه نودقاتل پرعاقله دیت مغلظه کیږي اوپرقاتل کفاره ده اودشیخینو رحمهما الله په نزددشبه عمددیت سل اوښان دي چې څلورقسمه دي پنځه ویشت بنت مخاض ،پنځه ویشت بنت لبون ،پنځه ویشت حقه اوپنځه ویشت به جذعه وي،اوتغلیظ نه ثابتیږي مګرپه اوښانو سره خاص اوکه له اوښانو علاوه دیت اداکوي نو هغه دیت مغلظه نه کیږي.

تشریح :(۱)که چاپوڅوک دشبه عمدپه ډول قتل کړنودقاتل پرعاقله دیت مغلظه کیږي اوپرقاتل کفاره ده یعنې مؤمن مریی به آزادوي که دانه وو بیابه دوې میاشتې پیوسته روژې نیسي.

(۲)دشیخینورحمهما الله په نزددیت مغلظه سل اوښان دي اوهغه به څلورډوله وي پنځه ویشت بنت مخاض،پنځه ویشت بنت لبون،پنځه ویشت حقه اوپنځه ویشت به جذعه وي،دامام محمد رحمه الله په نزدبه سل اوښان درې قسمه وي ،دیرش جذعه ،دیرش حقه اوڅلویښت ثنیه یاثنی،(هغه اوښ چې پنځه کاله یې مکمل شوي وي په شپږم شروع وي) اوثنیات به حاملې هم وي. (دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی).

(۳)اوپه دې تغلیظ کې خالص څلوریادرې قسمه لازمي دي،اومذکورتغلیظ خالص په هغه صورت کې دی چې دیت داوښانوپه ذریعه اداکوي اوکه له اوښانوعلاوه په دراهمواودنانیروسره دیت اداکوي په هغه صورت کې دیت مغلظه نه کیږي ولې تغلیظ توقیفي دی چې خالص داوښانوپه صورت کې دی.

(۴) وَقَتْلُ الْخَطَاءِ تَجِبُ بِهِ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ وَالْكَفَّارَةُ عَلَى الْقَاتِلِ (۵) وَالدِّيَةُ فِي الْخَطَاءِ مِاءَةٌ مِنَ الْإِبِلِ أَخْمَاسًا عِشْرُوْنَ بِنْت مَخَاضٍ وَعِشْرُوْنَ ابْنَ مَخَاضٍ وَعِشْرُوْنَ بِنْتَ لَبُوْنٍ وَعِشْرُوْنَ حِقَّةً وَعِشْرُوْنَ جَذَعَةً (۶) وَمِنَ الْعَيْنِ أَلْفُ دِيْنَارٍ وَمِنَ الْوَرِقِ عَشَرَةُ آلَافِ دِرْهَمٍ

ترجمه :اودقتل خطاء په وجه ديت واجبيږي دقاتل پرعاقله اوپرقاتل كفاره واجبيږي اوپه قتل خطاء كې ديت سل اوښان به پنځه قسمه وي شل بنت مخاض،شل ابن مخاض ،شل بنت لبون ،شل حقه اوشل به جذعه وي،اوپه سروزرويوزردیناره اوپه سپينولس زره درهمه دي .

تشريح :(۴) دقتل خطاء په وجه دقاتل پرعاقله ديت اوخپله پرقاتل كفاره واجبه ده لقوله تعالى (وَمَن قَتَلَ مُؤمِنا خَطَئًا فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهلِهِ)

ژباړه :كه چامسلمان په خطاء سره قتل كړنورقبه مؤمنه به آزادوي اودمقتول اولياؤته به ديت وركوي .

(۵) په قتل خطاء كې ديت سل اوښان به پنځه قسمه وي شل به بنت مخاض،شل ابن مخاض ،شل بنت لبون ،شل حقه اوشل به جذعه وي،وجه يې داده چې په قتل خطاء كې قاتل معذوروي ځكه پرهغه په واجب شوي ديت كې تخفيف پكاردى اوپه مذكورديت كې دشبه عمدپه نسبت تخفيف شته .

(۶) كه دقتل خطاء ديت په سروزروركوي نودهغه مقداربه زردیناره وي اوكه يې په سپينووركوي نومقداربه يې لس زره درهمه وي،دامام مالك رحمه الله اوامام شافعي رحمه الله په نزددولس زره درهمه دي،اوپه دراهمواودنانيروكې مرادوزن سبعه دى (يعني ددرهم وزن درې ماشې يوه رتى ديوې رتى پنځه حصه ده،اودمثقال وزن څلورماشه څلوررتى دى په دې ډول داومثقالواولسودرهمونووزن برابريږي همدې ته وزن سبعه وايي .

(۷) وَلَا تَثْبُتُ الدِّيَةُ إِلَّا مِنْ هٰذِهِ الْأَنْوَاعِ الثَّلٰثَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ مِنْهَا وَمِنَ الْبَقَرِ مِائَتَا بَقَرَةٍ وَمِنَ الْغَنَمِ أَلْفَا شَاةٍ وَمِنَ الْحُلَلِ مِائَتَا حُلَّةٍ كُلُّ حُلَّةٍ ثَوْبَانِ

ترجمه :دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدديت خالص په دې دريوقسمونوثابت دى اوصاحبينورحمهماالله فرمايلي دي چې په دريوشيانواوله غوايانوڅخه په دوسووغوايانواوپه پسونوسره په زروپسونواوله جوړوڅخه په دوه سوه جوړې چې هره جوړه به دوې جامې وي .

تشريح :(۷) دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدقاتل دديت په اداكولوكې په دريوشيانويعنې اوښانو،دينارونو اودراهموكې اختيارلري له دغودريونه چې هريواداكړي صحيح دى اوله دې نه علاوه په بل شى سره ديت اداكول نه دي صحيح،دصاحبينورحمهماالله په نزدله مذكوره دريوشيانوعلاوه په غوايانو،پسونو اوجوړو

سره هم اداکيدای شي نويادي دوه سوه غوايان ورکړي يازرپسونه يادوه سوه جوړه کالي چې هره جوړه به دوې کپړې (يعنې قميص اوازار) به وي،دصاحبينورحمهماالله دليل دادی چې حضرت عمر ﷺ له دغوڅخه دهرمال پروالاهمدادول مقررکړی وو.

دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې تقديرپه هغوشيانوسره صحيح کيدای شي چې ماليت يې معلوم وي اوغويي وغيره مجهول الماليت دي حال داچې دنانيراودراهم معلوم الماليت دي اواوښان که څه هم مجهول الماليت دي مګردهغوئ مقدارله آثاروڅخه معلوم شوی دی ځکه داوښ په باره کې قياس پرېښودل شوی دی (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی).

(۸)وَدِيَةُ الْمُسلِمِ وَالذِّمِي سَوَاءٌ

ترجمه :دمسلمان اوذمی ديت برابردی.

تشريح :(۸)يعنې مسلمان اوذمی په ديت کې برابردي ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې دهرذمی ديت چې کله هغه پرخپل عهدذمه باقی وي زردیناره دی همدادحضرت ابوبکر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ هم فيصله ده.

په مختلفوجراحاتوکې دديت تفصيل

(۹)وَفِي النَّفسِ الدِّيَةُ وَفِي الْمَارِنِ الدِّيَةُ وَفِي اللِّسَانِ الدِّيَةُ وَفِي الذَّكَرِ الدِّيَةُ وَفِي الْعَقْلِ إِذَا ضَرَبَ رَأسَهُ فَذَهَبَ عَقْلُهُ الدِّيَةُ (۱۰)وَفِي اللِّحيَةِ إِذَا حُلِقَتْ فَلَمْ تَنبُتْ الدِّيَةُ وَفِي شَعْرِ الرَّأْسِ الدِّيَةُ

ترجمه :په نفس کې ديت شته،دپزې په نرمۍ کې ديت شته،په ژبه کې ديت شته،په ذکرکې ديت شته اوپه عقل کې که چاپرسروهلی وواوعقل يې تللی ودبت شته،په ږيره کې چې کله وخريوله شي بيانه راشنه کېږي ديت شته اودسرپه ويښتانو کې ديت شته.

تشريح :(۹)په نفس کې ديت شته که لوی وي که کوچنی،وضيع وي که شريف،مسلمان وي که ذمی،ولې په عصمت او حرمت کې داټول برابردي ،اودپزې دنرمۍ په پريکولوکې کامل ديت شته اودژبې په پريکولوکې کامل ديت دی اوذکرپه پريکولوکې کامل ديت دی اوکه څوک چاپرسرداسی وواهه چې عقل يې ختم شونوپرهغه کامل ديت کيږي.

(۱۰)که چادبل چاږيره يادسرويښتان داسي وخريول چې بيانه راشنه کيږي نوپرهغه کامل ديت دی دانساني اندامونوپه باره کې قاعده کليه داده چې دکوم اندام په پريکولوسره که دهغه اندام کامل منفعت ختم شويا له

هغه ځخه چې کوم جمال مقصود و هغه زائل شونو دا د نفس انسانی دضائع کولو په شان دی ځکه نو کامل دیت دنفس واجبیږي، نو مذکوره اندامونه داسي دي چې دبعضو په پریکولو سره کامل منفعت زائلیږي او دبعضو له پریکولو سره جمال زائلیږي ځکه په دې کې کامل دیت دی.

(۱۱) وَفِي الْحَاجِبَيْنِ دِيَةٌ وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الْيَدَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الرِّجْلَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الْأُذُنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الشَّفَتَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي الْأُنْثَيَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي ثَدْيَي الْمَرْأَةِ الدِّيَةُ (۱۲) وَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ نِصْفُ الدِّيَةِ (۱۳) وَفِي أَشْفَارِ الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي أَحَدِهِمَا رُبُعُ الدِّيَةِ

ترجمه: په دواړو وروځو کې دیت دی او په دواړو سترګو کې دیت دی او په لادواړو لاسو کې دیت دی په دواړو پښو کې دیت دی په دواړو غوږونو کې دیت دی په دواړو شونډانو کې دیت دی په دواړو خصینو کې دیت دی اودښځې په دواړو تیانو کې دیت دی اوددغو اعضاؤ په یوه کې نصف دیت واجبیږي اوددواړو سترګو په باڼو ګانو کې دیت واجب دی او په یوه کې ربع دیت واجب دی.

تشریح: (۱۱) ددواړو وروځو په پریکولو کې پوره دیت دی اوددواړو سترګو په ضائع کولو کې پوره دیت دی اوددواړو لاسو نو په پریکولو کې پوره دیت دی ددواړو پښو په پریکولو کې پوره دیت دی په دواړو غوږو کې پوره دیت دی په دواړو شونډانو کې پوره دیت دی په دواړو خایو کې پوره دیت دی دښځې په دوتیانو کې پوره دیت دی، ددې ټولو دلیل هغه قاعده کلیه ده چې په مخکینۍ مسئله کې تیره شوه.

(۱۲) له مذکوره بالا اعضاؤ ځخه که یو اندام ضائع کړي نو نصف دیت واجبیږي ځکه دیوه اندام په پریکولو سره نصف منفعت یا نصف جمال فوتیږي لهذا دیت هم نصف کیږي.

(۱۳) دسترګو ځلور باڼوګان که داسې وکاږي چې بیانه راځي نو دجمال دفوت کیدو په وجه پوره دیت واجبیږي، په دوکې نصف او په یوه کې ربع دیت واجبیږي لما بینا.

(۱۴) وَفِي كُلِّ إِصْبَعٍ مِنْ أَصَابِعِ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ عُشْرُ الدِّيَةِ وَالْأَصَابِعُ كُلُّهَا سَوَاءٌ (۱۵) وَفِي كُلِّ إِصْبَعٍ فِيهَا ثَلَاثَةُ مَفَاصِلَ فَفِي أَحَدِهَا ثُلُثُ دِيَةِ الْإِصْبَعِ (۱۶) وَمَا فِيهَا مَفْصَلَانِ فَفِي أَحَدِهِمَا نِصْفُ دِيَةِ الْإِصْبَعِ (۱۷) وَفِي كُلِّ سِنٍّ خَمْسٌ مِنَ الْإِبِلِ (۱۸) وَالْأَسْنَانُ وَالْأَضْرَاسُ كُلُّهَا سَوَاءٌ

ترجمه: په هره ګوته کې دلاس یا دپښو له ګوتو ځخه دپوره دیت عشر دی او ټولې ګوتې په دیت کې برابرې دي او په هره ګوته کې چې درې بندونه دي له هغونه په یوه بند دګوتې ددیت ثلث دی او په کومه کې چې دوه بندونه دي نو په هغو کې په یوه بند کې دګوتې ددیت نصف واجبیږي او په هر غابش کې پنځه اوښان دي او دمخ او دژامې غاښونه په حکم کې برابر دي.

تشريح :(۱۴)ددواړو لاسونو او دواړو پښو له ګوتونه په هره يوه ګوته کې دپوره ديت عشر دی ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې پرهره ګوته کې لس اوښان دي ،ظاهره ده چې لس اوښان دپوره ديت لسمه حصه ده ،اوټولې ګوتې په منفعت کې سره برابرې دي په دي وجه په ديت کې هم برابرې دي.

(۱۵)په کوموګوتوکې چې درې بندونه پوره وي له هغونه که يوبندپوره غوڅ کړي نودګوتې دديت ثلث واجبيږي.

(۱۶)په کوموګوتوکې چې دوه بندونه دي که له هغونه يو غوڅ کړای شي نوپه هغه کې دګوتې دديت نصف واجبيږي تَوزِيعًالِلبَدَلِ عَلى المُبدَلِ.

(۱۷)که چادبل چاغاښ ورمات کړنوپه هرغاښ کې دپوره ديت نصف عشر يعنې پنځه اوښان واجبيږي لقوله ﷺ فِى كل سِنٍّ خَمسٌ مِّنَ الابِلِ . (په هرغاښ کې پنځه اوښان دي) .

(۱۸)دمخ اوژامې غاښونه ټول په حکم کې سره برابردي ځکه په داړوکې که دژوولومنفعت شته نوپه ضواحکوکې زينت دی .

(۱۹)وَمَنْ ضَرَبَ عُضْوًا فَاَذْهَبَ مَنْفَعَتَهُ فَفِيهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ كَمَا لَوْ قَطَعَهُ كَالْيَدِ اِذَا شَلَّتْ وَالْعَيْنِ اِذَا ذَهَبَ ضَوْءُهَا

ترجمه :که چاڅوک پريوه اندام وواهه دهغه منفعت يې ورختم کړنوپه دي کې پوره ديت دی لکه هغه چې يې پري کړلکه لاس چې شل شي اوسترګه چې روښنائي يې ختمه شي .

تشريح :(۱۹)که چابل څوک پريواندام وواهه اودهغه منفعت يې ورختم کړکه څه هم هغه اندام پرخپل ځای برقراروي هم پوره ديت واجبيږي لکه دغوڅيدوپه صورت کې چې پوره ديت واجبيږي مثلا پرلاس يې وواهه لاس يې شل شويايې پرسترګه وواهه سترګه پرخپل ځای ده مګربينائی يې ختمه شوه نوپوره ديت واجبيږي ولي له اعضاؤ څخه مقصودمنفعت دی نودمنفعت فوت کيدل داندام دپريکيدوپه دول دی .

(۲۰)وَالشِّجَاجُ عَشَرَةٌ اَلْحَارِصَةُ وَالدَّامِعَةُ وَالدَّامِيَةُ وَالْبَاضِعَةُ وَالْمُتَلاحِمَةُ وَالسِّمْحَاقُ وَالْمُوْضِحَةُ وَالْهَاشِمَةُ وَالْمُنَقِّلَةُ وَالآمَّةُ

ترجمه :شجاج (زخمونه) لس دي :حارصه،دامعه،داميه،باضعه،متلاحمه،سمحاق،موضحه،هاشمه،منقله اوآمه .

تشريح :(۲۰) شجاج ،دسراومخ زخم ته وايي دباقي بدن زخم ته جراحت وايي،نودسراومخ زخمونه پرلس قسمه دي :

نمبر ۱-حارصه،هغه زخم چې هسې پوست وګروي . **نمبر ۲**-دامعه،داهغه زخم چې وینه ښکاره شي مګرونه بهیږي لکه په سترګوکې چې اوښکې راشي ونه بهیږي . **نمبر ۳**-دامیه،هغه زخم چې وینه پکې وبهیږي .
نمبر ۴-باضعه ،هغه زخم چې غوښه پکې غوڅه کړای شي .
نمبر ۵-متلاحمه،هغه زخم چې پکې (دباضعه په نسبت) زیاته غوښه پرې شي مګرسمحاق ته نه ورسیږي .
نمبر ۶-سمحاق،هغه زخم چې پکې غوښه پرې شي ترسمحاق پورې ورسیږي ،سمحاق دغوښې اودسر دهډو ترمنځ یوه باریکه پرده غوندې ده . **نمبر ۷**-موضحه،هغه زخم چې هډوکې ښکاره شي . **نمبر ۸**-هاشمه هغه زخم چې هډوکې مات شي . **نمبر ۹**-المنقله ،هغه چې هډوکې مات شي له خپل ځای څخه بې ځایه شي . **نمبر ۱۰**-آمه،هغه زخم چې ام دماغ ته ورسیږي ،ام دماغ هغه پرده ده چې پکې دماغ دی .

(۲۱)فَفِي الْمُوْضِحَةُ الْقِصَاصُ إِنْ كَانَتْ عَمَداً(۲۲)وَلَاقِصَاصَ فِي بَقِيَّةِ الشِّجَاجِ(۲۳)وَفِي مَادُوْنَ الْمُوْضِحَةِ فَفِيْهِ حُكُوْمَةُ عَدْلٍ

ترجمه :په موضحه کې قصاص دی که عمداً وي اوپه نوروزخمونوکې قصاص نشته اوترموضحه په کمه درجه کې حکومت عدل دی .

تشریح :(۲۱)له مذکورولسو اقسامونه په اوم قسم (یعني موضحه) کې قصاص دی په دې شرط چې عمداً وي ځکه په قصاص کې مساوات غوښتونکی وي اوپه موضحه کې مساوات ممکن دی په دې ډول چې ترهډوپورې غوښه ورپرې کړي.
(۲۲)ترموضحه بالاچې درې قسمه زخم دی په هغوکې په اتفاق قصاص نشته ځکه مساوات متعذردی ،اوترموضحه په کمه درجه چې کوم زخمونه دي په هغوکې دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدقصاص نشته،دامام محمد رحمه الله په نزدله سمحاق علاوه قصاص شته اوهمداظاهرالروایت دی ،صاحب قدوری رحمه الله ولاقصاص فی بقیة الشجاج،کې دامام ابوحنیفة رحمه الله مذهب بیان کړی دی .
(۲۳)ترموضحه کم درجه چې شپږقسمه زخمونه دي په هغوکې دامام ابوحنیفة رحمه الله دمذهب مطابق نه قصاص شته اونه دیت بلکې حکومت عدل دی یعني حاکم چې کومه فیصله وکړي چې صورت یې امام طحاوی رحمه الله داسې بیان کړی دی چې دیوه سالم غیرزخمي مریي قیمت دې ولګوي بیادی دوباره له زخم سره قیمت کړي ددواړو قیمتونوترمنځ تفاوت ته دې وګوري که داتفاوت دقیمت دعشرنصف وونودیت دعشرنصف واجبیږي اوکه تفاوت په قدرد ربع عشروي نوربع عشردیت دی واجب کړای شي .

(۲۴)وَفِي الْمُوْضِحَةِاِنْ كَانَتْ خَطَأً نِصْفُ عُشْرِ الدِّيَةِ (۲۵)وَفِي الْهَاشِمَةِ عُشْرُ الدِّيَةِ (۲۶)وَفِي الْمُنَقِّلَةِ عُشْرُ وَاَنْصِفُ عُشْرِ الدِّيَةِ(۲۷)وَفِي الْآمَّةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ(۲۸)وَفِي الْجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ (۲۹)فَاِنْ نَفَذَتْ فَهِيَ جَائِفَتَانِ فَفِيْهِمَا ثُلُثَا الدِّيَةِ

ترجمه :په موضحه کې که خطاء وه نونصف عشرديت دی اوپه هاشمه کې عشرديت دی اوپه منقله کې عشرديت اونصف عشرديت دی اوپه آمه کې ثلث ديت واجبيږي اوپه جائفه کې ثلث ديت دی اوکه جائفه زخم نفوذوکړي نودوه جائفی شمارل کيږي نوبياپکې دوه ثلث ديت واجبيږي .

تشريح :(۲۴)که موضحه خطاءً وه نوپه هغه کې نصف عشرديت (پنځه اوښان) دي .

(۲۵)په هاشمه کې عشرديت (لس اوښان) دي .

(۲۶)په منقله کې عشرديت اونصف عشرديت (پنځلس اوښان) دي .

(۲۷)په آمه کې ثلث ديت واجب دی لقوله ﷺ وَفِي الْمَوضِحَةِ خَمسٌ مِنَ الاِبِلِ وَفِي الهَاشِمَةِ عشروفي المُنَقِّلَةِ خَمسَةَ عَشَرَوفِي الآمّةِ ثُلثُ الدّيَةِ

په موضحه کې پنځه اوښان دي په هاشمه کې لس اوپه منقله کې پنځلس اوښان په آمه کې ثلث ديت دی.

(۲۸)په جائفه زخم کې ثلث ديت دی لقوله ﷺ فِي الجَائِفَةِ ثُلثُ الدّيَةِ (په جائفه کې ثلث ديت دی) جائفه زخم هغه دی چې ترجوف پورې ورسيږي که په سينه کې وي که په ملاوغيره کې .

(۲۹)که جائفه زخم نفوذوکړنودادوې جائفې شمارل کيږي لهذاديت دوه ثلثه واجبيږي کماقضی بِذَالِکَ اَبُوبَکر رضی الله عنه .

(۳۰)وَفِي اَصَابِعِ الْيَدِ نِصْفُ الدِّيَةِ فَاِنْ قَطَعَهَا مَعَ الْكَفِّ فَفِيْهَا نِصْفُ الدِّيَةِ (۳۱)وَاِنْ قَطَعَهَا مَعَ نِصْفِ السَّاعِدِ فَفِي الْاَصَابِعِ وَالْكَفِّ نِصْفُ الدِّيَةِ وَفِي الزِّيَادَةِ حُكُوْمَةُ عَدْلٍ (۳۲)وَفِي الْاِصْبَعِ الزَّائِدَةِ حُكُوْمَةُ عَدْلٍ (۳۳)وَفِي عَيْنِ الصَّبِيِّ وَلِسَانِهِ وَذَكَرِهِ اِذَالَمْ تُعْلَمْ صِحَّتُهُ حُكُوْمَةُ عَدْلٍ

ترجمه :دلاس په ګوتو کې نصف ديت دی اوکه يې ګوتې له ورغوي سره پرې کړې نوهم نصف ديت دی اوکه ګوتې سره له نيم څنګلې ورپرې کړي نوپه ګوتواولاس کې نصف ديت دی اوپه زيادت کې حکومت عدل اوپه زياته ګوته کې حکومت عدل دی اودماشوم په سترګه دهغه په ژبه اودهغه په ذکرکې حکومت عدل دی که ددغواندامونوصحت نه معلوميده .

تشريح :(۳۰)ديوه لاس په ټولوګوتوکې نصف ديت دی ولې په يوه ګوته کې عشرديت (لس اوښان) دي نوپه پنځوګوتوکې نصف عشر(پنځوس اوښان) کيږي اوکه يې له ګوتوسره لاس هم پرې کړی وونوهم نصف ديت دی ولی ورغوی دګوتوتابع دی .

(۳۱)که یې ګوتې له نیم څنګل سره ورپرې کړې وي نو په ګوتو او ورغوي کې نصف دیت دی او په څنګل کې حکومت عدل (چې صورت یې مخکې تیر شو).

(۳۲)که چا دبل چا زیاته ګوته پرېکړه نو د شرافت آدمیت په خاطر په دي کې حکومت عدل دی ولي دا د انسان جزء دی که څه هم په دي کې منفعت یا زینت نشته.

(۳۳)که چا دیوه ماشوم سترګه یا ژبه یا ذکر ورغوڅ کړه او تر اوسه لا د دي اندامونو صحت معلوم نه وو نو په دي کې حکومت عدل دی ولی دا عضاؤ منفعت نه دی معلوم، بیا که په سترګو ویني او په ژبه خبرې کولای شي او ذکر یې حرکت کوي نو دا د اندامونو د جوړتیا علامه ده.

الالغاز: ای جان اذا مات المجنی علیه فعلیه نصف الدیة و اذا عاش فعلیه الدیة؟

فقل: الختان اذا قطع حشفة الصبی خطاء باذن ابیه فان مات الصبی وجب علی الختان نصف الدیة وان عاش فعلی الختان الدیة کلها. (الاشباه و النظائر)

(۳۴)وَمَنْ شَجَّ رَجُلاً مُوْضِحَةً فَذَهَبَ عَقْلُهُ اَوْ شَعْرُرَاْسِهِ دَخَلَ اَرْشُ الْمُوْضِحَةِ فِي الدِّيَةِ (۳۵)وانْ ذَهَبَ سَمْعُهُ اَوْ بَصَرُهُ اَوْ كَلَامُهُ فَعَلَيْهِ اَرْشُ الْمُوْضِحَةِ مَعَ الدِّيَةِ

ترجمه: که چا دبل چا سر داسي زخمی کړچې د هغه د سر څخه عقل یا ویښتان ضائع شول نو د زخم تاوان په دیت کې داخلیږي او که د دې زخم په وجه د هغه قوة سامعه یا باصره یا ګویائی قوت ختم شو نو پر هغه له دیت سره سره د دغه زخم تاوان هم شته.

تشریح: (۳۴)که چا دبل چا سر داسي ورزخمی کړچې په دي زخم سره د هغه عقل ختم شو یا د هغه د سر ویښتان داسی ضائع شو چې بیا نه راشنه کیږي نو د عقل او د سر د ویښتانو په ضائع کید و سره کل دیت دی بیا د دي زخم تاوان هم په دي کې داخلیږي ولي جزء په کل کې داخلیږي.

(۳۵)که د دغه زخم په وجه قوت سامعه یا باصره یا قوت ګویائی ختم شو نو پر زخم کونکي له دیت سره سره د دي زخم تاوان هم شته د اعضاء مختلفه ؤ په د ول د زخم تاوان په دیت کې نه داخلیږي بخلاف عقل چې د هغه منفعت ټولو اعضاؤ ته ګرځي.

الالغاز: ای رجل قطع اذن انسان وجب علیه خمس دینار وان قطع رأسه فعلیه خمسون دینارا؟

فقل: اذا خرج رأس المولود فقطع انسان اذنه ولم یمت فعلیه دیتها وان قطع رأسه فعلیه الغرة وغرة الغلام یساوی خمسین دینارا (الاشباه و النظائر)

(۳٦)وَمَنْ قَطَعَ اِصْبَعَ رَجُلٍ فَشَلَّتْ أُخْرىٰ اِلَى جَنْبِهَا فَفِيْهَا الْأَرْشُ وَلَا قِصَاصَ فِيْهِ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۳۷)وَمَنْ قَطَعَ سِنَّ رَجُلٍ فَنَبَتَتْ مَكَانَهَا أُخْرىٰ سَقَطَ الْأَرْشُ

ترجمه :که چادبل چاگوته وربړې کړه چې دهغه څنګ ته ګوته شله شوه نوپه دي کې تاوان دی اوپه دي کې قصاص نشته دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدکه چادبل چاغاښ ورمات کړيادهغه پرځای بل غاښ ووت نودهغه تاوان ساقطيږي.

تشريح :(۳٦)که چادبل چاګوته وربړې کړه چې له هغی سره بل ګوته هم شله شوه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپه دواړوکې ارش دی قصاص نشته،دصاحبينو رحمهما الله په نزدپه اول کې قصاص په دوهم کې ارش دی ،دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې قصاص مساوات غواړي اوچيرته چې مساوات ناممکن وي هلته قصاص نه وي اودلته مساوات ممکن نه دی ځکه قصاص نه واجبيږي.

(۳۷)که چادبل چاغاښ ورمات کړيادهغه پرځای بل غاښ ووت نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددهغه جرمانه ساقطيږي ولي منفعت وزينت دغاښ په پاتيدوسره دمجروح دحق جبيره شوه (همدا قول راجح دی).

(۳۸)وَمَنْ شَجَّ رَجُلًا فَالْتَحَمَتِ الْجَرَاحَةُ وَلَمْ يَبْقَ لَهَا اَثَرٌ وَنَبَتَ الشَّعْرُ سَقَطَ الْأَرْشُ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ اَرْشُ الْأَلَمِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ اُجْرَةُ الطَّبِيْبِ

ترجمه :که چابل څوک پرسرزخمی کړيادازخم جوړشواواثرېې پاتی نه وواوويښتان پري راغله نوتاوان ساقطيږي دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزداوامام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې پرجارح ددردرسولوتاوان واجب دی امام مامحمد رحمه الله فرمايلي دي چې پرجارح دطبيب اجرة کيږي.

تشريح :(۳۸)که چادبل چاسرورزخمي کړياهغه زخم جوړشواواثرېې هم پاتی نه شواوويښتان پرې راغله نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله جارح څخه جرمانه ساقطيږي ولي موجب دجرماني دمجروح پربدن عيب هغه اوس نه دی پاتی خالص دردوالم موجب دجرماني نه دی ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدپرجارح ددردرسولوجرمانه واجبه ده وَهُوحکومَةُ عَدلٍ،دامام محمد رحمه الله په نزدپرجارح دطبيب اجرة اوددواء قيمت واجب دي ولی مجروح چې طبيب ته أجرت ورکوي ياپردواء قيمت ورکوي دادجارح دفعل په وجه لازم شوي دي ،(دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی).

(۳۹)وَمَنْ جَرَحَ رَجُلًا جَرَاحَةً لَمْ يُقْتَصَّ مِنْهُ حَتّٰى يَبْرَأَ (۴۰)وَمَنْ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ خَطَأً ثُمَّ قَتَلَهُ خَطَأً قَبْلَ الْبُرْءِ فَعَلَيْهِ الدِّيَةُ وَسَقَطَ اَرْشُ الْيَدِ

ترجمه :که چادبل چاسرورزخمي کړنوله زخم کونکي څخه قصاص نه اخيستل کيږي ترڅوچې مجروح جوړشي که چاخطاءً دبل چالاس ورپرې کړييايې هغه خطاءً قتل کړترجوړيدومخکې نوپرقاتل ديت دی اودلاس تاوان ساقط شو.

تشريح :(۳۹)که چابل څوک په سرکې زخمي کړنوله زخم کونکي څخه قصاص نه اخيستل کيږي ترڅوچې مجروح جوړشي ځکه په زخمونوکې حال ته اعتبارنشته بلکې انجام ته اعتباردی ولي فی الحال يې حکم نه معلوميږي،کيدای شي چې زخم خراب شي نفوذوکړي دنفس دهلاکت سبب وګرځي لهذاله رغيدووروسته به يوه خبره سره کيږي .

(۴۰)که چاخطاءً دبل چالاس ورغوڅ کړاوترجوړيدومخکې دغه جارح هغه سړی خطاءً قتل کړنوپرقاتل دنفس ديت لازميږي اودلاس تاوان ساقطيږي ولي دواړه زخمونه ديوه جنس دي يعنې خطاءً واقع شوي دي اوکامل ديت دنفس بمع جميع اجزاء عوض دی فَدَخَلَ الطَّرف فِي النَّفس .

پر قاتل اوعاقله ددیت صورتونه .

(۴۱)وَكُلّ عَمَدٍ سَقَطَ فِيهِ الْقِصَاصُ بِشُبْهَةٍ فَالدِّيَةُ فِي مَالِ الْقَاتِلِ (۴۲)وَكُلّ أَرْشٍ وَجَبَ بِالصُّلْحِ وَالْإِقْرَارِ فَهُوَ فِي مَالِ الْقَاتِلِ۔

ترجمه :اوهرهغه قتل عمدچې پکې ديوې شبهې له مخې قصاص ساقط وي نوديت دقاتل په مال کې واجبيږي اوهرهغه مالي جرمانه چې په وجه دصلح اواقرارواجبه شوې وي هغه هم دقاتل په مال کې کيږي.

تشريح :(۴۱)امام قدوری رحمه الله يواصول بيانوي چې هرهغه قتل عمدچې پکې ديوې شبهې په وجه له قاتل څخه قصاص ساقط شوی وي ديت واجبيږي (مثلاًپلارزوی قتل کړنوپرقاتل قصاص نشته) نوداقسم ديت دقاتل په مال کې واجبيږي پرعاقله نه واجبيږی اودامال به قاتل په دري کاله اداکوي .

(۴۲)همداراز هرهغه مالي جرمانه چې پرقاتل دصلح يااقرارپه وجه واجب شوې وي هغه هم دقاتل له مال څخه اداکيږي پرعاقله نه ده په دي صورت کې ځرنګه چې په وجه دعقدواجبه شوې ده لهذادثمن بيع مشابه شوه فی الحال واجبه ده .

(۴۳)وَإِذَا قَتَلَ الْأَبُ ابْنَهُ عَمَدًا فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي ثَلَثِ سِنِينَ (۴۴)وَكُلّ جِنَايَةٍ اعْتَرَفَ بِهَا الْجَانِي فَهِيَ فِي مَالِهِ وَلَا يُصَدَّقُ عَلَى عَاقِلَتِهِ

ترجمه :که پلارخپل زوی عمداً قتل کړنو دهغه دیت دپلار له مال څخه په دریو کالو کې واجب الاداء ګرځي اوهرهغه جنایت چې مجرم یې خپله اقرار کړی وي هغه دده په مال کې کیږي دهغه پرعاقله دهغه تصدیق نه کیږي.

تشریح :(۴۳)که پلارخپل زوی عمداً قتل کړنو دهغه دیت دپلار له مال څخه په دریو کلونو کې واجب الادا ګرځي ځکه داداسي مال دی چې دقتل خطاء په وجه واجب شوی دی نو دادخطاء اوشبه عمد دیت په دول مؤجل کیږي.

(۴۴)هرهغه جنایت چې مجرم خپله اقرار کړی وي نو دیت یې دهغه له مال څخه اداکیږي دهغه پرعاقله دهغه تصدیق نه کیږي لقوله ﷺ :لایعقل العاقلۃ صُلحا ولا اعترافًا .

ژباړه :یعني عاقله مال اودمال اقرارپرغاړه نه شي بارولای .

(۴۵)وَعَمَدُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُوْنِ خَطَاءٌ وَفِيْهِ الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ

ترجمه :اودماشوم اولیوني عمد خطاء شمارل کیږي اوپه دي کې دیت پرعاقله دی.

تشریح :(۴۵)دماشوم اولیوني عمداًیوجرم کول هم خطاء شمارل کیږي لهذاددوئ دجرم په صورت کې دیت پرعاقله واجبیږي ولي دوئ لره قصدصحیح نشته په دي وجه چې عمداوقصدپرعلم موقوف دي اودعلم ذریعه عقل دی حال داچې په لیونی کې خوبلکل عقل نشته اوپه ماشوم کې ناقص دی نوددوئ له طرفه عمداوقصدنه متحقق کیږي همدا وجه ده چې دوئ دواړه ګناهګاریږي هم نه .

(۴۶)وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي طَرِيْقِ الْمُسْلِمِيْنَ أَوْ وَضَعَ حَجَرًا فَتَلَفَ بِذَالِكَ إِنْسَانٌ فَدِيَتُهُ عَلَى عَاقِلَتِهِ (۴۷)وإِنْ تَلَفَ بِهِ بَهِيْمَةٌ فَضَمَانُهَا فِي مَالِهِ (۴۸)وإِنْ أَشْرَعَ فِي الطَّرِيْقِ رَوْشَنًا أَوْ مِيْزَابًا فَسَقَطَ عَلَى إِنْسَانٍ فَعَطَبَ فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ (۴۹)ولا كَفَّارَةَ عَلَى حَافِرِ الْبِئْرِ وَوَاضِعِ الْحَجَرِ

ترجمه :که چادمسلمانانوپه لاره کې کوهی وکینده یایې ډبره کښېښوده بیادهغې په وجه یوانسان ضائع شونودهغه دیت دده پرعاقله کیږي اوکه دهغه په وجه یوحیوان تلف شونودهغه تاوان دفاعل په مال کې واجبیږي که چادلارې طرف ته روشن دان یاناوه وایستله بیاهغه پریوچاورایله شوه هغه هلاک شونوددهغه دیت دده پرعاقله کیږي اودکوهي پرکیندونکي اوډبره ایښودونکي کفاره نشته .

تشریح :(۴۶)که چادمسلمانانوپه لاره کې څاه کښېناوه یایې لوی صخرکښېښودبیادهغوپه وجه یوانسان ضائع شونودضائع شوي دیت دفاعل پرعاقله کیږي ولی دافاعل پخپل دي کارکې ترحدتجاوزکونکی دی نوچې کوم څه دده لدفعل څخه پیداشوي وي دی به دهغه ضامن وي .

(۴۷)که دده ددغه فعل په وجه یو حیوان تلف شونو دهغه تاوان دفاعل په مال کې واجبیږي ولي عاقله دمال تحمل نه کوي خالص دنفس کوي .

(۴۸)که چادلارې طرف ته روشن (هغه لرګی چې دلارې پردواړوطرفو دیوالونوپروت وي ددي لپاره چې له یوبام نه بل ته تګ راتګ ممکن وي ،یاروشن دان) یاناوه پریکړه بیاهغه پریوچاوراپله شوه هغه هلاک شونودهغه دیت دده پرعاقله کیږي ځکه ددي سړي دضائع کیدوسبب همدا شو .

(۴۹)پرڅاه کیندونکي اوډبره ایښودونکي کفاره نشته ولی کفاره پرحقیقی قاتل ده اودامتسبب دی متسبب حقیقتًاقاتل نه دی .

(۵۰)وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي مِلْكِهِ فَعَطِبَ بِهَا اِنْسَانٌ لَمْ يَضْمَنْ

ترجمه :که چاپخپل مِلک کې څاه وکیندی اوپه هغه کې یو انسان هلاک شونودی ضامن نه ګرځي .

تشریح :(۵۰)که چاپخپل مِلک کې څاه وکیندچې په هغه کې یو څوک هلاک شونوڅاه کیندونکی ضامن نه ګرځي ولی په دي کې دده له طرفه هیڅ تعدّی نه ده راغلې نودده په فعل چې کوم څه رامنځ ته شول دهغه پرده هیڅ ضمان نه کیږي.

دحیوانانودجنایاتوبیان

(۵۱)وَالرَّاكِبُ ضَامِنٌ لِمَا اَوْطَئَتِ الدَّابَّةُ وَمَا اَصَابَتْهُ بِيَدِهَا اَوْ كَدَمَتْ (۵۲)وَلَا يَضْمَنُ مَانَفَحَتْ بِرِجْلِهَا اَوْ ذَنْبِهَا (۵۳)فَاِنْ رَاثَتْ اَوْبَالَتْ فِي الطَّرِيْقِ فَعَطِبَ بِهِ اِنْسَانٌ لَمْ يَضْمَنْ

ترجمه :اوسپور ضامن کیږي دهغه چې حیوان یې پای مال کړي اوهغه چې دمخ په پښه یې ووهي یایې پرې کړي اودهغه نه دی ضامن چې حیوان یې په لته یاپه لکۍ ووهي اوکه حیوان په لاره کې بولې وبرازوکړي چې یوانسان پکې وښوهیږي مړشي نودی نه ضامن کیږي .

تشریح :(۵۱) که څوک پرسوارلۍ سپورونودی ضامن دی دهغه چې حیوان یې په پښوکې پایمال کړي یایې دمخ په پښه ووهي یایې پرې کړي .

(۵۲)اودهغه نه ضامن کیږی چې حیوان یې دشاپه لته یالکۍ ووهي ،په دي باره کې قاعده داده چې دمسلمانانوپه لاره کې تګ تهولوته مباح دی مګرپه دي قیدسره مقیدچې له کوم ضررنه ځان ساتل ممکن وي له هغه به احترازکوي دون مالایمکن ،نودحیوان چې په چاکې خیژي یایې پرې کوي له دي څخه احترازممکن

دی ځکه يې سپور ضامن دی او حيوان چې ځوک په لته وهي يا يې په لکی. وهي له دي ځخه احترازنه دی ممکن ځکه يې سپور نه ضامن کيږي.

(۵۳) که په لاره کې روان حيوان بولې او خوشايې وکړي چې په هغه کې يو ځوک وښوهيږي مړشي نو سپورنه ضامن کيږي ځکه دادلاري تلوله ضروریاتو ځخه دی چې احترازور ځخه ممکن نه دی.

(۵۴) وَالسَّائِقُ ضَامِنٌ لِمَا أَصَابَتْ بِيَدِهَا أَوْ رِجْلِهَا (۵۵) وَالْقَائِدُ ضَامِنٌ لِمَا أَصَابَتْ بِيَدِهَا دُوْنَ رِجْلِهَا (۵٦) وَمَنْ قَادَ قِطَارًا فَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا وَطَأَ فَإِنْ كَانَ مَعَهُ سَائِقٌ فَالضَّمَانُ عَلَيْهِمَا

ترجمه: اوله شاشړونکی ضامن دی دهغه چې دحيوان دمخ په پښه يادشاپه لته تاوان ورسيږي اومخ ته کشونکی ضامن دی دهغه چې حيوان يې دمخ په پښه ووهي نه دشادپښې که چاداوښانو قطاکشاوه نو دی ضامن دی دهغه چې اوښان پکې وخيژي اوکه له هغه سره دشاله خواشړونکی هم وونو ضمان پر دواړو دی.

تشريح: (۵۴) ځوک چې حيوان دشاله خواشړي هغه دهرداسی نقصان ضامن دی چې دحيوان دمخ يادشاد پښو ځخه تاوان ورسيږي ولي حيوان دشړونکی په مخ کې دی نو هغه يې له تاوان ځخه بچاوولای شي لهذا دممکن الاحترازکيدوپه وجه سائق ضامن دی.

(۵۵) که چاحيوان دمخ خواته کشاوه نوهغه خالص دحيوان دمخ دپښودنقصان ضامن دی دشادپښو دنقصان نه دی ضامن ولي هغه دده له نظره غائب دی.

(۵٦) که چاداوښانو قطارروان کړی وواوداقطارپه يوچاکې وخوت نوقطارنيونکی ضامن گرځي اوکه له هغه سره شړونکی هم ووچې دشاله خواپه قطارپسې وونوپه دي صورت کې قائداوسائق دواړه ضامنان گرځي لاشتراكهما في ذالک.

دمريي دجنايت بيان

(۵۷) وَإِذَا جَنَى الْعَبْدُ جِنَايَةً خَطَأً قِيْلَ لِمَوْلَاهُ إِمَّا أَنْ تَدْفَعَهُ بِهَا أَوْ تَفْدِيْهِ (۵۸) فَإِنْ دَفَعَهُ مَلَكَهُ وَلِيُّ الْجِنَايَةِ (۵۹) وَإِنْ فَدَاهُ فَدَاهُ بِأَرْشِهَا (٦٠) فَإِنْ عَادَ فَجَنَى كَانَ حُكْمُ الْجِنَايَةِ الثَّانِيَةِ حُكْمَ الْأُوْلَى (٦١) فَإِنْ جَنَى جِنَايَتَيْنِ قِيْلَ لِمَوْلَاهُ إِمَّا أَنْ تَدْفَعَهُ إِلَى وَلِيِّ الْجِنَايَتَيْنِ يَقْتَسِمَانِهِ عَلَى قَدْرِ حَقَّيْهِمَا وَإِمَّا أَنْ تَفْدِيَهُ بِأَرْشِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا

ترجمه: که مريي خطاً کوم جنايت وکړنو دهغه مولی ته ويل کيږي چې يادامريي دجنايت په بدل کې دجنايت ولي ته ورکړه يادهغه فديه ورکړه بياکه مالک مريي ورکړنو دجنايت ولي دهغه مالک گرځي اوکه مولی فديه ورکړه نودجنايت دتاوان په اندزاه فديه به ورکوي اوکه مريي بيادجرم ارتکاب وکړنو ددوهم

جنايت هم هغه حکم دی کوم چې داول دی او که مريی دوه جنايته وکړل نومولی ته ويل کيږي چې يادغه مريی ددواړو جناياتو مستحقينو ته ورکړه او هغوئ به په قدردخپل حق هغه سره تقسيم کړي اويا ددواړو دتاوان فديه ورکړه.

تشريح:(۵۷)که دچا مريی خطاءً يوجنايت وکړ(که يې ځوک قتل کړی وي يا يې ترهغه کم جنايت کړی وي) نودهغه مولی ته ويل کيږي چې تاته اختيار دی يادا مريی دجنايت ولي ته ورکړه يادهغه فديه ورکړه (دخطاء قيد ايښودلو وجه داده چې که مريی عمداً ځوک قتل کړنو په هغه صورت کې پرمريي قصاص واجب دی) وجه يې داده چې دجنايت خطاء ديت پرعاقله کيږي او دمريي عاقله دهغه مولی دی.

(۵۸)که مالک مريی ورکړنو ولي دجنايت دهغه مالک ګرځي او دهغه لپاره له دې نه علاوه بل شی نه کيږي.

(۵۹)که مولی فديه ورکړه نو دتاوان په اندازه فديه به ورکوي.

(۶۰)که دمولی له فديه ورکولو وروسته مريي بيادجرم ارتکاب وکړنو هغه حکم يې دی لکه دمخکيني جنايت لهذامولی ته بيا حکم ورکول کيږي چې يا مجنی عليه ته مريی ورکړه يادهغه تاوان فديه ورکړه ځکه دجنايت اول په فديه ورکولو سره هغه ختم شو داځل جرم ابتدائی جرم شمارل کيږي.

(۶۱)که مريی جرم وکړ او مالک دهغه فديه نه وه ورکړې چې مريي بل جرم وکړنو مولی ته ويل کيږي چې يادغه مريی ددواړو جرمونو مستحقينو ته ورکړي او دواړه مجنی عليهما به يې په قدردخپل حق هغه تقسيم کړي اويادي مولی هرفريق ته دهغه دنقصان په اندازه فديه ورکړي ځکه دلومړي جرم تعلق له مريي سره دبل جرم تعلق نه منع کوي لهذا ددواړو تاوان به ورکوي.

(۶۲)وَإِنْ أَعْتَقَهُ مَوْلَى وَهُوَ لَا يَعْلَمُ بِالْجِنَايَةِ ضَمِنَ الْمَوْلَى الْأَقَلَّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنْ أَرْشِهَا(۶۳)وَإِنْ بَاعَهُ أَوْ أَعْتَقَهُ بَعْدَ الْعِلْمِ بِالْجِنَايَةِ وَجَبَ عَلَيْهِ الْأَرْشُ

ترجمه:که مولی مريی آزاد کړ او حال دا چې دی دمريي په جنايت خبرنه وونومولی دهغه دقيمت او تاوان په کم ضامن کيږي او که مولی جنايت کارمريی وروسته له دې چې په جنايت يې خبرشو خرڅ يا آزاد کړنو بيا پرده خالص تاوان لازم دی.

تشريح:(۶۲) که مولی مريی آزاد کړ په داسې حال کې چې مولی دمريي په جرم خبرنه وونومولی دهغه دقيمت اوتاوان نه چې کوم يو کم وي په هغه ضامن کيږي ځکه چې کله هغه دمريي په جرم نه دی خبرنو دمولی عمل (آزاديدل) دانه بلل کيږي چې ده ګواکې دمريی دجرم فديه ورکول اختيار کړيدی ولي بيله علمه ديو شي اختيارول نه شي کيدای البته هغه داسې يو رقبه هلاک (آزاد) کړی دی چې په هغه پورې دولي جنايت حق متعلق شوی دی ځکه پرده ضمان لازميږي.

یادتاوان اوقیمت څخه چې کوم یو کم وي هغه به ورکوي ددي وجه داده چې که تاوان کم وونو پر مولی له هغه علاوه بل شی نه دی لازم ځکه به تاوان ورکوي او که قیمت کم وونو مولی په قدر دقیمت ضائع کړی دی زیات نه ځکه پر مولی قیمت لازمیږي.

(۶۳)که مولی مجرم مریی وروسته ترخبرتیا په جنایت خرڅ یاآزاد کړنو بیاخالص تاوان لازمیږي ولي سره له خبرتیاداسی تصرف کړی دی چې دهغه به وجه اوس مریی مجنی علیه ته نه ورکول کیږي نو داسي ویل کیږي چې مولی ګواکې فدیه ورکول اختیارکړولي مخیّربین الشیئین چې کله یو داسي فعل وکړي چې ددوشیانو څخه دیوه داختیارولو مانع وي نو ده لره هغه بل متعین دی.

(۶۴)وَإِذَا جَنَى الْمُدَبَّرُ أَوْ أُمُّ الْوَلَدِ جِنَايَةً ضَمِنَ الْمَوْلَى الْأَقَلَّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنْ أَرْشِهَا (۶۵)فَإِنْ جَنَى جِنَايَةً أُخْرَى وَقَدْ دَفَعَ الْمَوْلَى قِيمَتَهُ إِلَى الْوَلِيِّ الْأَوَّلِ بِقَضَاءٍ فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَيَتْبَعُ وَلِيُّ الْجِنَايَةِ الثَّانِيَةِ وَلِيَّ الْجِنَايَةِ الْأُولَى فَيُشَارِكُهُ فِيمَا أَخَذَ (۶۶)وَإِنْ كَانَ الْمَوْلَى دَفَعَ الْقِيمَةَ بِغَيْرِ قَضَاءٍ فَالْوَلِيُّ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ اتَّبَعَ الْمَوْلَى وَإِنْ شَاءَ اتَّبَعَ وَلِيَّ الْجِنَايَةِ الْأُولَى

ترجمه :که مدبر یاام ولد کوم جنایت وکړنو مولی دهغه دقیمت اوتاوان چې کوم یو کم وي دهغه ضامن ګرځي اوکه یې دوهم جنایت وکړحال داچې مولی دقاضی په حکم لومړي مجنی علیه ته دهغه قیمت ورکړی وونو بیاپر مولی هیڅ نه واجبیږي ددوهم جنایت ولي دي داول جنایت په ولي پسې شي اوله هغه سره دي په هغه شي کې شریک شي چې هغه اخیستی دی اوکه مولی بیله حکم دقاضی قیمت ورکړی وونو دوهم مجنی علیه ته اختیار دی یادي په مولی پسې شي یادي مجنی علیه اول نه پریږدي.

تشریح (۶۴)که مدبر یاام ولد خطاء یوجنایت وکړنو مولی دهغه له قیمت اوتاوان نه چې کوم یو کم وي دهغه ضامن ګرځي ځکه دمولی تدبیریااستیلاددمدبراوام ولدله ورکولوڅخه مانع دی لیکن څرنګه چې داابلااختیاردی لهذاداسي دی لکه یوڅوک چې خپل جنایت کارمریی مخکې ترعلم په جنایت سره آزادکړي.

(۶۵)که مدبربا ام ولدیودیوجنایت وروسته بل جنایت وکړحال داچې مولی دقاضی په حکم دلومړي جنایت ولي ته دهغه قیمت ورکړی وونو بیاپرمولی هیڅ نه واجبیږ البته ددوهم جنایت ولي به داول جنایت په ولي پسې شي اوله هغه سره به په هغه کې شریک شي چې هغه اخیستی دی ولي دلومړي جنایت ولي داسې یوشی قبض کړی دی چې ورسره ددوهم جنایت دولي حق متعلق شوی دی.

(۶۶)که مولی قیمت بیله حکم دقاضی دلومړي جنایت ولي ته ورکړنو ددوهم جنایت ولي اختیارلري چې یاپه مولی پسې شي ځکه مولی په اختیارهغه شی دجنایت اولی مستحق ته ورکړی دی چې له هغه سره

دجنايت ثانی حق متعلق شوی دی ثم يرجع المولی علی الاولی ،اويادي دلومړي جنايت په ولي پسې شي ولي هغه له مولی څخه دجنايت ثانی مستحق حق ظلمًا وړی دی.

دړنګيدونکي ديوال داحکامو بيان

(۶۷)وَإِذَامَالَ الْحَائِطُ إِلَى طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ فَطُولِبَ صَاحِبُهُ بِنَقْضِهِ وَأُشْهِدَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَنْقُضْهُ فِي مُدَّةٍ يَقْدِرُ عَلَى نَقْضِهِ حَتَّى سَقَطَ ضَمِنَ مَاتَلَفَ بِهِ مِنْ نَفْسٍ أَوْ مَالٍ (۶۸) وَيَسْتَوِي أَنْ يُطَالِبَهُ بِنَقْضِهِ مُسْلِمٌ أَوْ ذِمِّيٌّ (۶۹) وَإِنْ مَالَ إِلَى دَارِ رَجُلٍ فَالْمُطَالَبَةُ لِمَالِكِ الدَّارِ خَاصَّةً

ترجمه :که يو ديوال دمسلمانانو دلارې خواته کوږشو (په ړنګيدوشو)اودهغه دړنګيدومطالبه وکړای شوه دهغه له مالک څخه اوپردي ګواهان هم ودرول شول بياهم مالک ړنګ نه کړپه دومره زمانه کې چې هغه ړنګيدای شوای ترهغه چې ړنګ شونوپه دي سره چې دچامال ياځان ته تاوان ورسيږي مالک دهغه ضامن ګرځي برابره خبره ده که دړنګيدومطالبه مسلمان وکړي ياذمي اوکه ديوال دبل کورته طرف ته کوږشونو دړنګيدودمطالبی حق خاص دمکان مالک لره شته.

تشريح :(۶۷)که دچاديوال دمسلمانانودلارې خواته کوږشوخلکوله مالک څخه دهغه دړنګيدومطالبه وکړه اوپردي ګواهان هم ودرول شول مګرهغه داديوال ړنګ نه کړدومره وخت تيرشوچې که ده ړنګولای نوړنګولای يې شوای بياداديوال ړنګ شونوپه دي سره چې دچاځان يامال ته تاوان ورسيږي مالک دهغه ضامن ګرځي البته دنفس ضمان پرعاقله دی اودمال ضمان دديوال پرمالک دی ،خلکوله ده څخه دديوال دړنګيدوغوښتنه کړې وه،داقيداحترازي دی لهذاکه چيرته خلکوله ده څخه دړنګيدومطالبه نه وه کړې چې په هغه سره دچاځان يامال ضائع شونوبيامالک نه ضامن کيږي.

(۶۸)دړنګيدوپه مطالبه کولوکې مسلمان،ذمي،مريی اوماشوم ټول برابردي ولي په حق دمرورکې ټول برابردي.

(۶۹)که دچاديوال دبل چادکورطرف ته کوږشونودړنګيدودمطالبی حق خاص دمکان مالک لره شته ځکه په مکان کې خالص دمالک حق دی ،البته که بل څوک کرايه داريه هغه کې اوسيږي نوهغه ته هم حق شته.

(۷۰)وَإِذَااصْطَدَمَ فَارِسَانِ فَمَاتَافَعَلَى عَاقِلَةِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَادِيَةُ الْآخَرِ

ترجمه :اوکه دوه سواره پخپلوکې سره ټکرشول اودواړه مړه شول نودهريوه پرعاقله دهغه بل ديت واجبيږي.

تشريح :(۷۰)که دوه سواره خطاء سره ټکرشول او دواړه مړه شول نو دهريوه پرعاقله دهغه بل ديت واجب دي ولي دهريوه قتل دهغه بل فعل ته مضاف دی،شرط دادی چې دواړه به حُرخلک وي او که دواړه مريان وونو پرهيڅ هيڅ نه دي لازم .

(۷۱)وَاِذَاقَتَلَ رَجُلٌ عَبْدًاخَطَأًفَعَلَيْهِ قِيْمَتُهُ(۷۲)وَلَايُزَادُعَلٰى عَشَرَةِ الْآفِ دِرْهَمٍ فَاِنْ كَانَتْ قِيْمَتُهُ عَشَرَةَ الْآفِ دِرْهَمٍ اَوْاَكْثَرَ قُضِيَ عَلَيْهِ بِعَشَرَةِ الْآفٍ اِلَّاعَشَرَةً(۷۳)وَفِى الْاَمَةِ اِذَازَادَتْ قِيْمَتُهَاعَلَى الدِّيَةِ يَجِبُ خَمْسَةُ الْآفٍ اِلَّاعَشَرَةً(۷۴)وَفِى يَدِ عَبْدٍ نِصْفُ قِيْمَتِهِ لَايُزَادُعَلٰى خَمْسَةِ الْآفٍ اِلَّاخَمْسَةً

ترجمه :که چادبل چامريی خطاءً قتل کړنو پرهغه دمريي قيمت واجبيږي او دا قيمت به ترلس زره درهمه زيات نه وي بياکه دمريي قيمت لس زره درهمه ياترهغه زيات وی نو پرهغه لس درهم کم لس زره فيصله کيږي او په منځه کې که دهغې قيمت ترديت زيات وونو په لس درهم پنځه زره درهمه واجبيږي او دمريي په لاس کې دهغه نصف قيمت واجبيږي ليکن ترپنځه درهم کم پنځه زره به زيات نه وي .

تشريح :(۷۱)که چادبل مريی په قتل خطاء سره قتل کړنو پرهغه دمريي قيمت واجبيږي .

(۷۲)دا قيمت به ترلس زره درهمه زيات نه وي ولي دکامل (يعنې حُر)ديت لس زره درهمه دی نوکه دمريي (چې ناقص دی) دقتل په صورت کې هم دلس زره حکم ورکړل شي نودکامل اوناقص ترمنځ مساوات لازميږي ،لهذاکه دمقتول مريي قيمت لس زره درهم ياترهغه زيات وي نودمملوک مرتبه ترآزاددکم ثابتولولپاره په لس درهم کم لس زره به اداکوي .

(۷۳)همداحکم دمنځې دی چې که دهغې قيمت دحُرې ښځې ترديت يعنې پنځه زره درهمه زيات وي نوترلس درهم پنځه زره دراهمه کم به اداکوي .

(۷۴)که چادمريي لاس ورغوڅ کړنوپرهغه دمريي نصف قيمت واجبيږي ليکن دا قيمت به ترپنځه درهمه کم پنځه زره درهمه زيات نه وي ولي له انسان څخه لاس دهغه نصف دی نوپرکل باندي قياسيږي لهذاکوم حکم چې دمريي په باره کې دی هغه دده په نصف يعنې لاس کې هم دی البته دمريي اوآزاددفرق لپاره ترپنځه زره درهمه پنځه درهمه کميږي .

(۷۵)وَكُلُّ مَايُقَدَّرُمِنْ دِيَةِ الْحُرِّفَهُوَمُقَدَّرٌمِنْ قِيْمَةِ الْعَبْدِ

ترجمه :کوم مقدارچې دآزادديت ته مقرردی هغه دمريي قيمت ته مقرريږي .

تشریح :(۷۵)یعنې هرهغه مقدار چې د آزاد دیت څخه مقرر دی هغه د مریي قیمت ته مقرریږي لهذ چیرته چې په ځرکې نصف دیت دی هلته په مریي کې نصف قیمت دی ولي په مریي کې قیمت داسي دی لکه په ځرکې دیت.

(۷۶)وَاِذَاضَرَبَ بَطْنَ اِمْرَاَةٍ فَاَلْقَتْ جَنِیْنًا مَیِّتًا فَعَلَیْهِ غُرَّةٌ(۷۷)وَالْغُرَّةُ نِصْفُ عُشْرِ الدِّیَةِ(۷۸)فَاِنْ اَلْقَتْهُ حَیًّا ثُمَّ مَاتَ فَعَلَیْهِ دِیَةٌ كَامِلَةٌ(۷۹)وَاِنْ اَلْقَتْهُ مَیِّتًا ثُمَّ مَاتَتِ الْاُمُّ فَعَلَیْهِ دِیَةٌ وَغُرَّةٌ(۸۰)وَاِنْ مَاتَتِ الْاُمُّ ثُمَّ اَلْقَتْهُ مَیِّتًا فَعَلَیْهِ دِیَةٌ فِی الْاُمِّ وَلَاشَیْئَ فِی الْجَنِیْنِ

ترجمه :که چا ښځه پرخیټه ووهله هغې مړ ماشوم وزیږاوه نو په دې کې یو غره واجب دی او غره د دیت د لسمې حصې نصف دی او که ښځې ژوندی ماشوم وزیږاوه بیا هغه مړشو نو پرده کامل دیت واجبیږي او که ښځې مړ ماشوم وزیږاوه بیا دا مړه شوه نو پر وهونکي دیت او غره واجبیږي او که ښځه مړه شوه بیایې مړ ماشوم وزیږاوه نو پر وهونکي د ښځې دیت واجبیږي او د جنین هیڅ نه واجبیږي.

تشریح :(۷۶)که چا ښځه پرخیټه ووهله هغې مړ ماشوم وزیږاوه نو په دې کې یوه غره واجبیږي.

(۷۷)غره د دیت د لسمې حصې نصف دی یعنې که جنین(مړماشوم) مذکر وو نو د نارینه د دیت نصف العشر واجب دی او که جنین مؤنث وو نو د ښځې د دیت نصف العشر واجب دی.

(۷۸)که مضروبه ښځې ژوندی ماشوم وزیږاوه بیا هغه مړشو نو پر ضارب کامل دیت واجبیږي ځکه وهونکې تر پیدا ایښت مخکې په وهلو سره ضائع کړی دی.

(۷۹)که مضروبه ښځې مړ ماشوم وزیږاوه بیا دا ښځه مړه شوه نو پر ضارب د مورد قتل په وجه دیت او د جنین په وجه غره واجبیږي ولي د تعدد اثر په وجه فعل هم متعدد شمارل کیږي.

(۸۰)که د ضارب په اول وهلو سره مور مړه شوه بیا د هغې له خیټې نه مړ ماشوم پیدا شو نو پر وهونکې خالص د مور دیت واجبیږي او په جنین کې هیڅ نه واجبیږي ځکه ظاهر دا دی چې د جنین د مرګ سبب د مور مرګ دی فاحیل الیه.

(۸۱)وَمَایَجِبُ فِی الْجَنِیْنِ مَوْرُوْثٌ عَنْهُ

ترجمه :هغه چې په جنین کې واجب وي نو هغه له دده طرف څخه میراث دی.

تشریح :(۸۱)هغه څه چې په جنین کې واجب وي که دیت وي که غره وي هغه دده دوارثانو دي ولي دا د نفس بدل دی او بدل عن المقتول ورثه ؤلره دی،البته که قاتل وارث هم وي نو هغه ته هیڅ نه ورکول کیږي لانّ القاتل لایرث.

(۸۲)وَفِی جَنِیْنِ الْاَمَةِ اِذَا كَانَ ذَكَرًا نِصْفُ عُشْرِ قِیْمَتِهِ لَوْ كَانَ حَیًّا(۸۳)وَعُشْرُ قِیْمَتِهِ اِنْ كَانَ اُنْثٰی(۸۴)وَلَا كَفَّارَةَ فِی الْجَنِیْنِ

ترجمه :دمنځې په جنين کې که هغه مذکروونو دهغه دقيمت نصف عشردی که هغه ژوندی پيداشوا ودهغه دقيمت لسمه حصه ده که مؤنث وو اوپه جنين کې کفاره نه ده واجبه .

تشريح :(۸۲)که دمنځې ماشوم مذکرونو دهغه دژوندی پيداکيدوپه صورت کې دهغه دقيمت شلمه حصه واجبيږي .

(۸۳)اوکه هغه مؤنث وونولسمه حصه واجبه ده،دمورقيمت ته اعتبارنشته ځکه مقدارواجب دنفس دجنين بدل دی نو دهغه اندازه دهغه له ذات څخه کيږي وَفِي هَذِهِ صُورةٌ تَفضِيلُ الأُنثَى عَلَى الذَّكرِفِي الارش .

(۸۴)که دچاپه وهلوسره جنين ولويدمړشونوپرضارب کفاره نه ده واجبه بيشکه مندوبه ده ځکه کفاره په قتل کې واجبيږي حال داچې دجنين ژوندنه دی معلوم .

(۸۵)وَالكَفَّارَةُ فِي شِبهِ العَمدِ وَالخَطَإِ عِتقُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ (۸۶)فَإن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ (۸۷)ولا يُجزِئ فِيهِ الإِطعَام

ترجمه :اوپه قتل شبه عمداوقتل خطاء کې پرقاتل کفاره ديوه مؤمن مريي آزادول دي اوکه مريی نه وي نوپيوسته دوې مياشتې به روژې نيسي اوپه دي کې ډوډۍ ورکول کافي نه ده .

تشريح :(۸۵)په قتل شبه عمداوقتل خطاء کې پرقاتل کفاره لازمه ده اوکفاره داده چې يومؤمن مريی به آزادوي .

(۸۶)که يې مريی ونه مونده نوبيابه دوې مياشتې پيوسته روژې نيسي لقوله تعالى (فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهلِه......فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ.

يعنې رقبه مؤمنه آزادول دی اودمقتول اولياؤته ديت ورکول دی ......بياکه چاونه مونده نوپيوسته به دوې مياشتې روژې نيسی .

(۸۷)مگرپه دي دوصورتوکې شپيتومسکينانوته ډوډۍ ورکول کافي نه ده ځکه په دي باره کې نص نه دی واردشوی اوبدل بالرأی مقررول صحيح نه دی .

كتَابُ القسامة

داکتاب دقسامة په بيان کې دی

قســـــامة په لغت کې مطلقًادقسم په معنی دی ،اوپه اصطلاح دشرع کې دمخصوص عددپه سبب مخصوص اووجه مخصوصه سره قسم خوړلوته ويل کيږي،ددي خبرې تشريح داسي ده چې په يوه محله يامکان کې داسي يومقتول پيداشي چې قاتل يې معلوم نه وي حال داچې پرهغه دخفه کيدوياجراحت يواثرموجودوي نودهغه ځای له پنځوسوکسانوڅخه قسم اخيستل کيږي په دي ډول چې هريوبه قسم اخلي

چې والله ! دامانه دی قتل کړی اونه ماته ددي قاتل معلوم دی،اوشرط یې دادی چې پنځوس بالغ سړي به وي اوکه داشمیرپوره نه وونوله موجوده کسانوڅخه به مکررقسم اخیستل کیږي ترڅوپنځوس پوره شي اوله قسم وروسته ددیت حکم ورکړل کیږي چې وینې له ناحق بهید وڅخه محفوظې شي .

محلې والاؤته دقسم ورکولواوله هغوئ څخه ددیت اخیستلوعقلي وجه داده چې دمحلې حفاظت دهغوئ ذمه واري ده نوچې په دوئ کې مقتول پیداشومعلومه شوه چې هغوئ خپله ذمه واري نه ده اداکړې لهذاله هغوئ څخه قسم اودیت اخیستل کیږي .

له ماقبل سره یې مناسبت دادی چې دقتل په ځینوصورتونوکې دقسامت ضرورت پیښیږي ځکه یې دادذیاتوپه آخرکې دمستقل کتاب ترعنوان لاندي بیان کړی دی

(۸۸)وَإِذَاوُجِدَالْقَتِيلُ فِي مَحَلَّةٍلَايُعْلَمُ مَنْ قَتَلَهُ اُسْتُحْلِفَ خَمْسُونَ رَجُلًامِنْهُمْ يَتَخَيَّرُهُمُ الْوَلِيُّ بِاللهِ مَاقَتَلْنَاهُ وَلَا عَلِمْنَالَهُ قَاتِلًا(۸۹)فَإِذَاحَلَفُوْاقُضِيَ عَلَى أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِالدِّيَةِ(۹۰)وَلَايُسْتَحْلَفُ الْوَلِيُّ(۹۱)وَلَايُقْضٰى لَهُ بِالْجِنَايَةِ وَإِنْ حَلَفَ (۹۲)وَإِنْ أَبَى وَاحِدٌمِنْهُمْ حُبِسَ حَتّٰى يَحْلِفَ.

ترجمه : که په یوه محله کې مقتول پیداشواودامعلومه نه شوه چې چاداقتل کړی دی نودمقتول ولی به دمحلې له خلکوڅخه پنځوس کسان دقسم اخیستلوپاره انتخابوي چې والله موږنه دی قتل کړی اونه یې موږته قاتل معلوم دی بیاچې کله دوئ قسم واخلي نودمحلې پرخلکوددیت حکم کیږي اودمقتول له ولي څخه قسم نه اخیستل کیږي اونه فیصله کیږي دهغه لپاره دجنایت که څه هم هغه قسم واخلي که دمحلې له خلکوڅخه یوه له قسم اخیستلوانکاروکړنوهغه به محبوس کیږي ترهغه چې قسم واخلي .

تشریح :(۸۸)که په یوه محله کې مقتول پیداشواودامعلومه نه شوه چې چاداقتل کړی دی نودمقتول ولی به دمحلې له خلکوڅخه پنځوس کسان دقسم اخیستلوپاره انتخابوي ځکه حق دیمین ولی لره حاصل دی اوظاهره ده چې دداسي خلکوانتخاب به کوي چې پرهغوئ باندي دقتل شبهه وي یابه دمحلې نیک خلک انتخابوي چې هغوئ ددروغوله قسم اخیستلولیري اوسي په دي طریقه قاتل معلومیږي،بیاله دغوخلکو څخه به هریوداسي قسم اخلي چې والله ! مادانه دی قتل کړی اونه ماته ددي قاتل معلوم دی.

(۸۹)بیاچې کله هغوئ قسم واخلي نوقاضي به هغوئ ته ددیت اداکولوحکم ورکوي.

(۹۰)که دمحلې په خلکوکې دمقتول ولي هم وي نوله هغه څخه به قسم نه اخیستل کیږي ځکه ولي مدعي دی اوپرمدعي باندي بیّنه دي قسم نشته لقوله ﷺ :اَلبَيِّنَةُ على المُدَّعِى وَاليَمِينُ عَلى مَن أَنكَرَ(پرمدعي باندي گواهان دي اوڅوک چې منکروي پرهغه قسم دی) .

(۹۱) که د مقتول ولي پر چا الزام ولګاوه قسم يې واخيست چې دا قاتل دی نو د ولي پر قسم د هغه لپاره د جنايت فيصله نه کيږي ځکه يمين د دفع حق لپاره مشروع دی د استحقاق حق لپاره نه دی.

(۹۲) بيا که د محلې په خلکو کې کوم چې ولي منتخب کړي وويوه له قسم اخيستلو څخه انکار وکړ نو هغه به محبوس کړای کيږي ترڅو قسم واخلي ځکه په محله کې د قتل په وجه د محلې والاؤ ته قسم ورکول د مقتول د ورثه ؤ حق دی لهذا که يو څوک له قسم څخه انکار وکړي نو قيد کړای کيږي به.

(۹۳) وَإِنْ لَمْ يُكْمِلْ أَهْلُ الْمَحَلَّةِ كُرِّرَتِ الْأَيْمَانُ عَلَيْهِمْ حَتَّى يَتِمَّ خَمْسِينَ يَمِينًا (۹۴) وَلَا يَدْخُلُ فِي الْقَسَامَةِ صَبِيٌّ وَلَا مَجْنُونٌ وَلَا امْرَأَةٌ وَلَا عَبْدٌ

ترجمه: او که د محلې د خلکو عدد پنځوسو ته نه رسيده نو مکرريږي له موجوده کسانو څخه ترڅو چې پنځوس پوره شي، او قسامة نشته پر ماشوم باندې او ليوني او ښځه او مريي باندې.

تشريح: (۹۳) که د محلې د خلکو شمير پنځوسو ته نه ورسيد نو بيا دې له موجوده کسانو څخه مکرر قسم واخيستل شي ترڅو پنځوس قسمونه پوره شي ځکه دا ثابت بالسنة دی نو ترامکانه پوري يې تکميل واجب دی.

(۹۴) په قسامت کې ماشوم اوليونی نه داخليږي، ځکه دا قول صحيح اهل نه دي حال دا چې قسم يو قول صحيح وي، همدا رنګه پر ښځه او مريي باندې هم قسامة نشته ځکه دا کسان له اهل نصرت څخه نه دي حال دا چې قسم پر هغو خلکو باندې کيږي چې اهل نصرت وي.

(۹۵) وَإِنْ وُجِدَ مَيِّتٌ لَا أَثَرَ بِهِ فَلَا قَسَامَةَ وَلَا دِيَةَ (۹۶) وَكَذَلِكَ إِنْ كَانَ الدَّمُ يَسِيلُ مِنْ أَنْفِهِ أَوْ دُبُرِهِ أَوْ فَمِهِ (۹۷) فَإِنْ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ أَوْ أُذُنَيْهِ فَهُوَ قَتِيلٌ

ترجمه: که داسې يو مړی وموندل شو چې پر هغه هيڅ اثر نه وو نو نه قسامت شته او نه ديت شته او همدا حکم دی که چيرته وينه د مړي له پزې يا له دُبرې يا ترخوله بهيدلې وي او که يې وينه ترسترګو يا غوږ و نو بهيدلې وي نو دا مقتول شمارل کيږي.

تشريح: (۹۵) که په يوه محله کې يو داسې مړی پيدا شو چې د زخم يو نښان يا د وهلو ياد خفه کيدو نه وو نو بيا پر محله والاوو باندې قسامة او ديت هيڅ شی نشته ځکه دا سړی مقتول نه دی بلکې پخپل مرګ مړ شوی دی ولی د هغه د مقتول کيد و هيڅ دليل نشته.

(۹۶) همدا حکم د هغه مړي هم دی د چا چې ترپوزه يا خوله ياد بره وينې بهيدلې وي ځکه له د غو ځايو نو څخه وينه بې د چا د کاروائي په ناروغي وغيره سره وځي لهذا دا د هغه د مقتول کيد و دليل نه دی.

(۹۷)که وینه دهغه له سترګو یاغوږو څخه وتلې وي نودامقتول شمارل کیږي،ځکه عادةً داخبره معلومه شوې ده چې دمړي ترسترګه یاغوږووینه بهیدل هغه وخت راځي چې دیوژوندي له جانبه له هغه سره دفعل (وهلوتکولووغیره) ارتکاب شوی وي.

(۹۸)وَإِذَا وُجِدَ الْقَتِيلُ عَلَى دَابَّةٍ يَسُوقُهَا رَجُلٌ فَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ دُونَ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ (۹۹)وَإِنْ وُجِدَ الْقَتِيلُ فِي دَارِ إِنْسَانٍ فَالْقَسَامَةُ عَلَيْهِ وَالدِّيَةُ عَلَى عَاقِلَتِهِ

ترجمه:که مقتول پریوداسي حیوان پیداشوچې هغه شړونکی درلودی نودیت دهغه پرعاقله دی دمحلې پرخلکونه دی اوکه مقتول دچاپه کورکې پیداشونوقسامت دکورپروالاکیږي اودیت دهغه پرعاقله واجبیږي.

تشریح:(۹۸)که مقتول پریوداسي حیوان وموندل شوچې هغه یوچاشړی نودیت دهغه پرعاقله دی دمحلې پرخلکونه دی ځکه مقتول دهغه په قبضه کې دی لکه دهغه په کورکې چې پیداشي.

(۹۹)که مقتول دچاپه سرای کې پیداشونوقسامت دسرای پرمالک کیږي ځکه سرای دهغه په قبضه کې دی اودیت دهغه پرعاقله واجبیږي ځکه دهغه نصرت اوقوت په هغه سره دی.

(۱۰۰)وَلَا يَدْخُلُ السُّكَّانُ فِي الْقَسَامَةِ مَعَ الْمُلَّاكِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۱۰۱)وَهِيَ عَلَى أَهْلِ الْخِطَّةِ دُونَ الْمُشْتَرِينَ وَلَوْ بَقِيَ مِنْهُمْ وَاحِدٌ

ترجمه:اوپه قسامت کې دمکان له مالکانوسره دمکان اوسیدونکي نه داخلیږي دادامام ابوحنیفة رحمه الله مسلک دی اوقسامت پراهل خطه دی پرمشترینونه دی که څه هم له هغوئ څخه یوپاتې وي.

تشریح:(۱۰۰)په قسامت کې دمکان له مالکانوسره کرایه داران اوپه عارية اخیستونکي نه داخلیږي دادامام ابوحنیفة رحمه الله مسلک دی دلیل یې دادی چې مالک دمددلپاره مختص دی نه اوسیدونکي ولې دمالکانوسکونت لازمي اودائمي وي نوتدبیردولایت هم پردوئ کیږي لهذاتقصیردهغوئ له طرفه ثابتیږي،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدقسامت پرټولوواجبیږي ځکه ولایت تدبیرلکه په ملکیت سره چې ثابتیږي په سکونت سره هم حاصلیږي.

(۱۰۱)قسامت پراهل خطه دی که څه هم له هغوئ څخه یوباقي وي پرمشتریانونه دی ولې صاحب خطه اصیل دی اومشتري دخیل دی اوولایت تدبیرپراصیل دی دخیل دهغه مزاحم نه شي کیدای،دادطرفینورحمهماالله مسلک دی،دامام ابویوسف رحمه الله په نزدپرټولودی (دطرفینورحمهماالله قول راجح دی).

فائده :له اهل خطه څخه مرادهغه خلک دي چې له وخته دځمکې مالکان وي له کوم وخت نه چې امام
ښارفتح کړی وي او ځمکه يې دمجاهدينوترمنځ تقسيم کړي وي هريوه ته يې دهغه خپله حصه ليکلې ورکړې
وي.

(۱۰۲)وَاِنْ وُجِدَ الْقَتِيْلُ فِى سَفِيْنَةٍ فَالْقَسَامَةُ عَلَى مَنْ فِيْهَا مِنَ الرُّكَّابِ وَالْمَلَّاحِيْنَ (۱۰۳)وَاِنْ وُجِدَ فِى مَسْجِدِ مَحَلَّةٍ فَالْقَسَامَةُ عَلَى اَهْلِهَا(۱۰۴)وَاِنْ وُجِدَ فِى الْجَامِعِ اَوِ الشَّارِعِ الْاَعْظَمِ فَلَا قَسَامَةَ فِيْهِ وَالدِّيَةُ عَلَى بَيْتِ الْمَالِ

ترجمه :که مقتول په يوه کښتۍ کې وموندل شونوقسامت پرهغوخلکودی چې په کښتۍ کې سواره وي
اوپرکښتۍ وانانوباندي اوکه مقتول ديوې محلې په مسجدکې وموندل شونودهغه مسجدپرکليوالو
قسامت واجبيږي اوکه په جامع مسجدياشارع عام کې مقتول وموندل شونوپه هغه کې قسامت نشته
اوددغه مقتول ديت پربيت المال واجبيږي.

تشريح :(۱۰۲)که په کښتۍ کې يوسړی وژل شوی پيداشونوقسامت پرملاحينو(کښتۍ وانانو)
اوهغوخلکودی چې په کښتۍ کې سواره وي ولي کښتۍ دهغوپه قبضه کې ده.
(۱۰۳)اوکه مقتول ديوې محلې په مسجدکې وموندل شونودهغه مسجدپرخلکوقسامت واجبيږي ولي
ددغه مسجدولايت تدبيرهمدغوخلکولره حاصل دی.
(۱۰۴)که مقتول په شارع عام ياجامع مسجدکې وموندل شونوپه هغه کې قسامت کې نشته ولي جامع
مسجدياشارع عام دعاموخلکولپاره دی په دي کې دهيچاخصوصيت نشته ،اوددغه مقتول ديت پربيت
المال واجبيږي ولي بيت المال دعامومسلمانانودمصائبولپاره دی.

(۱۰۵)وَاِنْ وُجِدَ فِى بَرِّيَّةٍ لَيْسَ بِقُرْبِهَا عِمَارَةٌ فَهُوَ هَدَرٌ(۱۰۶)وَاِنْ وُجِدَ بَيْنَ قَرْيَتَيْنِ كَانَ عَلَى اَقْرَبِهِمَا(۱۰۷)وَاِنْ وُجِدَ فِى وَسْطِ الْفُرَاتِ يَمُرُّ بِهِ الْمَاءُ فَهُوَ هَدَرٌ(۱۰۸)وَاِنْ كَانَ مُحْتَبِسًا بِالشَّاطِئِ فَهُوَ عَلَى اَقْرَبِ الْقُرَى مِنْ ذَالِكَ الْمَكَانِ

ترجمه : که مقتول په يوه ځنګله کې پيداشوچې نژدي هيڅ آبادي نه وه نودهغه وينه هدرده اوکه ددوکليو
ترمنځ پيداشی نوکوم کلي ته چې ډيرنژدي وي قسامت اوديت پرهغوکيږي اوکه مقتول په وسط فرات کې
پيداشوچې په هغی کې اوبه بهيدلې نودهغه وينه هدرده اوکه مقتول ددرياب په کناره کې ايښودل شوی
وونوهغه ته چې کوم کلی ډيرنژدي وي قسامت اوديت پر[illegible]
تشريح :(۱۰۵) که مقتول په يوه ځنګله کې پيداشوچ[illegible] ي نه[illegible] هيڅ شی نشته
ځکه چې کله دی په داسي ځای کې پيداشوچې هلت[illegible] سيدلای
نوهيڅوک قصوروالانه شي کيدای.

(۱۰۶)که مقتول د دوکليو ترمنځ پيدا شونو چې کوم کلي ته نژدي وي قسامت او ديت پر هغه کيږي او که دواړه کلي په نژدي والي کې برابر وونو بيا پر دواړو کيږي .

(۱۰۷)که مقتول په وسط فرات (يا په يوه بله لويه واله کې چې د چا مِلک نه وه) پيدا شو چې په هغې کې او به بهيدلي نو هغه هم هيڅ تاوان نه لري، ځکه دا دول دريابونه (سندونه) دهيچا په قبضه او مِلک کې نه دي .

(۱۰۸)که مقتول ديو درياب په کناره کې ايښودل شوی وو نو بيا چې دغه درياب ته کوم کلی ترټولو نژدي وي قسامة او ديت پر هغه کلي باندي کيږي ځکه د دي ځای دنصرت لپاره هم دا خلک مختص دي .

(۱۰۹)وَإِنِ ادَّعَى الْوَلِيُّ عَلَى وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ بِعَيْنِهِ لَمْ تَسْقُطِ الْقَسَامَةُ عَنْهُمْ (۱۱۰)وَإِنِ ادَّعَى عَلَى وَاحِدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ سَقَطَتْ عَنْهُمْ

ترجمه : که دمقتول ولي دمحلې دخلکو څخه پريوه معلوم چا باندي دعوی وکړه نو بيا له اهل محلې څخه قسامة نه ساقطيږي او که دمقتول ولي دغير محلې پر خلکو دعوی وکړه نو له اهل محلة څخه قسامة ساقطيږي .

تشريح :(۱۰۹) که دمقتول ولي دمحلې دخلکو څخه پريوه معلوم چا باندي دعوی وکړه نو بيا له اهل محلې څخه قسامة نه ساقطيږي ځکه دمقتول ولي پخپله دعوی کې داهل محلې څخه تجاوز نه دی کړی بلکې په هغوئ کې يې تعين کړی دی .

(۱۱۰)که دمقتول ولي دغير محلې پر خلکو دعوی وکړه نو دا دعوی له اهل محلة څخه قسامة ساقطوي دفرق وجه داده چې پر اهل محلة باندي دقسامت واجب کيدل د دي خبرې دليل دی چې قاتل له دوئ څخه دی او دولي پر غير محله والاؤ باندي دعوی کول د دي خبرې بيان دی چې قاتل له هغوئ څخه نه دی حال دا چې اهل محلة به هغه وخت دديت تاوان پر سر باروي چې کله قاتل له دوئ څخه وي ځکه په دي صورت کې دا خلک تقديراً قاتل دي ولی دوئ دقاتل مخه نه ده نيولي .

(۱۱۱)وَإِذَا قَالَ الْمُسْتَحْلَفُ قَتَلَهُ فُلَانٌ اُسْتُحْلِفَ بِاللهِ مَا قَتَلْتُ وَلَا عَلِمْتُ لَهُ قَاتِلاً غَيْرَ فُلَانٍ (۱۱۲)وَإِذَا شَهِدَ اثْنَانِ مِنْ أَهْلِ الْمَحَلَّةِ عَلَى رَجُلٍ مِنْ غَيْرِهِمْ أَنَّهُ قَتَلَهُ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا

ترجمه :او که مستحلف وويل چې داسړی فلان شخص قتل کړی دی نو هغه ته داسي قسم ورکول کيږي چې والله ما نه دی قتل کړی او نه زه دهغه قاتل له فلاني پرته پيژنم او که د دي محلې خلکو دوکسانو پريوه داسي سړي گواهي ورکړه چې د دي محلې نه دی چې دا دهغه قاتل دی نو دهغوئ گواهي نه قبليږي .

تشریح :(۱۱۱) که مستحلف (چاته چې قسم ورکول کیږي) وویل چې دامقتول فلان سړي قتل کړی دی نو دهغه داخبره معتبره نه ده ځکه ددي خبرې په ذریعه خصومت له خپل ځان څخه لیري کول غواړي لهذا هغه ته قسم ورکول کیږي قسم به داسي کوي چې والله مانه دی قتل کړی اونه زه دهغه قاتل سِوادفلاني پیژنم.
(۱۱۲)په کومه علاقه کې چې مقتول پیداشوی دی که دهغې علاقې دووکسانوګواهي ورکړه چې فلان سړي (چې ددی کلي نه دی)ددي مقتول قاتل دی نو دهغوئ داګواهي نه قبلیږي ځکه داتهمت موجوددی چې دوی قسامة اودیت له خپل ځانه اړوي .

كِتَابُ المعاقل

داکتاب دمعاقل په باره کې دی

معاقل ،دمعقله (بفتح الميم وضم القاف) جمع ده ددیت په معنی دی اودیت ته معقله ځکه وایې چې داله عقل څخه دی اوعقل په معنی دراګرځولونودیت هم وینې له بهیدلوڅخه راګرځوي اوعاقله دقاتل نصرت کونکي اوعقل (دیت) اداکونکي ته وایې ،په عبارة کې مضاف مقدردی ای کتابُ اهلِ المعَاقلِ،ځکه ددیت بیان مخکي تیرشویدی دلته مقصدمن تجب علیهم الدیة،بیان دی .
له ماقبل سره یې مناسبت دادی چې په ماقبل کې دقتل خطاء موجب داسي بیان شوی دی چې پرعاقله باندي دیت واجبیږي مګردابیان نه دی شوی چې عاقله چاته ویل کیږي څه احکام یې دي؟ نو مصنف رحمه الله دغه تفصیلات دکتاب المعاقل، ترعنوان لاندي بیان کړي دي .

(۱)اَلدِّيَةُ فِي شِبْهِ عَمَدٍ وَالْخَطَاءِ (۲) وَكُلُّ دِيَةٍ وَجَبَتْ بِنَفْسِ الْقَتْلِ عَلَى الْعَاقِلَةِ

ترجمه :اودیت په شبه عمد او قتل خطاء کې شته اوهرهغه دیت چې محض دقتل په وجه لازم شوی وي هغه پرعاقله لازمیږي .

تشریح :(۱)په قتل شبه عمد او قتل خطاء کې چې کوم دیت لازمیږي هغه دقاتل پرعاقله دی .
(۲)همداراز هرهغه دیت چې خالص دقتل په وجه لازم وي هغه هم پرعاقله لازمیږي ،دخالص قتل په وجه دلازمیدوپه قید سره احترازدی له هغه صورت نه چې په هغه کې دیت خالص دقتل په وجه نه بلکې دصلح په وجه لازم وي ولي دیت واجب بالصلح پرقاتل لازم دی پرعاقله نه دی .

(۳)وَالْعَاقِلَةُ أَهْلُ الدِّيْوَانِ إِنْ كَانَ الْقَاتِلُ مِنْ أَهْلِ الدِّيْوَانِ (۴) يُؤْخَذُ مِنْ عَطَايَاهُمْ فِي ثَلٰثِ سِنِيْنَ فَإِنْ خَرَجَتِ الْعَطَايَا فِي أَكْثَرَ مِنْ ثَلٰثِ سِنِيْنَ أَوْ أَقَلَّ أُخِذَ مِنْهَا

ترجمه : اوعاقله به دفتروالاوي كه قاتل له دوئ څخه وواواخيستل كيږي به په دريوكالوكې ددوئ له عطاياؤ څخه اوكه ووتې عطاياتردريوكالوپه زياته موده كې ياپه كمه موده كې نوبيااخيستل كيږي له دوئ څخه .

تشريح :(۳) دقاتل عاقله دهغه اهل ديوان (ديوان هغه رجسترته ويل كيږي په كوم كې چې دوظيفه خورويافوځيانونومونه درج وي) كيږي په دى شرط چې قاتل له اهل ديوان څخه وي ځكه حضرت عمر ﷺ چې كله دفترونه (رجسترونه) مقرركړل نودهريوه ديت يې دهغه پر دبوان والاوومقرركړ،همدارنگه حضرت عمر ﷺ دصحابه كرامورضى الله عنهم په مجمع كې داكاركړى وو له صحابه كرامورضى الله عنهم څخه يوه هم ردنه دى كړى نودادصحابه كرامورضى الله عنهم څخه اجماع ده پردي كارباندي،همداوجه ده چې علماؤفرمايلي دي چې كه په دي زمانه كې يوداسي قوم وي چې دهغوئ ترمنځ مددگاري دكاروكسب په ذريعه وي نو هغه دكسب والادده عاقله كيږي اوديت دعاقله له داسي مال څخه اخيستل كيږي چې هغوئ ته دعطيه په توگه (هغه مال چې دفتروالاؤته په كال كې عطيةً يويادوه ځله وركول كيږي اورزق هغه دى چې ماهانه وركول كيږي) وركول كيږي .

(۴)پرهغوئ له فيصلې وروسته ديت په دريوكلونوكې له هغوئ نه اخيستل كيږي همداتقديرله پيغمبر ﷺ څخه مروي دى بياكه دغه عطاياعاقله ته دراتلونكيودريوكالونه په يوه كال كې وركول شي نوكل ديت له هغوئ څخه اخيستل كيږي اوكه ددريوكالونوعطايامثلاپه شپږوكالوكې وركول شي نوپه شپږوكالوكې به اخيستل كيږي.

(۵)وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ اَهْلِ الدِّيْوَانِ فَعَاقِلَتُهُ قَبِيْلَتُهُ (۶)تُقَسَّطُ عَلَيْهِمْ فِى ثَلٰثِ سِنِيْنَ لَا يُزَادُ الْوَاحِدُ عَلٰى اَرْبَعَةِ دَرَاهِمَ فِى كُلِّ سَنَةٍ دِرْهَمٌ وَدَانِقَانِ وَيُنْقَصُ مِنْهَا (۷)فَاِنْ لَمْ تَتَّسِعِ الْقَبِيْلَةُ لِذٰلِكَ ضُمَّ اِلَيْهِمْ اَقْرَبُ الْقَبَائِلِ مِنْ غَيْرِهِمْ (۸)وَيَدْخُلُ الْقَاتِلُ مَعَ الْعَاقِلَةِ فَيَكُوْنُ فِيْمَا يُؤَدِّى كَاَحَدِهِمْ

ترجمه :اوكه قاتل له اهل ديوان څخه نه وونوبيادهغه نسبي قبيله دهغه عاقله ده اوديت پرهغوئ په دريوكلونوكې تقسيميږي په دي ډول چې پرهرچابه په يوه كال كې ترڅلورودرهمونوزيات نه وي په هركال كې به يودرهم دوه دانقه وي اوتردي هم كميداى شي اوكه په قبيله كې توان نه وونوبله نژدې قبيله به ورسره ضم كړي اوله عاقله سره قاتل هم داخليږي دديت په ادائيگى كې به لكه دقبيلې يوسړى داسي وي .

تشريح :(۵) كه قاتل له اهل ديوان څخه نه وونودهغه عاقله دهغه نسبي قبيله ده ځكه دده نصرت له هغوئ څخه دى اوپه عاقله كيدوكې نصرت معتبردى .

(۶)اودادیت پرقبیله باندي په دريو کالوکې تقسيميږي په دي دول چې له هرڅاڅخه به تردرهم زيات نه اخيستل کيږي اوپه هرکال کې به پريوه سړي يودرهم دوه دانقه (يودانق ددرهم شپږمه حصه ده) کيږي ،داهغه وخت چې کله عاقله کم وي که عاقله زيات وونوله دي څخه هم کميږي .

(۷)که دقبيله والاکم وودهريوه څخه په کال کې ديوه درهم په اخيستلوسره په دريو کالوکې ديت نه پوره کيده بيابه پرنوروداسي قبيلوتقسيميږي چې دهغې قبيلې سره نژدي نسبي تعلق لري .

(۸)په قتل خطاء کې قاتل هم ددیت په ادائيګي کې په عاقله کې داخليږي ددیت په ادائيګی کې دعاقله والاؤڅخه ديوه فردپه حيث شمارل کيږي ځکه قاتل حقيقةً فاعل دی نودقاتل خارجول دنورومواخذه کول هيڅ معنی نه لري،په داسي حال کې چې امام شافعي رحمه الله فرمايي چې پرقاتل باندي له ديت څخه هيڅ واجب نه دي.

(۹)وَعَاقِلَةُ الْمُعْتَقِ قَبِيلَةُ مَوْلاه

ترجمه :اودآزادشوي عاقله دهغه دمولی قبيله ده .

تشريح :(۹) يعنې دمعتَق (آزادشوي مريي) عاقله دهغه دمولی قبيله ده ځکه دهغه نصرت په دوئ سره دی اومؤيديې داحديث شريف دی :مَولی القَومِ مِنهُم (يعنې ديوقوم آزادکرده مريی دهغه قوم سړی شمارل کيږي) .

(۱۰)وَمَوْلَى الْمُوَالَاتِ يَعْقِلُ عَنْهُ مَوْلَاهُ وَقَبِيلَتُهُ(۱۱)ولاتَتَحَمَّلُ الْعَاقِلَةُ أَقَلَّ مِنْ نِصْفِ عُشْرِ الدِّيَةِ وَتَتَحَمَّلُ نِصْفَ الْعُشْرِ فَصَاعِدًا(۱۲)ومانَقَصَ مِنْ ذَلِكَ فَهُوَ فِي مَالِ الْجَانِي

ترجمه :دمولی الموالات له طرفه عاقله دهغه مولی اودمولی قبيله ده اوعاقله ترنصف عشرديت کم نه برداشتوي اونصف عشراوترهغه زيات برداشتوي اوهغه چې تردي کم وي هغه دجنايت کونکي په مال کې کيږي .

تشريح :(۱۰) که چاله نوروسره عقدموالات کړی وونودهغه دجرم خطاء په صورت کې دهغه عاقله دهغه مولی اودمولی قوم ګڼل کيږي ځکه داهم دولاء العتاقة په دول وَلاء ده چې په کې ديوبل مددکول کيږي (عقدموالات دي ته وايي چې يوڅوک له بل چاسره دامعاهده وکړي چې که ماکوم جنايت وکړنودهغه تاوان پرتاباندي دی اوکه زه مړشوم نوزماوارث به ته يې) .

(۱۱)عاقله ددیت ترنصف عشر(ددیت دلسمې حصې نصف) په کم کې دمجرم مددنه کوي ولي عاقله ددې لپاره مددکوي چې پرجنايت کونکي زياته تنګي رانه شي اوترنصف عشرپه کم لازميدوکې بوج کم دی ځکه بې عاقله مددنه کوي البته په نصف عشرياترهغه په زيات تاوان کې عاقله مددکوي لمامرّ.

(۱۲)هغه تاوان چې ترنصف عشر کم وي هغه د جنايت کونکي له مال څخه ورکول کيږي .

(۱۳)وَلَاتَعْقِلُ الْعَاقِلَةُ جِنَايَةَ الْعَبْدِ (۱۴) وَلَاتَعْقِلُ الْجِنَايَةَ الَّتِي اعْتَرَفَ بِهَا الْجَانِي إِلَّا أَنْ يُصَدِّقُوْهُ (۱۵) وَلَاتَعْقِلُ مَا لَزِمَهُ بِالصُّلْحِ

ترجمه :عاقله د مريي د جرم ديت نه اداکوي او دداسي جنايت ديت هم نه ورکوي چې په هغه جنايت کونکي خپله اعتراف کړی وي مگرداچې عاقله د هغه تصديق وکړي او نه هغه ديت ورکوي چې پرجنايت کونکي دصلح په وجه لازم وي .

تشريح :(۱۳)ديوچاعاقله د هغه د مريي د جرم ديت نه اداکوي .

(۱۴)همدارازکه مجرم جرم وکړيايې پرخپل ځان د جرم اعتراف وکړچې داجنايت ماکړی دی نوپرده باندي چې کوم ديت راځي هغه هم پرعاقله باندي نه بلکې پرمجرم باندي راځي .

(۱۵)داسي ديت هم پرعاقله نه دی چې پرمجرم دصلح په وجه لازم شوی وي ، ځکه حضرت ابن عباس رضى الله عنهما فرمايې چې د قتل عمد ديت به عاقله نه اداکوي او نه دصلح او نه د اقرارکولو او نه د مملوک د جرم .

(۱٦)وَإِذَاجَنَى الْحُرُّ عَلَى الْعَبْدِ جِنَايَةً خَطَأً كَانَتْ عَلَى عَاقِلَتِهِ

ترجمه :که آزاد چاپرمريي خطاً جنايت وکړنوديت د جنايت کونکي پرعاقله دی .

تشريح :(۱٦)که يوه حُرسړي دبل چاپرغلام جنايت وکړقتل خطاء يې وکړنو د هغه ديت د جنايت کونکي پرعاقله دی ولي دادنفس عوض اودنفس عوض پرعاقله دی،البته که چاپرمريي تردي په کمه درجه جنايت وکړنو هغه عاقله نه برداشت کوي ولي دادجنايت على الاموال په درجه کې دی .

كِتَابُ الْحُدُوْد

حدود ،دحد جمع ده ،حدپه لغت کې دمنع په معنی دی اودروازه وان ته ځکه حدادوايي چې هغه خلک ل داخليدوڅخه منع کوي اوپه اصطلاح دشريعت کې هغې مقررې سزاته وايې چې خالص دالله تعالی دحق په دول حاصليږي،نوقصاص ته حدنه ويل کيږي ځکه قصاص که څه هم عقوبت دی مګرداد انسان حق دی هغه يې ساقطولای هم شي اودهغه عوض هم اخيستلای شي همدارازتعزيرته هم حدنه ويل کيږي ولي په تعزيرکې سزامقدره نه ده.

دحدودمناسبت له جنايات ،قصاص وغيره سره ظاهردی چې دواړه هريوپرمحظوراوزاجرعنه مشتمل دی،يادامناسبت دی چې په تيرکتاب کې دجنايت علی الغيراودهغه دموجب بيان ووپه کتاب الحدودکې دجنايت علی النفس ذکردی څرنګه چې اول اهم دی ځکه يې هغه مقدم کړی دی.

الحكمة :ان الله سبحانه وتعالى وان كان قدجعل لمن يرتكب الذنوب والآثام عقابايوم القيامة الاان ذالك لايمنع الناس عن ارتكاب مايضربالمصلحة الخصوصية والعمومية فى الحياة الدنياوايضاان من الناس من له قوة وسلطان لايقدرالمظلوم الضعيف على اخذحقه منه وبذالک تضيع الحقوق ويعم الفسادمن اجل ذالک وضعت الحدودوضعاشرعياكلافلالراحة البشرفى كل زمان ومكان حتى تمتنع الجرائم التى ترتكب وكل فعل يحدث فى الارض فسادالايمكن اصلاح هذاالابالعقوبة. (حكمة التشريع)

(۱)اَلزِّنَايَثبُتُ بِالْبَيِّنَةِوَالْاِقْرَارِ(۲)فَالْبَيِّنَةُاَنْ تَشْهَدَاَرْبَعَةٌمِنَ الشُّهُوْدِعَلٰى رَجُلٍ اَوِامْرَاَةٍبِالزِّنَا(۳)فَسَاَلَهُمُ الاِمَامُ عَنِ الزِّنَامَاهو(۴)وَكَيْفَ هووَاَيْنَ زَنَاوَمَتٰى زَنَاوبِمَنْ زَنَا(۵)فَاِذَابَيَّنُوْاذالِکَ وقالُوارَاَيْنَاهُوَطَاهَافِىْ فَرْجِهَاكَالْمِيْلِ فِى الْمُكْحلَةِ (۶)وَسَاَلَ الْقَاضِى عَنْهُمْ فَعُدِّلُوْافِى السِّرِّوَالْعَلانِيَةِحَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ

ترجمه :زناپه ګواهانواواقرارسره ثابتيږي اوشاهدان دادي چې څلورګواهان پريوه سړي ياښځه باندې دزناګواهي ورکړي بيابه دوخت حاکم دزنی په باره کې له ګواهانوڅخه پوښتنه کوي چې زناڅه شی دی اوچيرته يې زناوکړه څه وخت يې وکړه له چاسره يې وکړه بياچې کله هغوئ بيان وکړي اووايې چې موږداسې وليدی چې له دغې ښځې سره يې په فرج کې وطی وکړه لکه سلايې په رانجلونه کې اوقاضی به دهغوئ په هکله پوره تحقيق وکړي که په پټه اوښکاره عادلان وختل نوقاضي به دهغوئ دګواهي مطابق حکم ورکړي.

تشريح :(۱)زناپه ګواهانوسره اوخپله دزناکونکي په اقرارسره ثابتيږي ځکه اقراراوګواه دليل ظاهردی اوخاص هغه اقرارچې په هغه سره مقرته ضررر سيږي نوڅرنګه چې ترعلم قطعی رسيدل محال دی ځکه به ظاهري دليل اکتفاء کيږي.

(۲)دګواهانوصورت دادی چې څلورآزاداوعادل کسان په یوه مجلس کې پرېوه سړي یابڅه دزناګواهي اداکړي.
(۳)بیاتردغه ګواهي وروسته به امام له ګواهانوڅخه دزناپه باره کې پوښتنه وکړي چې زناڅه شی دی ځکه دفعل زناپربل شي هم اطلاق کیږي لکه العینان تزنیان (سترګي زناکوي) نوکیدای شي چې ګواه سترګوزناته زناویلي وي.
(۴)بیابه امام له ګواهانوڅخه دزنادکیفیت په باره کې پوښتنه وکړي ځکه خالص پرتماس ددوفرجینودزنااطلاق کیږي نوکیدای شي چې ګواه پرتماس دفرجینودزناګواهي ورکړي وي حال داچې پرهغه حدنشته،بیابه دزنادځای په اړه له ګواهانوسوال وکړي ځکه داکیدای شي چې زناپه دارحرب کې شوې وي چې پرهغه حدنشته،اوداسوال به وکړي چې له کومې ښځې سره یې زناکړې ده ځکه کیدای شي چې هغه ښځه ده ته حلاله وي،اوداسوال به وکړي چې کله یې زناوکړه ځکه کیدای شي چې هغه په پخوازمانه کې زناکړي وي چې په هغې کې حدنشته.
(۵)بیاچې کله ګواهان ددي سوالونوسم جواب ورکړي اووایې چې موږداسړی ولیدی چې له دې ښځې سره یې په فرج کې زناوکړه په داسي ډول لکه سلایې په رانجلونه کې.
(۶)نوقاضی به ددي ګواهانودظاهری اوباطنی حال په باره کې تحقیق وکړي که چیرته سرّاوعلانیةً دوئ عادل وختل نوقاضي به دهغوئ پرګواهي دزناکاري دثبوت حکم ورکړي.

الحکمة :الزناجريمة الجرائم واصل المفاسدوهومن الکبائروالحکمة فی تحريمه من وجوه منهاحفظ الانساب لانهااذاضاعت لم تکن هناک شعوب وقبائل وبطون وافخاذوعشائرفيفقدالتعارف الذی اراده الله تعالی بقوله (ياايهاالنّاس انّاخلقناکم من ذکروانثی وجلعناکم شعوباوقبائل لتعارفواانّ اکرمکم عندالله اتقاکم) ومنهاصيانة الاعراض من ان ينتهک فکم عرض انتهک فانزل العائلة من اعلاشرفات المجدالی اسفل درکات الضعة والاذلال وسوء السمعة ومنهاالرحمة بالولدلان ولدالزنااماان يموت صغيرالفقدمن يعتنی به لامتهانه واحتقاره واماان يعيش فی حالة مرذولة ممقوتة لفقدالتربية وعدم الادب وربماصارسفاکاللدماء مخلابالامن العام واذاتعلم وربح الاموال فانه يعيش بين الناس ذليلاکاسف البال اذاافتخرالناس بالانساب والاحساب وشرف الوبوة والعمومة والخؤلة ومادام الانسان کذالک فالحياة مريرة ومن اجل ذالک لايصفوالفکرولاتتوجه النفس لاصلاح امری الدنياوالدين. (حکمة التشريع)

(۷)وَالاِقْرَارُ اَنْ يُقِرَّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَلٰى نَفْسِهٖ بِالزِّنَا اَرْبَعَ مَرَّاتٍ فِيْ اَرْبَعَةِ مَجَالِسَ مِنْ مَجَالِسِ الْمُقِرِّ كُلَّمَا اَقَرَّ رَدَّهُ الْقَاضِيْ (۸)فَاِذَا تَمَّ اِقْرَارُهٗ اَرْبَعَ مَرَّاتٍ سَاَلَهُ الْقَاضِيْ عَنِ الزِّنَا مَاهُوَ وَكَيْفَ هُوَ وَاَيْنَ زَنٰى وَبِمَنْ زَنٰى (۹)فَاِذَا بَيَّنَ ذَالِكَ لَزِمَهُ الْحَدُّ

ترجمه :اقراردادی چې عاقل بالغ پرخپل ځان څلورځله په خپلوڅلورومجلسوکې دزنااقراروکړي دی چې هرځل اقرارکوي قاضي به هغه ردوي چې کله څلورځله اقرارپوره شي نو قاضی به له هغه نه دزناپه اره پوښتنه کوي چې زناڅه شی دی او څنګه کیږي او چیرته یې زنا وکړه له چاسره یې وکړه بیاچې کله هغه داټول شیان سم بیان کړي نوپر هغه حدلازمیږي .

تشریح :(۷)زناپه اقرارسره هم ثابتیږي داقرارصورت دادی چې عاقل بالغ پرخپل ځان څلورځله په څلورومجلسوکې دزناکولواقراروکړي دی چې هرځل اقرارکوي قاضی به هغه ردوي .

(۸)بیاچې کله یې اقرارڅلورځله پوره شي نوقاضی به له ده څخه دزناپه باره کې پوښتنې وکړي چې زناڅه شی دی اودزنادکیفیت په باره کې به پوښتنه وکړي چې زناڅرنګه وي اوداپوښتنه به وکړي چې له کومې ښځې سره یې زنا وکړه .

(۹)بیاچې کله دی ددي ټولوپوښتنوسم ځوابونه ورکړي نوپرده حدلازمیږي ولي حجت پوره شو،اوداشرط چې مقِریه عاقل بالغ وي ځکه شته چې دماشوم اولیوني اقرارنه دی معتبر،اوددخپلومجلسونوقیدیې ځکه ویلی دی چې اقرارقائم بالمقردی ځکه نودده مجلس معتبریږي نه دقاضی مجلس.

(۱۰)فَإِنْ كَانَ الزَّانِي مُحْصَنًا رَجَمَهُ بِالْحِجَارَةِ حَتَّى يَمُوتَ(۱۱)يُخْرِجُهُ إِلَى أَرْضٍ فَضَاءٍ(۱۲)يَبْتَدِئُ الشُّهُودُ بِرَجْمِهِ (۱۳)ثُمَّ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ(۱۴)فَإِنِ امْتَنَعَ الشُّهُودُ مِنَ الْابْتِدَاءِ سَقَطَ الْحَدُّ(۱۵)وَإِنْ كَانَ الزَّانِي مُقِرًّا ابْتَدَأَ الْإِمَامُ ثُمَّ النَّاسُ

ترجمه :که زناکارمحصن وونوحاکم به دی سنګساروي ترهغه چې مړکیږي اودی به دباندي یومیدان ته وباسي ددبروویشتلوشروع به ګواهان کوي بیاحاکم دوخت بیانورخلک اوکه ګواهانوله ابتداء په رجم څخه منع وکړه نوحدساقطیږي اوکه زناکاراقرارکړی وي نوشروع بالرجم به امام کوي بیانورخلک .

تشریح :(۱۰)که زناکارمحصن (هغه عاقل،بالغ اوآزادمسلمان چې په نکاح صحیح سره یې وطی کړې وي) وونو(دزناترثبوت وروسته) حاکم دی په دبروسنګسارکړي ترهغه چې مړکیږي ځکه چې رسول الله ﷺ ماعزبن مالک رضي الله عنه رجم کړ.

(۱۱)پرچاچې حدواجب دی هغه به یومیدان طرف ته وباسي .

(۱۲)که دده زناپه ګواهانوسره ثابته وه نوترټولومخکې به ګواهان هغه لره په دبروولي ځکه کله ګواهان پرکوچنی ګواهي جرأت کوي بیاچې کله دقتل غوندي عظیم کاروویني نودقتل دعظیم ګناه له ارتکاب کولوڅخه ویریږي له ګواهي څخه ګرځي نوپه ګواهانوسره په شروع کولوکې ددفع حدحیله راوځي.

(۱۳)بیاله ګواهانووروسته که امام حاضروونوتعظیمابه هغه دبرې وولي بیابه عام خلک چې دګواهانوشهادت ویني یاقاضی هغوئ ته درجم کولواجازه ورکړي.

(۱۴)که ګواهانو له شروع په رجم څخه منع وکړه نو حد ساقطيږي ولي دهغوئ منع درجوع عن الشهادة دليل دی.
(۱۵)او که دزناکارزنا خپله دهغه په اقرارثابته وه نوشروع به امام کوي بيابه نورخلک ډبرې ولي ځکه غامديه ښځه خپله رسول الله ﷺ دچهني برابر څودبروسره وويشتله اوغامديه خپله دزنا اقرارکړی وو.

(۱۶) وَيُغَسَّلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ (۱۷) وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مُحْصَنًا وَكَانَ حُرًّا فَحَدُّهُ مِائَةُ جَلْدَةٍ (۱۸) يَأْمُرُ الْإِمَامُ بِضَرْبِهِ بِسَوْطٍ لَا ثَمَرَةَ لَهُ ضَرْبًا مُتَوَسِّطًا (۱۹) يُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ (۲۰) وَيُفَرَّقُ الضَّرْبُ عَلَى أَعْضَائِهِ إِلَّا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَفَرْجَهُ

ترجمه :اوغسل ورکول کيږي اوکفن ورکول کيږي اودجنازې لمونځ يې کيږي اوکه زناکارمحصن نه وو اوآزادوونودهغه حدسل درې دي بيابه امام دهغه دوهلوحکم ورکړي په داسي دروسره چې په هغې کې غوټه نه وي په درميانه وهلوسره اودهغه جامې به وايستلي شي اوپرمتفرقواندامونوبه يې ووهي البته پرسر،مخ اوشرمګاه به يې نه وهي.

تشريح :(۱۶)مرجوم ته غسل ورکول کيږي کفن ورکول کيږي اودجنازې لمونځ پرکيږي ولي هغه په حق قتل شوی دی نوغسل نه ساقطيږي لکه دقصاص شوي چې غسل نه ساقطيږي اومروي دی چې رسول الله ﷺ غامديه ښځې ته لمونځ ورکړی دی لهذا مرجوم ته دجنازې لمونځ ورکول کيږي.
(۱۷)که زناکارمحصن نه وواوآزادوونودهغه حددرې دي لقوله تعالى (اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ)
ژباړه :زناکاره ښځه اوزاني سړی هريوسل درې ووهئ.
(۱۸)بيابه امام ددرميانه وهلوپه داسي درودوهلوحکم وکړي چې په هغې کې غوټه نه وي اودمتوسط وهلوقيدېې ځکه ايښي دی چې په سختووهلوسره دهلاکت خطره ده ،اوپه ډيرمعمولي وهلوسره مقصود(انزجار)نه حاصليږي.
(۱۹)دحدورکولوپه وخت کې به دهغه جامې له ازاربرته وويستلي شي ځکه رسول الله ﷺ حضرت علی ﷺ ته دحدودورکولوپه وخت دجاموايستلوحکم کړی و.
(۲۰)پرمتفرقواندامونوبه يې وهي ولي پريوه اندام په وهلوکې دهغه اندام دضائع کيدوخطره ده اوپرسر،مخ اوشرمګاه به يې نه وهي ولي سرمجمع الحواس دی نودېوه حس دضائع کيدوويره ده اومخ مجمع المحاسن دی نودحسن دزائليدوخطره ده اوشرمګاه مقتل دی.

(۲۱) وَإِنْ كَانَ عَبْدًا جَلَدَهُ خَمْسِينَ وَكَذَلِكَ الْأَمَةُ

ترجمه :که زناکارمريی وونوهغه به پنځوس درې وهي اوهمدا حکم دمنځې هم دی.

ريح :(۲۱)كه زناكاريو مريي يا منځه وه نو دهغه حد پنځوس درې دي په مذكوره طريقه سره، وجه يې دا ده
ې رقيت ځرنګه چې دنعمتونو تنصيف كوي همدا رازد عقوبت تنصيف هم كوي.

له اقرار او شهادت ځخه د رجوع بيان :

(۲۲)فَإِنْ رَجَعَ الْمُقِرُّ عَنْ إِقْرَارِهِ قَبْلَ إِقَامَةِ الْحَدِّ عَلَيْهِ أَوْ فِي وَسْطِهِ قُبِلَ رُجُوعُهُ وَخُلِّيَ سَبِيلُهُ

ترجمه :كه مقر له خپل اقرار ځخه رجوع وكړه پر هغه د حد قائيمد و مخكې يا د حد په منځ كې نو دهغه رجوع قبليږي او هغه به بېښودل كيږي.

تشريح :(۲۲)كه د چا زنا دهغه په اقرار سره ثابته شوې وه كه هغه د حد تر اجراء مخكې يا د حد په منځ كې له خپل اقرار ځخه رجوع وكړه نو هغه به پريښودل كيږي ولې له اقرار ځخه رجوع كول هم يو خبر دى چې پكې د رښتينوالي احتمال هم شته كما في الاقرار او په رجوع كولو كې هيڅوك دهغه تكذيب كونكى هم نشته لهذا په اقرار كې شبهه پيدا شوه و الحُدُودُ تَندرئُ بالشبهات (حدود په شبهاتو سره ليري كيږي).

(۲۳)وَيُسْتَحَبُّ لِلْإِمَامِ أَنْ يُلَقِّنَ الْمُقِرَّ الرُّجُوعَ وَيَقُولَ لَهُ لَعَلَّكَ لَمَسْتَ أَوْ قَبَّلْتَ

ترجمه : او امام لره مستحب دى چې مقر ته د اقرار ځخه د رجوع كولو تلقين وكړي په دي ډول چې ښايي تا هسې د ابنځه مس كړې وي يا دي مچه ور ځخه اخيستې وي.

تشريح :(۲۳)د امام لپاره مستحب دى چې ځوك د زنا اقرار كوي هغه ته له اقرار ځخه د رجوع كولو تلقين وكړي په دي ډول چې ښايي تا هسي د ابنځه مس كړې وي يا دي مچه ور ځني اخيستې وي ځكه رسول الله ﷺ ماعز ﷺ ته وويل چې ښايي تا د ابنځې ته لاس وروړى وي يا دي مچه ور ځني اخيستي وي.

(۲۴)وَالرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ فِي ذَلِكَ سَوَاءٌ(۲۵)غَيْرَ أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا تُنْزَعُ عَنْهَا ثِيَابُهَا إِلَّا الْفَرْوَ وَالْحَشْوَ(۲۶)وَإِنْ حُفِرَ لَهَا فِي الرَّجْمِ جَازَ

ترجمه :سړى او ښځه د حد په باب كې سره برابر دي البته دومره فرق يې شته چې له ښځې ځخه جامې نه ويستلې كيږي مګر پوستين او پنده كپړه او د رجم په صورت كې كه د ښځې لپاره كډى وكښل شي نو جائز دى.

تشريح :(۲۴)د حد په باب كې سړى او ښځه سره برابر دي ځكه نصوص دواړو ته شامل دي.

(۲۵)البته دومره فرق يې دى چې له ښځې ځخه جامې نه ويستلې كيږي د كشف عورت ځخه د ساتنې لپاره خاطر البته پوستين او حشو (له پنبه ډځخه جوړې كپړې ته وايي) كپړې ترې ويستلې كيږي ځكه دا له مضروب ځخه د ضرب د اثر مانع دي او ستر عورت له هغو بغير هم حاصل دى.

(۲۶)درجم په صورت کې که دښځې لپاره کډې وکيندل شي نو جائزبلکې احسن دی ولې چې دې کې دښځې لپاره پرده پوشي زياته ده.

(۲۷)وَلَا يُقِيمُ الْمَوْلَى الْحَدَّ عَلَى عَبْدِهِ وَأَمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِ الْإِمَامِ

ترجمه:او مولی پرخپل مريي او منځه حد نه شي جاري کولای مگر داچې امام اجازه ورکړي.

تشريح:(۲۷)مولی پرخپل مريي او منځه حد نه شي جاري کولای مگر دامام په اجازه سره ځکه حد جاري کول دالله تعالی حق دی لهذا مولی ته داحق نه دی حاصل او امام ياقائم مقام دامام دشريعت له خوانائب دی ځکه دحد قائمولو حق ورلره حاصل دی.

(۲۸)وَإِذَا رَجَعَ أَحَدُ الشُّهُودِ بَعْدَ الْحُكْمِ قَبْلَ الرَّجْمِ ضُرِبُوا الْحَدَّ وَسَقَطَ الرَّجْمُ عَنِ الْمَشْهُودِ عَلَيْهِ (۲۹)وَإِنْ رَجَعَ بَعْدَ الرَّجْمِ حُدَّ الرَّاجِعُ وَحْدَهُ وَضَمِنَ رُبُعَ الدِّيَةِ (۳۰)وَإِنْ نَقَصَ عَدَدُ الشُّهُودِ عَنْ أَرْبَعَةٍ حُدُّوا أَجْمَعِيْنَ

ترجمه:او که له گواهانو څخه يوه له خپلې گواهي نه رجوع وکړه درجم ترحکم وروسته او تررجم مخکې نوگواهانو ته حد قذف ورکول کيږي او له مشهود عليه څخه حد ساقطيږي او که تررجم کولو وروسته يوه گواه رجوع وکړه نو يوازې هغه ته حد قذف ورکول کيږي او دی دربع ديت ضامن کيږي او که دگواهانو شمير ترڅلورو کم وو نو ټولو ته حد قذف ورکول کيږي.

تشريح:(۲۸)که پرڅاڅلورو گواهانو دزنا گواهي اداکړه او قاضي درجم کيدو حکم ورکړاو دمشهود عليه تروهلو مخکې له گواهانو څخه يوه رجوع وکړه نو ټولو ته حد قذف ورکول کيږي، رجوع کونکي په رجوع سره ثابته کړه چې ما دروغو تهمت لگولی دی ځکه هغه ته حد قذف ورکول کيږي او باقي شاهدان ځرنگه چې په شميرکې ترمقدار دشاهدانو کم شول لهذا هغوئ هم ددروغو تهمت لگونکي شمارل کيږي لهذا پرهغوئ حد قذف جاري کيږي، او له مشهود عليه څخه حکم درجم ساقطيږي ځکه دحد تراقامت مخکې دگواهانو تعداد کم شو.

(۲۹)که دمشهود عليه ترسنگسار يدو وروسته يوه شاهد له گواهي څخه رجوع وکړه نو خالص رجوع کونکي ته حد قذف ورکول کيږي ځکه دهغه گواهي منقلبه په قذف شوه، او پرهغه دربع ديت تاوان هم واجبيږي ځکه هغه په خپله شاهدي سره ربع نفس تلف کړيدی.

(۳۰)که دشاهدانو شمير ترڅلورو کم شو نو ټولو ته حد قذف ورکول کيږي ولې داتهمت لگونکي دي.

(۳۱)وَإِحْصَانُ الرَّجْمِ أَنْ يَكُونَ حُرًّا بَالِغًا عَاقِلًا مُسْلِمًا قَدْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً نِكَاحًا صَحِيحًا وَدَخَلَ بِهَا وَهُمَا عَلَى صِفَةِ الْإِحْصَانِ

ترجمه :اودرجم محصن کیدل دادی چې انسان آزاد ،عاقل،بالغ اومسلمان وي چې له یوې ښځې سراپې صحیح نکاح کړې وي اوپه هغې یې دخول کړی وي په داسی حال کې چې هغوئ دواړه پرصفت احصان قائم وي.

تشریح :(۳۱)درجم لپاره چې محصن کیدل شرط دی نوداحصان معنی داده چې انسان آزاد،عاقل،بالغ مسلمان وي چې له یوې ښځې سره یې صحیح نکاح کړي وې اودخول یې په کړی وي په داسی حال کې چې دواړه پرصفت احصان قائم وي ،عاقل بالغ کیدل خوداهلیت سزاشرطونه دي ځکه ددي بغیرالله تعالی خطاب هغوئ ته نه متوجه کیږي اوباقی امورځکه شرط دي چې دکامل نعمت په وجه جرم هم کامل کیږي حال داچې مذکوره شیان له لویونعمتونوڅخه دي .

(۳۲)وَلَايُجْمَعُ فِى الْمُحْصَنِ بَيْنَ الْجَلْدِ وَالرَّجْمِ(۳۳)وَلَايُجْمَعُ فِى الْبِكْرِ بَيْنَ الْجَلْدِ وَالنَّفْيِ اِلَّااَنْ يَرَى الْاِمَامُ ذَالِكَ مَصْلَحَةً فَيُعَزِّرُبِهٖ عَلٰى قَدْرِ مَايَرٰى

ترجمه :په محصن کې به درې اورجم نه سره جمع کوي اوپه باکره کې درې اوله ښاره ایستل نه سره جمع کیږي مګرداچې امام په دي کې مصلحت ویني نوبیادي له ښارڅخه وایستل شي څومره چې مناسب یې ګڼي .

تشریح :(۳۲)کوم زانی چې محصن وي پرهغه په حدجاري کیدوکې له رجم سره درې وهل نه جمع کیږي ځکه مقصود(دنورولپاره زاجرکیدل) دزاني په رجم کیدوسره حاصلیږي ولي رجم انتهائي درجه سزاده اووروسته ترمرګ خپله دزناکارلپاره زاجرکیدل متصورنه دی .

(۳۳)دپیغلې انجلۍ چې زناوکړي له سلودروسره دیوه کال لپاره له ښارڅخه ورکیدل نه جمع کیږي ولې په آیت کریمه سره دهغی لپاره خالص درې ثابتی دي له ښاره ورکول پرنص زیادت دی،البته دتعزیرپه توګه دامام په رایه په داسې کولوکې کوم مصلحت وونودڅومروخت لپاره چې یې هغه مصلحت وګڼي داانجلۍ له ښارڅخه ورکولای شي ځکه له ښارڅخه ایستل ځینی وختونه ګټه ولري .

(۳۴)وَاِذَازَنَى الْمَرِيْضُ وَحَدُّهُ الرَّجْمُ رُجِمَ(۳۵)وَاِنْ كَانَ حَدُّهُ الْجَلْدَ لَمْ يُجْلَدْ حَتّٰى يَبْرَأَ(۳۶)وَاِذَازَنَتِ الْحَامِلُ لَمْ تُحَدَّ حَتّٰى تَضَعَ حَمْلَهَا(۳۷)وَاِنْ كَانَ حَدُّهَا الْجَلْدُ فَحَتّٰى تَتَعَالٰى مِنْ نِفَاسِهَا وَاِنْ كَانَ حَدُّهَا الرَّجْمُ رُجِمَتْ

ترجمه :که مریض زناوکړه اودهغه حدرجم وونورجم کیږي اوکه یې حددرې وي نوپه درونه وهل کیږي ترهغه چې روغ شي اوکه حامله ښځې زناوکړه نه په حدکیږي ترهغه چې ماشوم وزیږوي اوکه دهغې حدپه دروهل وي نوترهغه چې له نفاس څخه پاکیږي اوکه یې حدرجم وونورجم کیږي .

تشریح :(۳۴)که ناروغ زناوکړه اودی محصن دی دزناپه وجه پرهغه رجم واجب شوی وي نوهغه ته دروغتیاپوري مهلت نه ورکول کیږي بلکې رجم کیږي ځکه دهغه تلف کیدل لازم شوی دی نومرض یې مانع نه گرځي.

(۳۵)که دغه زناکارغیرمحصن وي نوپرهغه دزناپه وجه درې لازمي دي نوچې ترڅوروغ شوی نه وي په درونه وهل کیږي چې دمرض په وجه ددروپه وهلوهلاک نه شي.

(۳۶)که حاملې ښځې زناوکړه اودزناپه وجه پردې رجم واجب شونوهغه نه په رجم کیږي ترهغه چې ماشوم زیږوي ددې لپاره چې ماشوم هلاک نه شي ولی هغه نفس محترم دی.

(۳۷)که پرحامله دزناپه وجه درې واجبی وي نوچې ترڅوله نفاس څخه پاکه شوې نه وي ترهغه وخته په درونه وهل کیږي ولی دایوقسم مرض دی ځکه ترصحت پوري مؤخرکیږي،اوکه دهغې حدرجم وي نوله ولادت سره متصل په رجم کیږي ځکه تاخیردماشوم په وجه ووهغه پیدا شودنورتاخیرضرورت نشته.

(۳۸)وَإِذَا شَهِدَ الشُّهُوْدُ بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ لَمْ يَمْنَعْهُمْ عَنْ إِقَامَتِهِ بُعْدُهُمْ عَنِ الْإِمَامِ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمْ إِلَّا فِي حَدِّ الْقَذْفِ خَاصَّةً

ترجمه:که گواهانودتیرې زمانې په حدگواهي ورکړه چې نه وومنع کړي له گواهي ورکولوڅخه دهغوئ لیري والی له امام نه نودهغوئ گواهي نه قبلیږي مگرخاص په حدقذف کې.

تشریح :(۳۸)که گواهانودتیرې زمانې پرحدگواهي ورکړه حال داچې تراوسه پوري دهغوئ لپاره له گواهي ورکولونه هیڅ مانع نه وومثلاله امام نه لیري کیدل یامرض یادلارې ویره هیڅ شی نه وونودهغوئ گواهي نه قبلیږي ځکه دگواهي تاخیریادسترپوشي په نیت کیږي یاله هغه نه علاوه دتساهل پربناء وي په لومړي صورت کې اوس گواهي ورکول له عداوت نه پرته بل څه شی کیدای شي نودتهمت په وجه ددوئ گواهي نه قبلیږي اوپه دوهم صورت کې دتساهل په وجه داخلک فاسق دي ځکه یې گواهي نه معتبریږي، البته که چاپرېخواني حدقذف گواهي ورکړه چې هغه پرفلان دزنادروغوتهمت لگولی دی نودانه باطلیږي ځکه حدقذف له حقوق العبادڅخه دی اودوخت په تیریدوسره حقوق العبادنه باطلیږي.

(۳۹)وَمَنْ وَطِئَ أَجْنَبِيَّةً فِي مَادُوْنَ الْفَرْجِ عُزِّرَ

ترجمه :که چاله پردی ښځې سره له شرمگاه نه پرته په بل ځای کې جماع وکړه نوتعزیرورکول کیږي.

تشریح :(۳۹)که چاله پردی ښځې سره له شرمگاه نه پرته په بل ځای کې جماع وکړه مثلاخپله آله یې دښځې په ورانه یاخیټه کې وښوه نوداسړي ته تعزیرورکړل کیږي ځکه دمنکرفعل ارتکاب یې کړی دی لیکن دهغه لپاره کوم حدمقررنشته.

(۴۰)وَلَا حَدَّ عَلَى مَنْ وَطِئَ جَارِيَةَ وَلَدِهِ أَوْ وَلَدِ وَلَدِهِ وَإِنْ قَالَ عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ

ترجمه :حد نشته پر هغه چا وطی کړي منځه د خپل زوی یالمسي که څه هم دی ووایې چې زه پوهیدم چې دا پر ما حرام ده .

تشریح :(۴۰)که چا د خپل زوی یالمسي له منځې سره وطی وکړه نو پر هغه حد نشته که څه هم دی ووایې چې زه پوهیدم چې دا پر ما حرامه ده ځکه د رسول الله ﷺ له فرمان أَنتَ ومالُکَ لِابِیکَ (ته او ستا مال ستا د پلار دي) څخه معلومیږي چې د اولاد مال د پلار مال دی نو له دې څخه شبهه د حلت پیدا شوه که څه هم د شرعی دلیل په نظر وا قعا د دي حلت نه دی ثابت ،او شبهه فی المحل د حد لپاره رافع ده .

(۴۱)وإذا وَطِئَ جَارِيَةَ أَبِيهِ أَوْ أُمِّهِ أَوْ زَوْجَتِهِ (۴۲)او وَطَأَ الْعَبْدُ جَارِيَةَ مَوْلاهُ وقَالَ عَلِمْتُ أَنَّهَا عَلَيَّ حَرَامٌ حُدَّ وإنْ قَالَ ظَنَنْتُ أَنَّهَا تَحِلُّ لِيْ لَمْ يُحَدَّ (۴۳)ومَنْ وَطِأَ جَارِيَةَ أَخِيهِ أَوْ عَمِّهِ وقَالَ ظَنَنْتُ أَنَّهَا حَلالٌ حُدَّ

ترجمه :که چا د خپل پلار ،مور او خپلې ښځې له منځې سره وطی وکړه یا مریي د خپل مولی له منځې سره وطی وکړه او ویې ویل چې زه پوهیدم چې دا پر ما حرامه ده نو دی په حد کیږي او که یې وویل چې زما د اګمان وو چې دا زما لپاره حلاله ده نو بیا نه په حد کیږي او که چا د خپل آکا (تره) یا ورور له منځې سره وطی وکړه او ویې ویل چې زما د اګمان وو چې دا زما لپاره حلاله ده نو هغه په حد کیږي .

تشریح :(۴۱)که چا د خپل پلار ،نیکه ،مور یا خپلې ښځې له منځي سره وطی وکړه .

(۴۲)یا مریي د خپل مولی له منځې سره وطی وکړه او ویې ویل چې زه پوهیدم چې دا پر ما حرامه ده نو هغه ته حد ورکړل کیږي ځکه دا شبهه د حلت نه ده او که یې وویل چې زما د اګمان وو چې دا زما لپاره حلاله ده نو هغه ته حد نه ورکول کیږي ځکه د دې رشته دارانو ترمنځ په حصول انتفاع کې یو له بله اتصال شته نو ممکن دی چې هغوئ د وطی د مباح کید و ګمان کړی وي نو دا شبهه اشتباه ده ځکه حد ساقطیږي .

(۴۳)که چا د خپل ورور یا آکا له منځې سره وطی وکړه او ویې ویل چې زما د اګمان وو چې دا ماته حلاله ده نو هغه ته حد ورکول کیږي ولې چې د دوئ ترمنځ اتصال د اموالو نشته نو شبهه د حلت نشته ځکه نو حد ورکول کیږي.

(۴۴)وَمَنْ زُفَّتْ إِلَيْهِ غَيْرُ امْرَأَتِهِ وقَالَتِ النِّسَاءُ إنَّهَا زَوْجَتُكَ فَوَطِئَهَا فَلا حَدَّ عَلَيْهِ (۴۵)وعَلَيْهِ الْمَهْرُ (۴۶)ومَنْ وَجَدَ امْرَأَةً عَلَى فِرَاشِهِ فَوَطِأَهَا فَعَلَيْهِ الحَدُّ (۴۷)ومَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً لا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا فَوَطِأَهَا لَمْ يَجِبْ

ترجمه :که له چا سره د واده په شپه د هغه د ښځې پر ځای بله ښځه ولیږدوله شوه او ښځو داوویل چې دا ستا ښځه ده هغه له دې ښځې سره وطی وکړه نو پر هغه حد نشته البته پر د غه سړي مهر لازم دی او که چا و موندله

پرخپله بستره يوه ښځه اووطی يې کړه نوپرهغه حد واجبيږي اوکه چاله داسي ښځې سره نکاح وکړه چې له هغی سره دده نکاح حلاله نه وه بيايې له هغی سره وطی وکړه نوپرده حد نه دی واجب.

تشريح :(۴۳)که ترنکاح وروسته دواده په شپه له خاوند سره دهغه دښځې پرځای يوه بله ښځه واستوله شوه اوښځوده ته وويل چې دا ستاښځه ده دې سرې وطی ورسره وکړه نوپرده حد نشته ځکه ده پردليل اعتماد کړی دی يعنې په موضع داشتباه کې دښځوخبرورکول ولي انسان په اول وهلت کې دخپلې ښځې اوبلې ښځې ترمنځ فرق نه شي کولای فصار کالمَغرُورِ.

(۴۵)البته پردغه سړي دد ي ښځې لپاره مهرلازم دی ځکه په داراسلام کې وطی له حد يامهرڅخه خالی نه وي حدخوساقط شولهذا مهرواجب دی.

(۴۶)که چاپرخپله بستره ښځه وموندله له هغی سره يې وطی وکړه نوپرده حدواجبيږی ولي دطول صحبت په وجه دخپلې اوپردی، ترمنځ اشتباه نه شي کيدای نودده ګمان پرکوم دليل مبنی نه دی ځکه حدواجبيږي.

(۴۷)که چاله يوې داسي ښځې سره نکاح وکړه چې هميشه پرده حرامه وه بيايې له هغی سره وطی وکړه نوپرده حد نه دی واجب ځکه په وجه دعقد شبه دحلت پيداشوې ده.

(۴۸)وَمَنْ أَتَى اِمْرَأَةً فِي الْمَوْضِعِ الْمَكْرُوهِ وَاَوْعَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَيُعَزَّرُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللَّهُ هُوَ كَالزِّنَا فَيُحَدُّ

ترجمه :که چاله ښځې سره په مقام مکروه کې وطی وکړه يايې دلوط ﷺ دقوم عمل وکړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپرهغه حدنشته اوهغه ته تعزيرورکول کيږي صاحبينورحمهماالله فرمايلي دي چې لواطت دزناپه څيردی لهذا پرهغه حداوجبيږي.

تشريح :(۴۸) که چاله ښځې سره په مکروه ځای يعنې مقعده کې وطی وکړه يايې له نرسره لواطت وکړنودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدپرهغه حدنشته بلکې هغه ته تعزيرورکول کيږي اودصاحبينورحمهماالله په نزدلواطت دزناپه شان دی لهذا پرهغه حدواجبيږي.

دامام ابوحنيفة رحمه الله دليل دادی چې لواطت په حقيقت کې زنانه ده ځکه دد ې په سزاکې دصحابه کرامو رضي الله عنهم اختلاف دی چې په اوردې وسوځول شي يادي پرهغه ديوال راړنګ کړای شي وغيرذالک. (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۴۹)وَمَنْ وَطِئَ بَهِيمَةً فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ (۵۰)وَمَنْ زَنَا فِي دَارِ الْحَرْبِ أَوْفِي دَارِ الْبَغْيِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيْنَا لَمْ يُقَمْ عَلَيْهِ الْحَدُّ

ترجمه :که چاله حيوان سره وطی وکړه نوپرهغه حدنه دی واجب اوکه چاپه دارحرب کې يادباغيانوپه ملک کې زناوکړه بيادار اسلام ته راغی نوپرهغه حدنه قائميږي.

تشريح :(۴۹)كه چاله خپل يادبل چاله حيوان سره وطی وكړه نوپرهغه حدنه دی واجب ځكه داپه معنی دزنانه ده ،البته هغه ته تعزيرورکول كيږي ولي دمنكرفعل ارتكاب يې كړی دی .

(۵۰)كه چاپه دارحرب يادباغيانوپه مِلک كې زناوكړه بيادارالاسلام ته راغی نوپرهغه حدنه دی واجب ځكه ده په داسي ځای كې زناكړې ده چيرته چې زموږدامام تصرف نشته لهذاحدنه واجبيږي اودلته له راتلووروسته موجب دحدنشته ځكه نوحدنه دی واجب .

بَابُ حدّ الشرب

داباب دحدشرب په بيان كې دی

له حدالشرب څخه مراددحرام نشه كونكي شي دڅښلوحددی ،څرنګه چې زناترشرب محرم اقبح دی اودهغه سزاهم ترشرب محرم اغلظه ده اوپه وخت دسخت شهوت دزناطرف ته ميلان اووقوع هم په نسبت دشربِ محرم زيات دی ځكه يې ترحدشرب حدزنامخته ذكركړی دی .

(۵۱)وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَأُخِذَ وَرِيْحُهَا مَوْجُوْدَةٌ فَشَهِدَ الشُّهُوْدُ عَلَيْهِ بِذَالِكَ (۵۲)أَوْ أَقَرَّ وَرِيْحُهَا مَوْجُوْدَةٌ فَعَلَيْهِ الحَدّ (۵۳)وإِنْ أَقَرَّ بَعْدَ ذِهَابِ رَائِحَتِهَا لَمْ يُحَدَّ

ترجمه :كه چاشراب وڅښل بياونيول شوپه داسي حال كې چې دشرابوبوی موجوددی بياګواهانوپرده ګواهي وركړه يايې پخپله اقراروكړاودشرابوبوئ هم موجودوونوپرهغه حدواجب دی اوكه يې دشرابوله تربوئ زائليدووروسته اقراروكړنوحدنه وركول كيږي .

تشريح :(۵۱)كه چاپه خوښي سره شراب (شراب دانګوروشيره چې كله جوش وخوري اوتيزشي ځك وكړي) وڅښل كه څه هم يوه قطره وي بياونيول شوپه داسي حال كې چې دشرابوبوئ موجودوو اوګواهانو پرده دشرابوڅښلوګواهي وركړه .

(۵۲)ياپه داسي حال كې ده خپله دشرابوڅښلواقراروكړاودشرابوبوئ موجودونوپرده حد(اتيادرې) واجب دی ځكه جنايت شرب ثابت شواوزمانه هم ديره نه ده تيره شوې .

(۵۳)كه يې دشرابودبوئ له ختم كيدووروسته اقراروكړياګواهانوګواهي اداكړه نودشيخينورحمهماالله په نزدحدنشته ځكه دبوئ دزوال په وجه داشرب قديم دی نودزناقديم په دول په دي كې هم حدنشته .

(۵۴)وَمَنْ سَكِرَ مِنَ النَّبِيْذِ حُدَّ

ترجمه :كه څوک په نبيذسره نشه شوهغه ته حدوركول كيږي .

تشریح :(۵۴)څوک چې په نبیذ (یعنې دانګورو ،خرماوغیره تازه عرق) سره نشه شي نوهغه ته حدورکول کیږي ،دنشه کیدوقیدیې ځکه ویلی دی چې که دهغه په څیښلوسره نشه نه شونوبیاحدنه واجبیږي خلاف دشرابوچې په هغه کې دنشه کیدو قید نشته بلکې په لږشرابو څیښلوسره هم حدواجبیږي لږاوډیر څیښل دواړه برابردي.

(۵۵)وَلَا حَدَّ عَلَى مَنْ وُجِدَ مِنْهُ رَائِحَةُ الْخَمْرِ أَوْ مَنْ تَقَيَّاهَا (۵٦) وَلَا يُحَدُّ السَّكْرَانُ حَتَّى يُعْلَمَ أَنَّهُ سَكِرَ مِنَ النَّبِيذِ وَشَرِبَهُ طَوْعًا (۵۷) وَلَا يُحَدُّ حَتَّى يَزُوْلَ عَنْهُ السُّكْرُ

ترجمه :او حد نشته پرهغه چاچې دشرابوبوئ یې څي یاشراب قی کړي او حدنه ورکول کیږي په نشه مست ته ترهغه چې معلومه شی چې داپه نبیذسره نشه شوی دی اوپه خوښه یې څیښلي دي اوهغه ته حدنه ورکول کیږي ترهغه چې نشه یې زائله شي .

تشریح :(۵۵)که څوک په داسي حال کې وموندل شي چې له خولې نه یې دشرابوبوئ څي یایې شراب قی کړل نوهغه ته حدنه ورکول کیږي ځکه په بوئ کې احتمال شته چې دغیرشرابووي همدارازپه څیښلوکې هم احتمال شته کیدای شي چې دزورپه وجه یاپه حالت اضطراري کې یې څیښلي وي چې په هغه کې حد نشته .

(۵٦)همدارازهغه څوک چې په نشه مست وي هغه خالص دنشي په حالت کې دپیداکیدوپه وجه نه په حدکیږي ترهغه چې دامعلومه شي چې داپه نبیذومست دی یاپه شرابواوده په خوښه څیښلي دي یاپه زور،ځکه کیدای شي چې داسړی په بنګویابل داسي شي سره نشه شوی وي چې حدنه واجبوي .

(۵۷)په نشه نست ته حدنه ورکول کیږي ترهغه چې نشه یې ختمه شي چې دحد مقصود (یعنې دآینده لپاره له شرابوڅخه منع کیدل) ددردپه وجه حاصل شي حال داچې په سخته مستي کې ددرد احساس نه کیږي .

(۵۸)وَحَدُّ الْخَمْرِ وَالسُّكْرِ فِي الْحُرِّ ثَمَانُوْنَ سَوْطًا يُفَرَّقُ عَلَى بَدَنِهِ كَمَا ذَكَرْنَا فِي الزِّنَا (۵۹) فَإِنْ كَانَ عَبْدًا فَحَدُّهُ أَرْبَعُوْنَ

ترجمه :دشراب خوري اونشې حددحُرلپاره اتیادرې دي اودادرې به دهغه پربدن متفرقی وهل کیږي لکه دزناپه باب کې چې موږبیان وکړاوکه شراب خورمریی وونودهغه حدڅلویښت درې دي .

تشریح :(۵۸)دشراب خوري اونشې حددحُرلپاره اتیادرې دي ځکه پراتیادرې صحابه کرامو ﷺ اجماع کړی ده،اودادرې به دهغه پربدن متفرقی وهل کیږي کماذکرنافی حدالزنا.

(۵۹)که شراب خورمریی وونودهغه حدڅلویښت درې دي ځکه رقیت دنعمت اوعقوبت تنصیف کوي کمامرّ.

(٦۰)وَمَنْ أَقَرَّ عَلَى نَفْسِهِ بِشُرْبِ الْخَمْرِ وَالسُّكْرِ ثُمَّ رَجَعَ لَمْ يُحَدَّ

ترجمه :كه چاپر خپل ځان دشراب څيښلو يانشه كيد و اقرارو كړيبايې له اقرار څخه رجوع وكړه نوهغه نه په حد كيږي.

تشريح :(۶۰)كه چاپرخپل ځان دشرابو څيښلو ياپه نشه كيدونكي شي دنشه كيدواقراروكړيبايې له اقرارڅخه رجوع وكړه نوهغه نه په حدكيږي ځكه داخالص دالله تعالى حق دى په دي كې رجوع مقبوله ده كمامرّفي حَدّالزّنا.

(۶۱)وَيَثبُتُ الشُّربُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَينِ اَوْبِاِقْرَارٍ مَرَّةً وَاحِدَةً(۶۲) ولاتُقْبَلُ فِيهِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ

ترجمه :حدشرب ددوګواهانوپه ګواهي سره ياخپله دڅيښونكي په يوه ځل اقرارسره ثابتيږي اوپه دي كې له نارينه ؤسره دښځوګواهي نه قبليږي.

تشريح :(۶۱)حدشرب ددوګواهانوپه ګواهي سره ياخپله دڅيښونكي په يوه ځل اقرارسره ثابتيږي لكه له حدزناپرته نورحدود.

(۶۲)البته دشراب خوري په حد كې له نارينه ؤسره دښځوګواهي نه قبليږي ځكه داحددى اوپه حدودوكې دښځوګواهي نه معتبريږي.

بَابُ حَدّالقَذْفِ

داباب دحدقذف په بيان كې دى.

قذف لغةً دكانوغورځولو په معنى دى،اوشرعًاپرپاكو چادزنابهتان لګولوته قذف وايي،قذف بالاجماع ګناه كبيره ده.

حدقذف يې ترحدشرب وروسته ذكركړى دى وجه يې داده چې په حدشرب كې دشارب جرم قطعي دى اوپه قذف كې دقاذف جرم قطعي نه دى ځكه دقاذف دربښتينوالي احتمال شته.

(۶۳)اِذَاقَذَفَ الرَّجُلُ رَجُلاً مُحْصَنًا اَوِامْرَاَةً مُحْصَنَةً بِصَرِيحِ الزِّنَاوَطَالَبَ الْمَقْذُوفُ بِالْحَدِّحَدَّهُ الْحَاكِمُ ثَمَانِينَ سَوْطًا اِنْ كَانَ حُرًّا(۶۴) يُفَرِّقُ عَلَى اَعْضَائِهِ ولا يُجَرَّدُمِنْ ثِيَابِهِ غَيْرَ اَنَّهُ يُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُوَالْحَشْوُ(۶۵)وَاِنْ كَانَ عَبْدًاجَلَدَهُ اَرْبَعِينَ سَوْطًا

ترجمه :كه چاپرمحصن سړي يابښځه په صريحوالفاظوسره دزناتهمت ولګاوه اومقذوف دحدمطالبه وكړه نوكه قاذف ځرووي نوحاكم به هغه اتيادرې ووهي اودرې به دهغه پريدن متفرقى وهي اوله هغه څخه جامې نه

ايستلی کيږي البته پوستين اوپنډه کېږه (له پنبه ډنه جوړه کپړه) ځني ويستله کيږي اوکه هغه مريی وي نوهغه څلويښت درې وهل کيږي .

تشريح :(۶۳)که چاپريو محصن (محصن هغه آزادبالغ مسلمان دی چې په نکاح صحيح سره يې وطی کړي وي) سړي يامحصنه ښځه په صريحوالفاظو (مثلازنيتِ يا،يازانية) سره دزناتهمت ولګاوه اومقذوف عدالت ته ولاړی پرقاذف يې دحدجاري کيدوغوښتنه وکړه نوکه قاذف حُروو حاکم به هغه اتيادرې ووهي لقوله تعالی (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ.........فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً)

ژباړه :هغه کسان چې پرمحصنه ښځوتهمت لګوي بياپرخپل قول څلورګواهان نه شي حاضرولای نوهغوئ اتيادرې ووهئ) په آيت کريمه کې له يرمون څخه الزام بالزنامراددی ،اودمقذوف دمطالبی قيديې ځکه ويلی دی چې پرقاذف حدجاري کيدل دمقذوف حق دی له ځانه دعاردفع کولولپاره .

(۶۴)درې به دهغه پربدن متفرقی وهي کماسبق،اوله هغه به جامې نه ويستلې کيږي ځکه داپه حدودوکې اخف ترين حد دی په دې وجه چې ددې سبب قطعی نه دی ولې دقاذف دريښتياوالی احتمال شته البته پوستين اوله پنبه ډنه جوړه جامه به ترې باسي ځکه دادايصال دردمانع دی .

(۶۵)که الزام لګونکی مريی وونوهغه ته به څلويښت درې ورکوي ولې رقيت دنعمت اوعقوبت تنصيف کوي .

(٦٦)وَالْإِحْصَانُ أَنْ يَكُوْنَ الْمَقْذُوْفُ حُرًّا بَالِغًا عَاقِلًا مُسْلِمًا عَفِيْفًا عَنْ فِعْلِ الزِّنَا

ترجمه :اواحصان (دمقذوف محصن کيدل) دادی چې آزاد،عاقل،بالغ مسلمان اودزناله فعل څخه پاکدامن وي .

تشريح :(۶۶)دمقذوف محصن کيدل دامعنی چې آزاد،عاقل،بالغ ،مسلمان اودزناله فعل څخه پاکدامن وي،دآزادي قيديې ځکه ويلی دی چې محصن آزادته ويل کيږي کمافی قوله تعالی(فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ)

ژباړه :يعنې پردوئ دهغې سزانيمه سزاده کومه چې پرآزادوښځووي .

دعاقل اوبالغ قيديې ځکه لګولی دی چې ماشوم اوليوني ته عارنه لاحق کيږي ولې له دوئ څخه دزنافعل نه متحقق کيږي ،اودمسلمان قيديې ځکه ويلی دی چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي چې څوک له الله تعالی سره شرک وکړي هغه محصن نه دی ،اودزناله فعل څخه پاکدامني يې ځکه شرط کړې ده چې څوک پاکدامن نه وي هغه ته عارنه لاحق کيږي اودهغه په باره کې قاذف رښتونی هم دی .

(٦٧)وَمَنْ نَفَى نَسَبَ غَيْرِهِ فَقَالَ لَسْتَ لِأَبِيكَ أَوْ يَا ابْنَ الزَّانِيَةِ وَأُمُّهُ مُحْصَنَةٌ مَيِّتَةٌ فَطَالَبَ الِابْنُ بِحَدِّهَا حُدَّ الْقَاذِفُ (٦٨)وَلَا يُطَالَبُ بِحَدِّ الْقَذْفِ لِلْمَيِّتِ إِلَّا مَنْ يَقَعُ الْقَدْحُ فِي نَسَبِهِ بِقَذْفِهِ

ترجمه :كه چادبل دنسب نفی وكړه ويې ويل چې ته دخپل پلارزوی نه يې ياای دزانيه زويه اودهغه مورمحصنه مړه شوې ده بيازوی دموردحد مطالبه وكړه نوقاذف ته حدوركول كيږي اومطالبه نه شي كولای دمړه دحدقذف مگرهغه څوک چې دهغه په نسب كې پرمړه دتهمت په لگولوسره عيب لاحق كيږي.

تشريح :(٦٧)كه چادبل چادنسب دنفی وكړه مثلاويې ويل چې ته دخپل پلارزوی نه يې يايې يوچاته وويل ياابن الزانية(ای دزانيه زويه!) په داسی حال كې چې دهغه مورمحصنه مړه شوې ده بيايې زوی دمورد حد مطالبه وكړه نوقاذف ته حدوركول كيږي ځكه ده پريوه محصنه ښځه دهغی له مرگه وروسته تهمت لگولی دی نوهرهغه څوک چې په نسب كې يې پرمړه په تهمت لگولوسره عارلاحق كيږي هغه دحدمطالبه كولای شي .

(٦٨)امام قدوری رحمه الله فرمايلي دی چې دمړه لپاره دحدقذف مطالبه هيڅوک نه شي كولای مگرهغه څوک چې دهغه په نسب كې پرمړه دتهمت په لگولوسره عارلاحق كيږي اودادمړه اصول اوفروع دي ،ځكه عارهغوئ ته لاحق كيږي يودبل دجزء كيدوپه وجه لهذاهغوئ دحدقذف دمطالبې حق لري .

(٦٩)وَإِذَا كَانَ الْمَقْذُوفُ مُحْصَنًا جَازَ لِابْنِهِ الْكَافِرِ أَوِ الْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ بِالْحَدِّ (٧٠)وَلَيْسَ لِلْعَبْدِ أَنْ يُطَالِبَ مَوْلَاهُ بِقَذْفِ أُمِّهِ الْحُرَّةِ (٧١)وَإِنْ أَقَرَّ بِالْقَذْفِ ثُمَّ رَجَعَ لَمْ يُقْبَلْ رُجُوعُهُ

ترجمه :اوكه مقذوف محصن وي نودهغه كافريامريی زوی لره جائزدی چې پرقاذف دحدمطالبه وكړي اومريي ته نه دی جائزچې مطالبه وكړي پرخپل مولی پرخپله آزاده موردتهمت دحداوكه چاپربل دتهمت لگولواقراروكړبيابيرته وگرځيدنودهغه رجوع نه قبليږي .

تشريح :(٦٩)پرچاچې دزناتهمت لگول شوی دی كه هغه محصن وونودهغه كافريامريي زوی ته جائزدی چې پرقاذف دحدمطالبه وكړي ولی قاذف دمقذوف زوی ته عارراوړی دی په دي دول چې دهغه پرمحصن پلاريې تهمت لگولی دی .

(٧٠)كه مولی دخپل مريي پرحُره موردزناالزام ولگاوه نومريی دحدقذف دمطالبی حق نه لري ولي مولی ته دخپل مريي په وجه سزانه وركوله كيږي .

(۷۱)که چاپر بل چا د تهمت لګولو اقرار وکړ بیا له دغه اقرار څخه وګرځید نو دهغه رجوع نه قبلیږي ځکه په دي کې دمقذوف حق دی چې دده تکذیب کوي خلا ف له هغه صورت نه په کوم کې چې خالص دالله تعالی حق وي چې په هغه صورت کې دهغه تکذیب کونکی څوک نشته .

(۷۲)وَمَنْ قَالَ لِعَرَبِيٍّ يَا نَبَطِيُّ لَمْ يُحَدَّ (۷۳)وَمَنْ قَالَ لِرَجُلٍ يَا ابْنَ مَاءِ السَّمَاءِ فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ (۷۴)وَإِذَا نَسَبَهُ إِلَى عَمِّهِ أَوْ إِلَى خَالِهِ أَوْ إِلَى زَوْجِ أُمِّهِ فَلَيْسَ بِقَاذِفٍ (۷۵)وَمَنْ وَطِئَ وَطْئًا حَرَامًا فِي غَيْرِ مِلْكِهِ لَمْ يُحَدَّ قَاذِفُهُ

ترجمه :که چاعربي ته وویل چې ای نبطی نو هغه نه په حد کیږي که چابل چاته وویل چې ای دآسمان داوبو زویه نوقائل قاذف نه شمارل کیږي اوکه چابل څوک دهغه دآکا،یاماما یادمور دمیړه طرف ته منسوب کړنوقائل قاذف نه دی اوکه چاحرامه وطی وکړه دبل په مِلک کې نو دهغه قاذف ته حد نه ورکول کیږي .

تشریح :(۷۲)که چاعربي سړي ته وویل چې ای نبطی(نبطی عجمي بزګرانوته ویل کیږي) هغه نه په حد کیږي ځکه په دي سره په بد اخلاقی یاعدم فصاحت کې تشبیه ورکول مقصود ددزنا الزام نه دی .

(۷۳)که چابل چاته وویل چې ای دآسمان داوبوزویه نوقائل قاذف (دزناتهمت لګونکی) نه شمارل کیږي ځکه داپه ښواخلاقواوسخاء سره دهغه دمدح کولو احتمال لري ولی داصفائی اوسخاوت په وجه دنعمان ابن منذردنیکه لقب دی .

(۷۴)که چابل څوک دهغه آکایاماما یادهغه دمورمیړه ته منسوب کړنوداشخص قاذف نه دی ولي په عرف کې له دوئ څخه هریوه ته اب ویل کیږي مثلاًدالله تعالی په قول کې (نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ آبَائِكَ اِبرَاهِيمَ وَاِسمَاعِيلَ وَاِسحَاقَ) .

ژباړه :یعني مونږعبادت کووستادرب اوستادپلرونوحضرت ابراهیم علیه السلام اواسماعیل علیه السلام اواسحاق علیه السلام درب .

حضرت اسماعیل علیه السلام دحضرت یعقوب علیه السلام پلاربلل شوی دی حال داچې اسماعیل علیه السلام دیعقوب علیه السلام آکاوو،ولقوله ﷺ :الخالُ ابٌ (ماماپلاردی) . اوزوج الام ته دتربیت په وجه پلار وایي .

(۷۵)که چادبل په مِلک کې حرامه وطی وکړه (که څه هم مبنی پرشبهه وه لکه په نکاح فاسده کې) نوپردغه چاچې څوک دزناتهمت ولګوي هغه نه په حد کیږي ځکه مقذوف محصن نه دی .

(۷۶)وَالْمُلَاعِنَةُ بِوَلَدٍ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا (۷۷)وَإِنْ كَانَتِ الْمُلَاعِنَةُ بِغَيْرِ وَلَدٍ حُدَّ قَاذِفُهَا

ترجمه :دنفی ولدپه وجه دلعان کونکي قاذف نه په حد کیږي اوکه دنفی ولدنه پرته په بله وجه یې لعان کړی وي نو دهغه قاذف په حد کیږي .

تشریح :(۷۶)که دیوې ښځې خاوند دخپل بچي نسب له خپل ځان څخه نفی کړله ښځې سره یې لعان وکړنو پرهغه ښځه چې کوم څوک الزام لګوي هغه قاذف نه شمارل کیږي ځکه دملاعنه دبچي نسب نه ثابتیږي نو دادزناعلامه ده لهذا دا ښځه محصنه نه ده نو پرهغې دتهمت پرلګونکي حدنه جاري کیږي.
(۷۷)که لعان دنفی ولد نه علاوه په بله وجه شوی وو نو دهغې قاذف ته حدورکول کیږي ولي دا ښځه محصنه ده.

(۷۸)وَمَنْ قَذَفَ اَمَةً اَوْ عَبْدًا اَوْ كَافِرًا بِالزِّنَا اَوْ قَذَفَ مُسْلِمًا بِغَيْرِ الزِّنَا فَقَالَ يَا فَاسِقُ اَوْ يَا كَافِرُ اَوْ يَا خَبِيثُ عُزِّرَ (۷۹)وَاِنْ قَالَ يَا حِمَارُ اَوْ يَا خِنْزِيْرُ لَمْ يُعَزَّرْ

ترجمه :که چاپرمنځه یامریي یاکافریاندي دزناالزام ولګاوه یایې پرمسلمان له زناپرته بل تهمت ولګاوه مثلاورته ویې ویل چې ای فاسقه یاای کافره! ای خبیثه! نوتعزیرورکول کیږي اوکه یې ورته وویل چې ای خره ای خنزیره نوتعزیرنه ورکول کیږي.

تشریح :(۷۸)که چاپرمنځه یامریي یاکافردزناالزام ولګاوه نوقاذف نه په حدکیږي ځکه دامذکور افراد محصنین نه دي البته قاذف ته تعزیرورکول کیږی ولي ده پردغوخلکوعیب پوري کړ،اوکه چاپرمسلمان محصن له زناعلاوه بل تورولګاوه مثلاورته ویې ویل چې ای فاسقه یاای کافره یاای خبیثه یاای غله یاای فاجره یاای سودخوره نوهغه ته هم تعزیرورکول کیږي ولي پردغه سړي یې پوري کړ.
(۷۹)که چابل چاته وویل چې ای خره یاای خنزیره یاای سپیه !نوهغه ته تعزیرنه ورکول کیږي ولي ده په هغوئ پوري کوم عیب نه دی لاحق کړی ځکه دایقیني ده چې هغه سړی خروغیره نه دی ،یوقول دادی چې په عرف کې داښکنځاوي دي ځکه هغه ته تعزیرورکول کیږي.

دتعزیربیان

(۸۰)اَلتَّعْزِيْرُ اَكْثَرُهُ تِسْعَةٌ وَثَلٰثُوْنَ سَوْطًا وَاَقَلُّهُ ثَلَاثُ جَلْدَاتٍ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ يَبْلُغُ بِالتَّعْزِيْرِ خَمْسَةً وَّسَبْعِيْنَ سَوْطًا

ترجمه :دتعزیرزیات مقدارنه دیرش دري دي اوکم مقداریې دري دُري دي اوامام ابویوسف رحمه الله فرمایلي دي چې تعزیرترپنځه اویادروپوري رسیږي .

تشریح :(۸۰)تعزیرپه لغت کې مطلق تادیب ته ویل کیږي اوشرعاهغه تادیب ته وایي چې ترحدکم وي دهغه طرف ته په اشاره کولوسره امام قدوری رحمه الله فرمایلي دي چې تعزیرزیاته اندازه نه دیرش دري دي اوکمه اندازه یې دري دُري دي اودا ځکه چې په قذف کې دمریي حد څلویښت دري دي نوزیاته اندازه دتعزیر

نه ديرش درې تاكل شوې دي چې ترحدپورې ونه رسيږي دادطرفينورحمهماالله مسلک دی اوامام ابويوسف رحمه الله فرمايلي دي چې تعزيرترپنځه اويادروپورې كيدای شي ځكه داله حضرت علی رضی الله عنه څخه منقول دی.

(۸۱)وَإِنْ رَأَى الإِمَامُ أَنْ يَضُمَّ فِي التَّعْزِيرِ الْحَبْسَ فَعَلَ

ترجمه:كه امام مناسبه وبلله چې په تعزيركې له دروسره مجرم بندي كړي نوبندي دي كړي.

تشريح:(۸۱)كه دتعزيرپه باب كې امام له دروسره دمجرم بندي كول مناسبه وګڼله نوبندي دي كړي ولي مقصودتاديب دی نوكه امام پوئ شوچې په خالص وهلوسره حاصليږي په هغه دي اكتفاء وكړي كه نه بندي دي كړي.

(۸۲)وَمَنْ حَدَّهُ الإِمَامُ أَوْ عَزَّرَهُ فَمَاتَ فَدَمُهُ هَدَرٌ (۸۳)وَإِذَا حُدَّ الْمُسْلِمُ فِي الْقَذْفِ سَقَطَتْ شَهَادَتُهُ وَإِنْ تَابَ (۸۴)وَإِنْ حُدَّ الْكَافِرُ فِي الْقَذْفِ ثُمَّ أَسْلَمَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ

ترجمه:ترټولوسخت وهل په تعزيركې دي بيابه حدزناكې بيابه حدشرب كې بيابه حدقذف كې.

تشريح:(۸۲)په درووهلوكې ترټولوسختې درې وهل په تعزيركې وي ځكه په هغه كې ددرودشميرپه اعتبارتخفيف شوی دی نوپه وهلوكې سختي كيږي چې مقصودفوت نه شي بياترتعزيروروسته په حدزناكې سختي ده ولي چې زناډيرلوی جرم دی حتی چې په هغه كې درجم غوندي سخته سزامشروع ده بيابه حدشرب كې سختي ده ځكه ددې حدسبب (يعني شراب څښل) يقيني دی بيادحدقذف درجه ده ولي دهغه سبب يقيني نه دی ځكه كيدای شي چې الزام لګونكی رښتينی وي.

(۱)وَإِذَا سَرَقَ (۲)الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ أَوْ مَا قِيمَتُهُ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ مَضْرُوبَةً كَانَتْ أَوْ غَيْرَ مَضْرُوبَةٍ (۳)مِنْ حِرْزٍ لَا شُبْهَةَ فِيهِ وَجَبَ عَلَيْهِ الْقَطْعُ (۴)وَالْعَبْدُ وَالْحُرُّ فِيهِ سَوَاءٌ

ترجمه:چاته كه امام حدوركړيايې تعزيرووركړچې هغه مړشونودهغه وينه هدرده اوكه مسلمان په قذف كې په حدشونودهغه شاهدي ساقطه ده كه څه هم هغه توبه وباسي اوكه كافرته حدقذف وركړل شوبيامسلمان شونودهغه ګواهي قبليږي.

تشريح:(۸۳)چاته كه امام حدوركړيايې تعزيرووركړچې دهغه څخه دی مړشونودهغه وينه هدرده يعنې هيڅ ديت اوقصاص يې نشته ځكه امام دشريعت له خوا څخه په دې كارمأموردی اودمأمورفعل په شرط دسلامتي سره نه مقيدكيږي.

(۸۴)کوم مسلمان که په حدقذف سره حدکړای شونوبیایې ګواهي نه قبلیږي که څه هم دی توبه وباسي بیایې هم شاهدي نه قبلیږي لقوله تعالی (ولاتَقبَلُوا لهم شَهادةً اَبدًا) ژ:نوردهغوئ شاهدي مه منئ هیڅکله هم.

(۸۵)که کافرپه حدقذف کې په حدکړای شوبیامسلمان شونودهغه ګواهي قبلیږي ځکه اهلیت دشهادت هغه ته وروسته تراسلام حاصل شوفلم تدخل تحت الرّد.

كِتَابُ السَّرِقَةِ

داکتاب دغلاپه بیان کې دی.

سرقة په لغت کې دیوچایوشی بیله اجازې په پټه وړلوته وایې،اوپه اصطلاح دشریعت کې سرقه پرکومه چې شرعي حکم یعنې دلاس غوځیدل مرتب دی داده چې یوعاقل بالغ دیوچامحفوظ مال چې په اندازه دلسودرهمویازیات وي په پټ ډول یوسي.

له ماقبل سره مناسبت دادی چې امام قدوری رحمه الله دصیانة النفوس له متعلقه زاجراتوفارغ شونودصیانة الاموال په متعلقه زاجراتویې شروع وکړه ځرنګه چې نفس اصل دی ترمال ځکه یې دهغه متعلق بحثونه مقدم کړي دي.

دموجب قطع بیان

(۵)وَيَجِبُ القَطْعُ بِاقْرَارِ مَرَّةٍ وَّاحِدَةٍ اَوْ بِشَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ

ترجمه:که عاقل بالغ لس درهمه یاداسي یوشی چې لس درهمه قیمت یې درلودسکه داریاغیردارغلاکړله یوداسي محفوظ مقام څخه چې په هغه کې هیڅ شبهه نه وه نودغله لاس غوځیدل واجب دی اوځاومرییان په دې کې برابردي.

تشریح:(۱)له دې ځای څخه امام قدوری رحمه الله په تفصیلی ډول هغه ټول شرطونه ذکرکړي دي پرکوموچې شرعي حکم (یعنې لاس غوځیدل) مرتب وي یعنې که عاقل بالغ لس درهمه یاداسي شی چې قیمت یې لسودرهموته رسیږي که سکه داروي که غیرسکه دار له داسي محفوظ مقام څخه غلاکړي چې په هغه کې

هیڅ شبهه نه وي نودغله لاس غوڅېدل واجب دی په دي باره کې اصل دالله تعالی قول دی (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقطَعُوا اَیدِیَهُمَا)

ژباړه :یعنې دغله سړي اودغلې ښځې لاسونه غوڅوئ.

(۲)دلاس غوڅیدوشرط دادی چې عاقل بالغ به وي ځکه دعقل اوبلوغ بغیرجرم نه متحقق کیږي لهذادماشوم اولیوني لاس نه غوڅیږي اوداهم شرط دی چې مال به لس درهمه وي یابه داسي یوشی وي چې قیمت یې لسو درهموته رسیږي لقوله ﷺ :لاَقَطعَ اِلاَفِی دِینَارٍ اوعَشرَةِ دَرَاهِم.

ژباړه :لاس نه غوڅیږي مگرپه یوه دینار یالسو درهمونو کې.

اوداچې وویل شوچې دراهم که سکه داروي که غیرسکه دار،داله امام ابو حنیفة رحمه الله څخه دحسن بن زیاد رحمه الله روایت دی حال داچې ظاهرروایت دادی چې دراهم به سکه داروي ځکه په عرف کې ددرهمونو اطلاق پرسکه دارو کیږي ،همدادصاحبینو رحمهما الله قول دی.

(۳)داهم شرط دی چې مال به په داسي محفوظ مکان کې وي چې په هغه کې شبهه نه وي ځکه په پټه مال وړل بغیردمحفوظیدونه شي متحقق کیدای اوداهم شرط دی چې په محفوظیدو کې به شبهه نه وي ولي شبه حددفع کوي.

(۴)دلاس په غوڅیدو کې ځراومریی برابردي ولي په لاس غوڅیدو کې تنصیف متعذردی لهذاکامل لاس غوڅیږي،صِیَانَةً لِاَموَالِ النَّاسِ.

(۵)وَیَجِبُ القَطعُ بِاِقرَارِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً اَو بِشَهَادَةِ شَاهِدَینِ

ترجمه :لاس غوڅیدل واجبیږي دغله په یوځل اقرارکولو سره یاددوشاهدانو په گواهي ورکولو سره.

تشریح :(۵)که غله دغلاکولو یوځل اقرار وکړنو دطرفینو رحمهما الله په نزددهغه لاس غوڅیږي، یادو گواهانودغله پرغلاباندي گواهي ورکړه نوهم دغله لاس پرې کیږي لکه په نوروحقوقو کې اودلازیات احتیاط لپاره به امام له گواهانو څخه دغلاکیفیت اوماهیت دغلادزمان اومکان اودمال مسروق دمقداراو دمسروق منه په باره کې پوښتنې وکړي چې په یوه طریقه ددفع حد حیله راووځي ،دامام ابویوسف رحمه الله په نزددغله دوه ځله اقرارکول ضروري دی.

(۶)وَاِذَا اشتَرَکَ جَمَاعَةٌ فِی سَرِقَةٍ فَاَصَابَ کُلُّ وَاحِدٍ مِنهُم عَشرَةُ دَرَاهِمَ قُطِعَ (۷)وَاِن اَصَابَ اَقَلَّ مِن ذَالِکَ لَم یُقطَع.

ترجمه :که په غلاکولو کې یوه ډله سره شریک شو بیاهریوه ته لس درهمه ورسیدل نولاسونه یې غوڅیږي اوکه تردې کم ورسیدل بیانه غوڅیږي.

تشريح :(۶)که په غلا کولو کې يو ه ډله خلک سره شريک شوا وله هغوئ نه هريوه ته له مال مسروق څخه لس درهمه ورسيدل ياهريوه ته دومره مال ورسيد چې قيمت يې لس درهمه وونو دهريوه لاس پرې کيږي .

(۷)اوکه هريوه ته ترلس درهمه کم رسيدل نو ديوه هم لاس نه غوڅيږي ځکه نصاب (لس درهمه)سرقه موجب دحددی نودهريوه په حق کې کمال نصاب (لس درهمه)معتبردی ولي دهريوه سزادهغه دجرم په وجه واجبيږي نو دکامل نصاب نه رسيدوپه وجه لاس نه پرې کيږي .

دعدم موجب قطع بيان

(۸)وَلَا يُقْطَعُ فِيْمَا يُوْجَدُ تَافِهًا مُبَاحًا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ كَالْخَشَبِ وَالْحَشِيْشِ وَالْقَصَبِ وَالسَّمَكِ وَالصَّيْدِ (۹)وَلَا فِيْمَا يُسْرِعُ إِلَيْهِ الْفَسَادُ كَالْفَوَاكِهِ الرَّطْبَةِ وَاللَّبَنِ وَاللَّحْمِ وَالْبِطِّيْخِ وَالْفَاكِهَةِ عَلَى الشَّجَرِ وَالزَّرْعِ الَّذِيْ لَمْ يُحْصَدْ (۱۰)وَلَا قَطْعَ فِي الْأَشْرِبَةِ الْمُطْرِبَةِ وَلَا فِي الطَّنْبُوْرِ (۱۱)وَلَا فِي سَرِقَةِ الْمُصْحَفِ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حِلْيَةٌ

ترجمه :نه پرې کيږي په هغوشيانوکې چې په داراسلام کې معمولي اومباح ګڼل کيږي لکه لرګي، وابښه، نلان،ماهی (کب) اوښکاراونه په هغوشيانوکې چې ژرخرابيږي لکه لندې ميوې ،شيدې ،غوښه،خټکی، پردرختولګيدلې ميوې اوهغه کښت چې نه وي ريبل شوی اوپه مستي راوړنکي شرابوکې لاس نه پرې کيږي اونه په باجه غلاکولوکې اونه دقرآن کريم په غلاکولوکې که څه هم پرهغه دسروزروکارشوی وي .

تشريح :(۸)هغه شيان چې په داراسلام کې دمباح په ډول حقير ګڼل کيږي دهغوپه پورته کولوکې دغله لاس نه پرې کيږي لکه دسوځلولرګي (بوټي) نلان،وابښه،ماهی،مرغان اوهغه حيوان چې ښکارکيږي ځکه هغه شی چې په خپل اصلی صورت مباح پيداکيږي په هغه کې رغبت کم وي نودهغولپاره دحدزاجر مقررولو ضرورت نشته اوپه داسي شيانوکې حفاظت هم ناقص وي ځکه په دغوشيانوکې لاس نه پرې کيږي .

(۹)کوم شيان چې ژرخرابيږي مثلاتريوه کاله پورې نه شي پاتيدلای نودداسي شيانودغلاکولوپه صورت کې هم دغله لاس نه پرې کيږي لکه لندې ميوې،شيدې،غوښه،هندوانه وغيره ځکه پيغمبر ﷺ فرمايلي دي :لاقطع فی الطّعامِ.

ژباړه :په طعام کې قطع نشته . اودطعام معنی په مَايَتسارعُ اِليه الفَسَادُ (يعنې داسي شيان چې ژرخرابيږي) .سره کيږي ولي چې دغنمواوشکرپه غلاکولوکې په اجماع سره لاس پرې کيږي اوهغه کښت چې تراوسه نه وي ريبل شوی دهغه په غلاکولوکې لاس نه پرې کيږي لعدم الاحراز(يعني مال محفوظ نه دی) .

(۱۰)همدارازپه نشه کونکیو شربتونو کې لاس نه پرې کیږي ځکه نشه آورشیان بعضي خومال نه دي اودبعضوپه مالیت کې اختلاف دی نودعدم مالیت شبهه پیدا شوه لهذا لاس نه پرې کیږي همدارنګه دباجې اوټول دلهوولعب آلات دغلاکولوپه صورت کې هم لاس نه پرې کیږي ځکه کیدای شي چې دنهی عن المنکرپه نیت یې وړې وي نوپه سرقه کې شبهه پیدا شوه ځکه لاس نه پرې کیږي.

(۱۱)همدارازد قرآن کریم په غلاکولو کې هم لاس نه غوڅیږي ځکه اخیستونکی داتاویل کوي چې مادتلاوت لپاره اخیستی دی که څه هم په قرآن کریم کې دنصاب په اندازه سره زرکارشوي وي ولي چې سره اوسپین تابع دي اوتابع ته اعتبارنشته.

(۱۲)وَلَا فِي الصَّلِيبِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ(۱۳)وَلَا الشِّطْرَنْجِ وَلَا النَّرْدِ(۱۴)وَلَا قَطْعَ عَلَى سَارِقِ الصَّبِيِّ الْحُرِّ وَإِنْ كَانَ عَلَيْهِ حُلِيٌّ

ترجمه:دسرو اوسپینو په صلیب غلاکولو کې قطع دلاس نشته اونه په شطرنج (ورکې یاپټي) اونرد کې لاس پرې کیږي اونه دآزادماشوم په غلاکولو کې لاس پرې کیږي که څه هم پرهغه زیورات وي.

تشریح:(۱۲)دسرو اوسپینو دصلیب (هغه لرګی چې پرهغه دعیسائیانو په ګمان حضرت عیسی ﷺ په دارشوی دی اوهرهغه چې ددوخطونو په شکل وي چې دواړه پرتقاطع سره اوښتي وي (+) چې پرهغه څوک په دارکیږي).
په غلاکولو کې لاس نه پرې کیږي ځکه صلیب ماتول شرعا ماذون دی نوغل به تاویل وکړي چې مادماتولوپه نیت اخیستی دی.

(۱۳)همدارنګه دشطرنج (مشهوره بازي ده چې پکې په شپږقسمه مهرونوسره بازي کوي جوشاه، فرزین، فیل،اسپ،رُخ اوپیدل بازي کوي) اونرد(یوقسم بازي ده چې اردشیربن بابک شاه ایران ایجاده کړې ده) په غلاکولو کې لاس پرې کیږي ځکه دا آلات لهودي کمامرّ.

(۱۴)که چاآزادماشوم غلاکړنودغله لاس نه پرې کیږي که څه هم پرهغه دنصاب په اندازه زیورات (ګینې) وي ځکه ماشوم مال نه دی اوګینه دهغه تابع ده ځکه دغله لاس نه پرې کیږي.

اللطیفة:تقدم اثنان الی ابی صمصامة القاضی فادعی احدهما علی الآخرطنبورافانکرفقال المدعی ألک بینة؟ فقال لی شاهدان فاحضررجلین شهداله فقال المدعی علیه سلهمایاسیدی عن صناعتهما، فاخبر احدهماانه بناذوقال الاخرانه قوّاد، فالتفت القاضی الی المدعی علیه وقال :اترید علی طنبوراعدل من هذین اِدفع الیه طنبوره. (المستطرف).

(۱۵)وَلَا قَطْعَ فِي سَرِقَةِ الْعَبْدِ(۱۶)وَيُقْطَعُ سَارِقُ الْعَبْدِ الصَّغِيرِ

ترجمه :او د بالغ مريي په غلا کيدو کې لاس نه پرې کيږي او د نابالغ مريي په غلا کيدو کې لاس پرې کيږي.

تشريح :(۱۵)که چا بالغ مريی غلا کړنو په هغه کې لاس نه پرې کيږي ځکه مريی بالغ دی او بالغ د خپل ځان په قبضه کې وي نو د هغه غلا کيدل غلا نه ده بلکې غصب دی او د غاصب لاس نه غوځيږي .

(۱۶)که چا نابالغ مريی غلا کړنو په هغه کې لاس پرې کيږي ځکه دا مال دی د حيوان په شان پر خپل ځان قبضه نه لري نو پرده د غلا تعريف صادق دی .

(۱۷)وَلَا قَطْعَ فِي الدَّفَاتِرِ كُلِّهَا إِلَّا فِي دَفَاتِرِ الْحِسَابِ(۱۸)وَلَا يُقْطَعُ سَارِقُ كَلْبٍ وَلَا فَهْدٍ وَلَا دُفٍّ وَلَا طَبْلٍ وَلَا مِزْمَارٍ

ترجمه :د هر قسم په دفتر(رجستر) غلا کولو کې لاس نه پرې کيږي پرته د حساب له رجستره او د سپي ،پړانګ،ساز،ډول او نل په غلا کولو کې لاس نه پرې کيږي .

تشريح:(۱۷)د هر قسم رجستر په غلا کولو کې لاس نه غوځيږي ځکه د رجستر په غلا کولو کې مقصود په رجستر کې موجود تحرير دی او تحرير مال نه دی البته د حساب د رجستر(چې حسابونه يې تير شوي وي) په غلا کولو کې لاس پرې کيږي ځکه په هغو کې مقصود تحرير نه دی بلکې ورقې دي نو که د هغو قيمت لس درهمه وي نو د غله لاس پرې کيږي .

(۱۸)د سپي او پړانګ د غله لاس نه پرې کيږي ځکه د هغو له جنس نه مباح الاصل پيدا کيږي لهذا په دوئ کې د رغبت د کميدو په وجه د حدزاجر ضرورت نشته همدا رنګه د دف (په يوه لاس وهونکی يو ساز دی) او د وا او نل (مورلی) په غلا کې هم لاس پريکيدل نشته ځکه دا آلات د لهو دي چې قطع نشته پکې کمامرّ.

(۱۹)وَيُقْطَعُ فِي السَّاجِ وَالْقَنَاءِ وَالْأَبَنُوسِ وَالصَّنْدَلِ(۲۰)وَإِذَا اتُّخِذَ مِنَ الْخَشَبِ أَوَانِي أَوْ أَبْوَابٌ قُطِعَ فِيهَا

ترجمه :په ساج کې لاس پريکيږي او د نيزې په لرګي کې او د آبنوس او صندل په لرګي غلا کولو کې او چې کله له لرګي څخه لوښي يا دروازه جوړه شي نو بيا لاس پکې غوځيږي .

تشريح :(۱۹)په ساج نومې لرګي کې (توررنګ مضبوط هندي لرګی دی) او د نيزې په لرګې او د آبنوس (يو قسم سخت لرګی دی) او د صندل (يو خوشبودار لرګی دی) په لرګي غلا کولو کې لاس پرې کيږي ځکه دا محفوظ او د خلکو په نزد محترم مال دی او په دار اسلام کې په خپل اصلی صورت کې مباح نه تر لاسه کيږي .

(۲۰)که له داسي لرګي څخه چې په هغه کې لاس نه پرې کيږي لوښي يا دروازې جوړې کړای شي نو د هغو د غله لاس پرې کيږي په دي شرط چې محفوظ وي ولي د غه لرګي بيا په اموال نفيسه ؤ کې شامل شو

(۲۱) وَلاقَطْعَ عَلٰی خَاءِنٍ وَلا خَاءِنَةٍ (۲۲) وَلا نَبَّاشٍ (۲۳) وَلا مُنْتَهِبٍ (۲۴) وَلا مُخْتَلِسٍ (۲۵) وَلا يُقْطَعُ السَّارِقُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ (۲۶) وَلا مِنْ مَالٍ لِلسَّارِقِ فِيْهِ شِرْكَةٌ

ترجمه: او پر خائن او خائنه لاس پرې کیدل نشته او نه د نباش او نه د منتهب او نه د مختلس لاس پرې کیږي او له بیت المال څخه د غلا کونکي لاس نه غوڅیږي او نه د داسي مال په غلا سره چې په هغه کې غل شریک وي.

تشریح: (۲۱) د خائن او خائنې (خائن هغه دی چې یوشی د حفاظت لپاره ورسره وساتل شي او دی خیانت پکې کوي) لاس نه پرې کیږي ځکه د مال حفاظت ناقص دی.

(۲۲) همدارنګه د نباش (کفن کش) هم لاس نه پرې کیږي ځکه د کفن په ملکیت شبهه شته په دي وجه چې د مړي هیڅ مِلک نشته او د مړي د مِلک د مقدم کیدو په وجه د وارث مِلک هم نشته.

(۲۳) همدارازد منتهب (چې په ډاګه په زور له چا څخه شی اخلي).

(۲۴) او د مختلس (چې بناء برغفلت د چاله لاسه یوشی حمله کوي تبنتي) لاس هم نه پرې کیږي ځکه دوئ دواړه په علانیه دا عمل کوي په پټه یې نه کوي نو د غلا تعریف پر دوئ نه صادقیږي.

(۲۵) که چاله بیت المال (د اسلامي حکومت خزانه) څخه غلا وکړه نو د هغه لاس نه غوڅیږي ولي دا د عامو مسلمانانو مال دی او غل هم له هغوئ نه یو فرد دی.

(۲۶) همدارازکه چا داسي مال غلا کړ چې په هغه کې خپله غل هم شریک دی نو د هغه لاس نه پرې کیږي ولي په دغه مال کې د ده هم حق شته.

(۲۷) وَمَنْ سَرَقَ مِنْ أَبَوَيْهِ أَوْ وَلَدِهِ أَوْ ذِيْ رَحْمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ لَمْ يُقْطَعْ (۲۸) وَكَذٰلِكَ إِذَا سَرَقَ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ مِنَ الْآخَرِ وَالْعَبْدُ مِنْ سَيِّدِهِ أَوْ مِنْ امْرَأَةِ سَيِّدِهِ أَوْ مِنْ زَوْجِ سَيِّدَتِهِ (۲۹) وَالْمَوْلٰى مِنْ مُكَاتَبِهِ (۳۰) وَكَذٰلِكَ السَّارِقُ مِنَ الْمَغْنَمِ

ترجمه: که چاله خپل مور او پلار څخه یا له خپل زوی یا له خپل ذی رحم محرم څخه یوشی غلا کړ نو د هغه لاس نه پرې کیږي همدارازکه زوجین یو بله شی غلا کړي یا مریی له خپل مولی یا د مولی له ښځې څخه یا د خپلې مالکې له زوج څخه یا مولی له خپل مکاتب څخه یوشی غلا کړي او همدارازد غنیمت له مال څخه د غلا کونکي لاس نه پرې کیږي.

تشریح: (۲۷) که چاله خپل مور او پلار نه یا له خپل زوی یا خپل ذی رحم محرم قریب څخه یوشی غلا کړ نو د هغه لاس نه پرې کیږي ځکه د ایو د بل کور ته سره ځي نو په مال کې حِرز (حفاظت) نشته.

(۲۸)همدارنګه که زوجین یوله بل ځني یامریی له خپل مولی یادمولی له ښځې نه یامریی دخپلې مالکې له زوج څخه یوشی غلاکړي نوپه دې تولوصورتوکې هم دغله لاس نه پرې کیږي ځکه ددې خلکو کورونو دتګ راتګ اجازه عادةً موجوده ده .

(۲۹)همدارازکه مولی له خپل مکاتب څخه یوشی غلاکړي نوهم دمولی لاس نه پرې کیږي ولې په کسب دمکاتب کې دمولی حق شته .

(۳۰)همدارنګه که یوچاله مال غنیمت څخه یوشی غلاکړنوهم دهغه لاس نه پرې کیږي په دې شرط چې غل به په مال غنیمت کې حصه لري مثلاله غانمینوڅخه یوچاغلاوکړ لانّ لَهُم فِيه نَصِيبٌ .

دمکان محفوظ بیان

(۳۱)وَالْحِرْزُ عَلى ضَرْبَيْنِ حِرْزٌ لِمَعْنى فيه كَالدُّوْرِ وَالْبُيُوْتِ (۳۲)وَحِرْزٌ بِالْحَافِظِ (۳۳)فَمَنْ سَرَقَ شَيْئاً مِنْ حِرْزٍ اَوْ غَيْرِ حِرْزٍ وَصَاحِبُه عِنْدَه يَحْفَظُه وَجَبَ عَلَيْهِ الْقَطْعُ .

ترجمه :اوحِرزدوه قسمه دی یوداچې دخپلې معنی په وجه حِرزوي لکه سرایونه اوخونې اودوهم داچې حِرزدیوچادنګراني په وجه وي نوکه چایوشی دحِرزیاغیرحِرزڅخه غلاکړحال داچې مالک دهغه حفاظت کاوه نوپرهغه قطع دلاس واجبه ده .

تشریح :(۳۱)حِرزپه لغت کې محفوظ ځای ته وایې اوشرعًاهغه ځای ته وایې چې پکې عادةً دمال حفاظت کیږي،بیاحِرزدوه قسمه دی یوداچې دخپلې معنی په وجه حِرزوي لکه سرایونه اوکمرې یادکان،صندوق، خیمه وغیره اوحِرزحقیقةً همدادی.

(۳۲)دوهم داچې حِرزدیوچانګران یاچوکیدارپه ذریعه وي مثلایوڅوک په مسجدیالاره کې ناست دی اومال ورسره دی نوداmal محرزبه دی اودامعنًی حرزدی .

(۳۳)که چایوشی له حِرزحقیقی (سرای وغیره) څخه غلاکړکه څه هم دهغه مالک یادروازه وان موجودنه وي یایې داسي یوشی غلاکړچې په حرزحقیقی کې نه وومګرپه حِرزمعنوی کې دی چې دشي مالک دحفاظت لپاره موجوددی که بیداروي که ویده وي نودغله لاس پرې کیږي ځکه ده مال محفوظ باحدالحِرزین غلاکړی دی .

(۳۴)وَلا قَطْعَ عَلى مَنْ سَرَقَ مِنْ حَمَّامٍ اَوْ مِنْ بَيْتٍ اُذِنَ لِلنَّاسِ فِي دُخُوْلِه (۳۵)وَمَنْ سَرَقَ مِنَ الْمَسْجِدِ مَتَاعًا وَصَاحِبُه عِنْدَه قُطِعَ (۳۶)وَلا قَطْعَ عَلَى الضَّيْفِ اِذَا سَرَقَ مِمَّنْ اَضَافَه

ترجمه :دغه چالاس نه غوڅيږي چې له حمام څخه يوشی غلاکړي ياله داسي کورڅخه چې هلته خلکوته دتلواجازه وي اوکه چاله مسجدڅخه سامان غلاکړاوصاحب مال دنګراني لپاره موجوددی نولاس يې پرې کيږي اودميلمانه لاس نه پرې کيږي که يې يوشی غلاکړدغه چاله کوره چې دی يې ميلمه دی .

تشريح :(۳۴)که چاله حمام څخه په داسي وخت کې چې خلکوته دتلواجازه وه يوشی غلاکړيايې له داسي کورڅخه غلاکړچې هلته خلکوته دتلواجازه وه نودغه لاس نه پرې کيږي ځکه حمام ته عادةً اوکورته حقيقةً دتلواجازه شته نوپه حِرزکې خلل راغی لهذادغله تعريف پرهغه نه دی صادق .

(۳۵)که چاله مسجدڅخه دچامال غلاکړاوصاحب مال دنګراني لپاره موجوددی نودغله لاس پرې کيږي ځکه دامال محرزبالحافظ دی .

(۳۶)که ميلمه دکوربانه له کورڅخه يوشی غلاکړنودغه لاس نه پرې کيږي ځکه دکوربه له خواددخول داجازې په وجه دميلمه په حق کې دامکان حرزنه دی .

(۳۷)وَاِذَانَقَبَ اللِّصُّ الْبَيْتَ وَدَخَلَ فَاَخَذَ الْمَالَ وَنَاوَلَهُ آخَرَ خَارِجَ الْبَيْتِ فَلَاقَطْعَ عَلَيْهِمَا(۳۸)وَاِنْ اَلْقَاهُ فِی الطَّرِيْقِ ثُمَّ خَرَجَ فَاَخَذَهُ قُطِعَ(۳۹)وَكَذَالِكَ اِذَاحَمَلَهُ عَلٰی حِمَارٍ وَسَاقَهُ فَاَخْرَجَهُ(۴۰)وَاِذَادَخَلَ الْحِرْزَ جَمَاعَةٌ فَتَوَلّٰی بَعْضُهُمُ الْاَخْذَ قُطِعُوْا جَمِيْعًا(۴۱)وَمَنْ نَقَبَ الْبَيْتَ وَاَدْخَلَ يَدَهُ فِيْهِ وَاَخَذَ شَيْئًا لَمْ يُقْطَعْ(۴۲)وَاِنْ اَدْخَلَ يَدَهُ فِی صُنْدُوْقِ الصَّيْرَفِيِّ اَوْفِی كُمِّ غَيْرِهِ وَاَخَذَ الْمَالَ قُطِعَ

ترجمه :که غله سوری وکړکورته ورننوت اومال يې راويوست بل چاته چې هغه له کورڅخه دباندي ولاړو، ورکړنوپردواړو دلاس پرېکيدل نشته اوکه غله مال يوورله کوره دباندي يې وغورځاوه بياراووت راوايې خيست نولاس يې پرې کيږي همدارازکه يې پرخره مال بارکړهغه يې وشاړه اودباندي يې راويوست راوايې خيست نولاس يې پرې کيږي که دچامحفوظ مکان ته يوه ډله خلک داخل شوبياځينوکسانومال راپورته کړنودټولولاسونه پرې کيږي اوکه چادبل چاپه مکان کې سوری جوړکړاولاس يې وردننه کړيوشی يې راواخيست نولاس يې نه پرې کيږي که چادصرّاف صندوق ته يادچاوجيب ته لاس ورواچاوه مال يې راواخيست نولاس يې پرې کيږي .

تشريح :(۳۷)که غله په يوکورکې سوری وکړداخل شواومال يې راواخيست بل غله ته چې دباندي ولاړووركړنوله دواړوڅخه ديوه لاس هم نه پرې کيږي ځکه اول غله اخراج دمال نه دی کړی اوددوهم په حق کې مال محفوظ نه دی لهذاپريوه حدنشته .

(۳۸)که غل کور ته ور داخل شو مال يې د باندي را وغورځاوه بيا را ووت را وايې خيست نو لاس يې پرې کيږي ځکه مال د باندي غورځول يوه حيله ده ولي له مال سره وتل مشکل وي لهذا مال غورځول او بيا راوتل هغه را اخيستل يو فعل شمارل کيږي .

(۳۹)همدا راز که يې پرخره باندي مال را بار کړ هغه يې وشاړه د باندي يې را ويوست بيا يې را واخيست نو د لاس يې غوڅيږي ځکه خره شړلي دی ځکه د خره تلل د ده طرف ته منسوبيږي.

(۴۰)که يو محفوظ مکان ته يوه ډله خلک داخل شو او بيا له دوئ څخه ځينو د مال را اخيستلو کار ترسره کړ نو د ټولو لاس نه پرې کيږي ځکه معنًی ټولو مال را ويستلی دی ځکه هغه نور يې معاونين دي .

(۴۱)که چا دبل په کور کې سوری وکړ لاس يې ور دننه کړ مال يې را واخيست خپله نه دی ور ننوتلی نو پر هغه د لاس پرې کيدل نشته ځکه د مال حفاظت ختميدل په ننوتلو سره دی د لته هغه کار نه دی شوی .

(۴۲)که چا صرّاف په صندوق يا د يو چا په جيب لاس داخل کړ او مال يې را واخيست نو لاس يې غوڅيږي ولې ده حِرزمات کړ مال يې را واخيست او د داسي شيانو حِرزماتيدل همدا ډول کيږي.

دلاس غوڅيدو د کيفيت بيان

(۴۳)وَيَقْطَعُ يَمِيْنَ السَّارِقِ مِنَ الزَّنْدِ وَتُحْسَمُ(۴۴)فَاِنْ سَرَقَ ثَانِيًا قُطِعَتْ رِجْلَه الْيُسْرٰى(۴۵)فَاِنْ سَرَقَ ثَالِثًا لَمْ يَقْطَعْ وَخُلِّدَ فِي السِّجْنِ حَتّٰى يَتُوْبَ

ترجمه :دغله راسته لاس له مړوند څخه غوڅيږي او داغ ورکول کيږي او که غله دوباره غلا وکړه نو چپه پښه يې غوڅيږي او که يې دريم ځل غلا وکړه نو هيڅ شی نه ترې پرې کيږي او بندي کيږي تر هغه وخته چې توبه باسي .

تشريح :(۴۳)دغله راسته لاس له مړوند (مړوند د ورغوي او څنګل ترمنځ بند ته ويل کيږي) څخه پرې کيږي لِامرِالنّبيّ ﷺ بِهِ

او وجوبًا د ويني د ريدو لپاره داغ ورکول کيږي که نه بيا مفضي وتلف کيدو ته کيږي حال دا چې حد زاجر دی متلِف نه دی .

(۴۴)که غله تر لاس پرې کيدو وروسته دوباره غلا وکړه او ونيول شو نو داخل يې چپه پښه په بند (د پښې او لينګې ترمنځ بند) کې ور پرې کيږي .

(۴۵) که يې دريم ځل غلا وکړه نو پرده قطع نشته بلکې تعزيرورکول کيږي او سمدلاس به بندي کيږي ترهغه وخته چې توبه کاږي ځکه حضرت علی ﷺ فرمايلي دي چې ماته له الله تعالی څخه شرم راځي چې زه دهغه يو لاس ورپرې نږدم چې په هغه سره دی خوراک کوي يا استنجاء کوي او يوه پښه نه ورپرېږدم چې په هغه سره دی تگ وکړي ، او ده ﷺ نورصحابه کرام ﷺ هم په دي قائل کړل لهذا پردي اجماع دصحابه کرامو ﷺ ده .

(۴۶) وَإِذَا كَانَ السَّارِقُ أَشَلَّ الْيَدِ الْيُسْرَى أَوْ أَقْطَعَ أَوْ مَقْطُوعَ الرِّجْلِ الْيُمْنَى لَمْ يُقْطَعْ (۴۷) وَلَا يُقْطَعُ السَّارِقُ إِلَّا أَنْ يَحْضُرَ الْمَسْرُوقُ مِنْهُ فَيُطَالِبَ بِالسَّرِقَةِ

ترجمه :که دغله چپ لاس شل يا غوڅ شوی وو يا يې راسته پښه پرې شوې وه نو بيا قطع نشته او دغله لاس نه پرې کيږي مگردا چې مسروق منه حاضروي او دغلا دعوی وکړي .

تشريح :(۴۶) که دغله چپ لاس شل يا پرې شوی وه يا يې راسته پښه شلې يا پرې شوې وه نو بيا دلاس اوپښې غوڅيدلو سزا نه ورکوله کيږی ځکه دلاس پرې کيدلو په صورت کې دهغه دنيوجنس منفعت فوتيږي او دپښې پرې کيدو په صورت کې دتلو جنس منفعت فوتيږي چې دامعنًی هلاکت دی لهذا احدپرهغه نه قائميږي .

(۴۷) دغله لاس ترهغه نه پرې کيږي ترڅوچې مسروق منه حاضرنه شي دغلا دعوی ونه کړي ځکه دظهورسرقی لپاره دمسروق منه خصومت ضروري دی .

(۴۸) فَإِنْ وَهَبَهَا مِنَ السَّارِقِ أَوْ بَاعَهَا مِنْهُ أَوْ نَقَصَتْ قِيمَتُهَا عَنِ النِّصَابِ لَمْ يُقْطَعْ

ترجمه :او که مسروق منه مال مسروق غله ته هبه کړ او يا يې مسروق مال پرسارق خرڅ کړ يا دمال مسروق قيمت ترنصاب کم شو نو بيا يې لاس نه پرې کيږي .

تشريح :(۴۸) که مسروق منه مال وغله ته هبه کړ، يا يې مسروق مال پرغله خرڅ کړ، يا ترحد قائميدو مخکې دمال مسروق قيمت ترلس درهمه کم شو نو په دې ټولو صورتو کې دغله لاس نه پرې کيږي ځکه ترحصول حدپورې دخصومت قائميدل ضروري دی چې دلته نشته .

(۴۹) وَمَنْ سَرَقَ عَيْنًا فَقُطِعَ فِيهَا وَرَدَّهَا ثُمَّ عَادَ فَسَرَقَهَا وَهِيَ بِحَالِهَا لَمْ يُقْطَعْ (۵۰) فَإِنْ تَغَيَّرَتْ عَنْ حَالِهَا مِثْلُ أَنْ كَانَتْ غَزْلًا فَسَرَقَهُ فَقُطِعَ فِيهِ وَرَدَّهُ ثُمَّ نُسِجَ فَعَادَ وَسَرَقَهُ قُطِعَ

ترجمه :که چا شی غلا کړچې دهغه په وجه يې لاس غوڅ شو او مسروق شی يې واپس کړ بيا غله دوباره هغه شی غلا کړ حال دا چې مسروق شی پرخپل حال باقی دی نو لاس يې نه پرې کيږي او که دا شی له خپل حال څخه

متغیر شو مثلا نیخی یې غلا کړي پر هغویې لاس پرې شو وا پس یې کړې پیاله هغو څخه جامه جوړه شو، یا غله
غلا کړه نو لاس یې پرې کیږي.

تشریح :(۴۹) که چایو شی غلا کړا و نیول شو بیا یې لاس پرې شوا و مسروق شی مالک ته واپس شوا و بیا
او سه کوم تغیر په هغه شي کې نه وراغلی چې غله بیا هغه شی غلا کړ نو دوباره پر هغه قطع نشته ځکه د هغې
حرمتِ عین په وجه حد واجب شوی وو چې د هغه تکرار د حد تکرار نه واجبوي .

(۵۰) البته که مالک ته له ردید وو روسته په هغه شي کې تغیر راغلی وو مثلا نیخی یې غلا کړې وي پر هغویې
لاس پرې شو بیا نیخی بیرته مالک ته واپس کړای شوې بیا مالک له هغو څخه جامه جوړه کړه بیا غله دا جامه
غلا کړه نو پر هغه دوباره قطع شته ځکه اوس دا بل شی دی .

(۵۱) وَإِذَا قُطِعَ السَّارِقُ وَالْعَيْنُ قَائِمَةٌ فِي يَدِهِ رَدَّهَا (۵۲) وَإِنْ كَانَتْ هَالِكَةً لَمْ يَضْمَنْ (۵۳) وَإِذَا ادَّعَى السَّارِقُ أَنَّ الْعَيْنَ
الْمَسْرُوقَةَ مِلْكُهُ سَقَطَ الْقَطْعُ عَنْهُ وَإِنْ لَمْ يُقِمْ بَيِّنَةً

ترجمه :او که د غله لاس پرې کړای شوا و مال مسروق د هغه په لاس کې موجود وو نو هغه به واپس کول کیږي
او که مال مسروق په یو ډول تلف شوی وو نو غل نه ضامن کیږي او که غله دعوی وکړه چې دا مال زما ملک دی
نو له هغه څخه قطع دلاس ساقطیږي که څه هم هغه ګواه قائم نه کړای شي .

تشریح :(۵۱) که د غله لاس غوڅ کړای شوا و مال مسروق تر او سه د غله په لاس کې موجود وو نو هغه به خپل
مالک ته واپس کړای کیږي ځکه تر او سه د مالک مِلک پر هغه شي برقرار دی .

(۵۲) که مال مسروق په یو ډول تلف شوی وو یا یې تلف کړی وو نو غل نه ضامن کیږي ځکه قطع او ضمان
دواړه زموږ په نزد نه سره جمع کیږي .

(۵۳) که غله دعوی وکړه چې دا مال (مال مسروق) زما مِلک دی نو له ده څخه قطع دلاس ساقطیږي که څه هم
دی پر خپلې دعوی ګواه قائم نه کړای شي ځکه ممکن دی ریښتینی وي نو د احتمال صدق شبهه پیدا شوه او په
شبهه سره حد ساقطیږي .

د قطاع طریق (راه زنانو) متعلق احکام

(۵۴) وَإِذَا خَرَجَ جَمَاعَةٌ مُمْتَنِعِينَ أَوْ وَاحِدٌ يَقْدِرُ عَلَى الِامْتِنَاعِ فَقَصَدُوا قَطْعَ الطَّرِيقِ فَأُخِذُوا قَبْلَ أَنْ يَأْخُذُوا
مَالًا وَلَا قَتَلُوا نَفْسًا حَبَسَهُمُ الْإِمَامُ حَتَّى يُحْدِثُوا التَّوْبَةَ (۵۵) وَإِنْ أَخَذُوا مَالَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ وَالْمَأْخُوذُ إِذَا قُسِمَ عَلَى جَمَاعَتِهِمْ
أَصَابَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ فَصَاعِدًا أَوْ مَا تَبْلُغُ قِيمَتُهُ ذَلِكَ قَطَعَ الْإِمَامُ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ مِنْ خِلَافٍ (۵۶) وَإِنْ قَتَلُوا

نَفساً ولَمْ يَأخذُوا مالاً قَتَلَهُمُ الإمامُ حَدّاً فَإن عَفَى الأَولياءُ عَنْهُمْ لَمْ يَلْتَفِتْ إِلى عَفوِهِمْ (۵۷) وإنْ قَتَلُوا وَأَخَذُوا المَالَ فَالإمامُ بِالخِيارِ إنْ شاءَ قَطَعَ أيدِيَهُمْ وأرجُلَهُمْ مِنْ خِلافٍ وَقَتَلَهُمْ وَصَلَبَهُمْ وإنْ شاءَ قَتَلَهُمْ وإنْ شاءَ صَلَبَهُمْ

ترجمه :که یوه ډله خلک دلارې نیولولپاره ووتل یایوسړی چې دلارې په نیولوقادرو،ووت اوهغوئ دلارې شکولواراده کړې وه بیاهغوئ ونیول شوترمال اخیستلومخکې اودیوچاتروژلومخکې نوامام به هغوئ بندیانوي ترهغه چې توبه وباسي اوکه هغوئ دمسلمان یاذمي مال اخیستی ووکه دااخیستی شوی مال ددوئ پرډله تقسیم کړي نوله دوئ څخه هریوه ته لس درهمه یازیات ورسیدل یاداسي شی وي چې قیمت یې دومره وو،نوامام به دهغوئ لاسونه اوپښې چپه راسته ورپرې کړي اوکه هغوئ څوک وژلی وواومال یې نه وواخیستی نوامام به هغوئ حدًاوژني که دمقتول اولیاء هغوئ معاف کړي نودهغوئ معافی ته دي التفات نه کوي اوکه غلویوڅوک وژلی هم واومال یې هم وړی وونوامام ته اختیاردی که یې خوښه وي دهغوئ راسته لاس اوچپه پښه دي ورپرې کړي اوودي وژني اوراودي ځړوي اویادي هغوئ ووژني اویادي فقط راځوړند کړي .

تشریح :(۵۴)که دخلکویوه ډله چې دلارې په نیولوقادروودرهزني په اراده ووتل یایوغښتلی سړی ووچې دخلکوپه لاره نیولوقادروودشکولوپه نیت ووت بیاتردې مخکې چې هغوئ یادچامال وړي یاڅوک وژني دوئ خپله ونیول شول نو دمسلمانانوامام به هغوئ بندیان کړي په آیت کریمه کې (أَوْيُنفَوا مِنَ الأَرضِ(یایې دځمکې له مخ نه ورک کړئ) همدامراددی اوترڅوچې توبه ونه باسي هغوئ دي بندیان وساتل شي مراددژبې توبه نه ده بلکې مرګ یادنیکانوعلاماتې ښکاریدل دی .

(۵۵)که دغوغلوپه لاره شکونه سره دیومسلمان یاذمي مال یوورنوکه دغه مال دومره ووچې که دامال ددوئ پرډله تقسیم کړای شي نوهریوه ته لس درهمه یازیات ورسیږي یاداسي یوشی وي چې قیمت یې دومره مقداروي نوامام به ددوئ لاس اوپښې بالعکس پرې کړي یعنې راسته لاس چپه پښه دي ځنې پرې کړي لقوله تعالی (أَوتُقَطَّعَ أَيدِيهِم وَأَرجُلُهُم مِن خِلافٍ)

ژباړه :یعنې یادي دهغوئ لاسونه اوپښې له مخالف جانب څخه غوڅ کړای شي .

(۵۶)که غلوخالص قتل کړی وودچامال یې نه ووړی نوامام به دوئ حدًاووژني داقتل قصاص نه دی همداوجه ده چې که دمقتول اولیاؤهغوئ معاف کړل نوددوئ عفوې ته التفات نه کیږي ځکه حدودمحض دالله تعالی حق دی دبندګانوحق نه دی .

(۵۷)که غلوقتل هم کړی وواومال یې هم وړی وونوامام ته دهغوئ په باره کې اختیاردی چې یاراسته لاسونه اوچپه پښې ورپرې کړي اوودي وژني یادي وځړوي اویادي فقط ووژني اویاکه یې خوښه فقط

وځړوي لقوله تعالى : إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ)

ژباړه :هغه خلک چې له الله تعالى اودهغه له رسول سره جنګيږي اوپه ملک کې فسادخوروي دهغو داسزاده چې ووژل شي ياوځړول شي ياېې دهغوئ لاسونه اوپښې له مخالف جانب نه غوڅ کړای شي.

(٥٨) وَيُصْلَبُ حَيًّا وَيُبْعَجُ بَطْنُهُ بِرُمْحٍ إِلَى أَنْ يَمُوتَ (٥٩) وَلَا يُصْلَبُ أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

ترجمه :رهزن به ژوندى په داركوي اوپه نيزه به يې خېټه ورڅيري كوي ترهغه چې ووژل شي اوتردريو ورځو زيات به نه ځړول كيږي .

تشريح :(٥٨)كوم رهزن ځړوي هغه به ژوندي په دارخيژوي اوپه نيزه به يې وهي خېټه به ورڅيري كوي ترهغه چې مړشي ځكه داابلغ فى الزجردى .

(٥٩)ترځړيد وروسته تردريوورځوپورې هغه بايدزجراًپه دار وځړول شي زيات تردريوورځونه ځكه ترهغې وروسته خرابيږي چې له بدبوئي څخه يې خلكوته ضرررسيږي .

(٦٠) فَإِنْ كَانَ فِيهِمْ صَبِيٌّ أَوْ مَجْنُونٌ أَوْ ذُو رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنَ الْمَقْطُوعِ عَلَيْهِ سَقَطَ الْحَدُّ عَنِ الْبَاقِينَ (٦١) وَصَارَ الْقَتْلُ إِلَى الْأَوْلِيَاءِ إِنْ شَاؤُوا قَتَلُوا وَإِنْ شَاؤُوا عَفَوْا (٦٢) وَإِنْ بَاشَرَ الْفِعْلَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ أُجْرِيَ الْحَدُّ عَلَى جَمَاعَتِهِمْ

ترجمه :كه په رهزنانوكې يوماشوم ياليونى يايورهزن دمقطوع عليه ذورحم محرم وي نوله باقي رهزنانوڅخه هم حدساقطيږي اوبيااولياؤته دقصاص حق حاصل دى اولياء اختيارلري كه رهزنان قتل كوي اوكه يې معافوي اوكه دقتل فعل له هغوئ نه يواځي يوه تن ترسره كړى وونوهم حدپرټولوجاري كيږي.

تشريح :(٦٠)كه په رهزنانوكې يوماشوم ياليونى يايورهزن له هغونه پرچاچې لاره قطعه شوې دچاذورحم محرم وي نوله باقى رهزنانوڅخه هم حدساقطيږي ځكه رهزني يوجنايت دى چې په ټولوپورې قائم دى نوچې كله هغوئ نه دبعضوفعل دماشومتوب ياجنون په وجه يادرشته داري په وجه موجب دحد دى نودداتوروفعل بعض علت شونوپرهغه حكم نه مرتب كيږي.

(٦١)په مذكورصورت كې چې كله حدساقط شونوبيااولياؤته حق دقصاص حاصليږي ځكه چې كله دالله تعالى حق نه شوپاتى نودبندګانوحق ظاهرشولهذااولياؤته اختياردى كه غواړي رهزن دي قتل كړي اوياداې معاف كړي ځكه اوس داخالص دهغوئ حق دى .

(٦٢)كه له رهزنانوڅخه فعل دقتل يواځې يوه تن ترسره كړى وي نوهم حدپرټولوجاري كيږي ځكه باقى دده معاونين دي .

كتاب الأشربة

داكتاب داشربه ؤپه بيان كي دى

اشربه دشراب جمع ده لغة هرهغه مائع شى دى كوم چې څښل كيږي كه حلال وي اوكه حرام وي اوشرعًا نوم دى دهغوحراموشرابوكوم چې نشه كونكي وي.

لەماقبل سره مناسبت دادى چې امام قدورى رحمه الله له سارق المال (غله) له احكامو څخه فارغ شونود سارق العقل (شراب) احكام بيانول يې شروع كړل ،شرابوته سارق العقل ځكه وايې چې دحضرت عمر رضي الله عنه قول دى چې لااشرب مايسرق عقلى (زه نه څښم هغه چې زماعقل غلاكوي).

الحكمة :حكمة حرمة الخمرهى ام الخبائث ورأس المصائب والنقائص ،ضررهايتناول الروح والجسد والمال والولد والعرض والشرف ،فكم خربت دوراواذهبت عقاراواقامت فتناواثارت محناوولدت احنا ونقلت العقل من حالة التفكير والتدبيروالحكمة والرشادالى الجنون والبغى والفساد،وكم احدث من العداوة والبغضاء بين الاخ واخيه ،والابن وابيه ، وكم فرقت الاصدقاء ،وشتت شمل الاخلاء يشربها الصعلوك فيخيل له انه الخليفة على العرش ،ولجبان فيرى نفسه فارس بنى عبس ،والغبى فيقول اناأياس فى الذكاء وارسطوفى الحكمة ،والجاهل فينادى اناحبرالامة ،فلامكنت ياعقاروشلست يمينك ايهاالخماروسحقالكم ايهاالاشرار (حكمة التشريع)

(۱)اَلْاَشْرِبَةُ الْمُحَرَّمَةُ اَرْبَعَةٌ (۲) اَلْخَمْرُ وهِيَ عَصِيْرُ الْعِنَبِ اِذَا غَلَا وَاشْتَدَّ وقَذَفَ بِالزَّبَدِ (۳) وَالْعَصِيْرُ اِذَا طُبِخَ حَتّٰى ذَهَبَ اَقَلَّ مِنْ ثُلُثَيْهِ (۴) ونَقِيْعُ التَّمْرِ (۵) ونَقِيْعُ الزَّبِيْبِ اِذَا غَلَا وَاشْتَدَّ

ترجمه :حرام شراب دادي :خمردادانگورونه ايستل شوې اوبه دي چې كله جوش وخوري اوتيزې شي اوځګ وغورځوي اوشيره هغه داده چې دانگورونيښتځل شوې اوبه دومره اندازه پخې كړاى شي چې په پخيدوسره له دوثلثونه څخه كمې وچې شي اونقيع التمراونقيع الزبيب چې كله جوش وخوري اوتيزشي.

تشريح :(۱)(۲)(۳)(۴)(۵)حرام شراب څلورقسمه دي : **نمبر ۱**.خمر،دادانگورونيښتيځل شوي اوبه دي كله چې پريښودل شي ترڅوچې هغه جوش وخوري اوتيزي اوقوي شي اوځګونه وغورځوي ،دادامام ابوحنيفه رحمه الله قول دى ، دصاحبينوپه نزدچې كله تيزشي اومسكرشي نوداخمردي ځګونه غورځول شرط نه دي (دصاحبينور حمهماالله قول راجح دى).

نمبر ۲.دوهم شى عصيردى كوم ته چې باذق اوطلاء هم ويل كيږي هغه داده چې دانگورونښتيځل شوي اوبه دومره پخې كړاى شي چې په پخولوسره هغه له دووثلثوڅخه لږوچې شي اوله يوثلث څخه زياتي باقي پاتې شي.

نمبر ۳.دریم شی نقیع التمر دی یعنی دپخولندوخرماوورس کوم چې جوش وخوري اوخند شي اومسکرشي ددي په حرمت دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده.

نمبر ۴.څلورم شی نقیع زبیب دی هغه دکشمشو خامي اوبه دي کله چې جوش وخوري اوخندي شي نوداڅلورقسمه شراب حرام دي لیکن ددي آخري دریوحرمت دخمروپه نسبت کم دی لهذاددي دریوحلال ګڼونکي ته کافرنه ویل کیږي اوددغو څیښونکی چې ترڅوپورې نشه نه وي حدنه ورکول کیږي.

دجائزمشروباتوبیان

(٦)وَنَبِيذُ التَّمْرِ وَالزَّبِيبِ إِذَا طُبِخَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَدْنَى طَبْخَةٍ حَلَالٌ وَإِنْ اشْتَدَّ إِذَا شَرِبَ مِنْهُ مَا يَغْلِبُ عَلَى ظَنِّهِ أَنَّهُ لَا يُسْكِرُهُ مِنْ غَيْرِ لَهْوٍ وَلَا طَرَبٍ (٧) وَلَا بَأْسَ بِالْخَلِيطَيْنِ وَنَبِيذُ الْعَسَلِ وَالتِّينِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالذُّرَةِ حَلَالٌ وَإِنْ لَمْ يُطْبَخْ (٨) وَعَصِيرُ الْعِنَبِ إِذَا طُبِخَ حَتَّى ذَهَبَ مِنْهُ ثُلُثَاهُ حَلَالٌ وَإِنْ اشْتَدَّ

ترجمه :اونبیذتمراوزبیب چې کله له دوئ نه هریولږغوندي پاخه کړای شي نوداحلال دي که څه هم لږغوندي شدت پکې راشي چې کله دومره اندازه وڅیښل شي چې دهغه په باره کې دڅیښونکي داغالب ګمان وي چې دامانه نشه کوي اودلهوولعب په نیت نه وي اودخلیطینوپه څیښلوکې هیڅ باک نشته اودعسلو(شهدو)اوانځیرو، غنمواواوربشواوجوارو نبیذهم حلال دي که څه هم پاخه نه کړای شي اوعصیرعنب چې کله دومره اندازه پاخه کړای شي چې دوه ثلثه وسوځي ختم شي حلال دي که څه هم تیزشي.

تشریح :(۶)(۷)(۸)څلورقسمه شراب حلال دي امام قدوری رحمه الله په لوړعبارت کې داڅلورقسمه مع شرائط حلت بیان کړي دي

نمبر ۱.نبیذتمروزبیب(هغه اوبه په کوموکې چې چهواري یاوڅکې واچولي شي اوپرېښودل شي ترڅوچې دهغوحلاوت په اوبوکې ووځي ،اول ته نبیذتمراودوهم ته نبیذزبیب ویل کیږي)کله چې له دي دواړوڅخه هریولږشانته پاخه کړای شي دادشیخینوپه نزدله لاندي شرائطوسره حلال دي اګرکه په دي کې شدت راشي اوځګونه وغورځوي ،اول شرط دادی چې دومره اندازه وڅښي دکوم په باره کې چې د څښونکی غالب ګمان داوي چې دامانه نشه کوي ،دوهم شرط دادی چې دلهواوطرب په نیت سره نه وي بلکه دتقویت بدن لپاره وي ،دامام محمد رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نزدپه هرحال حرام دي . فتوی دامام محمد رحمه الله پرقول ده.

نمبر ۲.خلیطان (چې دخرماواووڅکواوبه سره ګډي شي اولږپخي شي نودي ته خلیطان ویل کیږي)هم حلال دي .

نمبر ۳.دشهدو(عسلو)انځرو،غنمو،اوربشواوجوارونبيذهم دشيخينوپه نزدحلال دي كه پاخه كړاى شي اوكه نه،مګردلته هم دنبيذالتمروالزبيب شرائط معتبردي .دامام محمد رحمه الله په نزدداهم مطلقاحرام دي كه قليل وي اوكه كثير،په دي كې هم فتوى دامام محمد رحمه الله پرقول ده.

نمبر ۴.عصيرعنب يعني دانګورونښتيځل شوي اوبه كله چې دومره پخې شي چې دوه ثلثه ختمي شي اوصرف يوثلث پاتي شي اګركه په دي كې جوش اوتيزوالى پيداشي اوځګونه وغورځوي نوداهم دشيخينوپه نزدبشرائط مذكوره حلال دي ، دامام محمد رحمه الله په نزدمطلقاحرام دي په دي كې هم دزماني دفسادپه وجه سره فتوى دامام محمد رحمه الله پر قول ده.

(۹)وَلا بَأسَ بِالْإنْتِبَاذِ فِي الدُّبَاءِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ وَالنَّقِيرِ

ترجمه :اوپه دباء،حنتم،مزفت اونقيركې نبيذ جوړول هيڅ باک نه لري .

تشريح :(۹) په دباء (له كدو څخه جوړشوي لوښي ته دباء ويل كيږي)حنتم (دزرغون رنګ دخاورې كوزې ته حنتم ويل كيږي)مزفت (دتاركول په شان يوشى دى كوم ته چې زفت ويل كيږي كله چې پريولوښي دهغه پالش وشي نوهغه لوښي ته مزفت ويل كيږي)اونقير(د لرګي چې منځ ويستل شوى وي هغه لوښي ته نقيرويل كيږي) كې دنبيذوپه جوړلوكې څه حرج نشته ،دجاهليت په زمانه كې به خلكوپه دي لوښوكې شراب جوړول كله چې دشرابوحرمت نازل شونونبى كريم ﷺ ددي لوښوله استعمال څخه منع وفرمايله ترڅودشرابونفرت په زړوكې كښيني بياڅه وخت وروسته چې كله مقصدحاصل شونونبى كريم ﷺ ددي لوښوداستعمال اجازت وركړاولومړى حكم يې منسوخ كړ.

(۱۰)وَإذَا تَخَلَّلَتِ الْخَمْرُ حَلَّتْ سَوَاءٌ صَارَتْ بِنَفْسِهَا خَلًّا أَوْ بِشَيْءٍ طُرِحَ فِيهَا(۱۱)وَلا يُكْرَهُ تَخْلِيلُهَا

ترجمه :چې كله له شرابو سركه جوړه شي نو حلال دي كه پخپله سركه جوړه شي اوكه ديوشي په اچولوسركه وګرځي اودشرابو څخه سركه جوړول مكروه نه ده .

تشريح :(۱۰) يعنى كله چې له شرابو څخه په خپله سركه جوړه شي يا ديوشي په اچولوسره سركه جوړه كړاى شي لكه چې مالګه ياګرمي اوبه په كې واچول شي نوهغه حلاليږي ولى چې دسركي په جوړيدلوسره موجب حرمت وصف مفسد زائليږي په دي وجه حلاليږي .

(۱۱)له شرابو څخه سركه جوړل مكروه هم نه ده ولى چې دسركي په جوړلوكې دشرابواصلاح ده اواصلاح مباح ده .

كِتَابُ الصَّيدِ والذَّبائح

داکتاب دښکاراوذبائح په بیان کې دی .

یدلغةً مصدردی په معنی دښکارکولواوهغه شي ته هم صیدویل کیږي چې ښکارکړای کیږي که مأکول وي که غیرمأکول وي ،په اصطلاح کې هرهغه حیوان چې طبعًاوحشي وي اوخپل حفاظت پخپله کولای شي اوبغیردحیلې نه شي نیول کیدای .

دکتاب الصیدله ماقبل سره مناسبت دادی چې صیداواشربه دواړه مورثِ الغفلة دي،اوخپله دصیداوذبائح ترمنځ مناسبت ښکاره دی .

(۱) يَجُوْزُ الْاِصْطِيَادُ بِالْكَلْبِ الْمُعَلَّمِ وَالْفَهْدِ وَالْبَازِيْ وَسَائِرِ الْجَوَارِحِ

توجمه :ښکارجائزدی په تربیت یافته سپي،پړانګ،بازاوتولوڅیرونکوتربیت یافته حیوانانوسره .

تشریح :(۱)په تربیت یافته سپي،پړانګ ،بازاوتولوڅیرونکوتربیت یافته حیوانانوسره ښکارکول جائزدی لقوله ﷺ لعدی بن حاتم الطائی رضی الله عنه إِذَا أَرْسَلْتَ كَلْبَكَ الْمُعَلَّمَ وَذَكَرْتَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهِ فَكُلْ وَإِنْ أَكَلَ مِنْهُ فَلَا تَأْكُلْ لِأَنَّهُ إِنَّمَا أَمْسَكَهُ عَلَى نَفْسِهِ .

ژباړه :چې کله ته خپل تربیت یافته سپی پریږدې اوپرهغه دالله تعالی نوم ذکرکړې نوخوره هغه ښکارچې دی یې ونیسي اوکه سپي له هغه نه خوراک وکړییایې مه خوره ځکه چې سپي ښکاردخپل ځان لپاره نیولی دی. مګردخنزیر،زمري او،،،ښکارله دې څخه مستثنی دی ځکه هغه جائزنه دي .

(۲) وَتَعْلِيْمُ الْكَلْبِ اَنْ يَتْرُكَ الْاَكْلَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ (۳) وَتَعْلِيْمُ الْبَازِيْ اَنْ يَرْجِعَ اِذَا دَعَوْتَهُ (۴) فَاِذَا اَرْسَلَ كَلْبَهُ الْمُعَلَّمَ اَوْ بَازِيَهُ اَوْ صَقْرَهُ عَلَى صَيْدٍ وَذَكَرَ اسْمَ اللهِ تَعَالَى عَلَيْهِ عِنْدَ اِرْسَالِهِ فَاَخَذَ الصَّيْدَ وَجَرَحَهُ فَمَاتَ حَلَّ لَهُ اَكْلُهُ (۵) فَاِنْ اَكَلَ مِنْهُ الْكَلْبُ اَوِ الْفَهْدُ لَمْ يُؤْكَلْ (۲) وَاِنْ اَكَلَ مِنْهُ الْبَازِيْ اُكِلَ

توجمه :دسپي تربیت یافته کیدل دادی چې درې ځله ښکارخوړل پریږدي اودبازتربیت یافته والی دادی چې کله ته هغه راوبولې نودی راشي چې کله څوک خپل تربیت یافته سپی یاخپل بازیاشاهین په ښکارپسې خوشي کړي اودخوشي کیدوپه وخت بسم الله ووایې بیاهغه ښکارونیسي اوزخمي یې کړي بیامړشي نودې سړې ته یې خوراک حلال دی اوکه چیرته سپي یاپړانګ ښکاروخوړنوبیادي داسړی نه خوري اوکه بازښکاروخوړنودی یې خوړلای شي .

تشریح :(۲)دسپي اونوروتولودرندګانوتعلیم یافته کیدل دادی چې درې ځله ښکارونیسي مګردهغه غوښه وغیره نه خوري.

(۳)دبازاونوروڅيرونکومرغانوتربيت يافته کيدل دادی چې کله ته هغه راوبولې نوهغه راشي ځکه عادةً چې کوم شی دحيوان مرغوب وي دهغه پرينښودل دهغه دتربيت کيدوعلامه ده نودسپي عادت دادی چې شی واخلي بس ځغلي چې کله دغه عادت پريږدي نودادهغه دتربيت يافته کيدوعلامه ده اودبازعادت وحشت اوتنفردی نوپه رابللوسره راتلل دهغه دتربيت کيدوعلامه ده.

(۴)کله چې يوڅوک خپل تربيت يافته سپی يابازياشاهين په ښکارپسي پريږدي اودپرينښودلوپه وخت پرهغه بسم الله الله اکبر،ووايې هغه ولاړشي ښکارونيسي اوزخمي يې کړي اوله زخمونونه ښکارمړشي نودهغه خوراک جائزدی.

(۵)که سپي،پړانګ،يانوروډرندګانوښکارونيوخپله يې دهغه خوراک شروع کړنوبياهغه نه خوړل کيږي ځکه دډرندګانوښکارخوړل دتربيت يافته نه کيدوعلامه ده.

(۶)که بازياشاهين اونوروښکاري مرغانوښکارونيوپه خوراک يې شروع وکړه نوهغه ښکارخوړل کيږي ځکه دښکارنه خوړل دمرغانوپه تعليم کې شامل نه دی.

(۷)وَاِنْ اَدْرَکَ الْمُرْسِلُ الصَّيْدَ حَيًّا وَجَبَ عَلَيْهِ اَنْ يُذَکِّيَهُ(۸)اِنْ تَرَکَ تَذْکِيَتَهُ حَتّٰى مَاتَ لَمْ يُؤْکَلْ(۹)وَاِنْ خَنَقَهُ الْکَلْبُ وَلَمْ يَجْرَحْهُ لَمْ يُؤْکَلْ

ترجمه:که مرسِل ښکارژوندی وموندہ نوپرهغه واجب دی چې هغه ذبح کړي اوکه هغه دښکارذبح کول پرينښوده ترهغه چې ښکارمړشونونه به يې خوري اوکه سپي ښکارترغاړه ونيوه اوښکاريې زخمي نه کړنونه خوړل کيږي.

تشريح:(۷)که ښکارکونکي سپی يابل ښکاري حيوان په ښکارپسي پرينښودهغه ولاړی ښکاريې ونيوه اوخاوندپه داسي حال کې پسي ورسيدچې ښکارژوندی دی نوبيادهغه ذبح کول واجب دی ځکه دسپي وغيره وهل دذبح بدل دی اوترحصول مقصودبالبدل مخکې په قدرت پراصل سره دبدل حکم ساقطيږي.

(۸)لهذاکه يې ذبح پرينښوده ترهغه چې ښکارمړشونوبيادهغه خوراک ناجائزدی ځکه دقدرت على الذبح باوجودنه ذبح کولوسره هغه مرداريږي.

(۹)که سپي ښکارخفه کړمړيې کړيايې په سينه وواهه مړيې کړاوښکاريې زخمي نه کړنودابنکارنه خوړل کيږي ځکه ښکاردادول زخمي کول چې وينه يې ووځي شرط دی چې په خفه کيدووغيره سره نه حاصليږي.

(۱۰)وَاِنْ شَارَکَهُ کَلْبٌ غَيْرُ مُعَلَّمٍ اَوْ کَلْبُ مَجُوْسِيٍّ اَوْ کَلْبٌ لَمْ يُذْکَرِ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ لَمْ يُؤْکَلْ

ترجمه:که له تربيت يافته سپي سره يوځای بل غيرتربيت يافته سپی يادمجوسي سپی ياداسي سپی چې دپرينښودلوپه وخت بسم الله نه وه پرې ويله شوی په ښکارکولوکې شريک شونونه خوړل کيږي.

تشريح :(۱۰)که له تربيت يافته سپي سره بل غيرتربيت يافته سپی په ښکارنيولوکې شريک شويادپوه مجوسي سپی له هغه سره شريک شوياداسي سپي چې دخوشي کولوپه وخت کې عمدًابسم الله ويل پريښودل شوي وونوداسي ښکارنه خوړل کيږي ځکه مبيح اومحرم سره جمع شول نو احتياطًا جانب دحرمت ته ترجيح ورکوله کيږي.

(۱۱)وَإِذَارَمَى الرَّجُلُ سَهْمًاإِلَى صَيْدٍفَسَمَّى اللهَ تَعَالَى عِندَ الرَّمْيِ أَكَلَ مَاأَصَابَهُ إِذَاجَرَحَهُ السَّهْمُ فَمَاتَ(۱۲)وَإِنْ أَدْرَكَهُ حَيًّاذَكَّاهُ فَإِنْ تَرَكَ تَذْكِيَتَهُ لَمْ يُؤْكَلْ

ترجمه :که دښکارپه طرف غشی وويشت اودغشي ويشتلوپه وخت يې بسم الله وويله نوپرکوم ښکارچې غشی ولګيږي هغه خوړل کيږي که غشي هغه زخمي کړيبامړشواوکه چيرته ښکارژوندی وموندل شونو هغه دي ذبح کړي اوکه يې دهغه ذبح کول پريښودل نونه خوړل کيږي.

تشريح :(۱۱)که چادښکارپه طرف غشی وويشت اودغشي ويشتلوپه وخت يې بسم الله وويله غشی ولاړی پرښکارولګيداوښکاريې زخمي کړيبامړشونوهغه خوړل کيږي ځکه دی په غشي ويشتلوسره ذابح (ذبح کونکی) شوولي چې غشی دذبح آله ده ځرنګه چې داذبح اضطراري ده لهذادښکارټول بدن محل دذبح دی دغاړوپري کيدل ضروري نه دی.

(۱۲)په مذکورصورت کې که ښکارژوندګيرشونوذبح کول يې ضروري دی اوکه يې ذبح نه کړنوبيانه خوړل کيږي لِمَامَرَّفِي مسئلة وَإِن أدرک المُرسِلُ الصّيدَحَيًّا الخ.

(۱۳)وَإِذَاوَقَعَ السَّهْمُ بِالصَّيْدِفَتَحَامَلَ حَتَّى غَابَ عَنْهُ وَلَمْ يَزَلْ فِي طَلَبِهِ حَتَّى أَصَابَهُ مَيِّتًاأُكِلَ(۱۴)فَإِنْ قَعَدَعَنْ طَلَبِهِ ثُمَّ أَصَابَهُ مَيِّتًالَمْ يُؤْكَلْ(۱۵)وَإِنْ رَمَى صَيْدًافَوَقَعَ فِي الْمَاءِلَمْ يُؤْكَلْ(۱۶)وَكَذَالِکَ وَإِنْ وَقَعَ عَلَى سَطْحٍ أَوْجَبَلٍ ثُمَّ تَرَدَّى مِنْهُ إِلَى الْأَرْضِ لَمْ يُؤْكَلْ(۱۷)وَإِنْ وَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ اِبْتِدَاءً أُكِلَ

ترجمه :که پرښکارغشی ولګيده هغه برداشت کړوتښتيده حتی چې دښکاري له نظره غائب شواوښکاري ښکاري تلاش پريښودبيايې مړوموندنوخوړل کيږي اوکه په منځ کې ولويده نونه خوړل کيږي اوهمدارازکه هغه پربام ياغره راولويدبياله هغه ځايه ځمکې ته راولويدنوهم نه خوړل کيږي اوکه ابتداءً پرځمکه راولويدبياخوړل کيږي.

تشریح :(۱۳)که پرښکارغشی ولګید هغه په مشقت سره زخم برداشت کړوتښتیده حتی چې دښکاري له نظره غائب شواوښکاري هم سمدلاسه تلاش ورپسي کاوه ترهغه چې داښکاریې مړوموندنوخوړل کیږي ځکه ښکاري مفرط نه دی اوذبح اضطراري یې کړي ده نودښکارله هغه څخه ګنهل کیږي.
(۱۴)اوکه په دامنځ کې ښکاري له تلاش کولو څخه بیغمه کښینستی نوبیایې مړښکارو موندنه به یې خوري ځکه کیدای شي چې مرګ یې په بل سبب واقع شوی وي اوپه دي باب کې موهوم دمتحقق په ډول دی .
(۱۵)که پرښکارغشی ولګیده هغه په اوبوکې ولوید مړشونونه خوړل کیږي ځکه کیدای شي چې په اوبوکې دغرقیدوپه وجه مړشوی وي .
(۱۶)همدارازکه ترغشي لګیدووروسته هغه پربام یاغره راغوځارشوبیاله هغه ځایه ځمکې ته راشوه شواومړ شونوهم نه خوړل کیږي ځکه کیدای شي چې له بام یاله غره نه په رالوید وسره مړشوی وي .
(۱۷)که ابتداءً پرځمکه راولویدنوخوړل کیږي ځکه له هغه څخه ساتنه ممکنه نه ده نوکه په دې صورت کې هم دحرمت حکم وکړای شي نوداصطیاددروازه بندیږي .

(۱۸)وَمَا اَصَابَ الْمِعْرَاضُ بِعَرْضِهِ لَمْ يُؤْكَلْ (۱۹)وَاِنْ جَرَحَهُ اُكِلَ (۲۰)وَلَا يُؤْكَلُ مَا اَصَابَتْهُ الْبُنْدُقَةُ اِذَا مَاتَ مِنْهَا

ترجمه :هغه ښکارچې غشی دغسي په پڅه خواپرې لګیدلی وي نه خوړل کیږي اوکه یې ښکارزخمي کړبیاخوړل کیږي اوداسي ښکارهم نه خوړل کیږي چې دختوپه ګټولګیدلی اومړشوی وي .
تشریح :(۱۸)پرکوم ښکارچې غشی بغیردتیرې څوکې په ساره (پڅه خوا)ولګیږي اومړشي نونه خوړل کیږي ځکه ښکارزخمي شوی نه دی چې زخمي کیدل یې ضروري دی چې دذبح معنی راشي علی ماقدمناه.
(۱۹)که غشی په تیره خواپرې ولګیداوښکاریې زخمي کړاومړشونوخوړل کیږي ځکه دذبح معنی راغله .
(۲۰)داسي ښکارهم نه خوړل کیږي چې بندقه (بندقه دختې ګول ګټی دی چې په غلیل کې ایښودل کیږي ښکارپه کیږي)پرې ولګیږي مړشي ځکه داګټی ښکارکوټي ماتوي زخمي کوي یې نه ځکه داهم داسي دی لکه پرښکارچې غشی په پڅه خواولګیږي .

(۲۱)وَاِذَا رَمٰى اِلَى صَيْدٍ فَقَطَعَ عُضْوًا مِنْهُ اُكِلَ الصَّيْدُ وَلَمْ يُؤْكَلِ الْعُضْوُ (۲۲)وَاِذَا قَطَعَهُ اَثْلَاثًا وَالْاَكْثَرُ مِمَّا يَلِيَ الْعَجُزَ اُكِلَ الْجَمِيْعُ (۲۳)وَاِنْ كَانَ الْاَكْثَرُ مِمَّا يَلِيَ الرَّاسَ اُكِلَ الْاَكْثَرُ

ترجمه :که چاپرښکارغشی وویشت اوله هغه نه یې یواندام غوڅ کړنوښکارخوړل کیږي اوهغه اندام یې نه خوړل کیږي اوکه غشي ښکاردرې برخې پرې کړاواکثره حصه دلکۍ جانب ته پاتی شونوټول خوړل کیږي اوکه اکثره حصه دسرجانب پاتی شوه نواکثرخوړل کیږي .

تشريح :(۲۱)که چابنکارپه غشي وويشت چې دښکاراندام غوڅ شواوښکارمړشونوښکارخوړل کيږي ځکه جرح (ذبح اضطراری) راغله ليکن هغه غوڅ شوی اندام نه خوړ لکيږي لقوله ﷺ :مَاأبِينَ مِنَ الحَيِّ فَهُومَيِّتٌ.

ژباړه :له ژوندي څخه چې يوشی بيل کړای شي هغه مړ دی.

(۲۲)که غشي ښکاردړې برخي پرې کړپه دي دول چې اکثره حصه دلکۍ جانب ته پاتی شوه اوکمه حصه دسرجانب ته،نوټول خوړل کيږي ځکه اوداج (دحيوان هغه رګونه چې ذبح کونکی يې غوڅوي)زړه له دماغ سره پيوست کوي نوچې کله دسر دجانب ثلث غوڅ شونوپه دې سره هغه رګونه غوڅيږي لکه په ذبح کې چې رګونه پرې کيږي نوګواکې داحيوان ذبح شوی دی لهذا حلال دی.

(۲۳)که دسرد طرف څخه ترنيمی زيات پري شوولاړی اودپای خواترنيمی کمه پاتی شوه نوداسي ګڼله کيږي چې داله ژوندي حيوان څخه يواندام غوڅ اوبيل شوی دی لهذادسرخواخوړله کيږي اودپای خوانه خوړله کيږي.

(۲۴)ولايُؤكَلُ صَيْدُالْمَجُوسِيِّ وَالْمُرْتَدِّوَالْوَثَنِيِّ

ترجمه :نه خوړل کيږي دمجوسي،مرتداوبت پرست ښکار.

تشريح :(۲۴)که مجوسي يامرتديابت پرست ښکاروويشت هغه مړشونونه خوړل کيږي ځکه داخلک دذبح اختياري اهل نه دي نودذبح اضطراري هم اهل نه دي.

(۲۵)وَمَنْ رَمىٰ صَيْدًافَأصَابَهُ وَلَمْ يُثْخِنْهُ ولَمْ يُخرِجْهُ عَنْ حَيِّزِ الْإمْتِنَاعِ فَرَمَاهُ آخرَفَقَتَلَهُ فهو لِلثَّانِيْ (۲۶)وَيُؤكَلُ (۲۷)وَاِنْ كَانَ الأوَّلُ أثْخَنَهُ فَرَمَاهُ الثَّانِيْ فَقَتَلَهُ فهو لِلأوَّلِ (۲۸)ولَمْ يُؤكَلْ (۲۹)وَالثَّانِيْ ضَامِنٌ لِقِيْمَتِهِ لِلأوَّلِ غَيْرَ مَانَقَصَتْهُ جِرَاحَتُهُ

ترجمه :که چابنکارپه غشي وويشت غشی پرهغه ولګيد مګرهغه يې کمزوری نه کړاونه يې له حيزدامتناع څخه ويوست بيابل ښکاري په غشي وويشت مړيې کړنودادوهم ښکاري دی اوخوړل کيږي اوکه اول ښکاري هغه کمزورکړيادوهم ښکاري هغه مړکړنودااول دی اونه خوړل کيږي اوبيادوهم داول لپاره دښکاردقيمت ضامن کيږي غيرله هغه چې نقصان کړی دی دده زخمي کيدو.

تشريح :(۲۵)که چابنکاروويشت غشی پرهغه ولګيدهغه يې کمزوری نکړاوله حيزامتناع (دځپل ځان دحفاظت کولو) يې نه وايستلی چې هغه بل ښکاري په غشي وويشت قتل يې کړنودادوهم ښکاري دی ځکه په حقيقت کې دوهم ښکاري داښکارنيولی دی او اَلصَّيدُلِمَن اَخَذَهُ .(يعنې ښکارچې چاونيوی دهغه دی.

(۲۷)اوكه اول وويشت كمزوركړى يې ووچې نوربنكاردحيزامتناع (دخپل حفاظت قابل) نه ووپاتى پيادوهم ښكاري هغه وويشت اوويې واژه نودابنكارداول دى.

(۲۸)اوهغه نه خوړل كيږي ځكه كيداى شي چې دهغه مرګ ددوهم ښكاري په ويشتلوسره حاصل شوى وي اوددوهم ښكاري ويشتل ذبح اضطراري ده چې معتبرنه ده ځكه اوس هغه دذبح اختياري قدرت لري لهذاذبح اضطراري ته اعتبارنشته.

(۲۹)اودوهم داول لپاره دزخمي ښكاردقيمت ضامن ګرځي ځكه ددوهم په ويشتلوسره دهغه مملوك ښكارتلف شوالبته هغه زخمي ښكارتلف كړى دى ځكه نوپرهغه ضمان هم دزخمي ښكاركيږي.

(۳۰)وَيَجُوزُ اِصْطِيَادُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ مِنَ الْحَيَوانِ وَمَا لَا يُؤْكَلُ

ترجمه: اوجائزدى ښكاردماكول اللحم اوغيرماكول اللحم حيوانانو.

تشريح: (۳۰)يعني دمأكول اللحم اوغيرمأكول اللحم دواړه قسمه حيوانانوښكارجائزدى ولي دمأكول اللحم ښكاركول خودغوښواونورواجزاؤڅخه دانتفاع سبب دى اودغيرماكول اللحم ښكاركول دڅمړې (پوستكي) وړى،ښكرانووغيره څخه دانتفاع سبب دى چې داجائزاموردي نوښكارجائزدى.

دچاذبيحه حلاله اودچاداحرامه ده

(۳۱)وَذَبِيحَةُ الْمُسْلِمِ وَالْكِتَابِيِّ حَلَالٌ (۳۲)وَلَا تُؤْكَلُ ذَبِيحَةُ الْمُرْتَدِّ وَالْمَجُوسِيِّ وَالْوَثَنِيِّ وَالْمُحْرِمِ (۳۳)وَاِنْ تَرَكَ الذَّابِحُ التَّسْمِيَةَ عَمَدًا فَالذَّبِيحَةُ مَيْتَةٌ لَا تُؤْكَلُ (۳۴)وَاِنْ تَرَكَ نَاسِيًا اُكِلَ

ترجمه: اودمسلمان اواهل كتاب ذبيحه حلاله ده اودمرتد،مجوسي،بت پرست اومحرم ذبيحه نه خوړله كيږي اوكه ذبح كونكي عمداًبسم الله پريښوده نودهغه ذبيحه مرداره ده نه خوړله كيږي اوكه يې بسم الله نسياناًپريښودله نوخوړله كيږي.

تشريح: (۳۱)دمسلمان اواهل كتاب ذبيحه حلاله ده په دي شرط چې دالله تعالى په نامه ذبح وكړي ځكه شرط دحلت موجوددى يعني ذابح (ذبح كونكى) صاحب ملة التوحيد كيدل ځكه مسلمان اعتقاددتوحيد لري اواهل كتاب دعوى دتوحيد كوي.

(۳۲)دمجوسيانو(آتش پرستويااورپرستو) ذبيحه نه ده حلاله ځكه مجوسي نه حقيقةً اهل التوحيددي اونه دتوحيدمدعيان دي،همداراز دمرتدذبيحه هم حلاله نه ده ځكه اهل ملت نه دى،همداسي دبت پرستانوذبيحه هم نده حلاله ځكه بت پرست اهل ملت نه دي همداراز دمحرم بالحج يامحرم بالعمره ذبيحه (مراددښكارذبح

کول دی) هم حلاله نه ده ځکه ذبح کول فعل مشروع دی حال دا چې د محرم لپاره د ښکار ذبح کول غیر مشروع دی لهذا دا ذبح نه شمارله کیږي .

(۳۳)که ذبح کونکي د ذبح په وخت عمداً بسم الله پریښوده که ذبح کونکي مسلمان وي یا اهل کتاب وي نو دهغه ذبیحه مرداره ده نه خوړله کیږي لِقوله تعالی (وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ)

ژباړه :پرکوم چې دالله تعالی نوم نه دی ذکرشوی هغه مه خورئ .

(۳۴)که بسم الله عمداً نه بلکې نسیاناً پاتی شوه نو حلال دی ځکه په دي صورت کې هم په حرام بللوکې حرج عظیم دی ولي انسان له نسیان څخه ډیرکم خالی وي .

الالغاز:ای مسلم عاقل ذبح وسمی ولم تحل ؟

فقل :اذاسمی ولم یردبها التسمیة علی الذبیحة . (الاشباه والنظائر)

دذبح دطریقې بیان

(۳۵)وَالذَّبْحُ فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ(۳۶)وَالْعُرُوْقُ الَّتِيْ تُقْطَعُ فِي الذَّكَاةِ أَرْبَعَةٌ اَلْحُلْقُوْمُ وَالْمَرِئُ وَالْوَدْجَانِ(۳۷)فَاِنْ قَطَعَهَا حَلَّ الْاَكْلُ وَاِنْ قَطَعَ اَكْثَرَهَا فَكَذَالِكَ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ لَا بُدَّ مِنْ قَطْعِ الْحُلْقُوْمِ وَالْمَرِئِ وَاَحَدِ الْوَدْجَيْنِ

ترجمه :ذبح اختیاري دحلق اولبّه ترمنځ کیږي اوکوم رګونه چې په ذبح کې پرې کیږي هغه څلوردي ،حلقوم مرئ اوودجان ،نوکه یې داڅلوررګونه پرې کړل دهغه حیوان خوراک حلال دی اوکه یې اکثرپرې کړل نو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددهغه خوراک حلال دی اوصاحبینورحمهما الله فرمایلي دي چې دحلقوم،مرئ اویوله ودجینوپري کول ضروري دی .

تشریح :(۳۵)ذبح اختیاري دحلق اولبّه (لبّه ترسینه پورته هډ) په منځ کې کیږي لقوله ﷺ :الذکوة ما بین اللبة واللحیین.

(۳۶)په ذبح کې څلوررګونه پرې کیږي حلقوم (دساه کښلوراکښلولاره) مرئ (دخوراک څښاک لاره) اوودجان (دوه ښاررګونه چې دحلقوم اومرئ راسته اوچپه طرف ته واقع دي) .

(۳۷)که یې داڅلوررګونه پرې کړل نوپه اتفاق سره ددا سي حیوان خوراک حلال دی اوکه اکثر(یعنې دري ... شول له څلورونه چې هردرې وي نوهم دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزددهغه خوراک حلال دی ... حمهما الله په نزددحلقوم ، مرئ اویوله ودجینوپري کیدل ضروري دی (دامام ابوحنیفة رحمه الله

(۳۸)وَيَجُوْزُ الذَّبْحُ بِاللِّيطَةِ وَالْمَرْوَةِ وَبِكُلِّ شَيءٍ أَنْهَرَ الدَّمَ (۳۹)إِلَّا السِّنَّ الْقَائِمَ وَالظُّفْرَ الْقَائِمَ (۴۰)وَيَسْتَحِبُّ أَنْ يُحِدَّ الذَّابِحُ شَفْرَتَهُ

ترجمه : په ليطه او مروه سره ذبح جائزه ده همدارازپه هرداسي شي کوم چې وينه وبهوي ،مگر په خپل ځاى قائم غاښ اونوک جائزنه ده او مستحب دى چې ذابح خپله چاړه تيره کړي.

تشريح :(۳۸)يعني په ليطه (دبانس په تيره پوستکي) اومروه (سپينه تېره دبره) سره ذبح جائزه ده همدارنگه په هرتېره شي هم ذبح جائزه ده چې رگونه پرې کوي اووينه بهوي ځکه ذبح په حقيقت کې هم رگونه پرې کول اووينه بهول دى .

(۳۹)مگرپه خپل ځاى قائم (يعنى کوم چې له انسان او څاروى څخه جلاشوى نه وي)غاښ اونوک سره ذبح کول جائزنه دي اگرکه رگونه پري کوي اووينه بهوي پردي دامت اجماع هم ده .

(۴۰)دذابح لپاره مستحب ده چې دڅاروي له څملولووړاندي خپله چاړه تيره کړي لقوله ﷺ ﴿إِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ أَحدكم شَفْرَتَهُ ﴾ (يعنى کله چې تاسې ذبح کوى نوپه ښه طريقه سره ذبح وکړئ اوله تاسې څخه ذبح کونکى دي خپله چاړه تيره کړي).

(۴۱)وَمَنْ بَلَغَ بِالسِّكِّيْنِ النُّخَاعَ أَوْ قَطَعَ الرَّأْسَ كُرِهَ لَهُ ذَالِكَ (۴۲)وَتُؤْكَلُ ذَبِيْحَتُهُ

ترجمه :که چاچاړه ترمغزوپورې ورسوله ياېې دحيوان سرپرې کړنودامکروه دى اوداذبيحه خوړله کيږي.

تشريح (۴۱)ذابح لره دچاړي ترنخاع (حرام مغز)پوري رسول مکروه ده همداشان دڅاروى له يخيدلو څخه وړاندي دڅاروى سرپري کول هم مکروه دي ولى چې په دي کې بلافائدي حيوان ته عذاب ورکول دي کوم چې منهى عنه دى

(۴۲)البته داسې ذبيحه به خوړل کيږي ولى چې مکروه فعل حرمت نه ثابتوي .

(۴۳)وإذَا ذَبَحَ شَاةً مِنْ قَفَاهَا فَإِنْ بَقِيَتْ حَيَّةً حَتَّى قَطَعَ الْعُرُوْقَ جَازَ (۴۴)وَيُكْرَهُ (۴۵)وإنْ مَاتَتْ قَبْلَ قَطْعِ الْعُرُوْقِ لَمْ تُؤْكَلْ

ترجمه :که يې پسه دڅټ له خوا ذبح کړکه هغه ژوندى ووترهغه چې رگونه يې ورپرې کړل نوداجائزاومکروه دى اوکه تررگونوترپرې کولو مخکې مړشونونه خوړل کيږي .

تشريح (۴۳)که چابزه دڅټ له طرف څخه ذبح کړله اوهغه ترهغه وخت پورې ژوندى وه چې دهغې هغه رگونه هم پرې شول دکوموچې پرې کول ضروري دي نوداحلاله ده ځکه مرگ يې په ذبح سره واقع شوى دى .

(۴۴)مگردافعل مکروه دى ځکه په دي کې بلاوجه تعذيب دى کمامَرّ.

(۴۵)او که بزه دضروري رګونوله پري کيدلوڅخه وړاندي مړه شوه نونه به خوړل کيږي ولی چې ددي مرګ په ذبح سره نه دی واقع شوی .

(۴۶)وَمَا اسْتَأْنَسَ مِنَ الصَّيْدِ فَذَكَاتُهُ الذَّبْحُ (۴۷)وَمَا تَوَحَّشَ مِنَ النَّعَمِ فَذَكَاتُهُ الْعَقْرُ وَالْجَرْحُ

ترجمه :هغه ښکار چې مانوس (آموخته وي) وي دهغه ذکاة ذبح کول دی او هغه حیوان چې وحشي وي نو دهغه ذکاة په نېزه وهل اوزخمي کول دی .

تشریح :(۴۶)کوم ښکار چې مانوس وي دهغه ذکاة دادی چې دحلقوم اولبة ترمنځ ذبح کړای شي ځکه ذبح اختیاري (ذبح اختیاري هغه ده چې په مذکوره طریقه دذبح کولو قدرت وي) که مقدوره وه نوذبح اضطراري (ذبح اضطراري هغه ده چې هرځای يې چې زخمي کړي وينه يې وبهيږي) کافي نه ده .

(۴۷)کوم حیوان چې وحشي وي ذبح اختیاري يې مقدوره نه وي نو دهغه ذکاة ذبح اضطراري دی چې په نېزه سره وهل اوزخمي کول دی ولي دامقدوردی .

(۴۸)وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْإِبِلِ النَّحْرُ وَإِنْ ذَبَحَهَا جَازَ وَيُكْرَهُ (۴۹)وَالْمُسْتَحَبُّ فِي الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ الذَّبْحُ فَإِنْ نَحَرَهُمَا جَازَ وَيُكْرَهُ (۵۰)وَمَنْ نَحَرَ نَاقَةً أَوْ ذَبَحَ بَقَرَةً أَوْ شَاةً فَوَجَدَ فِي بَطْنِهَا جَنِيْنًا مَيِّتًا لَمْ يُؤْكَلْ أَشْعَرَ أَوْ لَمْ يُشْعِرْ

ترجمه :اوپه اوښ کې مستحب نحر دی او که يې ذبح کړنو داهم جائزدی اومکروه دی اوپه غوا اوپسه کې ذبح کول مستحب دی او که يې پسه نحر کړنو هم جائزدی اومکروه دی او که چا اوښه نحر کړه يايې غوا اوپسه ذبح کړه بیايې دهغه په خیټه کې مړبچی وموندنو نه خوړل کیږي که يې وړی راغلې وي او که نه.

تشریح :(۴۸) په اوښ کې مستحب دادی چې نحر کړای شي (نحر دادی چې له سیني څخه لوړ چې دحلقوم کومه حصه یوځای شوي ده چیرته چې غوښه لږ وي هغه پري کړای شي)ولی چې همدا متوارث ده اوداوښ درګو دیوځای کیدلوځای هم دی لهذاداته ټول رګونه پري کیږي اوکه يې اوښ ذبح کړنو هم جائزدی مګردخلاف سنت په وجه مکروه دی .

(۴۹)اودغوا ،پسه وغیره په حق کې ذبح کول مستحب ده ولی چې ددوئ رګونه هلته جمع وي چیرته چې ذبح کيږي ،اوکه يې ددي عکس وکړیعنی غوا ،بزه وغیره يې نحرکړه نو دحصول مقصود (یعنی وینه بهول) له وجه سره داهم جائزده مګردخلاف سنت په وجه سره مکروه ده .

(۵۰)که چا اوښه نحر کړه يايې غوا اوبزه حلاله کړه بیايې ددي په نس کې مړبچی وموندی نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد به دا نه خوړل کیږي که يې ويښتان شنه شوي وي اوکه نه وي (یعنی خلقت يې تام شوی وي اوکه نه وي).حال داچې دصاحبینو په نزد که يې خلقت تام شوی وونو خوړل کیږي اوکه نه وو تام شوی نونه خوړل کیږي . دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی

دحلال اوحرام حیوانانو بیان

(۵۱)ولایجوز أکل کل ذی ناب من السباع ولا کل ذی مخلب من الطیر (۵۲) ولا بأس بأکل غراب الزرع (۵۳) ولا یؤکل الأبقع الذی یأکل الجیف

ترجمه: اوجائزنه دی هرقسم ذی ناب درنده خوړل اونه ذی مخلب مرغه خوړل جائزدی اودکښت دکارغه په خوړلوکښ هیڅ باک نشته اونه خوړل کیږي تورکارغه چې مرداري مرږګي خوري.

تشریح: (۵۱)دهرقسم ذی ناب (هغه غوښه خوړونکی حیوان چې دهغه هغه دوه لوی غاښونه وي دکوموپه ذریعه سره چې هغه غوښه پري کوي یاښکارنیسي)څناورخوړل جائزنه دي اوپه مرغانوکې دهرذی مخلب (مرادهغه مرغه دی کوم چې په خپلوتیرولپنجوسره ښکارمړکوي)خوړل جائزنه دي ولی چې نبی کریم ﷺ دخیبرپه ورځ فرمایلي وو ﴿ أكل كل ذي ناب من السباع حرام ﴾ (یعنی له څناوروڅخه دهرذی ناب خوړل حرام دي)همدارازپه حدیث شریف کې دي چې نبی کریم ﷺ دهمدي خیبرپه ورځ خاطفه حرام کړځولي دي اوله خاطفه څخه مرادهغه مرغه دی کوم چې له هوا څخه په حمله کولوسره شی پورته کوي لکه بازوغیره.

(۵۲)دکښت دکارغه خوړل جائزدي کوم ته چې زاغ ویل کیږي ولی چې هغه دانه خوري مردارنه خوري لهذا هغه له سباع الطیر څخه نه دی.

(۵۳)البته غراب ابقع (یعنی په کوم کې چې سپین اوتوررنګ ګډشوی وي)به نه خوړل کیږي ولی چې هغه مردارخوري.

(۵۴)ویکره أکل الضبع والضب والحشرات کلها

ترجمه: اومکروه دی خوړل دضبع اوضب اوهرقسم حشرات الارض.

تشریح: (۵۴) یعنی دضبع (بجو، ګورکښ، دڅناوروپه جنس کې له سپی څخه لړلوی اودلوی سروالاقوي حیوان دی) اوضب (له مړک سره مشابه یوحیوان دی) اوهرقسم حشرات الارض (چنیجان یاکوچنی کوچنی حیوانان لکه چنګاښ، مړک، سرطان اوماروغیره)خوړل مکروه دی ولی چې داله خبائثوڅخه دي قال الله تعالی (ویحرم علیهم الخبائث)(یعنی حراموي هغه پردوئ خبائث).

(۵۵)ولایجوز أکل لحم الحمر الأهلیة والبغال (۵۶) ویکره أکل لحم الفرس عند أبی حنیفة رحمه الله ولا بأس بأکل الأرنب

ترجمه: دکورني خرواوخچرانوغوښه خوړل جائزه نه ده اودآس غوښه خوړل دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزدمکروه ده اودخرګوش په خوړلوکې هیڅ باک نشته.

تشريح :(۵۵) دکورنيو خرو خوړل جائزنه دی ولي په حديث شريف کښ ددي ممانعت راغلی دی ،همداشان دخچرغوښه خوړل هم جائزنه ده ځکه داله خرو څخه پيدا کيږي نو دهغوئ به هم هغه حکم وي .

(۵۶)دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزددآس غوښه خوړل مکروه تحريمي ده ولی چې دادښمن دويرولوآله ده نواحترامادده خوړل مکروه دي ،حال داچې دصاحبينوپه نزددآس غوښه خوړل (له کراهت تنزيهی سره)جائزده اودسوئ په خوړلوکې څه حرج نشته ولی چې نه داله ځناوروڅخه دی اونه مردارخوري لهذادادهوسۍ مشابه دی .

(۵۷)وَإِذَاذُبِحَ مَالَايُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَهُرَ جِلْدُهُ وَلَحْمُهُ (۵۸)إِلَّاالْآدَمِيَّ وَالْخِنْزِيْرَفَإِنَّ الذَّكَاةَ لَاتَعْمَلُ فِيْهِمَا .

ترجمه :اوچې غيرماکول اللحم (داسې حيوان چې دغوښې خوراک يې حلال نه دی) حيوان ذبح کړي نود هغه پوستکی اوغوښه پاکيږی مګردانسان اوخنزيرځکه ذبح کول په دې دوکې عمل نه کوي .

تشريح :(۵۷) که چاداسې حيوان ذبح کړچې دهغه غوښه خوړل حلال نه وي نودهغه پوستکی اوغوښه پاکيږي ولي چې دذبح اثردادی چې په دې سره رطوبات اوبهيدونکي وينه ختميږي اونجس همدادوه شيان دي دپوستکی اوغوښي ذات نجس نه دی لهذاکله چې دازائل شول نوپوستکی اوغوښه پاک دي .

(۵۸)البته دانسان اوخنزيرغوښه په ذبح کولوسره نه پاکيږي بيادانسان په غوښه کې دذبح دعدم تاثيروجه دانسان مکرم اومحترم والی دی اوپه خنزيرکې دعدم تاثيروجه دخنزيرنجس العين والی دی .

(۵۹)وَلَايُؤْكَلُ مِنْ حَيَوَانِ الْمَاءِ إِلَّا السَّمَكُ (۶۰)وَيُكْرَهُ أَكْلُ الطَّافِيْ مِنْهُ (۶۱)وَلَابَأْسَ بِأَكْلِ الْجِرِّيْثِ وَالْمَارْمَاهِيْ (۶۲)وَيَجُوْزُ أَكْلُ الْجَرَادِ وَلَاذَكَاةَ لَهُ

ترجمه :اونه خوړل کيږي داوبوله حيواناتوڅخه پرته له ماهي (کب) اومکروه دی له ماهي څخه طافی خوړل اودجريث اومارماهي په خوړلوکې هيڅ باک نشته اوملخ خوړل جائزدی اوهغه لره ذبح نشته .

تشريح :(۵۹) داوبوپه حيواناتوکې (دسمندر،درياب وغيره)له ماهي نه سواهيڅ حيوان هم حلال نه دی لقوله تعالی ﴿ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ ﴾(يعنی حراموي هغه پردوئ خبائث)اوله ماهی ماسوادااوبونور حيوانات له خبائثو څخه دي .

(۶۰)البته له ماهيانوڅخه هم دطافی (کوم ماهی چې په اوبوکې په خپل مرګ سره ومري اوداوبوپرسرراشي اودهغه نس داسمان طرف ته وي هغه ته طافی ويل کيږي)خوړل مکروه دی لقوله ﷺ ﴿ وماطفی فلاتاکلو﴾ (يعنی کوم چې سرچپه شوی وي هغه مه خورئ)،دملخ خوړل حلال دي ،دماهی اوذبح کولوضرورت هم

نښته لقوله ﷺ ﴿ أُحِلَّتْ لنا مَيْتَتَانِ السَّمَکُ وَالْجَرَادُ﴾ (يعنى زمونږ لپاره حلال کړل شوي دي دوه مرداري يعنى ماهي اوملخ).

داکتاب داضحيه په بيان کې دى

اضحيه په لغت کې هغه حيوان ته ويل کيږي کوم چې دضحى پروخت ذبح کړل شي بيا په کثرت سره په هغه حيوان کې مستعمله شوه کومه چې دقرباني په ورځو کې هروخت ذبح کړاى شي ،اوشرعا دمخصوص حيوان دقربت په نيت سره په مخصوص وخت کې ذبح کولوته ويل کيږي.

ذبح عامه ده که په نيت دتقرب وثواب وي يادالله تعالى پرنامه دخوراک لپاره ذبح شوي وي او اضحيه خاص هغه ده کومه چې دتقرب په نيت سره ذبح کړاى شي نوله ذبائح څخه وروسته داضحيه ذکرکول تخصيص بعدتعميم دى.

داضحيه لپاره شرط د ادى چې اضحيه کونکى به مسلمان وي اود ومره غنى شرط ده په څومره سره چې صدقه فطرواجبيږي داشرائط چې په چاکې موجودشي که مذکروي اوکه مؤنث نوپرهغه اضحيه واجب ده ،داضحيه سبب وخت يعنى ايام نحردي ،داضحيه رکن دهغه څاروى ذبح کول دي دکوم چې داضحيه په ډول سره ذبح کول جائزدي ،داضحيه حکم په دنياکې دواجب اداء کول دى اوپه عقبى کې ثواب موندل دي.

(۱) اَلْأُضْحِيَةُ عَلَى كُلِّ حُرٍّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ مُوْسِرٍ فِي يَوْمِ الْأَضْحَى يَذْبَحُ عَنْ نَفْسِهٖ وَعَنْ وُلْدِهِ الصِّغَارِ (۲) وَيَذْبَحُ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ شَاةً أَوْ يَذْبَحُ بَدَنَةً أَوْ بَقَرَةً عَنْ سَبْعَةٍ (۳) وَلَيْسَ عَلَى الْفَقِيرِ وَالْمُسَافِرِ أُضْحِيَةٌ

ترجمه: قرباني،پرهرحُر،مسلمان مقيم واجبه ده په دي شرط چې غني وي دقرباني په ورځ ،له خپله طرفه اودخپلوبچيانوله طرفه اوذبح کوي به دهريوه له طرفه يوپسه يااوکسانوله طرفه يواوښ ياغويى اوپرفقيراومسافرقرباني نه ده واجبه.

تشريح: (۱)قرباني په هرآزاد،مسلمان اومقيم (که په ښارکې وي ياپه کلوکې وي)واجب ده اوشرط دادى چې غني (دصدقة الفطرغنى مراده)وي له خپل طرف نه اوله خپلوبچيانو څخه،دهريوه له طرفه.

(۲)به يوپسه ذبح کړي،يابه داوکسانوله طرفه يواوښ ياغويى ذبح کړي ،دبچيانوله طرفه دذبح کولوقول حسن ابن زياد رحمه الله له امام ابوحنيفة رحمه الله څخه نقل کړى دى هغه يې پرصدقة الفطرقياسوي مګرظاهرروايت دادى چې دبچيانوله طرفه ذبح کول واجبه نه ده.

په اوښ اوغواکې هريوله اوو څخه دلږ وکسانو لپاره هم کافي دی ،دقياس تقاضاخوداده چې دبزي په شان دهرکس له طرف څخه يواوښ يايوه غواوي مگرپه حديث شريف کې دي حضرت جابر ﷺ فرمايي چې موږله نبی کريم ﷺ سره غوااواوښ داووکسانوله طرف څخه قرباني کړه .
(۳)پرفقيراومسافرقرباني واجبه نه ده ځکه پرهغودقرباني په واجبيدوکې دهغوئ لپاره حرج دی اوحرج شرعًامدفوع دی .

(۴)وَوَقْتُ الْأُضْحِيَةِ يَدْخُلُ بِطُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ النَّحْرِ (۵)إِلَّا أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ لِأَهْلِ الْأَمْصَارِ الذَّبْحُ حَتّٰى يُصَلِّيَ الْإِمَامُ صَلٰوةَ الْعِيْدِ(۶)فَأَمَّا أَهْلُ السَّوَادِ فَيَذْبَحُوْنَ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ

ترجمه : دقرباني وخت دلسم ذی الحجه له طلوع فجرڅخه شروع کيږي ،ليکن دښارخلگوته ترهغه وخت پوري قرباني کول جائزنه ده ترڅوچې امام المسلمين داخترله لمانځه څخه فارغ نه شي اودکليوخلک له طلوع فجروروسته ذبح کولای شي .

تشريح :(۴) دقرباني وخت دلسم ذی الحجه له طلوع فجرڅخه شروع کيږي .
(۵)ليکن دښارخلگوته ترهغه وخت پوري قرباني کول جائزنه ده ترڅوچې امام المسلمين داخترله لمانځه څخه فارغ نه شي يادلمرپه زوال کيدلوسره دلمانځه وخت تيرشي نوهم قرباني ذبح کول جائزده ولی چې دښاری په حق کې شرط دادی چې دده داخترلمونځ يادا خترد لمانځه وخت له قرباني ذبح کولوڅخه وړاندې وي که له دې دواړه څخه يوموجودنه شونودفقدان شرط په وجه سره قرباني جائزنه ده .
(۶)هودکليوخلکوته له طلوع فجرڅخه وروسته قرباني ذبح کول جائزده ولی چې پردوئ صلوة عيدفرض نه دی نوتقديم الصلوة ياتقديم وقت الصلوة هم شرط نه دی.

(۷)وَهِيَ جَائِزَةٌ فِيْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ يَوْمِ النَّحْرِ وَيَوْمَانِ بَعْدَهُ

ترجمه : قرباني په دريوورځوکې جائزده يوه يوم النحر اودوه ورځې له هغې څخه وروسته .

تشريح :(۷) قرباني تردريوورځوپوري جائزده يوه يوم النحريعنی لسم ذی الحجه اودوه ورځې له دې څخه وروسته يعنې يولسم اودولسم ذی الحجه ولی چې له حضرت عمراوحضرت علی اوحضرت ابن عباس ﷺ څخه مروی ده چې هغوئ وويل ايام نحردري دي أَوَّلُهَا أَفْضَلُهَا.ظاهره داده چې هغوئ داله نبی کريم ﷺ څخه اوريدلي ده ولی چې دمقاديروپه مقررکولوکې درأي دخل نه وي .

(۸)وَلَا يُضَحّٰى بِالْعَمْيَاءِ وَالْعَوْرَاءِ وَالْعَرْجَاءِ الَّتِيْ لَا تَمْشِيْ إِلَى الْمَنْسَكِ وَلَا الْعَجْفَاءِ (۹)وَلَا تُجْزِئُ مَقْطُوْعَةُ الْأُذُنِ وَالذَّنَبِ وَلَا الَّتِيْ ذَهَبَ أَكْثَرُ أُذُنِهَا أَوْ ذَنَبِهَا(۱۰)وَإِنْ بَقِيَ الْأَكْثَرُ مِنَ الْأُذُنِ وَالذَّنَبِ جَازَ

ترجمه:قرباني به په ړانده پسه نه کوي اونه په عوراء (يوسترګي)اونه په داسي ګوډ چې ترمذبح پورې نه شي تلای اونه ډير کمزوری حيوان اوداسي حيوان کافي نه دی چې غوږيالکۍ يې پرې شوې وي اونه داسي حيوان چې اکثرغوږيالکۍ يې غوڅ شوي وي اوکه دغوړاولکۍ اکثره حصه باقي وي نوجائزدی.

تشريح:(۸) دړانده څاروي قرباني جائزنه ده ،همداشان دعوراء (يعنی يوسترګې)څاروي قرباني جائزنه ده ،همداشان دداسي ګوډڅاروي قرباني جائزنه ده کوم چې ترمذبح خاني پوري نه شي تلی اودداسي کمزوری څاروي قرباني جائزنه ده دکوم په هډوکي چې مغزنه وي.

(۹)دهغه څاروي قرباني هم جائزنه ده دکوم چې لکۍ يا غوږېږي وي يااکثرېږي وي.

(۱۰)اوکه دلکۍ اوغوړاکثره برخه پاتي وي نوجائزده ولی چې للاکثرحکم الکل.

(۱۱)وَيَجُوزُاَنْ يُضَحّٰى بِالْجَمَّاءِوَالْخَصِيِّ وَالْجَرْبَاءِوَالثَّوْلاءِ

ترجمه:اوجائزه ده قرباني کول دجماء،خصی،جرباء اوثولاء حيوان.

تشريح:(۱۱) دجماء څاروي (يعنی دکوم چې پيدائشي ښکرنه وي)قرباني جائزده ولی چې له ښکرسره کوم مقصوددتعلق نه دی ،همداشان دخصی څاروي قرباني جائزده ولی چې دده غوښه ډيرخوږه وي ،همداشان دثولاء څاروي (يعنی ليوني څاروي)قرباني جائزده په دي شرط چې واښه خوري ولی چې داسي جنون مقصودته مخل نه وي.

(۱۲)وَالْاُضْحِيَّةُمِنَ الْاِبِلِ وَالْبَقَرِوَالْغَنَمِ(۱۳)وَيُجْزِئُ مِنْ ذَالِكَ كُلِّهِ الثَّنِيُّ فَصَاعِدًا(۱۴)اِلَّاالضَّانَ فَاِنَّ الْجَذَعَ مِنْهُ يُجْزِئُ

ترجمه:قرباني په اوښ ،غوايې اوپسه سره کيږي اوپه دوئ ټولوکې ثنی یاترثنی دزيات عمروالاکافي دی پرته له مږنه چې دهغه وری هم کافي دی.

تشريح:(۱۲) قرباني په اوښ ،غوااوپسه سره کيږي ولي چې شرعادهمدې څارويو قرباني معلومه شوې ده له دې څخه دغيرقرباني له نبی کريم ﷺ څخه مروي نه دی.

(۱۳)اوله مذکوره څارويو څخه دثنی یاله ثنی څخه دزيات عمروالاقرباني صحيح ده له ثنی څخه دکم عمروالاقرباني صحيح نه ده ،بياپه اوښانوکې ثنی هغه دی چې پنځه کلنی وي اوپه غوااوګاميښي کې دوه کلنی ثنی ده اوپه پسه اوبزي کې يوکلنی ثنی دی.

(۱۴)البته په پسه کې جذع يعنی شپږمياشتنی وری هم جائزده په دي شرط چې چاغ اوتازه وي په دي دول چې که په ثنی ګانوکې ايله کړای شي نوفرق يې نه کيږي.

(۱۵)وَيَاكُلُ مِنْ لَحْمِ الْاُضْحِيَةِ وَيُطْعِمُ الْاَغْنِيَاءَ وَالْفُقَرَاءَ وَيَدَّخِرُ (۱۶)وَيُسْتَحَبُّ لَهُ اَنْ لَا يَنْقُصَ الصَّدَقَةَ مِنَ الثُّلُثِ (۱۷)وَيَتَصَدَّقُ بِجِلْدِهَا اَوْ يَعْمَلُ مِنْهُ آلَةً تُسْتَعْمَلُ فِي الْبَيْتِ

ترجمه :اودقرباني غوښې پخپله هم خوړلای شي اوغنيانواوفقيرانوته يې همورکولای شي اودخپل د لپاره يې ذخيره کولای شي اومستحب دادی چې صدقه تريوه ثلث کمه نه کړي اودقرباني پوستکی د ياصدقه کړي يادي يوداسي شی ځني جوړکړي چې په کورکې استعمال کړای شي.

تشريح :(۱۵) قرباني کونکي لره اختياردی که يې خوښه وي دقرباني غوښه دي خپله وخوري اويا ماشومانودي وخوري اوکه يې خوښه وي نوپه اغنياؤ اوفقراؤ دي وخوري اوکه يې خوښه وي نودخپل د لپاره يې ذخيره کولای هم شي ولی چې نبی کريم ﷺ فرمايلي ووچې ماتاسي دقربانيودغوښوله خوړله کړي واست نواوس يې خوریٔ اوذخيره يې کړیٔ ،اوکله چې داجائزده چې صاحب قرباني يې په خپله وخو حال داچې هغه غني دی نوپه نوروغنيانو يې هم خوړلای شي.

(۱۶)مگرمستحب داده چې صدقه له يوه ثلث ځخه کمه نه کړي ولی چې دمصرفولوجهات دري دي خو ،ذخيره کول لماروينااوبل چاته دخوراک لپاره ورکول لقوله تعالی (وَاطعَمُوا القَانِعَ وَالمُعتَرّ)(يعنی ور کړه دخوراک لپاره صابراوبې صبرته)لهذاپه دريوجهاتوبه اثلاثاتقسيميږي.

(۱۷)دقرباني پوستکی که يې خوښه وي نوصدقه دي کړي ولی چې پوستکی دقرباني جزء دی اوکه خوښه وي له هغه ځخه دي کوم داسي شئ جوړکړي چې په کورکې کاريږي مثلابوشکه ،غلبيل ،مه وغيره.

(۱۸)وَالْاَفْضَلُ اَنْ يَذْبَحَ اُضْحِيَتَهُ بِيَدِهِ اِنْ كَانَ يُحْسِنُ الذَّبْحَ (۱۹)وَيُكْرَهُ اَنْ يَذْبَحَهَا الْكِتَابِيُّ

ترجمه :اوافضل دادی چې قرباني پخپل لاس ذبح کړي که يې ذبح ښه زده وه اومکروه دی چې يواهل کتا دهغه قرباني ذبح کوي.

تشريح :(۱۸) افضل داده چې خپله قرباني په خپل لاس سره ذبح کړي په دي شرط چې ذبح کول يې زده ولی چې داعبادت دی اوداسي عمل چې عبادت وي په خپله سرته رسول افضل دی.

(۱۹)قرباني په کوم اهل کتاب ذبح کول مکروه ده ولی چې داداسي کاردی کوم چې قربت اوثواب دی اواه کتاب دقربت اوثواب اهل نه دي .البته دمسلمان په امرسره که ده ذبح کړه نوجائزده ولی چې داه کتابوذبيحه صحيح ده.

(۲۰)وَاِذَا غَلِطَ رَجُلَانِ فَذَبَحَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا اُضْحِيَةَ الْآخَرِ اَجْزَاَ عَنْهُمَا وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا.

ترجمه :که دوکسانوپه غلطي سره پخپل منځ کې ديوه بل دقرباني حيوان ذبح کړنودادواړوله طرفه کافي کيږي اوپردوئ ضمان هم نشته .
تشريح :(۲۰) که دووکسانوپه خپل منځ کې په دې ډول غلطي وکړه چې هريوه دهغه بل دقرباني ځاروي ذبح کړنواستحساناددواړوله طرف څخه جائزدی اوله دواړوڅخه پريوه هم ضمان نشته ځکه له دواړونه هريودهغه بل دهغه په فعل کې دلالةً وکيل دی .

كتَابُ الأيمَان

داکتاب دايمان (قسمونو) په بيان کې دی .
ايمان ،ديمين جمع ده په لغت کې دقوة په معنی دی قال الله تعالی (اَخَذنَامِنه بِاليَمِينِ اَی بِالقُوَةِ) اوپه اصطلاح دشريعت کې يمين هغه عقددی چې دقسم کونکي عزم ديوه کارپه کولويانه کولومضبوط کړي .
له کتاب الاضحية سره مناسبت دادی چې داضحيه په ذريعه انسان پرپل صراط په تيريدوکې تقوية حاصلوي همداډول دقسم په ذريعه پرمتصل بالقسم باندي تقوية حاصليږي .
فائده :حلف په معنی دقسم ،حالف قسم کونکی ،محلوف عليه پرکوم شي چې قسم وخوړل شي ،يمين دکوم په پابندي نه کولوسره چې کفاره لازميږي ،حنث،دقسم ماتيدل اوحانث قسم ماتونکی .

(۱)الأَيْمَانُ عَلی ثَلٰثَةِ اَضْرُبٍ يَمِينُ غَمُوْسٍ ويَمِينُ مُنعقِدَةٌ ويَمِينُ لَغْوٍ (۲) فَيَمِينُ الْغَمُوْسِ هِيَ الْحَلْفُ عَلی أَمْرٍ مَاضٍ يَتَعَمَّدُ الْكِذْبَ فِيْهِ (۳) فَهٰذِهِ الْيَمِينُ يَأثِمُ بِهَا صَاحِبُهَا ولا كَفَّارَةَ فِيْهَا إلَّا التَّوْبَةُ وَالْاِسْتِغْفَارُ

ترجمه :يمين درې قسمه دی :يمين غموس،يمين منعقده اويمين لغو ،يمين غموس دادی چې پرتيرشوي کارقسم وخوري په قصددروغوسره په دې قسم سره قسم خوړونکی گناهگاريږي اوپه دې کې کفاره نشته پرته له استغفاراوتوبې نه .
تشريح :(۱)يعني يمين درې قسمه دی **نمبر ۱**-يمين غموس،غموس له غمس څخه دی په معنی دداخليدو پداوبوکې نويمين غموس هم خپل صاحب په گناه کې وروسته په اورکې داخلوي .
نمبر ۲-يمين منعقده (وجه دتسميه داده چې په دې کې حالف په قصداونيت سره دبرائة عقدکوي) .
نمبر ۳-يمين لغو،دې ته لغوځکه وايي چې داله درجې داعتبارنه ساقط دی چې پردې باندي له دريوشيانوپرته په نوروکې مواخذه کې نشته هغه درې شيان دادي طلاق،عتاق اونذر.
(۲)يمين غموس پرتيره خبره په قصددروغوقسم اخيستلوته وايي مثلايوکاريې کړی وي اوبنه پوهيږي چې ماداکارکړی دی بياهم وايي والله که ماداکارکړی دی .

(۳)پرداسې قسم اخيستونکي کفاره نشته البته توبه او استغفاربه کوي ځکه يمين غموس گناه کبيره ده دهغې ارتفاع په توبه او استغفارسره کيدای شي په کفاره سره نه کيږي.

(۴)وَالْيَمِيْنُ الْمُنْعَقِدَةُ هِيَ اَنْ يَحْلِفَ عَلَى الْاَمْرِ الْمُسْتَقْبَلِ اَنْ يَفْعَلَهُ اَوْ لَا يَفْعَلَهُ (۵) فَاِذَا حَنِثَ فِي ذَالِكَ لَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ (۶) وَيَمِيْنُ اللَّغْوِ هُوَ اَنْ يَحْلِفَ عَلَى اَمْرٍ مَاضٍ وَهُوَ يَظُنُّ اَنَّهُ كَمَا قَالَ وَالْاَمْرُ بِخِلَافِهِ (۷) فَهٰذِهِ الْيَمِيْنُ نَرْجُوْ اَنْ لَا يُؤَاخِذَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِهَا صَاحِبَهَا

ترجمه :اويمين منعقده دادی چې پرراتلونکي کوم کارقسم واخلي چې داکوم يابه نه کوم بياچې کله پکې حانث شي نوپرده کفاره لازمه ده اويمين لغودادی چې دتيرې زمانې پرکوم کاريانديې قسم واخلي اودده يقين وي چې داكارداسي هم دی لکه زه چې وايم حال داچې حقيقت دهغه خلاف وي نودايمين لغودی اميدشته چې الله تعالی په يمين لغوکې دصاحب يمين مواخذه ونه کړي.

تشريح :(۴)يمين منعقده دادی چې دراتلونکي په کولويانه کولو قسم وخوري (مثلاووايې چې والله زه به سبق يادوم ياوالله زه به دفلان كورته نه ورځم).

(۵)ددې حکم دادی چې که داسړی حانث (دکوم کارپه نه کولويې قسم کړی ووهغه يې ترسره کړدې سړي ته حانث وايي) شونوپرده کفاره لازمه ده لقوله تعالی (وَلٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْاَيْمَانَ) ليکن په کوم سره چې تاسي قسمونه مضبوط کړي دي دهغه مواخذه کوي.

(۶)يمين لغودادی چې دتيرې زمانې پريوکارقسم وخوري مثلاووايې والله مافلان کارکړی دی اودده يقين هم وي چې داکارماکړی دی اوپه واقع کې هغه کارده نه وي کړی يا ووايې والله که مادافلان کارکړی دی اودده يقين دی چې داکارمانه دی کړی په واقع کې داکارده کړی دی،امام محمد رحمه الله له امام ابوحنيفة رحمه الله څخه نقل کړی دی چې مَايَجْرِي بَيْنَ النَّاسِ مِنْ قَوْلِهِمْ لَاوَاللّٰهِ ،بَلٰى وَاللّٰهِ دايمين لغودی.

(۷)اميدشته چې په يمين لغوکې الله تعالی دصاحب يمين مواخذه ونه کړي لقوله تعالی (لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ)ژباړه:يعني الله تعالی ستاسې په قسمونوکې چې کوم لغوواقع شي دهغه مواخذه نه کوي.

(۸)وَالْقَاصِدُ فِي الْيَمِيْنِ وَالْمُكْرَهُ وَالنَّاسِيْ سَوَاءٌ (۹) وَمَنْ فَعَلَ الْمَحْلُوْفَ عَلَيْهِ عَامِدًا اَوْ مُكْرَهًا اَوْ نَاسِيًا فَهُوَ سَوَاءٌ

ترجمه :اوعمداً قسم کونکی اوهغه چې په زورقسم په شوی وي اوپه هيره قسم کونکی ټول په حکم کې سره برابردي اوکه چامحلوف عليه كارقصداً اوکړيادمجبورۍ په خاطروکړيايې په هيره وکړنوداټول برابردي.

تشريح :(۸)که چاعمداً قسم وکړاوپه چاچې په زورقسم شوی وي اوهغه چې په هيره يې قسم خوړلی وي داټول په حکم کې سره برابردي حتی په صورت کې دحنث له دوئ نه پرهريوه کفاره لازميږي لقوله ﷺ :ثَلٰثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ اَلنِّكَاحُ وَالطَّلَاقُ وَالْيَمِيْنُ.

زباړه :يعني دې شيان داسي دي چې قصد يې هم عمد دی او هزل يې هم عمد دی لکه نکاح، طلاق او قسم.

(۹) که چا محلوف عليه کار په قصد وکړيا چا د محلوف عليه په کولو مجبور کړا و دی مجبور شو هغه کار يې ترسره کړيا يې قسم هېرو و محلوف عليه کار يې وکړ نو دا ټول صورتونه په حکم کې برابر دي ځکه فعل حقيقي اکراه او نسيان نه معدوم کوي لهذا پر دغه چا کفاره واجبه ده.

(۱۰) وَالْيَمِيْنُ بِاللّٰهِ تَعَالٰى اَوْ بِاسْمٍ مِنْ اَسْمَاءِهٖ كَالرَّحْمٰنِ وَالرَّحِيْمِ اَوْ بِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِ ذَاتِهٖ كَعِزَّةِ اللّٰهِ وَجَلَالِهٖ وَكِبْرِيَائِهٖ .(۱۱) اِلَّا قَوْلَهٗ وَعِلْمِ اللّٰهِ فَاِنَّهٗ لَا يَكُوْنُ يَمِيْنًا

ترجمه :او يمين په لفظ د الله او په هر نامه له نومونو د الله تعالى سره کيږي لکه رحمان، رحيم يا د الله تعالى له ذاتي صفاتونه په يوه صفت سره لکه د الله په عزت او دهغه په جلال او دهغه په کبريا قسم مګر ديوه قائل دا قول چې بعلم الله دا قسم نه کيږي.

تشريح :(۱۰) يمين د الله تعالى په ذاتي نوم الله سره منعقد کيږي يا د الله تعالى له نومونو څخه په کوم بل نامه لکه الرحمن، الرحيم ، العليم الخبير ، وغيره سره که په دغو نومو سره قسم خوړل متعارف وي که نه وي، يا د الله تعالى له ذاتي صفاتو څخه په کوم صفت سره مګر شرط دا دی چې په هغه صفت سره قسم خوړل په خلکو کې متعارف وي لکه بعزة الله، وجلاله و کبريائه وملکوته وجبروته وعظمته وقدرته ، ولي په دې سره قسم خوړل متعارف دی.

(۱۱) البته داسي ويل چې بِعِلمِ الله تعَالى نو دا قسم نه کيږي اګر که دا هم د الله تعالى صفات ذاتيه ؤ څخه دی مګر څرنګه چې په دې سره قسم متعارف نه لهذا قسم نه کيږي.

(۱۲) وَاِنْ حَلَفَ بِصِفَةٍ مِنْ صِفَاتِ الْفِعْلِ كَغَضَبِ اللّٰهِ وَسَخَطِ اللّٰهِ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا

ترجمه :او که چا د الله تعالى له صفات فعليه ؤنه په يوه صفت سره قسم واخيست مثلاً ويې ويل وغضب الله ياسخط الله نو دا سړی قسم کونکی نه کيږي.

تشريح :(۱۲) که چا د الله تعالى له فعلي صفاتونه په يوه صفت سره قسم واخيست مثلاً ويې ويل وغضب الله يا وسخط الله يا ورضاء الله يا ورحمة الله ، نو دا سړی قسم خوړونکی نه کيږي ولي په دې سره قسم خوړل متعارف نه دی.

فائده :د الله تعالى صفات دوه قسمه دي يو ذاتي بل فعلي ،صفات ذاتيه هغه دي چې په ضد سره يې الله تعالى نه متصف کيږي لکه عليم، حليم ،عزيز، کبير وغيره او صفات فعلي هغه دي چې په ضد سره يې الله تعالى متصف کيدای شي لکه غضب، سخط، رضا وغيره.

(۱۳) وَمَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَكُنْ حَالِفًا كَالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْقُرْاٰنِ وَالْكَعْبَةِ

ترجمه: كه چاله الله تعالى نه سِوا قسم واخيست نو داسړى قسم كونكى نه كيږي مثلاً ويې ويل په نبي قسم، په قرآن قسم يا په كعبه قسم.

تشريح: (۱۳) كه چاله الله تعالى پرته په بل شي قسم واخيست مثلاً ويې ويل په نبى قسم، په قرآن قسم په كعبه قسم نو داسړى قسم كونكى نه بلل كيږي ځكه په دې سره قسم خوړل متعارف نه دى، واضحه دې وي چې نن سبا په نبى، قرآن او كعبه سره قسم اخيستل متعارف دى لهذا په دې سره قسم خوړونكى حالف شمارل كيږي.

(۱۴) وَالْحَلْفُ بِحُرُوْفِ الْقَسَمِ وَحُرُوْفِ الْقَسَمِ ثَلٰثَةٌ اَلْوَاوُ كَقَوْلِهٖ وَاللّٰهِ وَالْبَاءُ كَقَوْلِهٖ بِاللّٰهِ وَالتَّاءُ كَقَوْلِهٖ تَاللّٰهِ وَقَدْ تُضْمَرُ الْحُرُوْفُ فَيَكُوْنُ حَالِفًا كَقَوْلِهِ اللّٰهِ لَا اَفْعَلُ كَذَا (۱۵) وَقَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ اِذَا قَالَ وَحَقِّ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِحَالِفٍ

ترجمه: او قسم په حروف قسم سره كيږي او حروف قسم درې دي واو دى لكه د قائل قول چې والله او باء ده لكه د قائل قول بالله او تاء ده لكه ديو چا قول تالله او كله حروف قسم مقدروي نو هم قسم كونكى حالف شمارل كيږي لكه د ويونكي قول الله لا افعل كذا، امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايلي دي چې كه چا وويل وحق الله لا افعل كذا نو حالف نه شمارل كيږي.

تشريح: (۱۴) قسم په حروف قسم سره كيږي او حروف قسم درې دي واو دى لكه واللهِ او باء ده لكه باللهِ او تاء ده لكه تَاللهِ ځكه په دې كې هريو په باب يمين كې معلوم او په قرآن كريم كې مذكور دى، او كله حروف مقدروي نو هم قسم كونكى حالف شمارل كيږي لكه الله لا افعل كذا اى واللهِ الخ، ځكه د اختصار لپاره حذف د حرف نداء د عربو عادت دى.

(۱۵) امام ابو حنيفة رحمه الله فرمايلي دي چې كه چا په نيت د قسم وويل وحق الله لا افعل كذا، نو داسړى حالف نه شمارل كيږي ځكه له حق الله څخه مراد طاعة الله دى او طاعات د الله تعالى حقوق دي نو دا حلف بغير الله دى ځكه دا حلف نه دى.

(۱۶) وَاِذَا قَالَ اُقْسِمُ اَوْ اُقْسِمُ بِاللّٰهِ اَوْ اَحْلِفُ اَوْ اَحْلِفُ بِاللّٰهِ اَوْ اَشْهَدُ اَوْ اَشْهَدُ بِاللّٰهِ فَهُوَ حَالِفٌ (۱۷) وَكَذٰلِكَ قَوْلُهٗ وَعَهْدِ اللّٰهِ وَمِيْثَاقِهٖ (۱۸) وَكَذٰلِكَ اِنْ قَالَ عَلَيَّ نَذْرٌ اَوْ نَذْرُ اللّٰهِ فَهُوَ يَمِيْنٌ

ترجمه: كه چا وويل چې زه قسم خورم يا زه په الله سره قسم كوم يا يې وويل چې زه حلف كوم يا په الله سره حلف كوم يا زه شهادت وركوم يا زه په الله سره شهادت وركوم نو داسړى حالف شمارل كيږي همدا راز كه يې وويل چې وعهد الله يا وميثاق الله نو دا هم حالف دى او همدا راز كه يې وويل عليّ نذر يا عليّ نذر الله نو دا هم يمين دى.

تشریح :(۱۶)که چاوویل چې زه قسم خورم یازه په الله سره قسم خورم یایې وویل زه حلف کوم یاپه الله سره حلف کوم یازه شهادت ورکوم یازه په الله سره شهادت ورکوم نوداسړی حالف شمارل کیږي ځکه داالفاظ په حلف کې مستعمل دي.

(۱۷)همدارنګه که چاوویل وعهدالله یاومیثاق الله نوداهم حالف دی ځکه عهدیمین دی قَالَ اللهُ تَعَالی (وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللهِ) یعنې دالله تعالی عهدپوره کړئ. اومیثاق دعهدپه معنی دی.

(۱۸)همدارازکه یې وویل عليّ نذریاعليّ نذرالله نودا هم قسم دی لقوله ﷺ :مَنْ نَذَرَنَذرًاوَلَمْ يُسَمِّ فَعَلَيْهِ كَفَّارَةُيَمِينٍ.

ژباړه :که چانذرکښیښود او هغه یې بیان نه کړنوپرهغه دقسم کفاره لازمه ده.

(۱۹)وَإِنْ قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَأَنَا يَهُودِيٌّ اَوْ نَصْرَانِيٌّ أَوْ مَجُوسِيٌّ أَوْ مُشْرِكٌ أَوْ كَافِرٌ كَانَ يَمِينًا(۲۰)وَإِنْ قَالَ فَعَلَيَّ غَضَبُ اللهِ اَوْ سَخَطُهُ فَلَيْسَ بِحَالِفٍ وَكَذَالِكَ اِنْ قَالَ إِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَأَنَا زَانٍ اَوْ شَارِبُ خَمْرٍ أَوْ آكِلُ الرِّبٰو افَلَيْسَ بِحَالِفٍ

ترجمه :که چاداسې وویل چې که مادافلان کاروکړنوزه به یهودي یم یابه نصراني یم یامجوسي یامشرک یاکافریم نودایمین دی اوکه یې وویل چې پرمادې دالله تعالی غضب وي اوناراضي وي نوداسړی حالف نه دی اوهمدارازکه یې وویل چې که دافلان کاروکړنوزه به زناکاریاشراب خوریاسودخوریم نوداسړی حالف نه شمارل کیږي.

تشریح :(۱۹)که چاداسې وویل چې که ماداکاروکړنوزه به یهودي یم یایې وویل زه به نصراني یم یایې وویل زه به مجوسي یامشرک یاکافریم نودایمین دی اوداسړی حالف شمارل کیږي،اوکه یې دداسې فعل په باره کې وویل چې تردې مخکې یې هغه کړی وونودایمین غموس دی ،بیاکه ده ته معلومه وه چې دایمین دی نودحنث په صورت کې نه کافرکیږي اوکه یې اعتقادووچې په داسې حلف سره کافرکیږي نوکافرکیږي ځکه داقدام علی الفعل په وجه دی په کفرراضي شواو رضا بالکفر کفردی.

(۲۰)که چاوویل چې که ماداکاروکړنوپرمادې دالله تعالی غضب وي یادې دالله تعالی ناراضي وي یازه به زناکاریم زه به شرابي یاسودخوریم نوداسړی حالف نه شمارل کیږي ځکه په دې الفاظوسره قسم خوړل متعارف نه دی ،اوکه چیرته په دې الفاظوسره قسم خوړل متعارف وونوبیاداسړی حالف کیږي.

د کفاره قسم متعلق مسائل

(۲۱) وَكَفَّارَةُ الْيَمِيْنِ عِتْقُ رَقَبَةٍ يُجْزِئُ فِيْهَا مَا يُجْزِئُ فِي الظِّهَارِ (۲۲) وَإِنْ شَاءَ كَسَا عَشَرَةَ مَسَاكِيْنَ كُلَّ وَاحِدٍ ثَوْبًا فَمَا زَادَ وَأَدْنَاهُ مَا يَجُوْزُ فِيْهِ الصَّلٰوةُ (۲۳) وَإِنْ شَاءَ أَطْعَمَ عَشَرَةَ مَسَاكِيْنَ كَالْإِطْعَامِ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ (۲۴) فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَحَدِ هٰذِهِ الْأَشْيَاءِ الثَّلٰثَةِ صَامَ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ مُتَتَابِعَاتٍ (۲۵) فَإِنْ قَدَّمَ الْكَفَّارَةَ عَلَى الْحِنْثِ لَمْ يُجْزِهٖ

ترجمه: او کفاره یمین یو مریی آزادول دی او کفایت کوي په دې کې هغه چې کفایت کوي په کفاره ظهار کې او که غواړي لسو مسکینانو ته دي جامې ورکړي هریوه ته دي یوه جامه یا زیاتی ورکړي او کم مقدار جامه دومره ده چې په هغې کې لمونځ کول جائزوي او که غواړي لسو مسکینانو ته دي ډوډۍ ورکړي لکه په کفاره ظهار کې چې ډوډۍ ورکوي او که له دغو دریو شیانو څخه پریوه هم قادر نه وي نو پیوسته درې روژې دي ونیسي او که تر حانث کیدو مخکې کفاره ورکړه نو دهغه لپاره نه کافي کیږي.

تشریح: (۲۱) کفاره یمین یو مریی آزادول دی او کوم مریی چې په کفاره ظهار کې کفایت کوي هغه په کفاره یمین کې هم کفایت کوي یعنې د مریي مسلمانی نه ده شرط بلکې مسلمان، کافر، لوی، کوچنی هریو چې وي کافي دی.

(۲۲) که یې زړه غواړي نو حانث فی القسم دي د کفارې په توګه لسو مسکینانو ته جامه ورکړي هریوه ته دي یوه جامه یا زیاتی ورکړي او جامه به درمیانه درجه وي چې لږ تر لږه درې میاشتې د استعمال قابله وي او کم مقدار چې په کفاره کې کفایت کوي هغه دومره چې لمونځ کول پکې جائزوي.

(۲۳) او که غواړي د کفارې په ډول دي لسو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي، بیا که یې غنم یا اوړه ورکول نو هر مسکین ته به نصف صاع ورکړي او که یې خرما یا اوربشې ورکولې نو هر مسکین ته به یوه صاع (د درهم په حساب ۲۷۰ تولې او د مثقال په حساب ۲۷۳ تولې) ورکړي یا دي هر مسکین دواړه وخته په نس موړ کړي کما مرّ فی اِطعامِ الظِّهار وَالأصلُ فِیه قولُهُ تعالی (فَکَفَّارَتُه اِطعامُ عَشَرَةِ مَسَاکِینَ) دهغه کفاره لسو محتاجو ته ډوډۍ ورکول دي.

(۲۴) که حانث مذکوره شیان په قدرت کې نه وو نو پیوسته به درې روژې ونیسي لقوله تعالی (فَمَن لَم یَجِد فَصِیَامُ ثَلٰثَةِ أیَّامٍ).

ژباړه: که د چا په قدرت کې نه وو نو درې ورځې روژه ده.

د ابن مسعود رضی الله عنه په قرائت کې د متتابعات قید هم شته.

(۲۵) که چا تر حانث کیدو مخکې کفاره ورکړه نو نه جائزه کیږي ځکه کفاره تر اوسه واجبه شوې نه ده ولې چې کفاره په حنث سره واجبیږي.

(۲۶)وَمَنْ حَلَفَ عَلى مَعْصِيَةٍ مِثْلُ اَنْ لايُصَلّي اَوْ لايُكَلِّمُ اَبَاهُ اَوْ لَيَقْتُلَنَّ فُلانًا فَيَنْبَغِي اَنْ يَحْنَثَ نَفْسَهُ وَيُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِهِ
(۲۷)وَاِذَا حَلَفَ الْكَافِرُ ثُمَّ حَنِثَ فِي حَالِ الْكُفْرِ اَوْ بَعْدَ اِسْلامِهِ فَلا حِنْثَ عَلَيْهِ

ترجمه:که چاپر ګناه قسم وخوړ مثلاً ويې ويل چې والله که زه لمونځ وکړم يا والله زه له خپل پلار سره خبري نه کوم والله زه به فلان سړی قتل کوم نو مناسب دادی چې خپل ځان حانث کړي او دخپل قسم کفاره ورکړي او که کافر قسم وخوړبيايې قسم مات کړ د کفرپه حالت کې يا له مسلمان کيدو وروسته نو دا سړی نه حانث کيږي .

تشريح:(۲۶)که چاپر ګناه قسم واخيست مثلاً ويې ويل والله زه لمونځ نه اداکوم يا والله زه له خپل پلار سره خبري نه کوم يا والله زه به فلان سړی قتل کوم نو مناسب دی بلکې واجب دی چې دی خپل ځان حانث کړي او دخپل قسم کفاره ورکړي او دګناه کار دي نه کوي لقوله ﷺ :مَنْ حَلَفَ عَلى يَمِينٍ وَرَأى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيَأْتِ بِالَّذِي هُوَخَيْرٌ ثُمَّ لِيُكَفِّرْ يَمِينَهُ .

ژباړه :که چاپريوه خبره قسم واخيست او ترهغه يې بله خبره بهتره وليده نو چې کوم کار بهتر ورته معلوم شوی دی هغه دي وکړي بيا دي دخپل قسم کفاره ورکړي .

(۲۷)که کافر قسم واخيست بيا په حالت دکفر کې ياتر مسلمانيدو وروسته يې قسم مات کړنو دی نه حانث کيږي ځکه کافر د قسم اهل نه دی ولی چې قسم دالله تعالى دتعظيم لپاره اخيستل کيږي وَمَعَ الْكُفْرِ لايَكُونُ مُعَظِّمًا.

(۲۸)وَمَنْ حَلَفَ عَلى مَعْصِيَةٍ مِثْلُ اَنْ لايُصَلّي اَوْ لايُكَلِّمُ اَبَاهُ اَوْ لَيَقْتُلَنَّ فُلانًا فَيَنْبَغِي اَنْ يَحْنَثَ نَفْسَهُ وَيُكَفِّرَ عَنْ يَمِينِهِ
(۲۹)وَاِذَا حَلَفَ الْكَافِرُ ثُمَّ حَنِثَ فِي حَالِ الْكُفْرِ اَوْ بَعْدَ اِسْلامِهِ فَلا حِنْثَ عَلَيْهِ

ترجمه :که چاپر خپل ځان خپل مملوک شيان حرام کړل نو دانه حراميږي او که هغه دامباح وګڼل نو پرهغه دقسم کفاره ده او که چاوويل چې هرحلال شی پرما حرام دی نو دا قسم خالص دخوراک اوڅيښاک پرشيانو واقع کيږي مګر دا که له دې نه علاوه دنورو شيانو نيت يې هم کړی وي .

تشريح :(۲۸)که چاپر خپل ځان خپل مملوک شيان حرام کړل مثلاً ويې ويل هذا الطعام عليّ حرامٌ،نو دانه حراميږي بلکې که چيرته اوس دی داطعام دخپل ځان لپاره حلال ګڼي نو پرده دقسم کفاره لازميږي ځکه پيغمبر ﷺ پرخپل ځان شهد حرام کړل نو الله تعالى تنبيه ورته وفرمايله او هغه يې قسم وباله قال تعالى (يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكَ............قَدْ فَرَضَ اللهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ)الآيَة.

(۲۹)که چاوويل چې هرحلال شی پرما حرام دی نو دا قسم خالص دخوراک اوڅيښاک پرشيانو واقع کيږي مګر دا که ده دخوراک اوڅيښاک له شيانو علاوه دنورو شيانو نيت هم کړی وي،ظاهرروايت دادی ،ليکن

متاخرين مشائخ فرمايې چې په دي قول سره بغيرنيت طلاق واقع کيږی ځکه دتحريم دلفظ غالب استعمال په طلاق کې دی وَعَلَيهِ الفَتوى.

(۳۰)وَمَنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِهِ (۳۱)وَاِنْ عَلَّقَ نَذْرَهُ بِشَرْطٍ فَوُجِدَ الشَّرْطُ فَعَلَيْهِ الْوَفَاءُ بِنَفْسِ النَّذْرِ (۳۲)وَرُوِيَ اَنَّ اَبَاحَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ رَجَعَ عَنْ ذَالِكَ وَقَالَ اِذَاقَالَ اِنْ فَعَلْتُ كَذَا فَعَلَيَّ حَجَّةٌ اَوْصَوْمُ سَنَةٍ اَوْ صَدَقَةُ مَا اَمْلِكُهُ اَجْزَاهُ مِنْ ذَالِكَ كَفَّارَةُ يَمِيْنٍ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه:كه چانذرمطلق وکړنوپرناذردهغه نذرپوره کول واجب دی اوکه يې خپل ترشرط پورې معلق کړيياهغه شرط موجودشونوپرده وفاء بالنذرواجب ده اوداهم مروي دی چې له دې څخه رجوع کړې ده اوويلي يې دي چې که چاوويل ان فعلت کذافعلیّ حجة يايې وويل ان فعلت کذافعلیّ صوم سنة يايې وويل ان فعلت کذافعلیّ صدقة ماامکله نوپه دغوټولوصورتوکې کفاره دقسم ورکول کافي کيږي اوداامام محمد رحمة الله عليه قول هم دی.

تشريح:(۳۰) که چانذرمطلق (چې معلق بالشرط نه وي) وکړاومنذورداسي شی ووچې له جنسه يې واجب وونوپرناذردهغه نذرپوره کول واجب دی لقوله ﷺ مَنْ نَذَرَوَسَمّٰى فَعَلَيهِ الوَفَاءُ بِمَانَذَرَ.

ژباړه :که چايونذروکړاوهغه يې بيان کړنوپرهغه دخپل نذرپوره کول لازم دی.

(۳۱)اوکه يې نذرمعلق بالشرط کړيياهغه شرط موجودشونوپرده وفاء بالنذرواجب ده ځکه دامام ابوحنيفة رحمة الله عليه په نزدمعلق بالشرط دغيرمعلق بالشرط په ډول دی.

(۳۲)داهم مروي دی چې امام ابوحنيفة رحمة الله عليه له دې څخه رجوع کړې ده اوويلي يې دي چې که چاوويل ان فعلت کذافعلیّ حجة(که ماداسي وکړل نوپرماحج دی) يايې وويل ان فعلت کذافعلیّ صوم سنة (که ماداسي وکړل نوپرمايوکال روژې نيول دي) يايې وويل ان فعلت کذافعلیّ صدقة ماامکله (که ماداسي وکړل نوپرمادټولومملوکه شيانوصدقه کول دی) نوپه دغوټولوصورتوکې کفاره دقسم ورکول کافي کيږي اوداامام محمد رحمة الله عليه قول هم دی.

کورته دداخليدووغيره دحلف بيان

(۳۳)وَمَنْ حَلَفَ لَايَدْخُلُ بَيْتًا فَدَخَلَ الْكَعْبَةَ اَوِالْمَسْجِدَ اَوِالْبِيْعَةَ اَوِالْكَنِيْسَةَ لَمْ يَحْنَثْ (۳۴)وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايَتَكَلَّمَ فَقَرَأَ الْقُرْآنَ فِي الصَّلٰوةِ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله که زه بیتی ته داخل شم بیادی کعبې شریفې ته یامسجد ته یابیعه ته یاکلیساته داخل شونو نه حانث کیږي او که چاقسم واخیست چې زه به خبري نه کوم بیایې په لمانځه کې قرآن کریم تلاوت کړنو نه حانث کیږي.

تشریح :(۳۳)که چاقسم واخیست چې والله که زه بیتی ته داخل شم بیادی کعبې شریفې ته یامسجدته یابیعه (گرجا،دعیسایانو عبادت گاه)ته یاکلیسا(دیهودیانو عبادت ځای) ته داخل شونو نه حانث کیږي ځکه بیته هغه ځای ته ویل کیږي چیرته چې شپه تیریږي حال داچې مذکورځایونه دشپې تیرولو لپاره نه جوړیږي لهذادې ځایونوته داخلیدل دبیتی داخلیدل نه شمارل کیږي .

(۳۴)که چاقسم واخیست چې والله زه به خبري نه کوم بیایې په لمانځه کې قرآن کریم تلاوت کړنو نه حانث کیږي،او که یې له لمانځه دباندي ووایه نوحانث کیږي ځکه په لمانځه کې دننه قرآن کریم نه عرفاکلام دی اونه شرعًا،یوقول دادی چې زموږ په عرف کې مطلقانه حانث کیږي ځکه دقرآن کریم تلاوت کونکی متکلم نه دی بلکې قاري ورته وایې .

(۳۵)وَمَنْ حَلَفَ لَايَلْبَسُ هٰذَاالثَّوْبَ وهو لابِسُهُ فَنَزَعَهُ فِي الْحَالِ لَمْ يَحْنَثْ (۳۶)وَ كَذٰلِكَ اِذَا حَلَفَ لَايَرْكَبُ هٰذِهِ الدَّابَّةَ وهُوَرَاكِبُهَافَنَزَلَ فِي الْحَالِ لَمْ يَحْنَثْ (۳۷)وإِنْ لَبِثَ سَاعَةً حَنِثَ

ترجمه :که چاقسم واخیست که داجامه به نه آغوندي او حال داچې هغه یې په تن وه اوفی الحال یې وکښله نو نه حانث کیږي اوهمدارازکه یې قسم واخیست چې پردغه سوارلۍ به نه سوریږي حال داچې پرسپوروو اوسمدستي ترې کوزشونو نه حانث کیږي او که دلږساعتکي لپاره پرهغه حالت برقرارپاتې شونو حانث کیږي .

تشریح :(۳۵)که چادمعینی جامي په هکله قسم واخیست چې والله که داواغوندم اوحال داچې هغه یې آغوستې وه اوله قسم سره متصل یې وایستله نو نه حانث کیږي .

(۳۶)همدارازکه پرسوارلۍ سپوراوویې ویل چې والله زه پردې نه سوریږم اوپه دغه وخت کې دستي کوزشونوهم نه حانث کیږي ځکه دمحلوف علیه له ارتکاب څخه حتی المقدوریې ځان وساته اوغیرمقدورعرفامستثنی دی ځکه یمین دپوره کیدولپاره منعقدکیږي نه دحنث لپاره .

(۳۷)که دیوساعتکي لپاره پرهغه حالت برقرارپاتې شونو حانث کیږي .

(۳۸)وَمَنْ حَلَفَ لايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ وهو فِيْهَا لَمْ يَحْنَثْ بِالْقُعُوْدِ حَتّٰى يَخْرُجَ ثُمَّ يَدْخُلَ (۳۹)وَمَنْ حَلَفَ لايَدْخُلُ دَارًا فَدَخَلَ دَارًا خَرَابًا لَمْ يَحْنَثْ (۴۰)وَمَنْ حَلَفَ لايَدْخُلُ هٰذِهِ الدَّارَ فَدَخَلَهَا بَعْدَ مَا انْهَدَمَتْ وصَارَتْ صَحْرَاءَ حَنِثَ (۴۱)وَمَنْ حَلَفَ لايَدْخُلُ هٰذَا الْبَيْتَ فَدَخَلَ بَعْدَ مَا انْهَدَمَ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخيست چې زه دې کورته نه داخليږم اوحال داچې دی په دغه کورکې دی نوپه نورکښېنستلوسره نه حانث کيږي ترهغه چې ووځي اوبيا داخل شي اوکه چاقسم واخيست چې زه سرای ته نه داخليږم بياوران سرای ته داخل شونونه حانث کيږي اوکه چاقسم واخيست چې زه دغه سرای ته نه داخليږم بيادهغه دوداني ړنګيدووروسته هغه ميدان ته ورداخل شونوحانث کيږي اوکه چاقسم واخيست چې زه دې خونې ته نه داخليږم بيادکمرې له ورانيدووروسته داخل شونونه حانث کيږي .

تشريح :(۳۸)که چاقسم واخيست چې والله زه سرای ته نه داخليږم سرای يې نکره ذکرکړنووران سرای ته په داخليدوسره نه حانث کيږي ځکه چې کله ده سرای متعين کړی نه دی نوله دارڅخه مراددا سې سرای دی چې هغه ته داخليدل معتادوي ولي ايمان مبني پرعُرف دي .

(۳۹)که چاقسم واخيست چې والله زه دې سرای ته نه داخليږم سرای يې متعين ذکرکړبيادهغه له وداني ړنګيدووروسته هغه ميدان ته داخل شونوحانث کيږي ځکه دعربواوعجموپه نزددارد هغه ميدان نوم دی پرکوم چې آبادي جوړيږي .

(۴۰)که چاقسم واخيست چې والله زه دې کمرې ته نه داخليږم بياکمره ړنګه شوه له ميدان کيدووروسته داخل شونونه حانث کيږي ځکه اوس له هغې نه دکمرې نوم زائل شوولي چې نورپه هغې کې شپه نه تيريږي .

(۴۱)وَمَنْ حَلَفَ لايُكَلِّمُ زَوْجَةَ فُلانٍ فَطَلَّقَهَا فُلانٌ ثُمَّ كَلَّمَهَا حَنِثَ (۴۲)ومن حَلَفَ اَنْ لايُكَلِّمَ عَبْدَ فُلانٍ اَوْ لايَدْخُلَ دَارَ فُلانٍ فَبَاعَ فُلانٌ عَبْدَهُ اَوْ دَارَهُ ثُمَّ كَلَّمَ وَدَخَلَ الدَّارَ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخيست چې والله زه دفلان له ښځې سره خبري نه کوم بياهغې ته خپل خاوندطلاق ورکړبياحالف خبري ورسره وکړې نوحانث کيږي اوکه چاقسم واخيست چې والله زه دفلان له مريي سره خبري نه کوم يادفلان وکورته نه داخليږم بيافلان دامريي ياسرای خرڅ کړبياحالف له مريي سره خبري وکړې اوسرای ته داخل شونونه حانث کيږي .

تشريح :(۴۱)که چاقسم واخيست چې والله زه دفلان له معلومې ښځې سره خبري نه کوم بيادهغې خاوندهغې ته طلاق ورکړ اوس حالف له هغې سره خبري وکړې نوحانث کيږي ځکه دزوج طرف ته نسبت خالص دپيژند ګلوي لپاره دی مقصودبالهجران ښځه ده ولي چې له ښځې څخه دهغه ذاتي نفرت دی .

(۴۲)که چاقسم واخيست چې والله زه دفلان له مريي سره خبري نه کوم يادفلان سراى ته نه داخليږم بيافلان هغه مريي ياسراى خرڅ کړاوحالف له مريي سره خبري وکړې ياسراى ته داخل شونونه حانث کيږي ځکه مريى اوسراى ذاتًامقصودبالهجران نه دي بلکې مالک ته دمنسوبيدوپه وجه يې قصددهجران ورته کړى دى.

(۴۳)وَاِنْ حَلَفَ لَايُكَلِّمُ صَاحِبَ هٰذَا الطَّيْلَسَانِ فَبَاعَهُ ثُمَّ كَلَّمَهُ حَنِثَ (۴۴)وَكَذٰلِكَ اِذَا حَلَفَ اَنْ لَايُكَلِّمَ هٰذَا الشَّابَ فَكَلَّمَهُ بَعْدَ مَاصَارَ شَيْخًا حَنِثَ (۴۵)وَاِنْ حَلَفَ اَنْ لَايَاْكُلَ لَحْمَ هٰذَا الْحَمَلِ فَصَارَ كَبْشًا فَاَكَلَهُ حَنِثَ

ترجمه: اوکه چاقسم واخيست چې والله زه ددې څادرله والاسره خبري نه کوم بياهغه څادرخرڅ کړبياحالف له هغه سره خبري وکړې نوحانث کيږي اوهمدارازکه يې قسم وخوړچې والله زه له دې ځوان سره خبري نه کوم بيادبوډاتوب وروسته حالف له هغه سره خبري وکړې نوحانث کيږي اوکه يې قسم واخيست چې والله زه ددغه وري غوښه نه خورم بياچې هغه مړشو حالف دهغه غوښه وخوړه نوحانث کيږي.

تشريح: (۴۳)که چاقسم واخيست چې والله زه ددې څادرله والاسره خبري نه کوم بياهغه څادرخرڅ کړاوس چې حالف له هغه سره خبري کوي نوحانث کيږي ځکه دڅادرپه وجه څوک له چاسره دښمني نه کوي نودااضافت خالص دتعريف لپاره دى.

(۴۴)که چاقسم واخيست چې والله زه له دې ځوان سره خبري نه کوم بياتربوډاتوب وروسته حالف له هغه سره خبري وکړې.

(۴۵)ياېې وويل چې والله زه ددغه ورې غوښه نه خورم بياهغه لوى مړشواوس چې حالف دهغه غوښه وخوري نوپه دې دواړوصورتوکې حانث کيږي ځکه له ځوان سره خبري نه کول يادورې له غوښوخوړلونه منع کول دهغه دذات په وجه وودهغه دصفت ځواني ياوري والي په وجه نه وه نوداصفات داعي ويمين ته نه دي.

(۴۶)وَاِنْ حَلَفَ لَايَاْكُلُ مِنْ هٰذِهِ النَّخْلَةِ فَهُوَ عَلٰى ثَمَرِهَا (۴۷)وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايَاْكُلَ مِنْ هٰذَا الْبُسْرِ فَصَارَ رُطَبًا فَاَكَلَهُ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه: که چاقسم واخيست چې والله زه دادرخته نه خورم نوداقسم دهغې پرميوه کيږي اوکه چاقسم واخيست چې والله زه دابُسرنه خورم بياهغه رطبى شوې ده وخوړلې نونه حانث کيږي.

پر خوراکي شيانودقسم خوړلوبيان

تشريح: (۴۶)که چاقسم واخيست چې والله زه له دې درختې څخه خوراک نه کوم نوددرختې په خوړلوسره نه حانث کيږي بلکې دهغې دميوې په خوړلوسره حانث کيږي ځکه درخته ماکول شى نه دى لهذادهغې ميوه

مراد ده،که چاقسم واخیست چې والله زه دا بُسر(کچه خرما)نه خورم بیایې له رطب کیدو(پخیدو)وروسته وخوړلې.

(۴۷)یایې وویل چې والله زه دارطب خرماوې نه خورم بیاتمر(وچه خرما) شوه ده وخوړه نونه حانث کیږي ځکه کچه کیدل یاپخیدل داسي صفات دي چې کله داعي ویمین ته کیږي لهذا قسم دهغه صفت تربقاء پورې پاتیږي.

(۴۸)وَإِنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ بُسْرًا فَأَكَلَ رُطَبًا لَمْ يَحْنَثْ (۴۹)وإِنْ حَلَفَ أَنْ لَا يَأْكُلَ رُطَبًا فَأَكَلَ بُسْرًا مُذَنَّبًا حَنِثَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه:که چاقسم واخیست چې والله زه بُسرنه خورم بیایې رطب وخوړې نونه حانث کیږي اوکه چاقسم واخیست چې والله زه رطب نه خورم بیایې بُسرمذنب وخوړې نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدحانث کیږي.

تشریح:(۴۸)که چاقسم واخیست چې والله زه بُسر(بالتنکیر) نه خورم بیایې رُطب خرماوې وخوړې نونه حانث کیږي ځکه دابُسرنه دي.

(۴۹)که چاقسم واخیست چې والله زه رطب(تازه پخې) خرماوې نه خورم بیایې بُسرمذنب (هغه خرماچې دپای له خواپخه شوې وي اوباقی کچه وي) وخوړه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدحانث کیږي ځکه دبسرمذنب په خوړلوسره داسړی دبسر اورطب دواړوخوړونکی شمارل کیږي ولي دادواړه خوړل مقصوددی ځکه نوحانث کیږي.

(۵۰)وَمَنْ حَلَفَ لَايَأْكُلُ لَحْمًا فَأَكَلَ لَحْمَ السَّمَكِ لَمْ يَحْنَثْ.

ترجمه:که چاقسم واخیست چې والله زه غوښه نه خورم بیایې دماهي (کب) غوښه وخوړه نونه حانث کیږي.

تشریح:(۵۰)که چاقسم واخیست چې والله زه غوښه نه خورم بیاهغه دماهي غوښه وخوړه نونه حانث کیږي ځکه په عرف وعادت کې دلحم لفظ ماهي ته نه شاملیږي اوایمان مبني پرعرف دي.

(۵۱)وَمَنْ حَلَفَ لَايَشْرَبُ مِنْ دَجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَكْرَعَ مِنْهَا كَرْعًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۵۲)وَمَنْ حَلَفَ أَنْ لَايَشْرَبَ مِنْ مَاءِ دَجْلَةَ فَشَرِبَ مِنْهَا بِإِنَاءٍ حَنِثَ

ترجمه:که چاقسم واخیست چې والله زه له دجله څخه اوبه نه څیښم بیایې په لوښي کې له دجلې څخه اوبه راواخیستې ویې څیښلې نونه حانث کیږي ترهغه چې خوله پرې کښیږدي ویې څیښي دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزداوکه چاقسم واخیست چې والله زه ددجله دریاب اوبه نه څیښم بیایې ددجله اوبه په لوښي کې راواخیستې ویې څیښلې نوحانث کیږي.

تشريح :(۵۱)که چاقسم واخيست چې والله زه ددجله (دعراق مشهوردرياب دى) څخه نه څښنم بيايې په لوښي کې اوبه راواخيستې ويې څښلې نونه حانث کيږي ځکه حقيقة محلوف عليه نه دى موندل شوى ځکه نه حانث کيږي،البته که يې خوله پرې کښيښوده ويې څښلې نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدحانث کيږي ځکه په خوله اوبه څښل حقيقت مستعمله دى اودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزديمين پرحقيقت مستعمله ورحمل کيږي .(همداقول راجح دى)

(۵۲)که چاقسم واخيست چې والله زه ددجله درياب اوبه نه څښنم بيايې ددجله اوبه په لوښي کې راواخيستې ريې څښلې نوحانث کيږي ځکه داقسم پراوبومنعقدشوى دى چې دجله ته منسوبې دي نوپه لوښي کې رااخيستلووروسته هم هغه اوبه ددجله اوبه دي.

(۵۳)وَلَوْ حَلَفَ لاَيَأكُلُ مِنْ هٰذِهِ الْحِنطَةِ فَاَكَلَ مِنْ خُبْزِهَا لَمْ يَحْنَثْ (۵۴)وَلَوْ حَلَفَ اَنْ لاَيَاكُلَ مِنْ هٰذَا الدَّقِيْقِ فَاَكَلَ مِنْ خُبْزِهٖ حَنِثَ (۵۵)وَلَوْاِسْتَفَّهُ كَمَاهُوَ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخيست چې والله زه له دې غنموڅخه خوراک نه کوم بيايې دهغوډوډۍ وخوړه نونه حانث کيږي اوکه چاقسم واخيست چې والله زه دااوړه نه خورم بيايې دهغوډوډۍ وخوړه نوحانث کيږي اوکه يې اوړه وخواړه نه حانث کيږي.

تشريح :(۵۳)که چاقسم واخيست چې والله زه له دې غنموڅخه خوراک نه کوم بيايې دهغوډوډۍ وخوړه نونه حانث کيږي ،دادامام ابوحنيفة رحمه الله مسلک دى ځکه غنمولره حقيقة مستعمله شته ولى چې غنم پخيږي خوړل کيږى اودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدحقيقت مستعمله ترمجازمتعارف اولى دى.

(۵۴)که چاقسم واخيست چې والله زه دااوړه نه خورم بيايې دهغوډوډۍ وخوړه نوحانث کيږي ځکه بعينه اوړه خوړل متعارف نه دي لهذاقسم هغه شي ته گرځى کوم چې له اوړوڅخه جوړيږي.

(۵۵)اوکه يې اوړه وخوړل نونه حانث کيږى ځکه دلته له اوړوڅخه مجازاوډوډۍ مراديدل متعين دى.

(۵۶)وَاِنْ حَلَفَ لاَيُكَلِّمُ فُلاَنًا فَكَلَّمَهُ وَهُوَ بِحَيْثُ يَسْمَعُ اِلاَّ اَنَّهُ نَائِمٌ حَنِثَ (۵۷)وَاِنْ حَلَفَ اَنْ لاَيُكَلِّمَهُ اِلاَّ بِاِذْنِهٖ فَاَذِنَ لَهُ وَلَمْ يَعْلَمْ بِالْاِذْنِ حَتّٰى كَلَّمَهُ حَنِثَ

ترجمه :که چاقسم واخيست چې والله زه له فلان سره خبرې نه کوم بياحالف له هغه سره داډول خبرې وکړې چې هغه يې اورې مگرهغه ويده دى نوحانث کيږي اوکه يې قسم واخيست چې والله زه له فلان سره خبرې نه کوم مگردهغه په اجازه سره بياهغه اجازه ورکړه مگرحالف په اجازه نه ووخبرتردې چې حالف خبرې ورسره وکړې نوحانث کيږي.

تشریح :(۵۶)که چاقسم واخیست چې والله زه له فلان سره خبري نه کوم بیا حالف له هغه سره داسي خبري وکړي چې هغه يې اوري مګردخوب په وجه يې نه اوري نوحالف حانث کیږي ځکه حالف له هغه سره خبري وکړې اوهغه دده ترغوږووهم رسیدې لیکن دخوب په وجه يې نه دي فهمولې .

(۵۷)که چاقسم واخیست چې والله زه له فلان سره خبري نه کوم مګردهغه په اجازه سره بیاهغه اجازه ورکړه مګرحالف په اجازه نه وو خبرترهغه چې حالف خبري ورسره وکړې نوحانث کیږي ځکه اذن له آذان څخه مشتق دی چې په معنی دآګاه کولودی اوآګاه کول بغیرله اوریدونه متحقق کیږي حال داچې هغه هیڅ نه دي اوریدلي.

(۵۸)وَإِذَا اسْتَحْلَفَ الْوَالِي رَجُلًا لَيُعْلِمَنَّهُ بِكُلِّ دَاعِرٍ دَخَلَ الْبَلَدَ فَهُوَ عَلَى حَالِ وِلَايَتِهِ خَاصَّةً

ترجمه :که حاکم له یو چا څخه قسم واخیست چې ماته به اطلاع راکوي دهرمفسد شخص په اړه چې ښارته داخل شي نوداقسم خاص دحاکم دحکومت تربقاء پورې دی .

تشریح :(۵۸)که حاکم له چاڅخه قسم واخیست چې هرمفسدشخص چې ښارته راداخل شي نودهغه اطلاع به ماته راکوې نوداقسم خاص دحاکم دحکومت تربقاء پورې دی ځکه دحاکم مقصدپه دي سره دمفسدینودفساد مخه نیول دی اوداپه دوران دحکومت کې کیږي وروسته ترحکومت دفع دفساددهغه لپاره ممکنه نه ده ،لهذاکه حاکم مړشویامعزول شونویمین ختم کیږي اوکه بیادوباره بیرته حاکم شونوقسم عودنه کوي.

(۵۹)وَمَنْ حَلَفَ لَا يَرْكَبُ دَابَّةَ فُلَانٍ فَرَكِبَ دَابَّةَ عَبْدِهِ الْمَأْذُونِ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله زه دفلان پردابه نه سوریږم بیادهغه دماذون مریي پرحیوان سپورشونونه حانث کیږي.

تشریح:(۵۹)که چاقسم وخوړچې والله زه دفلاني پرحیوان نه سوریږم بیادهغه دماذون مریي پرحیوان سپورشونونه حانث کیږي ځکه دمریي حیوان که څه هم دمولی حیوان دی مګرپه عُرف کې ددغه مریي حیوان بلل کیږي.

(۶۰)وَمَنْ حَلَفَ لَا يَدْخُلُ هَذِهِ الدَّارَ فَوَقَفَ عَلَى سَطْحِهَا أَوْ دَخَلَ دِهْلِيزَهَا حَنِثَ (۶۱)وَإِنْ وَقَفَ فِي طَاقِ الْبَابِ بِحَيْثُ إِذَا أُغْلِقَ الْبَابُ كَانَ خَارِجًا لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله زه دې سرای ته نه داخلیږم بیا دهغه پرچت وخوت نو حانث کیږي یادسرای په دهلیز کې داخل شونو حانث کیږي اوکه ددروازې په طاق کې ودریدپه دې ډول چې که دروازه بنده شي نو دی دباندې پاتیږي نو نه حانث کیږي.

تشریح :(۶۰)که چاقسمٔ واخیست چې والله زه دې سرای ته نه داخلیږم بیاله دباندې خواڅخه دهغه پربام وخوت نوحانث کیږي ځکه بام له سرای څخه دی،همدارازکه داسړی دسرای دهلیزته داخل شونوهم حانث کیږي.

(۶۱)البته که ددروازې په طاق کې ودریدچې که دروازه بنده شي نو دی دباندې پاتیږي نو نه حانث کیږي ځکه دروازه دسرای اومافیهادحفاظت لپاره ده لهذاتردروازه دباندې چې کوم ځای دی هغه له سرای څخه نه دی.

(۶۲)وَمَنْ حَلَفَ لَايَأكُلُ الشَّوَاءَفَهُوَعَلَى اللَّحْمِ دُوْنَ الْبَاذِنْجَانِ وَالْجَزَرِ (۶۳)وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايَأكُلَ الطَّبِيْخَ فَهُوَعَلَى مَايُطْبَخُ مِنَ اللَّحْمِ (۶۴)وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَايَأكُلَ الرُّؤُسَ فَيَمِيْنُهُ عَلَى مَايُكْبَسُ فِي التَّنَانِيْرِوَيُبَاعُ فِي الْمِصْرِ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله زه غورمه نه خورم نوداقسم پرغوښو کیږي ،پربانجڼو ،ګاځرونه کیږي اوکه چاقسم واخیست چې والله زه پوخ شوی شی نه خورم نوداقسم پرداسې غوښو کیږي چې پخیږي اوکه چاقسم واخیست چې والله زه سرونه نه خورم نودده قسم پرهغوسرونوواقع کیږي کوم چې په تنورونوکې پخیږي اوپه ښارکې خرڅیږي.

تشریح :(۶۲)که چاقسم واخیست چې والله زه غورمه نه خورم نوداقسم خالص پرغوښوکیږي پربانجڼو، ګاځرووغیره نه کیږي ځکه دمطلق غرمې په یادیدوسره غورمه شوې غوښه مرادیږي.

(۶۳)که چاقسم واخیست چې والله زه پوخ شوی شی نه خورم نوداقسم استحساناًپرغوښه کیږي اعتباراًلِلعُرف.

(۶۴)که چاقسم واخیست چې والله زه سرونه نه خورم نودمرغۍ اوملخ وغیره پرسرونوداقسم نه کیږي بلکې داقسم پرهغوسرونوواقع کیږي کوم چې په تنورونوکې اچول کیږي پخیږي اوپه ښارکې پلورل کیږي ځکه همدامتعارف دی.

(۶۵)وَمَنْ حَلَفَ لَايَأكُلُ الْخُبْزَ فَيَمِيْنُهُ عَلَى مَايَعْتَادُاَهْلُ الْبَلَدِاَكْلَهُ خُبْزًا (۶۶)فَاِنْ اَكَلَ خُبْزَ الْقَطَائِفِ اَوْ خُبْزَ الْاَرُزِّ بِالْعِرَاقِ لَمْ يَحْنَثْ.

ترجمه :او که چاقسم وخوړ چې والله زه ډوډی نه خورم نو دا قسم پرهغه ډوډی واقع کیږي کومه چې دحالف په ښاریانو کې دخپل عادت مطابق دډوډی په ډول خوړل کیږی نو که ده دبادامو دمغزیادوریځوډوډی په عراق کې وخوړه نونه حانث کیږي.

تشریح :(۶۵)که چاقسم ؤاخیست چې والله زه ډوډی نه خورم نو دحالف دښاروالاچې دخپل عادت له مخې کوم شی دډوډی په ډول خوري پرهغه قسم واقع کیږي ځکه دقسم په باب کې عرف معتبردی.

(۶۶)که حالف دبادامو دمغزیادوریځوډوډی په عراق کې وخوړه نونه حانث کیږي ځکه قطائف مطلق ډوډی ته نه ویل کیږي همدارازکه مذکورقسم کونکي په عراق کې دوریځوډوډی وخوړه نوهم نه حانث کیږي ځکه په عراق کې دوریځوډوډی خوړل عادت نه دی.

(۶۷)وَمَنْ حَلَفَ لَایَبِیعُ وَلَایَشْتَرِیْ اَوْلَایُؤَاجِرُ فَوَکَّلَ مَنْ فَعَلَ ذَالِکَ لَمْ یَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله زه به خرید وفروخت نه کوم یاوالله زه اجاره نه کوم بیایې یووکیل ودراوه چې هغه دا کارونه ترسره کړل نو حالف نه حانث کیږي.

تشریح :(۶۷)که چاقسم واخیست چې والله زه به خرید وفروخت نه کوم یاوالله زه اجاره نه کوم بیاهغه یووکیل ودراوه چې داکاریې وکړنو حالف نه حانث کیږي ځکه داعقد وکیل کړی دی اودهغه حقوق هم پرذمه دوکیل دي حالف نه داعقد کړی دی اونه دهغه حقوق پرذمه دحالف دي.

(۶۸)وَمَنْ حَلَفَ لَایَتَزَوَّجُ اَوْلَایُطَلِّقُ اَوْلَایُعْتِقُ فَوَکَّلَ بِذَالِکَ حَنِثَ

ترجمه :که چاقسم وخوړچې والله زه نکاح نه کوم یاطلاق نه ورکوم یامریی نه آزادوم بیاهغه ددې کارونولپاره څوک وکیل کړنو حانث کیږي.

تشریح :(۶۸)که چاویل چې والله زه نکاح نه کوم یاوالله زه طلاق نه ورکوم یاوالله زه مریی نه آزادوم بیاهغه ددې کارونولپاره یووکیل وټاکه نودوکیل په کولوسره حالف حانث کیږي ځکه په مذکوره معاملاتوکې دوکیل حیثیت محض دسفیراومعبّردی اوددې حقوق پرذمه دموکل دي نه پرذمه دوکیل نوګواکې خپله موکل مباشرت کړی دی.

(۶۹)وَمَنْ حَلَفَ لَایَجْلِسُ عَلَی الْاَرْضِ فَجَلَسَ عَلٰی بِسَاطٍ اَوْعَلٰی حَصِیْرٍ لَمْ یَحْنَثْ (۷۰)وَمَنْ حَلَفَ اَنْ لَایَجْلِسَ عَلٰی سَرِیْرٍ فَجَلَسَ عَلٰی سَرِیْرٍ فَوْقَهٗ بِسَاطٌ حَنِثَ (۷۱)وَاِنْ جَعَلَ فَوْقَهٗ سَرِیْرًا آخَرَ فَجَلَسَ عَلَیْهِ لَمْ یَحْنَثْ (۷۲)وَاِنْ حَلَفَ اَنْ لَایَنَامَ عَلٰی فِرَاشٍ فَنَامَ عَلَیْهِ وَفَوْقَهٗ قِرَامٌ حَنِثَ (۷۳)وَاِنْ جَعَلَ فَوْقَهٗ فِرَاشًا آخَرَ فَنَامَ عَلَیْهِ لَمْ یَحْنَثْ

ترجمه: که چاقسم واخیست چې والله زه پرځمکه نه کښېنم بیاپرفرش یاپوزي کښیناستی نونه حانث کیږي اوکه چاقسم واخیست چې والله زه پرتخت نه کښېنم بیاپرداسی تخت کښیناست چې پرهغه فرش هواروونو حانث کیږي اوکه یې دیوه تخت دپاسه بل تخت کښیښودبیاپرکښیناست نونه حانث کیږي اوکه یې قسم واخیست چې والله زه پربستره نه ویده کیږم بیاپربستره ویده شوپه داسي حال کې چې پرهغی څادرهواروونو حانث کیږي اوکه یې پرهغه بستربل بسترهوارکړبیاپرې ویده شونونه حانث کیږي.

تشریح: (۶۹)که چاقسم واخیست چې والله پرځمکه نه کښېنم بیاپرفرش یاپوزي کښیناست نونه حانث کیږي ځکه پرفرش اوپوزي ناست ته پرځمکه ناست نه ویل کیږي.

(۷۰)که چاقسم واخیست چې والله زه پرتخت نه کښېنم بیاپرداسي تخت کښیناست چې پرهغه فرش یاپوزی هواروونو حانث کیږي ځکه دې ته په عُرف کې جالس علی السریرویل کیږي.

(۷۱)که یې پرتخت دپاسه بل تخت کښیښودبیاپرهغه کښیناست نونه حانث کیږي ځکه شی دخپل مثل نه تابع کیږي ځکه دکښیناستلونسبت اول ته نه دوهم ته کیږي.

(۷۲)که یې وویل چې زه پرمعلومه بستره نه ویده کیږم بیاپرهغی بستره په داسي حال کې ویده شوچې پرهغی یې څادرهوارکړی وونو حانث کیږي ځکه څادردبسترتابع دی نوده ته نائم علی الفراش ویل کیږي.

(۷۳)که یې پردغه بستربل بستر واچاوه بیاپرې ویده شونونه حانث کیږی ځکه مثل دشي دشي تابع نه وي لهذادویده کیدونسبت اوس دثاني طرف ته دی داول طرف ته نه دی.

(۷۴)وَمَنْ حَلَفَ بِيَمِينٍ وقالَ إنْ شاءَ اللهُ مُتصِلًا بِيَمِينِهِ فلاحِنثَ عَلَيهِ(۷۵)وإنْ حَلَفَ لِيأتِيَنّهُ إنِ استَطاعَ فهذا عَلَى استِطاعَةِ الصِّحّةِ دُونَ القُدرَةِ

ترجمه: که چاپرکوم کارقسم واخیست اوله قسم سره متصل یې ان شاء الله وویل نوپرهغه حنث نشته اوکه چاقسم واخیست چې والله زه به ضرورتاته راځم که زماقدرت وونوله استطاعت څخه صحت مرادیږي قدرت حقیقیه نه مرادیږي.

تشریح: (۷۴)که چاپریوه کارقسم واخیست له قسم سره متصل یااوروسته یې ان شاء الله وویل نودهغه کارپه کولوسره نه حانث کیږي لقوله ﷺ: مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ فَقَالَ إنْ شَاءَ اللهُ فَقَدْ بَرِئَ فِي يَمِينِهِ.

ژباړه: که چاپرکومه خبره قسم واخیست بیایې ان شاء الله وویله نودی پخپل قسم کې بري شو.

اوکه یې متصل نه وویل نو حانث کیږي.

(۷۵)که چاقسم واخیست چې والله زه به ضرور تاته راځم په دې شرط چې زما استطاعت وي نوله استطاعت څخه مراد صحت او سلامتیاد آسبابو مع عدم المانع ده ځکه استطاعت متعارفه همدادی،قدرت حقیقیه چې مقارن له فعل سره وي (تقدیر آلهی) نه مرادیږي ځکه دا غیر متعارف دی .

پر موده او زمانه د قسم خوړلو بیان

(۷۶)وَإِنْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُ فُلَانًا حِينًا أَوْ زَمَانًا أَوِ الْحِينَ أَوِ الزَّمَانَ فَهُوَ عَلَى سِتَّةِ أَشْهُرٍ (۷۷)وَكَذَالِكَ الدَّهْرُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې له فلان سره به تریوه حین یایوې زمانې پورې خبرې نه کوم یاالحین یاالزمان پورې خبرې نه کوم نو داپر شپږو میاشتو حمل کیږي او همدارنګه دالدهر لفظ دصاحبینو رحمهما الله په نزد .

تشریح :(۷۶)که چاپه عربي ژبه قسم واخیست چې والله لایُکَلّم فُلانًا حِینًا اَوزَمانًا (حین او زمان یې نکره ذکر کړل) یاالحِینُ اوالزّمانُ (یعنې دواړه یې معرفه ذکر کړل) نوله دې څخه له وخته دقسم نه شپږ میاشتې مرادیږي ځکه له حین څخه کله لږموده او کله څلویښت کاله او کله شپږ میاشتې مرادیږي شپږ میاشتې درمیانه موده ده نو داطلاق په وخت هغه مرادیږي .

(۷۷)همدا حکم دلفظ دالدهر هم دی مثلاویې ویل واللهِ لااُکلّمه دَهرًا ،دا صاحبینو رحمهما الله قول دی ،امام ابوحنیفة رحمه الله فرمایلي دي چې لاأدرِی مَاالدّهرُ(دصاحبینو رحمهما الله قول راجح دی) .

(۷۸)وَلَوْ حَلَفَ لَا يُكَلِّمُهُ أَيَّامًا فَهُوَ عَلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ (۷۹)وَلَوْ حَلَفَ أَنْ لَا يُكَلِّمَهُ الْأَيَّامَ فَهُوَ عَلَى عَشَرَةِ أَيَّامٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ هُوَ عَلَى أَيَّامِ الْأُسْبُوعِ (۸۰)وَلَوْ حَلَفَ أَنْ لَا يُكَلِّمَهُ الشُّهُورَ فَهُوَ عَلَى عَشَرَةِ أَشْهُرٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ هُوَ عَلَى اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا

ترجمه :که چاقسم واخیست چې واللهِ لااکلمه ایّامًا نو داقسم پر دریو ورځو واقع کیږی او که یې قسم واخیست چې واللهِ لااکلمه الایّام نو داقسم دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد پر لسو ورځو واقع کیږي او صاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې پر اوه ورځې واقع کیږی او که یې قسم واخیست چې والله لااکلمه الشهور نو دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد داقسم پر لسو میاشتو واقع کیږي او صاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې داقسم پر دولسو میاشتو واقع کیږي .

تشريح :(۷۸)که چاقسم واخيست چې والله لااکلمه ايّامانوداقسم پردريوورځوواقع کيږي ځکه ايّام اسم جمع نکره ذکرشوې ده نواقل ته شامليږي چې درې دي .

(۷۹)اوکه يې وويل والله لااکلمه الايّام نوداقسم دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزدپرلسوورځوواقع کيږي ځکه ده الايّام جمع معرف په لام ذکرکړې ده نوپه لفظ دجمع چې کوم انتهائی عددمذکوروي هغه مراديږي چې لس دي(يعنې عرب ثلثة ايّام تاعشرة ايّام وايې ترهغه وروسته ايّام جمع نه بلکې مفردوايې مثلاً احدعشريومًا) اودصاحبينورحمهماالله په نزدله الايّام څخه اوه ورځې مراددي (دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۸۰)که يې وويل چې والله لااکلمه الشهور،نودامام ابو حنيفة رحمه الله په نزدداقسم پرلسومياشتوواقع کيږي لماذکرنا،دصاحبينورحمهماالله په نزدله الشهورڅخه کال دولس مياشتې مراددي ځکه دامعهوددي .

(۸۱)وَإِذَا حَلَفَ لَا يَفْعَلُ كَذَا تَرَكَهُ أَبَدًا (۸۲)وإِنْ حَلَفَ لَيَفْعَلَنَّ كَذَا فَفَعَلَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً بَرَّ فِي يَمِينِهِ

ترجمه :که چاقسم واخيست چې والله زه فلانی کارنه کوم نوداکاربه دهميشه لپاره پريږدي اوکه يې قسم واخيست چې والله زه فلانی کارکوم بيايې هغه کاريوځل وکړنوپخپل قسم کې بري کيږي .

تشريح :(۸۱)که چاقسم واخيست چې والله لاافعل کذا(والله زه فلانی کارنه کوم)نوداکاربه دهميشه لپاره پريږدي ځکه داقسم پرنفی واقع شوی دی والنّفی لايَتخصّصُ بزَمانٍ دُونَ زَمانٍ لهذاداپرتاييدمحمول کيږي.

(۸۲)که چاقسم واخيست چې والله ليَفعَلنّ كَذَا (والله زه فلان کارکوم) نوپه يوه ځل کارکولوسره قسم پوره کيږي ځکه مقصودايجاددفعل دی چې ده وکړ.

(۸۳)وَمَنْ حَلَفَ لَا تَخْرُجُ امْرَأَتُهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَتْ وَرَجَعَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ مَرَّةً أُخْرَى بِغَيْرِ إِذْنِهِ حَنِثَ وَلَابُدَّ مِنَ الْإِذْنِ فِي كُلِّ خُرُوجٍ (۸۴)وإِنْ قَالَ إِلَّا أَنْ آذَنَ لَكِ فَأَذِنَ لَهَا مَرَّةً وَاحِدَةً فَخَرَجَتْ ثُمَّ خَرَجَتْ بَعْدَهَا بِغَيْرِ إِذْنِهِ لَمْ يَحْنَثْ

ترجمه :که چاقسم واخيست چې دده ښځه به دده بې اجازې نه وځي بياهغه يوځل ښځې ته اجازه ورکړه بياهغه ووته اوواپس راغله بيادوباره هغه دده بې اجازې ووته نوداحالف حانث کيږي اودهرځل دوتلواجازه ضروري ده اوکه يې وويل الاان آذن لک(مگرداچې زه تاته اجازه درکړم) بيايې يوځل هغی ته دوتلواجازه ورکړه بياهغه ووته بيادوباره داښځه دهغه له اجازې بغيرووته نونه حانث کيږي .

تشريح :(۸۳)که چاقسم واخيست چې والله زماښځه به زمابې اجازې نه وځي بياده يوځل اجازه ورکړه ښځه ووته بيرته راغله اودوباره دهغه بې اجازې ووته نوداحالف حانث کيږي دعدم حنث لپاره دهرځل وتلواجازه ورکول ضروري ده ځکه په الاباذنه کې مخصوص خروج مستثنی دی باقی ټول اقسام دخروج په ممنوع کيدوکې داخل دي .

(۸۴)که خاوند وویل الاان آذن لک (مګرداچې زه تاته اجازه درکړم) بیایي دیوځل وتلواجازه ورکړه هغه ووته واپس بیرته راغلهاوس که دهغه بي اجازې ووته نوحالف نه حانث کیږي ځکه دادتوقیت لپاره دی چې کله یې یوځل دوتلواجازه ورکړه نو وخت انتهاء ته ورسید چې په هغه سره یمین هم انتهاء ته ورسید.

(۸۵)وَاِذَاحَلَفَ اَنْ لَایَتَغَدّٰی فَالغَدَاءُهُوَ الْاَکْلُ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ اِلَی الظُّهْرِ (۸٦)وَالعَشَاءُ مِنْ صَلٰوةِ الظُّهْرِ اِلٰی نِصْفِ اللَّیْلِ (۸۷)وَالسُّحُوْرُ مِنْ نِصْفِ اللَّیْلِ اِلٰی طُلُوْعِ الْفَجْرِ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله زه ناشته نه کوم نوناشته اداده چې له طلوع فجرڅخه ونیسي بیاتر ماپښین پورې په منځ کې خوراک وشي اوعشاء چې دماپښین له لمانځه څخه بیاترنیمې شپې په دامنځ کې وخوړله شي اوسحري داده چې له نیمې شپې څخه ترطلوع فجرپورې په منځ کې خوراک وشي.

تشریح :(۸۵)که چاقسم واخیست چې والله زه ناشته نه کوم ،نوله ناشته (غَدا)څخه مرادهغه خوراک دی چې له طلوفجرڅخه ترماپښینه پورې په دامنځ کې وکړای شي که په دامنځ کې حالف خوراک وکړنوحانث کیږي.

(۸۶)که یې وویل والله زه عَشاء نه خورم نوله عَشاء څخه مرادهغه خوراک دی چې له ماپښین څخه ترنیمې شپې په منځ کې وکړای شي لهذاکه حالف په دغه منځ کې ډوډۍ وخوړه نو حانث کیږي.

(۸۷)که یې وویل والله زه سحري (پیشلمی) نه کوم نوله سحري څخه مرادهغه خوراک دی چې له نیمې شپې نه ترطلوع فجرپورې په منځ کې وکړای شي ،سحورله سحرڅخه دی ،سحرته پرقریب دهغه اطلاق کیږي چې له نیمې شپې څخه دی لهذاکه له نصف اللیل څخه ترطلوع فجرپورې حالف خوراک وکړنوحانث کیږي.

(۸۸)وَاِنْ حَلَفَ لَیَقْضِیَنَّ دَیْنَهٗ اِلٰی قَرِیْبٍ فَهُوَ مَادُوْنَ الشَّهْرِ (۸۹)وَاِنْ اِلٰی بَعِیْدٍ فَهُوَ اَکْثَرُ مِنَ الشَّهْرِ

ترجمه :که چاقسم وکړچې والله زه به دفلان قرضه په نژدې وخت کې ورکوم نوداتریوه میاشت په کمه موده کې کیږي اوکه یې وویل په ډیروخت وروسته یې ورکوم نوهغه تریوه میاشت په زیاته موده کې کیږي.

تشریح :(۸۸)که چاقسم واخیست چې والله زه به دفلان قرض په نژدې وخت کې ورکوم نوله دې څخه مرادتریوه میاشت کمه موده کیږي ځکه تریوه میاشت کمه موده په عُرف کې قریبه بولي.

(۸۹)اوکه یې وویل چې والله په لیرې وخت کې به یې وراداکوم نوله هغه څخه تریوه میاشت زیاته موده مرادیږي ځکه میاشت اوترهغه زیات وخت ته په عُرف کې موده بعیده ویله کیږي.

(۹۰)وَمَنْ حَلَفَ لَایَسْکُنُ هٰذِهِ الدَّارَ فَخَرَجَ مِنْهَا بِنَفْسِهٖ وَتَرَکَ فِیْهَا اَهْلَهٗ وَمَتَاعَهٗ حَنِثَ (۹۱)وَمَنْ حَلَفَ لَیَصْعَدَنَّ السَّمَاءَ اَوْ لَیَقْلِبَنَّ هٰذَا الْحَجَرَ ذَهَبًا اِنْعَقَدَتْ یَمِیْنُهٗ وَحَنِثَ عَقِیْبَهَا

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله زه په دې سرای نه اوسیږم بیاخپله ووت اوبال وبچ اوسامان یې په سرای کې پرېښودل نوحانث کیږي اوکه چاقسم واخیست چې والله زه به آسمان ته خیژم یاداډبره به سرزرګرځوم نوداقسم منعقدکیږي اوترقسم وروسته حانث کیږي .

تشریح :(۹۰)که چاقسم واخیست چې والله زه په داسرای کې نه اوسیږم بیاپخپله ووت اوبال وبچ اودکورسامان یې په سرای کې پرېښودل نوحانث کیږي ځکه په کوم سرای کې چې بال وبچ اوسامان وي په عرف کې هغه سړی ددغه سرای اوسیدونکی بلل کیږي .

(۹۱)که چاقسم واخیست چې والله زه به آسمان ته خیژم یاوالله زه به داډبره سره زرګرځوم نوداقسم منعقدکیږي اوترقسم وروسته متصل داسړی حانث کیږي ځکه حالف عادةً عاجزدی لهذافی الحال حانث کیږي.

(۹۲)وَمَنْ حَلَفَ لَيَقْضِيَنَّ فُلَانًا دَيْنَهُ الْيَوْمَ فَقَضَاهُ ثُمَّ وَجَدَ فُلَانٌ بَعْضَهُ زُيُوفًا أَوْ بِنَهْرَجَةً أَوْ مُسْتَحَقَّةً لَمْ يَحْنَثِ الْحَالِفُ (۹۳)وَإِنْ وَجَدَهَا رَصَاصًا أَوْ سَتُّوقَةً حَنِثَ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې والله دفلان قرض به نن ورکوم بس ورادایې کړل بیاقرض غوښتونکي ځینی درهمونه زیوف یابنهرجه یامستحق وموندل نونه حانث کیږي اوکه یې دراهم رصاص یاستوقه ومونډل نوحانث کیږي.

تشریح :(۹۲)که چاقسم واخیست چې والله زه دفلان قرض نن ورادا کوم بیایې په نن کې ورادا کړل مګرقرضخواه بعض دراهم زیوف (زیوف هغه درهمونه دي چې تجاران یې قبلوي اوبیت المال یې نه اخلي) اوبعض یې بنهرجه (هغه درهمونه چې نه یې تجاران اونه یې بیت المال قبلوي) ومونډل یابعض درهمونه دبل چامستحق وختل نوحالف نه حانث کیږي ځکه شرط راغلی دی ولي چې زیوف اوبنهرجه ددراهموله جنس څخه دي بیشکه عیب داردي مګردعیب په وجه جنس نه معدوم کیږي،اودمستحق کیدوپه صورت کې دقرضخواه پردراهموقبض کول صحیح دی اودحالف دقسم دیوځل پوره کیدووروسته دادراهم مستحق ته په واپس کیدوسره دقسم پوره کیدل نه لیري کیږي .

(۹۳)که په مذکورصورت کې قرضخواه دراهم رصاص (کیلټ) یاستوقه (کوټه درهم چې دزروهاروورکړل شوی وي) ومونډل نوحالف حانث کیږي ځکه رصاص اوستوقه له جنس دراهموڅخه نه دي .

(۹۴)وَمَنْ حَلَفَ لَا يَقْبِضُ دَيْنَهُ دِرْهَمًا دُونَ دِرْهَمٍ فَقَبَضَ بَعْضَهُ لَمْ يَحْنَثْ حَتَّى يَقْبِضَ جَمِيعَهُ مُتَفَرِّقًا (۹۵)وَإِنْ قَبَضَ دَيْنَهُ فِي وَزْنَيْنِ لَمْ يَتَشَاغَلْ بَيْنَهُمَا إِلَّا بِعَمَلِ الْوَزْنِ لَمْ يَحْنَثْ وَلَيْسَ ذَالِكَ بِتَفْرِيقٍ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې زه قرض داسي نه قبض کوم چې بعضی دراهم قبض کړم او بعضی مې نه وي قبض کړي بیاهغه بعضی دراهم قبض کړل نو حالف نه حانث کيږي ترهغه چې ټول قرض په متفرق ډول قبض کړي او که یې خپل قرض په دوه توله وصول کړد دوا ړو وزنو ترمنځ مشغول نه شو مګر دتول په عمل نو نه حانث کيږي او دا تفریق نه شمارل کيږي .

تشریح :(۹۴)که چاقسم واخیست چې والله زه قرض داډول نه قبض کوم چې بعضی دراهم قبض کړم اوبعضی نه کړم قبض (یعنې خپل قرض په متفرق ډول نه وصول کوم) بیاهغه بعضی درهمونه قبض کړل نو دی نه حانث کيږي ترڅو چې ټول قرض په متفرق ډول قبض نه کړي ځکه دحنث شرط دادی چې ټول قرض په وصف دتفریق سره قبض کړي .

(۹۵)که یې په مذکورصورت کې خپل قرض په دوه ځله یازیات تول سره وصول کړل اوددواړوتول کولوترمنځ په کوم بل کارنه دی مشغول شوی یوازې دتول په عمل مشغول وونودتول په وجه چې په وصول کې کوم تفریق راغلی دی هغه ته اعتبارنشته ځکه کله ټول قرض په یوه واروصول کول عادةً محال وي نودومره اندازه تفریق مستثنی دی نو دهغه په وجه حالف نه حانث کيږي .

(۹۶)وَمَنْ حَلَفَ لَيَأْتِيَنَّ الْبَصْرَةَ فَلَمْ يَأْتِهَا حَتّٰى مَاتَ حَنِثَ فِي آخِرِ جُزْءٍ مِنْ أَجْزَاءِ حَيٰوتِهِ

ترجمه :که چاقسم واخیست چې زه به ضرور بصرې ته ځم او بصرې ته نه ولاړی ترهغه چې مړ شو نو داسړی دخپل ژوند په آخري شیبو کې حانث کيږي .

تشریح :(۹۶)که چاقسم واخیست چې والله زه به بصرې ښارته ځم بیادی نه ولاړی ترهغه چې مړ شو نو داسړی دخپل ژوند په آخري جزء کې حانث کيږي ځکه دا یمین مطلق غیر موقت واقع شوی دی نو دا به باقی وي ترهغه چې دپوره کيدو امکان یې وي مګر څرنګه چې ترمرګ وروسته دپوره کيدو امکان نشته لهذا حنث دهغه دژوند آخري جزء ته منسوبيږي.

كِتَابُ الدَّعوى

داکتاب ددعوی په بیان کې دی .

دعوى لغةً هغه قول دى چې دهغه په ذريعه انسان پرغيرباندي دحق ايجاب اراده وکړي،اوشرعًاديوه انسان له بل څخه دقاضي په وړاندي دخپل حق طلب کولوته دعوى وايي،حق غوښتونکي ته مدعي اوله چاڅخه چې حق طلبوي هغه ته مدعى عليه وايي اومدعى به هغه شى دى چې مدعي يې دعوى کړي ده.
له کتاب الايمان سره مناسبت دادى چې په دعوى کې هم پرمدعى عليه قسم شته په دي مناسبت يې له کتاب الايمان وروسته کتاب الدّعوى ذکرکړى دى.

(۱)وَالْمُدَّعِيْ مَنْ لَايُجْبَرُ عَلَى الْخُصُوْمَةِ إِذَاتَرَكَهَا(۲)وَالْمُدَّعٰى عَلَيْهِ مَنْ يُجْبَرُ عَلَى الْخُصُوْمَةِ

ترجمه:مدعي هغه دى چې پرخصومت کولونه مجبورکيږي که دى خصومت پريږدي اومدعى عليه هغه دى چې پرخصومت کولو مجبورکيږي.

تشريح:(۱) څرنګه ددعوى مسائل دمدعي اومدعى عليه پرپيژندلوباندي موقوف دي ځکه نوامام قدوري رحمه الله دمدعى اومدعى عليه په تعريف باندي شروع وکړه،نومدعي هغه دى چې که چيرته هغه دعوى پريښودله نودى پريښودل کيږي يعني پرده باندي دخصومت لپاره جبرنه کيږي ځکه ده دعوى په اختيارسره کړي ده نودپريښودلوهم دى اختيارلري.
(۲)اومدعى عليه هغه دى چې که چيرته خصومت پريږدي نوحاکم به دى دخصومت پرکولوباندي مجبورکوي.

(۳)وَلَايُقْبَلُ الدَّعْوٰى حَتّٰى يَذْكُرَ شَيْئًامَعْلُوْمًافِيْ جِنْسِهٖ وَقَدْرِهٖ

ترجمه: يعني دمدعي دعوى نه قبليږي ترڅوچې دى دداسي يومعلوم شي دعوى وکړي چې دهغه جنس اومقدارمعلوم وي.

تشريح: (۳)يعني دمدعي دعوى نه قبليږي ترڅوچې دى دداسي يومعلوم شي دعوى وکړي چې دهغه جنس اومقدارمعلوم وي ددعوى دنه قبليدومطلب دادى چې ددي دعوى په وجه عدالت ته دمدعي عليه اومدعى به حاضرول ضروري نه دي او دجنس دمعلوميت مطلب دادى چې داورته وښيي چې مدعى به غنم دي يااوريشي دي ياسره اوسپين زردي اودمقدار دمعلوميت مطلب دادى چې داوروښيي چې مثلاغنم يوسيردي يادوه سيره دي همدارنګه مثاقيل اودراهم دومره دي دمدعى به دجنس اوقدردمعلومولووجه داده چې ددعوى په ذريعه سره دحجت په واسطه پرمدعى عليه باندي مدعى به لازميږي نوکه مدعى به مجهول وي نومجهول شى پرمدعى عليه بلاندي لازميږي حال داچې دمجهول لازمول ممکن نه دى.

ددعوی تفصیلي احکام

(۴) فَإِنْ كَانَ عَيْنًا فِي يَدِ الْمُدَّعىٰ عَلَيْهِ كُلِّفَ إِحْضَارَهَا لِيُشِيْرَ إِلَيْهَا بِالدَّعْوىٰ (۵) وَإِنْ لَمْ يَكُنْ حَاضِرَةً ذُكِرَ قِيْمَتُهَا (۶) وَإِنِ ادَّعىٰ عِقَارًا حَدَّدَهُ وَذَكَرَ أَنَّهُ فِي يَدِ الْمُدَّعىٰ عَلَيْهِ وَأَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ (۷) وَإِنْ كَانَ حَقًّا فِي الذِّمَّةِ ذَكَرَ أَنَّهُ يُطَالِبُهُ بِهِ

ترجمه :که مدعی به یو مال عین وي د مدعی علیه په لاس کې وي نو مدعی علیه د مدعی به په حاضرولو مجبور کیږي د دي لپاره چې مدعي د دعوی په وخت کې د هغه طرف ته اشاره وکړي او که حاضر نه وي نو د هغه قیمت دي ذکر کړي او که یې د ځمکې دعوی وکړه نو د هغې حدود اربعه دي ذکر کړي او دا دي وښایې چې د مدعی علیه په قبضه کې دی او وزه یې مطالبه کوم او که یې د مدعی علیه پر ذمه یو حق وي نو بیا دي خالص دومره ذکر کړي چې زه یې طلبګاریم.

تشریح :(۴) که مدعی به یو معلوم مال د مدعی علیه په قبضه کې وو نو مدعی علیه دي مجبور کړای شي چې هغه مدعی به عدالت ته حاضر کړي د دي لپاره چې مدعي د دعوی په وخت د هغه طرف ته اشاره وکړي چې داشی زمادی ځکه تر وسه پوري د مدعی به معلومول شرط دی او دا په عین منقولی کې په اشاره سره کیږي.

(۵) که مدعی به چې عین منقولی دی حاضر نه وي که هلاک شوی وي یا د هغه په حاضرولو خرچه راتله نو د هغه قیمت دي ذکر کړي چې په قدر د امکان مدعی به معلوم شي.

(۶) که مدعی به ځمکه وه نو څرنګه چې محکمي ته د هغې وړل ناممکن دی نو د هغې څلور حدود به ذکر کوي ځکه د ځمکې معرفت په حدود وسره راځي او دا به هم بیانوي چې دا ځمکه د مدعی علیه په قبضه کې ده ځکه مدعی علیه هغه وخت خصم ګرځي چې مدعی به ځمکه د هغه په قبضه کې وي او مدعی به دا هم وایې چې زه د هغې مطالبه کوم ځکه مطالبه د مدعي حق دی نو د هغه مطالبه کول ضروري ده.

(۷) او که چیرته مدعی به د مدعی علیه پر ذمه قرض وو، مال عین نه به په محکمه کې خالص دا مطالبه وکړي چې زه د دغه حق طلبګاریم ولی صاحب ذمه خپله حاضر دی نو له مطالبې پرته بل کوم کار نه دی پاتی.

(۸) فَإِذَا صَحَّتِ الدَّعْوىٰ سَأَلَ الْقَاضِي الْمُدَّعىٰ عَلَيْهِ عَنْهَا فَإِنِ اعْتَرَفَ قَضىٰ عَلَيْهِ بِهَا وَإِنْ أَنْكَرَ سَأَلَ الْمُدَّعِيَ الْبَيِّنَةَ (۹) فَإِنْ أَحْضَرَهَا قَضىٰ بِهَا وَإِنْ عَجَزَ عَنْ ذٰلِكَ وَطَلَبَ يَمِيْنَ خَصْمِهِ اسْتَحْلَفَ عَلَيْهَا (۱۰) وَإِنْ قَالَ لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ وَطَلَبَ الْيَمِيْنَ لَمْ يَسْتَحْلِفْ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

ترجمه : کله چې دعوی صحیح شي نو قاضي دي د مدعی علیه څخه د دي دعوی په باره کې پوښتنه وکړي که هغه اقرار وکړ نو قاضي به د هغه خلاف فیصله صادره کړي او که مدعی علیه انکار وکړ نو قاضي به له مدعي

څخه ګواهان وغواړي بياکه مدعي ګواهان پيش کړل نوقاضي به دهغه مطابق فيصله وکړي اوکه مدعي وويل چې له ماسره ګواهان موجوددي اوقسم يې طلب کړنوداامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله مدعى عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي.

تشريح :(۸)کله چې دمدعى دعوى صحيح شي نوقاضي دي دمدعى عليه څخه ددي دعوى په باره کې پوښتنه وکړي که چيرته هغه ددعوى دصحت اقراروکړ نوقاضي به دده خلاف اودمدعي په حق کې فيصله وکړي ځکه مدعى عليه خپله دمدعي ددعوى دصحت اقرارکړى دى اوکه چيرته مدعى عليه ددعوى له صحت څخه انکاروکړنوقاضي به له مدعي څخه ګواهان وغواړي چې هغه خپله مدعى ثابته کړي .

(۹)بياکه مدعي ګواهان پيش کړل نوقاضي به دده په حق کې فيصله وکړي ځکه په حجت سره ښکاره شوه چې مدعي په خپله دعوى کې صادق دى اوکه مدعى عليه ددعوى دصحت انکاروکړاومدعي ګواهان پيش نه کړاى شواوله مدعي عليه څخه يې دقسم اخيستلومطالبه وکړه نوقاضي به له مدعى عليه څخه پرمدعى به باندي قسم واخلي مګردمدعي مطالبه دقسم ضروري ده ځکه قسم دهغه حق دى .

(۱۰)که مدعي وويل چې زماګواهان حاضردي يعنې په ښارکې موجوددي بيايې هم دګواهانوپيشولوپرځاى دى وايې چې له مدعى عليه څخه قسم واخله نوداامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله مدعى عليه څخه قسم نه اخيستل کيږي ځکه په قسم کې دمدعى حق بيشکه ثابت دى مګرهغه وخت چې دګواهانوله پيشولو څخه عاجزوي په مذکورصورت کې مدعي دګواهانوله پيشولوڅخه عاجزنه دى ،راجح قول دادى .

(۱۱)وَلَاتُرَدُّالْيَمِيْنُ عَلَى الْمُدَّعِى(۱۲)وَلَاتُقْبَلُ بَيِّنَةُصَاحِبِ الْيَدِفِى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ

ترجمه :اوپرمدعي قسم نه رديږي اوپه مِلک مطلق کې دصاحب اليدبيّنه نه قبليږي .

تشريح :(۱۱) اوکه مدعى عليه له قسم اخيستلوڅخه انکاروکړنوپرمدعى باندي قسم نه رديږى يعنې له مدعي څخه قسم نه اخيستل کيږي،لقوله ﷺ : اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِى وَالْيَمِيْنُ عَلى مَنْ اَنْکَرَ(پرمدعي ګواهان دي اوقسم پرهغه چادى چې انکاروکړي).

(۱۲)په مِلک مطلق (په کوم کې چې مدعي دمِلک دعوى وکړي مګردملکيت هيڅ سبب ونه ښيي چې په کوم سبب سره دده مِلک دى)دصاحب اليد (قابض)ګواهان نه قبليږى مثلاً ديوه په قبضه کې دى هغه هم ګواهان وړاندې کړل اوبل مدعي دى هغه پرخپل مِلک ګواهان قائم کړل نوګواه دغيرقابض معتبردي .

(۱۳)وَاِذَانَكَلَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ عَنِ الْيَمِيْنِ قَضٰى عَلَيْهِ بِالنُّكُوْلِ وَلَزِمَهُ مَاادَّعٰى عَلَيْهِ(۱۴)وَيَنْبَغِىْ لِلْقَاضِىْ اَنْ يَقُوْلَ لَهُ اِنِّىْ اَعْرِضُ عَلَيْكَ الْيَمِيْنَ ثَلٰثًا فَاِنْ حَلَفْتَ وَاِلَّا قَضَيْتُ عَلَيْكَ بِمَاادَّعَاهُ(۱۵)واِذَا كَرَّرَ الْعَرْضَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ قَضٰى عَلَيْهِ بِالنُّكُوْلِ

ترجمه:که مدعی علیه له قسم اخیستلو څخه انکار وکړنو دانکارپه وجه دهغه په خلاف فیصله کیږي اوپرده هغه شی لازمیږي دکوم چې پرده دعوی شوې ده پکاردی چې قاضی احتیاطًاله مدعی علیه څخه پوښتنه وکړي چې زه تاته درې ځله قسم درکوم بیاکه چیرته تاقسم واخیست نوفبهاکه نه مدعي چې کومه دعوی کړي ده په هغی کې ستاپه خلاف دهغه په حق کې فیصله کوم چې کله درې ځله پرهغه قسم پیش کړي نوقاضي به دانکارپه وجه دهغه په خلاف فیصله وکړي.

تشریح:(۱۳) که له مدعي سره ګواهان نه وواومدعي له مدعی علیه څخه دقسم اخیستلومطالبه وکړه مګرمدعی علیه ي دقسم اخیستلوڅخه انکاروکړنوقاضي به دهغه په خلاف فیصله کوي ځکه انکارددلیل له قسم څخه دی پردي خبره چې دی یامدعي ددعوی اقرارکوي اویادلاوري کوي قسم پرېږدي مال ورکول غواړي لهذاقاضی به دهغه په خلاف فیصله کوي.

(۱۴)پکاردی چې قاضی احتیاطًاله مدعی علیه څخه پوښتنه وکړي چې زه تاته درې ځله قسم درکوم بیاکه چیرته تاقسم واخیست نوفبهاکه نه مدعي چې کومه دعوی کړي ده په هغی کې ستاپه خلاف دهغه په حق کې فیصله کوم څرنګه چې دادخفاء موقع ده ځکه نومدعی علیه ته ویل کیږي چې دانکارپه صورت کې ستاپه خلاف فیصله کوم.

(۱۵)بیاچې کله قاضی درې ځله پرهغه قسم وړاندي کړي که چیرته دی منکرپاتی شونوقاضی به دهغه په خلاف دقسم څخه دانکارپه وجه فیصله وکړي.

په کومواموروکې چې له پرمدعی علیه قسم نشته

(۱۶)وَاِنْ كَانَتِ الدَّعْوٰى نِكَاحًالَمْ يُسْتَحْلَفِ الْمُنْكِرُ عِنْدَاَبِىْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ(۱۷)وَلَايُسْتَحْلَفُ فِى النِّكَاحِ وَالرَّجْعَةِ وَالْفَيْءِ فِى الْاِيْلَاءِ وَالرِّقِّ وَالْاِسْتِيْلَادِ وَالنَّسَبِ وَالْوَلَاءِ وَالْحُدُوْدِ وَاللِّعَانِ وَقَالَا يُسْتَحْلَفُ فِىْ ذٰلِكَ كُلِّهَا اِلَّا فِى الْحُدُوْدِ وَاللِّعَانِ

ترجمه:که دعوی نکاح وه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدله منکرڅخه قسم نه اخیستل کیږي اوپه نکاح ،رجعت ،له ایلاء څخه په رجوع کولو ،په مرییتوب ،په ام ولدګرځولو ،په نسب ،ولاء ،حدودواولعان کې قسم

نه اخيستل کيږي، صاحبينو رحمهماالله فرمايلي دي چې په دې ټولوکې قسم اخيستل کيږي پرته له حدودواولعان نه.

تشريح :(۱۶)که دنکاح دعوی وه که دخاونده طرفه وي يادښځې له طرفه نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدقسم نه اخيستل کيږي،دصاحبينو رحمهماالله په نزدقسم ترې اخيستل کيږي.

(۱۷)دامام ابوحنيفة رحمه الله اوصاحبينو رحمهماالله ترمنځ دااختلاف په لاندې اموروکې هم شته :**نمبر - ۱**په رجعت کې مثلاًدعدت تيريدونه وروسته خاونددعوی وکړي چې ماپه عدت کې دننه رجوع کړې ده اوښځه ددې انکارکوي.

نمبر ۲-په فئ کې يعنې په رجوع کې مثلاًد ايلاء دمودې تيريدونه وروسته خاونددعوی وکړي چې مادايلاء په موده کې له ايلاء څخه رجوع کړې ده اوښځه ددې څخه انکاروکړي . **نمبر ۳**-په رقت کې،مثلاًپه يوه مجهول النسب چاپې دعوی وکړه چې دازمامريی دی اوهغه له دې څخه انکاروکړي . **نمبر ۴**-په استيلادکې،مثلاًمنځې په مولی دعوی وکړه چې زه دهغه ام ولديمه اوبادارله دې څخه انکاروکړي . **نمبر ۵**- په نسب کې ،مثلاًيوچاپه بل دعوی وکړه چې دازمازوی دی اوهغه له دې څخه انکاروکړي. **نمبر ۶**-په ولاء کې مثلاًيوچادعوی وکړه چې فلان سړی زمامولی عتاقة يامولی الموالات دی اوهغه له دې څخه انکاروکړي . **نمبر ۷**-په حدودوکې ،مثلاًيوه سړي بل ته وويل چې تاپرماباندې دزناتهمت لګولی دی چې هغه ثابته نه ده نوپرتاباندې حدقذف دی اومدعی عليه له دې څخه انکاروکړي. **نمبر ۸**-په لعان کې،مثلاًښځه په خاوندباندې دعوی وکړي چې ده پرماباندې دلعان تهمت لګولی دی اوخاوندله دې خبرې څخه انکارکوي،نوپه دغوټولواموروکې دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدله منکرڅخه قسم نه اخيستل کيږي اودصاحبينو رحمهماالله په نزدله حدودواولعان علاوه په ټولوکې قسم اخيستل کيږي.

دصاحبينو رحمهماالله دليل دادی چې داستحلاف فائده داده چې دانکارپه صورت کې پرمنکرباندې فيصله کيږي اوانکارکول هم يوقسم اقراردی ځکه انکاردهغه پردروغجن والي دال دی اوپه مذکوره اموروکې اقرارجاري کيږي نواستحلاف هم جاري کيږي،همدارنګه مذکوره اموردداسي دي چې سره له شبهې ثابتيږي نودااموال په شان په دې کې استحلاف جاري کيږي البته حدودداسي نه دي ځکه هغه په معمولي شبهه سره له منځه ځي نوځکه په حدودوکې استحلاف نه جاري کيږي اولعان ځرنګه چې دحدپه معنی دی ځکه نوپه هغه کې هم استحلاف نه جاري کيږي.

د امام صاحب رحمه الله دلیل دادی چې دلته له قسم اخیستلو څخه انکار کول اقرار نه دی که نه نو مجلس د قضاء به یې شرط نه وای بلکې یو قسم اباحت او بذل دی چې مدعی علیه جرأت وکړ چې مدعي ته مدعی به ورکوي او په مذکوره امورو کې د اباحت او بذل نفاذ نه راځي ځکه په دغو امورو کې له قسم څخه د انکار په صورت کې فیصله نه کیږي.

فتوی د صاحبینو رحمهما الله پر قول ده

(۱۸) وَإِذَا ادَّعَى اثْنَانِ عَيْنًا فِي يَدِ آخَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَزْعَمُ أَنَّهَا لَهُ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ قُضِيَ بَيْنَهُمَا (۱۹) وَإِنِ ادَّعَى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِكَاحَ امْرَأَةٍ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ لَمْ يُقْضَ بِوَاحِدَةٍ مِنَ الْبَيِّنَتَيْنِ وَيُرْجَعُ إِلَى تَصْدِيقِ الْمَرْأَةِ لِأَحَدِهِمَا

ترجمه: که دوو کسانو دیوه خاص شي چې د بل چا په قبضه کې وو دعوی وکړه هر یوه د دې دعوی کوله چې دا شی زما ملک دی او هر یوه پر خپله دعوی باندې ګواهان هم پیش کړل نو قاضي به فیصله وکړي چې دا شی د دوئ دواړو مشترک دی او که هر یوه دیوې ښځې د نکاح دعوی وکړه او هر یوه پر خپله دعوی باندې ګواهان هم قائم کړل نو دیوه پر ګواهانو هم فیصله نه کوله کیږي او له دوئ څخه دیوه لپاره د ښځې تصدیق ته رجوع کیږي.

تشریح: (۱۸) که دوو کسانو دیوه خاص شي چې د بل چا په قبضه کې وو دعوی وکړه هر یوه د دې دعوی کوله چې دا شی زما ملک دی او هر یوه پر خپله دعوی باندې ګواهان هم پیش کړل نو قاضي به فیصله وکړي چې دا شی د دوئ دواړو مشترک دی، ځکه د استحقاق په سبب کې دواړه برابر دي او محل (مدعی به) اشتراک هم قبلوي.

(۱۹) که له دوو کسانو څخه هر یوه دیوې ژوندۍ ښځې د نکاح دعوی وکړه او هر یوه پر خپله دعوی باندې ګواهان هم قائم کړل نو دیوه پر ګواهانو هم فیصله نه کوله کیږي ځکه دیوه ګواهان تر هغه بل اولی نه دي او د دواړو لپاره حکم متعذر دی ولی محل (یعنې ښځه) محل د اشتراک نه دی البته د ښځې تصدیق ته رجوع کیږي یعنې ښځه چې په دوئ دواړو کې د کوم یوه تصدیق وکړي د هغه د نکاح حکم کیږي، ولی نکاح د اسې شی دی چې د زوجینو د خپل منځي تصدیق په وجه د هغه حکم ورکول کیږي.

(۲۰) وَإِنِ ادَّعَى اثْنَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَنَّهُ اشْتَرَى مِنْهُ هَذَا الْعَبْدَ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الْعَبْدِ بِنِصْفِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ (۲۱) فَإِنْ قَضَى الْقَاضِي بِهِ بَيْنَهُمَا فَقَالَ أَحَدُهُمَا لَا أَخْتَارُ لَمْ يَكُنْ لِلْآخَرِ أَنْ يَأْخُذَ جَمِيعَهُ (۲۲) وَإِنْ ذَكَرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا تَارِيخًا فَهُوَ لِلْأَوَّلِ (۲۳) وَإِنْ لَمْ يَذْكُرَا تَارِيخًا وَمَعَ أَحَدِهِمَا قَبْضٌ فَهُوَ أَوْلَى بِهِ

ترجمه :که له دوکسانو څخه هريوه دادعوی وکړه چې مادامريی له ده څخه اخيستی دی اودواړوپردې گواهان هم قائم کړل نوهريوه ته اختياردی که نصف مريی په عوض دنصف ثمن اخلي اوکه يې پرېږدي اوکه قاضي ددواړولپاره فيصله وکړه بيايوه وويل چې زه نصف نه خوښوم نودوهم ته اختيارنشته چې دی پوره مريی اخلي اوکه هرمدعي دخپل خريدتاريخ بيان کړنومريی له دویٔ نه دمقدم تاريخ والاکيږي اوکه دواړوتاريخ بيان نه کړاودیوه قبضه حاصله وه نوهغه اولی دی.

تشريح :(۲۰) که له دووکسانونه هريوه پردريم چا(قابض)سړي باندي دعوی وکړه چې مامثلادامريی له هغه قابض څخه اخيستی دی اودواړوپردي باندي گواهان هم قائم کړل نوددواړوگواهان قبليږي اوهريوه لره اختياردی که يې خوښه وي نونصف مريی دي په عوض دنصف ثمن واخلي اوکه يې نه وي خوښه پري دي ردي لِتَفرّقِ الصّفقَةِ.

(۲۱)که قاضي ددواړولپاره دنصف نصف مريې فيصله وکړه بيايوه وويل چې زه نصف نه خوښوم اوپري يې ښودنوهغه بل لره اختيارنشته چې هغه پوره مريی واخلي ځکه دقاضي دقضاء په وجه دهريوه عقدپه نصف آخرکې فسخ کيږي نوهغه بلاعقدجديدعودنه کوي.

(۲۲)که په مذکورصورت کې هريوه مدعي دخپل خريدتاريخ بيان کړاوله دواړوڅخه ديوه دخريدتاريخ مقدم وودهغه بل ترتاريخ نومريی دهغه کيږي چاچې تاريخ مقدم بيان کړی دی ځکه هغه په داسي وخت کې خپل خريدثابت کړچې په هغه وخت کې دده هيڅ مزاحم نشته نوثاني مندفع شو.

(۲۳)اوکه دواړوتاريخ بيان نه کړمگرله دواړوڅخه يو قابض وونوقابض اولی دی ځکه قبض ددي خبرې دليل دی چې دهغه خريدمخکي شوی دی.

(۲۴)وَاِنِ ادَّعٰى اَحَدُهُمَا شِرَاءً وَالآخَرُ هِبَةً وَقَبضًا وَاَقَامَا البَيِّنَةَ وَلاتَارِيخَ مَعَهُمَا فَالشِّرَاءُ اَولٰى مِنَ الآخَرِ (۲۵) وَاِنِ ادَّعٰى اَحَدُهُمَا الشِّرَاءَ وَادَّعَتِ امرَاَةٌ اَنَّهُ تَزَوَّجَهَا عَلَيهِ فَهُمَا سَوَاءٌ (۲۶) وَاِنِ ادَّعٰى اَحَدُهُمَا رَهنًا وَقَبضًا وَالآخَرُ هِبَةً وَقَبضًا فَالرَّهنُ اَولٰى

ترجمه :که يوه دخريددعوی وکړه اوبل دهبې اوهريوه گواهان قائم کړل مگرله دواړوڅخه له يوه سره تاريخ نشته نوخريداولی دی ترهغه بل اوکه دواړودخريددعوی اوښځې دادعوی وکړه چې هغه پردې له ماسره نکاح کړې ده نودادواړه مدعيان برابردي اوکه له دواړونه يوه درهن اوقبض دعوی وکړه اوبل دهبې اوقبض دعوی وکړه نورهن اولی دی.

تشريح :(۲۴)که دوومدعيانوديوه دريم سړي په باره کې دعوی وکړه يوه وويل ماله هغه څخه دامريی اخيستی دی هغه بل وويل چې هغه ماته هبه کړی دی اوهريوه گواهان هم قائم کړل مگرله دواړوڅخه ديوه

سره تاریخ نشته نو خرید اولی دی تر هبّه نو قاضي به د خرید د مدعي په حق کې فیصله کوي ولی په خرید کې له جانبینو معاوضه وي او هبّه داسي نه ده.

(۲۵) که له دوو مدعیانو څخه یوه د خرید دعوی وکړه مثلاویې ویل چې دامریی ماله فلان قابض څخه اخیستی دی او دوهم مدعي ښځه ده هغه وایي چې هغه قابض سړي له ماسره نکاح کړي ده او دامریی یې زما مهر مقرر کړی دی نو دادواړه مدعیان برابر دي ځکه د دواړو دعوی یو ډول قوي ده په دي وجه چې له خرید او نکاح څخه په هریوه کې له جانبینو څخه معاوضه شته،اوس نو دا صورت ممکن دی چې ښځې لره پرخاوند د مریي قیمت واجب کړای شي او خریدار لره د خرید حکم ورکړل شي.

(۲۶) که له دواړو مدعیانو څخه یوه درهن (چې داله ماسره درهن په ډول دی) سره له قبض کولو(چې دازما په لاس کې دی) دعوی وکړه او بل دهبه (چې فلان ماته هبّه کړی دی)سره د قبض دعوی وکړه نو رهن تر هبّه استحساناً اولی دی یعنې قاضي به درهن حکم کوي ځکه په حکم درهن مقبوض مضمون کیږي او په حکم دهبّه مقبوض غیر مضمون وي او عقد ضمان اولی وي.

(۲۷) وَإِنْ أَقَامَا الْخَارِجَانِ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ وَالتَّارِيخِ فَصَاحِبُ التَّارِيخِ الْأَقْدَمِ أَوْلَى (۲۸) وَإِنِ ادَّعَيَا الشِّرَاءَ مِنْ وَاحِدٍ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى التَّارِيخَيْنِ فَالْأَوَّلُ أَوْلَى

ترجمه:که دوغیر قابضو پر خپل ملکیت او تاریخ گواهان قائم کړل نو د مقدم تاریخ والا اولی دی او که دواړو له یوه چا څخه د خرید دعوی وکړه او دواړو پر دو مختلفو تاریخونو گواهان قائم کړل نو اول اولی دی.

تشریح:(۲۷) که دوو خارجي مدعیانو (یعنې داسي څوک چې پر مدعی به باندي قابض نه دي) هریوه پر خپل ملکیت باندي گواهان قائم کړل او دواړو تاریخ هم بیان کړ مگر تاریخ د دواړو مختلف دی نو چې دکوم یوه تاریخ مقدم دی هغه اولی دی ځکه هغه دا ثابته کړه چې زه لومړی مالک یم نو د دوهم مِلک یوازې دهغه له طرفه کیدای شي حال دا چې هغه بل دهغه د طرف نه د ملکیت د حاصلو لو دعوی نه ده کړې.

(۲۸) یا دوو مدعیانو دیوه غیر قابض شخص څخه د خرید دعوی وکړه او دواړو پر مختلفو تاریخو باندي گواهان قائم کړل نو لومړی اولی دی ځکه هغه په داسي وخت کې خپل خرید ثابت کړ چې په هغه وخت کې ده هیڅ مزاحم نشته.

(۲۹) وَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً عَلَى الشِّرَاءِ مِنَ الْآخَرِ وَذَكَرَا تَارِيخًا فَهُمَا سَوَاءٌ (۳۰) وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ الْبَيِّنَةَ عَلَى مِلْكٍ مُؤَرَّخٍ وَأَقَامَ صَاحِبُ الْيَدِ الْبَيِّنَةَ عَلَى مِلْكٍ أَقْدَمَ تَارِيخًا كَانَ أَوْلَى (۳۱) وَإِنْ أَقَامَ الْخَارِجُ وَصَاحِبُ الْيَدِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةً

بِالنِّتَاجِ لِصَاحِبِ الْيَدِ أَوْلَى (۳۲) وَكَذَالِكَ النَّسْجُ فِي الثِّيَابِ الَّتِيْ لَاتُنْسَجُ اِلَّامَرَّةً وَاحِدَةً (۳۳) وَكَذَالِكَ كُلُّ سَبَبٍ فِي الْمِلْكِ وَلَايَتَكَرَّرُ

ترجمه :كه هريوه له يوه عليحده سړي څخه پرخريد گواهان قائم كړل اودواړوتاريخ هم بيان كړنودادواړه برابردي كه مدعي غيرقابض پرخپل ملكيت باندي گواهان سره له تاريخ قائم كړل اوصاحب اليد (قابض) پر داسي ملكيت باندي گواهان قائم كړل چې تاريخ يې تراول مقدم دى نوقابض اولى دى كه غيرقابض اوقابض دواړوهريوه پرنتاج باندي گواهان قائم كړل نوقابض اولى دى همدارنگه جوړښت دى په كپړه كې هغه چې نه جوړيږي مگريوځل اوهمدارازپه هرسبب دمِلك كې چې نه مكرريږي .

تشريح :(۲۹) كه له دواړومدعيانوڅخه هريوه له يوه عليحده شخص څخه پرخريدباندي گواهان قائم كړل مثلايوه وويل ماله زيدڅخه اخيستى دى اوبل وويل چې ماله عمروڅخه اخيستى دى اودواړوتاريخ هم بيان كړكه تاريخ متفق وي كه مختلف نودادواړه برابردي ځكه دوئ دواړه دخپل بائع لپاره ملكيت ثابتوي گواكې دواړوپرخپل مكليت بلاتاريخ گواهان قائم كړل ځكه له دواړوڅخه هريوه ته نصف حصه په عوض دنصف ثمن اخيستلواوپريښودلو اختياروركول كيږي.

(۳۰)كه مدعى خارج (غيرقابض) پرخپل ملكيت باندي گواهان سره له تاريخ قائم كړل اوصاحب اليد(قابض) پر داسي ملكيت باندي گواهان قائم كړل چې تاريخ يې تراول مقدم دى نوقابض اولى دى ځكه دقابض گواهان مع التاريخ دخارجى دبيّنه دفع لره معنًى متضمن دي .

(۳۱)كه قابض اوغيرقابض هريوه پرنتاج (يعنې هريوه دعوى وكړه چې مدعى به زماپه مِلك كې زماله مملوك شي څخه پيداشوى دى) گواهان قائم كړل نودقابض گواهان اولى دي يعنې قاضي به دقابض په حق كې فيصله كوي ځكه دقبض په وجه دقابض گواهي ته ترجيح وركوله كيږي نوفيصله دهغه په حق كې كيږي .

(۳۲)دنتاج پورتنى مذكورحكم په هره داسي كپړه كې هم دى چې يوځل جوړيږي لكه دوون وودل شوې كپړه .

(۳۳)همداحكم دهرداسي سبب مِلك هم دى چې نه مكرريږي مثلااوون وودل شيدې لوشل وغيره .

(۳۴)وَاِنْ اَقَامَ الْخَارِجُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمِلْكِ الْمُطْلَقِ وَصَاحِبُ الْيَدِ بَيِّنَةً عَلَى الشِّرَاءِ مِنْهُ كَانَ صَاحِبُ الْيَدِ أَوْلَى (۳۵) وَاِنْ اَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الشِّرَاءِ مِنَ الْآخَرِ وَلَاتَارِيْخَ مَعَهُمَا تَهَاتَرَتِ الْبَيِّنَتَانِ (۳۶) وَاِنْ اَقَامَ أَحَدُ الْمُدَّعِيَيْنِ شَاهِدَيْنِ وَالْآخَرُ أَرْبَعَةً فَهُمَا سَوَاءٌ

ترجمه :که غیر قابض پر مِلک مطلق گواهان قائم کړل او قابض له هغه څخه پر خرید گواهان قائم کړل نو قابض اولی دی او که هریوه له بل څخه پر خرید گواهان قائم کړل او تاریخ له دواړو سره نشته نو د دواړو گواهان ساقطیږي او که دو مدعیانو هریوه پر مدعی به دوه گواهان قائم کړل یو بل دریم کس څلور گواهان قائم کړل نو دادواړه برابر دي .

تشریح :(۳۴) که غیر قابض مدعي پر مطلق مِلک (مِلک مطلق هغه دی چې پکې مدعی دمِلک دعوی وکړي مګر دملکیت کوم سبب ونه ښیې چې په کوم سبب زه دهغه مالک یم) باندي گواهان قائم کړل چې داشی زما مِلک دی او قابض گواهان قائم کړل چې داشی مادد غه مِلک مطلق له مدعي څخه اخیستی دی نو حکم به دقابض په حق کې کیږي ځکه قابض داثابته کړه چې زما ملکیت له مدعي څخه حاصل دی نو گواکي ده دمدعي دملکیت اقرار وکړ او بیایې له هغه څخه دشراء دعوی وکړه.

(۳۵) که له دواړو مدعیانو نه هریو له هغه بل څخه داخیستو دعوی وکړه او هریوه دخرید د تاریخ له بیانولو بغیر پر خپله دعوی باندي گواهان قائم کړل نو د دواړو گواهان ساقطیږي او مدعی به هم هغسي دقابض په لاس کې پریښودل کیږي.

(۳۶) که له دواړو مدعیانو څخه یوه پر مدعی به باندي دوه گواهان قائم کړل او بل څلور گواهان پیش کړل نو دادواړه برابر دي ځکه دهریوه لپاره دثبوت دمدعی لپاره علت تامه شته او ترجیح قوة علت لره ده کثرت علل لره نه ده .

ددعواؤ د دفع کولو بیان

(۳۷) وَمَنْ ادَّعیٰ قِصَاصًا عَلٰی غَیْرِهٖ فَجَحَدَ اُسْتُحْلِفَ (۳۸) فَاِنْ نَکَلَ عَنِ الْیَمِیْنِ فِیْمَا دُوْنَ النَّفْسِ لَزِمَهُ الْقِصَاصُ (۳۹) وَاِنْ نَکَلَ فِی النَّفْسِ حُبِسَ حَتّٰی یُقِرَّ اَوْ یَحْلِفَ وَقَالَ اَبُوْ یُوْسُفَ رحمه الله وَمُحَمَّدٌ رحمه الله یَلْزَمُهُ الْاَرْشُ فِیْهِمَا

ترجمه :که چا په بل چا د قصاص دعوی وکړه هغه انکار وکړ نو له مدعی علیه څخه قسم اخیستل کیږي که یې ترقتل نفس په کم جنایت کې له یمین څخه انکار وکړ نو پر هغه قصاص لازم دی او که یې په قتل نفس کې انکار وکړ نو دی بندي کیږي ترهغه چې یا اقرار وکړي یا قسم وخوري او صاحبینو رحمهما الله فرمایلي دي چې په دواړو صورتو کې پر هغه تاوان لازمیږي .

تشريح :(۳۷)که چاپه بل چاد قصاص دعوی وکړه مدعی علیه انکاروکړپه داسي حال کې چې له مدعي سره گواهان نشته له مدعي علیه څخه دقسم اخیستلو مطالبه کوي نوپه اتفاق له مدعی علیه څخه قسم اخیستل کیږي ځکه مدعی علیه منکردی اوقسم پرمنکردی.

(۳۸)بیاکه مدعی علیه له قسم اخیستلوڅخه انکاروکړنووبه کتل شي چې دعوی دنفس ده (یعني قتل نفس) اوکه ترهغه کم جنایت دی که دجنایت دعوی وه نودانکارپه وجه پرهغه قصاص لازم دی.

(۳۹)اوکه دعوی اوله (یعني دقتل نفس) وه نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدمدعی علیه بندي کیږي ترهغه چې یاقسم وخوري یادجنایت اقرار وکړي ،دصاحبینو رحمهماالله په نزدپه دواړوصورتوکې پرهغه تاوان لازمیږي ځکه انکارله قسمه داسي اقراردی چې شبهه پکې شته لهذاپه دې سره قصاص نه ثابتیږي نوتاوان واجبیږي.

دامام ابوحنیفة رحمه الله دلیل دادی چې اطراف ملحق بالاموال دي اوپه اموالوکې اباحت جاري کیږي نوپه اطرافوکې هم جاري کیږي اوانکارله قسمه اباحت دی،خلاف له نفسه چې دهغه معامله باریکه ده چې هیڅکله هم اباحت نه پکې جاري کیږي لهذاددعوی نفس په صورت کې له قسم نه دانکارپه وجه دقصاص حکم نه کیږي،دامام ابوحنیفة رحمه الله قول راجح دی.

(۴۰)وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعِي لِي بَيِّنَةٌ حَاضِرَةٌ قِيلَ لِخَصْمِهِ أَعْطِهِ كَفِيلًا بِنَفْسِكَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَإِنْ فَعَلَ (۴۱)وَإِلَّا أَمَرَ بِمُلَازَمَتِهِ (۴۲)إِلَّا أَنْ يَكُونَ غَرِيبًا عَلَى الطَّرِيقِ فَيُلَازِمُهُ مِقْدَارَ مَجْلِسِ الْقَاضِي.

ترجمه :که مدعي وویل چې زماګواهانه په ښارکې موجوددي نودده مدعی علیه ته ویل کیږي چې ته ددریوورځولپاره ده ته دخپل نفس ضامن ورکړه نوکه مدعی علیه ضامن ورکړخوښه ده که نه مدعي ته حکم ورکول کیږي چې مدعي علیه تعقیبوه مګرداکه مدعی علیه یولاروی مسافروي نوبیامدعي دقاضي ترمجلس پورې هغه تعقیبولای شي.

تشريح :(۴۰)که مدعي وویل چې زماګواهان په ښارکې موجوددي نودده له مدعی علیه څخه قسم نه اخیستل کیږي بلکې هغه ته ویل کیږي چې ته ددریوورځولپاره دخپل نفس ضامن ده ته ورکړه چې په دې کې دی خپل ګواهان پیش کړي،داددي لپاره چې مدعی علیه غائب نه شي چې په دې سره دمدعی حق ضائع کیږي..

(۴۱)بیاکه مدعی علیه ضامن ورکړنوښه خبره ده که نه مدعي ته حکم ورکول کیږي چې مدعی علیه تعقیبوه (په پسې شه) ددي لپاره چې دمدعي حق ضائع نه شي.

(۴۲)البته که مدعی علیه یولاروی مسافروي نو هغه که ضامن ورکوي نو ترهغه وخته پورې چې قاضي په محکمه کې وي او که ضامن نه ورکوي نو مدعي به دی ترهغه وخته تعقیبوي ځکه تردي دزیات وخت لپاره په ضامن اخیستلو یا تعقیب کې دمسافرلپاره ضرر دی چې مسافرله سفر څخه راګرځوي.

(۴۳)وَإِذَا قَالَ الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ هٰذَا الشَّيْءُ أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ الْغَائِبُ أَوْ رَهَنَهُ عِنْدِي أَوْ غَصَبْتُهُ مِنْهُ وَأَقَامَ بَيِّنَةً عَلٰى ذٰلِكَ فَلَا خُصُومَةَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُدَّعِي (۴۴)وَإِنْ قَالَ ابْتَعْتُهُ مِنْ فُلَانٍ الْغَائِبِ فَهُوَ خَصْمٌ

ترجمه :که مدعی علیه وویل چې داشی له ماسره فلان سړي ودیعت ساتلی دی یایې له ماسره رهن ایښی دی یاماداشی له فلان غائب څخه غصب کړی دی اوپرخپل دې قول یې ګواهان قائم کړل نوددغه قابض شخص اومدعي ترمنځ خصومت نشته او که مدعی علیه وویل چې داشی ماله فلان غائب څخه اخیستی دی نو بیامدعي خصم جوړیږي.

تشریح :(۴۳)که مدعی پرقابض باندي دیوشی دعوی وکړه اومدعی علیه په جواب کې ورته وویل چې داشی(مدعی به) له ماسره دفلان غائب سړي امانت پروت دی،یافلان غائب ماته په رهن ایښی دی یاداشی ماله فلان غائب څخه غصب کړی دی اومدعی علیه پرخپل دي قول باندي ګواهان هم قائم کړل نو دمدعي اوهغه قابض ترمنځ به هیڅ خصومت نه وي ځکه مدعی علیه په بیّنه سره ثابته کړه چې زماقبضه دخصومت قبض نه دی ځکه چې خصم مالک وي زه مالک نه یم.

(۴۴)اوکه مدعی علیه وویل چې داشی ماله فلان غائب څخه اخیستی دی نو مدعي خصم جوړیدلای شي ځکه چې کله هغه دملک دعوی وکړه نودا دخصم کیدواقراردی.

(۴۵)وَإِنْ قَالَ الْمُدَّعِي سُرِقَ مِنِّي وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ وَقَالَ صَاحِبُ الْيَدِ أَوْدَعَنِيهِ فُلَانٌ وَأَقَامَ الْبَيِّنَةَ لَمْ تَنْدَفِعِ الْخُصُومَةُ

ترجمه : اوکه مدعي وویل چې داشی له ما څخه غلاشوی دی اوپرخپله دي دعوی یې ګواهان قائم کړل اومدعي علیه وویل چې داخوماته فلان سړي امانت ایښی دی اوهغه هم پرخپله دغه دعوی باندي ګواهان قائم کړل نوله هغه څخه خصومت نه دفع کیږي.

تشریح :(۴۵) اوکه مدعي وویل چې داشی له ماڅخه غلاشوی دی اوپرخپله دي دعوی یې ګواهان قائم کړل اومدعي علیه وویل چې داخوماته فلان سړي امانت ایښی دی اوهغه هم پرخپله دغه دعوی باندي ګواهان قائم کړل نوله هغه څخه خصومت نه دفع کیږي ،دادشیخینو رحمهماالله قول دی دلیل یې دادی چې دغلافعل غواړي چې یوغلاکوونکی وي اوظاهره ده چې غلاکوونکی هغه څوک دی چې په لاس کې یې داشی موجودوي لیکن مدعی دشفقت له مخي له هغه څخه دحد دفع لپاره هغه په ګوته نه کړ.

(۴۶) وإذا قال المدعي ابتعته من فلان وقال صاحب اليد أو دعنيه فلان ذلك سقطت الخصومة بغير بينة

ترجمه : که مدعی وویل چې ماداشی له فلان څخه اخیستی دی اوقابض وویل چې داشی هغه ماته امانت ایښی دی نوبغیردګواهي له مدعی علیه څخه خصومت ساقطیږي .

تشریح :(۴۶) که مدعی وویل چې ماداشی له فلان څخه اخیستی دی او قابض وویل چې داشی هغه ماته امانت ایښی دی نوبغیردګواهي له مدعی علیه څخه خصومت ساقطیږي ځکه چې کله دواړه پردي باندي اتفاق شول چې په دغه شي کې اصل مِلک دمدعی علیه څخه ماسوادبل چادی نودمدعی علیه قبض دخصومت قبض نه دی ځکه مدعی علیه مالک نه دی .

قسم اودقسم دطریقې بیان

(۴۷) وَالْيَمِينُ بِاللهِ تَعَالَى دُونَ غَيْرِهِ وَيُؤَكَّدُ بِذِكْرِ أَوْصَافِهِ (۴۸) وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِالطَّلَاقِ وَلَا بِالْإِعْتَاقِ

ترجمه :اوقسم دالله تعالی په نامه کیږي نه دالله په غیرسره اومؤکدکیږی دالله تعالی داوصافوپه ذکرکولوسره اوقسم نه اخیستل کیږي په طلاق اونه په عتاق سره .

تشریح :(۴۷) منکرته که یې قسم ورکاوه نودالله تعالی په نامه دي ورکوي ځکه قسم خالص دالله تعالی په نامه سره کیږي دغیرپه نامه نه کیږي لقوله ﷺ :مَن كَانَ مِنْكُمْ حَالِفًا فَالْيَحْلِف بِاللهِ أَوْلِيَذَر (یعنې څوک چې له تاسونه قسم اخیستونکی وي هغه ته پکاردی چې په الله تعالی سره قسم واخلي یادي پریږدی) کله دالله تعالی له اسم ذاتی سره اسماء صفاتی هم ذکرکیږي چې قسم ښه مؤکدشي داصحیح دی مثلاداسي ووایې :والله الذی لااله الاهوعالم الغیب والشهادة الذی یعلم من السّرویعلم من العلانیة،اوپه دي کې کمی اوزیاتوب هم کولای شي .

(۴۸) له مدعی علیه څخه په طلاق یاعتاق قسم نه اخیستل کیږي مثلاپه دي دو ل چې ووایې که به داشی دمدعي وي نوزمابښځه دې طلاقه وي یادي زمامریی آزادوي لمارَوینا،ظاهرروایت دادی، مګردځینو نفهاؤپه نزدپه اوسنی زمانه کې جائزدی ،مګرصحیح ظاهرروایت دی .

(۴۹) وَيُسْتَحْلَفُ الْيَهُودِيُّ بِاللهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ وَالنَّصْرَانِيُّ بِاللهِ الَّذِي أَنْزَلَ الْإِنْجِيلَ عَلَى عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ وَالْمَجُوسِيُّ بِاللهِ الَّذِي خَلَقَ النَّارَ (۵۰) وَلَا يُسْتَحْلَفُونَ فِي بُيُوتِ عِبَادَاتِهِمْ (۵۱) وَلَا يَجِبُ تَغْلِيظُ الْيَمِينِ عَلَى الْمُسْلِمِ بِزَمَانٍ وَلَا بِمَكَانٍ

ترجمه : او قسم دي اخلي له يهودي شخخه په دي دول چې په هغه الله تعالى سره قسم چې نازل کړی دی تورات پر حضرت موسى عليه السلام باندي او له نصراني شخخه داډول چې په هغه الله قسم چې نازل کړی دی انجيل پر حضرت عيسى عليه السلام باندي او له مجوسي شخخه داډول چې په هغه الله قسم چې اوريې پيدا کړی دی او له هغوئ شخخه به د هغوئ په عبادت خانو کې قسم نه اخيستل کيږي او پر مسلمان قسم تينګول ضروري نه دي په زمان سره او نه په مکان سره .

تشريح : (۴۹) له يهودي شخخه که يې قسم اخيست نو داډول به يې تري اخلي چې په هغه الله سره قسم چې پر موسى عليه السلام يې تورات رانازل کړی دی، او له نصراني شخخه که يې قسم اخيست نو داډول به يې تري اخلي چې په هغه الله سره قسم چې پر حضرت عيسى عليه السلام يې انجيل رانازل کړی دی ، او له مجوسي که يې قسم اخيست نو داډول به يې تري اخلي چې په هغه الله سره قسم چې اوريې پيدا کړی دی ، داځکه چې پر هر يوه باندي د قسم تغليظ د هغه د اعتقاد مطابق کيږي.

(۵۰) مګر يهود او نصارى او مجوسيان به د هغو عبادت خانوته نه بيايې چې ياهلته قسم ورڅخه اخلي بلکې د قاضي په محکمه کې به قسم ورکول کيږي ځکه قاضي ته د هغوئ عبادت خانوته داخليدل مکروه دي.

(۵۱) پر مسلمان باندي په زمانه (مثلا د جمعې ورځ ياله مازديګر وروسته) يا مکان (مثلا مقام ابراهيم يا مکه مکرمه يا منبر نبوي ﷺ) سره د قسم تغليظ واجب نه دی ځکه په قسم سره د هغه معبود تعظيم مقصود دی د چاپه نامه چې قسم خوړل کيږي او دا تعظيم د وخت او مکان له ذکر کولو بغير حاصليږي.

(۵۲) وَمَنِ ادَّعَى أَنَّهُ ابْتَاعَ مِنْ هَذَا عَبْدَهُ بِأَلْفٍ فَجَحَدَهُ اسْتُحْلِفَ بِاللَّهِ مَا بَيْنَكُمَا بَيْعٌ قَائِمٌ (۵۳) وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللَّهِ مَا بِعْتُ.

ترجمه : او چا چې پر بل چا دعوى وکړه چې ما دده غلام د زرو روپو په عوض اخيستى دی او هغه انکار وکړ نو له منکر شخخه به قسم اخيستل کيږي چې والله زما او د هغه تر منځ بيع نه ده قائمه داسي قسم به نه اخيستل کيږي چې والله ما نه دی خرڅ کړی .

تشريح : (۵۲) که يو چا پر بل حاضر کس باندي دعوى وکړه چې والله ما دده غلام له ده شخخه د زرو درهمو په عوض اخيستى دی او مدعى عليه له دي شخخه انکار وکړ نو له منکر شخخه به په دي دول سره قسم اخيستل کيږي چې والله زما او ددي مدعى تر منځ د دي غلام عقد بيع قائم نه دی . (۵۳) داسي قسم به نه اخيستل کيږي چې والله ما دا غلام پر ده نه دی خرڅ کړی ولی کيداى شي چې خرڅ کړی دي وي بيا دي بيع فسخ کړي وي .

(۵۴) وَيُسْتَحْلَفُ فِي الْغَصْبِ بِاللهِ مَا يَسْتَحِقُّ عَلَيْكَ رَدَّهُ وَلَا رَدَّ قِيْمَتِهَا (۵۵) وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللهِ مَا غَصَبْتُ (۵۶) وَفِي النِّكَاحِ بِاللهِ مَا بَيْنَكُمَا نِكَاحٌ قَائِمٌ فِي الْحَالِ (۵۷) وَفِي دَعْوَى الطَّلَاقِ بِاللهِ مَا هِيَ بَائِنٌ مِنْكَ السَّاعَةَ بِمَا ذَكَرْتُ (۵۸) وَلَا يُسْتَحْلَفُ بِاللهِ مَا طَلَّقَهَا.

ترجمه: او په غصب کې به داډول قسم اخيستل کيږي چې والله مدعی پرماباندي ددي عين دواپسي استحقاق نه لري او نه ددي دقيمت دواپس کولو داډول قسم به نه اخيستل کيږي چې والله مانه دی غصب کړی او په نکاح کې به داډول قسم اخيستل کيږي چې زموږ دواړو ترمنځ اوس في الحال نکاح قائمه نه ده او دطلاق په دعوی کې به داډول قسم اخيستل کيږي چې والله دا ښځه له ماڅخه اوس بائنه نه ده په هغه وجه سره کومه چې دي بيان کړي دي داډول قسم به نه اخيستل کيږي چې والله مادي ته طلاق نه دی ورکړی.

تشريح: (۵۴) که مدعي په مدعی عليه باندي دغصب دعوی وکړه نوله مدعي عليه څخه دي داډول واخيستل شی چې والله مدعی پرماباندي دمدعی به دواپس کيدو استحقاق نه لري. (۵۵) داډول به نه وايې چې والله مانه ذی غصب کړی، ځکه چې امکان لري چې ده دي غصب کړی وي بيادي ضمان اداکړی وي دی يې مالک ګرځيدلی وي. (۵۶) همداشان په نکاح کې به داډول قسم اخيستل کيږي چې والله زموږترمنځ في الحال نکاح نه ده قائمه، (۵۷) داسي به نه وايې چې والله ماله دې سره نکاح نه ده کړې ځکه چې داکيدای شي چې نکاح دي کړي وي بيادي په طلاق بائن سره نکاح ختم کړي وي.

(۵۷) همدارنګه که چيرته ښځې په خاوند دطلاق دعوی وکړه او هغه منکرشونوله خاوندڅخه به داډول قسم اخيستل کيږی چې والله دغه ښځه له ماڅخه بائنه نه ده په هغه وجه سره چې دې بيان کړې ده، داډول به قسم نه اخلي چې والله مادي ته طلاق نه دی ورکړی ځکه کيدای شي چې طلاق دي ورکړی وي بيادي له بينونت وروسته بيرته تجديد نکاح کړی وي.

(۵۹) وَإِذَا كَانَتْ دَارٌ فِي يَدِ رَجُلٍ إِدَّعَاهَا اثْنَانِ أَحَدُهُمَا جَمِيْعَهَا وَالْآخَرُ نِصْفَهَا وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ فَلِصَاحِبِ الْجَمِيْعِ ثَلَاثَةُ أَرْبَاعِهَا وَلِصَاحِبِ النِّصْفِ رُبُعُهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا هِيَ بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا وَلَوْ كَانَتِ الدَّارُ فِي أَيْدِيْهِمَا سُلِّمَتْ لِصَاحِبِ الْجَمِيْعِ نِصْفُهَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ وَنِصْفُهَا لَا عَلَى وَجْهِ الْقَضَاءِ.

ترجمه: او که يو مکان ديو چا په قبضه کې وو بيادوو مدعيانو پر هغه باندي دعوه وکړه يوه دکل مکان دعوه وکړه او بل دنصف مکان او هريوه پرخپله مدعی باندي ګواه قائم کړل نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد به دکل مدعی ته دري څلورمي او مدعی نصف ته به يوه څلوره رسيږي اوصاحبين فرمايي چې دامکان به دهغوترمنځ اثلاثاتقسيميږي او که مکان دپه خپله دمدعيانو په لاس کې وي نومدعی کل ته به نصف دقضاء په طريقه سره وي اونصف به بلاقضاء وي.

تشريح:(۵۹)که يوسراى دچاپه قبضه کې وونيياپه هغه باندي دوومدعيانودعوى وکړه يوه دنصف مکان دعوى وکړه اوبل دټول مکان دعوى وکړه اوهريوه پرخپله مدعى باندي ګواهان قائم کړل نودامام ابوحنيفة رحمه الله په نزددنصف مُدعي ته يوه څلورمه اودټول مکان مدعي ته دري برخي ورکولې کيږي ځکه مدعي دنصف دبل نصف مدعي نه دى نودانصف دکل مدعي ته بلامنازعه ورحواله شواوپه هغه بل نصف کې ددواړومساوي جګړه ده نوهغه ددوئ ترمنځ برابرتقسيميږي مدعي دنصف ته يوه څلورمه برخه اومدعي دکل ته دري برخې ورکولي کيږي،صاحبين رحمهما الله فرمايې چې داسراى دي اثلاثاتقسيم شي يعنې دوه ثلث مدعي کل ته اويوثلث دي مدعي نصف ته ورکول شي ځکه مدعي دکل ددوونصفو (يعنې دکل) مدعي دى اومدعي دنصف ديوه نصف مدعي دى نواثلاثادي تقسيم کړاى شي . دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى.

که په مذکورصورت کې مکان خپله دمدعيانوپه لاس کې وونوکل سراى به مدعي دکل ته ورکول کيږي ځکه هغه نصف چې دمدعي نصف په قبضه کې دى پرهغه باندي مدعي دکل قابض نه دى اوګواهان دغيرقابض معتبردي نودهغه نصف دمدعي کل په حق کې کيږي اوباقى نصف خودمدعي کل په قبضه کې دى څرنګه چې پرهغه باندېدي دمدعي کل دعوى نشته ځکه نوهغه هم دمدعي کل کيږي.

(۶۰)وَإِذَاتَنَازَعَافِي دَابَّةٍ وَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍمِنْهُمَابَيِّنَةً أَنَّهَانُتِجَتْ عِنْدَهُ وَذَكَرَاتَارِيْخًاوَسِنُّ الدَّابَّةِ يُوَافِقُ أَحَدَالتَّارِيْخَيْنِ فَهُوَأَوْلٰى (۶۱)وَإِنْ أَشْكَلَ ذَالِكَ كَانَتْ بَيْنَهُمَا۔

ترجمه:که دوومدعيانوپه يوه حيوان کې تنازع راغله اوهريوه ګواه قائم کړل چې داحيوان زماسره پيداشوى دى اودواړودپيدائش تاريخ هم بيان کړاودحيوان عمرله دي دووتاريخونو څخه له يوه سره موافق وي نوهغه اولى دى اوکه دامشتبه شي نوحيوان به ددواړو ترمنځ مشترک، وي .

تشريح:(۶۰)که دووکسانوپه يوه حيوان کې (که هغه ددواړوپه قبضه کې وي يادبوه په قبضه کې وي ياددريم چاپه قبضه کې وي) تنازع راغله اوهريوه ګواهان قائم کړل چې داحيوان له ماسره زمادمملوک حيوان څخه پيداشوى دى اودواړودپيدائش مختلف تاريخونه هم بيان کړل اودحيوان عمرپه دي دووتاريخونوکې ديوه سره موافق دى نودحيوان عمرچې دچاد تاريخ سره موافق دى هغه اولى دى ځکه ظاهرحال دهغه دګواهانوپرصدق باندي دلالت کوي .

(۶۱)که دحيوان دعمرموافقت له يوه تاريخ سره معلوم نه وو بلکې مشتبه وونوکه دواړه قابض وويادريم سړى قابض وونوحيوان ددوئ ترمنځ مشترک کيږي اوکه يوقابض وونودهغه په حق کې فيصله کيږي ځکه داداسي شوګواکي دواړوتاريخ نه دى بيان کړى .

(۶۲)وَإِذَاتَنَازَعَافِي دَابَّةٍ أَحَدُهُمَارَاكِبُهَاوَالْآخَرُمُتَعَلِّقٌ بِلِجَامِهَافَالرَّاكِبُ أَوْلٰى (۶۳)وَكَذَالِكَ إِذَاتَنَازَعَافِي بَعِيْرٍوَعَلَيْهِ حِمْلٌ لِأَحَدِهِمَافَصَاحِبُ الْحِمْلِ أَوْلٰى (۶۴)وَكَذَالِكَ إِذَاتَنَازَعَافِي قَمِيْصٍ أَحَدُهُمَالَابِسُهٗ وَالْآخَرُمُتَعَلِّقٌ بِكُمِّهٖ فَاللَّابِسُ أَوْلٰى۔

ترجمه: او که دوو مدعیانو په یوه حیوان کې تنازع راغله یو پر هغه سپور دی او بل یې قیضه نیولي ده نو سپور اولی دی او همداشان که دوو مدعیانو په یو داسي اوښ کې تنازع راغله پر کوم چې دیوه مدعی سامان بار وي نو د سامان والا اولی دی همدارنګه که دوو اړو په یوه قمیص کې تنازع راغله یوه هغه اغوستی وو او بل د هغه لستوڼی نیولی وو نو اغوستونکی اولی دی.

تشریح: (۶۲) که دوو کسانو په یوه حیوان کې سره دعوی شوه اوله دواړو څخه یو پر هغه باندي سپور وو او هغه بل یې قیضه نیولې وه نو هغه چې پرې سپور دی هغه اولی دی یعني قاضي به دسواره په حق کې فیصله کوي ځکه د هغه تصرف زیات دی.

(۶۳) همدارنګه که دوو کسانو په یوه اوښ کې دعوی سره وکړه چې پر هغه باندي دیوه مدعي باربار شوی دی او هغه بل اوښ ترمهار نیولی دی نو مهار نیوونکی د بار تر خاوند اولی دی ځکه د بار خاوند متصرف دی. (۶۴) که دوو کسانو په یوه قمیص کې سره دعوی شوه او له دوئ څخه یوه قمیص اغوستی وو او هغه بل یې لستوڼی نیولی دی نو اغوستونکی اولی دی ځکه له دواړو څخه د اغوستونکي تصرف زیات دی.

(۲۵) وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَبَايِعَانِ فِي الْبَيْعِ فَادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا وَادَّعَى الْبَائِعُ أَكْثَرَ مِنْهُ (۲۶) أَوْ اعْتَرَفَ الْبَائِعُ بِقَدْرٍ مِنَ الْمَبِيعِ وَادَّعَى الْمُشْتَرِي أَكْثَرَ مِنْهُ وَأَقَامَ أَحَدُهُمَا الْبَيِّنَةَ قُضِيَ لَهُ بِهَا (۲۷) فَإِنْ أَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ كَانَتِ الْبَيِّنَةُ الْمُثْبِتَةُ لِلزِّيَادَةِ أَوْلَى (۲۸) فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ قِيلَ لِلْمُشْتَرِي إِمَّا أَنْ تَرْضَى بِالثَّمَنِ الَّذِي ادَّعَاهُ الْبَائِعُ وَإِلَّا فَسَخْنَا (۲۹) وَقِيلَ لِلْبَائِعِ إِمَّا أَنْ تُسَلِّمَ مَا ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي مِنَ الْمَبِيعِ وَإِلَّا فَسَخْنَا الْبَيْعَ (۷۰) فَإِنْ لَمْ يَتَرَاضَيَا اسْتَحْلَفَ الْحَاكِمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى دَعْوَى الْآخَرِ وَيَبْتَدِئُ بِيَمِينِ الْمُشْتَرِي (۷۱) فَإِذَا حَلَفَا فَسَخَ الْقَاضِي الْبَيْعَ بَيْنَهُمَا (۷۲) فَإِنْ نَكَلَ أَحَدُهُمَا عَنِ الْيَمِينِ لَزِمَهُ دَعْوَى الْآخَرِ.

ترجمه: او که د بائع او مشتري په بیع کې اختلاف شو مشتري د ثمنو دعوی وکړه او بائع تر هغه د زیاتو دعوه وکړه یا بائع د مبیع دیوه مقدار اقرار وکړ او مشتري تر هغه د زیات دعوی وکړه او له دواړو څخه یوه ګواه قائم کړل نو د فیصله به د هغه په حق کې کیږي او که دواړو ګواه قائم کړل نو د زیادت ثابتونکي بینه به معتبر یږي او که له یوه سره هم ګواه نه وو نو مشتري ته به وویل شي چې یا خو ته پر هغه ثمن راضی شه د کوم چې بائع دعوی کړي ده که نه نو موږ بیع فسخ کوو او بائع ته به وویل شي چې یا خو ته د و مره مقدار مبیع مشتري ته حواله کړه د څو مره چې مشتري دعوه کړي ده که نه نو موږ بیع فسخ کوو او که هغوئ دواړه راضي نه وي نو حاکم به له هغو دواړو څخه له هر یوه د هغه بل پر دعوی باندي قسم واخلي او د مشتري له قسم څخه به پیل وکړي نو که دواړو قسم واخیست نو قاضي به د هغوئ په منځ کې بیع فسخ کړي او که کوم یوه له قسم اخیستلو څخه انکار وکړ نو پر هغه د هغه بل دعوی لازمیږي.

تشريح:(۶۵)که دبائع اومشتري ترمنځ اختلاف راغی مثلامشتري دکم قيمت دعوی کوي اوبائع دزيات قيمت دعوی وکړي .(۶۶)يابائع دمبيع په کم مقدار اقرار وکړي اومشتري ترهغه دزيات دعوی وکړي بيا له دواړوڅخه يوپرخپله مدعی باندي ګواهان قائم کړي نوفيصله دهغه په حق کې کيږي ځکه دهغه دعوی له بيّنه سره ده اودهغه بل دعوی صرف دعوی ده نودصاحب بيّنه جانب اقوی دی.

(۶۷)که دواړوپرخپلومدعی ووباندي ګواهان قائم کړل نودزيادت ثابتوونکي ګواهان معتبريږي نوپه اول صورت کې دبائع ګواهان معتبردي اوپه دوهم صورت کې دمشتري ګواهان معتبردي.(۶۸) که دواړه دګواهانوڅخه عاجزشول يعني له يوه سره هم ګواهان نه وونومشتري ته دي وويل شي چې ياخوته په دغوثمنوراضي شه چې بائع کومه دعوی لري که نه موږستاسي ترمنځ بيع فسخ کوو،دادااول صورت حکم دی.

(۶۹)په دوهم صورت کې دي بائع ته وويل شي چې يادومره مقدارمبيع مشتري ته حواله کړه څومره چې مشتري دعوی کړي ده که نه موږبيع فسخ کوو،ځکه مقصودقطع تنازع ده اودادقطع تنازع جهت دی ځکه کله دواړه دبيع پرفسخ کيدوباندي نه راضی کيږي چې کله پوه شي نودواړه راضي کيږي.

(۷۰)اوکه دواړه راضي نه وونوحاکم دي له هريوه څخه دهغه بل پردعوی باندي قسم واخلي ځکه له بائع اومشتري څخه هريومدعي هم دی اومدعی عليه هم دی، بيادي قاضی دمشتري په قسم شروع وکړي ځکه په دوئ کې دمشتري انکارډيرسخت دی ولی مطالبه دثمن مخکي دمشتري څخه کيږي. (۷۱)بياکه دواړوقسم واخيست نوقاضي دي ددوئ ترمنځ بيع فسخ کړي ځکه چې کله دواړوقسم واخيست نوبيع بلابدل معين پاتی شوه نوفاسده شوه.

(۷۱)که له دواړوڅخه يوه له قسم څخه انکاروکړنوپرهغه باندي دهغه بل دعوی لازميږي ځکه له قسم څخه انکاروونکي قرباني وکړه خپله دعوه يې پريښودله نودهغه بل دعوی بغيرمزاحم پاتی شوه نوځکه دهغه دعوی ثابته شوه .

(۷۳)وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الأَجَلِ أَوْ فِي شَرْطِ الْخِيَارِ أَوْ فِي اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الثَّمَنِ فَلَا تَحَالُفَ بَيْنَهُمَا وَالْقَوْلُ قَوْلُ مَنْ يُنْكِرُ الْخِيَارَ وَالأَجَلَ مَعَ يَمِينِهِ.

ترجمه: اوکه دبائع اومشتری په ميعادکې اختلاف شويايې په خيارشرط کې اختلاف شويايې دبعض ثمن په وصولي کې اختلاف شونوددوئ په منځ کې تحالف نشته اوقول به دهغه معتبروي څوک چې دخيارشرط اوميعادڅخه انکارکوي دهغه په قسم سره .

تشريح:(۷۳) که بائع اومشتري په موده کې اختلاف سره وکړ(يعني په دي کې يې اختلاف وکړچې داداء ثمن موده مقرره وه که نه،يايې دمودې په مقدارکې اختلاف وکړ) يايې په خيارشرط کې اختلاف وکړيوايې چې مالره خيارشرط ووااوهغه بل انکارکوي،يايې دبعض ثمن په وصولولوکې اختلاف

وکړنو دواړو ترمنځ تحالف نشته یعني دواړه قسم نه شي اخیستلای ځکه دا اختلاف له مبیع او ثمن ماسوا په بل شي کې دی نو داسي دی لکه دثمن په کمولو یا معاف کیدو کې چې اختلاف وي چې په هغه صورت کې په اتفاق سره تحالف نشته او چې کله دواړه قسم نه اخلي نو کوم یو چې دخیار شرط یا مودې څخه منکر دی دهغه قول له قسم سره قبلیږي ولی دادواړه شیان دشرط په وجه عارضیږي او قول دهغه چا معتبریږي چې له عوارضو څخه منکروي.

(۷۴) وَاِنْ هَلَكَ الْمَبِيْعُ ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَاَبِيْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِيْ فِي الثَّمَنِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يَتَحَالَفَانِ وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ عَلٰى قِيْمَةِ الْهَالِكِ.

ترجمه: او که مبیع هلاک شوه بیا دواړه دثمن په مقدار کې اختلاف وکړنو دشیخینو په نزد به دواړه قسم نه اخلي او په ثمنو کې دمشتري قول معتبر دی او امام محمد رحمه الله فرمایي چې دواړه به قسم اخلي او بیع به دهلاک شوي په قیمت سره فسخ کړای شي.

تشریح: (۷۴) یعني که دمبیع دتلف کیدو وروسته ددواړو په مقدار ثمن کې اختلاف راغی نو دشیخینو رحمهما الله په نزد دواړه به یو دبل سره قسم نه اخلي، او په ثمن کې دمشتري قول معتبریږي، دامام محمد رحمه الله په نزد به دواړه قسم اخلي او ددواړو په قسم اخیستو سره بیع فسخ کیږي او دتلف شوې مبیع قیمت به ورکول کیږي، دشیخینو رحمهما الله دلیل دادی چې دمشتري دقبض وروسته تحالف خلاف قیاس دی ځکه بائع ومشتري ته هغه مال سپارلی دی چې ده یې دعوه کوله خوځرنګه چې په شرع کې داتحالف راغلی دی نو چې چیرته راغلی دی ترهغه ځایه مقصور دی هغه داچې مال مبیع بعینه قائم وي او په داسي حال کې دتحالف نتیجه دا راوځي چې دبیع دفسخ کیدو وروسته داموقع نشته ځکه مبیع تلف کیږي عقدِ بیع پورته کیږي یعني محل نه پاتیږي نو دا هغه موقع نه ده چیرته چې شرع وارده شوې ده. دشیخینو رحمهما الله قول راجح دی.

(۷۵) وَاِنْ هَلَكَ اَحَدُ الْعَبْدَيْنِ ثُمَّ اخْتَلَفَا فِي الثَّمَنِ لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اِلَّا اَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ اَنْ يَتْرُكَ حِصَّةَ الْهَالِكِ وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَتَحَالَفَانِ وَيَنْفَسِخُ الْبَيْعُ فِي الْحَيِّ وَقِيْمَةِ الْهَالِكِ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ.

ترجمه: او که له دوو غلامانو څخه یو هلاک شو بیا دبائع او مشتري په ثمنو کې اختلاف شو نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به دواړه قسم نه اخلي مګر دا چې بائع راضي شي چې دتلف شوي غلام حصه پریږدي او امام ابو یوسف رحمه الله فرمایي چې دواړه به قسم اخلي او بیع به فسخ شي په ژوندي غلام کې او دهلاک شوي په قیمت کې او همدا دامام محمد رحمه الله قول دی.

تشریح: (۷۵) که مبیع دوه غلامان وو او له دواړو څخه یو هلاک شو بیا دبائع او مشتري په ثمنو کې اختلاف شو نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به قسم نه اخلي مګر په هغه صورت کې چې بائع پردې خبره باندې راضي

شي چې دتلف شوی غلام حصه پرېږدي ځکه په دي وخت کې ټول ثمن دقائم په مقابله کې ګرځي اوهلاک شوی له عقد څخه وځي لهذااوس به دواړه قسم اخلي .

امام ابویوسف رحمه الله فرمايي چې دژوندي غلام په باره کې به دواړه قسم اخلي اوپه ژوندي غلام اودتلف شوی غلام په قیمت کې به بیع فسخ وګرځول شي یعنی ژوندی غلام به بیرته خرڅونکی ته واپس کړای شي اودتلف شوي قیمت به دخریداردوینا مطابق ورکړای شي همدادامام محمد رحمه الله قول هم دی .

دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دادی چې دتحالف ممتنع کیدل له همدي وجي دی چې مبیع تلف شوی دی نوڅومره چې تلف شوی دی په هغومره اندازه کې به تحالف ممتنع وي .دامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دادی چې وروسته له قبضي تحالف قیاس بدلیل نص په داسي حالت کې ثابت دی چې کله مبیع بعینه قائم وي اومبیع دخپلوپوره اجزاوونوم دی نودبعض اجزاؤدتلف کیدلووروسته مبیع باقي نه پاتي کیږي .دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی.

(۷۶)وَاِذَااخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي الْمَهْرِ فَادَّعَى الزَّوْجُ اَنَّهُ تَزَوَّجَهَابِاَلْفٍ وَقَالَتْ تَزَوَّجْتَنِيْ بِاَلْفَيْنِ فَاَيُّهُمَااَقَامَ الْبَيِّنَةَ قُبِلَتْ بَيِّنَتُهُ (۷۷)وَاِنْ اَقَامَافَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمَرْاَةِ (۷۸)وَاِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُمَابَيِّنَةٌ تَحَالَفَاعِنْدَاَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَلَمْ يُفْسَخِ النِّكَاحُ وَلٰكِنْ يُحَكَّمُ بِمَهْرِ الْمِثْلِ (۷۹)فَاِنْ كَانَ مِثْلَ مَااعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ اَوْاَقَلَّ قُضِيَ بِمَاقَالَ الزَّوْجُ (۸۰)وَاِنْ كَانَ مِثْلَ مَاادَّعَتْهُ الْمَرْاَةُ اَوْاَكْثَرَ قُضِيَ بِمَاادَّعَتْهُ الْمَرْاَةُ (۸۱)وَاِنْ كَانَ مَهْرُ الْمِثْلِ اَكْثَرَ مِمَّااعْتَرَفَ بِهِ الزَّوْجُ وَاَقَلَّ مِمَّاادَّعَتْهُ الْمَرْاَةُ قُضِيَ لَهَابِمَهْرِ الْمِثْلِ۔

ترجمه:اوکه زوجینوپه مهرکې اختلاف شوخاونددعوه وکړه چې ماله دي ښځې سره په زردرهمه باندي نکاح کړي وه اوښځې وویل چې پردوه زره تاله ماسره نکاح کړي وه نوله دواړوڅخه چې کوم یوه ګواه قائم کړل نودهغه ګواه به منل کیږي اوکه دواړوګواه قائم کړل نودښځې ګواه به قبلیږي اوکه دهغوئ ګواه نه وُنودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدبه دواړه قسم اخلي اونکاح به نه فسخ کیږي دمهرمثل حکم به کیږي که مهرمثل دومره اندازه وودڅومره چې خاونداقرارکړی دی یاله هغه څخه کم نودڅومره مهرچې خاونداقرارکړی دی دهغه حکم به ورکړل شي اوکه ددي ښځې مهرمثل دومره اندازه ووڅومره چې ښځې دعوه کړي ده یاله هغه څخه زیات نودڅومره چې ښځې دعوه کړي ده دهغومره حکم به کیږي اوکه مهرمثل زیات وي له هغه مقدارڅخه دڅومره چې خاونداقرارکړی دی اوکم وي له هغه څخه دڅومره چې ښځې دعوه کړي ده نوښځې ته به دمهرمثل حکم کیږي .

تشریح:(۷۶) که دخاونداوښځې په مهرکې اختلاف سره راغی خاونددعوی وکړه چې ماله دغي ښځې سره په زردرهمه نکاح کړې ده اوښځې دعوی وکړه چې په دوه زره درهمه تازه په نکاح کړې یم نوله دوئ څخه چې

کوم یو دخپلې دعوی مطابق گواهان قائم کړي وي دهغه گواهان قبلیږی ځکه هغه خپله مدعی مدلّله کړه .(۷۷) اوکه زوجینو هریوه پرخپله دعوی باندي گواهان قائم کړل نودښځې گواهان قبلیږي ځکه ښځه دزیات مقداردعوی کوي نودښځې په گواهانوسره زیادت ثابتیږي نوځکه ددې گواهان معتبریږي.
(۷۸)که له زوجینو څخه هریودگواهانوڅخه عاجزشول نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدله دواړوڅخه قسم اخیستل کیږي اونکاح نه فسخ کیږي ځکه دتحالف اثریواځی دومره دی چې ددواړودعوی باطله شوه اومهرنه دی بیان شوی چې دهغه څخه دنکاح په صحیح کیدوکې هیڅ خلل نه واقع کیږي ځکه چې مهرپه نکاح کې تابع وي،خوچې کله مهرنه دی بیان شوی نودهغې ښځې لپاره په مهرمثل سره حکم کیږي .(۷۹)نوکه مهرمثل دومره ووپه کوم سره چې خاونداقرارکړی دی یاترهغه کم وونوپه څومره چې خاونداقرارکړی دی په هغه باندي حکم کیږی ولی ظاهرحال دخاوندشاهددی.(۸۰) اوکه مهرمثل دومره ووڅومره چې ښځې دعوی کړې ده یاترهغه زیات وونوپه څومره چې ښځې دعوی کړې ده په هغه قدرحکم کیږي ولی ظاهردښځې لپاره شاهددی.(۸۱) اوکه مهرمثل درمیانه اندازه وویعنې دخاوندتراقراري مهرزیات اودښځې تردعوی کم وونودښځې لپاره په مهرمثل سره حکم کیږی ولی چې کله دواړوقسم واخیست نونه ترمهرمثل زیات اونه کم ثابت شو.

(۸۲)وَإِذَا اخْتَلَفَا فِي الْإِجَارَةِ قَبْلَ اسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ تَحَالَفَا وَتَرَادَّا (۸۳) وَإِنْ اخْتَلَفَا بَعْدَ الْاسْتِيفَاءِ لَمْ يَتَحَالَفَا وَكَانَ الْقَوْلُ قَوْلَ الْمُسْتَاجِرِ (۸۴) وَإِنْ اخْتَلَفَا بَعْدَ اسْتِيفَاءِ بَعْضِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ تَحَالَفَا وَفُسِخَ الْعَقْدُ فِيمَا بَقِيَ وَكَانَ الْقَوْلُ فِي الْمَاضِي قَوْلَ الْمُسْتَاجِرِ مَعَ يَمِينِهِ

ترجمه: که یې اختلاف شوپه اجاره کې مخکې ترحاصلولو دمعقودعلیه دواړه به قسم اخلي اوردوي به یې اوکه یې اختلاف شووروسته ترحاصلولو بیابه قسم نه اخلي اوقول دمستأجرمعتبردی اوکه یې اختلاف شووروسته ترحاصلولو دبعض معقودعلیه بیابه قسم نه اخلي اوپه باقی کې عقدفسخ کیږي اوپه ماضی کې قول دمستأجرسره دقسم معتبردی.

تشریح:(۸۳)که کل معقودعلیه یعنې دمنافعوترحاصلولووروسته ددواړواختلاف شونوپه اجماع سره به دواړه قسم نه اخلي اوقول دمستاجرقبلیږي، دشیخینورحمهماالله په نزدخوځکه چې ددویٔ په نزددمعقودعلیه هلاکیدل دتحالف مانع دی.دامام محمد رحمه الله په نزدبه هم قسم نه اخلي ځکه امام محمد رحمه الله چې دمبیع تلف کیدل دتحالف مانع نه گڼي هغه پردې بناء چې دمبیع قیمت دمبیع قائم [illegible] اوپرهغه قیمت باندې دواړه قسم اخلي،پاتی شوه اجاره په هغې کې دتحالف په صورت [illegible] عقداجاره فسخ کیږي اودلته هیڅ قیمت هم نشته چې هغه قائم مقام وگڼل شی ځکه چې [illegible] دعقدپه واسطه ترلاسه کیږي اودتحالف په وجه عقدنه پاتیږی نوقیمت هم نه پاتیږی نومبیع [illegible]

له منځه ولاړه اودتحالف امکان نه شوپاتی،نوچې کله له دواړوڅخه قسم اخیستل ممکن نه شونوقول دمستاجرسره له یمین معتبرېږی ځکه چې مدعی علیه هم دی دی یعنې پرده باندې دزیات اجرت دعوی ده.

(۸۴)اوکه دبعض معقود علیه له حاصلولوورروسته دواړوپه اجرت کې اختلاف وکړنودواړه به قسم اخلي اوپه مابقی کې به عقدبه فسخ کیږي داځکه چې په عقداجاره کې عقدساعةً په ساعةً منعقدکیږي نودمنفعت هرجزء داسي دی ګواکې پرهغه باندې عقدنوی شوی دی ،اوکومې منافع چې په ماضی کې مستاجرحاصلې کړې دي په هغوکې دمستاجرقول سره له یمینه معتبردی ځکه هغه منکردی.

(۸۵)وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمَوْلَى وَالْمُكَاتَبُ فِي مَالِ الْكِتَابَةِ لَمْ يَتَحَالَفَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللَّهُ يَتَحَالَفَانِ وَتُفْسَخُ الْكِتَابَةُ.

ترجمه:که مولی اومکاتب په مال کتابت کې اختلاف وکړنودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدبه قسم نه اخلي اوصاحبین فرمایې چې دواړه به قسم اخلي اوعقدکتاب به فسخ کړای شي.

تشریح:(۸۵)که دمولی اومکاتب ترمنځ دبدل کتابت په مقدارکې جنجال راغی نودامام ابوحنیفة رحمه الله په نزدله دواړوڅخه قسم نه اخیستل کیږي ځکه تحالف په بیع کې خلاف قیاس واردشوی دی اوکتابت دبیع په معنی کې نه دی ځکه کتابت دمکاتب په طرف کې لازم نه دی .اودصاحبینوپه نزدبه دواړه قسم اخلي ځکه چې کتابت دعقدمعاوضه کیدلوپه وجه سره فسخ قبلوي نودامعنی له بیع سره مشابه ده .دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی.

(۸۶)وَإِذَا اخْتَلَفَ الزَّوْجَانِ فِي مَتَاعِ الْبَيْتِ فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ فَهُوَ لِلرَّجُلِ وَمَا يَصْلُحُ لِلنِّسَاءِ فَهُوَ لِلْمَرْأَةِ وَمَا يَصْلُحُ لَهُمَا فَهُوَ لِلرَّجُلِ (۸۷)فَإِنْ مَاتَ أَحَدُهُمَا وَاخْتَلَفَ وَرَثَتُهُ مَعَ الْآخَرِ فَمَا يَصْلُحُ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَهُوَ لِلْبَاقِي مِنْهُمَا وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ يُدْفَعُ إِلَى الْمَرْأَةِ مَا يُجَهَّزُ بِهِ مِثْلُهَا وَالْبَاقِي لِلزَّوْجِ.

ترجمه:که دزوجینودکورپه سامان کې اختلاف شونوکوم شی چې له نارینه سره لائق وي هغه به دخاوندوي اوکوم شی چې له ښځوسره لائق وي هغه به دښځې وي اوکوم شی چې له دواړوسره لائق وي هغه به دخاوندوي اوکه له زوجینوڅخه یومړشواودهغه دوارثانودهغه بل له وارثانوسره اختلاف شونوکوم شی چې دنارینه ؤ اوښځولائق وي هغه به دهغه وي کوم چې له دوئ دواړوڅخه ژوندی وي اوامام ابویوسف رحمه الله فرمایې چې ښځوته به هغه شی ورکول کیږي کوم چې په جهیزکې ورکول کیږي اوباقی به دخاوندوي.

تشریح:(۸۶)که دزوجینو(خاونداوښځې) ترمنځ دکورپه سامان کې اختلاف راغی نوکوم شیان چې له نارینه ؤسره لائق وي هغه دخاونددي لکه پګړی،جبّه،سلاح وغیره ځکه په دغوشیانوکې ظاهرحال دخاوندشاهددی،اوکوم شیان چې دښځولائق وي نوهغه دښځې دي لکه ګینې ،زیورات وغیره ولی په

هغوشیانوکې ظاهرحال دښځې شاهددی. اوکوم شیان چې ددواړولائق وي لکه لوښي،فرش نقودوغیره نو هغه دخاوندډي ځکه ښځه سره له خپل مقبوض دخاوندپه قبضه کې دي اوقاعده داده چې په دعووکې دقابض قول معتبرېږي.

(۸۷)که له زوجینو څخه یومړشي اودهغه وارثان دهغه بل (یعني ژوندي)سره اختلاف وکړنو که دنارینه وُلائق شیان وي اوکه دښځو هغه ټول دژوندي کیږي ځکه قبض دژوندي معتبردی نه دمړه ..دادامام ابوحنیفة رحمه الله قول دی.

امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې هغه شیان چې دادول ښځې یې په جوړه کې راوړي هغه دي ښځې ته ورکړل شي اوپه باقی کې دزوج قول له یمینه سره معتبرېږي ځکه ظاهرداده چې ښځې جوړه راوړي اوداظاهرپه نسبت وهغه ظاهری قبض دخاوندته زیات قوي دی نوله دي وجهې څخه دخاوندظاهری قبض ماتیږي ،بیاچې باقی څه پاتی شول په هغوکې دخاوندظاهری قبض هیڅ معارض نشته نودهغه ظاهري قبض معتبرېږي .دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی.

(۸۸)وَإِذَا بَاعَ الرَّجُلُ جَارِيَتَهُ فَجَاءَتْ بِوَلَدٍ فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ بَاعَهَا فَهُوَ ابْنُ الْبَائِعِ وَأُمُّهُ أُمُّ وَلَدِهِ وَيُفْسَخُ الْبَيْعُ وَيَرُدُّ الثَّمَنَ (۸۹)وإن ادَّعَاهُ الْمُشْتَرِي مَعَ دَعْوَةِ الْبَائِعِ أَوْ بَعْدَ دَعْوَتِهِ فَدَعْوَةُ الْبَائِعِ أَوْلَى (۹۰)وإن جَاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ وَلِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ لَمْ تُقْبَلْ دَعْوَةُ الْبَائِعِ فِيهِ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهُ الْمُشْتَرِي.

ترجمه:اوکه چاخپله مینځه خرڅه کړه بیادهغې ماشوم پیداشواوبائع دهغه دعوه وکړه نوکه دهغې دخرڅ له وخت څخه ترشپږمیاشتوپه کمه مده کې داماشوم پیداشوی وي نودادبائع زوی دی اودهغه موردبائع ام ولده ده اوبیع به فسخ کړای شي اوثمن به واپس کړای شي اوکه بائع دنسب له دعوي سره یوځای یاله هغه څخه وروسته مشتری هم دهغه دعوی وکړه نودبائع دعوه اولی ده اوکه یې دبیع له وخت څخه ترشپږمیاشتوزیات اوله دووکلونو څخه پرکم وخت هغه ماشوم زیږولی وي نودبائع دعوه ددي ماشوم په باره کې نه قبلیږي مگرداچې مشتری دهغه تصدیق وکړي .

تشریح:(۸۸)که یوچاخپله منځه خرڅه کړه بیادهغې ماشوم پیداشواوبائع دماشوم دنسب دعوی وکړه نوورته وبه گوروچې که چیرته دخرڅیدوله وخت نه ترشپږومیاشتوپه کمه موده کې داماشوم پیداشوی وونوداماشوم دبائع زوی دی اوموریې دهغه اُمّ ولده ده ځکه دبائع په مِلک کې دحمل ثابتیدل دهغه لپاره ظاهره دلیل دی چې دانطفه دبائع څخه ده نوچې کله دنسب دعوی صحیح شوه نونسبت یې وهغه وخت ته کیږي له کوم تاریخ نه چې نطفه راغلې ده یعنې له هغه وخت نه منځه دهغه اُمّ ولده شمارله کیږي نوظاهره شوه چې بائع خپله ام ولدخرڅه کړې ده اودخپلې امّ ولدخرڅول ناجائزدی نوبیع دي فسخ کړي اوبائع چې کومې پیسې اخیستې دي هغه دي بیرته واپس کړي ولی دایې ناحقه وصول کړي دي .

(۸۹)که دبائع ددعوی نسب سره سم یا ترهغه وروسته مشتري هم ددي ماشوم دنسب دعوی کړې وي ځکه دبائع دعوی اسبقه ده ولی دبائع دعوی دنطفې دعلوق وخت ته منسوبه ده. (۹۰)که دبيع له وخت څخه ترشپږو میاشتوپه زیاته اودووکالوپه کمه موده کې ماشوم پیداشوی وونو دبائع دعوی ددي ماشوم په باره کې ردیږي یعنې نه قبلیږي، ځکه کیدای شي چې دماشوم علوق له بیع وروسته شوی وي،البته که مشتري دبائع تصدیق وکړي نو نسب ثابتيږي اوبيع باطليږي او ماشوم آزاديږي کمافي المسئلة الاولى.

(۹۱)وَإِنْ مَاتَ الْوَلَدُ فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ وَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ لَمْ يَثْبُتِ النَّسَبُ فِي الْوَلَدِ وَلَا الْإِسْتِيْلَادُ فِي الْأُمِّ (۹۲)وَإِنْ مَاتَتِ الْأُمُّ فَادَّعَاهُ الْبَائِعُ وَقَدْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ يَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْهُ فِي الْوَلَدِ وَأَخَذَهُ الْبَائِعُ وَيَرُدُّ الثَّمَنَ كُلَّهُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ يَرُدُّ حِصَّةَ الْوَلَدِ وَلَا يَرُدُّ حِصَّةَ الْأُمِّ.

ترجمه:او که ماشوم مړ شو بیا بائع دهغه دعوه وکړه او حال دا چې مینځې هغه ترشپږو میاشتو په لږ وخت کې زیږولی وونو نه دماشوم نسب ثابتیږي اونه دموام ولدوالی ثابتیږي او که مور مړه شوه بیا بائع دماشوم دعوه وکړه او حال دا چې ترشپږو میاشتو په کم وخت کې یې زیږولی وونو له هغه څخه دماشوم نسب ثابتیږي او بائع به یې وړي او دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد به بائع کل ثمن واپس کوي او صاحبین فرمایي چې صرف به دماشوم حصه واپس کوي دمور حصه به نه واپس کوي.

تشریح:(۹۱)که چیرته ماشوم مړ شو بیا بائع دهغه دنسب دعوی وکړه او حال دا چې هغه دمنځې دبيع له وخت څخه ترشپږ میاشتې په کمه موده کې پیداشوی وونو دمورامّ ولد کیدل یې نه ثابتیږي ولی مور په دي باره کې دماشوم تابع ده اودماشوم نسب دهغه دمړکیدو نه پس دعدم حاجت په وجه نه دی ثابت شوی نو دهغه په تابع کیدوسره یې مور هم امّ ولد نه ثابتیږي.(۹۲)که دماشوم مور مړه شوه بیا بائع دماشوم دنسب دعوی وکړه اوحال دا چې هغه ترشپږو میاشتو په کمه موده کې پیداشوی وونو دماشوم نسب ثابتیږي او بائع هغه وړلای شي ولی دنسب په باره کې ماشوم اصل دی موریې فرع ده نو اعتبار دماشوم بقاء لره دی ځکه دثبوت نسب حاجت ماشوم لره دی دمور بقاء ته یې اعتبار نشته نو دمور وفات کیدل دهغه لپاره مضر هم نه دی. بیا امام ابو حنیفة رحمه الله په نزد پر بائع باندي کل ثمن واپس کول واجب دی ځکه اوس ظاهره شوه چې بائع خپله ام ولده خرڅه کړې وه او دامّ ولد هیڅ قیمت دامام صاحب رحمه الله په نزد نه شي متعین کیدای نه په بيع کې اونه په غصب کې نو مشتري دهغې ضامن نه ګرځي ځکه نو مشتري دخپلو ټولو ثمنو د واپس اخیستلو مستحق دی.

دصاحبینو رحمهما الله په نزد یوازې دماشوم حصه به واپس کوي دمور حصه به نه واپس کوي ځکه ثمن ددواړو په مقابله کې وې اوام ولد چې منځه فرض کړو دقیمت اندازه ورته کیدای شي نو مشتري دامّ دقیمت په اندازه ضامن ګرځي.

(۹۳)وَمَنِ ادَّعَى نَسَبَ أَحَدِ التَّوْأَمَيْنِ يَثْبُتُ نَسَبُهُمَا مِنْهُ.

ترجمه:او که چا دغبر ګولیانو ماشومانو څخه دیوه دنسب دعوه وکړه نو ددواړو نسب له ده څخه ثابتیږي.

تشريح:(۹۳)كه چاد غبر گوليانو ماشومانو څخه ديوه دنسب دعوى وكړه نودهغه بل ماشوم نسب هم له ده څخه ثابتيږي ځكه دواړه له يوې نطفې څخه پيدا شوي دي نو چې ديوه نسب ثابت شي نوضرور دهغه بل نسب هم ثابتيږي.

كِتَابُ الشهادة

داكتاب داحكام شهادت په بيان كې دى

شهادت په لغت كې دخبر قاطع او حاضريدل په معنى دئ، ومنه قوله ﷺ: اَلْغَنِيمَةُ لِمَن شَهِدَ الْوَقعَةَ أى حَضَرَهَا او دشرعاً دحق داثبات لپاره رښتيا خبرور كولو ته شهادت ويل كيږي.

له كتاب دعوى وروسته دكتاب الشهادة دذكر كولو وجه داده چې دشهادت وقوع له دعوو څخه وروسته وي لومړى دعوه وي بيا دهغې دتوثيق لپاره دشهادت ضرورت وي.

دشهادت شرط دادى چې دشاهدبه عقل كامل،ضبط اوهليت وي اودشهادت سبب دمدعي له شاهد څخه دگواهي اداكولو طلب دى،اوركن دشهادت لفظ دشهادت دى دشهادت حكم پرقاضى باندي دمقتضائى شهادت مطابق حكم كول واجب دى.

(۱) اَلشَّهَادَةُ فَرضٌ تَلْزَمُ الشُّهُوْدَ وَلَا يَسَعُهُمْ كِتْمَانُهَا اِذَا طَالَبَهُمُ الْمُدَّعِيْ.

ترجمه: گواهي فرض ده پرگواهونو لازمه ده اوگواهانو لره دگواهي دپټولو گنجائش نشته كله چې مدعى له هغوئ څخه طلب وكړي.

تشريح:(۱)گواهي فرض ده پرگواهانو دهغي اداء كول لازم دي لقوله تعالى: (وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ) ژباړه:يعنې تاسى گواهي مه پټوئ اوكه چاگواهي پټه كړه دهغه زړه گناهگار دى) اودا هغه وخت لازم دى چې مدعي دگواهي اداكولو طلب وكړي ځكه گواهي دمدعى حق دى نودنورو حقوقو په شان ددي حق لپاره هم دمدعي طلب شرط دى.

(۲) وَالشَّهَادَةُ فِي الْحُدُوْدِ يُخَيَّرُ فِيهَا الشَّاهِدُ بَيْنَ السَّتْرِ وَالْإِظْهَارِ وَالسَّتْرُ أَفْضَلُ (۳) اِلَّا أَنَّهُ يَجِبُ أَنْ يَشْهَدَ بِالْمَالِ فِي السَّرِقَةِ فَيَقُوْلُ أَخَذَ الْمَالَ وَلَا يَقُوْلُ سَرَقَ.

ترجمه: او د شرعي حدودو کې د ګواهي په باره کې ګواه ته په پټولو او ظاهرکولو کې اختيار دی او پټول افضل دي مګر دا چې په غلاکې د مال ګواهي ورکول واجب ده نو وديي وايي چې هغه مال وړی دی او داد ي نه وايي چې غلا کړی يې دی .

تشريح: (۲) په شرعي حدودو کې د ګواهي اداکولو په باره کې ګواه لره اختيار دی که يې پټوي او که يې ښکاروي ځکه هغه ته د ثواب دوه کارونه وړيښ دي يعني اقامة الحدود او سترپوشي نو ده لره اختيار دی که غواړي چې حد قائم کړي او که غواړي چې نو سترپوشي دي وکړي ،خو سترپوشي افضله ده لقوله ﷺ: لِلَّذِي شَهِدَ عِنْدَهُ لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ لَكَانَ خَيْرًا لَكَ (يعنې كه تا هغه په جامه پټه كړي وای نو ستالپاره بهتره وه) وقال ﷺ: مَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ) يعنې که چا د مسلمان پرده پوشي وکړه نو الله تعالی به په دنيا او آخرت کې د هغه پرده پوشي کوي).

(۲) په حدودو کې سترپوشي افضله ده البته د مال د غلاکيدو په صورت کې پر ګواه باندي لازم دی چې ګواهي ورکړي او داسې به وايي چې فلان سړی مال واخيست چې د مسروق منه حق ضائع نه شي،داسې به نه وايي چې هغه مال غلا کړی دی چې د غله لاس له غوڅيدو څخه بچ شي په دي ډول سره به ستر او اظهار دواړه جمع شي.

(۴) وَالشَّهَادَةُ عَلَى مَرَاتِبَ مِنْهَا الشَّهَادَةُ فِي الزِّنَا يُعْتَبَرُ فِيهَا أَرْبَعَةٌ مِنَ الرِّجَالِ وَلَا تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ (۵) وَمِنْهَا الشَّهَادَةُ بِبَقِيَّةِ الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ (۶) وَلَا تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ النِّسَاءِ (۷) وَمَا سِوَى ذَالِكَ مِنَ الْحُقُوقِ تُقْبَلُ فِيهَا شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ سَوَاءٌ كَانَ الْحَقُّ مَالًا أَوْ غَيْرَ مَالٍ مِثْلُ النِّكَاحِ وَالطَّلَاقِ وَالْوَكَالَةِ وَالْوَصِيَّةِ (۸) وَتُقْبَلُ فِي الْوِلَادَةِ وَالْبَكَارَةِ وَالْعُيُوبِ بِالنِّسَاءِ فِي مَوْضِعٍ لَا يَطَّلِعُ عَلَيْهِ الرِّجَالُ شَهَادَةُ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ.

ترجمه: د شهادت څو مرتبې دي له هغو څخه شهادت فی الزنی ده په دي کې څلور نارينه معتبر دي او په دي کې د ښځو ګواهي نه قبليږي او له هغو څخه د باقي حدودو او قصاص ګواهي ده په دي کې د دوو نارينه و ګواهي قبليږي او په دي کې هم د ښځو ګواهي معتبره نه ده او له دي څخه په ماسوا په نورو حقوقو کې د دوو نارينه و يا يو نارينه او دوو ښځو ګواهي قبليږي که حق مال وي يا غير مال وي لکه نکاح ،طلاق ،عتاق ،وکالت او وصيت او ولادت ،بکارت او د ښځو هغه عيبونه پر کوم و چې نارينه نه شي خبريدلای کې صرف د ښځې ګواهي قبليږي .

تشريح: (۴) د شهادت څلور مرتبې دی اول شهادت فی الزنا دی،په هغه کې د څلورو نارينه وګواهي معتبره ده لقوله تعالى: (وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ) (يعنې کومې ښځې چې د بې حيائي کارو کړي ستاسو له بيبيانو څخه نو تاسې پر هغو ښځو باندي څلور کسان له خپلو خلکو څخه ګواهان کړئ) .

(۵) په شهادت فی الزنا کې د ښځو ګواهي نه قبليږي، لحديث الزهري رحمه الله :مَضَتِ السُّنَّةُ مِنْ لَدُنْ رَسُولِ اللهِ وَالْخَلِيفَتَيْنِ مِنْ بَعْدِهِ أَنْ لَا شَهَادَةَ لِلنِّسَاءِ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ) يعنې د رسول الله ﷺ او د هغه وروسته د دوو خليفه

ګانو (يعني حضرت ابوبکرصديق ﷺ اوحضرت عمر ﷺ) له زمانې راهيسې داطريقه راروانه ده چې په حدودواوقصاص کې دښځوګواهي نه ده معتبره).

(۶)دشهادت دوهم قسم له حدزنا څخه سواپه نوروحدودو(مثلاحدسرقه،حدقذف وغيره) اوقصاص کې ګواهي ورکول دی،په دغوحدودواوقصاص کې ددونارينه وګواهي معتبره ده لقوله تعالی :(فَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُم) پس تاسی ونيسئ دوه ګواهان له خپلونارينه وڅخنی) په دغوحدودوکې هم دښځوګواهي نه ده معتبره لحديث الزهري مَامرّ.

(۷)دشهادت دريم قسم له حدودواوقصاص څخه ماسواپه نوروحقوقوکې ګواهي ورکول دی په دغوحقوقوکې ددوونارينه وُيايونردووښځوګواهي قبليږی برابره ده چې مشهودبه حق مال وي اوکه غيرمال وي لکه نکاح،طلاق،عتاق،وکالت اووصيت وغيره،ځکه په شهادت کې اصل قبوليت دی له دي وجي چې هغه شيان پيداکيږی پرکوموباندي چې دګواهي دلياقت مداردی يعني مشاهده،ضبط اوادا،ولی په مشاهده سره ګواه ته علم حاصليږی اوپه ضبط سره هغه باقي پاتيږی اوپه اداکولوسره قاضی ته علم حاصليږی اودکثرت نسيان په وجه چې دښځي په ضبط کې کوم نقصان راغلی دی هغه دبلی ښځی په ملتياسره پوره شوی دی.

(۸)دشهادت څلورم قسم ددا سی شيانوپه باره کې ګواهي ورکول دی چې پرهغوباندي له ښځوپرته نارينه نه شي خبريدلای نوپه هغوکې يوائې دښځوګواهي معتبره ده لکه په ولادت کې (چې دي ښځې بچی زيږولی دی يايې نه دی) اوپه بکارت کې (چې دا ښځه باکره ده يانه ده) اودښځودداسی عيبونوپه باره کې چې نارينه يې نه شي کتلای په دي ټولوکې دښځوګواهي معتبره ده لقوله ﷺ : شَهَادَةُ النِّسَاءِ جَائِزَةٌ فِيمَا لَا يَسْتَطِيعُ الرِّجَالُ النَّظَرَ إِلَيْهِ)يعني کوموشيانوته چې نارينه نظرنه شي کولای په هغوکې دښځوګواهي جائزه ده) دالنساء لفظ جمع ده چې الف لام جنسي پرداخل دی لهذا يوې ښځې لره هم شامل دی.

(۹) وَلَا بُدَّ فِي ذَلِكَ كُلِّهِ مِنَ الْعَدَالَةِ وَلَفْظِ الشَّهَادَةِ (۱۰) فَإِنْ لَمْ يَذْكُرِ الشَّاهِدُ لَفْظَ الشَّهَادَةِ وَقَالَ أَعْلَمُ أَوْ أَتَيَقَّنُ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُ.

ترجمه: اوپه دغوټولوصورتونوکې ضروري ده دګواه عادل والی اودشهادت لفظ نوکه ګواه ګواهي ورکړه اودشهادت لفظ يې ذکرنه کړاووي ويل چې ماته معلومه ده يامالره يقين دی نودهغه ګواهي به نه قبليږي.

تشريح:(۹)دګواهي په مذکوره بالاټولوصورتونوکې دګواه عادل کيدل شرط دی لقوله تعالی :(وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنكُم)يعني له مسلمانانوڅخه دوه عادل کسان ګواهان کړئ).(۱۰) دګواهي په وخت دشهادت لفظ ذکرکول شرط دی ولی لفظ داشهدُ دقسم دالفاظوڅخه دی په هغه کې دقسم معنی ملحوظه وي نوددي لفظ په وجه ګواه ددروغوويلوڅخه زيات احترازکوي،نوکه چيرته ګواه وويل چې زه يې پيژنم يازمايقين دی نودهغه ګواهي نه قبليږی لماقلنا.

(۱۱) وَقَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ رحمه الله يَقْتَصِرُ الْحَاكِمُ عَلٰى ظَاهِرِ عَدَالَةِ الْمُسْلِمِ (۱۲) اِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ فَاِنَّهُ يَسْأَلُ عَنِ الشُّهُوْدِ (۱۳) وَاِنْ طَعَنَ الْخَصْمُ فِيْهِمْ سَأَلَ عَنْهُمْ وَقَالَ اَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَا بُدَّ اَنْ يَسْأَلَ عَنْهُمْ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ

ترجمه: اوامام ابوحنیفه رحمه الله فرمايي چې قاضی به د مسلمان ګواه پر ظاهري عدالت باندي اکتفاء کوي مګر په حدودو او قصاص کې ولی چې په هغو کې به د ګواهانو تحقيق کوي او که خصم پر هغوئ طعن وکړ نو د هغوئ په باره کې به تحقيق کوي او صاحبين فرمايي ضروري ده چې د ګواهانو په باره کې خفيه او علانيه تحقيق وکړي.

تشريح: (۱۱) د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد د مسلمان ګواه په باره کې به قاضی د هغه په ظاهری عدالت باندي اکتفاء کوي د هغه د عدالت په باره کې دي تحقيق نه کوي ولی چې ظاهر حال دادي چې مسلمان له داسي فعل څخه چې د ده په دين کې حرام وي (يعني له دروغ ويلو څخه) پرهيز کوي.

(۱۲) البته د حدودو او قصاص د ګواهانو د عدالت په باره کې به قاضی تحقيق کوي که څه هم خصم پر هغو باندي طعن نه کوي دا ځکه چې قاضی د دغو حدودو د ساقطولو په باره کې حيله لټوي نو انتهائی تفتيش دي وکړي معامله دي تر پايه پوري ورسوي پوه کوشش دي وکړي ښايي يوه داسی خبره به پيداشی چې په هغی سره حد ساقط شی. (۱۳) البته که خصم د حدودو او قصاص نه علاوه پر نورو ګواهانو باندي داطعن درلود چې دا دروغجن دي يا مريبان دي يا محدود في القذف دي نو قاضی دي د هغوئ د حالاتو په اړه هم پوښتنه وکړي.

د صاحبينو رحمهما الله په نزد په ټولو حقوقو کې پر قاضی لازم دی چې هغه د ګواهانو د عدالت پوښتنه وکړي په پټه هم او سرِعام هم، برابره ده که خصم پر ګواهانو باندي طعن وکړي يا يې نه وکړي ځکه چې حکم د عادل پر ګواهي باندي مبنی کيږي نو د عدالت تحقيق کول واجب دی.

د مشائخو رايه داده چې دا د عهد او زمانې اختلاف دی د امام ابوحنيفة رحمه الله په زمانه کې خلکو نيک کارونه کول ظاهرًا او باطنًا هغوئ ربښتيني وو د صاحبينو رحمهما الله په زمانه کې په خلکو دروغ ويل رواج شو په دې زمانه کې فتوی د صاحبينو رحمهما الله پر قول ده.

(۱۴) وَمَا يَتَحَمَّلُهُ الشَّاهِدُ عَلٰى ضَرْبَيْنِ اَحَدُهُمَا مَا يَثْبُتُ حُكْمُهُ بِنَفْسِهِ مِثْلُ الْبَيْعِ وَالْاِقْرَارِ وَالْغَصْبِ وَالْقَتْلِ وَحُكْمِ الْحَاكِمِ فَاِذَا سَمِعَ ذٰلِكَ الشَّاهِدُ اَوْ رَاٰهُ وَسِعَهُ اَنْ يَّشْهَدَ بِهِ وَاِنْ لَمْ يُشْهَدْ عَلَيْهِ وَيَقُوْلُ اَشْهَدُ اَنَّهُ بَاعَ وَلَا يَقُوْلُ اَشْهَدَنِيْ (۱۵) وَمِنْهَا مَا لَا يَثْبُتُ حُكْمُهُ بِنَفْسِهِ مِثْلُ الشَّهَادَةِ عَلَى الشَّهَادَةِ فَاِذَا سَمِعَ شَاهِدًا يَشْهَدُ بِشَيْءٍ لَمْ يَجُزْ لَهُ اَنْ يَّشْهَدَ عَلٰى شَهَادَتِهِ اِلَّا اَنْ يُشْهِدَهُ (۱۶) وَكَذٰلِكَ لَوْ سَمِعَهُ يُشْهِدُ الشَّاهِدَ عَلٰى شَهَادَتِهِ لَمْ يَسَعْ لِلسَّامِعِ اَنْ يَّشْهَدَ عَلٰى ذٰلِكَ

ترجمه: او ګواه چې د کومي ګواهي تحمل کوي هغه پر دوه قسمه ده يو هغه ده چې د هغه حکم بنفسه ثابتيږي لکه بيع، اقرار، غصب، قتل او د قاضی حکم ورکول نو کله چې ګواه هغه واوري يا ويني نو ګواه لره د هغه

ګواهي ورکولو ګنجائش شته اګر که هغه پر هغې معاملې باندې ګواه جوړ نه کړای شي او وايې به چې زه ګواهي ورکوم چې هغه خرڅ کړداو ول به نه وايي چې هغه زه ګواه جوړ کړم او له دغو څخه هغه ګواهي ده د کومې چې حکم بنفسه نه ثابتيږي لکه شهادت علي الشهادت کې نو کله چې واوري چې يو ګواه ګواهي ورکوي نو ده لره جائز نه ده چې د هغه پر ګواهي باندې ګواهي ورکړي الا دا چې هغه ده لره ګواه جوړ کړي او همدا رانګه که هغه واوري چې دی پر خپله ګواهي باندې يو څوک ګواه جوړوي نو اوريدونکي لره ګنجائش نشته چې دی پر هغه ګواهي ورکړي.

تشريح: (۱۴) ګواه چې د کوم شي تحمل کوي هغه دوه قسمه دي يو دا دی چې حکم يې بنفسه ثابت وي لکه بيع، اقرار، دقاضي حکم ورکول، غصب او قتل دغه امور که ګواه واوريدل (که چيرته هغه په اوريدو سره معلوميدل لکه بيع او اقرار) يا يې وليدل (که چيرته هغه په اوريدو سره معلوميدل لکه غصب او قتل) نو ګواه لره د ګواهي ورکولو ګنجائش شته، که څه هم هغه پر دغه معامله باندې ګواه نه وي ګرځيدلی ځکه په دغو صورتونو کې ګواه په هغو شيانو پوه شو کوم چې د حکم لپاره موجب بنفسه دي (يعني بيع واقرار وغيره) او د ګواهي لپاره پيژندل شرط دی لقوله تعالى: (إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ) مګر هغه خلک چې د حق ګواهي اداکوي په داسې حال کې چې هغوئ پوهيږي) البته د ګواهي ورکولو طريقه به داوي مثلاً د بيع د ګواهي ورکولو په وخت به وايي چې زه ګواهي ورکوم چې هغه خرڅ کړه داسې به نه وايي چې هغه زه ګواه جوړ کړی يم ځکه دا دروغ دي.

(۱۵) ګواه چې د کوم شی ګواهي ورکوي د هغه دوهم قسم دا دی چې حکم يې بنفسه نه ثابتيږي لکه ګواهي ورکول ځکه ترڅو چې مجلس قاضی ته ګواهي منتقله نه کړي د هغې حکم نه ثابتيږي نو د دغه قسم حکم دا دی چې اصل ګواه ترڅو پورې پر خپله ګواهي باندې فرع ګواه ګواه و نه ګرځوي هغه هسې د ده د ګواهي په ليدو سره ګواهي نه شي ورکولای مثلاً زيد واوريدل چې بکر ګواهي ورکوي چې د عمرو پر خالد باندې زر درهمه باندې دي نو د زيد لپاره جائزه نه ده چې د عمرو لپاره پر خالد باندې د زرو درهمو د قرضی ګواهي ورکړي ځکه دا شرط دی چې اصل ګواه به فرع پر خپله ګواهي باندې ګواه نائب ګرځوي او دلته هغه شرط نشته نو د زيد ګواهي ځکه صحيح نه شوه البته که بکر زيد پر خپله ګواهي باندې ګواه وګرځاوه نو بيا زيد د هغه پر ګواهي باندې ګواهي ورکولای شي ولې اوس هغه د اصل ګواه نائب دی.

(۱۶) همدا رانګه که زيد واوريدل چې اصل ګواه پر خپله ګواهي باندې بکر ګواه جوړوي نو هم اوريدونکي زيد لره ګنجائش نشته چې د اصل ګواه پر ګواهي باندې په خپله ګواهي ورکړي ولې چې پر ګواهي باندې د ګواهي تحمل زيد نه بلکه بکر کړی دی له دې وجې زيد لره ګنجائش نشته.

(۱۷) وَلَا يَحِلُّ لِلشَّاهِدِ إِذَا رَأَى خَطَّهُ أَنْ يَشْهَدَ إِلَّا أَنْ يَذْكُرَ الشَّهَادَةَ.

ترجمه: او ګواه لره جائز نه ده چې خپل خط وګوري او ګواهي او د هغه مطابق ګواهي ورکړي الا دا چې هغه ته خپله ګواهي ور په ياد شي.

تشریح :(۱۷)گواه لره دانه دی جائزچې خپل خط وګوري دهغه مطابق ګواهي ورکړي ځکه یوخط دبل سره مشابه وي نوکیدای شي چې دادبل چاخط وي نوله دغه خط څخه هغه ته علم نه حاصلیږی نوګواهي هم نه شي ورکولای ولی دګواهي مدارپرعلم دی،البته که چیرته هغه ته خپله ګواهي په یادورغله نوبیاګواهي ورکول صحیح دی.

(۱۸)وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُالْاَعْمٰی(۱۹)وَلَاالْمَمْلُوْکِ(۲۰)وَلَاالْمَحْدُوْدِفِی قَذْفٍ وَاِنْ تَابَ(۲۱)وَلَاشَهَادَةُالْوَالِدِلِوَلَدِه وَوَلَدِوَلَدِه وَلَاشَهَادَةُالْوَلَدِلِاَبَوَیْهِ وَاَجْدَادِه(۲۲)وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُاَحَدِالزَّوْجَیْنِ لِلْآخَرِ(۲۳)وَلَاشَهَادَةُالْمَوْلٰی لِعَبْدِه وَلَالِمَکَاتَبِه(۲۴)وَلَاشَهَادَةُالشَّرِیْکِ لِشَرِیْکِه فِیْمَاهُوَمِنْ شِرْکَتِهِمَا.

ترجمه :اونه قبلیږی ګواهي دړانده اونه دمریي اونه دمحدودفی القذف که څه هم توبه یي ویستلي وي، اونه دپلارګواهي دخپل زوی اولمسی لپاره اونه دزوی ګواهي دخپل والدینواواجدادولپاره اونه قبلیږي ګواهي دله زوجینو څخه دیوه ګواهي دهغه بل لپاره اونه دمولی ګواهي دخپل مریي اوخپل مکاتب لپاره اونه دیوه شریک ګواهي دخپل بل شریک لپاره په هغه شی کې چې ددوئ له شرکت څخه وي.

تشریح:(۱۸)دړانده ګواهي نه قبلیږی ځکه دګواهي په اداکولوکې په اشاره سره دمشهودله اومشهودعلیه ترمنځ دتمیزکولوضرورت وي اوړوندله آوازپرته هیڅ ذول داتمیزنه شي کولای اوآوازله آوازسره مشابه کیدلای شي نوځکه داتمیزنه حاصلیږی (۱۹)مملوک هم ګواهي نه شی ورکولای نه دخپل مالک په حق کې اونه دغیرپه حق کې ځکه ګواهي له بابه دشهادت څخه ده په داسی حال کې چې نابالغ اومریی پرخپل ځان باندي ولایت نه لري نوپرغیرخویې په طریقه اولی نه لري .

(۲۰)دمحدودفی القذف ګواهي هم جائزه نه ده که څه هم اوس هغه له جنایت څخه توبه کړي وي ځکه دمحدودفی القذف دګواهي نه قبلول دهغه دحدتتمه ده یعنې دقاذف(پرچاباندي دزناتهمت لګوونکي) حددادی چې هغه په درو ووهل شی اودهغه ګواهي ردکړای شي.(۲۱)دوالد(مراداباء اواجداددي)ګواهي دخپل زوی اولمسی لپاره نه قبلیږي .اودزوی (مراداولاددی وان سفل)ګواهي دخپل والدینواواجدادولپاره نه قبلیږي ځکه چې داولاداوآباؤترمنځ منافع متصلی وي همداوجه ده چې یوبل ته زکوة نه شي ورکولای نودددوئ یودبل لپاره ګواهي ورکول من وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ورکول دی ځکه نه ده مقبوله .

(۲۲)همدارنګه له زوجینو څخه دیوه ګواهي دبل لپاره جائزه نه ده ولی چې عادة دزوجینومنافع هم متصلی وي نوداهم من وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ده.(۲۳)همدارنګه دمولی ګواهي دخپل مریی لپاره جائزنه ده ،ځکه که چیرته مریی مقروض نه وونودامن کل وجه دخپل ځان لپاره ګواهي ده ځکه نودمریی په لاس چې څه راځی هغه ټول دمولی مِلک دی اوبعینه په همدي وجه دمولی ګواهي دخپل مکاتب لپاره هم جائزه نه ده .

(۲۴)ديوه شريک گواهي دخپل شريک لپاره په داسي شي کې چې دداړودشرکت څخه په لاس ورغلى وي مثلاپه مال دشرکت کې يوشريک پرچاباندي څه دعوى وکړه اوهغه بل شريک دهغه لپاره گواهي ورکړه نوداگواهي نه قبليږي ځکه دامن وجه دخپل ځان لپاره گواهي ده له دي وجي چې دواړه مشترک دي.

(۲۵)وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الرَّجُلِ لِأَخِيهِ وَعَمِّهِ.

ترجمه:اوقبليږي دسړي گواهي دخپل ورورا واکالپاره.

تشريح:(۲۵)ديوچاگواهي دخپل ورور،اواکا لپاره قبليږي ځکه چې په دي گواهي کې هيڅ تهمت نشته ولى چې دورونواملاک اودهغوئ منافع پخپلوکې سره مشترکى نه وي بلکې جلاجلا وي.

(۲۶)وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُ مُخَنَّثٍ(۲۷)وَلَانَائِحَةٍ(۲۸)وَلَامُغَنِّيَةٍ(۲۹)وَلَامُدْمِنِ الشُّرْبِ عَلَى اللَّهْوِ(۳۰)وَلَامَنْ يَلْعَبُ بِالطُّيُورِ(۳۱)وَلَامَنْ يُغَنِّي لِلنَّاسِ(۳۲)وَلَامَنْ يَأْتِي بَابًامِنَ الْكَبَائِرِ الَّتِي يَتَعَلَّقُ بِهَاالْحَدُّ.

ترجمه:اونه قبليږي گواهي دنرښځي اوگواهي دنوحه کوونکې اوگواهي دسندرې ويونکې،اوگواهي دلهوپه ډول پرشراب خوري باندي ددوام کوونکي،اوگواهي دهغه چې په مارغانوباندي لوبې کوي،اوهغه چې سندري وايې خلکوته اونه دهغه شخص گواهي کوم چې له کبيره گناهونوڅخه دداسي گناه مرتکب وي چې له هغې سره دسزاپه ډول حد متعلق وي.

تشريح:(۲۶)دهجړا(نرښځي) گواهي نه قبليږي مرادهغه نرښځى دى چې بدفعلي کوي ځکه هغه فاسق دى نوگواهي يې نه قبليږي.(۲۷)همدارنگه دنائحه (دنورولپاره په اجرت ژړاکوونکې ښځې) گواهي هم نه قبليږي.(۲۸)اودمغنيه (سندرې ويونکې) ښځې گواهي هم نه قبليږي ځکه دادواړې ښځې دحرام فعل مرتکبې دي نودفسق په وجه ددوئ گواهي نه قبليږي.(۲۹)دلهوپه طريقه پرشراب خوري (مرادله خمرو څخه ماسِوانورمسکرمشروبات دي)باندي دمداومت کوونکي گواهي نه قبليږي ځکه داسړى دحرام فعل مرتکب دى.

دمداومت قيديې ځکه ورسره لګولى دى چې بلامداومته دهغه داعمل نه ښکاريږي اوبې له ښکاريدوڅخه دهغه عدالت نه ختميږي اودلهوپه طريقه قيديې ځکه ورسره ايښى دى چې ددواپه طريقه استعمال څخه احترازراشي ځکه چې ددواپه ډول خوړلوسره يې عدالت نه ساقطيږي اوداقيدچې له خمرڅخه سواداځکه چې دخمرويوه قطره هم عدالت ساقطوي.

(۳۰)هغه څوک چې په مارغانوباندي لوبې کوي مثلامرغ بازي وغيره دهغه هم گواهي نه قبليږي ځکه چې په مرغ بازي باندي غفلت پيدا کيږي اوبل له دي وجهې چې پرچتوباندي دمارغانودالوزلوڅخه دخلکوپرپرده باندي نظرلويږي.

(۳۱)همدارنګه دهغه چاګواهي هم نه قبليږي چې خلکو ته سندرې وايې ځکه چې دی خلک پرکبيره باندي سره جمع کوي .(۳۲)همدارنګه دهرهغه چاګواهي نه قبليږي چې له کبيره ګناهونو څخه ديوې داسې ګناه مرتکب شي چې دهغې سزاحدوي لکه زنا،غلا وغيره ځکه دا سيشخص فاسق دی.

(۳۳)وَلَا مَنْ يَدْخُلُ الْحَمَّامَ بِغَيْرِ إِزَارٍ (۳۴)وَيَأْكُلُ الرِّبوا (۳۵)ولا الْمُقَامِرِ بِالنَّرْدِ وَالشِّطْرَنْجِ (۳۶)ولا مَنْ يَفْعَلُ الْأَفْعَالَ الْمُسْتَخِفَةَ كَالْبَوْلِ عَلَى الطَّرِيقِ وَالْأَكْلِ عَلَى الطَّرِيقِ (۳۷)ولا تُقْبَلُ شَهَادَةُ مَنْ يُظْهِرُ سَبَّ السَّلَفِ.

ترجمه:اونه دهغه ګواهي قبليږي کوم چې حمام ته داخليږي بغيرجامه،اونه دهغه چې سود خوروي اونه دهغه چې قمارکوي په کتاريا شطرنج سره ،اونه دهغه شخص کوم چې خفيف او حقيرحرکات کوي لکه په لاره کې بولي کول اوپه لاره کې خوراک کول اونه قبليږي دهغه کس ګواهي کوم چې اسلافو ته برملا بدردوايي.

تشريح :(۳۳)هغه څوک چې بغيرپرده لوڅ لغړ حمام (په څينوښارونو کې پرښکاره ميدان خلک پريوه ځای لمبيږي له حمام څخه همدا صورت مراد دی) ته داخليږي نودهغه ګواهي نه قبليږي ځکه ستربښکارول حرام دی نوداسړی فاسق دی.(۳۵)اوهغه څوک چې په کتار(نَرد) يوقسم لوبه ده چې اردشيربن بابک دايران پاچاايجادکړې ده) ياشطرنج (مشهوره لوبه ده چې په شپږقسمه مهرسره لوبي کوي چې شاه فرزين،فيل،اسپ،رُخ اوپيدل ورته وايې) سره لوبې کوي دهغه ګواهي نه قبليږي ځکه چې له دي دواړو څخه هريو ګناه کبيره ده .

(۳۶)همدارنګه هغه څوک چې غلط اوسپک حرکات کوي (چې دمروت خلاف وی) لکه په لاره کې بولي کول ياپه لاره کې خوراک کول نودهغه ګواهي هم نه قبليږي ځکه داسړی دمروت پرېښودونکی دی نوچې دی په داسې کارونو نه شرميږي نوپه دروغ ويلوسره هم نه شرميږي لهذادی پخپله ګواهي کې متهم کيږي اودمتهم ګواهي نه قبليږي .

(۳۷)څوک چې دسلف صالحينو(صحابه کراموا وتابعينو) په باره کې بدګوئی ظاهره کړي نودهغه ګواهي هم نه قبليږي ځکه دهغه فسق ظاهردی، البته که بدګوئی پټه وساتی نودمستورکيدوپه وجه دهغه ګواهي مقبوله ده .

(۳۸)وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ إِلَّا الْخَطَّابِيَّةِ.

ترجمه:اوداهل هواء ګواهي قبليږي ماسوا له خطابيه فرقي څخه .

تشريح :(۳۸)داهل هواء (يعني بدعتيانو) ګواهي قبليږي ،سواله فرقه خطابيه (له رافضيانو څخه يوه ډله ده چې دخپلې ډلې لپاره ګواهي ورکول واجبه ګڼي که څه هم ددوئ ددلی انسان محض ددروغو مدعی وي) چې دهغوئ ګواهي نه قبليږي دتهمت دکذب په وجه .

(۳۹)وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ أَهْلِ الذِّمَّةِ بَعْضِهِمْ عَلَى بَعْضٍ وَإِنِ اخْتَلَفَ مِلَلُهُمْ (۴۰)ولا تُقْبَلُ شَهَادَةُ الْحَرْبِيِّ عَلَى الذِّمِّيِّ

ترجمه:اوذميانو ګواهي په خپل منځ کې يوپربل باندي قبليږي که څه هم دهغوئ ملتونه مختلف وي اودحربي ګواهي دذمي پرخلاف نه قبليږي .

تشریح :(۳۹)دذمیانو گواهي پخپلو کې دیوبل په خلاف قبلیږی که څه هم ددوئ ملتونو مختلف وي لکه دیهودو گواهي پرنصاری ؤباندي دنصاری ؤگواهي پریهودو لِأنّهم كانوا اعْدُواْ لِأَهْلِ دِينِهِم ،ولی ذمی پرخپل ځان اوخپل اولادباندی ولایت لري نوپرخپل جنس باندي دگواهي لیاقت هم لري پاتی شو دهغوئ اعتقادي فسق دهغوئ دگواهي قبلید ومانع نه دی ځکه کوم شی چې هغوئ پخپل دین کې حرام ګڼي له هغه څخه دوئ پرهیزکوي اودروغ ویل په ټولوادیانوکې حرام دي .(۴۰)دحربی مستامن گواهي دذمی په خلاف نه قبلیږی ځکه پرذمی باندي هغه هیڅ ولایت نه لري ولی ذمی په داراسلام کې اوسیږی دحربی نه دهغه حالت اعلی دی .

الالغاز:ای شهودشهدواعلی شریکین فقبلت علی احدهمادون الاخر؟
فقل:شهودنصاری شهدواعلی نصرانی ومسلم بعتق عبدمشتر.
الالغاز:ای مسلمین لم تقبل شهادتهمابشیء وشهدنصرانیان بضده فقبلت؟
فقل:نصرانی مات وله ابنان مسلمان شهدابنا انه مات نصرانیاو نصرانیان شهداانه مات مسلماقبل النصرانیان .(الاشباه والنظائر)

(۴۱)وَاِنْ كَانَتِ الْحَسَنَاتُ اَغْلَبَ مِنَ السَّيِّئَاتِ وَالرَّجُلُ مِمَّنْ يَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُ وَاِنْ اَلَمَّ بِمَعْصِيَةٍ .

ترجمه:اوکه دچانیکیاني دهغه پرصغیره گناهونوباندي غالبي وي اوداشخص له کبیره گناهونو څخه پرهیزکوي نودهغه گواهي قبلیږي که څه هم دکومي صغیري گناه مرتکب شي .

تشریح:(۴۱)که دیوچانیکیاني دهغه پرصغیره گناهونوباندي غالب وي اوله کبیره گناهونوڅخه یې پرهیزکړی وي نودهغه گواهي قبلیږی اودشرعی عادل همداتعریف دی ځکه له کبیره گناهونوڅخه پرهیزکول ضروري دی اوپه صغیره ؤکې دغالب اعتباردی دچاچې صغیره گناهونه زیات وي نودهغه گواهي متاثره کیږی اودچاچې صغیره گناهونه کم وي نودهغه گواهي قبلیږی ولی که له ټولوصغیره اوکبیره گناهونوڅخه پرهیزلازمي وگڼل شي نودشهادت دروازه بندیږی ،وَمَن الم بِمعصية یعنې که څه هم له صغیره گناهونونه په کومه گناه اخته شي .

(۴۲)وَتُقْبَلُ شَهَادَةُ الْاَقْلَفِ وَالْخَصِيِّ(۴۳)وَوَلَدِ الزِّنَا(۴۴)وَشَهَادَةُ الْخُنْثٰى جَائِزَةٌ .

ترجمه:او قبلیږي داقلف،خصي اوولدزناگواهي اودخنثی گواهي جائزده.

تشریح:(۴۲)دچاچې ختنه نه وي شوي دهغه گواهي قبلیږی ځکه دادهغه دعدالت مخل نه دی الاداچې که هغه داستخفاف بالدین په وجه سره پریښي وي نودهغه عدالت ساقطیږي ولی چې ددې عمل په وجه سره هغه عادل نه پاتي کیږي .همدارنګه دخصي گواهي هم قبلیږی ولی دهغه اندام په ظلم غوڅ کړای شوی دی نوداداسي دی لکه دیوچاچې لاس غوڅ شوی وي.
(۴۳)همدارنګه دولدزناگواهي هم قبلیږی ولی دموراوپلاردفاسق کیدوپه وجه دماشوم فاسق کیدل نه لازمیږی .(۴۴)همدارنګه دخنثی گواهي هم جائزه ده ولی خنثی به یانروي یابه ښځه وي ددوئ دواړوگواهی مقبوله ده نودخنثی گواهي هم قبلیږی،البته خنثی به دشهادت په باب کې ښځه شمارله کیږی.

(۴۵)وَإِذَا وَافَقَتِ الشَّهَادَةُ الدَّعْوَى قُبِلَتْ (۴۶) وَإِنْ خَالَفَتْهَا لَمْ تُقْبَلْ (۴۷) وَيُعْتَبَرُ اتِّفَاقُ الشَّاهِدَيْنِ فِي اللَّفْظِ وَالْمَعْنَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ.

ترجمه:گواهي که موافقه له دعوی سره وه نو بيا قبليږی او که له هغي مخالفه وه بيا نه قبليږی او دګواهانو په لفظ او معنی کې متفق کيدل شرط دي دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد.

تشريح:(۴۵)ګواهي که چيرته لفظًا او معنًی يا يواځې معنی ددعوی مطابق وه نو قبليږی.(۴۶)او که چيرته لفظًا او معنًی مطابق نه وه نو نه قبليږی ځکه په حقوق العباد کې تقدم ددعوی دشهادت د قبوليت لپاره شرط دی نو د موافقت په صورت کې د دې شرط د پرځای کيدلو په وجه سره ګواهي قبليږي او د نه موافقت په صورت کې د عدم شرط په وجه ګواهي نه قبليږی.

(۴۷)دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دګواهانو په لفظ او معنی کې متفق کيدل شرط دی، دصاحبينو رحمهما الله په نزد خالص معنوی موافقت شرط دی، نو که يوه ګواه دزرو ګواهي وکړي او بل ددوو زرو(په داسې حال کې چې مدعي هم ددوو زرو دعوی داردی) نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دا شاهدي نه قبليږی ځکه دلته دګواهانو ترمنځ لفظی اختلاف راځي کوم چې پر معنوي اختلاف باندې دال دی ولی چې معنی له لفظ څخه مستفاده ده. دصاحبينو رحمهما الله په نزد د يو زر په باره کې ددواړو ګواهي قبليږی ولی پر زرو باندې معنًی دواړه متفق دي. دامام ابو حنيفة رحمه الله قول راجح دی.

(۴۸)وَإِنْ شَهِدَ أَحَدُهُمَا بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفَيْنِ لَمْ تُقْبَلْ شَهَادَتُهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تُقْبَلُ بِالْأَلْفِ.

ترجمه:او که يوه ګواه پر زر او بل ګواه پر دوه زره ګواهي وکړه نو ددواړه ګواهي نه قبليږي دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد او امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله فرمايې چې په زرو کې قبليږي.

تشريح:(۴۸)دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دګواهانو په لفظ او معنی کې متفق کيدل شرط دی، دصاحبينو رحمهما الله په نزد خالص معنوی موافقت شرط دی، نو که يوه ګواه دزرو ګواهي وکړي او بل ددوو زرو په داسې حال کې چې مدعي هم ددوو زرو دعوی داردی) نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دا شاهدي نه قبليږی ځکه دلته دګواهانو ترمنځ لفظی اختلاف راځي کوم چې پر معنوي اختلاف باندې دال دی ولی چې معنی له لفظ څخه مستفاده ده. دصاحبينو رحمهما الله په نزد د يو زر په باره کې ددواړو ګواهي قبليږی ولی پر زرو باندې معنًی دواړه متفق دي.

(۴۹)وَإِذَا شَهِدَ بِأَلْفٍ وَالْآخَرُ بِأَلْفٍ وَخَمْسِمِائَةٍ وَالْمُدَّعِي يَدَّعِي أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا بِأَلْفٍ (۵۰) وَإِذَا شَهِدَا بِأَلْفٍ وَقَالَ أَحَدُهُمَا قَضَاهُ مِنْهَا خَمْسَمِائَةٍ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا بِأَلْفٍ وَلَمْ يُسْمَعْ قَوْلُهُ أَنَّهُ قَضَاهُ مِنْهَا خَمْسَمِائَةٍ (۵۱) إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ مَعَهُ الْآخَرُ (۵۲) وَيَنْبَغِي لِلشَّاهِدِ إِذَا عَلِمَ ذَلِكَ أَنْ لَا يَشْهَدَ بِأَلْفٍ حَتَّى يُقِرَّ الْمُدَّعِي أَنَّهُ قَبَضَ خَمْسَمِائَةٍ.

ترجمه:او که يوه دزرو او بل ديونيم زر ګواهي وکړه او مدعي هم ديونيم زرو دعوی داردی نو دزرو په باره کې دهغوئ ګواهي قبليږی او که ګواهي وکړه دواړو دزرو او له هغوئ څخه يوه وويل چې هغه اداکړي دي له

دغوزروڅخه پنځه سوه نوقبلیږی دزروپه باره کې اونه اوریدل کیږی دهغه داویناچې هغه اداکړي دي مګرداچې ګواهي ورکړي له هغه سره یوبل اوګواه لره پکاردی کله چې هغه ته دامعلومه وي چې ګواهي ورنکړي ترڅوچې مدعی اقراروکړي چې ماپنځه سوه قبض کړي یې دي.

تشریح:(۴۹) که یوه ګواه دزرواوبل دیونیم زرګواهي ورکړه اومدعي هم دیونیم زرودعوی داردی نودزروپه باره کې په اتفاق سره ګواهي قبلیږی ولی پرزروباندی دواړه ګواهان لفظًا ومعنًی اتفاق دي ځکه له عَلَيهِ اَلْفٌ وَخَمسُ مِائَةٍ دوي جملې دي علیه الف یوه اوخمس مائة بله جمله ده یوه پربله باندي عطف شوي ده اوپه عطف سره داول تقریرراځی نودزروپه ثابتولوکې دواړه ګواهان متفق دي.(۵۰) که دواړوګواهانوپرزرورروپوګواهي ورکړه اویوه ګواه وویل له دغوروپوڅخه هغه پنځه سوه اداکړي دي نودزروپه باره کې ددواړوګواهي قبلیږی ځکه پردغوباندي دواړه ګواهان متفق دي بیاچې کله یوګواه دپنځوسوودااکولوګواهي ورکوي نوداګواهي یې نه اوریدله کیږی ولی په دغه ګواهي کې دی یواځې دی.(۵۱) مګرداچې دوهم له ده سره ګواهي ورکړی نوبیاقبلیږی دلته بیانصاب دشهادت تامیږی .(۵۲) په مذکورصورت کې چې ګواه ته دامعلومه وي چې مدعی علیه پنځه سوه روپۍ اداکړي دي دهغه لپاره مناسبه داده چې ترڅوپوری چې مدعی دااقرارنه وکړي چې ماپنځه سوه وصول کړي دي ترهغه پوري دي دزروګواهي نه ورکوي چې ګواه دګواهي په ورکولوسره پرظلم باندي اعانت کوونکی نه شي ځکه داکیدای شي چې مدعی له وصول شویوپنځوسوڅخه انکاروکړي.

(۵۳)وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ أَنَّ زَيْدًا قُتِلَ يَوْمَ النَّحْرِ بِمَكَّةَ وَشَهِدَ آخَرَانِ أَنَّهُ قُتِلَ يَوْمَ النَّحْرِ بِالْكُوفَةِ فَلَوِ اجْتَمَعُوا عِنْدَ الْحَاكِمِ لَمْ يَقْبَلِ الشَّهَادَتَيْنِ(۵۴)فَإِنْ سَبَقَتْ إِحْدَاهُمَا وَقَضَى بِهَا ثُمَّ حَضَرَتِ الْأُخْرَى لَمْ تُقْبَلِ الشَّهَادَةُ

ترجمه: اوکه چیرته دوګواهانوګواهي ورکړه چې زیددقرباني په ورځ (دلوی اختر)په مکه مکرمه کې قتل کړای شواودوونوروګواهانوګواهي ورکړه چې هغه دقرباني په ورځ په کوفه کې قتل کړای شواوداټول دحاکم په وړاندي سره جمع شول نوحاکم به دواړه ګواهیاني نه قبلوي اوکه له دي څخه یوه ګواهي وړاندي وشوه چې دهغې مطابق حاکم فیصله وکړه بیادوهمه ګواهي ورکړای شوه نوداګواهي به نه قبلیږي.

تشریح:(۵۳) که دوودلوپریوه سړي باندي ګواهي ورکړه چې فلان زیدقتل کړمګریوې ډلې وویل سږکال په لسمه ورځ دذی الحجه (یعنې داخترپه ورځ) په مکه مکرمه کې اوبلې ډلې وویل چې په لسم دذی الحجه یې په مصرکې قتل کړ،اوداواړې ډلې دقاضی محکمې ته په یوه وخت کې حاضرشول نوقاضي دي ددواړودلوګواهي نه قبلوي ځکه له دواړوفریقوڅخه یوه یقیناکاذبه ده ولی یوقتل په دووځایونوکې واقع کیدل ناممکن دی)اویوه ډله هم تربلې اولی نه ده نوددواړوګواهي دي نه قبلیږی .(۵۴) اوکه له دواړودلوڅخه یوې ډلې مخکې ګواهي ورکړه اودهغې مطابق قاضی فیصله هم صادره کړه بیافریق ثانی دګواهي لپاره حاضرشونودهغه فریق ګواهي نه قبلیږی ولی دقاضی دقضاء داتصال په وجه مخکینی ګواهي ته ترجیح حاصله ده نوددوهمی ګواهي په وجه اوله ګواهي نه ماتیږی.

(۵۵)وَلَايَسْمَعُ الْقَاضِي الشَّهَادَةَ عَلٰى جَرْحٍ وَلَا يَحْكُمُ بِذٰلِكَ (۵٦)اِلَّا مَا اسْتَحَقَّ عَلَيْهِ۔

ترجمه : اونه دي اوري قاضی پرجرح باندي گواهي اونه دي پرهغي حکم کوي مگر دچاچي استحقاق ثابت شي.

تشريح :(۵۵) يعنې قاضی پرجرح باندي شهادت نه اوري مثلامدعی عليه دعوی وکړه چې دمدعی گواهان فاسقين دي ياداچې مدعی گواهان په پيسوراوستي دي اوپردي يې گواه هم قائم کړل نوقاضی به دهغه طرفته التفات نه کوي اونه به پرهغه حکم کوي بلکې په پټه اوښکاره به ددغوگواهانوپه باره کې تحقيق کوي که دهغوئ عدالت ثابت شونودهغوئ گواهي قبليږی که نه نه قبليږي ولی قاضی ماموربالسترده اوپه دي ډول گواهي اوريدوکې بي عزتي ده.(۵۶)البته که چيرته حق شرع ياحق عبدته متضمن وونودجرح داسي گواهي اوريدله کيږی ځکه چې په دي صورت کې دحقوقودخوندي کولولپاره گواهي ورکول ضروري ده،که څه هم په دي صورت کې هم بی عزتی ده مگرهغه ضمناده مثلاشهودالجرح وويل دمدعي گواهانوزناکړي ده يايې غلاکړي ده ماليې چورکړی دی يايې څوک عمداًوژلی دی.

(۵۷)وَلَايَجُوْزُ لِلشَّاهِدِ اَنْ يَشْهَدَ بِشَيْءٍ لَمْ يُعَايِنْهُ (۵۸)اِلَّا النَّسَبَ وَالْمَوْتَ وَالنِّكَاحَ وَالدُّخُوْلَ وَوِلَايَةَ الْقَاضِيْ فَاِنَّهُ يَسَعُهُ اَنْ يَشْهَدَ بِهٰذِهِ الْاَشْيَاءِ اِذَا اَخْبَرَهُ بِهَا مَنْ يَثِقُ بِهِ۔

ترجمه: اوگواهي دي نه ورکوي دهغه شي په باره کې چې ده ليدلی نه وي سِوادنسب ،مرگ،نکاح دخول،اودولايت قاضی نه چې په دغوکې دگواهي ورکولوگنجائش شته کله چې کوم معتمدکس ددغوشيانوخبرورکړي.

تشريح:(۵۷) دگواهانولپاره داجائزه نه ده چې دداسی شيانوگواهي ورکړي چې ليدلي يې نه وي ځکه شهادت له مشاهده څخه مشتق دی اومشاهده په معائنه سره کيږی چې هغه دلته نشته (۵۸)البته دنسب،مرگ،نکاح،دخول اوولايت قاضی په باره کې دغسی گواهي ورکول هم صحيح دی په دي شرط چې قابل اعتمادخلکوددغواموروپه باره کې خبرورکړی وي نوگواه ته استحساناداجائزدی چې دهغوپه باره کې گواهي ورکړي وجه يې داده چې مذکورشيان داسی دی چې خاص خلک دهغوپه معائنه کولوپوري مختص وي په داسی حال کې چې په دغواموروسره داسی احکام متعلق وي چې دديري مودي لپاره پاتيږي نوکه ددغواموروپه باره کې داوريدوگواهي قبوله نه شي نونتيجه به يې داشي چې ډيراحکام به معطل شي ولی چې گواهان موجودنه دي نوثبوت ممکن نه دی.

(۵۹)وَالشَّهَادَةُ عَلَى الشَّهَادَةِ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ حَقٍّ لَا يَسْقُطُ بِالشُّبْهَةِ (٦۰)وَلَا تُقْبَلُ فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ۔

ترجمه :اوشهادة علی الشهادة په هرهغه کې جائزده کوم چې په شبه سره نه ساقطيږي اوپه حدودواوقصاص کې نه قبليږي.

تشريح :(۵۹) شهادة علی الشهادة (مثلاپريوه معامله باندي دوه گواهان دي بياهغوئ پرخپله گواهي باندي نورگواهان کړل يعنې هغوئ ته يې وويل :تاسي گواهان شئ چې موږپردوئ باندي گواهان يو،اول ته

اصل گواه اودوهم ته فرع گواه ویل کیږي) استحساناً په هرداسې حق کې جائزه شوې ده چې په شبهه سره نه ساقطیږي ،وجه داستحسان شدت احتیاج دی ځکه کله اصل گواه دځینوعوارضوپه وجه دگواهي اداکولوڅخه عاجزکیږي مثلاناروغ وي یاپه سفرکې وي نوکه پرگواهي باندي گواهي اداکول جائزنه شي نودحقوقودضائع کیدوموقع آسانه کیږي .(۶۰)البته په حدودواوقصاص کې شهادة برشهادة نه دی جائز،ځکه حدوداوقصاص په شبهاتوسره ساقطیږي اوپه شهادة علی الشهادة کې یوقسم شبهه شته ولی شهادة دفروع داصولوبدل دی اوپه بدل کې داصل په نسبت یوقسم شبهه وي .

(۶۱)وَيَجُوْزُ شَهَادَةُ شَاهِدَيْنِ عَلَى شَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ (۶۲)وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُ وَاحِدٍ عَلَى شَهَادَةِ وَاحِدٍ۔

ترجمه :اوددووگواهانوپرگواهي باندي ددووگواهانوگواهي جائزده اونه دي قبليږي دیوه پرگواهي باندي دیوه گواهي .

تشریح :(۶۱) یعني د دووگواهانو پرگواهي باندي ددووگواهانوگواهي جائز ده مثلازیداوبکردوه اصل گواهان دي بیادوه کسان له دوئ دواړوڅخه دزیدپرگواهي باندي گواهان شول بیادبکرپرگواهي باندي گواهان شول نوداجائزده ده ولی گواهي نقل کول له حقوقوڅخه دی نودوئ دواړودزیددحق گواهي ورکړه بیایې ددوهم حق نوځکه ددوئ گواهي مقبوله ده ولی ددووگواهانوگواهي پردووحقوقوباندي جائزه ده.(۶۲) البته دیوه اصل پرگواهي باندي دیوه فرع گواهي نه قبلیږي ولی دیوه په گواهي سره حق نه ثابتیږي .

(۶۱)وَيَجُوْزُ شَهَادَةُ شَاهِدَيْنِ عَلَى شَهَادَةِ شَاهِدَيْنِ (۶۲)وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُ وَاحِدٍ عَلَى (۶۳)وَصِفَةُ الْاِشْهَادِ اَنْ يَقُوْلَ شَاهِدُ الْاَصْلِ لِشَاهِدِ الْفَرْعِ اِشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِيْ اَنِّيْ اَشْهَدُ اَنَّ فُلَانَ ابْنَ فُلَانٍ اَقَرَّ عِنْدِيْ بِكَذَا وَاَشْهَدَنِيْ عَلَى نَفْسِهِ (۶۴)وَاِنْ لَمْ يَقُلْ اَشْهَدَنِيْ عَلَى نَفْسِهِ جَازَ۔

ترجمه :اودگواه جوړولوطریقه داده چې اصل گواه فرع گواه ته ووایي چې ته گواه شه زماپرگواهي باندي چې زه گواهي ورکوم چې فلان بن فلان زماپه مخکي داسي داسي اقرارو کړاوزه یې پرخپل ځان باندي گواه جوړکړم اوکه اصل گواه داونه وایي چې اشهدني علی نفسه نوهم جائزده .

تشریح :(۶۳) پرگواهي باندي دگواهانو قائمولوطریقه داده چې اصل گواه خپل فرع گواه مخاطب کړي داسي ورته ووایي چې تاسي گواهان شئ زماپرگواهي باندي چې زه گواهي ورکوم چې فلان ابن فلان زماپه وړاندي داسي اوداسي اقراراکړی دی اوبیایې زه پرخپل ځان باندي گواه کړم ،داځکه ضروري ده چې اصل گواه دفرع په وړاندي داسي گواهي ورکړي لکه دقاضی په وړاندي چې گواهي ورکوي چې بیافرع دهغوئ گواهي دقاضی ومجلس ته نقل کړي .(۶۴)اوکه اصل گواه داونه ویل چې اشهدني علی نفسه نوهم جائزده ولی چاچې دبل چااقراروارید ونودهغه گواهي جائزده که څه هم هغه دی گواه جوړنه کړي .

(۶۵)وَيَقُوْلُ شَاهِدُ الْفَرْعِ عِنْدَ الْاَدَاءِ اَشْهَدُ اَنَّ فُلَانًا اَشْهَدَنِيْ عَلَى شَهَادَتِهِ اَنَّهُ يَشْهَدُ اَنَّ فُلَانًا اَقَرَّ عِنْدَهُ بِكَذَا وَقَالَ لِيْ اِشْهَدْ عَلَى شَهَادَتِيْ بِذٰلِكَ فَاَنَا اَشْهَدُ بِذٰلِكَ۔

ترجمه : او فرع گواه به دگواهي اداء کولو پروخت داډول وايي چې زه گواهي ورکوم چې فلان زه گواه کړم پرخپل هغه گواهي باندي چې فلان مقردهغه په مخکي ددومره حق اقرارکړی دی او هغه ماته وويل چې ته گواه شه زما پردغه گواهي ورکولو باندي نوزه دهغه پرگواهي باندي گواهي ورکوم.

تشريح :(۶۵)دگواهي اداء کولوپروخت به فرع گواه داډول وايي چې زه گواهي ورکوم چې فلان شخص زه پرخپله گواهي باندي گواه کړم چې هغه گواهي ورکوي چې فلان مقردهغه په وړاندي پردومره حق باندي اقراروکړاو اصل گواه ماته وويل چې ته زما پردي گواهي باندي گواه شه ځکه چې دفرع گواه گواهي ضروري ده اود اصل گواه دگواهي ذکرکول اودهغه فرع گواه لره دگواه جوړولو ذکرکول هم ضروري ده نوزه دهغه گواهي ورکوم.

(۶۶)وَلَاتُقْبَلُ شَهَادَةُشُهُوْدِالْفَرْعِ اِلَّااَنْ يَمُوْتَ شُهُوْدُالْاَصْلِ اَوْيَغِيْبُوْامَسِيْرَةَثَلَاثَةِاَيَّامٍ فَصَاعِدًااَوْيَمْرَضُوْا مَرَضًالَايَسْتَطِيْعُوْنَ مَعَهُ حُضُوْرَمَجْلِسِ الْحَاكِمِ.

ترجمه :اودفرع شاهدانوگواهي نه قبليږي مگرداچې اصل گواه مړه شوي وي ياددريوورځويالەدي څخه دزيات مسافت په اندازه غائب وي ياداسي سخت ناروغه وي چې دحاکم په مجلس کې دحاضريدلواستطاعت نه لري.

تشريح :(۶۶) دفرع گواهانوگواهي نه قبليږی البته که په وخت کې داداکيدواصل گواه مړ شوی وياداسي سخت ناروغ ووچې دحاکم ترعدالت پوري نه شوحاضريدلای یاتردري ورځي یاترهغه په زياته مسافه غائب وو نو بيادفرع گواهي قبليږی ولی شهادةعلی الشهادة دضرورت په وجه جائزشوی دی اوضرورت هله پيداکيږی چې اصل گواه دگواهي اداکولوڅخه عاجزوي اوپه مذکوره امورو سره عجزثابتيږی.

(۶۷)فَاِنْ عَدَّلَ شُهُوْدَالْاَصْلِ شُهُوْدُالْفَرْعِ جَازَوَاِنْ سَكَتُوْاعَنْ تَعْدِيْلِهِمْ جَازَوَيَنْظُرُالْقَاضِيْ فِيْ حَالِهِمْ.

ترجمه :اوکه فرع گواه داصل گواه تعديل وکړنوداجائزده اوکه هغه داصل له تزکيه اوتعديل څخه خاموش پاتي شونوهم جائزده اوقاضي به په خپله دهغه تحقيق کوي.

تشريح :(۶۷) که فرع گواهانوداصل گواهانوتعديل وکړنوداجائزدی ځکه هغوئ دتعديل اوتزکيه لياقت لري،اوکه فرع داصل له تزکيه اوتعديل څخه خاموش شول نوهم جائزدی اوقاضی به خپله داصل گواهانوتحقيق کوي کمااذاحضرواباانفسهم وشهدوا.

(۶۸)وَاِنْ اَنْكَرَشُهُوْدُالْاَصْلِ الشَّهَادَةَلَمْ تُقْبَلْ شَهَادَةُشُهُوْدِالْفَرْعِ.

ترجمه :اوکه اصل گواهانوله گواهي څخه انکاروکړنودفرع گواهانوگواهي به نه قبليږي.

تشريح :(۶۸) اوکه اصل گواهانوله گواهي څخه انکاروکړمثلاوييې ويل :مالنا شهادة علی هذه الحادثة يايې داسي وويل :لم نشهدهم،بيامړشويا غائب شوبيافرع گواهان راغلل ددوئ پرگواهي باندي گواهي ورکوي

نودفرع گواهانو دغه گواهي نه قبليږي ځکه داصل گواهانودوئ لره پرخپله گواهي باندي گواهان گرځول ثابت نه شول لِلتَّعَارُضِ بَيْنَ الْخَبَرَيْنِ حال داچې اصل فرع لره گواهان گرځول شرط دی.

(۶۹)وَقَالَ أَبُوْ حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ فِي شَاهِدِ الزُّوْرِ أُشَهِّرُهُ فِي السُّوْقِ وَلَا أُعَزِّرُهُ وقالا رَحِمَهُمَا اللَّهُ نُوجِعُهُ ضَرْبًا وَنَحْبِسُهُ۔

ترجمه: او امام ابو حنیفه رحمه الله په دروغو دگواهي داداء کونکو په باره کې فرمايي چې زه به بازارکې هغوئ مشهوره کړم او سزا به ورنه کړم او صاحبين رحمهما الله فرمايي چې موږ به په وهلو سره هغوئ ته تکليف ورکړو او بنديان به يې کړو.

تشريح: (۶۹) امام ابوحنيفة رحمه الله فرمايي چې كه چادردروغودگواهي اقراروکړنودداسی خلکوزه پرسرعام تشهيرکوم چې داددروغو دگواهي اداکولواقرارکوي، امام صاحب رحمه الله فرمايي چې شاهدالزور(ددروغوگواهي اداكوونكى) دي وهل كيږي نه ځكه مقصودانزجاردی هغه په تشهيرسره حاصليږي، صاحبين رحمهما الله فرمايي چې شاهدالزورموږوهوا وقيدكوويې تردي چې توبه وكړي ځكه دعمر رضي الله عنه په باره کې مروي دی چې ده رضي الله عنه شاهدالزورڅلويښت درې ووهه اومخ يې ورتورکړاوپه کليوېې وګرځاوه او قيديې کړ.دامام ابوحنيفه رحمه الله قول مفتی به دی.

كتَابُ الرُّجُوع عن الشهادة

داکتاب له شهادة څخه درجوع په بيان کې دی

کتاب الرجوع عن الشهادة دکتاب الشهادات ديوباب په درجه کې دی ځکه رجوع عن الشهادة داحکام شهادات لاندي مندرج دی ځکه يې له كتاب الشهادات وروسته كتاب الرجوع عن الشهادة ذكركړی دی، درجوع عن الشهادة معنی داده چې گواه مخکې گواهي ورکړي بيا له خپلې گواهي څخه وګرځي.

درجوع عن الشهادة لپاره رکن دشاهد قول: رجعت، مماشهدت به ياشهدت بزورفيماشهدت به، دی اودهغه لپاره شرط دادی چې دقاضی په دربارکې درجوع اعلان وكړي، اودهغه حكم دادی چې رجوع كوونكي لره په هرحال کې تعزيروي كه قاضی دهغه دگواهي مطابق حکم کړی وي اوکه يې نه وي کړی البته كه مشهودبه مال وواودگواه دگواهي اودقاضی دفيصلې وروسته گواه رجوع کړې وي اومشهودبه يې بلاعوض زائل کړی وي نو بيابه پرگواه باندي له تعزيرسره ضمان هم وي.

(۱)وَإِذَا رَجَعَ الشُّهُوْدُ عَنْ شَهَادَتِهِمْ قَبْلَ الْحُكْمِ بِهَا سَقَطَتْ شَهَادَتُهُمْ وَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ (۲)فَإِنْ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِمْ ثُمَّ رَجَعُوْا لَمْ يُفْسَخِ الْحُكْمُ وَوَجَبَ عَلَيْهِمْ ضَمَانُ مَا أَتْلَفُوْهُ بِشَهَادَتِهِمْ (۳)وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوْعُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْحَاكِمِ۔

ترجمه: او كه گواه له خپلې گواهي څخه وګرځيدل دهغې مطابق له حکم کولو څخه وړاندي نو دهغوئ گواهي ساقطيږي او پرهغوئ تاوان هم نشته او كه قاضی دهغوئ دگواهي مطابق حکم ورکړ بيا هغوئ رجوع

وکړه نو حکم نه منسوخ کیږي او پر ګواهانو دهغه شی تاوان لازم دی کوم چې هغوئ په خپله ګواهي سره تلف کړی دی او رجوع عن الشهادة صحیح نه ده مګر د حاکم په حضور کې.

تشریح:(۱) که ګواهانو ګواهي ورکړه مګر قاضی تراوسه دد دوئ د ګواهي مطابق حکم نه وو جاري کړی چې ګواهانو له خپلي ګواهی څخه رجوع وکړه مثلاویې ویل :رجعنا عمّا شهدنا به،نو دهغوئ ګواهي ساقطیږی حاکم دهغوئ پر ګواهي باندي حکم نه شي کولای ولی دهغوئ په کلام کې تناقض دی او قاضی دمتناقض کلام مطابق حکم نه کوي،پر رجوع کوونکیو باندي هیڅ تاوان نه لازمیږی ځکه هغوئ په خپلی ګواهي سره نه مدعي او نه مدعی علیه ته کوم تاوان رسولی دی.

(۲)که قاضی دګواهانو دګواهي مطابق حکم وکړ بیا ګواهان دخپلی ګواهي څخه وګرځیدل نو د قاضی حکم نه منسوخ کیږی ولی دهغوئ آخری کلام پر رښتینوالي باندي په دلالت کولو کې داول په شان دی په داسی حال کې چې اول ته دقاضی دحکم داتصال په وجه ترجیح حاصله وه لهذا آخر کلام یې له اول سره نه شي معارض کیدلای او ګواهانو چې په خپله ګواهي سره څه تلف کړي دي دهغه ضمان پر دوئ باندي واجب دی ولی رجوع عن الشهادة دګواهانو له طرفه دتعدی اعتراف دی نو پر دوئ باندي ضمان لازم دی.

دګواهانو له ګواهي څخه ګرځیدل صحیح نه دی مګر داچې دحاکم په موجودګي کې رجوع وکړي ځکه چې رجوع عن الشهادة دګواهي فسخ کول دی نو په کومه موقع پوري چې ګواهي مختصه ده په هغه پوري فسخ هم مختصه کیږی او هغه دقاضی مجلس دی.

(۳)وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِمَالٍ فَحَكَمَ الْحَاكِمُ بِهِ ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا الْمَالَ لِلْمَشْهُوْدِ عَلَيْهِ (۵) وَإِنْ رَجَعَ أَحَدُهُمَا ضَمِنَ النِّصْفَ.

ترجمه:او که دوو ګواهانو ګواهي ورکړه او حاکم دهغوئ دګواهي مطابق حکم ورکړ بیا هغوئ له ګواهي وګرځیدل نو ګواه مشهود علیه لره دمال ضامن ګرځي او که له دواړو څخه یوه رجوع وکړه نو هغه دنصف مال ضامن ګرځي.

تشریح:(۴)که دوو ګواهانو دمال ګواهي ورکړه او حاکم دهغوئ دګواهي مطابق حکم وکړ ګواهي څخه دحاکم په موجودګی کې رجوع وکړه نو ګواهان دمشهود علیه لپاره دمال مشهود به ضامن کیږی ولی دتعدی په ډول مسبِّب کیدل موجب ضمان دی.(۵) که له دوو ګواهانو څخه یوه رجوع وکړه نو هغه دنصف مال ضامن ګرځي،په دي باره کې اصل دادی چې له ګواهانو څخه کوم یو چې پر ګواهي باندي ثابت قدم پاتی وي دهغه پاتی کیدل معتبر دی او کوم یو چې وګرځید دهغه ګرځیدل نه دی معتبر او دلته یو ګواه باقی دی چې دهغه دشهادت په وجه نصف حق هم باقي دی.

(۶) وَإِنْ شَهِدَ بِالْمَالِ ثَلَاثَةٌ فَرَجَعَ أَحَدُهُمْ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ (۷) فَإِنْ رَجَعَ آخَرُ ضَمِنَ الرَّاجِعَانِ نِصْفَ الْمَالِ.

ترجمه:او که درو کسانو ګواهي ورکړه او یو له ګواهي څخه وګرځید نو نه ضامن کیږی او که بل هم وګرځید نو دواړه دنصف ضامنان ګرځي.

تشريح: (۶) که دروګواهانو د مال ګواهي اداکړه بيا د قاضي د حکم وروسته يوه ګواه رجوع وکړه نو پر هغه باندي هيڅ ضمان نشته ولی له هغه بغير هم دومره ګواهان پاتی دی چې د هغوی په ګواهي سره پوره حق ثابتيږی .(7) او که له باقی دوو څخه هم يوه رجوع وکړه نو پر رجوع کوونکي باندی د نصف مال تاوان لازميږی ولی ديوه ګواه د باقی کيدو په وجه نصف حق پاتيږی ځکه نو پر رجوع کوونکي باندي يوازې د نصف حق ضمانت راځي.

(۸) وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ فَرَجَعَتْ امْرَأَةٌ ضَمِنَتْ رُبْعَ الْحَقِّ (۹) وإنْ رَجَعَتَا ضَمِنَتَا نِصْفَ الْحَقِّ.

ترجمه: او که ګواهي ورکړي يو سړی دوې ښځې بيا يوه ښځه وګرځيده نو د ربع ضامنه کيږي او که دوې ښځې وګرځيدې نو دواړې د نصف ضامنې کيږي.

تشريح: (۸) که يوه سړي دوو ښځو د مال ګواهي ورکړه بيا يوې ښځې رجوع وکړه نو هغه د ربع حق ضامنه ګرځي ځکه ديوه سړي او يوې ښځې د باقی پاتی کيدو په وجه دری حصی باقي پاتي شوې.(۹) او که دوو ښځو رجوع وکړه نو دواړې د نصف حق ضامنې ګرځي ځکه ديوه سړي د باقی کيدو په وجه نصف حق پاتي شو نو لهذا دواړې ښځې د نصف حق ضامنې ګرځي.

(۱۰) وَإِنْ شَهِدَ رَجُلٌ وَعَشْرُ نِسْوَةٍ فَرَجَعَ ثَمَانُ نِسْوَةٍ مِنْهُنَّ فَلا ضَمَانَ عَلَيْهِنَّ (۱۱) فَإِنْ رَجَعَتْ أُخْرَى كَانَ عَلَى النِّسْوَةِ رُبْعُ الْحَقِّ (۱۲) فَإِنْ رَجَعَ الرَّجُلُ وَالنِّسَاءُ فَعَلَى الرَّجُلِ سُدُسُ الْحَقِّ وَعَلَى النِّسْوَةِ خَمْسَةُ أَسْدَاسِ الْحَقِّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالا رَحِمَهُمَا اللهُ عَلَى الرَّجُلِ النِّصْفُ وَعَلَى النِّسْوَةِ النِّصْفُ.

ترجمه: او که ګواهي ورکړي يو سړی او لس ښځې بيا اته ښځې وګرځيدې نو نه ضامنې کيږی او که يوه بله وګرځيده نو ګرځيدونکې ټولې د ربع ضامنې کيږي او سړی او ښځې ټولې وګرځيدې نو دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد پر سړی د ټول مال يو سدس دی او پر ښځې باندي پنځه حصي او صاحبين فرمايې چې پر سړی نصف حق او باقی نصف حق پر ښځو لازميږي.

تشريح :(۱۰) که يوه سړي لسو ښځو د مال ګواهي ورکړه بيا د قاضی د حکم وروسته اتو ښځو له ګواهي څخه رجوع وکړه نو پر هغوئ باندي ضمان نشته ځکه له ګواهي څخه تراوسه لا دومره قدر باقي دی (يعنې يو سړی دوې ښځې) چې د هغوی په ګواهي سره کل حق ثابتيږی .(۱۱) بيا که له باقی دوو ښځو څخه يوې بلې هم رجوع وکړه نو پر ټولو رجوع کوونکيو باندي ربع حق واجبيږی ولی د سړي باقی کيدو په وجه نصف حق باقی دی او ديوې ښځې په ګواهی سره ربع حق باقی پاتی دی يوازې ديوې ربع رجوع کوونکې ښځې ضامنې دي.

(۱۲) که په مذکورصورت کې سړی او ټولې ښځې له ګواهي څخه رجوع وکړي نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد پر سړي باندی د کل مال شپږمه حصه واجبيږی او پر ښځو باندي باقی پنځه حصی واجبيږی ولی هرې دوې ښځي ديوه سړي قائم مقام دی نو ديوه سړي لسو ښځو ګواهي دلسو نارينه وُګواهي شمارل کيږی بيا چې کله ټولو رجوع وکړه نو پر يوه سړي باندي د ټول مال شپږمه حصه واجبيږی.

صاحبين رحمها الله په نزد پر سړي نصف حق او پر ښځو باندي باقي نصف حق لازميږي ولې ښځې که څه هم ډيري شي ټولي ديوه سړي قائم مقام وي همدا وجه ده چې صرف دښځو شاهدي قبوله نه ده ترڅوچې له هغوئ سره يو نارينه نه وي .دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی.

(۱۳) وَاِنْ شَهِدَ شَاهِدَانِ عَلَى امْرَأَةٍ بِالنِّكَاحِ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا اَوْ اَكْثَرَ ثُمَّ رَجَعَا فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمَا وَاِنْ شَهِدَا بِاَقَلَّ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ ثُمَّ رَجَعَا لَمْ يَضْمَنَا النُّقْصَانَ (۱۴) وَكَذَالِكَ اِذَا شَهِدَا عَلَى رَجُلٍ بِتَزْوِيْجِ امْرَأَةٍ بِمِقْدَارِ مَهْرِ مِثْلِهَا اَوْ اَقَلَّ (۱۵) فَاِنْ شَهِدَا بِاَكْثَرَ مِنْ مَهْرِ الْمِثْلِ ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا الزِّيَادَةَ۔

ترجمه: او که دوو ګواهانو پر يوي ښځې باندي دهغې په مهرمثل يا زيات سره دنکاح ګواهي ورکړه بيا دواړو رجوع وکړه نو پر هغوئ هيڅ ضمان نشته او که دوو ګواهانو له مهرمثل څخه پر لږ باندي ګواهي ورکړه بيا دواړو رجوع وکړه نو دواړه دنقصان ضامن نه ګرځي او همدا شان که دوو ګواهانو پر کوم سړي باندي له ښځې سره دهغې دمهرمثل يا له هغه څخه پر لږ باندي دنکاح کولو ګواهي ورکړه او که ګواهانو له مهرمثل څخه دزيات ګواهي ورکړه بيا دواړو رجوع وکړه نو دزيادت ضامن ګرځي .

تشريح :(۱۳) که دوو ګواهانو پر يوه ښځه باندي په عوض دمهرمثل يا کم يا زيات سره دنکاح ګواهي ورکړه بيا دقاضي دحکم وروسته دواړو ګواهانو له خپله ګواهي څخه رجوع وکړه نو پر هغوئ باندي هيڅ ضمان نشته ځکه چې په وخت داتلاف منافع دبضع متقومي نه وي ولې تضمين دمماثلت مقتضي دی ولامماثلة بين البضع والمال .

(۱۴) همدارنګه که ګواهانو پر يوه سړي باندي داګواهي ورکړه چې هغه له فلانۍ ښځې سره دهغې دمهرمثل په عوض نکاح کړي ده بيا دقاضي دحکم وروسته ګواهانو رجوع وکړه نو پر هغوئ باندي هيڅ ضمان نشته ولې په وخت ددخول په مِلک کې بضع متقومه کيږي نو دااتلاف په عوض شوا و اتلاف په عوض دعدم اتلاف په شان دی .

(۱۵) که ګواهانو ترمهرمثل دزيات عوض دنکاح کولو ګواهي ورکړه بيا دقاضي دحکم وروسته دواړو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو ترمهرمثل دزيات مقدار ضامنان کيږي ولې زائد مقدار دخاوند حق دی چې هغوئ بلاعوض تلف کړ ځکه هغوئ ضامنان ګرځي .

(۱۶) وَاِنْ شَهِدَا بِبَيْعِ شَيْءٍ بِمِثْلِ الْقِيْمَةِ اَوْ اَكْثَرَ ثُمَّ رَجَعَا لَمْ يَضْمَنَا (۱۷) وَاِنْ كَانَ بِاَقَلَّ مِنَ الْقِيْمَةِ ضَمِنَا النُّقْصَانَ۔

ترجمه: او که دوو ګواهانو ديوشي دهغه په مثل قيمت يا پر زيات قيمت دخرڅولو ګواهي ورکړه بيا دواړو رجوع وکړه نو نه ضامن کيږي او که يې له مثل قيمت څخه پر لږ باندي ګواهي ورکړه نو دنقصان ضامن ګرځي .

تشريح :(۱۶) که دوو ګواهانو ديوشي دهغه دمثل قيمت يا دزيات قيمت دخرڅيدو ګواهي ورکړه بيا دواړو رجوع وکړه نو ضامنان کيږي نه ځکه دعوض موجوديدو په وجه معنیً دااتلاف نه شمارل

کيږي(۱۷)که دوا ړو ترمثل قيمت نه په کم عوض د خرڅيد و ګواهي ورکړه نو ترمثل عوض چې څومره کم دی دهغه مقدار د بائع لپاره ضامنان کيږي ولی ګواهانو دبائع د ملک دا جزء بلاعوض تلف کړ.

(۱۸)وَاِنْ شَهِدَا عَلٰی رَجُلٍ اَنَّهٗ طَلَّقَ اِمْرَاَتَهٗ قَبْلَ الدُّخُوْلِ بِهَا ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا نِصْفَ الْمَهْرِ(۱۹)وَاِنْ كَانَ بَعْدَ الدُّخُوْلِ لَمْ يَضْمَنَا(۲۰)وَاِنْ شَهِدَا اَنَّهٗ اَعْتَقَ عَبْدَهٗ ثُمَّ رَجَعَا ضَمِنَا الْقِيْمَةَ.

ترجمه: او که دوو ګواهانو پر کوم شخص باندي ګواهي ورکړه چې هغه خپلې ښځې ته له دخول څخه وړاندي طلاق ورکړی یا دوا ړو رجوع وکړه نو د نصف مهر ضامن ګرځي او که يې بعد الدخول ګواهي ورکړه نو نه ضامن کيږي او که دوو ګواهانو پر چا داسې ګواهي ورکړه چې هغه خپل غلام ازاد کړی یا دوا ړو رجوع وکړه نو دوا ړه دغلام د قيمت ضامن ګرځي.

تشريح: (۱۸)که دوو کسانو پر يوه سړي باندي دا ګواهي ورکړه چې هغه خپلې ښځې ته تر دخول مخکي طلاق ورکړی یا دوا ړو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو د نصف مهر ضامنان ګرځي ځکه هغوئ پخپله ګواهي پر خاوند باندي يو قريب السقوط مال (نصف مهر) لازم کړ او نصف مهر قريب السقوط ځکه دی چې دا امکان وو چې ښځه مرتده (العياذ بالله) کيږي یا پر خپل ځان باندي د زوج زوی ته قدرت ورکوي نو کل مهر ساقطيږي.

(۱۹)او که ګواهانو پر چا باندي له دخول وروسته ګواهي ورکړه چې هغه خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی یا دوا ړو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو پر ګواهانو باندي هيڅ ضمان نه راځي ځکه مهر پر خاوند باندي د دخول په وجه لازم شوی دی باقی دبضع په وخت دخروج له مِلکه هيڅ قيمت نشته کما مر نو پر متلِف باندي هيڅ شی نه لازميږي.

(۲۰)که دوو ګواهانو پر يو چا باندي دا ګواهي ورکړه چې هغه خپل مريی آزاد کړ چې هغه آزاد شو یا دوا ړو د خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو دوا ړه دهغه مريی د قيمت ضامنان کيږي ولی هغوئ مالية د مريي بلاعوض تلف کړ.

(۲۱)وَاِنْ شَهِدَا بِقِصَاصٍ ثُمَّ رَجَعَا بَعْدَ الْقَتْلِ ضَمِنَا الدِّيَةَ(۲۲)وَلَا يُقْتَصُّ مِنْهُمَا.

ترجمه: او که دوو ګواهانو پر چا باندي د قصاص ګواهي ورکړه بيا ګواهانو رجوع وکړه نو د ديت ضامنان ګرځي او له ګواهانو څخه به قصاص نه اخيستل کيږي.

تشريح: (۲۱)که دوو ګواهانو پر يو چا باندي د قصاص ګواهي ورکړه مثلاً ګواهي يې ورکړه چې زيد بکر له عمداً قتل کړی دی چې زيد قصاصاً قتل شو اوس ګواهانو له خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نو ګواهان د زيد د وارثانو لپاره د ديت ضامنان کيږي.(۲۲) البته له ګواهانو څخه قصاص نه اخيستل کيږي ولی هغوئ د قتل مباشرت نه دی کړی او نه يې پر چا باندي د قتل لپاره جبر کړی دی.

(۲۳)وَاِذَا رَجَعَ شُهُوْدُ الْفَرْعِ ضَمِنُوْا(۲۴)وَاِنْ رَجَعَ شُهُوْدُ الْاَصْلِ وَقَالُوْا لَمْ نُشْهِدْ شُهُوْدَ الْفَرْعِ عَلٰی شَهَادَتِنَا فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِمْ(۲۵)وَاِنْ قَالُوْا اَشْهَدْنَاهُمْ وَغَلِطْنَا ضَمِنُوْا.

ترجمه: او که فرع ګواهانو رجوع وکړه نو ضامن کيږي او که اصل ګواهانو رجوع وکړه او وي ويل چې موږ فرع ګواهان پر ګواهي باندي ګواه نه دي جوړ کړي نو پر اصل ګواهانو باندي ضمان نشته او که هغوئ وويل چې موږ فرع ګواهان ګواه جوړ کړي وو او له موږ څخه غلطي شوي وه نو ضامن کيږي.

تشريح:(۲۳) که فروع ګواهانوله خپلی ګواهي څخه رجوع وکړه نوضامنان کيږي مثلااصل ګواهانو پر خپله ګواهي باندي نور خلک ګواهان کړل هغوئ دخپلواصلو ګواهانو پر ګواهي باندي ګواهي ورکړه بيافرع ګواهان له خپلی ګواهي څخه وګرځيدل نوکوم څه چې هغوئ پخپله ګواهي سره تلف کړ دهغه ضامن کيږي ځکه دقاضی په محکمه کې شهادت له هغوئ څخه صادر شوی دی نو دتلف کيدو نسبت هغوئ ته کيږی.

(۲۴) که دفرع ګواهانو پر ګواهي باندي له حکم جاري کيدو وروسته اصل ګواهانو رجوع وکړه ويې ويل موږ فرع ګواهان پر خپله ګواهي باندي ګواهان کړي نه دي نو پر اصل ګواهانو باندي ضمان نشته ځکه هغوئ له خپل سبب کيدو (يعنې دګواه ګرځيدو) څخه انکار وکړ او بوجه تعارض خبرين دقاضی حکم هم نه باطليږي.

(۲۵) که اصل ګواهانو وويل چې موږ فرع ګواهان ګواهان کړي وو مګر له موږ څخه غلطي شوي ده،نو بيا چې دفرع ګواهانو په ګواهي سره څه تلف شوي دي اصل ګواهان دهغه ضامنان ګرځي ځکه فروع ګواهانو داصولو دګواهي نقل کړی دی نو داداسي دی لکه اصل ګواهان چې خپله دقاضی محکمې ته حاضر شوي وي.

(۲۶) وَإِنْ قَالَ شُهُوْدُ الْفَرْعِ كَذَبَ شُهُوْدُ الْأَصْلِ أَوْ غَلَطُوْا فِي شَهَادَتِهِمْ لَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى ذَالِكَ

ترجمه: او که شهود الفرع وويل چې شهود الاصل درواغ ويلي دي يا شهود الاصل په شهادت کې غلطي کړي نو دي ته به التفات نه کيږي.

تشريح:(۲۶) شهود الفرع (دهغوئ دګواهي مطابق دقاضی دحکم له جاري کيدو نه پس) وويل :شهود الاصل دروغ ويلي دي يادا چې شهود الاصل غلط شوي دي نو دهغوئ دي خبري ته التفات نه کيږي ځکه دقاضی چې کوم حکم نافذ شوی دی هغه اوس ددوئ په دي خبره سره نه ماتيږي او نه پر هغوئ باندي ضمان واجب دی ولی هغوئ له خپلی ګواهي څخه رجوع نه ده کړي.

(۲۹) وَإِذَا شَهِدَ شَاهِدَانِ بِالْيَمِيْنِ وَشَاهِدَانِ بِوُجُوْدِ الشَّرْطِ ثُمَّ رَجَعُوْا فَالضَّمَانُ عَلَى شُهُوْدِ الْيَمِيْنِ خَاصَّةً

ترجمه: او که څلور ګواهانو دزنا ګواهي ورکړه او دوو داحصان ګواهي ورکړه بيا داحصان ګواهانو رجوع وکړه نو نه ضامن کيږي او که تزکيه کونکو رجوع وکړه نو ضامن کيږي.

تشريح:(۲۷) که څلور کسانو ديو چا دزنا کولو ګواهي ورکړه او دوو ګواهانو دهغه سړي دمحصن (محصن هغه بالغ آزاد مسلمان دی چې په صحيح نکاح سره يې وطی کړي وي) کيدو ګواهي ورکړه بيادهغه سړي دسنګسار يدو وروسته ټولو ګواهانوله ګواهي څخه رجوع وکړه نو په دغه صورت کې دزنا پر ګواهي

ورکوونکوباندي ضمان راځي او دمحصن پرګواهي ورکونکوباندي ضمان نه راځي ځکه حکم دسبب طرف ته مضافيږي اودلته سبب زناده بخلاف احصان چې هغه شرط دی موجب درجم نه دی .

(۲۸)که دګواهانوتزکيه کوونکواوتعديل کوونکوله خپل تعديل څخه رجوع وکړه نوکوم نقصان چې دمدعی عليه شوی دی رجوع کوونکي دهغه ضامنان دي ولی دهغوئ دتعديل په وجه دګواهانوګواهي دقاضی دحکم قابله شوي ده ځکه قاضی دګواهي مطابق بلاتزکيه عمل نه کوي نوتزکيه دشهود دعلة العلة په معنی شو.

واذاشهدشاهدان باليمين وشاهدان بوجود الشرط ثم رجعوا فالضمان على شهود اليمين خاصة

ترجمه:اوکه دووګواهانودقسم پراخيستلوګواهي ورکړه اودووګواهانودوجودشرط ګواهي ورکړه بيادواړوفريقورجوع وکړه نوضمان صرف دقسم پرګواهانوباندي راځي .

تشريح:(۲۹)که دووګواهانودقسم پراخيستلوګواهي ورکړه (مثلاوي ويل چې زيدقسم اخيستی دی چې که فلان مکان ته ولاړم نوزماغلام ازاددی)اودوونوروګواهانودشرط دمتحقق کيدلوګواهي ورکړه (يعني ګواهي يې ورکړه چې زيدمذکورمکان ته داخل شو)بيادواړوفريقوله خپلې ګواهي څخه رجوع وکړه نوضمان به صرف دقسم اخيستلوپرګواهانوراځي ولی چې دازادي سبب همداقسم دی اودتلف کولونسبت دهغوګواهانوطرف ته کيږي کوموچې سبب ثابت کړی دی نه ددشرط محض دثابتونکوطرف ته .

كِتَابُ ادب القاضی

داکتاب دادب قاضی په بيان کې دی

څرنګه چې غالبادقاضی قضاءپرشهاداتوموقوفه وي اوقضاء دقاضی فعل دی اوقاضی محتاج الی الاداب دی له دي وجي له شهاداتوڅخه وروسته اداب قاضی ذکرکوي .اوادب په خپل ځان کې اودخلګوپه معاملاتوکې په جميله اخلاقواوحميده خصالوسره شائسته کيدلوته ويل کيږي .

اداب دادب جمع ده کوم چې په قيام اوقعودکې حسن الاحوال ،ښواخلاقواودحميده خصالواجتماع ته ويل کيږي .اوقضاء په شريعت کې فصل الخصومات اوقطع المنازاعات ته ويل کيږي . دقضاء لپاره شپږشرطونه دي چې ابن الغرس په لاندي نظم کې بيان کړي دي :

اطراف کل قضية حکمية :ست يلوح بعدهاتحقيق :

حکم ومحکوم به وله :ومحکوم عليه وحاکم وطريق.(المعتصرالضروری :ص ۶۹۴)

(۱)وَلَاتَصِحُّ وِلَايَةُ الْقَاضِي حَتّٰى يَجْتَمِعَ فِي الْمُوَلّٰى شَرَائِطُ الشَّهَادَةِ (۲)وَيَكُوْنَ مِنْ اَهْلِ الْاِجْتِهَادِ

ترجمه: او د قاضي ولايت صحيح نه دی ترڅو چې په قاضي جوړيدونکي کې د شهادت شرطونه جمع شي او هغه له اهل اجتهاد څخه وي.

تشريح: (۱) ولايت قاضي يعنی قاضي جوړيدل ترهغو صحيح نه ده ترڅوچې په قاضي جوړيدونکي کې دشهادت شرطونه جمع شي مثلاً عاقل، بالغ مسلمان وغيره وغيره کيدل وجه داده چې دقضاء حکم هم له دشهادت له حکم څخه مستفاد دی ولی چې قضاء او شهادت هريو دولايت له قسمه دی لهذا کوم چې له شهادت سره لائق وي هغه دقضاء لائق هم دي او کوم شرطونه چې داهليت شهادت دي هغه شرطونه داهليت قضاء هم دي.

(۲) داهم شرط دی چې قاضي به داجتهاد اهليت لري مګر صحيح داده چې داجتهاد اهليت داولويت شرط دی نو غيرمجتهد لره قاضي جوړول داحنافو په نزد صحيح دی ځکه چې غيرمجتهد قاضي داکولای شي چې دکوم بل مجتهد په فتوی باندي حکم جاري کړي په دي ډول سره دقضاء مقصود حاصليږي.

(۳) وَلَا بَأْسَ بِالدُّخُولِ فِي الْقَضَاءِ لِمَنْ يَثِقُ بِنَفْسِهِ أَنَّهُ يُؤَدِّي فَرْضَهُ (۴) وَيُكْرَهُ الدُّخُولُ فِيهِ لِمَنْ يَخَافُ الْعَجْزَ عَنْهُ وَلَا يَأْمَنُ عَلَى نَفْسِهِ الْحَيْفَ فِيهِ (۵) وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَطْلُبَ الْوِلَايَةَ وَلَا يَسْأَلُهَا

ترجمه: او په قاضي جوړيدلو کې څه مضائقه نشته داسي کس لره چې پرخپل ذات باندي اعتماد لري چې زه خپل فرض اداکولای شم او مکروه ده هغه کس لره چاته چې د فرض په اداء کولو کې خطره وي او په دي کې پرخپل ځان باندي له ظلم کولو څخه اطمينان نه وي او مناسبه نه ده چې ولايت قضاء طلب کړي او دولايت سوال دي نه کوي.

تشريح: (۳) د داسي چالپاره قاضي مقرر کيدل هيڅ باک نه لري څوک چې پرخپل ځان باورلري چې زه خپل فرض اداکولای شم يعني دشريعت داصولو مطابق حکم کولای شم ولی ډيرو صحابه کرامو او تابعينو رحمهم الله دقضاء عهده قبوله کړي ده چې دهغوئ پيشوائي زموږلپاره کافي ده. (۴) له چاسره چې دعاجزي ويره وي چې زه په مشروع طريقه سره خپل فرض نه شم اداء کولای او چاسره چې پرخپل ځان په حکم قضاء کې له ظلم څخه دنه محفوظ والی ويره وي هغه لره قاضي جوړيدل مکروه ده لقول النبي ﷺ: مَنْ جُعِلَ عَلَى الْقَضَاءِ فَكَأَنَّمَا ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ) (يعني څوک چې دقضاء پرمنصب مقرر کړای شي نو ګواکي هغه بي له چړي حلال کړای شو)) مګرصحيح داده چې که څوک دقضاء اهل وي او پرخپل ځان يې باوروونو هغه لره په دي تمه دقضاء عهده قبلولو رخصت شته چې عدل به قائم کړي.

(۵) انسان ته پکاردی چې دولايت قضاء طلب نه په زړه سره وکړي اونه دهغه طلب او درخواست په ژبه سره وکړي لقوله ﷺ: مَنْ طَلَبَ الْقَضَاءَ وُكِّلَ إِلَى نَفْسِهِ وَمَنْ أُجْبِرَ عَلَيْهِ نَزَلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ يُسَدِّدُهُ (يعني که چاد قضاء طلب وکړنو هغه دخپل نفس پراعتماد باندي پريښودل کيږي او څوک چې دقضاء منصب ته مجبور کړای شي نو پرهغه باندي يوه فرشته نازليږي چې هغه پرسمه لاربرابروساتي).

(٦) وَمَنْ قُلِّدَ الْقَضَاءَ يُسَلَّمُ اِلَيْهِ دِيْوَانُ الْقَاضِي الَّذِيْ كَانَ قَبْلَهُ (٧) وَيَنْظُرُ فِي حَالِ الْمَحْبُوْسِيْنَ فَمَنْ اِعْتَرَفَ مِنْهُمْ بِحَقٍّ اَلْزَمَهُ اِيَّاهُ وَمَنْ اَنْكَرَ لَمْ يَقْبَلْ قَوْلَ الْمَعْزُوْلِ عَلَيْهِ اِلَّا بِبَيِّنَةٍ (٨) فَاِنْ لَمْ تَقُمِ الْبَيِّنَةُ لَمْ يَعْجَلْ بِتَخْلِيَتِهِ حَتّٰى يُنَادِيَ عَلَيْهِ وَيَسْتَظْهِرَ فِي اَمْرِهِ (٩) وَيَنْظُرُ فِي الْوَدَائِعِ وَاِرْتِفَاعِ الْوُقُوْفِ فَيَعْمَلُ عَلٰى حَسْبِ مَا تَقُوْمُ بِهِ الْبَيِّنَةُ اَوْ يَعْتَرِفُ بِهِ مَنْ هُوَ فِيْ يَدِهِ (١٠) وَلَا يَقْبَلُ قَوْلَ الْمَعْزُوْلِ اِلَّا اَنْ يَعْتَرِفَ الَّذِيْ هُوَ فِيْ يَدِهِ اَنَّ الْمَعْزُوْلَ سَلَّمَهَا اِلَيْهِ فَيَقْبَلُ قَوْلَهُ فِيْهَا

ترجمه: اوکوم کس چې قاضی مقرر کړای شو نو هغه ته دي هغه رجسټرو سپاري کوم چې له ده څخه دوړاندي قاضي وو او دبندیانو دحالاتو جاج دي واخلي نو کوم بندي چې دچا دحق اقرار وکړ نو هغه دي پر هغه لازم کړي اوکوم بندي چې انکار وکړ نو دمعزول قاضي قول دي دهغه په باره کې نه منل کیږي مګر په ګواهانو سره او که پربندي باندي ګواه قائم نه شول نو دهغه په خلاسولو کې دي تلوار نه کوي ترڅو چې دهغه په باره کې اعلانونه وکړي او دهغه په معامله کې دي انتظار وکړي او (نوی قاضی دي) دودائعو او داوقافو دحاصلاتو تحقیق وکړي نو عمل دي وکړي پر کوم ډول چې ګواه قائم شي یا چې دچا په قبضه کې وي او هغه یې اعتراف وکړي او عمل دي نه کوي دمعزول قاضي په قول مګر دا که قابض اقرار وکړي چې دا ده ته معزول قاضي ور کړی دی نو په دي صورت کې دي دهغه قول قبول کړي .

تشريح :(٦) یعني کوم څوک چې قاضی مقرر شي دهغه اول عمل به داوي چې دسابقه قاضی دیوان به طلبوي (له دیوان څخه مراد دپوستکي هغه کڅوړه ده چې دحفاظت په ډول رجسټرا و کاغذان په ساتلي اوخوله یې بنده وي) ځکه دیوان ددي لپاره وي چې دحاجت په وخت حجة وي نو چالره چې ولایت دقضاء حاصل وي دهغه په قبضه کې ورکول کیږي .

(٧) اونوی قاضي بایداول دبندیانو حال واخلي ولی قاضی دمسلمانانو نګران مقررشوی دی ،یاکه کوم بندي پرخپل ځان باندي دچا دحق اقرار وکړ نو دغه قاضي به داحق دهغه داقرار په وجه لازم کړي .اوکه کوم بندي وویل چې پرما باندي هیڅ حق نشته بلاوجه بندي یم او مخکنی قاضي وویل چې نه دی دفلانکي دحق په وجه بندي دی نو دده په باره کې به صرف دمعزول قاضي قول نه قبلیږي ځکه چې معزول قاضي اوس یو عام وګړی دی اودیوه وګړي ګواهي معتبره نه ده،.(٨) اوکه پردغه بندي باندي ګواهان هم قائم نه وو نو نوی قاضي به دهغه په خوشي کیدو کې تلوار نه کوي بلکې انتظار دي وکړي او په مجموع ځایونو او بازارونو کې به دا اعلانات وکړي چې که دچا حق پر هغه باندي وي نو حاضر دي شي ځکه په تلوار کولو کې داسي پیښه نه شي چې دچا حق ضائع شي.

(٩) نوي قاضي لره پکار دي چې دودائعو (هغو امانتونو چې معزول شوي قاضي امینانو ته په قبضه کې ورکړي وي) اودوقف دحاصلاتو تحقیق وکړي یعني ودي ګوري چې دشرائطو موافق تقسیمیږي که نه،پر دوائعو وغیره باندي چې په څه ډول ګواهان قائم وی یادچا په قبضه کې وي هغه ددي اعتراف وکړي دهغه مطابق عمل دي وکړي ولی ګواه او اعتراف هریو حجت دی .(١٠) ددي په باره کې هم دمعزول قاضي

قول معتبرنه دی مګرداچې دچاپه لاس کې ودائع یاحاصلات وقف وی هغه ددي اعتراف وکړي چې ماته معزول قاضي سپارلي وونودمعزول قاضی قول به قبليږي .

(۱۱)وَيَجْلِسُ لِلْحُكْمِ جُلُوْسًا ظَاهِرًا فِي الْمَسْجِدِ(۱۲)وَلَا يَقْبَلُ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ ذِيْ رَحْمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ أَوْ مِمَّنْ جَرَتْ عَادَتُهُ قَبْلَ الْقَضَاءِ بِمُهَادَاتِهِ(۱۳)وَلَا يَحْضُرُ دَعْوَةً إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ عَامَّةً(۱۴)وَيَشْهَدُ الْجَنَازَةَ وَيَعُوْدُ الْمَرِيْضَ۔

ترجمه:اوقاضی دي دفيصلي پروخت په ښکاره په مسجدکې کښيني اوقاضی دي دچاهديه نه قبلوي مګردخپل ذی رحم محرم يادداسي کس له کوم سره چې دقضاء له عهدي وړاندي دده دهديې اخيستلواوورکولو عادت جاري وواوقاضی دي دچاميلمستياته نه ورځي مګرداچې عامه ميلمستياوي اوقاضی دي جنازي ته حاضريږي اودمريض پوښتني ته دي ورځي .

تشريح:(۱۱) قاضی ته پکاردی چې دفيصلی په وخت سرعام په مسجدکې کښيني اودښارپه منځ کې دي يومسجدانتخاب کړی دخلګوداسانتياپاره .(۱۲) قاضی دي دهيچاهديه نه قبلوي چې دقضاء په وجه دودی خوړونکی نه شي، ،البته له خپلومحرمينوهديه اخيستلای شي ولی دذی رحم محرم هديه اخيستل صله رحمي ده ،همدارنګه دداسي چاهديه اخيستلای شي دچاسره چې پخواترقاضی کيدودهديه اخيستلوعادت ووولی دغه هديه داسی معلوميږی چې دقاضی کيدوپه وجه نه ده بلکې دسابقه عادت په وجه دی.

(۱۳)قاضی دي دچادعوة ته نه ورځي مګرداکه دعوة عام ووبيا ورتلای شي ولی خاص دعوة دهغه دقاضی کيدوپه وجه کيږي نودهغه په قبليدوکې متهم کيږي خلاف له عام دعوت نه چې دهغه په قبليدوکې هيڅ تهمت نشته.(۱۴)قاضی لره جائزده چې دکوم مسلمان په جنازه کې حاضرشي اودناروغانوعيادت کول هم جائزدی ولی دادمسلمانانوله حقوقوڅخه دي.

(۱۵)وَلَا يُضِيْفُ أَحَدَ الْخَصْمَيْنِ دُوْنَ خَصْمِهِ(۱۶)فَإِذَا حَضَرَا سَوَّى بَيْنَهُمَا فِي الْجُلُوْسِ وَالْإِقْبَالِ(۱۷)وَلَا يُسَارُّ أَحَدَهُمَا وَلَا يُشِيْرُ إِلَيْهِ وَلَا يُلَقِّنُهُ حُجَّةً۔

ترجمه :اوقاضی دي له متخاصمينوڅخه يوه ته دعوت نه کوي چې بل پريږدي اوکله چې مدعی اومدعی عليه دواړه حاضرشي نوپه کښينولواوتوجه کولوکې دي برابري وکړي اوله کوم يوه سره دي پټي پټي خبري نه کوي اونه دي کوم يوه ته اشاره کوي اونه دي کوم يوه ته دحجت تلقين کوي .

تشريح :(۱۵) قاضی دي داسی نه کوي چې له متخاصمينوڅخه يوه ته دعوت وکړي بل پريږدی ځکه په داسی کولوکې قاضی متهم کيږی چې ښايې دهغه طرف ته يې ميلان دی.(۱۶) کله چې مدعی اومدعی عليه دواړه حاضرشي نوددواړوپه کښيناستلواوتوجه کولوکې به برابري کوي يعنې چې کله يوپريوه ځای کښينوي نوهغه بل به هم پرهغه ځای کښينوي اودواړوته دي په يودول متوجه وي.(۱۷) قاضی له فريقينوڅخه ديوه فريق سره نه ګوښه کيږي اونه دي يوه طرفته په لاس ياسرسره اشاره کوي اونه دي يوه فريق ته دحجت تلقين ورکوي ولی په دغوکارونوکې ديوه په ترسره کولوسره دهغه بل خصم زړه ماتيږي .

(۱۸) وَإِذَا ثَبَتَ الْحَقُّ عِنْدَ الْقَاضِي وَطَلَبَ صَاحِبُ الْحَقِّ حَبْسَ غَرِيْمِهِ لَمْ يُعَجِّلْ بِحَبْسِهِ وَأَمَرَهُ بِدَفْعِ مَا عَلَيْهِ.

ترجمه: او کله چې قاضی په حضور کې حق کې ثابت شي او صاحب حق دخپل مقروض دبندي کیدلو مطالبه وکړي نو قاضی دي دهغه په بندي کولو کې تلوار نه کوي او هغه ته دي حکم وکړي دهغه داداء کولو کوم چې پر ده باندي دی.

تشريح: (۱۸) یعنی کله چې دقاضی په حضور کې دیوه حق پر هغه بل باندي ثابت شي او هغه دخپل مقروض دبندي کولو غوښتنه وکړي نو قاضی دي دهغه په بندي کولو کې تلوار نه کوي بلکه مقروض ته دي حکم وکړي چې پر تا چې څه ثابت شول هغه ورکړه ولی بندي کول دمقروض دپوردنه اداء کولو سزا ده نو دمقروض ظلم ښکاره کیدل ضروري دي لهذا ترڅو چې نه وي ښکاره شوي په بندي کولو کې دي تلوار نه کوي. بیا که هغه دحق له اداء کولو څخه منع شو نو اوس دي هغه بندي کړي ولی اوس دهغه ظلم ښکاره شوي.

(۱۹) فَإِنِ امْتَنَعَ حَبَسَهُ فِي كُلِّ دَيْنٍ لَزِمَهُ بَدَلاً عَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ كَثَمَنِ الْمَبِيْعِ وَبَدَلِ الْقَرْضِ أَوِ الْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ كَالْمَهْرِ وَالْكَفَالَةِ (۲۰) وَلَا يَحْبِسُهُ فِيْمَا سِوَى ذَالِكَ إِذَا قَالَ إِنِّي فَقِيْرٌ (۲۱) إِلَّا أَنْ يُثْبِتَ غَرِيْمُهُ أَنَّ لَهُ مَالاً (۲۲) وَيَحْبِسُهُ شَهْرَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ يَسْأَلُهُ عَنْهُ فَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ مَالٌ خَلّٰى سَبِيْلَهُ.

ترجمه: بیا که هغه له اداء کولو څخه منع شو نو هغه دي د هر هغه قرض په بدل کې بندي کړي چې دهغه په بدل کې ده ته مال په لاس ورغلی وي لکه دمبیع ثمن او دقرض بدل یا یې دعقد په ذریعه سره دهغه التزام کړی وي لکه مهر او کفاله او له دي څخه په ماسوا کې دي نه بندي نه کوي کله چې هغه ووایې چې زه فقیریم مګر دا چې قرض خواه هغه لره مال ثابت کړي او دوه یا دري میاشتي دي هغه بندي کړي بیا دي دهغه په باره کې تحقیق وکړي بیا هغه لره مال ظاهر نه شو نو هغه دي ایله کړي.

تشريح: (۱۹) یعني که دقاضی دحکم ورکولو وروسته مقروض دحقدار دحق اداکولو څخه انکار وکړ نو قاضی دي د هر داسی قرض په بدل کې قید کړي چې دداسی مال عوض وي چې هغه قبض کړی وي لکه دمقبوضی مبیعی ثمن او دقرض بدل ځکه چې کله هغه مال قبض کړ نو هغه غني ثابت شو او س نو هغه ځان اچونکی شمارل کیږي، همدارنګه دي هغه د هر داسي قرض په بدل کې قید کړي چې خپله پر هغه باندي دعقد په ذریعه لازم شوی وي لکه مال مهر او مال کفاله، ځکه ددي اقدام کول چې پر خپل ځان مال لازم کړي دهغه دغني کیدو دلیل دی ولی دا ظاهره ده چې هر څوک دداسی مال التزام کوي چې هغه اداکولای شي.

(۲۰) له مذکوره بالادوه قسمه قرضو څخه په ماسواکې دي نه بندي کوي مثلا په بدل خلع او مغصوب وغیره کې په دي شرط چې مقروض دخپل فقیروالی دعوی وکړي ځکه چې اصل دهغه تنګ لاسي دي. (۲۱) البته که قرض غوښتونکي دهغه لپاره مال ثابت کړ نو بیا دي بندي کړي ځکه چې ظلم ښکاره شو. (۲۲) او دوه یا دري میاشتي یا زیات وکم تر دومره مودي پوري دي بندي کړي په څومره موده کې چې دا ښکاریږي چې که له ده سره مال وای نو ده به اداء کړی وای او په دغه دوران کې دي دهغه له

کاونډيانو او قريبانو څخه دهغه پوښتنه وکړي بياکه دده مال ظاهرنه شونو هغه دي خوشي کړي ولی دپراختياتر راتلو پوري هغه دمهلت مستحق دی فيکون حبسه بعد ذالک ظلما.

(۲۳) ولا يَحُوْلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَاءِهٖ.

ترجمه: او حائل دي نه جوړيږي دهغه او دهغه دقرض غوښتونکو په منځ کې.

تشريح: (۲۳) يعنی له قيد څخه ترخوشي کيدلو وروسته دي قاضي دمقروض او دهغه دقرض غوښتونکي ترمنځ حائل نه ګرځی البته که چيرته هغه دکوم ضرورت لپاره خپل کورته داخل شی نو قرض غوښتونکی دي دهغه کورته نه داخليږی بلکې دباندي دي دهغه انتظار وکړي.

(۲۴) وَيُحْبَسُ الرَّجُلُ فِي نَفَقَةِ زَوْجَتِهٖ (۲۵) ولا يُحْبَسُ الْوَالِدُ فِي دَيْنِ وَلَدِه (۲۶) إِلَّا إِذَا امْتَنَعَ مِنَ الْإِنْفَاقِ عَلَيْهِ.

ترجمه: او خاوند دي دهغه دښځې دنفقي په بدل کې قيد کړای شي او پلار دهغه دولد دقرضي په بدل کې نه شي قيد کيدای مګر داچې پلار له نفقي ورکولو څخه منع وکړي.

تشريح: (۲۴) که خاوند خپلې ښځې ته نفقه نه ورکوله نو هغه دي قيد کړای شی ولی هغه دحق په نه ورکولو سره ظالم دی. (۲۵) پلار دي دزوی دقرض په وجه نه قيدا کړای کيږي ولی قيد کيدل يو قسم عقوبت دی او زوی پرخپل پلار دعقوبت استحقاق نه لري. (۲۶) البته که زوی مستحق دنفقي وو او پلار يې له نفقی ورکولو څخه انکار وکړي نو پلار يې قيد کړای کيږی له دي وجي ترڅو له بچيانو څخه هلاکت دفع شي.

(۲۷) وَيَجُوزُ قَضَاءُ الْمَرْأَةِ فِي كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا فِي الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ.

ترجمه: او په ټولو امورو کې دښځې قاضی جوړيدل جائز ده مګر په حدودو او قصاص کې.

تشريح: (۲۸) يعنی له حدودو او قصاص څخه علاوه په باقي ټولو حقوقو کې ښځه قاضی جوړيدای شي دښځې پرګواهي په قياس کولو سره ځکه چې دښځې ګواهي له حدودو او قصاص څخه ماسوا په نورو ټولو حقوقو کې معتبره ده.

(۲۹) وَيُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي فِي الْحُقُوْقِ إِذَا شُهِدَ بِهٖ عِنْدَهٗ (۳۰) فَإِنْ شَهِدُوْا عَلٰى خَصْمٍ حَاضِرٍ حَكَمَ بِالشَّهَادَةِ وَكَتَبَ بِحُكْمِهٖ (۳۱) وَإِنْ شَهِدُوْا بِغَيْرِ حَضْرَةِ خَصْمٍ لَمْ يَحْكُمْ وَكَتَبَ بِالشَّهَادَةِ لِيَحْكُمَ بِهَا الْمَكْتُوْبُ إِلَيْهِ.

ترجمه: او دقاضی خط په حقوقو کې قبليږي کله چې پرخط ګواهي دهغه په مخ کې ورکړي بياکه يې دمدعی عليه په مخ کې ګواهي ورکړه نو دګواهي مطابق دي حکم وکړي او خپله فيصله دي وکړي او که يې دمدعی عليه په نه موجودوالی کې ګواهي ورکړه نو فيصله دي نه کوي او ګواهي دي وليکي ترڅو دهغه مطابق مکتوب اليه فيصله وکړي.

تشريح: (۲۹) يو قاضی که بل قاضی ته دداسي حقوقو په باره کې خط وليکو کوم چې په شبه سره نه ساقطيږي نو داخط به قبليږي په دي شرط چې دمکتوب اليه قاضی په حضور کې دوه ګواهان په دي ګواهي ورکړي چې داد فلانکی قاضی خط دی. (۳۰) او که ګواهانو دخط ليکونکې قاضی په مجلس کې په حاضر مدعی عليه باندي ګواهي ورکړه نو قاضی به ددوئ دشهادت مطابق حکم ورکړي او بل قاضی ته خپل

حکم ولیکي ترڅو هغه یې نافذ کړي (داپه دي صورت کې ده چې دقاضی له حکم څخه وروسته مدعی علیه بل ښارته ولاړ نو قاضی به دهغه بل ښارقاضی ته حکم ولیکي اودهغه په واسطه به یې پرمحکوم علیه باندي نافذ کړي).

(۳۱)اوکه گواهانودمدعی علیه په نه موجودگي کې گواهي ورکړه نوبیادي قاضي پردغه مدعی علیه باندي حکم نه کوي ځکه مدعی علیه غائب دی اوقضاءپرغائب باندي جائزه نه ده ،البته دگواهانوگواهی دي مکتوب الیه قاضی ته ولیکي چې هغه دهغه موافق پرمدعی علیه باندي حکم وکړي.

(۳۲)وَلَا يُقْبَلُ الْكِتَابُ إِلَّا بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ (۳۳)وَيَجِبُ أَنْ يَقْرَأَ الْكِتَابَ عَلَيْهِمْ لِيَعْرِفُوا مَا فِيهِ ثُمَّ يَخْتِمَهُ وَيُسَلِّمَهُ إِلَيْهِمْ.

ترجمه:اوخط دي نه قبولوي مگردد ونارینه وپه گواهي سره یادیوه سړی اودووښځوپه گواهي سره اوواجب ده چې هغه به خط گواهانوته وراوروي ترڅوچې په خط کې څه دي گواهان پري خبرشي بیادي پرهغه مهرولگوي اوگواهانوته دي وسپاري.

تشریح :(۳۲)یعنی مکتوب الیه قاضی دي دکاتب قاضی خط نه قبلوي مگرددووگواهانوپه گواهي سره یادیوه نارینه دووښځوپه گواهي سره ولی ددروغواحتمال شته ځکه دگواهانوضرورت دی،مگرداهغه وخت چې خصم انکاروکړي چې داخط دقاضی نه دی اوکه هغه مُقِروونوبیادگواهانوضرورت نشته.(۳۳) کاتب قاضي ته پکاردی چې هغه داخط وړونکوگواهانوته ووایې ورووایې ورووي یادهغه مضمون ورواوروي ځکه گواهي بغیرعلم نه کیږي بیادي دگواهانوپه مخکي پرهغه باندي مهرولگوي چې هرډول شک اوشبهه ختمه شي بیادي خط وگواهانوته حواله کړي.

(۳۴)وَإِذَا وَصَلَ إِلَى الْقَاضِي لَمْ يَقْبَلْهُ إِلَّا بِحَضْرَةِ الْخَصْمِ (۳۵)فَإِذَا سَلَّمَهُ الشُّهُودُ إِلَيْهِ نَظَرَ إِلَى خَتْمِهِ فَإِذَا شَهِدُوا أَنَّهُ كِتَابُ فُلَانٍ الْقَاضِي سَلَّمَهُ إِلَيْنَا فِي مَجْلِسِ حُكْمِهِ وَقَضَائِهِ وَقَرَأَهُ عَلَيْنَا وَخَتَمَهُ فَتَحَهُ الْقَاضِي وَقَرَأَهُ عَلَى الْخَصْمِ وَأَلْزَمَهُ مَا فِيهِ (۳۶)وَلَا يُقْبَلُ كِتَابُ الْقَاضِي إِلَى الْقَاضِي فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ.

ترجمه:اوکله چې داخط مکتوب الیه قاضی ته ورسیږي نوهغه دي نه قبلوي مگردخصم په حضورکې نوکله چې گواه خط هغه ته حواله کړي نوقاضی دي دهغ مهروگوري بیاچې کله گواه گواهي ورکړي چې دادفلان قاضی خط دی هغه داخط موږته په خپل مجلس حکم اوقضاء کې وسپاره اوموږته یې راواوراووااوپردي مهرولگاوونومکتوب الیه قاضی دی هغه خلاس کړي اوخصم ته دي ورواوروي اوپه خط کې چې څه وي هغه دي پرهغه لازم کړي اوکتاب القاضی الی القاضی به په حدودواوقصاص کې نه قبلیږي.

تشریح :(۳۴)یعنی کله چې داخط مکتوب الیه قاضی ته ورسیږي نودخصم دحضوربغیر(یعني دمدعی علیه په نه موجودگي کې)دهغه خط نه قبلوي ځکه داخط دگواهي اداکولوپه مرتبه کې دی ځکه نودمدعی علیه حضورضروري دی . (۳۵)بیاچې کله گواهان دخصم په حضورکې خط وقاضی ته حواله کړي نوقاضی

دي. دهغه مهروګوري چې ويې پيژني بياچې ګواهان ګواهي ورکړي چې داخط دفلانقاضي دی هغه موږداخط دخپل قضاء اوحکم په مجلس کې راکړاوموږته يې واوراوه اوپرهغه يې مهرولګاوه نومکتوب اليه قاضي دي هغه پرانيسي خصم ته دي وروااوروي اوپه خط کې چې څه وي هغه دي پرخصم لازم کړي.

(۳۶)دحدودواوقصاص په باره کې يوقاضي دبل قاضي خط نه قبلوي ځکه خط ديوچادبل چاپه دول کيدای شي ممکنه ده داخط چې دکوم قاضي بلل کيږي دهغه دي نه وي نوشبهه پيداشوه والحدودتندرأبالشبهاتِ (يعني حدوددشبهې په وجه ليري کيدای شي) .

(۳۷)وَلَيسَ لِلقَاضِي اَنْ يَسْتَخْلِفَ عَلَى الْقَضاءِ اِلَّا اَنْ يُفَوِّضَ اِلَيهِ ذَالِکَ.

ترجمه: اوقاضي لره دنائب دټاکلو اختيارنشته مګرداچې هغه ته اختيارورکړل شوی وي.

تشريح: (۳۷) قاضي ته دااختيارنشته چې دقضاء پرمنصب بل څوک خپل خليفه مقررکړي ولی هغه يوائي قاضي ټاکل شوی دی هغه ته دااختيارنه دی ورکړل شوی چې بل څوک قاضي وګرځوي البته که چيرته کوم قاضي ته دحاکم له طرفه دااختياردلالةً ياصراحةً ورکول شوی ووچې ته خپل خليفه ټاکلی شي نوبيادی خپل خليفه مقررولای شي.

(۳۸)وَاِذَا رُفِعَ اِلَى الْقَاضِي حُكْمُ حَاكِمٍ اَمْضَاه (۳۹) اِلَّا اَنْ يُخَالِفَ الْكِتَابَ اَوِ السُّنَّةَ اَوِ الْاِجْمَاعَ (۴۰) اَوْ يَكُوْنَ قَوْلًا لَا دَلِيْلَ عَلَيهِ.

ترجمه: اوکه دقاضي په وړاندي دکوم حاکم حکم پيش کړای شونوقاضي دي هغه نافذکړي مګرداهغه حکم له قران مجيدياسنت يااجماع څخه خلاف وي يا داسي قول وي چې دليل نه لري .

تشريح :(۳۸)که دقاضي په وړاندي دکوم حاکم حکم پيش کړای شونوقاضي دي هغه حکم نافذکړي .(۳۹)البته داسي حکم به دي نافذوي کوم چې له قرآن مجيدڅخه مخالف وي مثلامتروک التسميه عمداحلاله ګرځول شوي وي ،ياله سنت مشهورڅخه مخالف وي لکه مطلقه بطلقات الثلاثة بلاوطی زوج اخرته حلاله ګرځول شوي وي .ياله اجماع څخه مخالف وي مثلانکاح متعه حلاله ګرځول شوي وي چې دهغې پرفسادباندي دصحابه کرامو ﷺ اجماع ده .(۴۰)ياداسي قول وي چې دهغه هيڅ دليل نه وي مثلادقرض غوښتنونکي له طرف څخه ترڅوکالوپوري دقرض دمطالبي دنه کولوپه وجه سره دهغه دسقوط حکم شوی وي نودادي هم نه نافذوي .

(۴۱)وَلَا يَقْضِي الْقَاضِي عَلَى الْغَائِبِ اِلَّا اَنْ يَحْضُرَ مَنْ يَقُوْمُ مَقَامَه.

ترجمه: اوقاضي دي پرغائب فيصله نه کوي مګرداچې يوڅوک دهغه قائم مقام وي.

تشريح :(۴۱) يعني قاضي دي پرغائب شخص باندي فيصله نه کوي البته که دغائب شخص وکيل ياوصي حاضروونوبياپرغائب باندي حکم کول صحيح ولی په ګواهي سره عمل کول دقطع تنازع لپاره وي اودمدعی دانکاربغيرتنازع نه راځي اومدعی عليه انکاردلته نشته ولی دغائب دطرف څخه دااقراراو انکار دواړو احتمال شته نودقاضي دقضاء جهت مشتبه شوځکه ددواړوجهتونو (يعني اقرار اوانکار احکام مختلف دي.

(۴۲) وَإِذَا حَكَّمَ رَجُلَانِ رَجُلًا لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمَا وَرَضِيَا بِحُكْمِهِ جَازَ إِذَا كَانَ بِصِفَةِ الْحَاكِمِ (۴۳) وَلَا يَجُوزُ تَحْكِيمُ الْكَافِرِ وَالْعَبْدِ وَالذِّمِّيِّ وَالْمَحْدُودِ فِي الْقَذْفِ وَالْفَاسِقِ وَالصَّبِيِّ۔

ترجمه: او که دوو متخاصمینو یو کس فیصل جوړ کړ تر څو هغه د دوئ په منځ کې فیصله وکړي او دواړه په هغه پر حکم راضي شول نو دا جائز ده په دې شرط چې په فیصل کې به د حاکم صفت موجود وي او د کافر، غلام، ذمي، محدود في القذف، فاسق او کوچني تحکیم جائز نه دی.

تشریح: (۴۲) که دوو متخاصمینو یو سړی فیصل (د دوئ ترمنځ د فیصله کولو مختار او دریم) وګرځاوه او دواړه د هغه په حکم سره راضي شول بیا که هغه د دوئ ترمنځ فیصله وکړه نو دا جائز ده ولی متخاصمین هریو پر خپل ځان ولایت لري نو د دوئ فیصل ګرځول هم جائز دي. په دې شرط چې په فیصل کې د حاکم صفت موجود وي ولی چې فیصل د دوئ په منځ په منزله د قاضي دی نو په ده کې هم هغه لیاقت شرط دی کوم چې په قاضي کې شرط دی. (۴۳) لهذا د کافر، غلام، ذمي، محدود في القذف، فاسق او نابالغ کوچني تحکیم جائز نه دی ځکه چې په دوئ کې د قضاء او شهادت اهلیت نشته.

تحکیم دا دی چې متخاصمین پخپل منځ کې یو څوک دریم وټاکي چې هغه چې کومه فیصله وکړي پر هغه باندې به دواړه متخاصمین راضي کیږي او هغه ته محکَّم وایي.

(۴۴) وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُحَكِّمَيْنِ أَنْ يَرْجِعَ مَا لَمْ يَحْكُمْ عَلَيْهِمَا (۴۵) وَإِذَا حَكَمَ عَلَيْهِمَا لَزِمَهُمَا۔

ترجمه: او له محکمینو څخه هریو لره دا اختیار دی چې رجوع وکړي تر هغه وخته چې پر دوئ فیصله نه وي شوي او کله چې فیصل پر دوئ فیصله وکړي نو پر دواړو لازمه ده.

تشریح: (۴۴) یعني محکّمین (مدعي او مدعی علیه) هریو لره دا اختیار شته چې د فیصل له فیصل ګرځیدو څخه رجوع وکړي تر هغه چې فیصل د دوئ ترمنځ فیصله نه وي کړي ولی فیصل خو د هغوئ له طرفه مقرر شوی دی نو تر څو چې هغوئ دواړه راضي نه وي دی د فیصل په حیث فیصله نه شي کولای. (۴۵) البته که فیصل په داسې حال کې پر دوئ باندې حکم وکړ چې هغوئ دواړه د ده پر تحکیم باندې قائم وو نو دا حکم پر دوئ باندې لازمیږي ځکه دا حکم له فیصل څخه په داسې حال کې صادر شوی دی چې فیصل پر هغوئ دواړو باندې ولایت لري.

(۴۶) وَإِذَا رُفِعَ حُكْمُهُ إِلَى الْقَاضِي فَوَافَقَ مَذْهَبَهُ أَمْضَاهُ (۴۷) وَإِنْ خَالَفَهُ أَبْطَلَهُ (۴۸) وَلَا يَجُوزُ التَّحْكِيمُ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ (۴۹) وَإِنْ حَكَّمَاهُ فِي دَمِ الْخَطَأِ فَقَضَى الْحَاكِمُ عَلَى الْعَاقِلَةِ بِالدِّيَةِ لَمْ يَنْفُذْ حُكْمُهُ۔

ترجمه: او که د فیصل حکم قاضي ته وړاندې کړای شو نو که د قاضي د مذهب موافق وو نو قاضي دې نافذ کړي او که مخالف وو نو قاضي دې باطل کړي او په حدودو او قصاص کې فیصل جوړول جائز نه دي او که متخاصمینو یو څوک په قتل خطاء کې فیصل وګرځاوه نو فیصل د قاتل پر عاقله باندې د دیت حکم وکړ نو د ده دا حکم به نه نافذیږي.

تشریح :(۴۶) که دفیصل حکم قاضی ته وړاندي کړای شونو که چیرته دغه حکم دقاضی داجتهاداومذهب موافق وونوقاضی دي هغه نافذکړي ولی دفیصل دحکم په ماتیدوکې چې بیاقاضی بعینه هغه حکم صادروي هیڅ فائده نشته.(۴۷)اوکه دفیصل حکم دقاضی دمذهب موافق نه وونوقاضی دي هغه باطل کړي ولی دفیصل حکم پرقاضی باندي لازم نه دی ځکه چې قاضي هغه فیصل نه دی ګرځولی .

(۴۸)په حدودواوقصاص کې یوڅوک فیصل ګرځول جائزنه دی ولی متخاصمین پرخپلوو ینوباندي ولایت نه لري ولهذا لایملکان الولایة .(۴۹) که چیرته متخاصمینویوڅوک په قتل خطاء کې فیصل وګرځاوه بیاهغه دقاتل پرعاقله باندي ددیت حکم وکړنودهغه داحکم نه نافذکیږي ولی دقاتل پرعاقله باندي دهغه ولایت نشته ځکه چې هغوئ دی فیصل نه دی ټاکلی .

(۵۰)وَيَجُوْزُ أَنْ يَسْمَعَ الْبَيِّنَةَ وَيَقْضِي بِالنُّكُوْلِ (۵۱)وحُكْمُ الْحَاكِمِ لِأَبَوَيْهِ وَوَلَدِهِ وَزَوْجَتِهِ بَاطِلٌ۔

ترجمه:اوفیصل لره جائزده چې دګواهانوګواهي واوري اوپرانکارفیصله وکړي اودحاکم دخپلووالدینواودخپل اولاداودخپلې زوجي په باره کې حکم کول هم باطل دی.

تشریح :(۵۰)فیصل لره دګواهانودګواهي اوریدل جائزدی اوپرچاچې قسم دی هغه که له قسم څخه انکاروکړي نوپرهغه حکم ورکولای شي ولی چې دادشرع موافق حکم دی .(۵) دریمګړی لره دخپل موراوپلار(مراداصول دي)په حق کې حکم کول باطل دی همداشان دخپل اولاداوزوجې په حق کې حکم کول هم باطل دی ځکه ددغوقریبانولپاره دتهمت په وجه ګواهي ورکول مقبوله نه ده نودهغوئ لپاره دقضاء حکم هم نه صحیح کیږي.

كِتَابُ القسمة

داکتاب دقسمت (تقسیم)په بیان کې دی

له کتاب القضاء سره دکتاب القسمة مناسبت ښکاره دی ځکه چې تقسیم اکثردقاضی په قضاء سره کیږي .قسمة داقتسام نوم دی لکه چې قدرت داقتدارنوم دی ،اوشرعاً دحقوقوتمییزاودحصوتعدیل ته قسمة ویل کیږي. دقسمة سبب دټولوشرکاؤیادځینوشرکاؤله خپل ملک څخه علی وجه المخصوص دانتفاع طلبول دي .دقسمت رکن هغه فعل دی په کوم سره چې په حصوکې افرازاوتمییزحاصل شي لکه په مکیلي شئ کې کیل اوپه موزونی کې وزن اوپه عددی کې عدد .اودقسمة شرط دادی چې په قسمة سره به منفعت نه ختمیږي ،اودقسمة حکم دشریک حصه په جلاډول سره متعین کول دی .دجوازقسمة دلیل دادی چې نبی کریم ﷺ خیبرپرصحابه کرامو ﷺ تقسیم کړی وو.

(١) يَنبَغِي لِلإِمَامِ أَنْ يَنصِبَ قَاسِمًا يَرْزُقُهُ مِنْ بَيْتِ المَالِ لِيَقْسِمَ بَيْنَ النَّاسِ بِغَيْرِ أُجْرَةٍ (٢) فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ نَصَبَ قَاسِمًا يَقْسِمُ بِالأُجْرَةِ (٣) وَيَجِبُ أَنْ يَكُونَ عَدْلاً مَأْمُوناً عَالِمًا بِالقِسْمَةِ.

ترجمه: امام لره مناسب ده چې هغه يو تقسيم کونکی مقرر کړي چې د هغه تنخوا له بيت المال څخه وي ترڅو هغه د خلګو په منځ کې بې له اجرته د جائيدادونو تقسيم کوي او که يې داسې نه شواى کولاى نو بيا دې داسې قاسم مقرر کړي چې هغه په اجرت سره تقسيم کوي او واجب دی چې قاسم به عادل، امانت داروي او تقسيمول به يې زده وي.

تشريح: (١) يعنی قاضی ته په کار ده چې دی يو داسې قاسم (تقسيم کونکی) مقرر کړي چې د هغه تنخوا له بيت المال څخه وي ترڅو هغه د خلګو په منځ کې بغيرله مزدوری اخيستلو د جائيدادونو تقسيم کوي ولی چې تقسيم د عمل قضاء له جنس څخه دی په دې دول چې په تقسيم سره د قطع جدال (د جنجال د ختمولو) تکميل کيږي لهذا د قاسم رزق د قاضی له رزق سره مشابه شو په دې وجه به د ده رزق هم د قاضی د رزق په څير له بيت المال څخه وي.

(٢) که قاضی داسې قاسم مقرر نه کړ چې د هغه تنخواه له بيت المال څخه وي نو بيا دې داسې قاسم مقرر کړي کوم چې له متقاسمينو څخه په اجرت اخيستلو سره تقسيم وکړي او اجرت به له متقاسمينو څخه په دې وجه اخلي چې د تقسيم نفع متقاسمينو ته رسيږي. (٣) ضرروي ده چې قاسم به عادل پرهيزګار امانت دار او په تقسيم پوه وي په دې وجه چې تقسيم د عمل قضاء له جنس څخه دی لهذا د قاضی صفات په تقسيم کونکی کې هم ضروري دي او له دې وجې چې که په قاسم کې داصفات نه وي نو حصل منه الحيف.

(٤) وَلَا يُجْبِرُ القَاضِي النَّاسَ عَلَى قَاسِمٍ وَاحِدٍ (٥) وَلَا يَتْرُكُ القُسَّامَ يَشْتَرِكُونَ.

ترجمه: او قاضی دې خلګ پر يو قاسم باندې نه مجبوروي او قاسمان دې په مشترک ډول سره کار کولو ته نه پريږدي.

تشريح: (٤) قاضی دې خلګ په يو قاسم نه مجبوروي يعنی خلګ دې پردي نه مجبوروي چې د تقسيم لپاره به صرف همدا يو کس په اجرت نيول کيږي بل کس به نه نيول کيږي ولی چې د تقسيم لپاره څوک په اجرت نيول عقد اجاره ده او په عقودو کې جبر نشته. (٥) تقسيم کونکي به داسې نه پريږدي چې هغوئ په خپل منځ کې شرکت وکړي ولی چې په دې ډول سره به هغوئ په يو بل په اعتماد کولو سره بيخې ډير اجرت اخلي په کوم کې چې د عامو خلګو نقصان دی.

(٦) وَأُجْرَةُ القِسْمَةِ عَلَى عَدَدِ رُؤُسِهِمْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ عَلَى قَدْرِ الأَنْصِبَاءِ.

ترجمه: او د تقسيم اجرت د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد د متقاسمينو د تعداد په حساب سره دی او صاحبين رحمهما الله فرمايي د حصصو په اندازه سره دی.

تشريح: (٦) يعنی د تقسيم اجرت د امام صاحب په نزد د متقاسمينو د شمار په حساب سره دی د ملکيت په حساب سره نه دی ولی چې اجرت د تميز الحصص په مقابله کې دی په کوم کې چې هيڅ تفاوت نشته لکه

دکثیروالاحصه چې جلاکیږي همداشان دقلیل والاحصه جلاکیږي بلکه کله خودقلیل والاحصه په جلاکولوکي دومره مشقت وي کوم چې دکثیروالاپه حصه کې نه وي لهذااجرت به دملکیت په حساب سره نه وي .دصاحبینوپه نزدبه اجرت دتقسیم حصص په حساب سره وي ولې چې اجرت دتقسیم ملک بوج اوخرچه ده نوبقدرملک به وي .(دامام صاحب قول راجح دی).

(۷)وَإِذَا حَضَرَ الشُّرَكَاءُ عِنْدَ الْقَاضِي وَفِي أَيْدِيهِمْ دَارٌ أَوْ ضَيْعَةٌ وَادَّعَوْا أَنَّهُمْ وَرِثُوهَا عَنْ فُلَانٍ لَمْ يَقْسِمْهَا الْقَاضِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ حَتَّى يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ عَلَى مَوْتِهِ وَعَدَدِ وَرَثَتِهِ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللَّهُ يَقْسِمُهَا بِاعْتِرَافِهِمْ وَيَذْكُرُ فِي كِتَابِ الْقِسْمَةِ أَنَّهَا قَسَمَهَا بِقَوْلِهِمْ.

ترجمه:او که قاضی ته شرکاء حاضرشول او دهغوئ په قبضه کې مکان یاځمکه وه او دعوه یې وکړه چې داځمکه موږته له فلانکی مړی څخه په میراث پاتي ده نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزدبه قاضی داځمکه نه تقسیموي ترڅوچې دغه خلک دځپل مورث پرمرګ او دهغه دوارثانوپرشمارباندي ګواه پیښ کړي اوصاحبین رحمهما الله فرمایې چې ددوئ په اعتراف سره دي تقسیم کړي او دتقسیم په تحریرکې دي داسي ولیکي چې ماداځمکه ددغوخلګوپه ویناسره تقسیم کړې ده .

تشریح :(۷) که قاضی ته شرکاء حاضرشول اوددوئ په قبضه کې مکان یاځمکه ده او دعوی یې وکړه چې موږته داځمکه له فلانی میت څخه په میراث کې پاتي شوي ده لهذادازموږپه منځ کې تقسیم کړه نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدبه قاضی داځمکه نه تقسیموي ترڅوچې داخلک دځپل مورث پرمرګ اودهغه دوارثانوپه شماربانديي ګواه پیښ نه کړي ولې چې ددي ځمکې تقسیمول قضاء علی المیت ده په دي وجه چې ځمکه ترتقسیم وړاندي دمیت ملک ده نودصرف دعوی بلابیّنه په وجه سره قضاء علی المیت صحیح نه ده .

دصاحبینوپه نزدبه قاضی ځمکه صرف دوارثانوپه اعتراف سره تقسیموي ولې چې ددي خلګو قبضه ددوئ دملکیت دلیل ده اوددوئ اقرارددوئ درښتیاګوئي نښه ده اوددوئ کوم مزاحم هم نشته لهذاقاضي به یې ددوئ په منځ کې تقسیموي ،البته دتقسیم په تحریرکې به داسې لیکي چې ماداځمکه ددي خلګوپه ویناسره تقسیم کړي ده ترڅودقاضی داتقسیم صرف تردوئ محدودپاتي شي له دوئ څخه علاوه پرکوم بل شریک داحکم ونه شي .

(۸)وَإِنْ كَانَ الْمَالُ الْمُشْتَرَكُ مَا سِوَى الْعَقَارِ وَادَّعَوْا أَنَّهُ مِيرَاثٌ قَسَمَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا (۹)وَإِنْ ادَّعَوْا فِي الْعَقَارِ أَنَّهُمْ اشْتَرَوْهُ قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ (۱۰)وَإِنْ ادَّعَوْا الْمِلْكَ وَلَمْ يَذْكُرُوا كَيْفَ انْتَقَلَ إِلَيْهِمْ قَسَمَهُ بَيْنَهُمْ.

ترجمه:او که مال مشترک له ځمکې څخه علاوه کوم بل منقولي شی وي اوځوکسانودعوه وکړه چې دامیراث دی نوبالاتفاق به قاضی داتقسیموي او که هغوئ دعوه وکړه دځمکې په باره کې چې موږاخیستي ده نو هغه به ددوئ ترمنځ تقسیم کړي او که دوئ دملک دعوه وکړه او دایې ونه ویل چې داځمکه څرنګه ددوئ طرف ته منتقله شوي ده نو هغه دي ددوئ ترمنځ تقسیم کړي .

تشریح:(۸) که مال مشترک له ځمکې څخه علاوه منقولي شئ وو او څو کسانو دعوی وکړه چې دا مورږته په میراث کې رسیدلی دی لهذا دا پرمونږ تقسیم کړه نو بالاتفاق به یې قاضي تقسیموي ولی چې دمنقولي شئ په تقسیم کې فائده ده په دي وجه چې منقولي شئ دحفاظت محتاج دی نو له تقسیم څخه وروسته چې هریوه ته ئه په لاس ورشي هغه ده هغه حفاظت کوي .(۹)او که دځمکې قابضینو دادعوی وکړه چې داځمکه مونږ اخیستي ده او له قاضي څخه یې دتقسیم کولو مطالبه وکړه نو هم به بالاتفاق قاضي دا تقسیموي په دي وجه چې له بیع څخه وروسته داځمکه دبائع په ملک کې پاتي نه شوه نو ددي تقسیمول قضاء علی الغیر نه ده .

(۱۰)که قابضینو صرف دخپل ملکیت دعوی وکړه او دملک سبب یې بیان نه کړچې داځمکه څرنګه زمونږ په ملک کې راغلي ده او له قاضي څخه یې دتقسیم غوښتنه وکړه نو هم به یې قاضي تقسیموي ولی چې په دي صورت کې قابضینو دملک غیر اقرار نه دی کړی لهذا دقاضي تقسیم قضاء علی الغیر نه ده .

(۱۱)وَإِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَاءِ يَنْتَفِعُ بِنَصِيبِهِ قُسِّمَ بِطَلَبِ أَحَدِهِمْ (۱۲)وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمْ يَنْتَفِعُ وَالْآخَرُ يَسْتَضِرُّ لِقِلَّةِ نَصِيبِهِ فَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْكَثِيرِ قُسِّمَ وَإِنْ طَلَبَ صَاحِبُ الْقَلِيلِ لَمْ يُقَسِّمْ (۱۳)وَإِنْ كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَسْتَضِرُّ لَمْ يُقَسِّمْهَا إِلَّا بِتَرَاضِيهِمَا.

ترجمه: او که له شرکاء څخه هریوه په خپله حصه سره وروسته له قسمة نفع اخیستلای شوای نوله شرکاء څخه دیوه په غوښتنه سره به یې تقسیموي او که یوه فائده اخیستلای شوای او بل ته تاوان وو دهغه دحصي دکمښت په وجه سره ،نو که دډیري حصي والا غوښتنه وکړه نو تقسیم دي کړي او که صاحب قلیل مطالبه وکړه نو نه دي تقسیموي او که په دواړو کې هریوه ته تاوان وو نو هغه دي نه تقسیموي مګر ددواړو په خوښه سره .

تشریح:(۱۱) که له شرکاؤ څخه هریوه په خپله حصه باندي وروسته له قسمة نفع اخیستلای شوای نوله شرکاؤ څخه دیوه په غوښتنه سره به قاضي تقسیم کوي ولی چې په تقسیم کې دمطالبه کونکی دمنفعت تکمیل دی او تقسیم دده حق دی لهذا په قابل تقسیم شي کې داحق لازم دی .(۱۲)او که هغه شی داسې وي چې له شرکاء څخه یو خوله تقسیم وروسته له خپلې حصي څخه دکثرت په وجه سره انتفاع حاصلولای شي او دهغه بل دحصي دقلت په وجه سره نقصان وي نو که دډیري حصي والا مطالبه وکړه نو قاضي به تقسیم کوي ولی چې دی له خپلې حصي څخه نفع اخیستلای شي لهذا دده مطالبه معتبره ده ولی هغه بل ته اګر که ضرر دی مګر دا حق دغیر دضرر په وجه سره نه باطلیږي ،او که لږحصي والا مطالبه وکړه نو قاضي به تقسیم نه کوي ولی چې دتقسیم دمطالبه کونکی نقصان دی بیا هم مطالبه کوي نو دی متعنت دی لهذا دده مطالبه معتبره نه ده.

(۱۳)که مشترک شئ دومره کوچنی وو چې په تقسیم کې دهرشریک ضرر وو نو قاضي به تقسیم نه کوي ولی چې جبر علی القسمة دتکمیل منفعت لپاره دی حال دا چې په دي صورت کې خو تفویت منفعت دی تکمیل نه دی ، البته که دواړه شرکاء په قسمة راضي وي نو قاضي به تقسیم کوي ولی چې حق خو ددوئ دي او دوئ پرخپل کار ښه پوهیږي چې په تقسیم کې ددوئ څه ګټه ده .

الالغاز: اى شركاء فيما يمكن قسمته اذا طلبوها لم يقسم؟

فقل: السكة الغير النافذة ليس لهم ان يقتسموها وان اجمعوا على ذالك. (الاشباه والنظائر)

(۱۴) وَيُقَسَّمُ الْعُرُوضُ إِذَا كَانَتْ مِنْ صِنْفٍ وَاحِدٍ (۱۵) وَلَا يُقَسَّمُ الْجِنْسَانِ بَعْضُهَا فِي بَعْضٍ (۱۶) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ لَا يُقَسَّمُ الرَّقِيقُ وَلَا الْجَوَاهِرُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يُقَسَّمُ الرَّقِيقُ.

ترجمه: او عروض به تقسيموي كه له يوه جنس څخه وو او دوه جنسه به بعض په بعض كې نه تقسيموي او امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې غلامان او جواهرات به نه تقسيموي او صاحبين رحمهما الله فرمايي چې غلامان به تقسيموي.

تشريح: (۱۴) يعنى كه په سامان كې څو كسان سره شريک وي او هغوئ د تقسيم مطالبه وكړه نو كه عروض ټول يو جنس وي نو قاضى به تقسيم كوي ولى چې د متحد الجنس والى په وجه سره مقصود يو دى نو له تقسيم څخه تعديل فى القسمة او تكميل المنفعة حاصليږي. (۱۵) او كه عروض مختلف الجنس وي نو قاضى به بعض په بعضو كې نه تقسيموي چې ځينو شركاؤ ته بعض اجناس وركړي او ځينو نورو ته بيا نور بعض اجناس وركړي ولى چې په اجناسو كې اختلاط نشته نو په تقسيم سره تميز نه راځي بلكه په تقسيم سره بعض اجناس د بعضو په عوض كې ولاړل كوم لره چې د طرفينو تراضى ضروري ده د قاضى جبر جائز نه دى.

(۱۶) امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي چې قاضى به مشترک جواهرات او غلامان (جبرا) نه تقسيموي ولى چې په انسانانو كې باطنى تفاوت بيخي ډير دى نو داد عروض مختلف الاجناسو په شان دي او په جوهراتو كې خو تر انسانانو هم ډير تفاوت دئ په دي وجه به يې قاضى نه تقسيموي، صاحبين فرمايي چې غلامان به تقسيموي د متحد الجنس كيدلو په وجه كما فى الابل والغنم. (د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دى).

(۱۷) وَلَا يُقَسَّمُ حَمَّامٌ وَلَا بِئْرٌ وَلَا رَحًى إِلَّا أَنْ يَتَرَاضَى الشُّرَكَاءُ.

ترجمه: او نه به تقسيميږي حمام او نه څاه او نه ژرنده مګر دا چې شركاء راضي شي.

تشريح: (۱۷) يعنى قاضى به حمام، څاه، او ژرنده نه تقسيموي هم دا شان هر هغه شى چې طرفينو لره مضروي هغه به نه تقسيموي ولى چې له تقسيم څخه وروسته په دوئ كې د هر يوه شريک حصه د قابل انتفاع نه پاتي كيدلو په وجه سره د ټولو ضرر دى البته كه شركاء راضى وي بيا تقسيم كول صحيح دى ولى چې حق د دوئ دى او دوئ پر خپل كار بنه پوهيږي چې په تقسيم كې د دوئ څه ګټه ده.

(۱۸) وَإِذَا حَضَرَ وَارِثَانِ وَأَقَامَا الْبَيِّنَةَ عَلَى الْوَفَاتِ وَعَدَدِ الْوَرَثَةِ وَالدَّارُ فِي أَيْدِيهِمْ وَمَعَهُمْ وَارِثٌ غَائِبٌ قَسَّمَهَا الْقَاضِي بِطَلَبِ الْحَاضِرِينَ وَيَنْصِبُ لِلْغَائِبِ وَكِيلًا يَقْبِضُ نَصِيبَهُ (۱۹) وَإِنْ كَانُوا مُشْتَرِينَ لَمْ يُقَسِّمْ مَعَ غَيْبَةِ أَحَدِهِمْ.

ترجمه: او كه دوه وارثان حاضر شول او د خپل مورث پر مرګ او د وارثانو پر تعداد يې ګواهان پيش كړل او مورثى كور د دوئ په قبضه كې وو او له دوئ سره يو بل وارث وو كوم چې غائب وو نو قاضى به دا كور د دي

حاضرينوپه مطالبه سره تقسيموي اودغائب له طرف څخه به وكيل مقرركړي چې دده حصه قبض كړي اوكه هغوئ خريداران وونوله دوئ څخه ديوه غيبوبت كې به يې نه تقسيموي .

تشريح :(۱۸) اوكه دوه وارثان قاضي ته راغلل اودخپل مورث پروفات اودوارثانوپرتعدادیې ګواهان پيش كړل اوموروثي كورددوئ په قبضه كې وواوله دوئ دواړوسره يوبل وارث هم ووكوم چې في الحال غائب دينوقاضي به داكورددي حاضروواراثانوپه مطالبه سره تقسيموي.او دغائب له طرف څخه به وكيل مقرركړي كوم چې دغائب حصه قبض كړي ولې چې په دي كې دغائب فائده ده .

(۱۹)كه دتقسيم غوښتونكي وارثان نه وو بلكه اخيستونكي وومګرله دي اخيستونكوڅخه يوغائب وونوقاضي به دحاضرينوپه غوښتنه سره كورنه تقسيموي ولې چې په وارث اواخيستونكي كې فرق دی په دي ډول چې دوارث ملک دخلافت ملک دی نوله وارثانوڅخه يودميت له طرفه خصم اوبل دخپل ځان له طرفه خصم دی په دي ډول دقاضي قضاء دمتخاصمينوپه حضوركې شمارل كيږي حال داچې دمشتري ملک جديددی نوحاضردغائب نائب نه شي جوړيدلی په دي ډول په دي صورت كې دقاضي حكم قضاء علی الغائب شمارل كيږي كوم چې جائزنه ده .

(۲۰)وَإِنْ كَانَ الْعِقَارُ فِي يَدِ الْوَارِثِ الْغَائِبِ أَوْ شَيْءٌ مِنْهُ لَمْ يُقْسَمْ (۲۱)وَإِنْ حَضَرَ وَارِثٌ وَاحِدٌ لَمْ يُقْسَمْ

ترجمه:اوكه ځمكه دغائب وارث په قبضه كې وي يايوڅه حصه نوتقسيم به نه كوي اوكه يووارث حاضرشونه تقسيم به نه كوي .

تشريح :(۲۰) كه ټوله ځمكه يادهغې بعض حصه دهغه وارث په قبضه كې وي كوم چې غائب دی نودحاضرينوپه غوښتنه سره به قاضي تقسيم نه كوي ولې چې قبضه دغائب ده نودغائب يادهغه دوكيل له حضورڅخه بغيردقاضي تقسيم كول قضاءعلی الغائب ده كوم چې ناجائزده.(۲۲) له واراثانوڅخه يوحاضرشواودتقسيم مطالبه يې وكړه نوقاضي به تقسيم نه كوي كه څه هم هغه دمورث پرمرګ اودوارثانوپه تعدادباندي ګواه هم پيش كړي ولې چې تقسيم كول دقاضي حكم دی اوددقاضي حكم لره دمدعی اومدعی عليه دواړووجودضروري دی حال داچې داخويوفرددی نويوفردبه يامدعی جوړيږي يامدعی عليه،دواړه نه شي كيدای .

(۲۲)وَإِذَا كَانَتْ دُوْرٌ مُشْتَرَكَةٌ فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ قُسِمَ كُلُّ دَارٍ عَلَى حِدَتِهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ إِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ لَهُمْ قِسْمَةُ بَعْضِهَا فِي بَعْضٍ قَسَمَهَا (۲۳)وَإِنْ كَانَتْ دَارٌ وَضَيْعَةٌ أَوْ دَارٌ وَحَانُوتٌ قُسِمَ كُلُّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ

ترجمه:اوكه څوكورونه مشترک په يوه ښاركې وونودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه له هغوڅخه هريوعليحده تقسيموي اوصاحبين فرمايي چې كه دوئ ته مصلحت دبعضوپه بعض كې په تقسيمولوكې وونوهمداسي دي تقسيم كړي اوكه مشترک يوكوراوځمكه وه يايوكوراودوكان وونوهريودي جلاجلاتقسيم كړي .

تشريح :(۲۲) يعنی كه څومكانونه دڅوشريكانوسره مشترک وي اوپه يوه ښاركې وي نودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدبه قاضي له دي څخه هريوجلاجلاتقسيموي ولې چې مكانونه داختلاف مقاصدواواختلاف

محال او دهمسايه گانو په وجه سره اجناس مختلفه دي نو يو کوردبل کور په عوض کې په تقسيمولو کې برابري ممکنه نه ده په دي وجه به داسې تقسيم نه کوي.
صاحبين فرمايي چې که بعض مکانونه په بعضو کې تقسيمول دشرکاء په حق کې ښه وو دهريوه ترجلا جلا تقسيمولو څخه نو قاضي به بعض دنورو بعضو په عوض کې تقسيموي ولې چې قاضي له محافظت حقو قو سره پر فعل اصلح ماموردی. (دامام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی). (۲۳) که ځمکه او مکان مشترک وي يا مکان او دوکان مشترک وي نو هريو به عليحده تقسيموي ولې چې جنس مختلف دی او برابري ممکنه نه ده.

(۲۴) وَيَنْبَغِي لِلْقَاسِمِ أَنْ يُصَوِّرَ مَا يَقْسِمُهُ وَيَعْدِلَهُ وَيَذْرَعَهُ وَيُقَوِّمَ الْبِنَاءَ (۲۵) وَيُفْرِزُ كُلَّ نَصِيبٍ عَنِ الْبَاقِي بِطَرِيقِهِ وَشُرْبِهِ حَتَّى لَا يَكُونَ لِنَصِيبِ بَعْضِهِمْ بِنَصِيبِ الْآخَرِ تَعَلُّقٌ (۲۶) ثُمَّ يَكْتُبُ أَسَامِيَهُمْ وَيَجْعَلُهَا قُرْعَةً ثُمَّ يُلَقِّبُ نَصِيبًا بِالْأَوَّلِ وَالَّذِي يَلِيهِ بِالثَّانِي وَالثَّالِثُ وَعَلَى هَذَا ثُمَّ يُخْرِجُ الْقُرْعَةَ فَمَنْ خَرَجَ اسْمُهُ أَوَّلًا فَلَهُ السَّهْمُ الْأَوَّلُ وَمَنْ خَرَجَ ثَانِيًا فَلَهُ السَّهْمُ الثَّانِي.

ترجمه: او قاسم لره مناسبت ده چې نقشه دي جوړه کړي دهغه کوم چې دی تقسيموي بيا دي هغه (پرسهامو) برابر کړي هغه او په گزسره دي ناپ کړي او دعمارت قيمت دي ولگوي، او جلا دي کړي هره حصه دهغې له لاري او داوبو له حق سره، ترڅو دځينو شرکاو دحصي دځينو نورو له حصو سره تعلق پاتي نه شي بيا دي ددوئ نومونه وليکي او قرعه اندازي دي وکړي بيا دي په يوه حصه باندي نوم کښيږدي اول، او کومه چې له دي سره متصله ده دهغي دوهم، بيا دريم على هذا القياس دي دي په نورحصو نومان کښيږدي بيا دي قرعه اندازي (هيسکه) وکړي نو دچانوم چې اول راووځي هغه لره اوله حصه ده او دچانوم چې دوهم راووځي هغه لره دوهمه حصه ده.

تشريح :(۲۴) قاسم ته په کار ده چې کوم شی (يعنی ځمکه، مکان وغيره) چې تقسيموي اول دي پر کاغذ دهغه نقشه جوړه کړي ترڅو دهغه يادساتل ممکن وي او هغه دي پرسهام قسمة باندي برابر تقسيم کړي او په گزسره دي ناپ کړي ترڅو دځمکې مقدار معلوم شي او که په هغې کې عمارت وي نو دهغه قيمت دي ولگوي ولې کله کله په اخر کې ددي ضرورت پيښيږي.
(۲۵) بيادي دهرشريک حصه له لاري او داوبوله حصي سره جلا کړي ترڅو دبعض شرکاؤ دحصه له بعضو نورو سره تعلق پاتي نه شي او په حصو کې تميز محتقق شي.
(۲۶) بيادي ديوي حصي نوم اول کښيږدي او کومه چې له هغه سره متصله ده دهغې نوم دي دوهم کښيږدي بيادريم على هذا القياس دي دپاتي نورونوم کښيږدي بيادي د کاغذ په جلا جلا ټوټو باندي دهرصاحب حصه نوم وليکي بيادي قرعه اندازي وکړي دکوم نوم چې اول راووځي هغه ته به له حصو څخه اوله حصه وي او دچانوم چې دوهم راووځي هغه لره به دوهمه حصه وي وهلم جرا.

(٢٧) ولا يَدْخلُ فِي الْقِسمَةِ الدَّرَاهِمَ إِلا بِتَرَاضِيهِمْ (٢٨) فَإِنْ قَسَّمَ بَيْنَهُمْ وَلِأَحَدِهِمْ مسِيلٌ فِي مِلْكِ الآخَرِ او طَرِيقٌ لَمْ يَشْتَرِطْ فِي الْقِسْمَةِ فَإِنْ أَمْكَنَ صَرْفُ الطَّرِيقِ وَالْمَسِيلِ عَنْهُ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَطْرِقَ وَيُسِيلَ فِي نَصِيبِ الآخَرِ وإِنْ لَمْ يَمكِنْ فَسَخَتِ الْقِسْمَةَ.

ترجمه: اوپه تقسيم کې نه داخلوي دراهم مګرددوئ په خوښه سره بياکه يې دشرکاءپه منځ کې تقسيم وکړاودکوم يوه شريک داوبه حصه يالاره دهغه بل په ملک کې راغله چې په تقسيم کې نه وه شرط شوي نوکه دلاري يالښتی دهغه بل شريک له حصي څخه اړول ممکن وي نوده لره جائزنه ده چې لاره يالښتی دهغه بل په حصه کې بوځي اوکه اړول ممکن نه وي نوتقسيم دي فسخ کړي.

تشريح: (٢٧) په تقسيم کې دي دارهم اودنانيرنه شاملوي مثلاقاسم داسي ووايي چې چاته چې ورسيده هغه به هغه بل ته دومره دراهم يادنانيرورکوي ولی چې تقسيم په مشترک شی کې جاري کيږي اومشترک څوځکه ده دراهم اودنانيرمشترک نه دي ،البته که شرکاء په تقسيم کې ددراهموپه شاملولوباندي راضی وي نوبياجائزده ولی چې په تقسيم کې ددراهموادنانيروپه داخلولوسره تقسيم عقدمعاوضه جوړيږي اوپه معاوضاتوکې جبرنه وي البته په خپل منځي رضاسره جائزدي.

(٢٨) بياکه قاسم دشرکاء په منځ کې تقسيم وکړاوديوه شريک داوبولاره دبل شريک په حصه کې راغله يادیوه دتګ اوراتګ لاره دهغه بل شريک په حصه کې راغله اوحال داچې ددي شرط په تقسيم کې نه وولګول شوی نوکه دمسيل اولاري دبل شريک له حصي څخه اړول ممکن وي نوده لره اختيارنشته چې دبل شريک په حصه کې دتګ راتګ اواوبولاره جوړه کړي ولی چې په دي کې دبل شريک ضرردی لهذادی به خپله لاره دهغه له حصي څخه اړوي ،اوکه دلاري وغيره دهغه بل شريک له حصي څخه اړول ممکن نه وونوبيادي داتقسيم فسخ کړي ولی چې په دي تقسيم کې خلل دی لهذاييرته دي له سره نوی تقسيم وکړي.

(٢٩) وَإِذَا كَانَ سُفْلٌ لَا عُلْوَلَهُ وَعُلْوٌ لَا سُفْلَ لَهُ وَسُفْلٌ لَهُ عُلُوٌّ قَوَّمَ كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَتِهِ وَقَسَّمَ بِالْقِيمَةِ وَلَا يُعْتَبَرُ بِغَيْرِ ذَالِكَ.

ترجمه: کښته مکان يې اودهغه پرسربالاخانه نه وي اوبالاخانه وي کښته مکان نه وي اوکښته مکان وي دهغه پرسرباندي بالاخانه هم وي نودهريوه دي جلاجلا قيمت ولګول شي اوتقسيم دي شي دقيمت په اعتبارسره اوله دي څخه دعلاوه اعتبارنشته.

تشريح: (٢٩) که څومکانونه وي له هغو څخه ديوسفل مشترک وي بغيرله بالاخاني اويوه بالاخانه مشترکه وي بغيرله سفله اويوسفل سره له بالاخاني مشترک وي نودهريوه به په جلاجلاقيمت سره اندازه لګول کيږي اودقيمت په حساب سره به تقسيميږي له دي څخه ماسواپه کومه بله طريقه سره تقسيم کول معتبرنه دی ،داداامام محمد رحمه الله مسلک دی ،دشيخينوپه نزدبه يې په ګزسره ناپ کړي اوتقسيم به يې کړي ،دامام محمد رحمه الله دليل دادی چې سفل دداسې کارونولپاره په کارراځي دکومولپاره چې بالاخانه په کارنه شي راتلای مثلاپه سفل کې څاه ،زيرزمينی (تهه خانه)،اواصطبل (داسانو طويله) جوړول ممکن دي اوپه

بالاخانه کې ممکن نه دي نو دبرابر تقسيمو لو هيڅ صورت نشته ماسوا له دي چې دهريوه په قيمت سره اندازه ولګول شي .والعمل في هذه المسئلة على قول محمد رحمه الله وعليه الفتوى .

(۳۰) وَإِذَا اخْتَلَفَ الْمُتَقَاسِمُونَ فَشَهِدَ الْقَاسِمَانِ قُبِلَتْ شَهَادَتُهُمَا۔

ترجمه: او که تقسيم کونکو په خپل منځ کې سره اختلاف شو بيا دو قاسمانو ګواهي ورکړه نو د دغو دواړو ګواهي به منل کيږي .

تشريح :(۳۰) که تقسيم کونکو شرکاء په خپل منځ کې اختلاف وکړ مثلاً يوه شريک وويل زماله حصي څخه څمکه دفلاني په حصه کې ده حال داچې هغه منکردی بيادوو قاسمانو ګواهي ورکړه چې مدعی خپله حصه پوره وړي ده نو دقاسمانو ګواهي قبليږي ځکه چې هغوئ دمدعی پرفعل ګواهي ورکړي ده چې مدعی خپله حصه پوره پوره وړي ده کومه چې صحيح ده .

(۳۱) فَإِنِ ادَّعَى أَحَدُهُمَا الْغَلَطَ وَزَعَمَ أَنَّهُ مِمَّا أَصَابَهُ شَيْءٌ فِي يَدِ صَاحِبِهِ وَقَدْ أَشْهَدَ عَلَى نَفْسِهِ بِالِاسْتِيفَاءِ لَمْ يُصَدَّقْ عَلَى ذَالِكَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ (۳۲) وَإِنْ قَالَ اسْتَوْفَيْتُ حَقِّي ثُمَّ قَالَ أَخَذْتُ بَعْضَهُ فَالْقَوْلُ قَوْلُ خَصْمِهِ مَعَ يَمِينِهِ۔

ترجمه: او که له شرکاء څخه يوه دغلطي دعوه وکړه اووي ويل ماته څه حصه رسيدلي وه له هغې فلاني شی زمادملګري په قبضه کې دی حال داچې ده دخپل حق دوصولو لو ګواهي ورکړي ده نو دده تصديق به نه کيږي مګرپه ګواهانو سره او که يوه وويل چې ماخپله حصه پوره وصول کړه بيايې وويل چې ماد هغې بعض حصه وصول کړي ده نو مدعی عليه قول به مع اليمين معتبر يږي .

تشريح :(۳۱) که پرشرکاؤ کې يوه په تقسيم کې دغلطی دعوه وکړه اووي ويل کوم څه چې ماته په تقسيم کې رسيدلي وو له هغه څخه فلانی شئ زمادفلانی ملګري په قبضه کې دی ،يعنی په غلطی سره داشئ دهغه قبضه ته رسيدلی دی حال داچې مدعی دتقسيم پروخت په خپله ګواهې ورکړي وه چې ماخپل حق پوره وصول کړی دی نوپه دي دعوی کې به دده دقول تصديق نه کيږي مګرداچې مدعی پرخپله دي دعوی باندي ګواه پيش کړي ولی چې دی له تقسيم څخه وروسته دفسخ دعوی کوي نوبغيرله ګواهانو به دده دقول تصديق نه کيږي .

(۳۲) که له تقسيم څخه وروسته له متقاسمينو څخه يوه وويل چې ماخپله حصه پوره وصول کړه بيايې وويل چې زماله حصي څخه تاڅه وړي دي ،اومدعاعليه له دي څخه منکردی نوله مدعی څخه به دبيّنه مطالبه وکړل شي که هغه بيّنه پيش نه کړای شوه نومدعی عليه قول به سره له يمينه معتبروي ولی چې مدعی پرده دغصب دعوی کوي اودی منکردی اوقول دمنکرمع اليمين معتبروي .

(۳۳) وَإِنْ قَالَ أَصَابَنِي إِلَى مَوْضِعِ كَذَا فَلَمْ يُسَلِّمْهُ إِلَيَّ وَلَمْ يُشْهِدْ عَلَى نَفْسِهِ بِالِاسْتِيفَاءِ وَكَذَّبَهُ شَرِيكُهُ تَحَالَفَا وَفُسِخَتِ الْقِسْمَةُ۔

ترجمه: او که يې وويل چې ماته تر فلانکي حد پورې حصه رسيدلې وه مګر ده ماته نه ده تسليم کړې او ده پر خپل ځان باندې د وصولولو ګواهي نه وه ورکړې او دده شريک دده تکذيب وکړنو دواړه به قسم اخلي او تقسيم به فسخ کړي.

تشريح: (۳۳) که مدعي مذکور دعوی وکړه چې د تقسيم پروخت ماته تر فلاني حده پورې حصه رسيدلې وه او ده مدعی عليه په قبضه کې يې ديوې حصې طرف ته په اشاره کولو سره وويل چې مدعی عليه زما د احصه ماته نه ده سپارلې حال دا چې مدعی له دې څخه وړاندې پر خپل ځان د وصول حق ګواهي نه ده ورکړې. او دده شريک (مدعی عليه) دده تکذيب وکړنو دواړه به قسم اخلي او تقسيم به فسخ کړي ولې چې دوئ دواړو له تقسيم څخه په حاصل شوی مقدار کې اختلاف کړی دی نو دا اختلاف د مبيع او ثمن و په مقدار کې له اختلاف سره مشابه شو لهذا تحالف واجب دی.

(۳۴) وَاِذَا اسْتُحِقَّ بَعْضُ نَصِيْبِ اَحَدِهِمَا بِعَيْنِهٖ لَمْ تُفْسَخِ الْقِسْمَةُ عِنْدَ اَبِیْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَرَجَعَ بِحِصَّةِ ذَالِکَ مِنْ نَصِيْبِ شَرِيْکِهٖ وَقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تُفْسَخُ الْقِسْمَةُ۔

ترجمه: او که ديوه شريک ديوې متعينې حصې کوم مستحق ښکاره شونو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد باندې تقسيم نه فسخ کيږي او رجوع به کوي د خپلې دې حصې د خپل شريک په حصه کې او امام ابو يوسف رحمه الله فرمايي دا تقسيم به فسخ کيږي.

تشريح: (۳۴) که له تقسيم څخه وروسته ديوه شريک د څه معينې حصې دريم کس مستحق ښکاره شونو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به تقسيم نه فسخ کيږي د کوم يوه د حصې چې مستحق ښکاره شو هغه لره دا حق حاصل دی چې د مستحق په اندازه دې له خپل شريک څخه يوسي ځکه چې د دې نقصان جبيره په مذکوره طريقه سره ممکنه ده لهذا تقسيم به نه فسخ کيږي، امام ابو يوسف رحمه الله فرمايي چې دريم کس ښکاره شو او تقسيم دده په خوښه نه دی شوی لهذا دا تقسيم صحيح نه دی نو دا تقسيم به فسخ کيږي لهذا بيرته به له سره نوی تقسيم کيږي. (د طرفينو قول راجح دی).

كِتَابُ الاكراه

داکتاب د اکراه په بيان کې دی

امام قدوری رحمه الله چې له قضاء او د قضاء له توابعو يعنې کتاب القسمة څخه فارغ شونو کتاب الاکراه يې شروع کړو جه د مناسبت دا ده چې په قضاء کې الزام الحق بالحق من الحق وي او په اکراه کې اجبار الباطل بالباطل من الباطل وي نو دا د تضاد مناسبت دی ځکه چې باطل د حق ضد دی.

اکراه په لغت کې په کوم ناخوښه کار باندې مجبوره کولو ته ويل کيږي او په شريعت کې د کوم انسان له بل سره د اسې فعل کول په کوم سره چې د هغه په اختيار کې فساد راشي مګر د هغه اهليت باقي پاتې وي.

(۱) اَلْاِكْرَاهُ يَثْبُتُ حُكْمُهُ اِذَا حَصَلَ مِمَّنْ يَقْدِرُ عَلٰى اِيْقَاعِ مَا يُوْعِدُ بِهِ سُلْطَانًا كَانَ اَوْ لِصًّا۔

ترجمه: داکراه حکم هغه وخت ثابتیږي کله چې اکراه له داسي کس څخه صادره شی چې هغه چې دکوم شی دهمکی ورکوي دهغه په واقع کولو قادروي که مکرِه سلطان وي کوم غل وي.

تشریح: (۱) داکراه حکم هغه وخت ثابتیږي کله چې أکراه له داسې کس څخه متحققه شې چې هغه چې دکوم شی دهمکی (اختار) ورکوي هغه دی واقع کولی هم شې خواه که مکرِه سلطان وي یاکوم غل وي، ولی چې کله مکرِه په مذکوره بالاصفت سره متصف وي نومکرَه چې پرکوم کارمجبوره کوي هغه دعجزپه وجه سره له هغه کارڅخه دمنع کیدلوقدرت نه لري لهذاداکس مکرَه دی اوداکراه همداتعریف دی چې دانسان په اختیارکې فسادراشي دادصاحبینوقول دی. دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزداکراه صرف له سلطان څخه متحققه کیږي. مګردادزماني اختلاف دی دحجة اوبرهان اختلاف نه دی.

(۲) وَاِذَا اُكْرِهَ الرَّجُلُ عَلٰى بَيْعِ مَالِهٖ اَوْ عَلٰى شِرَاءِ سِلْعَةٍ اَوْ عَلٰى اَنْ يُّقِرَّ لِرَجُلٍ بِاَلْفِ دِرْهَمٍ اَوْ يُؤَاجِرَ دَارَهٗ وَاُكْرِهَ عَلٰى ذٰلِكَ بِالْقَتْلِ اَوْ بِالضَّرْبِ الشَّدِيْدِ اَوْ بِالْحَبْسِ فَبَاعَ اَوِ اشْتَرٰى فَهُوَ بِالْخِيَارِ اِنْ شَاءَ اَمْضَى الْبَيْعَ وَاِنْ شَاءَ فَسَخَهٗ وَرَجَعَ بِالْمَبِيْعِ۔

ترجمه: که کوم کس مجبورکړای شي دخپل مال پرخرڅولویادسامان پراخیستلوباندي یایوچالره دزرو دراهموپراقرارکولوباندي یادخپل کورپه کرایه ورکولوباندي اودی یې پردي باندي دوژلویاسخت وهلویاقیدکولودهمکی په ورکولوسره مجبورکړنوده خرڅ کړیایې واخیست نومکرَه لره اختیاردی که یې خوښه وي دابیع دي برقراروساتي اوکه یې خوښه وي فسخ دي کړي اومبیع دي بیرته واخلي.

تشریح: (۲) که یوچاڅوک دخپل مال پرخرڅولویادکوم سامان پراخیستلومجبورکړ، یایې دچالپاره دزرورو په اقرارکولومجبورکړ، یایې دخپل کورچاته په کرایه ورکولومجبورکړاومکرِه دی دقتل یاضرب شدید یاتراوږدي مدي پوري دقیدکولودهمکی (اختار) په ورکولوسره مجبورکړ، مکرَه دده له دهمکی څخه په ویریدلوسره مجبوراًمذکوره مال خرڅ کړیایې واخیستی نومکرَه لره داکراه له ختیمدلوڅخه وروسته اختیاردی که یې خوښه وي نودابیع دي نافذکړي او که یې خوښه وي نوبیع دي فسخ کړي اوخپله مبیع دي واپس واخلي ولی چې داخیستلواو خرڅولووغیره دصحت شرط دادی چې متعاقدین به یوله بله سره راضي وي حال داچې اکراه خورضاختموي په دي وجه دبغیررضاکیدلوپه وجه سره داعقدصحیح (لازم) نه دی.

(۳) وَاِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ طَوْعًا فَقَدْ اَجَازَ الْبَيْعَ (۴) وَاِنْ كَانَ قَبَضَهٗ مُكْرَهًا فَلَيْسَ بِاِجَازَةٍ وَعَلَيْهِ رَدُّهٗ اِنْ كَانَ قَائِمًا فِيْ يَدِهٖ (۵) وَاِنْ هَلَكَ الْمَبِيْعُ فِيْ يَدِ الْمُشْتَرِيْ وَهُوَ غَيْرُ مُكْرَهٍ ضَمِنَ قِيْمَتَهٗ وَلِلْمُكْرَهِ اَنْ يُّضَمِّنَ الْمُكْرِهَ اِنْ شَاءَ۔

ترجمه: اوکه مکرَه په خوښه سره پرثمنوقبضه وکړه نودبیع جائزه وګرځوله اوکه ده مجبوراًپرثمنوقبضه وکړه نودادبیع اجازت نه دی نوپرده دددي ردول واجب دي که دده په لاس کې پاتې ووا وکه مبیع دمشتري په لاس کې هلاک شواوهغه مکرَه نه وونودهغه دقیمت ضامن دی اومکرَه لره اختیاردی که یې چیرته خوښه وي نومکرِه دي ضامن کړي.

تشريح :(۳) که مکرَه داکراه په وجه بيع وکړه بيايې دمبيع ثمن په خوښى سره قبض کړي نودادده له طرف څخه دبيع دنفاذاجازت دى ولى چې په خوښى سره دثمنو قبلول دبيع داجازت دليل دى لکه په بيع موقوف کې .(۴)اوکه چيرته دده دمبيع ثمن طوعاًنه بلکه کرهاًقبض کړل نودادبيع اجازه نه ده دعدم رضاپه وجه سره .نوله اکراه ختميدلووروسته که له مکرَه سره داثمن موجودوي نودهغه ردول واجب دي ځکه چې عقدفاسددى.(۵) يوچابائع دخپل شي پرخرڅولو مجبورکړمگرمشترى يې نه وومجبورکړى بلکه هغه په خوښى سره مبيع واخيستله .نومشترى لره په کارده چې بيع ماته کړي اومبيع بائع ته بيرته ورکړي .ليکن که ده لاداسې نه ووکړي چې مبيع دمشترى په لاس کې هلاکه شوه نواوس بائع لره اختياردى که يې خوښه وي نومشترى دي دمبيع دقيمت ضامن جوړکړي ولى چې اصل هلاکت خودده له لاسه شوى دى اوکه يې خوښه وي نوچاچې مجبورکړى ووهغه دي ضامن جوړکړي ولى چې دده دمجبورکولوپه وجه سره مبيع دمشترى لاس ته تللى وه.

(۲)وَمَنْ اُكْرِهَ عَلَى اَنْ يَّاْكُلَ الْمَيْتَةَاَوْ يَشْرَبَ الْخَمْرَ فَاُكْرِهَ عَلَى ذَالِكَ بِحَبْسٍ اَوْ ضَرْبٍ اَوْ قَيْدٍ لَمْ يَحِلَّ لَهُ(۷)اِلَّا اَنْ يُّكْرَهَ بِمَا يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهٖ اَوْ عَلَى عُضْوٍ مِنْ اَعْضَائِهٖ فَاِذَا خَافَ ذَالِكَ وَسِعَهٗ اَنْ يُّقْدِمَ عَلَى مَا اُكْرِهَ عَلَيْهِ(۸)وَلَا يَسَعُهٗ اَنْ يَّصْبِرَ عَلَى مَا تَوَعَّدَ بِهٖ فَاِنْ صَبَرَ حَتّٰى اَوْقَعُوْا بِهٖ وَلَمْ يَاْكُلْ فَهُوَ اٰثِمٌ

ترجمه:اوڅوک چې مجبورکړای شودمرداري په خوړولويادشرابوپه څښلوباندي اوهغه ته پردي دحبس ياوهلوياقيدپه دهمکى سره مجبورکړاى شونوده لره جائزنه ده مګرداچې مجبورکړاى شي په داسې دهمکى سره چې له هغې څخه ده ته دځان خطره وي يادده له اعضاء څخه دکوم عضوخطره وي نوکله چې ددې خطره وي نوده لره پرهغه شي اقدام کول جائزدى پرکوم چې مجبورکړاى شوى دى اوده لره ګنجائش نشته چې صبروکړي پرهغه دکوم چې دهمکى ورکول شوي ده اوکه ده صبروکړترڅوچې هغه له ده سره هغه کاروکړدکوم چې دهمکى ورکړي وه بياهم ده ونه خوړل نوګنهګاريږي .

تشريح :(۶) که چايوڅوک دمرداري په خوړلويادياشرابوپه څښلومجبورکړاومکرِه اکراه په حبس (بند)يا ضرب سره وکړه مثلاوي ويل ،مرادره وخوره کنه نوتابه بندي کړم ياوبه دي وهم ،نوکه له دي قيداوضرب څخه دده دژونديا کوم عضودضائع کيدلوخطره نه وي نومکرَه لره داجائزنه ده چې مرداره وخوري ياشراب وڅښي ولى چې دلته څه سخته مجبوري نشته ولى چې سخته مجبوري به هغه وخت واى چې دده دژونديا کوم عضودضائع کيدلوخطره واي .

(۷)هوکه يې دى داسې مجبورکړچې دده ژوندته خطره وي يادکوم عضودضائع کيدلوخطره وي نوده لره ګنجائش شته بلکه واجب ده چې هغه کاربه کوي پرکوم چې دى مجبوره کيږي اوده لره جائزنه ده چې پرهغه شي صبروکړي دکوم چې ده ته دهمکى ورکول شوي ده .

(۸)اوکه ده صبروکړترڅوچې هغه له ده سره هغه کاروکړدکوم چې يې دهمکى ورکړي وه بياهم ده مرداره ونه خوره نومکرَه ګناه ګاردى ولى چې په داسې حالت کې شريعت ده لره دمردارخوړل مباح کړي دي

بیاهم دی له هغه څخه منع شونودا په خپل هلاکت باندي له بل سره تعاون شمارل کیږي په دي وجه دی گناه گاردی.

(۹) وَإنْ أُكْرِهَ عَلَى الْكُفْرِ بِاللهِ تَعالَى أوْ سَبِّ النَّبِيِّ ﷺ بِقَيْدٍ أوْ حَبْسٍ أوْ ضَرْبٍ لَمْ يَكُنْ ذَالِكَ إكْرَاهًا حَتَّى يُكْرَهَ بِأمْرٍ يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ أوْ عَلَى عُضْوٍ مِنْ أعْضَاءِهِ (۱۰) فَإذَا خَافَ عَلَى ذَالِكَ وَسِعَهُ أنْ يُظْهِرَ مَا أمَرُوْهُ بِهِ وَيُوَرِّيَ فَإذَا أظْهَرَ ذَالِكَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإيْمَانِ فَلَا إثْمَ عَلَيْهِ (۱۱) وَإنْ صَبَرَ حَتَّى قُتِلَ وَلَمْ يُظْهِرِ الْكُفْرَ كَانَ مَأجُوْرًا.

ترجمه: اوکه څوک پر الله تعالی په کفر کولو یانبی کریم ﷺ ته په ښکنځل کولو باندي په قید یا حبس یاوهلو سره مجبور کړای شونودا اکراه نه ده ترڅوچي مجبور کړای شي په داسي شي سره چي له هغه څخه دده ژوند ته خطروي یادده دکوم عضودضائع کیدلو خطره وي نوکله چي دا خطره وي نو ده لره گنجائش شته چي هغه ظاهر کړي دکوم چي هغه ده ته امر کړی دی او توریه دي وکړي نوکه یې داسي کلمات پرژبه ظاهره کړل اودده زړه مطمئن بالایمان وونودی گنهگارنه دی اوکه ده صبروکړترڅوچي قتل کړای شواوده کفرظاهرنه کړنومأجوردی.

تشريح :(۹) که چامسلمان ته دوهلو یابندي کولو یازولني وراچولودهمکی ورکړه اووي ویل په الله سره کفروکړه (یعني کافرشه)، یانبی کریم ﷺ ته پوچ فحش ووایه ،نودااکراه نه گڼل کیږي ولی چي اوس تیره شوه چي دادهمکیانې په شراب څښلو کې اکراه نه گڼل کیږي نوپه کفراودبل مسلمان دمال په تلف کولو کې خوبه طریقه اولی سره اکراه نه دي .(۱۰) حتی که مکرِه داسې دهمکی ورکړه چي له هغې څخه ددژوندته خطروویادکوم عضودضائع کیدلو خطره وه نوبیاده لره گنجائش شته چي کوم څه چي مکرِه وایي هغه ظاهره کړي اوتوریه دي وکړي یعنی په ظاهردي یولفظ ووایي اوله هغه څخه دي بله معنی مرادکړي .نوکه ده داسي کلمات پرژبه ظاهري کړي اوحال داچي دده زړه مطمئن بالایمان دی نوپرده گناه نشته ولی چي په داسي صورت کې ایمان حقیقةنه زائلیږي ولی چي تصدیق قلبی موجوددی حال داچي په صبرکولو کې نفس حقیقةضائع کیږي لهذادمکرِه دمطلوب اظهارجائزدی.(۱۱) لیکن که مکرَه صبروکړترڅوچي مکرِه دی قتل کړاوده کفرښکاره نه کړنومکرَه ماجوردی ولی چي امتناع عن الكفر داعزازدین لپاره عزیمت دی.

(۱۲) وَإنْ أُكْرِهَ عَلَى إتْلَافِ مَالِ مُسْلِمٍ بِأمْرٍ يَخَافُ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ أوْ عَلَى عُضْوٍ مِنْ أعْضَاءِهِ وَسِعَهُ أنْ يَفْعَلَ ذَالِكَ (۱۳) وَلِصَاحِبِ الْمَالِ أنْ يُضَمِّنَ الْمُكْرِهَ.

ترجمه: اوکه مجبور کړای شو دکوم مسلمان دمال په تلف کولو باندي په داسي شي سره چي له هغه څخه دی پرخپل ژوندیادکوم عضوپرتلف کیدلوویریدونوده لره گنجائش شته چي داکاروکړي اوصاحب مال لره جائزدی چي له مکرِه څخه تاوان واخلي.

تشريح :(۱۲)که چاپریوبل چاباندي دکوم مسلمان دمال دتلف کولولپاره پرداسي شي اکراه وکړه چي له هغه څخه ده دخپل ژوندیادکوم عضودتلف کیدلوویره وه نومکرَه لره داسي کول گنجائش لري یعنی

دمسلمان دي تلف کړي ځکه چې دغيرمال دضرروت پروخت مباح ګرځي لکه په حالت دمخمصې کې .اوضرورت دلته متحقق دی په دي وجه ددي مال تلف کول مباح دي

(۱۳)صاحب مال لره جائزده چې له مکرِه څخه تاوان واخلي ځکه مکرَه خو هغه لره صرف دآلې حيثيت لري .

(۱۴)وَإِنْ أُكْرِهَ بِقَتْلٍ عَلَى قَتْلِ غَيْرِهِ لَمْ يَسَعْهُ أَنْ يُقْدِمَ عَلَيْهِ وَيَصْبِرُ حَتَّى يُقْتَلَ(۱۵)فَإِنْ قَتَلَهُ كَانَ آثِمًا(۱۶)وَالْقِصَاصُ عَلَى الَّذِي أَكْرَهَهُ إِنْ كَانَ الْقَتْلُ عَمْدًا۔

ترجمه:اوکه څوک مجبورکړای شودبل پرقتل کولوباندي نوده لره ګنجائش نشته چې دااقدام وکړي اوصبردي وکړي ترڅوچې په خپله قتل کړای شي اوده هغه قتل کړنوګنهګاريږي اوقصاص پراکراه کونکي باندي وي که قتل عمدوو.

تشريح :(۱۴) که پريوچادبل چاپه وژلوکې اکراه وکړل شوه اواکراه يې په دي ډول وکړه چې که تادي قتل نه کړنوزه به تاقتل کړم نومکرَه لره داګنجائش نشته چې هغه دبل پرقتل اقدام وکړي بلکه صبربه کوي ترڅوچې خپله قتل کړای شي.

(۱۵)که مکرَه غيرقتل کړنوګناه ګاريږي ولی چې دکوم مسلمان قتل کول دهيڅ ضرورت په وجه سره مباح نه ګرځي نودژوندياد عضودخطرپه وجه سره هم مباح نه ګرځي.(۱۶) که مکرَه داغيرقتل کړنودمقتول قصاص به له مکرِه څخه اخيستل کيږي په دي شرط چې قتل عمدوي ځکه چې مکرَه خوصرف آله دی.

(۱۷)وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى طَلَاقِ امْرَأَتِهِ أَوْ عِتْقِ عَبْدِهِ فَفَعَلَ وَقَعَ مَا أُكْرِهَ عَلَيْهِ وَيَرْجِعُ عَلَى الَّذِي أَكْرَهَهُ بِقِيمَةِ الْعَبْدِ(۱۸)وَيَرْجِعُ بِنِصْفِ مَهْرِ الْمَرْأَةِ إِنْ كَانَ قَبْلَ الدُّخُولِ۔

ترجمه:اوکه څوک خپلې ښځې ته په طلاق ورکولويادخپل غلام په ازادولوباندي مجبورکړای شواوده هغه کاروکړنوواقع کيږي هغه پرکوم چې مجبورکړای شوی دی اودی به دغلام قيمت له مکرِه څخه اخلي اودښځې نصف مهربه وصول کوي که طلاق قبل الدخول وو.

تشريح :(۱۷)اوکه څوک خپلې ښځې ته په طلاق ورکولويادخپل غلام په ازادولوباندي مجبورکړای شواومکرَه طلاق ورکړيايې غلام ازادکړنوداطلاق اوعتاق نافذيږي ځکه چې طلاق اوعتاق مع الاکراه صحيح دي لکه څرنګه چې مع الهزل صحيح دي کمامرفی الطلاق .اومکرَه به دخپل غلام قيمت له مکرِه څخه اخلي ځکه چې دمکرَه ملک خومکرِه تلف کړی دی اومکرَه صرف آله ده .

(۱۸)دطلاق په صورت کې که طلاق قبل الدخول وونوزوج به دخپلې مطلقي نصف مهرله مکرِه څخه اخلي ولی چې مکرِه پرزوج دطلاق په اکراه کولوسره نصف مهرلازم کړحال داقبل الدخول مهرعلی شرف السقوط ووپه دي ډول چې که دښځې له طرف څخه فرقت واقع شوی وای نومهربه ساقط شوی وای.

(۱۹)وَإِنْ أُكْرِهَ عَلَى الزِّنَى وَجَبَ عَلَيْهِ الْحَدُّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ(۲۰)إِلَّا أَنْ يُكْرِهَهُ السُّلْطَانُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ لَا يَلْزَمُهُ الْحَدُّ

ترجمه: اوکه څوک پرزناباندي مجبورکړای شونو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد پرده حد واجبيږي مگر داکه سلطان دی مجبورکړی وو او صاحبين فرمايي چې پرده حد لازم نه دی.

تشريح: (۱۹) که څوک پرزناباندي مجبورکړای شو او مکرَه زنا وکړه نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد پرزاني باندي حد واجبيږي .(۲۰) البته که سلطان مجبورکړنو بيا حد نه واجبيږي ځکه چې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد له سلطان څخه ماسواله کوم بل چاڅخه اکراه نه شي متحققه کيدای .د صاحبينو په نزد پرمکرَه باندي حد نشته ولی چې د دوئ په نزد له سلطان څخه علاوه له بل څخه هم اکراه متحققه کيدای شي وعليه الفتوى.

(۲۱) وإذا أُكرِهَ عَلَى الرِّدَّةِ لَمْ تَبِنِ امْرَأَتُهُ مِنْهُ.

ترجمه: اوکه څوک په مرتد کيدلو باندي مجبورکړای شونو د ده ښځه پرده باندي بائنه نه گرځي .

تشريح: (۲۱) که څوک پرمرتد کيدلو باندي مجبورکړای شونو که مکرَه داسي وکړل نو د ده ښځه پرده باندي بائنه نه گرځي ځکه چې ارتداد خوله اعتقاد سره تعلق لري همداوجه ده چې که د ده زړه مطمئن بالايمان وونو نه کافر کيږي نو د ده په اعتقاد کفر کې شک دی او د شک په وجه سره بينونت نه ثابتيږي .

كِتَابُ السِّيَر

الحكمة: الجهاد في الاسلام هو قتال من يسعون في الارض فسادا لتقويض دعائم الأمن و اقلاق راحة الناس وهم آمنون في ديارهم او الذين يثيرون الفتن من مكامنها اما بالحاد في الدين وخروج عن الجماعة وشق عصا الطاعة أو الذين يريدون اطفاء نور الله ويناوؤن المسلمين العداء ويخرجونهم من ديارهم وينقضون العهود ويخفرون بالذمم ،فالجهاد اذن هو لدفع الأذى والمكروه ورفع المظالم والذود عن المحارم.(حكمة التشريع)

(۱) اَلْجِهَادُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ إِذَا قَامَ بِهِ فَرِيقٌ مِنَ النَّاسِ سَقَطَ عَنِ الْبَاقِيْنَ (۲) وإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ أَحَدٌ أَثِمَ جَمِيعُ النَّاسِ بِتَرْكِهِ (۳) وقِتَالُ الْكُفَّارِ وَاجِبٌ وإِنْ لَمْ يَبْدَؤُنَا.

ترجمه: او جهاد فرض کفايه دی که په خلگو کې يو جماعت جاري وساتو نو له باقي امت څخه ساقطيږي او که يوه جماعت هم جهاد جاري ونه ساتو نو ټول خلک د جهاد د ترک په وجه گنهکاريږي او له کفارو سره قتال واجب دی که څه هم هغوئ پيل ونه کړي .

تشريح: (۱) جهاد ابتداء فرض کفايه دی که يو څو کسانو کاوه نو له باقي ټول امّت څخه ساقطيږي ، فرض کفايه په دې وجه دی چې جهاد بنفسه نه دی فرض شوی ولی چې بنفسه جهاد خو افساد دی بلکه د اعزاز دين او له خلگو څخه د شرک او فساد د فتني د دفع کولو لپاره فرض شوی دی او کوم چې داسي وي هغه فرض

کفايې وي لهذا دځينو کسانو په جاري ساتلوسره دحصول مقصود په وجه دباقي امت له ذمه څخه فرضيت ساقطيږي لکه دجنازي لمونځ اوردسلام وغيره.

(۲)البته که دمسلمانانو څخه يوې ډلې هم جهاد جارې ونه ساتو نوټول مکلف امّت دجهادپه ترک کولوسره ګناه ګاريږي لترکهم فرضاعليهم.(۳)له کفاروسره جنګ کول واجب دي که څه هم دهغوئ له لوري دجنګ پيل نه وي شوی ځکه په دي باره کې نصوص عام دي په هغوکې داتفصيل نشته چې که دهغوئ له لوري دجهاداقدام وونو جهادوکړئ که نه نومې کوئ.

(۴)وَلَايَجِبُ الْجِهَادُعلى صَبِيٍّ ولا عَبْدٍ ولا امْرَأَةٍ ولا أَعْمٰى ولا مُقْعَدٍ ولا أَقْطَعٍ (۵)فَإِنْ هَجَمَ الْعَدُوُّ على بَلَدٍ وَجَبَ على جَمِيعِ الْمُسْلِمِيْنَ الدَّفْعُ تَخْرُجُ الْمَرْأَةُ بِغَيْرِ إِذْنِ زَوْجِهَا وَالْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْمَوْلٰى.

ترجمه:اوجهادواجب نه دی په نابالغ باني اونه پرغلام باندي اونه پرښځې باندي اونه پرړانده باندي اونه پرګوډباندي اونه پرهغه چاچې پښې يې پري شوي وي اوکه دښمن پرکوم ښارباندي حمله وکړه نوپرټولو خلکو دهغه دفع کول واجب دی حتی چې ښځه به دخپل خاوندله اجازته بغيرووځي اوغلام به دمولی له اجازت څخه بغير.

تشريح :(۴) يعنی پرنابالغ جهاد فرض نه دی ولی چې نابالغ مکلف نه دی ،او پر غلام اووجه باندي هم جهاد فرض نه دی ولې چې جهاد له حقوق الله څخه دی له کوم څخه چې دغلام دمولی حق اودښځې دخاوندحق مقدم دی ، همداشان پر ړانده، ګوډ،او پر هغه کس چې پښې يې پرې‌شوي وي هم جهادفرض نه دی ولی چې داکسان عاجزدي اوتکليف دطاقت په اندازه وي.

(۵)که دښمن دمسلمانانو په يوښار حمله وکړه نو پرټولو خلکو دهغه دفع کول واجب دي حتی چې ښځه به دخاوندله اجازي بغيروځي اوغلام به دمولی له اجازي بغيروځي ولی چې په دي صورت کې جهاددصلوة اوصوم په شان فرض عين کيږي اودمولی اوخاوندله حق څخه فرض عين مقدم دي .

(۶)وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُوْنَ دَارَ الْحَرْبِ فَحَاصَرُوْا مَدِيْنَةً أَوْ حِصْنًا دَعَوْهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ فَإِنْ أَجَابُوْهُمْ كَفُّوْا عَنْ قِتَالِهِمْ (۷)وَإِنْ امْتَنَعُوْا دَعَوْهُمْ إِلٰى أَدَاءِ الْجِزْيَةِ فَإِنْ بَذَلُوْهَا فَلَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِيْنَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَيْهِمْ.

ترجمه:اوکله چې مسلمانان دارالحرب ته داخل شي اودکوم ښارياقلعه محاصره کړي نوهغوئ ته دي داسلام قبلولو دعوت ورکړي نوکه هغوئ اسلام قبول کړنو مسلمانان دي هغوئ نه وژني اوکه هغوئ منع وکړه نوهغوئ ته دي دجزيې داداء کولو دعوت ورکړي نوکه هغوئ جزيه اداء کړه نوهغوئ لره به هغه څه وي کوم چې دمسلمانانو لپاره دي اوپرهغوئ به هغه باروي کوم چې پرمسلمانانو باندي وي.

تشريح :(۶) کله چې مسلمانان دارالحرب ته په داخليدلوسره کوم ښار يا قلعه محاصره کړي نوله ټولو وړاندې دي کافرانو ته داسلام قبلولودعوت ورکړي نو که هغوئ داسلام دعوت قبول کړ نو مسلمانان دې له هغوئ سره جنګ نه کوي ولې چې مقصود حاصل شو ﴿وقدقال ﷺ اُمِرتُ أن أُقاتِلَ الناس حتى يَقُولُوا لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾ (يعنې زه مأمور يم چې له خلکو سره به تر هغو قتال کوم تر څو چې هغوی لااله الاالله وايي).

(۷) که هغه خلکو داسلام دعوت قبول نه کړ نو له هغوئ څخه به جزيه (دځمکې محصول ،ټيکس چې له ذمي څخه اخيستل کيږي) طلب کړي په دې شرط چې هغوئ مرتدين نه وي،نو که هغوئ جزيه ورکول قبول کړل نو هغوئ دمسلمانانو ذميان شول لهذادهغوئ لپاره به هغه اسانتياوي وي کومې چې دمسلمانانو لپاره وي يعنې دهغوئ ويني اومالونو به دمسلمانانو دمالونو په شان محفوظ وي ولې چې هغوئ جزيه ورکول دهمدې لپاره قبول کړي دي اوپر هغوئ به هغه ذمه واريانې وي کومې چې پرمسلمانانو دي.

(۸) ولايجوزُ أنْ يُقَاتِلَ مَنْ لَمْ يَبلُغْهُ دَعْوَةُ الْإِسْلَامِ إِلَّا بَعْدَ أَنْ يَدْعُوَهُمْ (۹) وَيَسْتَحِبُ أَنْ يَدْعُوَ مَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ إِلَى الْإِسْلَامِ وَلَا يَجِبُ ذَالِكَ (۱۰) فَإِنْ أَبَوْا اِسْتَعَانُوْا بِاللهِ تَعالى عَلَيْهِمْ وَحَارَبُوْهُمْ وَنَصَبُوْا عَلَيْهِمُ الْمَجَانِيْقَ وَحَرَّقُوْهُمْ وَأَرْسَلُوْا عَلَيْهِمُ الْمَاءَ وَقَطَعُوْا أَشْجَارَهُمْ وَأَفْسَدُوْا زُرُوْعَهُمْ.

ترجمه: او جائز نه دی چې قتال وکړي له هغه چا سره چاته چې دالام دعوت نه وي رسيدلی مګر له دې وروسته چې هغوته دعوت ورکړي او مستحب دی چې دعوت ورکړي هغوته چې داسلام دعوت وررسيدلی وي او دا واجب نه دی نو که هغوانکار وکړ نو مسلمانان دې له الله تعالی څخه کومک وغواړي اوله هغوسره دې جنګ شروع کړي اوپر هغوئ دمنجنيق نصب کړي او هغوئ دې وسوځوي اوپر هغوئ دې اوبه ورپريږدي او دهغوئ وني دې ورپرې کړي او کښتونه دې ورخراب کړي.

تشريح :(۸) له داسې کافرانوسره جنګ کول جائز نه دی کومو ته چې داسلام دعوت نه وي رسيدلی ولې چې په دعوت ورکولوسره به هغوئ وپوهيږي چې موږ له هغوئ سره ددين لپاره جنګيږو دهغوئ دمال دوړلو يا دهغوئ داولاددبندي کولو لپاره نه. نو اميد دی چې هغوخلکو په اسلام قبلولو سره به موږ د قتال له مشقت څخه خلاص شو.(۹) کومو کفارو ته چې داسلام دعوت رسيدلی وي هغوئ ته هم له قتال شروع کولو وړاندې داسلام دعوت ورکول مستحب دی مګر واجب نه دی ولې چې دعوت هغوئ ته رسيدلی دی.

(۱۰) که کفارو د اسلام له قبلولو او جزيه ورکولو څخه انکار وکړ نو مسلمانان دې له الله ﷻ څخه کومک وغواړي او له هغوئ سره دې قتال شروع کړي ولې چې الله ﷻ دخپلو اولياؤ مرسته کونکی دی او دخپلو دښمنانو هلاکونکی دی نو په ټولو امورو کې له الله ﷻ څخه مدد غوښتل په کار دي ،اوس به

مسلمانان له کفاروسره دمنجنیق (دایوه آله ده چې په هغې سره به لويې لويې ډبرې ويښتل کيدلې ،دډبرې ويښتلوپخوانی لاسي مشين دی ،مراد دادی چې دخپل دور اسلحه دي استعمال کړي)په نصب کولو جنګ کوي ولی چې نبی کريم ﷺ پرطائف منجنيق نصب کړی وو.او هغوئ دي په اورکې وسوځوي (يعنی دهغوئ کورنو،باغونه اواسباب وغيره)ولی چې نبی کريم ﷺ ديهودبنونضيردرختي سوځولي وي ،اوپرکافرانودي اوبه ورايله کړي يعنی که دهغوئ دغرق کولو موقع وي نوغرق دي کړي ،اودهغوئ درختي دي پرې کړي اوکښتونودي ورخراب کړي ولی چې په دي سره دهغوئ شوکت ختم اوجماعت متفرق کيږي په دي وجه دامشروع اعمال دي .

(۱۱)وَلَابَأسَ بِرَمْيِهِمْ وَإِنْ كَانَ فِيهِمْ مُسْلِمٌ أَسِيرٌ أَوْتَاجِرٌ (۱۲)وَإِنْ تَتَرَّسُوا بِصِبْيَانِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ بِالْأُسَارَى لَمْ يَكُفُّوا عَنْ رَمْيِهِمْ وَيَقْصِدُونَ بِالرَّمْيِ الْكُفَّارَ دُونَ الْمُسْلِمِينَ.

ترجمه: اوڅه حرج نشته پرهغوئ په غشي واروُلو کې که څه هم دهغوئ په منځ کې مسلمان بندي ياتاجروي اوکه هغوئ دمسلمانانو اولادونه يامسلمان بنديان خپل مخ ته سپرجوړ کړل نوهم دي مجاهدين پرهغوئ له غشي وارولو څخه نه منع کيږي اوپه غشي ويښتلو کې دي دکفارونيت وکړي نه دمسلمانانو .

تشريح :(۱۱) پرکافرانوپه ډبرواوغشوواروُلو کې هيڅ حرج نشته که څه هم مسلمان بندي يامسلمان تاجر دهغوئ په منځ کې موجود وي ولی چې په ويښتلو کې له مسلمانانو څخه دفع دضرر عام ده او دبندي اوتاجروژل ضرر خاص دی اودضرر عام په نسبت دضرر خاص قبلول اسهل دي.

(۱۲)که کافرانو دمسلمانانواولادونه يامسلمان بنديان خپل مخ ته سپرجوړ کړل نوهم دي مجاهدين پرهغوئ له ډبرو اوغشوويښتلو څخه لاس نه اخلي ځکه په دي ډول سره خوبه هغوئ دمسلمانانو اولادونه اوبنديان له هغوئ سره دجنګ کولو دابطال ذريعه جوړه کړي .البته په غشو اوډبرو ويښتلو کې نيت دکفاروکووولی چې فعلاً خواوس په مسلمانانواوکافرانوکې تميزکول ممکن نه دي حال داچې په نيت کې داامتيازممکن دی اوطاعت دقدرت په اندازه وي لهذا نيت به دکافرانوکوي .

(۱۳)وَلَابَأسَ بِإِخْرَاجِ النِّسَاءِ وَالْمَصَاحِفِ مَعَ الْمُسْلِمِينَ إِذَاكَانُوا عَسْكَرًا عَظِيمًا يُؤْمَنُ عَلَيْهِ(۱۴)وَيُكْرَهُ إِخْرَاجُ ذَالِكَ فِي سَرِيَّةٍ لَا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا(۱۵)وَلَاتُقَاتِلُ الْمَرْأَةُ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا وَلَا الْعَبْدُ إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ(۱۶)إِلَّا أَنْ يَهْجُمَ الْعَدُوُّ.

ترجمه: اوښځو اوقران مجيد له ځان سره په وړلو کې څه مضائقه نشته که دمسلمانانو جماعت لوی وي اوداطمينان وړوي اومکروه ده په کوچنی لښکر کې وړل کوم چې داطمينان وړنه وي اوښځه دي قتال نه کوي مګردخاوند په اجازه سره اونه به غلام قتال کوي مګردمولی په اجازه سره مګرداچې دښمن حمله وکړي .

تشريح :(۱۳) که د مسلمانانو جماعت لوی وو ډيره پرهغوئ ډيره خطره نه وه نو د ښځو او قران مجيد له ځان سره په وړلو کښې څه مضائقه نشته ولی چې غالب حال د سلامتيا دی والغالب كالمتحقق.

(۱۴) که د مسلمانانو ټولی کوچنی وي (کومې ته چې سريه ويل کيږي) پر کومه چې ډيرا طمينان نه وي نو بيا د ښځو او قران کريم له ځان سره وړل مکروه دي ولی چې په داسي صورت کښې د هغوئ د ضائع کيدلو او د هغوئ د استخفاف خطره ده

(۱۵) ښځه دي د خاوند له اجازه پرته او غلام دي د مولی له اجازي پرته جنګ نه کوي لماتقدم ان حق الزوج والمولی مقدم .(۱۶) البته که د مسلمانانو پر کوم ښار باندي د ښمن هجوم راوړ نو بيا د وئ لره قتال جائز دی ځکه په داسي صورت کښې جهاد فرض عين دی کماسبق.

(۱۷) وَيَنْبَغِي لِلْمُسْلِمِيْنَ اَنْ لايَغْدِرُوْا وَلا يَغُلُّوْا ولا يُمَثِّلُوْا (۱۸) وَلا يَقْتُلُوْا امْرَاَةً وَلا صَبِيًّا ولا شَيْخًا فَانِيًا وَلا اَعْمٰى ولا مُقْعَدًا (۱۹) اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ اَحَدُهٰؤُلاءِ مِمَّنْ يَكُوْنُ لَهُ رَاْیٌ فِی الْحَرْبِ (۲۰) او تَكُوْنَ الْمَرْاَةُ مَلِكَةً (۲۱) وَلا يَقْتُلُوْا مَجْنُوْنًا.

ترجمه: او مسلمانانو لره په کار ده چې غدر ونه کړي او غلول ونه کړي او مثله ونه کړي او ښځې او ماشومان او شيخ فاني او ړوند او ګوډ دي نه وژني مګر دا چې په دوئ کښې کوم يو په جنګي معاملو کښې رأيه ورکوي يا ښځه ملکه وي او ليونی دي نه وژني .

تشريح :(۱۷) مسلمانانو ته په کار ده چې غدر ونه کړي يعنی عهدمات نه کړي او غلول (د غنيمت له مال څخه غلا کولو ته غلول وايي) به نه کوي او د دشمن مثله (د مقتول د پوزي ،او غوږونو وغيره په پرې کولو سره د شکل خرابولو ته مثله وايي) به نه کوي ﴿لقوله ﷺ لاتغلوا ولاتغدروا ولاتمثلوا﴾ (يعنی د غنيمت مال مه غلا کوئ او وعده مه ماتوئ او مثله مه کوئ).

(۱۸) پر مسلمانانو واجب دی چې د دشمن قوم ښځي، او کوچنيان ،او شيخ فاني، او ړوند ،او ګوډ، به نه قتل کوي ولی چې مو ږ ته صرف د جنګ کونکو قتل مباح دی او دا خلګ اهل قتال نه دي .(۱۹) البته که له دي خلګو څخه کوم يو ه په جنګي معاملاتو کښې رأيه ورکوله نو هغه به هم قتل کيږي ولی چې دشمن د هغه له رأيې څخه استعانت حاصله وي.(۲۰) همدارنګه که د وئ کوم يو د هغوئ باچاوو نو هم به قتل کيږي ولی چې د ده په وژلو سره د دښمن جماعت پاشل کيږي.(۲۱) او همدشا دي د ښمن ليونيان هم نه وژني البته که هغوئ جنګ کاوو نو د شر د دفع کولو لپاره به وژل کيږي .

(۲۲) وَإِذَا رَأَى الْإِمَامُ أَنْ يُصَالِحَ أَهْلَ الْحَرْبِ أَوْ فَرِيقًا مِنْهُمْ وَكَانَ فِي ذَالِكَ مَصْلِحَةٌ لِلْمُسْلِمِينَ فَلَا بَأْسَ بِهِ (۲۳) فَإِنْ صَالَحَهُمْ مُدَّةً ثُمَّ رَأَى أَنَّ نَقْضَ الصُّلْحِ أَنْفَعُ نَبَذَ إِلَيْهِمْ وَقَاتَلَهُمْ (۲۴) فَإِنْ بَدَؤُا بِخِيَانَةٍ قَاتَلَهُمْ وَلَمْ يَنْبِذْ إِلَيْهِمْ إِذَا كَانَ ذَالِكَ بِاتِّفَاقِهِمْ (۲۵) وَإِذَا خَرَجَ عَبِيْدُهُمْ إِلَى عَسْكَرِ الْمُسْلِمِينَ فَهُمْ أَحْرَارٌ۔

ترجمه: او که امام مناسبه وګڼله چې له اهل حرب یاد هغوله کومې ډلې سره صلح وکړي او په دې کې دمسلمانو فائده وي نو په دې کې څه حرج نشته او که یې له هغوئ سره تریوې مدې پورې صلح وکړه بیایې ولیدل چې دصلح ماتول مفید دي نو امام دې دعهد ماتولو خبر هغوئ ته ورکړي او له هغوئ سره دې قتال شروع کړي او که هغوئ دبد عهدۍ پیل وکړنو له هغوئ سره دې جنګ وکړي او دعهد ماتولو خبر دې نه ورکوي که دا دهغوئ په اتفاق سره وو او که دکافرانو غلام دمسلمانانو لشکرته راوتښتید ونو هغه ازاد دی.

تشریح :(۲۲) که دمسلمانانو امام (پاچا) دمسلمانانو لپاره دا ښه وګڼله چې د اهل حرب یا د اهل حرب له یو فرقې (ډلې) سره پرترک قتال (جنګ نه کولو) باندې صلح وکړي او په دې صلح کې دمسلمانانو فایده هم وي نو په دې کې څه حرج نشته ولې چې په مصالحت کې دمسلمانانو فائده وي نو دا معنی جهاددی په دې وجه چې دجهاد مقصود اصلي (یعنی دفع شر) حاصل شو.

(۲۳) که امام (پاچا) له کافرانو سره تریوې مودې پورې صلح وکړه، بیایې دصلحې په ماتولو کې دمسلمانانو لپاره خیر ولیدی ،نو امام دې دصلحې دماتولو خبر کافرانو ته ور ولیږي بیادې له دوئ سره جنګ شروع کړي ،ولې کله چې دمسلمانانو مصلحت بدل شو نو بیا دعهد ماتول جهاد دی، او په داسې حال کې وعده پوره کول ظاهرا او معنی ترک جهاد دی ، په دې وجه به عهد ماتوي.

(۲۴) که کافرانو په خپله وعده ماته کړه نو امام به له دوئ سره قتال کوي او دعهد دماتولو خبر به نه ورکوي په دې شرط چې دا دهغوئ په اتفاق سره وي ځکه کله چې هغوئ په خپله وعده ماته کړه نو اوس دهغې دماتولو ضرورت پاتې نه شو. (۲۵) که دکافرانو غلام دمسلمانانو لشکرته راوتښتید ونو هغه ازاددی ځکه چې هغه دخپل مولی په ناراضوولو سره دمسلمانان لشکرته په راتلو خپل ځان محفوظ کړ.

(۲۶) وَلَا بَأْسَ أَنْ يَعْلِفَ الْعَسْكَرُ فِي دَارِ الْحَرْبِ وَيَأْكُلُوا مَا وَجَدُوْهُ مِنَ الطَّعَامِ وَيَسْتَعْمِلُوا الْحَطَبَ وَيَدْهِنُوا بِالدُّهْنِ (۲۷) وَيُقَاتِلُوا بِمَا يَجِدُوْنَهُ مِنَ السِّلَاحِ كُلُّ ذَالِكَ بِغَيْرِ قِسْمَةٍ (۲۸) وَلَا يَجُوْزُ أَنْ يَبِيْعُوا مِنْ ذَالِكَ شَيْئًا وَلَا يَتَمَوَّلُوْنَهُ

ترجمه: او څه حرج نشته چې د اسلام لښکر په دار الحرب کې خپلو سور لیو ته واښه ورو خوري او وې خوري په خپله چې دخورک کوم شی وموندې او دسون توکې استعمال کړي او وجنګیږي په داسې اسلحه سره چې دوې یې ترلاسه کړي دا ټول شیان ترتقسیم وړاندې او له دې شیانو څخه دکوم شي خرڅول جائزنه دي او نه دا چې کوم شی ذخیره کړي.

تشریح :(۲۶) دمسلمانانو دلښکرلپاره جائزدی،چې په دارالحرب کې خپلو څارویوته دهغه ځای واښه وغیره ورکړي،اوپه خپله هم دخوراک له شیانو څخه (مثلا ډوډۍ غوښه) خوراک کولای شي،اوهمداشان دهغه ځای لرګي سوځولای شي،اودهغه ځای تیل استعمالولای شي ځکه ددي شیانو داستعمالولو ضرورت وي.

(۲۶)مسلمانانوته چې په دارالحرب کې کومه اسلحه په لاس ورشي نوپه هغې له کافرانوسره جنګ کولای شي خوهغه وخت چې مجاهدته ددي اسلحي داستعمال ضرورت وي مثلاًدده خپله توره یانیزه ماته شي یاله ده سره بالکل اسلحه نه وي .اودپورته ذکرشویوټولوشیانواستعمال بغیرله تقسیم بین المسلمین جائزدی.(۲۸)البته ددي شیانوخرڅول یاخپل ځان لره ذخیره کول جائزنه دي ځکه ددي شیانوپه اوچتولوسره مجاهدددي شیانومالک نه ګرځي بلکه صرف ده لره دضرورت په وجه ددي شیانواستعمال مباح شوی دی.

(۲۹)وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمْ أَحْرَزَ بِإِسْلامِهِ نَفْسَهُ(۳۰)وَأَوْلادَهُ الصِّغَارَ(۳۱)وَكُلَّ مَالٍ هُوَ فِي يَدِهِ أَوْ وَدِيعَةً فِي يَدِ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ.

ترجمه:اوچاچې له هغوئ څخه اسلام قبول کړنوهغه داسلام په وجه سره خپل ځان او خپل نابالغ اولادمحفوظ کړاوهرداسي مال یې محفوظ کړچې دهغه په قبضه کې وي یایې په ودیعت ایښی وي له کوم مسلمان یاذمي سره .

تشریح :(۲۹) په کافرانو کې چې څوک په دارالحرب کې ایمان راوړي نو هغه دخپل اسلام په وجه سره خپل ځان محفوظ کړولی چې له اسلام سره ابتدائً مملوک والی ممکن نه دی.(۳۰) اوده خپل نابالغ اولاد هم محفوظ کړولی چې هغوئ دخپل پلار داسلام له کبله دهغه په تبع سره مسلمان دي.(۳۱) اوده خپل هرهغه مال هم محفوظ کړچې دده په قبضه کې دی،ولی چې دمجاهدینو له قبضې څخه دده قبضه وړاندي ده ،همداشان ده خپل هغه مال هم محفوظ کړکوم چې ده له کوم مسلمان یاذمی سره امانت ایښی وي ځکه چې دده قبضه ګواکې دمالک قبضه ده .

(۳۲)فَإِنْ ظَهَرْنَا عَلَى الدَّارِ فَعَقَارُهُ فَيْءٌ(۳۳)وَزَوْجَتُهُ فَيْءٌ(۳۴)وَحَمْلُهَا فَيْءٌ(۳۵)وَأَوْلادُهُ الْكِبَارُ فَيْءٌ.

ترجمه:اوکه موږپردارالحرب باندي غالب شوونوددي کس ځمکه غنیمت ده اودده ښځه اودهغې حمل اودده لوی اولادغنیمت دی.

تشریح :(۳۲) که مسلمانان پردارالحرب باندي شول نوددي کس (کوم چې په دارالحرب کې مسلمان شوی دی)غیرمنقول مال ټول غنیمت ګرځي ځکه چې داددارالحرب دبادشاه په قبضه کې دی ځکه چې داهم ددارالحرب له جملي څخه دی نوحقیقة دادمالک په قبضه کې نه دی هم داشان ددي نوي مسلمان ښځه هم غنیمت ګرځي ،ولی چې هغه حربیه کافره ده،اوپه اسلام کې دخاوند تابع نه ده.(۳۴) اوهمداشان ددي

ښځي حمل هم غنيمت ګرځي ولی چې دا حمل لاتراوسه ددي ښځي جز ءدی،نوپه رقيت کې دمور تابع دی.(۳۵)همداشان ددي نوي مسلمان بالغ اولادهم مال غنيمت ګرځي ځکه چې داحربي کافران دي دپلارتابع نه دي .

(۳۶)وَلَا يَنْبَغِي اَنْ يَبَاعَ السَّلَاحِ مِنْ اَهْلِ الْحَرْبِ(۳۷)وَلَا يَجَهَّزَ اِلَيْهِمْ(۳۸)وَلَا يُفَادُوْنَ بِالْاُسَارٰی عِنْدَ اَبِی حَنِیْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَا رحمهما الله يُفَادٰی بِهِمْ اُسَارَی الْمُسْلِمِيْنَ(۳۹)وَلَا يَجُوزُ الْمَنَّ عَلَيْهِمْ

ترجمه:اومناسبه نه ده چې اسلحه پرحربيانو خرڅه کړي اونه دي دوري اسباب وړي اونه دي هغوئ دبنديانوپه بدل کې پريږدي دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزداوصاحبين فرمايي چې دمسلمان بنديانوپه بدل کې دي هغوئ ايله کړي اوپرهغوئ احسان کول جائزنه دي .

تشريح :(۳۶)مسلمانانولره پرکافرانواسلحه خرڅول مناسب نه دي بلکه جائزنه دي .(۳۷)اونه دي دوري مسلمان تاجرسامان وړي يعنی اسلحه وغيره ځکه چې په دي دواړوصورتونوکې اهل حرب ته دمسلمانانوپرخلاف دجنګ قوت حاصليږي .(۳۸) دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد کافرقيدي (بندي) دمسلمان قيدي په بدل کې خلاصول جائزنه دی،ولی چې په دي کې دکفارومعونت دی ،په دي وجه چې داکافرچې ولاړشي بيابه له موږسره جنګيږي، اوصاحبين فرمايي چې دمسلمان بنديانوپه عوض کې ددوئ خلاسول جائزدي ولی چې په داشان کولوکې دمسلمان تخليص (يعنی دکفاروله بندڅخه ازاديدل)دي اوتخليص مسلم له قتل کافرڅخه ښه دی.(۳۹) په کافربنديانوباندي احسان کول هم جائزنه دي (چې نه يې غلام جوړکړي اونه يې قتل کړي بلکه ازاديې کړي)ولی چې په دي کې دغانمينودحق ابطال دی .

(۴۰)وَاِنْ فَتَحَ الْاِمَامُ بَلْدَةً عَنْوَةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ اِنْ شَاءَ قَسَمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِيْنَ وَاِنْ شَاءَ اَقَرَّ اَهْلَهَا عَلَيْهَا وَوَضَعَ عَلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ وَعَلٰی اَرَاضِيْهِمُ الْخَرَاجَ

ترجمه:اوکه امام کوم ښارپه جنګ کولوسره فتح کړنوده لره اختياردی که يې خوښه شوه نوهغه دي دمجاهدينوپه منځ کې تقسيم کړي اوکه يې خوښه شوه نودهغه ځای خلک دي پرهغه برقرارو ساتي اوپرهغوئ دي جزيه اودهغوئ پرځمکودي خراج مقررکړي .

تشريح :(۴۰) که امام کوم ښارپه جنګ فتح کړنوده لره دهغه ځای په ځمکوکې اختياردی که يې خوښه شوه نوهغه دي په مجاهدينوتقسم کړي لکه نبی کريم ﷺ چې خيبرتقسم کړی وواوکه يې خوښه شوه نودهغه ځای خلک دي پرهغوبرقراروساتي ،اوپردوئ دي جزيه اوپرځمکودي خراج مقررکړي ولی چې حضرت عمر رضی الله عنه په عراق کې دصحابه کرام رضی الله عنهم په موافقت همدشان کړي وو.

(۴۱) وَهُوَ فِي الْأَسْرَى بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ قَتَلَهُمْ وَإِنْ شَاءَ اسْتَرَقَّهُمْ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُمْ أَحْرَارًا ذِمَّةً لِلْمُسْلِمِينَ (۴۲) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَرُدَّهُمْ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ۔

ترجمه: او هغه لره په کافربندیانو کښ اختیار دی که یې خوښه شوه نو هغه دې قتل کړي او که یې خوښه شوه نو هغوئ دې غلامان کړي او که یې خوښه شوه نو هغوئ دې ازاد پریږدي او د مسلمانانو ذمیان دې کړي او جائز نه ده چې بندیان دارالحرب ته واپس کړي.

تشریح: (۴۱) د مسلمانانو امام ته د بندیانو په حق کښ دري قسمه اختیار دي، که خوښه شوه قتل دې کړي ترڅو چې د فساد ماده بالکل ختمه شي، او که یې خوښه شوه نو هغوئ دې غلامان جوړ کړي، ولی چې په دې کښ د مسلمانانو لپاره ډېره فائده ده، او که یې خوښه شوه نو هغوئ دې ازاد پریږدي او د مسلمانانو ذمیان دې جوړ کړي، لکه څرنګه چې عمر رضي الله عنه د عراق له خلګو سره کړي وو (۴۲) مګر دا جائز نه ده چې بندیان دارالحرب ته واپس کړي ولی چې په دې شان کولو سره حربیانو ته د مسلمانانو په خلاف قوت حاصلیږي.

(۴۳) وَإِذَا أَرَادَ الْعَوْدَ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ وَمَعَهُ مَوَاشٍ فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى نَقْلِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ذَبَحَهَا وَحَرَقَهَا وَلَا يَعْقِرُهَا وَلَا يَتْرُكُهَا (۴۴) وَلَا يَقْسِمُ غَنِيمَةً فِي دَارِ الْحَرْبِ حَتَّى يُخْرِجَهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ۔

ترجمه: او که امام له دارالحرب څخه دارالاسلام ته د راګرځیدو اراده وکړه او له هغه سره څاروي وو او دارالاسلام ته د هغو د نقلولو قدرت یې نه وو نو هغه دې ذبح کړي او ودې سوځوي او د هغو پښې دې نه پرې کوي او نه دې د غسې پریږدي او غنیمت دې په دارالحرب کښ نه تقسیموي ترڅو چې دارالاسلام ته یې راورسوي.

تشریح: (۴۳) که امام له دارالحرب څخه دارالاسلام ته د تلو اراده وکړه او له امام سره د کافرانو څاروي هم وو، نو که دارالاسلام ته د هغو راوړل مشکل وو، نو امام دې دا څاروي ذبح کړي او ودې سوځوي ولی چې څاروي د صحیح مقصد لپاره ذبح کول جائز دي او له دې څخه زیات صحیح مقصد څه کیدای شي چې په دې سره د کافرانو قوت او شوکت ماتیږي او هغه څاروي دې د پښو په پرې کولو سره ژوندي نه پریږدي ولی چې په دې کښ د حیوان تعذیب دی، او نه دې د کافرانو لپاره ژوندي پریږدي ترڅو هغوئ له دې څخه فائده حاصله نه کړي.

(۴۴) امام دې په دارالحرب کښ مال غنیمت نه تقسیموي بلکه هغه دې دارالاسلام ته راوړي او بیا دی تقسیم کړي ولی چې دارالاسلام ته په راوړلو سره هغه محفوظ کیږي او په مال غنیمت کښ د مجاهدینو ملک ثابتیږي.

(۴۵) وَالرِّدْءُ وَالْمُقَاتِلُ فِي الْعَسْكَرِ سَوَاءٌ (۴۶) وَإِذَا لَحِقَهُمُ الْمَدَدُ فِي دَارِ الْحَرْبِ قَبْلَ أَنْ يُخْرِجُوا الْغَنِيمَةَ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ شَارَكُوهُمْ فِيهَا (۴۷) وَلَا حَقَّ لِأَهْلِ سُوقِ الْعَسْكَرِ فِي الْغَنِيمَةِ إِلَّا أَنْ يُقَاتِلُوا۔

ترجمه: اوردء او مقاتل په لشکر کې سره برابر دي او که له مجاهدینو سره کومک کونکی لشکر په دار الحرب کې یو ځای شو د غنیمت دار الاسلام ته له راوړلو څخه وړاندي نو کومک کونکي هم له هغوئ سره په مال غنیمت کې شریکان دي او په مال غنیمت کې دلشکر دبازاریانو هیڅ حق نشته مګر دا چې هغوئ هم قتال وکړي.

تشریح: (۴۵) یعنی په لښکر کې جنګ کونکي او کومک کونکي دواړه په حصو کې سره برابر دي ځکه چې په سبب کې دواړه سره برابر دي او سبب د دارالحرب له سرحد څخه وراوښتل یا په جنګ کې حاضریدل دي.
(۴۶) او که مجاهدینو ترواسه له دارالحرب څخه دغنیمت مال نه وو را ایستلی چې مددګار لشکر په دارالحرب کې له مجاهدینو سره یو ځای شو نو مددګار هم له دوئ سره په مال غنیمت کې شریک دي ولی چې دفوځ له استقرار ملک څخه وړاندي د دوئ له طرف څخه معنی جهاد متحقق شو.

(۴۷) په مال غنیمت کې دلښکر دبازار والا (یعني له لښکر سره چې کوم بازاردی په هغه کې تجارت کونکي په لښکر کښي شامل دي لیکن د دوئ مقصد جنګ کول نه دی خپل تجارت کول دي) شریک نه دي، ولی چې هغوئ په قصد دجنګ له سرحد څخه نه دي اوښتي، نو دسبب دنیستي والي له کبله دوئ دغنیمت حقدار نه دي، هو که دوئ هم په جنګ کې شریک شول، نو دوجود سبب په وجه سره به هغوئ هم دغیمنت مستحق وي.

(۴۸) وَإِذَا أَمَّنَ رَجُلٌ حُرٌّ أَوِ امْرَأَةٌ حُرَّةٌ كَافِرًا أَوْ جَمَاعَةً أَوْ أَهْلَ حِصْنٍ أَوْ مَدِينَةٍ صَحَّ أَمَانُهُمْ وَلَمْ يَجُزْ لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَتْلُهُمْ (۴۹) إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي ذَالِكَ مَفْسِدَةٌ فَيَنْبِذُ إِلَيْهِمُ الْإِمَامُ۔

ترجمه: او که ازاد نارینه یا ازادي ښځې کوم کافرته یا دکفارو کوم جماعت ته یا کوم اهل قلعي ته یا کوم ښاروالو ته امان ورکړنو د دوئ امان صحیح دی او اوس کوم مسلمان لره د دي کافرانو قتل کول جائزنه دي مګر دا چې په دي کې څه خرابي وي نو امام به دعهد د ماتولو خبر هغوئ ته ورکړي.

تشریح: (۴۸) که له موږ څخه یو ازاد سړي یا ازادې ښځې یو کافرته، یا دکافرانو یو جماعت ته، یا د یو قلعي والاته، یا د یو ښاروالا ته، امن ورکړ نو دا امان ورکول صحیح دی، اوس له موږ څخه یوه ته هم د دوئ وژل جائزنه دي، ولی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې دمسلمانانو وینه په خپل منځ کې سره برابره ده او د دوئ دذمه واري لپاره د دوئ ادنی هم سعی کوي یعنی که ادنی هم چاته پناه ورکړي نو هغه دټولو پر ذمه لازمیږي.

(۴۹)البته که په دې دول امن ورکولو کې دمسلمانانو لپاضرروو،نو دمسلمانانو امام (پاچا) دې و دوئ ته دعهد ماتولو خبر ورولیږي ،لکه څرنګه چې امام په خپله امن ورکړی وي ،بیاپه عهد ماتولو کې مصلحت معلوم شي نو دعهد ماتولو خبر ورلیږي .

(۵۰)ولایَجُوزُ اَمَانُ ذِمِّيٍّ ولااَسِيْرٍ ولاتَاجِرٍ يَدْخُلُ عَلَيْهِمْ (۵۱) ولایَجُوزُ اَمَانُ الْعَبْدِ عِنْدَاَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اِلَّا اَنْ يَّاْذَنَ لَه مَوْلَاهُ فِي الْقِتَالِ وقَالَ اَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يَصِحُّ اَمَانُه

ترجمه:اوذمی امان ورکول جائزنه دي اونه دبندي اونه دداسي تاجرکوم چې کافرانوته ځي راځي اودغلام امان ورکول جائزنه دي دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدمګرداچې مولی هغه ته دقتال اجازت ورکړی وي اوصاحبین فرمایي چې دغلام امان ورکول صحیح دي .

تشریح :(۵۰) که ذمي کوم کافرته امان ورکړ نوداجائزنه دی ولی چې ذمي کافرانوته په امن ورکولو کې متهم دی،همداشان کوم مسلمان چې له دوئ سره بندي دی یامسلمان داسي تاجر وي کوم چې ددوئ طرف ته ځي ، نوددوئ کوم کافرته امن ورکول هم جائزنه دی ولی چې په دي شان سره خوبه کفارهروخت زموږدکوم بندي یاتاجرپه موندلوسره له ده څخه په امان اخیستلوسره خلاسیږي نوپه دي شان به په مجاهدینودفتح دروازي وتړلي شي .

(۵۱)دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد زموږدکوم محجورعن القتال(له جنګ څخه منع شوی)غلام کوم کافرته امان ورکول هم جائزنه دی ولی چې امان ورکول هم یو عقددی اوغلام محجورعن العقوددی لهذادغلام امان ورکول صحیح نه دی ،البته که دده مولی ده ته دجنګ کولواجازت ورکړی وي نوبیادده امان ورکول صحیح دی ولی چې په اجارت فی القتال سره دی مأذون ګرځي نودده عقدامان هم صحیح دی ،دصاحبینوپه نزددغلام کوم کافرته امان ورکول صحیح دی ولی چې غلام هم مؤمن اوصاحب قوت دی نودده امان ورکول صحیح دی لکه چې دهغه غلام امان ورکول صحیح دی کوم ته چې دقتال اجازه ورکړل شوي وي .(دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی) .

(۵۲)وإذَاغَلَبَ التُّرْکُ عَلَى الرُّوْمِ فَسَبَوْهُمْ وَاَخَذُوْااَمْوَالَهُمْ مَلَكُوْهَا(۵۳)وإنْ غَلَبْنَاعلى التُّرْکِ حَلَّ لَنَامَانَجِدُهُ مِنْ ذَالِکَ .

ترجمه:اوکله چې ترک پررمیانو غالب شي اوهغوئ بندیان کړي اودهغوئ مالونه ویسي نوهغوئ دهغومالک ګرځي اوکه موږپرترکیانو غالب شوونوزموږلپاره حلال دي هغه کوم چې موږله هغوڅخه ومونده .

تشريح :(۵۲) کله چې دترکان (مراد دترک کافران دي)مثلا پر روميانو (مراددروم کافراندي)اندي غالب شي(يعني د يو کفري ملک خلک دبل کفري ملک پرخلکوباندي غالب شي)اوهغوئ بنديان کړي اومالونه تري واخلي نودترک والا ددي مالونو مالکان ګرځي،ولی چې داهل حرب مالونه مباح دي،اورومي کافراهل حرب دی نوترکي کافردهغه په وړلوسره مالک ګرځي .(۵۳)بياکه موږپرترکيانو غالب شوونودهغوئ هغه اموال کوم چې هغوئ له روميانوڅخه وړي دي که موږوموندل نوهغه زموږلپاره حلال دي دهغوئ په نورو مالونو په قياسولوسره.

(۵۴)وَإِذَاغَلَبُوا عَلى أَمْوَالِنَا وَأَحْرَزُوْهَابِدَارِهِمْ مَلَكُوْهَا(۵۵)فَإِنْ ظَهَرَ عَلَيْهَا الْمُسْلِمُوْنَ فَوَجَدُوْهَاقَبْلَ الْقِسْمَةِ فَهِيَ لَهُمْ بِغَيْرِشَيْءٍ(۵۶)وإِنْ وَجَدُوْهَا بَعْدَالْقِسْمَةِ أَخَذُوْهَا بِالْقِيْمَةِ إِنْ أَحَبُّوْا۔

ترجمه:اوکه کفارزموږپرمالونوغالب شول اوهغه يې په دارالحرب کې محفوظ کړل نومالکان يې ګرځي بياکه مسلمانان پرهغوغالب شول اوهغه له تقسيم څخه وړاندي وموندي نوهغه ددوئ کيږي بغيرله کوم عوض څخه اوکه يې له تقسيم څخه وروسته وموندل نوکه يې خوښه وه نوپه قيمت دي واخلي.

تشريح :(۵۴) او که کله کافران معاذالله زموږپرمالونوباندي غالب شول اوهغه يې لوټ کړل او دارالحرب ته يې يووړل نودوئ يې مالکان ګرځي ،ولی چې دمالونوعصمت دشريعت له احکاموڅخه يوحکم دی،اوکافران په دي احکامو مخاطب نه دي، لهذا دا مالونه ددوئ په حق کې غيرمعصوم دي ، نوپه دي وجه يې دوئ مالکان کيږي.

(۵۵)بياکه مسلمانان پرهغو کافرانو باندي غالب شول او پرهغه مالونو باندي يې قبضه وکړه کوم چې هغوئ له مسلمانانوڅخه وړي وو،نوکه دمال غنيمت له تقسيمدلوڅخه وړاندي اصل مالکانوخپل دامالونه وموندل نودوئ دخپل دامالونه بغيرله کوم عوض څخه واخلي ولی چې ددوئ قديم ملک مالک بغيرددوئ له خوښې زائل شوي وونودهغه په لحاظولوسره ددوئ ته داخيستلوحق دی.

(۵۶)که دمال غنيمت له تقسيم څخه ورسته مسلمانانوخپل مال له يومجاهدسره وموندی نواوس اصلی مالک ته په قيمت باندي دخپل مال داخيستلواختيارشته اوبلاقيمت نشته ځکه چې له تقسيمېدلوڅخه وروسته چې له کوم مجاهدسره پيداشي له هغه څخه په مفت اخيستلوکې هغه ته ضرر دی،البته په قيمت سره په اخيستلوکې ددواړو طرفونو رعايت دی، په دي وجه اصل مالک ته دااختيارورکړل شوی دی.

(۵۷)وإنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرٌ فَاشْتَرٰى ذَالِكَ فَأَخْرَجَهُ إِلٰى دَارِ الْإِسْلَامِ فَمَالِكُهُ الْأَوَّلُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِالثَّمَنِ الَّذِي اشْتَرَاهُ بِهِ التَّاجِرُ وإنْ شَاءَ تَرَكَهُ۔

ترجمه: او که کوم تاجر دارالحرب ته داخل شو او هغه یې واخیست دارالاسلام ته یې راوړ نو د هغه مخکنی مالک لره اختیار دی که یې خوښه وي نو په هغو مره قیمت دي واخلي په څومره چې تاجر اخیستی دی او که خوښه وي پرې دي ږدي.

تشریح:(۵۷) که کوم تاجر دارالحرب ته ولاړی او د مسلمانانو دغه مالونه یې په قیمت سره واخیستل او دارالاسلام ته یې راوړل ، نو لومړنیو مالکانو لره اختیار دی که یې خوښه وي نو تاجر ته دي هغو مالونو قیمت ورکړي او وادي خلې په کوم قیمت چې تاجر له کافرانو څخه اخیستي دي ،او که یې خوښه وي پریدېږدي ،ولې چې په مفت اخیستلو کې د تاجر ضرر دی،په دې وجه چې هغه د دي مال په عوض کې قیمت ورکړی دی هغه مال،فكان اعتدال النظر فيما قلنا.

(۵۸)وَلَا يَمْلِكُ عَلَيْنَا أَهْلُ الْحَرْبِ بِالْغَلَبَةِ مُدَبَّرِيْنَا وَأُمَّهَاتِ أَوْلَادِنَا وَمُكَاتَبِيْنَا وَأَحْرَارِنَا (۵۹) وَنَمْلِكُ عَلَيْهِمْ جَمِيْعَ ذَالِكَ۔

ترجمه: او اهل حرب پر موږ د غلبي کولو په وجه سره زموږ د مدبر، ام ولد ،مکاتب او زموږ د ازادو نارینه او ښځو مالکان نه ګرځي او موږ د هغوئ د دي ټولو مالکان ګرځو.

تشریح:(۵۸) که کفار پر موږ غالب شول (اعاذنا الله) نو دوئ زموږ د ازاد او مدبر او ام ولد او مکاتب د نارینه او ښځو مالکان نه شي کیدلای ،ولې چې مدبر او ام ولده او مکاتب من وجه ازاد دي او حر من کل الوجوه ازاد دی،او ازاد خو معصوم بنفسه وي فلا یملکون.(۵۹) او که موږ پر دوئ باندي غالب شو نو موږ د دوئ د مدبر و غیره د ټولو مالکان ګرځو ولې چې د دوئ د کفر په وجه سره شریعت د دوئ عصمت ساقط کړی دی،فنملک علیهم.

(۶۰)وإذَا أَبَقَ عَبْدٌ لِمُسْلِمٍ فَدَخَلَ إِلَيْهِمْ فَأَخَذُوْهُ لَمْ يَمْلِكُوْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ مَلَكُوْهُ (۶۱) وإنْ نَدَّ إِلَيْهِمْ بَعِيْرٌ فَأَخَذُوْهُ مَلَكُوْهُ۔

ترجمه: او که د یو مسلمان غلام وتښتید او دارالحرب ته ولاړی او هغوئ ونیوئ نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزدیې هغوئ مالکان نه ګرځي او صاحبین فرمایي هغوئ مالکان کیږي او که اوښ وتښتید او دارالحرب ته ولاړی او هغوئ ونیو نو هغوئ یې مالکان کیږي.

تشریح :(۶۰) او که د کوم مسلمان غلام وتښتیدی او دارالحرب ته ولاړ او کافرانو هغه ونیوی نو دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد کافر د هغه مالک نه ګرځي ،ولې چې دارالحرب ته په تللو سره د مولی قبضه له ده څخه زائله شوه نو دده ذاتي اختیار پر خپل ځان ظاهر شو ،نو دی د معصوم بنفسه کیدو په وجه سره د ملک محل پاتې نه شو ،په دې وجه هغوئ دده مالک نه ګرځي ،او د صاحبینو رحمهما الله په نزد کافر دده مالک ګرځي (دامام ابو حنیفه رحمه الله قول راجح دی).

(۶۱) که زموږ اوښ یا یو بل حیوان وځغستل دارالحرب ته ولاړ ی او کافرانو ونیوی نو دوئ د هغه مالکان ګرځي ،ځکه دارالحرب ته د تللو په وجه سره د مالک له قبضې څخه ووتی، او حیوان پر خپل ځان اختیار نه لري لهذا معصوم هم نه دی، بس نو د مال مباح کیدلو له کبله دوئ د هغه مالکان ګرځي.

(۶۲) وَإِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْإِمَامِ حَمُولَةٌ يَحْمِلُ عَلَيْهَا الْغَنَائِمَ قَسَمَهَا بَيْنَ الْغَانِمِينَ قِسْمَةَ إِيدَاعٍ لِيَحْمِلُوهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ يَرْتَجِعُهَا مِنْهُمْ فَيَقْسِمُهَا.

ترجمه: او که له امام سره دومره اندازه د بار وړ تو کولو اسباب نه وي چې پر هغو مال غنیمت راوړي نو د امانت په ډول دې هغه پر مجاهدینو تقسیم کړي تر څو هغه یې دارالاسلام ته راوړي بیا دې له دوئ څخه بیرته واپس کړي او تقسیم دې کړي.

تشریح :(۶۲) که په دارالحرب کې غنائم په لاس ورغلل او له امام سره دومره څاروي او بار وړونکې اسباب نه وي چې په هغو غنائم بار کړي او دارالاسلام ته یې راوړي نو د امانت په ډول دې په مجاهدینو تقسیم کړي تر څو هغوئ دا اموال غنمیت دارالاسلام ته راوړي ولې چې مال غنیمت او سورلي ټول د مجاهدینو دي بیا دې له ټولو څخه را جمع کړي او تملیکا دې د دوئ په منځ کې تقسیم کړي.

(۶۳) وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْغَنَائِمِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ فِي دَارِ الْحَرْبِ (۶۴) وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْغَانِمِينَ فِي دَارِ الْحَرْبِ فَلَا حَقَّ لَهُ فِي الْقِسْمَةِ (۶۵) وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْغَانِمِينَ بَعْدَ إِخْرَاجِهَا إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ فَنَصِيبُهُ لِوَرَثَتِهِ.

ترجمه: او په دارالحرب کې له تقسیم څخه وړاندې د غنائمو خرڅول جائز نه دي او کوم مجاهد چې په دارالحرب کې مړ شي نو د غنیمت په تقسیم کې د هغه هیڅ حق نشته او کوم څوک چې د غنیمت دارالاسلام ته له راوړلو څخه وروسته مړ شي نو د هغه حصه به د هغه وارث ته ورکول کیږي.

تشریح :(۶۳) یعنې تر تقسیم وړاندې په دارالحرب کې د مال غنیمت خرڅول هیچاته هم جائز نه دي، ځکه چې له تقسیم څخه وړاندې یې هغه مالک نه دی .(۶۴) که کوم مجاهد په دارالحرب کې مړ شو ،نو د مال غنیمت دارالاسلام ته له راوړلو ورسته دده په مال غنیمت کې هیڅ حق نشته ،یعنې دده وارثانو ته به دده حصه

نه ورکول کیږي،ولی چې میراث خودمورث په ملک کې جاري کیږي ،اومال غنیمت دارالاسلام ته له راوړلوڅخه وړاندي دمورث ملک نه دی.(۶۵) که دارالاسلام ته دمال غنیمت له راوړلوڅخه وروسته کوم مجاهد مړشي ،نودده حصه به دده وارثانوته ورکول کیږي ،ولی چې دوارثانوحق په دي کې دمورث په واسطه سره ثابت شوی دی.

(۶۶) ولابَأسَ بِأَنْ يُنَفِّلَ الإِمَامُ فِي حَالِ الْقِتَالِ وَيُحَرِّضَ بِالنَّفْلِ عَلَى الْقِتَالِ فَيَقُولُ مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً فَلَهُ سَلَبُهُ (۶۷) أَوْيَقُولُ لِسَرِيَّةٍ قَدْجَعَلْتُ لَكُمُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ (۶۸) ولايُنَفِّلُ بعدَاحْرَازِ الْغَنِيمَةِ إِلَّامِنَ الْخُمُسِ (۶۹) وإذَالَمْ يَجْعَلِ السَّلَبَ لِلْقَاتِلِ فَهُوَمِنْ جُمْلَةِ الْغَنِيمَةِ وَالْقَاتِلُ وَغَيْرُهُ فِيهِ سَوَاءٌ (۷۰) وَالسَّلَبُ مَاعَلَى الْمَقْتُولِ مِنْ ثِيَابِهِ وَسِلَاحِهِ وَمَرْكَبِهِ.

ترجمه: اوهیس حرج نشته چې امام دجنګ په حالت کې دانعام وعده وکړي اوپه انعام ورکولوسره يې پرجنګ باعثه کړي اووایې چې څوک چې قتل کړي دهغه سازاوسامان دهغه دی یاسریې ته وایې چې له خمس څخه وروسته یوه څلورمه ماستاسي لپاره ځانګړي کړي ده اوامام انعام نه شي مقررکولای دمال غنیمت له محفوظ کولوڅخه ورسته مګرله خمس څخه اوکه یې سامان قاتل ته مقررنه کړنو هغه غنیمت دی اوپه هغه قاتل اوغیرقاتل سره برابردي اوسلب دمقتول دبدن جامي اودهغه سورلۍ اواسلحه ده .

تشریح :(۶۶) که دجنګ پروخت باندي امام یوڅاته څه انعام ورکړي یادانعام وعده وکړي دمجاهدینو دزړه دلوړه ولولپاره نوپه دي کې څه حرج نشته مثلاداسي ووای،من قتل قتیلافله سلبه،(یعني کوم کس چې کوم کافرقتل کړي نودهغه مقتول سامان به هغه ته ورکول کیږي).(۶۷) یاکومي ډلګۍ(کوچنی لشکر) ته داسي ووای چې د خمس له جلاکولو وروسته دغنیمت څلورمه برخه خاص ستاسي لپاره انعام دی ،ولی چې انعام ورکول د مجاهدینو جهادته دآماده(تیارولو) کولو یوه طریقه ده،وقدقال اللهتعالی﴿حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ﴾(یعنی مومنان پرجهاد باندي اماده کړه).

(۶۸)البته مال غنیمت دارالاسلام ته له راوړلو اومحفوظ کولو وروسته امام صرف له خمس څخه یوچاته انعام مقررکولی شي،ولی چې په دارالاسلام کې په محفوظ کولوسره له باقي څلورو اخماسوسره اوس دغانمینوحق متعلق شوی دی البته په خمس کې دغانمینوهیڅ حق نشته په خمس کې دامام رأیه چلیږي.

(۶۹)که امام دمقتول کافر داسبابو وعده له قاتل سره نه وه کړې نودهغه سامان هم دغنیمت له جملي څخه دی ، په هغه کې قاتل اوغیرقاتل ټول سره برابردي ،ځکه چې داسامان دلښکرپه قوت باندي راوړل شوی دی نوله غنیمت څخه به شماروي .(۷۰) اودمقتول له سلب (اسبابو)څخه مراد دده دبدن جامې اودده سپرلۍ اودده سلاح ده ، همداشان دده دسپرلۍ زین اوغیره هم په سلب کې شامل دي.

(۷۱) وإذا خرج المسلمون من دار الحرب لم يجز أن يعلفوا من الغنيمة ولا يأكلوا منها شيئاً (۷۲) ومن فضل معه علف او طعام رده الى الغنيمة

ترجمه: او کله چې مسلمانان له دار الحرب څخه راووځي نو بيا دوئ ته جائز نه دي چې له مال غنيمت څخه خپلو څارويو ته وښه ورو خوروي او نه دي خپله له مال غنيمت څخه څه خوري او له چاسره چې د څاروي څه وابنه يا خورک پاتي شي نو هغه دي په مال غنيمت کې جمع کړي.

تشريح: (۷۱)) کله چې مسلمانان له دار الحرب څخه راووځي نو د دوئ ته جائز نه ده چې له مال غنيمت څخه خپلو څارويو ته وښه ورو خوروي، يا د خورک څښک له شيانو څخه په خپله څه وخوري. (۷۲) بلکه له کوم مجاهد سره چې د څارويو وابنه يا خورک پاتې شي نو هغه دي په مال غنيمت کې جمع کړي ولی چې اوس په دي کې د غانمينو حق مستحکم شو کما مر.

(۷۳) ويقسم الإمام الغنيمة فيخرج خمسها ويقسم الأربعة الأخماس بين الغانمين (۷۴) للفارس سهمان وللراجل سهم عند أبي حنيفة رحمه الله وقالا رحمهما الله للفارس ثلاثة أسهم

ترجمه: او امام به مال غنيمت تقسيموي نو لومړی به خمس وباسي او پاتي څلور برخي به پر مجاهدينو تقسيم کړي بيا د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد شاهسوار لره دوه برخي دي او پياده لره يوه برخه ده او صاحبين فرمايي چې شهسوار لره دري برخي دي.

تشريح: (۷۳) د مال غنيمت دار الاسلام ته له راوړلو وروسته دي امام په دي ډول تقسيم کړي، چې اول دي له ټول مال څخه خمس وباسي، او له ځان سره دي محفوظ کړي، (پردرو فرقو بې تقسيم کړي چې د هغوئ ذکر ورسته راځي) باقي څلور حصې به پر مجاهدينو تقسيم کړي.

(۷۴) بيا د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد په مجاهدينو کې د شهسوار (آس والا) لپاره دوه حصې دي او د پياده يوه حصه ده، ولی چې دا معلومول چې چا ډير کار کړی دی او چالږ کړی دی متعذر دی، نو د زيادت حکم به پر ظاهري سبب دائروي، او په شهسوار کې دوه سببه ظاهر دي يو د ده ذات او بل د ده آس، او په پياده کې صرف يو سبب دی چې هغه د ده ذات دی، لهذا د سپاره پر پياده استحقاق دو چنده دی، او د صاحبينو رحمهما الله په نزد د شهسوار لپاره دري حصې دي او د پياده لپاره يوه حصه ده. (د امام ابو حنيفه رحمه الله قول راجح دی).

(۷۵) ولا يسهم إلا لفرس واحد (۷۶) والبراذين والعتاق سواء (۷۷) ولا يسهم لراحلة ولا بغل

ترجمه: او حصه دي نه مقرروي مگر د يوه آس او په اسانو کې براذين او عتاق سره برابر دي او حصه دي نه مقرروي بار وړونکو څارويو او خچرو ته.

تشريح :(۷۵)يعنى كه له كوم مجاهد سره دوه يادري اسان وي نوله هغوئ څخه به ده ته صرف ديوه آس حصه وركول كيږي ځكه چې قتال صرف پريوه اس كيږي پردوياله دوڅخه پرزياتونه كيږي .(۷۶) بياپه آسونوكې براذين (دبرذون جمع ده تركي آس ته ويل كيږي) اوعتاق (دعتيق جمع ده عربي آس ته ويل كيږي) برابردي، ولى چې دلفظ خيل اطلاق پرټولو برابركيږي،اوپه قرآن شريف كې خيل ذكردى،وهوقوله تعالى ﴿وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ﴾(يعني برابره وئ آسونه چې په هغه باندي دالله تعالى دښمنان اوخپل دښمنان بيروى).(۷۷) په مال غنيمت كې بار وړنكو څارويو(مثلاله كه اوښ اوخر وغيره)اوكچرو ته حصه نه وركول كيږي، ولى چې دآسونو په شان پردوئ په سپرتيا جنګ نه كيږي،.

(۷۸)وَمَنْ دَخَلَ دَارَ الْحَرْبِ فَارِسًا فَنَفَقَ فَرَسُهُ اِسْتَحَقَّ سَهْمَ فَارِسٍ (۷۹)وَمَنْ دَخَلَ رَاجِلًا فَاشْتَرَى فَرَسًا اِسْتَحَقَّ سَهْمَ رَاجِلٍ (۸۰)وَلَا يُسْهَمُ لِمَمْلُوْكٍ وَلَا اِمْرَأَةٍ وَلَا ذِمِّيٍّ وَلَا صَبِيٍّ (۸۱)وَلٰكِنْ يَرْضَخُ لَهُمْ عَلٰى حَسْبِ مَا يَرَى الْإِمَامُ.

توجمه:اوكوم كس چې دارالحرب ته په اس سپورداخل شوبيادهغه آس مړشونوهغه دسپاره دحصي مستحق دى اوكوم كس چې دارالحرب ته پياده داخل شوبياهغه اس واخيست نودپياده دحصي مستحق دى اونه دي مقررووي دمملوك حصه اونه دښځې اونه دذمي اونه دماشوم ليكن دوئ ته دي څه وركړي څومره چې امام مناسب وګڼي.

تشريح :(۷۸) كه كوم شخص دارالحرب ته له آس سره داخل شو بيايې آس مړشو نو هغه دسپاره دحصي مستحق دى،يعني هغه ته به دوي حصې وركول كيږي.(۷۹) كه كوم شخص دارالحرب ته پياده داخل شو بيايې هلته آس واخيستى، نودپياده دحصې مستحق دى،يعني هغه ته به يوه حصه وركول كيږي،ځكه چې دامعلومول چې جنګ چاديركړى دى متعذردى لهذا له له سرحدڅخه داوښتلواعتباربه كيږي ،په دي وخت كې چې دچاآس وي هغه به سپوربلل كيږي اوكه دچا نه وي هغه پياده دى.

(۸۰)په مال غنيمت كې به مملوك ياښځې ياذمي ياماشوم ته حصه نه وركول كيږي .(۸۱) هوكه امام دوئ ته څه وركول مناسب وګڼل نه وردي كړي ولى چې نبي ﷺ به دښځواوكوچنيانو اوغلامانو لپاره حصه نه معلوموله،اوذمي ځكه چې كافردى اوجهادعبادت دى اوپه كافركې دعبادت لياقت نشته.

(۸۲)وَأَمَّا الْخُمُسُ فَيُقَسَّمُ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ سَهْمٌ لِلْيَتَامٰى وَسَهْمٌ لِلْمَسَاكِيْنِ وَسَهْمٌ لِأَبْنَاءِ السَّبِيْلِ (۸۳)وَيَدْخُلُ فُقَرَاءُ ذَوِي الْقُرْبٰى فِيْهِمْ وَيُقَدَّمُوْنَ (۸۴)وَلَا يُدْفَعُ إِلٰى أَغْنِيَائِهِمْ شَيْئًا.

ترجمه: او پاتي شو خمس نو هغه به تقسيم کړي پر درو حصو باندي يوه حصه ديتميانو لپاره او يوه حصه دمساکينو لپاره او يوه حصه دمسافرو لپاره او ذوی القربی مساکين په دوئ کې داخل دي او مخته کيږي به اوذوی القربی اغنياؤ ته به هيڅ نه ورکول کيږي.

تشريح :(۸۲) دمال غنيمت هغه پنځمه حصه کومه چې امام جلا محفوظه کړي وه، هغه به پردرو حصو تقسيم کړي ،يوه حصه ديتيمانو لپاره ،اودوهمه حصه دمسکينانو لپاره ،اودريمه حصه دداسي مسافرو لپاره کوم چې له خپلو مالونو څخه منقطع (ليری) وي.(۸۳) په دي درو ډلو کي فقيران ذی القربی (بنی هاشم) هم داخل دي، ليکن دوئ به پر دي نورو وړاندي کيږي، ولی چې دوئ ته صدقه ورکول جائزنه دي ، ولان الله تعالی قدم ذکرهم فقال (وللذی القربیٰ واليتامیٰ الخ).(۸۴) د ذوی القربی (بنی هاشم) غنيانو ته به په خمس کې هيڅ حصه نه ورکول کيږي ،ولی چې په خمس کې چې څوک حقدار ګرځي هغه دفقر او حاجت په سبب دی .

(۸۵)فَاَمَّا ذِكْرُ اللّٰهِ تَعَالٰى لِنَفْسِهٖ فِى كِتَابِهٖ مِنَ الْخُمُسِ فَاِنَّمَا هُوَ لِاِفْتِتَاحِ الْكَلَامِ تَبَرُّكًا بِاِسْمِهٖ (۸۶) وَسَهْمُ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ سَقَطَ بِمَوْتِهٖ كَمَا سَقَطَ الصَّفِيُّ (۸۷) وَسَهْمُ ذَوِي الْقُرْبٰى كَانُوْا يَسْتَحِقُّوْنَهٗ فِى زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنُّصْرَةِ وَبَعْدَهٗ بِالْفَقْرِ.

ترجمه: او کوم خمس چې الله تعالی په خپل کتاب کې خپل ځان لره ذکر کړی دی نو هغه يې دالله په نوم سره دتبرک حاصلولو لپاره دکلام په پيل کې ذکر کړی دی او دنبی کريم ﷺ حصه دهغه دانتقال په وجه سره ساقطه شوي ده لکه چې صفی ساقطه شوي ده او دذوی القربی حصه هغوئ په دنبی کريم ﷺ په زمانه کې دنصرت په وجه سره مستحق وو او له نبی کريم ﷺ څخه وروسته دفقر په وجه سره .

تشريح :(۸۵) الله تعالی چې په دي ايت کريمه (وَاعْلَمُوْا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ) کې د خمس کومه حصه دځان لپاره ذکر کړي ده هغه صرف دکلام په شروع کې دالله تعالی په نامه سره دتبرک حاصلولو لپاره مذکوره ده له دي څخه واقعي دالله تعالی حصه مرادنه ده .

(۸۶)اوپه ايت مبارکه کې چې د نبی ﷺ کومه حصه ذکرشوي ده هغه دنبی ﷺ دوفات په وجه سره ساقطه شوي ده ،لکه څرنګه چې صفی (صفی هغه شی دی کوم چې به نبی ﷺ له غنيمت څخه دځان لپاره خوښه وی لکه زغره ياتوره يامينځه وغيره) ساقطه شوي ده .(۸۷) دنبی ﷺ قريبان (بنی هاشم) دنبی ﷺ په زمانه کې دده دنصرت په وجه سره دخپلی حصی حقدار وو ،اودنبی ﷺ ترفات وروسته دفقر په سبب حقدار دي نه دنصرت په سبب، لانقطاع النصرة.

(۸۸) وَاِذَا دَخَلَ الْوَاحِدُ اَوِ الْاِثْنَانِ اِلٰى دَارِ الْحَرْبِ مُغِيْرِيْنَ بِغَيْرِ اِذْنِ الْاِمَامِ فَاَخَذُوْا شَيْئًا لَمْ يُخَمَّسْ (۸۹) وَاِنْ دَخَلَ جَمَاعَةٌ لَهُمْ مَنَعَةٌ فَاَخَذُوْا شَيْئًا خُمِّسَ وَاِنْ لَمْ يَاْذَنْ لَهُمُ الْاِمَامُ.

ترجمه: او که یو یا دوه دارالحرب ته دلوټولو په نیت سره دامام له اجازي پرته داخل شول او له هغه ځایه یې یوشی راوړنو خمس به نه تري اخیستل کیږي او که کوم داسي جماعت داخل شو چې هغه ته قوت او منعت حاصل دی او هغوئ څه شی راوړنو خمس به اخیستل کیږي که څه هم امام اجازت نه وي ورکړی.

تشریح :(۸۸) که له مسلمانانو څخه یو یادوه کسان دامام له اجازي بغیر دلوټولو په نیت دارالحرب ته داخل شول او له هغه ځای څخه یې یوشی راوړ نوله هغه څخه به خمس نه اخیستل کیږي، ولی چې دوئ بې له شکه مال مباح راوړی دی ،مگرعلی وجه الغنیمة (په دي ډول چې پردښمن په غالبه کیدلو سره یې وړی وي)نه ده وړی بلکه په غلاکولو سره یې وړی دی.

(۸۹)که یو داسي جماعت دارالحرب ته داخل شو چې هغه لره قوت او منعت حاصل وو او هغوئ له هغه ځای څخه یوشی راوړی نوله هغه څخه به خمس اخیستل کیږي که څه هم امام اجازت نه وي ورکړی ولی چې دا غنیمت دی ،په دي وجه چې دوئ هغه علی وجه الغلبه وړی دی.

(۹۰)وَإِذَا دَخَلَ الْمُسْلِمُ دَارَ الْحَرْبِ تَاجِرًا فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَتَعَرَّضَ لِشَيْءٍ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَلَا مِنْ دِمَائِهِمْ (۹۱)فَإِنْ غَدَرَ بِهِمْ فَأَخَذَ شَيْئًا مَلَكَهُ مِلْكًا مَحْظُورًا وَيُؤْمَرُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهِ.

ترجمه: که کوم مسلمان دتجارت لپاره دارالحرب ته داخل شونو هغه لره حلال نه ده چې دهغوئ مالونو ته تعرض وکړي یا دهغوئ پروینو او که هغه له هغوئ سره غدروکړاو یوشی یې یوړنو هغه یې مالک شو دملک ممنوع پرډول سره او هغه ته به حکم کول کیږي چې دامال صدقه کړه.

تشریح :(۹۰) که کوم مسلمان دتجارت کولو لپاره دارالحرب ته داخل شونوده لره هلته غدرکول حرام دی.(۹۱) بیا که ده له هغوئ سره غدر وکړ، دهغوئ څه مال یې راواخیست دارالاسلام ته یې راووړ، نوداشخص دهغه مال مالک گرځي مگرده دغه ملک خبیث دی،ځکه چې په غدریې حاصل کړی دی، لهذا ده ته به حکم ورکول کیږي چې دامال صدقه کړي او په خپله دې نه مصرفه وي.

(۹۲)وَإِذَا دَخَلَ الْحَرْبِيُّ إِلَيْنَا مُسْتَأْمِنًا لَمْ يُمَكَّنْ لَهُ أَنْ يُقِيمَ فِي دَارِنَا سَنَةً وَيَقُولُ لَهُ الْإِمَامُ إِنْ أَقَمْتَ تَمَامَ السَّنَةِ وَضَعْتُ عَلَيْكَ الْجِزْيَةَ (۹۳)فَإِنْ أَقَامَ سَنَةً أُخِذَتْ مِنْهُ الْجِزْيَةُ وَصَارَ ذِمِّيًّا وَلَمْ يُتْرَكْ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ.

ترجمه: او که کوم حربی کافرپه امان زموږملک ته راغی نوجائزنه ده هغه لره چې په دارالاسلام کې یو کال پاتي شي او امام به هغه ته ووایې چې که ته پوره کال دلته او سیږي نو زه به پرتا جزیه مقرره کړم نو که هغه پوره کال او وسید و نوله هغه څخه به جزیه واخلي او هغه ذمي گرځي او اوس به هغه نه پریښودل کیږي چې دارالحرب ته ولاړشي.

تشريح :(۹۲) که حربی کافر د امان په اخيستلو سره دارالاسلام ته داخل شي نو هغه دي په دارالاسلام کې يو کال يا له دي ځخه زيات نه پريښودل کيږي ولی چې چيرته دا کس د حربيانو معاون جوړ نه شي چې دلته جاسوسي وکړي په کوم کې چې د مسلمانانو ضرر دي بلکه هغه ته د امان ورکولو پر وخت به امام هغه ته وايي چې که ته يو کال دلته اوسيږي نو زه به په ته باندي جزيه مقرره وم.

(۹۳) بيا که هغه يو کال يا زيات تريوه کال په دارالاسلام کې پاتي شو نو هغه ذمي ګرځي او له هغه ځخه به جزيه اخستل کيږي ولی چې دلته د کال د اوسيدلو په وجه سره هغه په خپله عملاً د دي التزام وکړ، اوس به هغه دارالحرب ته د تللو لپاره نه پريښودل کيږي،ولی چې عقد ذمه نه شي ماتيدلای په دي وجه چې په دي شان به جزيه ختمه شي او د هغه اولاد به د مسلمانانو په خلاف جنګيږي په کوم کې چې د مسلمانانو نقصان دی.

(۹۴) وَإِنْ عَادَ إِلَى دَارِ الْحَرْبِ وَتَرَكَ وَدِيعَةً عِنْدَ مُسْلِمٍ أَوْ ذِمِّيٍّ أَوْ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِمْ فَقَدْ صَارَ دَمُهُ مُبَاحًا بِالْعَوْدِ (۹۵) وَمَا فِي دَارِ الْإِسْلَامِ مِنْ مَالِهِ عَلَى خَطَرٍ فَإِنْ أُسِرَ أَوْ ظُهِرَ عَلَى الدَّارِ فَقُتِلَ سَقَطَتْ دُيُونُهُ وَصَارَتِ الْوَدِيعَةُ فَيْئًا.

ترجمه:او که هغه دارالحرب ته ولاړ او له کوم مسلمان يا ذمی سره يې خپل امانت پريښود يا يې د هغو پر ذمه قرض پريښود و د بيرته تګ په وجه سره د هغه وينه مباح ګرځي او په دارالاسلام کې چې د هغه کوم مال دی هغه په خطر کې دی بيا که هغه بندي کړای شو يا پر دارالحرب باندي غلبه وشوه هغه قتل کړای شو نو د هغه پورونه ساقطيږي او وديعت يې فئ ګرځي.

تشريح :(۹۴) که يو حربی کافر امان واخيست دارالاسلام ته راغی بيا بيرته دارالحرب ته ولاړی او په دارالاسلام کې له يو مسلمان يا ذمی سره خپل کوم امانت پريښود يا يې خپل څه قرض د يو مسلمان يا ذمی پر ذمه پريښود نو اوس د بيرته تللو په وجه د هغه وينه مباح ګرځي ولی چې له دي ځايه د تللو په وجه سره د ده امان ختم شو.

(۹۵) په دارالاسلام کې چې د هغه کوم مال دی هغه اوس په خطر کې دی يعنی موقوف ده ولی چې په معصوم لاس کې دی بيا که دی د مسلمانانو سره بندي شو يا مسلمانان په دارالحرب غالب شولاو هغه حربی يې قتل کړنو د دي ځای (يعنی په دارالاسلام) پر خلکو چې د هغه حربی کوم قرض دي هغه ساقطيږي ولی چې د مقروض قبضه په نسبت د عامو مسلمانانو د قبضي په هغه مال باندي له وړاندي ځخه ده نو په دي وجه به په هغه مال په ده پوري مختص وي نو قرض ساقطيږي. او کوم امانت چې هغه له مسلمان يا ذمی

سره ايشي وو هغه اوس فئ (يعني غنيمت) ګرځي ولی چې حکمادا مال په خپله دهغه په لاس کې وو په دي وجه چې دمودَع قبضه دمودِع د قبضي په شان ده له دي وجي غنيمت ګرځي.

(۹۶) وَمَا أَوْجَفَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ أَمْوَالِ أَهْلِ الْحَرْبِ بِغَيْرِ قِتَالٍ يُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِيْنَ كَمَا يُصْرَفُ الْخَرَاجُ

ترجمه: اوداهل حرب هغه مال کوم چې مسلمانانو په حمله کولو سره بغيرله جنګه اخيستی وي نو هغه به دمسلمانانو پر مصالحو باندي مصرفيږي لکه خراج چې مصرفيږي.

تشريح: (۹۶) که مسلمانانو پردارالحرب باندي حمله وکړه اوله هغوئ څخه يې مالونه بغيرله جنګه واخيستل نودامالونه به ټول دمسلمانانو په مصالحو کې مصرفيږي لکه جزيه چې مصرفيږي ځکه چې دادمسلمانانو په قوت سره بغيرله جنګه حاصل شوي دي فکان کالخراج والجزية.

(۹۷) وَأَرْضُ الْعَرَبِ كُلُّهَا أَرْضُ عُشْرٍ (۹۸) وَهِيَ مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى أَقْصَى حَجَرٍ بِالْيَمَنِ بِمَهْرَةَ إِلَى حَدِّ الشَّامِ (۹۹) وَالسَّوَادُ كُلُّهَا أَرْضُ خَرَاجٍ وهو مَا بَيْنَ الْعُذَيْبِ إِلَى عَقَبَةِ حُلْوَانَ وَمِنَ الْعَلْثِ إِلَى عَبَادَانَ (۱۰۰) وَأَرْضُ السَّوَادِ مَمْلُوكَةٌ لِأَهْلِهَا يَجُوزُ بَيْعُهُمْ لَهَا وَتَصَرُّفُهُمْ فِيهَا

ترجمه: اودعربو ټولو ځمکه عشري ده اوله هغه له عذيب څخه تر انتهاء حجر يمن پوري ده اوله مهره څخه بياتر شام پوري ده اودسواد عراق ټوله ځمکه خراجي ده او هغه له عذيب څخه نيولي بياتر عقبه حلوان پوري ده اوله علث څخه بياتر عبادان پوري ده اودعراق ځمکه دهغه ځاى داوسيدونکو ملک ده هغوئ لره دهغي خرڅول اوپه هغې کې تصرف کول جائزدي.

تشريح: (۹۷) دعربو ټولې ځمکې عشرې دي ولی چې خراج ابتداء صرف په عقدذمه سره واجبيږي او دعربوله مشرکانو سره عقدذمه صحيح نه ده. (۹۸) دعربو ځمکې په اوږدوالی کې له عذيب (د کوفي له کليو څخه ديو کلی نو م دی) څخه نيولي بياپه يمن کې دمهره (په يمن کې ديو ځاى نو م دی) ترډبري پو ري دی او، عرض (پلنوالی) يې له ريګ روان، څخه نيولی بياتر، حدشام، پوري دی.

(۹۹) د، سواد عراق، ځمکې خراجې دي ولی دکفارو دځمکو وظيفه خراج دی. او عراقی ځمکې په، عرض، کې له عذيب څخه نيولي بيا تر، عقبه حلوان پوري دي، او په، طول، کې، له علث څخه شروع بياتر، عبادان پو رې دي. (۱۰۰) دعراق ځمکي دهغه ځاى داوسيدونکو ملک دي هغوئ ته خرڅول اوپه هغو کې

تصرف کول جائزدي ځکه چې حضرت عمر ﷺ هغه قهراًفتح کړی وویاېي دهغه ځای خلک پرهغه برقرارپریښي وواوپرهغوئ یې خراج مقررکړی وونوهغه ځمکي دهغوئ مملوکي پاتي شوي .

(۱۰۱)وَكُلُّ أَرْضٍ أَسْلَمَ أَهْلُهَا عَلَيْهَا أَوْ فُتِحَتْ عَنْوَةً وَقُسِّمَتْ بَيْنَ الْغَانِمِينَ فَهِيَ أَرْضُ عُشْرٍ (۱۰۲)وَكُلُّ أَرْضٍ فُتِحَتْ عَنْوَةً فَأُقِرَّ أَهْلُهَا عَلَيْهَا فَهِيَ أَرْضُ خَرَاجٍ.

ترجمه:اودکومي ځمکې خلک چې مسلمانان شول یاهغه ځمکه چې قهراًفتح شوي وي اوپه مجاهدينوتقسيم شوي وي نو هغه ځمکه عشري ده اوکومه ځمکه چې قهراًفتح شوي وي اودځمکوخاوندان پرهغوبرقرارپريښودل شوي وي نوهغه ځمکه خراجي ده .

تشريح:(۱۰۱) اود کوموځمکواوسيدونکي له دي څخه وړاندي چې امام پر دوئ قدرت حاصل کړي مسلمان شي نو دهغوئ دا ځمکي عشری دي ،او همداشان کومه ځمکه چې امام قهراً فتح کړي او په مجاهدينو يې تقيسم کړي هغه هم عشری دي ولی چې دمسلمانانو دځمکو وظيفه عشر ده او دمسلمان په حق کې عشر زيات لائق دی ولی چې په عشر کې دعبادت معنی موندل کيږي .(۱۰۲) کو مې ځمکې چې تهرا فتح شوي وي او بيا امام دځمکو اوسيدونکي په هغو ځمکو برقرار پريښي وي نو دا ځمکې خراجي دي ولی چې خراج دکفارو دځمکو وظيفه ده او دکفارو لپاره همدامناسبه ده ولی چې په خراج کې دعقوبت معنی موجوده ده .

(۱۰۳)وَمَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَوَاتًا فَهِيَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ مُعْتَبَرَةٌ بِحَيِّزِهَا فَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْخَرَاجِ فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ وَإِنْ كَانَتْ مِنْ حَيِّزِ أَرْضِ الْعُشْرِ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ (۱۰۴)وَالْبَصْرَةُ عِنْدَنَا عُشْرِيَّةٌ بِإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ إِنْ أَحْيَاهَا بِبِئْرٍ حَفَرَهَا أَوْ بِعَيْنٍ اسْتَخْرَجَهَا أَوْ بِمَاءِ الدِّجْلَةِ أَوِ الْفُرَاتِ أَوِ الْأَنْهَارِ الْعِظَامِ الَّتِي لَا يَمْلِكُهَا أَحَدٌ فَهِيَ عُشْرِيَّةٌ وَإِنْ أَحْيَاهَا بِمَاءِ الْأَنْهَارِ الَّتِي احْتَفَرَهَا الْأَعَاجِمُ مِثْلُ نَهْرِ الْمَلِكِ وَنَهْرِ يَزْدَجِرْدَ فَهِيَ خَرَاجِيَّةٌ.

ترجمه:اوچاچې ارض موات اباده کړه نوداامام ابويوسف ﷬ په نزدبه دهغې اعتبارپه برابرو الاځمکه سره کيږي نوکه هغه قريبه ځمکه خراجي وي نوداهم خراجي ده اوکه هغه عشري وي نوداهم عشري ده اوبصره زموږپه نزدباندي عشري ده دصحابه کراموپه اجماع سره اوامام محمد فرمايي که يې ځمکه اباده کړه دڅاه په کيندلوسره يادچينه په رايستلوسره يادد جلې يافرات ياهغولويوويالوپه اوبوسره چې دهغوهيڅ مالک نشته نوهغه عشري ده اوکه يې اباده کړه دهغوويالوپه اوبوسره کومي چې عجميانوکيندلي دي لکه نهرملک اونهريزدجرد نوهغه ځمکه خراجي ده .

تشريح:(۱۰۳) چاچې ارض موات (يعني غير آباده ځمکه)آباده کړه نو دامام ابويوسف رحمه الله په نزد به ددي ځمکې دعشري ياخراجی کيدلو اندازه ددي په برابرو او قريبو ځمکوسره لګول کيږي که نژدي ځمکه خراجی وي نودابه هم خراجی وي او که هغه عشری وي نودابه هم عشری وي ولی چې قريب الشئ دشئ په حکم کې وي.(۱۰۴) البته بصره زمونږ په نزد عشري ده ، دامام ابويوسف رحمه الله دمذهب مطابق قياس مقتضی ووچې بصره خراجي شي ځکه چې خراجي ځمکي ته نږدي ده ليکن صحابه کرامو رضي الله عنهم پردي عشرمقررفرمايلې دی په دي وجه قياس پريښودل شوی دی .

دامام محمد رحمه الله په نزد که يې ارض موات ،دباران په اوبو سره اوبه کړي وي يايې څاه کښلي وي يادچښمې په ايستلوسره اوبه کړي وي يايې په درياب دجله يادرياب فرات ياپه داسي لوی نهر(ويالي) سره اوبه کړي وي چې دهغې هيڅ مالک نه وي لکه سيحون اوجيحون نوداسي ځمکه عشری ده ولی چې ددي اوبه عشری دي او که يې په داسي لويونهرو(ويالو)سره اوبه کړي وي کوم چې عجمي بادهاشانو کيندلي وي لکه نهرملک کسری نوشيروان يانهريزدجرد نوداځمکه خراجی ده ولی چې اعتباراوبولره دی په دي وجه چې دحاصلاتوسبب اوبه وي.(دامام ابويوسف رحمه الله قول راجح دی).

(۱۰۵)وَالْخَرَاجُ الَّذِي وَضَعَهُ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَلَى أَهْلِ السَّوَادِ مِنْ كُلِّ جَرِيبٍ يَبْلُغُهُ الْمَاءُ وَيَصْلُحُ لِلزَّرْعِ قَفِيزٌ هَاشِمِيٌّ وَهُوَ الصَّاعُ وَدِرْهَمٌ(۱۰۶)وَمِنْ جَرِيبِ الرَّطْبَةِ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ(۱۰۷)وَمِنْ جَرِيبِ الْكَرْمِ الْمُتَّصِلِ وَالنَّخْلِ الْمُتَّصِلِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ.

ترجمه:اوخراج کوم چې حضرت عمر رضي الله عنه پراهل عراق باندي مقررکړی وو هغه پرهريوه جريب چې اوبه ورورسيږي اودکښت قابل وي يوهاشمي قفيزدی اوهغه يوه صاع اويودرهم دی اودترکاريانوپريوه جريب باندي پنځه درهمه دي اودګڼوانګوروا وګڼوخرماووپه يوه جريب کې لس درهمه دي .

تشريح:(۱۰۵) خراج به هغه مقرر کيږي کوم چې حضرت عمر رضي الله عنه په اهل عراق مقرر کړی وو او هغه په دي حساب سره وو چې دهرجريب (دځمکې هغه قطعه چې ،طول ، يې هم شپيته (۶۰)ګزه وي او ،عرض،يې هم شپيته (۶۰)ګزه وي)کوم ته چې اوبه رسيږي اودزراعت (کښت کولو)قابله وي له حاصلاتوڅخه يوقفيزهاشمي دی قفيزهاشمي يوه نبوی صاع اويودرهم دی. (۱۰۶)او دترکاري په يوه جريب کې پنځه درهمه دي.(۱۰۷) او دانګورو او خرماوُ درختي که ګڼي وي نو دهغو په يوه جريب کې لس درهمه دي په همدي حساب سره حضرت عمر رضي الله عنه دصحابه کرامو رضي الله عنهم په موجودګۍ کې دعراق په والاوو مقرر کړی وو او صحابه کرام رضي الله عنهم په هغه انکار نه وکړی نو دا دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع ده .

(۱۰۸)وَمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَصْنَافِ يُوضَعُ عَلَيْهَا بِحَسَبِ الطَّاقَةِ(۱۰۹)فَإِنْ لَمْ تُطِقْ مَا وُضِعَ عَلَيْهَا نَقَصَهَا الْإِمَامُ.

ترجمه:اوله دي څخه علاوه په نورو ځمکو باندي به بحسب الطاقة خراج مقرريږي او که يې دهغه طاقت نه لاره کوم چې پرهغې مقررشوی وونو امام دي هغه کم کړي .

تشریح:(۱۰۸) او دمذکوره بالااقسامو څخه علاوه که نوري ځمکې (مثلا په کومه کې چې یې زعفرانو کرلي وي)وي نو پرهغو به په حسب طاقت خراج مقررکیږي ولی چې حضرت عمر ﷺ دخراج په مقرر ولو کې دځمکو دطاقت لحاظ کړی دی نو په کومو ځمکو کې چې ده ﷺ خراج نه دی مقرر کړی په هغو کې به مونږ هم دځمکې دطاقت لحاظ کوو.(۱۰۹) که داسې صورت پیښ شو چې څومره خراج چې پر ځمکه مقرر شوی وي هغې هغه نه شوبرداشت کولای مثلا خراج دومره ډیرشي چې دځمکې دټولو حاصلاتو ثلث وي نو امام دي دي دا خراج کم کړي بقدرطاقت دي کړي.

(۱۱۰)وإنْ غَلَبَ عَلى أَرْضِ الْخَرَاجِ الْمَاءُ أَوِ انْقَطَعَ عنهَا أَوْ اصْطَلَمَ الزَّرْعَ آفَةٌ فَلا خَرَاجَ عليهِمْ(۱۱۱)وإنْ عَطَّلَهَا صَاحِبُهَا فَعَليهِ الْخَرَاجُ.

ترجمه:اوکه پرخراجي ځمکي باندي اوبه غالبي شوي یایې اوبه منقطعي شوي یاآفت کښت بربادکړنوپرهغې خراج نشته اوکه دخراجي ځمکې مالک ځمکه بیکارپریښوده نوپرهغه خراج واجب دی.

تشریح:(۱۱۰) که پر خراجې ځمکه اوبه راغلې چې دهغوپه وجه سره ځمکه دکښت قابله پاتي نه شوه یایې اوبه ختمي شوي یاکښت ته داسې أسماني آفت ورسیدی چې دهغه په وجه سره کښت بربادشو نو په دي صورتو نو کې پرخراجې ځمکه خراج نشته ،ولی چې دکښت قدرت (یعنی نماء تقدیری)پاتي نه شو کوم چې په خراج کې معتبر دی .(۱۱۱) که د خراجي ځمکې مالک پرکښت کولو دقدرت سره سره ځمکه بیکاره پریښوده نو پرده خراج واجب دی ولی چې ده لره دکښت کولو قدرت وو ده خپله ضائع کړ.

(۱۱۲)وَمَنْ أَسْلَمَ مِنْ أَهْلِ الْخَرَاجِ أُخِذَمنه الْخَرَاجُ عَلى حَالِه(۱۱۳)ويَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ الْمُسْلِمُ مِنَ الذِّمِّيِّ أَرْضَ الْخَرَاجِ وَيُؤْخَذُمنه الْخَرَاجُ(۱۱۴)ولاعُشْرَفِي الْخَارِجِ مِنْ أَرْضِ الْخَرَاجِ.

ترجمه:اوله اهل خراج څخه چې چااسلام قبول کړنواوس به هم له هغه څخه دپخوا په شان خراج اخیستل کیږي اومسلمان لره له ذمي څخه دخراجي ځمکي اخیستل جائزدي اوله مسلمان څخه به هم خراج اخیستل کیږي اودخراجي ځمکي په حاصلاتو کې عشرنشته.

تشریح:(۱۱۲) پرکومو خلګو چې خراج واجب وي که له هغو ئ څخه یو مسلمان شو نواوس هم له هغه څخه دپخوا په شان خراج ورل کیږي ولی چې دده ځمکه په خراجي والی سره متصفه شوي ده لهذا اوس په مالک کې په تغیرراتلو سره دځمکي په صفت کې تغیرنه راځي.
(۱۱۳)مسلمان ته له ذمي څخه دخراجي ځمکي اخیستل جائزدي ولی لکه څرنګه چې دذمي دنو رو املاکو اخیستل جائز دي همداشان دخراجې ځمکې اخیستل هم جائز دي،بیا له مسلمان مشتری څخه به هم خراج ورل کیږي ولی چې صحابه کرامو ﷺ خراجې ځمکې اخیستي او دهغو خراج به یې ورکاوو نو دا دخراجې ځمکو داخیستلو او دهغو دخراج ورکولو دجواز دلیل دي.

(۱۱۴) دخراجي ځمکو په حاصلاتو کې عشر نشته بلکه صرف خراج شته ځکه چې خراج په داسي ځمکه کې واجبيږي کومه چې دتوري په زورسره فتح شوي وي او عشرپه داسي ځمکه کې واجبيږي چې دهغه ځای خلک په خپله مسلمانان شوي وي او دادواړه خبري په يوه ځمکه کې نه شي سره جمع کيدای.

(۱۱۵) وَالجزيَةُ على ضَربَينِ جِزيَةٌ تُوضَعُ بِالتَّرَاضِي وَالصُّلحِ فَتُقَدَّرُ بِحَسَبِ مَا يَقَعُ عَلَيهِ الاِتِّفَاقُ (۱۱۶) وَجِزيَةٌ يَبتَدِئُ الإمَامُ بِوَضعِهَا إذَا غَلَبَ الإمَامُ عَلَى الكُفَّارِ وَأَقَرَّهُم عَلَى أَملاكِهِم (۱۱۷) فَيَضَعُ عَلَى الغَنِيِّ الظَّاهِرِ الغِنَى فِي كُلِّ سَنَةٍ ثَمَانِيَةً وَأَربَعِينَ دِرهَمًا يَأخُذُ مِنهُ فِي كُلِّ شَهرٍ أَربَعَةَ دَرَاهِمَ وَعَلَى المُتَوَسِّطِ الحَالِ أَربَعَةً وَعِشرِينَ دِرهَمًا فِي كُلِّ شَهرٍ دِرهَمَينِ وَعَلَى الفَقِيرِ المُعتَمِلِ اثنَي عَشَرَ دِرهَمًا فِي كُلِّ شَهرٍ دِرهَمًا۔

ترجمه: او جزيه پر دوه قسمه ده يو هغه چې په خپل منځې رضا او اتفاق سره مقرره کړای شي نو دومره به مقرريږي پر څومره چې فريقينو اتفاق کړی وي او بله هغه جزيه ده چې امام دهغې دمقررولو پيل وکړي کله چې امام پر کفارو غالب شي او هغوئ پر خپلو املاکو باندي باقي پريږدي نو پر داسي غنی چې دهغه غناء ظاهره وي دي اته څلويښت (۴۸) درهمه مقرر کړي په هره مياشت کې دي له هغه څلور درهمه اخلي او پر متوسط الحال باندي دي سالانه څلرويښت درهمه مقرر کړي په هره مياشت کې دوه درهمه او پر مزدوري کونکي فقير باندي دي دوولس درهمه مقرر کړي پر هره مياشت کې يو درهم.

تشريح: (۱۱۵) جزيه (ټيکس کوم چې له ذمي کافر څخه اخيستل کيږي) پر دوه قسمه ده يوه هغه چې په خپلي منځی رضا او صلح سره مقرره کړای شي نو دهغې مقدار به هغه وي پر کوم چې فرقينو اتفاق کړی وي ولی چې ددي موجب خپلي منځي رضا ده ولی چې له دي څخه تجاوز کول غدر شمارل کيږي کوم چې جائز نه دی.

(۱۱۶) دوهم قسم جزيه هغه ده چې کله امام پر کفارو غالب شي او دهغوئ ملک فتح کړي او دهغوئ ملکيتونه دهغوئ په قبضه کې پريږدي په خپله په شروع کولو سره پر هغوئ جزيه مقرره کړي.

(۱۱۷) ددي قسم دجزيه تفصيل په دي ډول دی چې که هغه خلک داسي غنيان وو دکوموچې غناء ښکاره وي يعنی کوم چې دلسوزرو يا زياتو دراهمو مالکان وي نو پر هغوئ به هر کال اته څلويښت (۴۸) درهمه مقرريږي يا به داساني لپاره په هره مياشت کې څلور درهمه ورل کيږي. او کوم کسان چې دمتوسط درجي وي يعنی کوم چې له دوه سوه درهمه څخه بيا تر لس زره پوري درهمو مالک وي پر هغوئ به هر کال څلرويښت درهمه مقرريږي او داساني لپاره به هره مياشت دوه درهمه ورل کيږي. او کوم کسان چې فقيران (کوم چې تر دوسوه درهمه دلږو مالک وي او لا يملک شيئا) وي او مزدوري کوي له هغوئ څخه به هر کال دولس درهمه ورل کيږي هر مياشت به يو درهم ورل کيږي.

(۱۱۸) وَتُوضَعُ الجِزيَةُ عَلَى أَهلِ الكِتَابِ وَالمَجُوسِ وَعَبَدَةِ الأَوثَانِ مِنَ العَجَمِ (۱۱۹) وَلا تُوضَعُ عَلَى عَبَدَةِ الأَوثَانِ مِنَ العَرَبِ (۱۲۰) وَلا عَلَى المُرتَدِّينَ۔

ترجمه: او مقرريږي به جزيه پر اهل کتابو باندي او پر مجوسيانو باندي او پر عجمي بت پرستانو باندي او جزيه به نه مقرريږي د عربو پر بت پرستانو باندي او نه پر مرتدينو باندي.

تشريح:(۱۱۸) جزیه پر اهل کتابو او مجوسو باندې مقرر کیږي لقوله تعالی﴿من الذین اوتوا الکتاب حتی یعطوا الجزیة﴾ (یعنی له هغو ئ سره ترهغه وخته وجنګیږئ ترڅو هغوئ ستاسي تابع اورعیت جوړ شي او جزیه قبوله کړي)او حضور ﷺ پر مجوس هجر باندې جزیه مقرره کړې وه ،او پرعجمي عبدة الاوثان ،(یعنې پر عجمي بت پرستانو)به هم جزیه مقرر کیږي ولی چې هغوئ غلام جوړول جائز دي نو پرهغو ئ جزیه مقررول هم جائز دي.

(۱۱۹)دعربو پر بت پرستانو به جزیه نه مقرریږي ولی چې نبی کریم ﷺ دهغوئ په منځ کې پیداشوی دی اوقران مجید دهغوئ پرژبه نازل شوی دی نو دهغوئ په حق کې معجزات ډیري ښکاره دي لهذا دا خلک اوس په کفر کولو کې معذ ورنه دي.(۱۲۰) پرمرتدینو هم جزیه نه مقرریږي ولی چې هغوئ د اسلام طرف ته دهدایت موندلو وروسته کفرو کړنو له هغوئ څخه به له اسلام اوتوري څخه ماسوا هیڅ نه منل کیږي.

(۱۲۱)وَلَا جِزْيَةَ عَلٰى اِمْرَاَةٍ وَلَا صَبِيٍّ وَلَا زَمِنٍ وَلَا اَعْمٰى(۱۲۲)وَلَا عَلٰى فَقِيْرٍ غَيْرِ مُعْتَمِلٍ(۱۲۳)وَلَا عَلَى الرُّهْبَانِ الَّذِيْنَ لَا يُخَالِطُوْنَ النَّاسَ(۱۲۴)وَمَنْ اَسْلَمَ وَعَلَيْهِ جِزْيَةٌ سَقَطَتْ عنه(۱۲۵)وَاِنِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِ الْحَوْلَانِ تَدَاخَلَتِ الْجِزْيَتَانِ.

ترجمه:او پر ښځه باندې جزیه نشته او نه پر نابالغ ماشوم باندې او نه پر شل باندې او نه پر ړانده باندې او نه پر فقیر غیر مزدور باندې او نه پر داسې راهبانو باندې کوم چې له خلګو سره خلط ملط نه لري او چاچې اسلام قبول کړ او دهغه پر ذمه جزیه باقي وي نو هغه دهغه له ذمې څخه ساقطیږي او که پر هر هغه ددوو کلونو جزیه جمع شي نو په هغو کې تداخل کیږي.

تشریح:(۱۲۱) یعنی پر کافره ښځه ، نابالغ هلک ، شلي ،او ړانده ، باندې به جزیه نه مقرریږي ولی چې جزیه پرکافرانو دهغوئ دقتل کولو په عوض کې واجبیږی یا دهغوئ دقتال په وجه سره واجبیږي حال داچې مذکوره کسان خونه قتل کیږي اونه دوئ قتال کوي ولی چې په دوئ کې دقتال اهلیت نشته.(۱۲۲) او پر داسې فقیر به هم جزیه نه مقرریږي کوم چې مزدوري نه کوي ځکه چې په هغه کې طاقت نشته.

(۱۲۳)پر داسې راهبانو هم جزیه نه مقرریږي کوم چې له آبادي څخه دباندې په خپلو ځالو کې تنها اوسیږي وجه یې داده چې کله دوئ له خلګوسره راشه درشه نه لري نو ددوئ دقتل کولو حکم نشته نو جزیه به هم پردوئ نه مقرریږي ولی چې پر کافرانو جزیه دقتل دساقطوالي په وجه سره مقرریږي .(۱۲۴) که دیو ذمی پر ذمه جزیه وه بیا هغه مسلمان شو نو هغه جزیه دده له ذمې ساقطیږي ځکه چې جزیه بطور عقوبت واجبیږي او داسلام په وجه سره عقوبت ختمیږي په دي وجه هم جزیه ساقطیږي.

(۱۲۵)که پرکوم ذمی ددوو کلونو جزیه جمع شي نو دامام ابو حنیفة رحمه الله په نزد په دي کې تداخل کیږي یعنی اوس به دیوه کال جزیه اداکوي ولی چې جزیه عقوبت ده او قاعده داده چې چیرته دیوه قسم دوه عقوبته جمع کیږي هلته په یوه اقتصار کیږي لکه په حدودو کې.

(۱۲۶)وَلَا يَجُوْزُ اِحْدَاثُ بِيْعَةٍ وَلَا كَنِيْسَةٍ فِيْ دَارِ الْاِسْلَامِ(۱۲۷)وَاِذَا انْهَدَمَتِ الْبِيَعُ وَالْكَنَائِسُ الْقَدِيْمَةُ اَعَادُوْهَا.

ترجمه: اوپه دارالاسلام کې دنصارى اويهودونوي عبادت خانه جوړول جائزنه دي اوکه پخوانى عبادت خانه منهدمه شوه نوهغه دي جوړه کړي.

تشريح: (۱۲۶) يعنى په دارالاسلام کې دنصارا اويهودو لپاره نوې بيعه (دنصاراو عبادت ځاى) اوكنيسه (ديهود عبادت گاه) جوړول جائزنه دي. (۱۲۷) البته که زړه بيعه ياكليسا ونړيږي نو هغه جوړولاى شي ولى چې عمارت خو هميشه نه پاتي كيږي اوامام چې كله ذميان پريشول نو گواكې ده دهغوئ دعبادت گاوو دبيرته جوړولو عهد هم ورسره وكړ.

(۱۲۸) وَيُؤْخَذُ اَهْلُ الذِّمَّةِ بِالتَّمَيُّزِ عَنِ الْمُسْلِمِيْنَ فِى زِيِّهِمْ وَمَرَاكِبِهِمْ وَسُرُوْجِهِمْ وَقَلَانِسِهِمْ (۱۲۹) وَلَا يَرْكَبُوْنَ الْخَيْلَ وَلَا يَحْمِلُوْنَ السِّلَاحَ.

ترجمه: اوله ذميانوڅخه به عهداخيستل كيږي له مسلمانانوڅخه دممتازاوسيدلوپه خپل لباس كې اوپه سورليوكې اوپه زينانوكې اوپه خوليانوكې اوذميان دي پراسانونه سوريږي اونه دي له ځان سره اسلحه اخلي.

تشريح: (۱۲۸) كوم ذمى چې په دارالاسلام كې اوسيږي له هغوئ څخه به داعهد اخيستل كيږي چې په هغوئ كې اوپه مسلمانانو كې دامتيازلپاره به هغوئ په خپل هيئت اولباس كې سورليانو، زينانو، اوخوليانوكې كومه امتيازي نښه ايږدي چې په هغه سره هغوئ ذميان معلوم شي ترڅو دهغوئ حقيروالى ښكاروي اودكمزورعقيدو والامسلمانان محفوظ پاتې شي. (۱۲۹) ذمى به په دارالاسلام كې پرآسانو نه سپريږي او نه به له خپل ځان سره اسلحه رااخلي ولى چې په دي كې دهغوئ لپاره وسعت او اعزاز دى وقد امرنا بالتضييق عليهم.

(۱۳۰) وَمَنِ امْتَنَعَ مِنْ اَدَاءِ الْجِزْيَةِ اَوْ قَتَلَ مُسْلِمًا اَوْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْ زَنٰى بِمُسْلِمَةٍ لَمْ يَنْتَقِضْ عَهْدُهٗ (۱۳۱) وَلَا يَنْتَقِضُ الْعَهْدُ اِلَّا بِاَنْ يَلْحَقَ بِدَارِ الْحَرْبِ اَوْ يَغْلِبُوْا عَلٰى مَوْضِعٍ فَيُحَارِبُوْنَنَا.

ترجمه: اوكه كوم ذمى دجزيې له اداء كولوڅخه منع وكړه ياېې كوم مسلمان قتل كړياېې نبى كريم ﷺ ته پوچ اوفحش وويل ياېې له كومې مسلمانې ښځې سره زناوكړه نودهغه عهدذمه نه ماتيږي اوعهدنه ماتيږي مگرداچې هغه دارالحرب ته ولاړشي ياهغوئ پركوم ځاى باندي غالب شي اوله مسلمانانوسره جنگ شروع كړي.

تشريح: (۱۳۰) كه ذمى دجزيه له اداءكولو څخه انكاروكړ ياېې يو مسلمان قتل كړ ياېې حضور ﷺ ته (نعوذ بالله) ښكنځا وكړه ياېې له يوې مسلمانې ښځې سره زناوكړه نودده دذمى والى عهدنه ماتيږي ولى چې له ده سره جنگ كول پركوم حدپاى ته رسيږي هغه دادى چې كافرپرخپل ځان دجزيه التزام وكړي نه داچې جزيه اداء كړي لهذاله جزيه څخه دانكاركولوپه صورت كې به له ده څخه جبراورل كيږي، او دقتل مسلم په صورت كې به له ده څخه قصاص اخيستل كيږي، اودزنى په صورت كې به پرده حدجاري كيږي، اونبى كريم ﷺ ته دښكنځاكولوپه صورت كې به هغه ته سزاوركول كيږي.

(۱۳۱)دذمي عهدنه ماتیږي مګرداچې هغه دارالحرب ته ولاړشي یادذمیانوټولی پرکوم ځای باندي غالبه شي اوله مسلمانانوسره جنګ شروع کړي نودهغوئ عهدختمیږي ځکه چې اوس دذمي والي عهدبې فائدي شوله دي وجي چې معاهده خودجنګ دشرددفع کولولپاره وه حال داچې هغوئ خوجنګ پیل کړی دی .

(۱۳۲)وإذا ارتد المسلم عن الإسلام عرض عليه الإسلام فإن كانت له شبهة كشفت له(۱۳۰)ويحبس ثلثة أيام فإن أسلم وإلا قتل(۱۳۰)فإن قتله قاتل قبل عرض الإسلام عليه كره له ذالك ولا شيء على القاتل.

ترجمه:اوکه کوم مسلمان له اسلام څخه مرتدشو(العیاذبالله)نوپرهغه به اسلام عرض کړای شي نوکه هغه ته څه شبه پیداشوي وي نوهغه به لیري کړای شي اوتردریوورځوپوري دي هغه بندي کړای شي نوکه یې اسلام قبول کړنوفبهاونعمت که نه نوقتل کیږي به اوکه چاهغه قتل کړله اسلام عرض کولوڅخه وړاندي نوهغه لره دافعل مکروه دی اوپرقاتل باندي هیڅ شی نشته .

تشریح:(۱۳۲) که کوم مسلمان مرتدشو(العیاذبالله)نواستحباباپرهغه اسلام عرض کیږي واجب نه دی بیاکه هغه ته کومه شبه پیداشوي وي نوهغه دي ختمه کړای شي ،اوتردریوورځوپوري دهغه په بندي خانه کې واچول شي ،هره ورځ دي پرده اسلام عرض کیږي نوکه یې بیرته اسلام قبول کړنوفبهاونعمت .(۱۳۳)اوکه یې اسلام قبول نه کړنوهغه به وژل کیږي﴿لحدیث رسول الله ﷺ من ترک دینه فاقتلوه﴾(یعنی کوم چاچې خپل دین پرینښودهغه قتل کړئ).(۱۳۴)اوکه له اسلام عرض کولووړاندي چامرتدوواژه نودافعل مکروه دی ،مګرپرقاتل قصاص یادیت هیڅ نشته ولی چې ده مباح الدم کس وژلی دی.

(۱۳۵)وأما المرأة إذا ارتدت فلا تقتل(۱۳۶)ولكن تحبس حتى تسلم.

ترجمه:اوکه چیرته ښځه مرتده شوه نوهغه به نه قتل کیږي مګربندي کیږي به ترڅوچې هغه اسلام قبول کړي

تشریح:(۱۳۵) که یوه مسلمانه ښځه مرتده شوه نو هغه به نه وژل کیږي ولی چې حضور ﷺ دښځو له وژلو څخه منع کړي ده او حضور ﷺ داصلی کافري او مرتدي په منځ کې فرق نه دی بیان کړی.(۱۳۶) لیکن مرتده به بندي کیږي تر څو هغه مسلمانه شي ولی چې هغې یوځل دالله ﷻ دحق اقرار کړی ده ،اوس دقدرت درلو دلو باوجوددهغه له اداء کولوانکارکوي نو په بندي کولوسره دهغه په اداء کولومجبوره کیږي کمافي حقوق العباد .

(۱۳۷)ويزول ملك المرتد عن أمواله بردته زوالا مراعا(۱۳۸)فإن أسلم عادت إلى حالها(۱۳۹)وإن مات أو قتل على ردته انتقل ما اكتسبه في حال الإسلام إلى ورثته المسلمين(۱۴۰)وكان ما اكتسبه في حال ردته فيئا.

ترجمه:اودمرتد ملکیت له خپلو مالونو څخه دمرتد والي په وجه سره زائلیږي سره له رعایته زوال نوکه هغه اسلام قبول کړنو خپل حالت ته بیرته راګرځي اوکه دردّت په حالت کې مړشویاقتل کړای شونودهغه هغه مال

کوم چې ده داسلام په حالت کې گټلی دی دده مسلمان وارثانو ته منتقل کیږي او کوم مال چې یې دردّت په حالت کې گټلی دی هغه غنیمت دی.

تشریح:(۱۳۷) یعنی دمرتد ملکیت له خپلو مالو څخه دمرتدکیدلو په وجه سره زائلیږي ولی دهغه وینه معصومه پاتي نه شوه نودهغه مال هم معصوم نه پاتي کیږي مگردمرتددملک دازوال موقوف دی ترڅو چې دهغه حال مال واضح شي ولی چې دهغه حال مترددی چې په اسلام راوړلوسره به بیرته دعصمت طرف ته راوگرځي اوکه به دمرتدوالی په حالت کې ووژل شي.

(۱۳۸)بیاکه هغه اسلام قبول کړنودهغه دمال عصمت خپل مخکنی حال ته بیرته راگرځي کانه لم یرتد.(۱۳۹) او که دردت په حالت کې مړیاقتل شو نو دمرتد هغه مال چې داسلام په حالت کې گټلی وونو دهغه هغه مال به دهغه مسلمانو وارثانو ته منتقل کیږي ولی چې دامال دهغه له مرتد کیدلو څخه وړاندي موجود وو او دارث نسبت دهغه داسلام آخیري جزء ته کیږي ولی چې ردّت په منزله دمرگ دی نو داتوریث المسلم من المسلم دی.

(۱۴۰)او کوم مال چې هغه دردّت په حالت کې گټلی وي هغه مال غنیمت گرځي اوپه بیت المال کې به ایښودل کیږي ولی چې دحالت ردت گټه دمباح الدم گټه ده په کومه کې چې دهیچا حق نشته نودحربی دمال په شان به غنیمت وي.

(۱۴۱)وإِنْ لَحِقَ بِدَارِ الحَرْبِ مُرْتَدًّا أَوْ حَكَمَ الحَاكِمُ بِلِحَاقِهِ عَتَقَ مُدَبَّرُوْهُ وَأُمَّهَاتُ أَوْلَادِهِ وحَلَّتِ الدُّيُوْنُ الَّتِيْ عليه (۱۴۲)وَانْتَقَلَ مَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الإِسْلَامِ إِلَى وَرَثَتِهِ مِنَ المُسْلِمِيْنَ.

ترجمه: او که کوم کس مرتدشواودارالحرب ته ولاړاوحاکم دهغه ددارالحرب ته دتللوحکم صادرکړنودهغه مدبرغلام اوامهات اولادازدیږي اودهغه قرضونه حالي گرځي اوکوم چې دداسلام په حالت کې گټلی وي هغه دده مسلمان وارثانوته منتقل کیږي.

تشریح:(۱۴۱) که کوم کس مرتدشواودارالحرب ته ولاړی اوحاکم دهغه دارالحرب ته دتللوحکم وکړنودهغه له ثلث مال څخه دهغه مدبرغلام اوله ټول مال څخه دهغه ام ولدمینځې ازدیږي اودهغه هغه پورونه چې میعادي(یعني وخت لرونکي وو) ووفوري یعني فی الحال واجب الاداء گرځي.

(۱۴۲)اودهغه دحالت اسلام گټه به دهغه دمسلمان وارثانو طرف ته منتقل کیږي ځکه دارالحرب ته دتللوپه وجه سره هغه حربي شواوحربي دمسلمانانوداحکاموپه باره کې دمړي په مرتبه کې دی ځکه چې پرهغه دکومي خبري دلازمولوولایت منقطع دی کماهی منقطعة عن الموتی.

(۱۴۳)وَتُقْضَى الدُّيُوْنُ الَّتِي لَزِمَتْهُ فِي حَالِ الإِسْلَامِ مِمَّا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ الإِسْلَامِ (۱۴۴)وَمَا لَزِمَهُ مِنَ الدُّيُوْنِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ يُقْضَى مِمَّا فِي حَالِ رِدَّتِهِ.

ترجمه: او د هغه هغه پوروونه چې د اسلام په حالت کې پر هغه لازم شوي وو هغه به د هغه د اسلام د حالت له ګټې څخه اداء کيږي او کوم پوروونه چې د حالت ردّت پر وخت پر هغه لازم شوي وو هغه به د هغه د ارتداد د حالت له ګټي څخه اداء کيږي.

تشريح: (۱۴۳) پر مرتد چې کوم پوروونه د اسلام په حالت کې لازم شوي وو هغه به د هغه د اسلام د حالت له ګټې څخه اداء کيږي. (۱۴۴) او کوم پوروونه چې د ارتداد په حالت کې پر هغه لازم شوي وو هغه به د هغه د ارتداد د حالت له ګټي څخه اداء کيږي دا يو روايت دی له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه همدا د امام زفر صاحب تول دی. د امام ابو حنيفه رحمه الله يو روايت دا دی چې ټول پوروونه به خاص له هغې ګټي څخه اداء کيږي کوم مه چې يې په حالت ردت کې حاصله کړي ده که هغه کافي نه وه نو پاتي پوروونه به له هغه ګټي څخه اداء کيږي کوم چې په حالت کې اسلام کې حاصله کړي ده.

(۱۴۵) وَمَا بَاعَهُ أَوِ اشْتَرَاهُ أَوْ تَصَرَّفَ فِيهِ مِنْ أَمْوَالِهِ فِي حَالِ رِدَّتِهِ مَوْقُوفٌ (۱۴۶) فَإِنْ أَسْلَمَ صَحَّتْ عُقُودُهُ وَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ أَوْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتْ۔

ترجمه: او په حالت ردّت کې چې هغه کوم شی خرڅ کړی یا يې اخيستی يا يې په خپل مال کې کوم تصرف کړی نو هغه موقوف پاتي کيږي نو هغه اسلام قبول کړنو د هغه تصرفات صحيح کيږي او که مړ شو يا ووژل شو يا دار الحرب ته ولاړی نو باطليږي.

تشريح: (۱۴۵) که مرتد د ارتداد په حالت کې کوم شی خرڅ کړ يا يې واخيستی يا يې په خپل مال کې کوم بل تصرف وکړ مثلاً چاته يې کوم شی هبه کړ يا يې خپل غلام ازاد کړ نو د هغه دا هر يو تصرف موقوف دی تر څو چې د هغه حال معلوم شي. (۱۴۶) نو که هغه اسلام قبول کړ نو د هغه دا ټول تصرفات صحيح کيږي لِمَا مَرَّ أَنَّهُ يَصِيرُ كَأَنَّهُ لَمْ يَرْتَدَّ، او که هغه مړ شو يا ووژل شو يا دار الحرب ته ولاړی او حاکم د هغه د تللو حکم وکړ نو د هغه دا ټول تصرفات باطليږي ولی چې اوس هغه معصوم الدم نه دی نو د هغه په اهليت کې خلل واقع شو.

(۱۴۷) وَإِنْ عَادَ الْمُرْتَدُّ بَعْدَ الْحُكْمِ بِلِحَاقِهِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ مُسْلِمًا فَمَا وَجَدَهُ فِي يَدِ وَرَثَتِهِ مِنْ مَالِهِ بِعَيْنِهِ أَخَذَهُ۔

ترجمه: او که د هغه دار الحرب ته د تللو له حکم څخه وروسته هغه مسلمان شو او دار الاسلام ته بيرته راغی نو له خپل مال څخه چې څه له وارثانو سره بعينه موندي هغه به وړي.

تشريح: (۱۴۷) که مسلمان حاکم د مرتد دار الحرب ته د تللو حکم وکړ بيا هغه مسلمان شو او دار الاسلام ته بيرته راغی نو له خپل مال څخه څه د خپلو وراثانو سره يا په بيت المال کې بعينه وموندي هغه به وړي ولی چې وارث او بيت المال په دي وجه د هغه قائم مقام شوي وو چې مرتد له هغه مال مستغنی شوی وو او کله چې هغه مسلمان شو او بيرته راغی نو د هغه مال محتاج شو لهذا له وراثانو څخه ډير حقدار او مقدم دی.

(۱۴۸) وَالْمُرْتَدَّةُ إِذَا تَصَرَّفَتْ فِي حَالِ رِدَّتِهَا جَازَ تَصَرُّفُهَا۔

ترجمه: او مرتده ښځه چې د خپل ارتداد په وخت کې کوم تصرف وکړي نو د هغې تصرف جائز دی.

تشريح:(۱۴۸)مرتده ښځه چې دارتداد په حالت کې په خپل مال کې کوم تصرف وکړي نو دهغې تصرف جائزدی ځکه چې هغه دهغې ملک دی او دهغې د مرتد والی په وجه سره دهغې ملک نه زائليږي.

(۱۴۹)وَنَصَارىٰ بَنِي تَغْلِبَ يُؤْخَذُ مِنْ أَمْوَالِهِمْ ضِعْفُ مَا يُؤْخَذُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنَ الزَّكوٰةِ (۱۵۰)وَيُؤْخَذُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْ صِبْيَانِهِمْ.

ترجمه: او دبنی تغلب له اموالو څخه به ټيکس دهغه زکوة دوه چنده اخيستل کيږي کوم چې له مسلمانانو څخه اخيستل کيږي او دهغوئ له ښځو څخه به هم اخيستل کيږي او دهغوئ له ماشومانو څخه به نه اخيستل کيږي.

تشريح:(۱۴۹) يعنی دخاندان بني تغلب دنصارا وو له مالو نو څخه به ټيکس دهغه زکوة دوه برابره اخيستل کيږي کوم چې له مسلمانانو څخه اخيستل کيږي ولی چې له هغوئ سره صلح په همدي شان سره شوي وه .(۱۵۰)او دهغوئ له ښځو څخه به هم اخيستل کيږي ليکن دهغوئ له ماشومانو څخه به نه اخيستل کيږي ولی چې صلح په دوه چنده زکوة شوي ده او زکوة زمونږ پر ښځو واجب دی پر ماشومانو نه دی واجب نو دد وچنده به هم همدا حال وي.

فائده: بنی تغلب دعربو له نسل څخه دي کوم چې دجاهليت په زمانه کې عيسايان شوي وو بيا حضرت عمر ﷺ دخپل خلافت په زمانه کې له هغوئ څخه جزيه طلب کړه نودي خلګوانکار وکړچې مونږ عرب يو له مونږسره دي دنورو عربو په شان معامله وکړای شي مګر حضرت عمر ﷺ وفرمايل چې له مشرک څخه صدقه نه اخلم ددي په اوريدلو سره له هغوئ څخه ځيني وتښيدل او له نصاری روم سره يوځای شول نونعمان بن زرعه عرض وکړ ای امير المؤمنينه هغوئ دجزيه په ورکولو شرميږي لهذا ته دصدقي په نامه سره له هغوئ څخه جزيه وصول کړه او دښمنان دهغوئ کومک ته مه پريږده نو حضرت عمر ﷺ هغوئ را وغوښتل څومره اندازه چې له مسلمانانو څخه زکوة اخيستل کيدی دهغه دوچنديې دهغوئ په نارينه او ښځو مقرر کړا وپردي صحابه کرامو ﷺ اتفاق وکړ.

(۱۵۱)وَمَا جَبَاهُ الْإِمَامُ مِنَ الْخَرَاجِ وَمِنْ أَمْوَالِ بَنِي تَغْلِبَ وَمَا أَهْدَاهُ أَهْلُ الْحَرْبِ إِلَى الْإِمَامِ وَالْجِزْيَةُ تُصْرَفُ فِي مَصَالِحِ الْمُسْلِمِينَ فَيُسَدُّ مِنْهَا الثُّغُوْرُ وَتُبْنَى الْقَنَاطِرُ وَالْجُسُوْرُ وَيُعْطٰى مِنْهُ قُضَاةُ الْمُسْلِمِينَ عُمَّالُهُمْ وَعُلَمَاؤُهُمْ مَا يَكْفِيهِمْ وَيُدْفَعُ مِنْهُ أَرْزَاقُ الْمُقَاتِلَةِ وَذَرَارِيهِمْ.

ترجمه: او کوم چې امام جمع کړل خراج او دبنی تغلب اموال او کوم چې اهل حربو امام ته تحفه را اليږلي وي او جزيه ،دمسلمانانو په عامه مصلحتونو کې به مصرفيږي نو په دي سره به سرحدونه بنديږي او پلونه به جوړيږي او له دي څخه به دمسلمانانو قاضيانو ،عاملانو او عالمانو ته دومره ورکول کيږي کوم چې هغوئ لره کفايت کوي او له دي څخه به دغازيانو او دهغوئ داولاد نفقه ورکول کيږي.

تشريح:(۱۵۱) يعنی کوم مال چې امام دخراج او جزيه او له بنی تغلب څخه په اخيستلو جمع کړی وي يا کوم چې اهل حرب امام ته تحفة رااليږي وي دا ټول به دمسلمانانو په عامو مصلحتونو کې مصرفيږي لکه د اسلام

سرحدونه په فوځ سره مضبوط کول اوپه دریابونواوویالوپلونه جوړول همداشان دمسلمانانو قاضیانواوعمالو(لکه مفتي محتسب وغیره)اوعلماوته دومره ورکول کوم چې هغوئ اودهغوئ اولاد لره کفایت وکړي ،همداشان له دي څخه دمجاهدینواودهغوئ داولادرزق ورکول ،وجه داده چې دامالونه دمسلمانانوپه قوت سره بغیرله جنګ کولوحاصل شوي دي نودابه دمسلمانانودعامومصلحتونولپاره وي اومذکوره بالامصارف دعامه خلګوله مصلحتونوڅخه دي.

(۱۵۲)وإذَاتَغَلَّبَ قَوْمٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ علی بَلَدٍوَخَرَجُوْاعَنْ طَاعَةِالْإمَامِ دَعَاهُمْ إلی الْعَوْدِإلی الْجَمَاعَةِوَكَشَفَ عَنْ شُبْهَتِهِمْ وَلايَبْدَأُهُمْ بِالْقِتَالِ حَتّٰی يَبْدَؤُهُ(۱۵۳)فَإنْ بَدَؤُاقَاتَلَهُمْ حَتّٰی تَفرَّقَ جَمَاعَتُهُمْ(۱۵۴)وإنْ كانَتْ لَهُمْ فِءَةٌأَجْهَزَعلی جَرِيحِهِمْ وَيَتَّبِعَ مُوَلِّيهِمْ(۱۵۵)وإنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِءَةٌلَمْ يُجْهِزْعَلی جَرِيحِهِمْ ولَمْ يَتَّبِعْ مُوَلِّيهِمْ(۱۵٦)ولاتُسْبی لَهُمْ ذُرِّيَّةٌ ولايُقَسَّمُ لَهُمْ مالٌ

ترجمه:اوکه دمسلمانانوکوم قوم پریوښارباندي حمله وکړي اودامام له اطاعت څخه ووځي نوامام دي هغوئ ته دمسلمانانوجماعت ته دبیرته راګرځیدلو دعوت وکړي اودهغوئ شبه دي لیري کړي اوله هغوئ سره دي جنګ نه پیلوي ترڅوچې هغوئ پیل وکړي نوکه هغوئ جنګ پیل کړنوله هغوئ سره دي جنګ وکړي ترڅوچې دهغوئ جماعت تړوته تړوته شي اوکه دهغوئ کوم کومک کونکی جماعت وونودهغوئ زخمیان دي قتل کړي اودهغوئ تښتیدونکي دي تعقیب کړي اوکه دهغوئ کوم کومک کونکی جماعت نه وي نودهغوئ زخمیان دي نه قتل کوي اونه دي دهغوئ تښتیدونکي تعقیبوي اونه دي دهغوئ اولادونه بندیانوي اونه دي دهغوئ مالونه تقسیموي.

تشریح:(۱۵۲) که دمسلمانانو یو جماعت دامام یانائب امام له اطاعت څخه په خارجیدلوپریوښارغلبه حاصله کړي نو استحبابا دي امام یادهغه نائب هغوئ ته دمسلمانانو دجماعت طرف ته دبیرته راتللو دعوت ورکړي او که دهغو ئ کومه شبهه وه نو دهغو ئ شبهه دي زائله کړي په دي وجه چې ممکن ده چې دهغو ئ شر په دي سره دفع شي .او امام دي له هغوئ سره دجنګ پیل نه کوي.دادامام قدوري رأیه ده دامام خواهرزاده رأیه داده چې امام به له هغوئ سره دجنګ پیل کوي ځکه چې په مهلت ورکولو سره هغوئ قوت پیداکوي لهذاکیدای شي چې وروسته دي دهغوئ شردفع کول ممکن نه وي.

(۱۵۳)که هغوئ جنګ پیل کړنوامام دي هم له هغوئ سره جنګ وکړي ترحوچې دهغوئ جماعت تړوته تړوته شي لقوله تعالی﴿ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ ﴾(یعنی قتال کوئ له هغې ټولې دمسلمانانوسره کومه چې بغاوت کوي ترڅوچې دالله تعالی حکم ته غاړه کښیږدي).

(۱۵۴)بیاکه ددي باغیانو یو بل مددګار جماعت هم وي کوموته چې دوئ پناه وروړي نو په جنګ کې چې دوئ کوم زخمیان دي هغه دي قتل کړي اودتښتیدونکوتعاقب دي وکړي ترڅوچې ددوئ شر دفع شي داسې نه چې دوئ له خپل جماعت سره یو ځای شي.(۱۵۵)او که ددوئ کوم مددګار جماعت نه وي نو ددوئ زخمیان دي نه قتلوي او نه دي دتیښتیدونکو تعاقب کوي ولې چې اوس ددوئ دقتلو لو ضرورت نشته ولې

چې مقصود د دوئ د جماعت تفريق دی او هغه حاصل شو. (۱۵۶) د هغوئ ماشومان او ښځې دې غلامان نه جوړ وي او نه دي هغوئ مال دغنيمت په ډول تقسيموي ولی چې داخلګ مسلمانان دي نو اسلام د دوئ د نفس او مال لپاره عاصم، (ساتونکی) دی.

(۱۵۷) وَلا بَأْسَ أَنْ يُقَاتِلُوا بِسِلاحِهِمْ إِنْ احْتَاجَ الْمُسْلِمُونَ إِلَيْهِ (۱۵۸) وَيَحْبِسُ الْإِمَامُ أَمْوَالَهُمْ وَلا يَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ وَلا يُقَسِّمُهَا حَتَّى يَتُوبُوا فَيَرُدُّهَا عَلَيْهِمْ.

ترجمه: او هيڅ حرج نشته چې د هغوئ په اسلحه سره جنګ وکړي که مسلمانانو ته د دي ضرورت وو او امام دي د هغوئ مالونه بند کړي نه دي هغوئ ته بيرته ورکوي او نه دي په مجاهدينو تقسيموي ترڅو چې هغوئ توبه وکاږي بيا دي هغوئ ته بيرته ورکړي.

تشريح: (۱۵۷) په دې کې هيڅ مضائقه نشته چې مسلمانان د باغيانو په اسلحه سره له دوئ سره وجنګيږي په دي شرط چې د مسلمانانو ضرورت پيداشي اوله مسلمانانو سره اسلحه نه وي ولی چې داسي کول خو د ضرورت پروخت د عادلانو په مال کې هم جائزدی د باغيانو په مال کې خو په طريقه اولی سره جائزدي. (۱۵۸) امام دي د هغوئ مالونه موقوف وساتي نه دي هغوئ ته واپس کوي او نه دي په مجاهدينو کې تقسيموي لما مران اموالهم لاتغنم مګر د امالونه دي ترهغه وخته موقوف وساتي ترڅو چې هغوئ توبه وکاږي له توبه کښلو وروسته دي د هغوئ مالونه هغوئ ته بيرته واپس کړي ځکه چې اوس د هغوئ بغاوت ختم شو.

(۱۵۹) وَمَا جَبَاهُ أَهْلُ الْبَغْيِ مِنَ الْبِلادِ الَّتِي غَلَبُوا عَلَيْهَا مِنَ الْخَرَاجِ وَالْعُشْرِ لَمْ يَأْخُذْهُ الْإِمَامُ ثَانِيًا (۱۶۰) فَإِنْ كَانُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ أَجْزَأَ مَنْ أُخِذَ مِنْهُ (۱۶۱) وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا صَرَفُوهُ فِي حَقِّهِ فَعَلَى أَهْلِهِ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى أَنْ يُعِيدُوا ذَلِكَ.

ترجمه: او کوم عشر او خراج چې باغيانو وصول کړله هغو ښارونو څخه پر کوم چې هغوئ غالب شوي دي نو امام دي له هغوئ څخه دوهم ځل نه اخلي نو که باغيانو هغه پر خپل ځای مصرف کړنو کافي دی د هغه لپاره چې له هغه اخيستل شوی دی او که باغيانو پر خپل ځای مصرف نه کړنو د هغه پر مالک باندي ديانة فی ما بينه وبين الله داشته چې د هغه اعاده وکړي.

تشريح: (۱۵۹) پر کوموښارونو چې باغيان قابض شول د هغو عشر او خراج که باغيانو وصول کړنو له فتح وروسته به امام دوهم ځل عشر او خراج نه اخلي ځکه چې امام لره د عشر او خراج حق د هغه د حمايت په وجه سره حاصل دی حال داچې امام خود هغوئ حفاظت نه دی کړی لهذا د عشر او خراج د اخيستلو حق نه لري. (۱۶۰) بيا که باغيانو د امال پر خپل ځای مصرف کړنوله کوموکسانو چې يې اخيستی دی هم د اد هغوئ لپاره کفايت کوي هغوئ بری الذمه دي ځکه چې حق خپل مستحق ته ورسيدی.

(۱۶۱) او که باغيانو پر خپل ځای نه وو مصرف کړی نو کوموکسانو چې مال ورکړی دی پر هغوئ ديانة فيما بينهم وبين الله دا واجب ده چې دوهم ځل دا مال مستحقينو ته اداء کړي ځکه چې حق مستحق ته نه دی

رسيدلی .ددیانة معنی داده چې حاکم له هغوئ څخه مطالبه نه شي کولای بلکه هغوئ به يې خپله له دي وجي اداء کوي چې هغه مال مستحق ته نه دی رسيدلی.

كتابُ الحظروالاباحة

داکتاب دحظراواباحت په بيان کې دی

كتاب الحظروالاباحة يې له معاملاتواوعباداتووروسته ذکرکړله دي وجي چې دحظراواباحة له ټولوسره تعلق شته نوداګواکي دفوت شويومضامينواستدراک دی.

حظرلغةً دمنع په معنی دی اوپه شريعت کې حظرهغه دی چې دهغه له استعمال څخه شرعاًمنع کړای شوي وي .اواباحت ضددی دحظر.څرنګه چې په دي کتاب دهغواموروبيان دی کوم چې شريعت ممنوع يامباح ګرځولي دي له دي وجي ددي کتاب نوم حظراواباحت ايښودل شوی دی.

ځينودي کتاب ته دکتاب الاستحسان عنوان ورکړی دی نودهغه وجه داده چې په دي کې دهغواموروبيان دی کوم چې شريعت حسن ياقبيح ګرځولي دي .اوځينودکتاب الكراهية نوم ورکړی دی ځکه چې په دي کې دمکروهاتوبيان دی کوم چې له نوروامورڅخه اهم دي .اومباح هغه فعل دی چې دهغه ترک يافعل بلااستحقاق ثواب اوعقاب دمکلفينولپاره جائزګرځول شوي وي.

(۱)وَلَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ لُبْسُ الْحَرِيْرِ وَيَحِلُّ لِلنِّسَاءِ(۲)وَلَا بَأْسَ بِتَوَسُّدِهِ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللّٰهُ يُكْرَهُ تَوَسُّدُهُ

ترجمه:اوحريرپه تن کول دنارينه ولپاره حلال نه دي اودښځولپاره حلال دي اوپرهغوپه تکيه لګولو کې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدڅه مضائقه نشته اوصاحبين فرمايي چې پرهغوتکيه لګول مکروه دي.

تشريح:(۱)دحرير(وريښموڅخه جوړه شوي جامه)په تن کول دنارينه ولپاره حلال نه دي اوښځولره حلال دي لقوله ﷺ أَحَلَّ الذَّهَبَ وَالْحَرِيْرَ لِلإِنَاثِ مِنْ أُمَّتِيْ وَحَرَّمَ عَلٰى ذُكُوْرِهَا(يعنی حريراوسره زرزمادامت دښځولپاره حلال کړای شوی دی اودامت دنارينه ولپاره حرام کړل شوي دي).(۲) پرورېښموپه تکيه کولواوپرهغو په څملاستلوکې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدڅه مضائقه نشته ولی چې په دي کې استخفاف بالحريردی نوداداسي ده لکه پرفرش باندي تصويرونه چې پرهغه کښيناستل جائزدي اوپه تن کول يې جائزنه دي ،دصاحبينوپه نزدپرحريروتکيه کول اوپرهغوڅملاستل هم مکروه دي ولی چې په حديث شريف کې عام ممانعت دی کوم چې تکيه وغيره ټولوته شامل دی.

(۳)وَلَا بَأْسَ بِلُبْسِ الْحَرِيْرِ وَالدِّيْبَاجِ فِي الْحَرْبِ عِنْدَهُمَا وَيُكْرَهُ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

ترجمه:اوددیباپه تن کولو کې دصاحبينوپه نزددجنګ په وخت کې هيڅ حرج نشته اودامام صاحب په نزدمکروه ده.

تشريح:(۳) دصاحبينوپه نزدد جنګ په وخت کې ددیبا(یو قسم وریښمینه جامه ده) په اغوستلوکې څه حرج نشته په دي وجه چې په جنګ کې ددي ضرورت وي ولی چې توره یې نه شي پري کولای اودښمن هم له دي څخه ویریږي ،دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزدد جنګ په وخت کې هم دهغو اغوستل مکروه دي ولی چې نبي کریم ﷺ دوریښمولہ اغوستلوڅخه مطلقامنع فرمایلي ده هیڅ تفصیل یې نه دی بیان کړی چې په غیرجهادکې مکروه ده اوپه جهادکې مکروه نه ده ،اودجنګ په حالت کې نوري جامي هم کارکولی شي لهذادهغوضرورت نشته.

(۴)وَلَابَأسَ بِلُبْسِ الْمُلْحَمِ إِذَا كَانَ سَدَاهُ اِبْرِيْسِمًا وَلُحْمَتُهُ قُطْنًا اَوْ خَزًّا۔

ترجمه: اودملحم په اغوستلوکې څه حرج نشته کله چې دهغه تانادوریښموويﺍو باناد سوت یاخزوي.

تشريح:(۴)ملحم (یو قسم جامه ده چې دهغې تانادوریښمواوباناد غیروریښموويﺍ)امام قدوري رحمه الله په خپله هم په متن کې همدا تعریف بیان کړی دی په اغوستلوکې څه حرج نشته چې دهغې تانا(هغه تارکوم چې دجامي په جوړلوکې داږدوالی په طرف کې وي)دوریښمووي اوبانا(هغه تارکوم چې دجامي په جوړلوکې دعرض په طرف کې وي)دوړیویاخزووي (خز:دکوم چې تانادوریښمووي اوبانادیواوبووالاحیوان دوېښتانووي)ولی چې جامه خوهغه وخت جامه وي چې جوړه کړای شي اوجوړیدل یې په باني سره وي نوبانامعتبردی نه تانا.

(۵)وَلَا يَجُوْزُ لِلرِّجَالِ التَّحَلِّيْ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ(۶)وَلَابَأسَ بِالْخَاتَمِ وَالْمِنْطَقَةِ وَحِلْيَةِ السَّيْفِ مِنَ الْفِضَّةِ(۷)وَيَجُوْزُ لِلنِّسَاءِ التَّحَلِّيْ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ(۸)وَيُكْرَهُ اَنْ يُلْبَسَ الصَّبِيُّ الذَّهَبَ وَالْحَرِيْرَ۔

ترجمه: اوجائزنه ده دنارینه ولپاره دسروزرواوسپینوزروګینه اوڅه حرج نشته دسپینوزروپه ګوتمی کې اوپه منطقه کې ، توري په ګینه کې چې دسپینوزرووي اوجائزده ښځولره دسرواوسپینوزروګینه اومکروه ده چې هلک ته سره زریاوریښم وروااغوستل شي .

تشريح:(۵) دنارینه ولپاره دسرواوسپینوزوروګینه په تن کول جائزنه ده ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی چې وریښم اوسره زرزمادامت پرنارینه وحرام دي اودښځولپاره حلال دي ،اوسپین زردسروزروپه حکم کې دي.(۶) دسپینوزروګوتمی جائزده اوسنت دادی چې یومثقال (مثقال څلورماشي څلوررتی وي)په اندازه یاله دي څخه لږوي ،همداشان که منطقه (کمربند)اودتوري ګینه دسپینوزرووي نوپه دي کې هم څه حرج نشته په دي شرط چې دسپینوزروپرځای لاس نه لګیږي ولی چې ددي په اباحت کې اثارموجوددي.(۷) ښځولره دسرواوسپینوزروګینه په تن کول جائزدي .(۸) هلکانوته سره یاوریښم ورپه تن کول مکروه دي ولی چې کله دنارینه وپه حق کې تحریم ثابت شواوپه تن کول حرام شول نوورپه تن کول به هم حرام وي لکه دشراب څښل چې حرام دي ورڅښل هم حرام دي.

(۹)وَلَا يَجُوْزُ الْاَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالْاِدِّهَانُ وَالتَّطَيُّبُ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ(۱۰)وَلَابَأسَ بِاسْتِعْمَالِ آنِيَةِ الزُّجَاجِ وَالرَّصَاصِ وَالْبِلَّوْرِ وَالْعَقِيْقِ۔

ترجمه:او جائزنه دی دسرو او سپينوپه لوښوکې خورک ،څښک ،تيل لګول اوخوشبوئي لګول نارينه اوښځولره او هيڅ حرج نشته دشيشي،رانګ ،بلوراوعقيقودلوښوپه استعمالولوکې.

تشريح:(۹) دسرواوسپينوزروپه لوښوکې نارينه اوښځوټولوله خورک ،څښک ،تيل لګول ،اوخوشبولګول جائزنه دي ځکه چې نبی کريم ﷺ له دي څخه منع کړي ده .(۱۰)،درانګ (يوقسم عمده سيسه)شيشه ،بلور(يوقسم شيشه ،سپين اوشفاف جوهر)اوعقيق (سوررنګی قيمتی ډبره)دلوښوپه استعمالولوکې څه حرج نشته ولی چې دادسرورا وسپينوپه معنی سره نه دي .

الالغاز:ای اناءمن غيرالنقدين وليس مغصوباولامملوکاللغيريحرم استعماله؟

فقل :المتخذمن اجزاءالآدمی(الاشباه والنظائر)

(۱۱)وَيَجُوْزُشُرْبٌ فِي الْإِنَاءِ الْمُفَضَّضِ عِنْدَ اَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ(۱۲)وَيَجُوْزُ الرُّكُوْبُ عَلَى السَّرْجِ الْمُفَضَّضِ وَالْجُلُوْسُ عَلَى السَّرِيْرِ الْمُفَضَّضِ.

ترجمه:او جائزدی په هغولوښوکې څښل چې سپين زرپه کې کارشوي وي دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزداوجائزدی دسپينوزروپه ملمع ورکړل شويوزينانوسپريدل اودسپينوزروپه ملمع ورکړل شوي تخت باندي کښيناستل.

تشريح:(۱۱) په کومولوښوچې دسپينوزروملمع (سپين زرکارشوي)وي په هغوکې څښل دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد جائزدي،همداشان پرکوموځينانوچې دسپينورزوملمع وي پرهغوسپريدل اوپه کومه کرسی چې دسپينو زرو ملمع وي پرهغه کښينستل دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدجائزدی په دي شرط چې دسپينوزروله ځايه ځان وساتي ولی چې که چادسپينوزروګوتمی په ګوته کړی وي اوپه لپه کې يې اوبه وڅښلي نوڅرنګه چې خوله پرسپينوزرونه لګيږي په دي وجه مکروه نه ده نومذکوره بالاشيان هم مکروه نه دي ،دامام ابويوسف رحمه الله په نزدمکروه دي . (دامام ابوحنيفه رحمه الله قول راجح دی .مګرپه دي زمانه کې دامام ابويوسف رحمه الله پرقول عمل کول اولی دی سدألباب استعمال الذهب والفضة للرجال لان العوام لايميزون بين موضع الفضةوغيرها).

(۱۳)وَيُكْرَهُ التَّعْشِيْرُ فِي الْمُصْحَفِ وَالنَّقْطُ(۱۴)وَلَابَأْسَ بِتَحْلِيَةِ الْمُصْحَفِ وَنَقْشِ الْمَسْجِدِ وَزَخْرَفَتِهٖ بِمَاءِ الذَّهَبِ.

ترجمه:او مکروه دی په قرآن مجيدکې له هرولسوآيتونوڅخه وروسته نښان لګول اونقطي لګول او هيڅ حرج نشته دقرآن مجيدپه ښائسته کولوکې اودمسجدپه منقش کولوکې دسروزروپه اوبوسره.

تشريح:(۱۳) په قرآن مجيدکې له هرولسوآيتونوڅخه وروسته نښان لګول اوداعراب داظهارلپاره نقطي (مراداعراب دی)لګول مکروه دي،لقول ابن مسعودرضی الله تعالی عنه جَرِّدُوا الْقُرْآنَ .اوپه تعشيراونقطوکې ترک تجريددی .مګرپه دي زمانه کې نقطي لګول جائزدي ځکه چې عجمي خلک بغيرله اعراب څخه قرآن مجيدنه شي لوستلای.

(۱۴)د قران مجيد په سپينو يا سروزرو سره په ښائسته کولو کې څه حرج نشته په دي وجه چې په دي کې د قرآن مجيد تعظيم او بزرګي ده .همدارنګه د مسجد منقش کول او د سروزرو په او بو سره ښائسته کول هم جائزدي په دي شرط چې له دي څخه مقصود تعظيم وي او که په قصد د ريا سره وونو مکروه ده.

(۱۵)وَيُكْرَهُ اسْتِخْدَامُ الْخُصْيَانِ(۱٦)ولا بَأْسَ بِخِصَاءِ الْبَهَائِمِ(۱۷)وَإِنْزَاءِ الْحَمِيرِ عَلَى الْخَيْلِ۔

ترجمه:او مکروه دی له خصيانو څخه خدمت اخيستل او څه حرج نشته د څارويو په خصي کولو کې او د خره پراس په خيژولو کې .

تشريح:(۱۵) له خصيانو څخه خدمت اخيستل مکروه ده ولی چې له خصيانو څخه په خدمت اخيستلو کې درغبت ښکاره کول ددي عمل باعث دي حال داچې داعمل (ځان خصی کول)مثله او حرام دی.(۱۶) دحيوانانو په خصي کولو کې څه مضائقه نشته ولی چې په دي کې فائده ده په دي وجه چې خصي څاروی چاغ وي او دهغه غوښه ډيره ښه وي ،(۱۷)دخره پراس په خيږلوکې څه حرج نشته ولی چې له دي څخه خچرپيداکيږي اوپرخچرنبی کريم ﷺ سپورشوی دی نوکه په دي کې څه حرج وای نونبی کريم ﷺ نه پرسپريدو .

(۱۸)وَيَجُوزُ أَنْ يُقْبَلَ فِي الْهَدِيَّةِ وَالْإِذْنِ قَوْلُ الْعَبْدِ وَالصَّبِيِّ(۱۹)وَيُقْبَلُ فِي الْمُعَامَلَاتِ قَوْلُ الْفَاسِقِ(۲۰)ولا يُقْبَلُ فِي أَخْبَارِ الدِّيَانَاتِ إِلَّا قَوْلُ الْعَدْلِ۔

ترجمه:او جائزدی داچې قبول کړای شي په هديه او اذن کې دغلام او نابالغ قول او قبليږي به په معاملاتو کې دفاسق قول او نه به قبليږي ددياناتو په اخبارو کې مګر دعادل قول .

تشريح:(۱۸) په هديه او اذن فی التجارت کې دغلام او نابالغ په قول اعتبارکول جائزدی ځکه چې عادت جاريه دی چې خلګ ددوئ په لاس هداياوي ليږي او اذن فی التجارت ورکوي .(۱۹) په معاملاتو(لکه وکالت ،مضاربت ،وغيره)کې دفاسق قول منل کيږي ولی چې معاملات دهرقسم خلګوپه منځ کې کيږي نوکه دعادل والی شرط ولګول شي نودابه مفضی الی الحرج شي .(۲۰) په دياناتو(مثلاداوبوپه پاکوالی يانجس والی ښودلوکې)له عادل څخه ماسوادبل چاخبره نه معتبريږي ولی چې دمعاملاتوپه شان ددي وقوع ډيره نه ده په دي وجه دعادل والی شرط په دي کې لګول لازمي دی لهذاله مسلمان عادل ماسوادبل چاخبره به نه منل کيږي.

(۲۱)وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَنْظُرَ الرَّجُلُ مِنَ الْأَجْنَبِيَّةِ إِلَّا إِلَى وَجْهِهَا وَكَفَّيْهَا(۲۲)فَإِنْ كَانَ لَا يَأْمَنُ مِنَ الشَّهْوَةِ لَمْ يَنْظُرْ إِلَى وَجْهِهَا إِلَّا لِحَاجَةٍ۔

ترجمه:او جائزنه دی چې وګوري سړی دپردۍ ښځې بدن ماسوا دهغې له مخ او ورغويو څخه نو که له شهوت څخه په امن نه وي نه دي ګوري دهغې مخ ته مګر دضرورت لپاره .

تشريح:(۲۱) دنارينه لپاره دکومي ازادي پردی ښځې بدن ته کتل جائزنه دي ماسوادهغې له مخ او ورغويو څخه ځکه چې دمخ اولاسونو په ښکاره کولوکې ضرورت دی ولی چې ښځې ته له نارينه وسره

داخیستلو او خرڅولو ضرورت پیښیږي. (۲۲) نو که کوم څوک دپردی ښځې مخ ته په کتلو سره له شهوت څخه په امن نه شوپاتي کیدلای نو هغه دي دهغې مخ ته هم نه ګوري ولی چې دنبی کریم ﷺ ارشاددی چې دسترګو زناخو نظردی.

(۲۳) وَيَجُوزُ لِلْقَاضِي إِذَا أَرَادَ أَنْ يَحْكُمَ عَلَيْهَا وَلِلشَّاهِدِ إِذَا أَرَادَ الشَّهَادَةَ عَلَيْهَا النَّظَرُ إِلَى وَجْهِهَا وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِيَ (۲۴) وَيَجُوزُ لِلطَّبِيبِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَوْضِعِ الْمَرَضِ مِنْهَا.

ترجمه: او قاضی لره دهغې مخ ته کتل جائزدی کله چې هغه پرهغې حکم جاري کول وغواړي او ګواه لره کله چې هغه پرهغې ګواهي ورکوي که څه هم دشهوت پیدا کیدلو خوف وي او طبیب لره جائزدی چې دښځې دجسم دمرض ځای ته وګوري.

تشریح: (۲۳) قاضی چې کله پریوه اجنبی ښځه حکم کول وغواړي همداشان شاهد چې کله پریوه اجنبی ښځه شاهدي ورکول وغواړي نو هغه لره دهغې ښځې مخ ته کتل جائزدی اګرکه ده ته دشهوت دپیښیدلو ویره وي ولی چې قاضی لره دحکم په ذریعه اوشاهدلره دشاهدي په ذریعه دخلکو دحقوقو دژوندي کولو حاجت دی. (۲۴) طبیب (ډاکټر) ته جائزده چې دښځې له جسم څخه دمرض ځای ته وګوري ولی چې ضرورت دی ،دکتلو طریقه به یې داوي چې دمریضي ټول بدن دي ماسوادمرض له ځایه پټ وساتل شي بیادي طبیب دادمرض ځای ته وګوري ،اوترکومه چې ممکنه وي خپل نظردي کښته وساتي ولی کوم شئ چې دضرورت په وجه سره جائزوي هغه صرف دضرورت ترحده وي.

(۲۵) وَيَنْظُرُ الرَّجُلُ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى جَمِيعِ بَدَنِهِ إِلَّا مَا بَيْنَ سُرَّتِهِ إِلَى رُكْبَتِهِ (۲۶) وَيَجُوزُ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَنْظُرَ مِنَ الرَّجُلِ إِلَى مَا يَنْظُرُ إِلَيْهِ الرَّجُلُ مِنْهُ (۲۷) وَتَنْظُرُ الْمَرْأَةُ مِنَ الْمَرْأَةِ إِلَى مَا يَجُوزُ لِلرَّجُلِ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ مِنَ الرَّجُلِ.

ترجمه: او کتلای شي نارینه دبل نارینه ټول بدن ته ماسوا له نامه څخه نیولي ترزنګنوپوري او ښځې لره جائزدی چې وګوري دنارینه دجسم هغه حصي ته کومي ته چې بل نارینه کتلای شي او ښځه کتلای شي دبلي ښځې دومره بدن ته څومره چې نارینه دبل نارینه جسم ته کتلای شي.

تشریح: (۲۵) نارینه دبل نارینه (اګرکه بې ږیري وي په دي شرط چې دشهوت ویره نه وي) ټول جسم ته کتلی شي ماسواله نامه څخه نیولي بیاترزنګنونوپوري درمیاني جسم ته لقوله ﷺ عورة الرجل مابین السرة الی رکبتیه (یعنی دنارینه واجب السترېدن له نامه څخه ترزنګنوپوري دی). بیانوم په سترکې شامل نه دی اوزنګنونه په سترکې شامل دي.

(۲۶) ښځې لره دنارینه له جسم څخه هغواعضاء ته کتل جائزدی کوموته چې دنارینه له جسم څخه نارینه کتلی شي په دي شرط چې دشهوت ویره نه وي ولی چې کوم اعضاء چې په سترکې داخل نه دي هغوته په کتلوکې نراوښځه یوشان دي لکه چې دهرکس لباس اوسورلی ته نراوښځه ټول کتلی شي. (۲۷) یوي ښځې لره دبلي ښځې دومره اندازه جسم ته کتل جائزدي څومره چې نارینه لره دنارینه جسم ته کتل جائزدي ولی چې مجانست موجوددی اوشهوت غالبامعدوم دی کمافی النظر الرجل الی الرجل.

(۲۸) وَيَنظُرُ الرَّجُلُ مِنْ أَمَتِهِ الَّتِي تَحِلُّ لَهُ وَزَوْجَتِهِ إِلَى فَرْجِهَا (۲۹) وَيَنظُرُ الرَّجُلُ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ إِلَى الْوَجْهِ وَالرَّأْسِ وَالصَّدْرِ وَالسَّاقَيْنِ وَالْعَضُدَيْنِ (۳۰) وَلَا يَنظُرُ إِلَى ظَهْرِهَا وَبَطْنِهَا وَفَخِذِهَا۔

ترجمه: اوسړی کتلای شي دخپلي هغي مينځې کومه چې ده ته حلاله وي او دخپلي ښځې فرج ته اوسړی کتلای شي دخپلو محرماتو مخ، سر، سينې، پنډيو او بازوگانو ته اونه شي کتلای دهغې نس، شا او ورنو ته.

تشريح: (۲۸) نارينه لره دخپلي مينځې (مراد داسي مينځه ده چې ده لره حلاله وي) او دخپلې زوجي شرمگاه ته کتل جائزدي دا قول ددي امر اجازت دی چې نارينه لره دخپلې مذکوره مينځې اوزوجي ټول بدن ته په طريقه اولی سره کتل جائزدي الاصل فيه قوله ﷺ (قال غُضَّ بَصَرَکَ إِلَّا عَن زَوْجَکَ, وَأَمَتِکَ) (يعنی خپلې سترگې بندي کړه ماسوا له خپلې ښځې او مينځې څخه)، ليکن ښه داده چې له نارينه او ښځې څخه يو هم دهغه بل فرج ته ونه گوري.

(۲۹) نارينه لره جائزده چې دخپلو محرماتو (مثلاً مور، خور، عمه، خاله وغيره) مخ، سر، سيني، پنډليانو او څنگلوته وگوري ولی چې محارم په خپل منځ کې يو بل ته بلا اجازته او شرمه ځې راځي نو که دي اعضاء ته کتل حرام وگرځول شي نو حرج ته به نوبت ورسيږي او حرج شرعا مدفوع دی، البته دخپلو محرماتو نس، شا او ورنو ته کتل جائزنه دي.

(۳۱) وَلَا بَأْسَ أَنْ يَمَسَّ مَا جَازَ لَهُ أَنْ يَنظُرَ إِلَيْهِ مِنْهَا۔

ترجمه: او څه حرج نشته چې نارينه مس کړي هغه عضو کوم ته چې ده ته له هغي څخه دليد لو جواز شته.

تشريح: (۳۱) نارينه لره چې له ذوات محارم څخه دکومو اعضاء ليدل جائزدي دهغو مس (لاس لگول) کول هم جائزدي ولی چې دسفرپروخت ددي ضرورت پيښيږي اودمحرمه والی په وجه سره شهوت هم کم دی، البته که دشهوت ويره وه بيا دي نه ورته گوري اونه دي مس کوي.

(۳۲) وَيَنظُرُ الرَّجُلُ مِنْ مَمْلُوكَةِ غَيْرِهِ إِلَى مَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَنظُرَ إِلَيْهِ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ (۳۳) وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَمَسَّ ذَالِكَ إِذَا أَرَادَ الشِّرَاءَ وَإِنْ خَافَ أَنْ يَشْتَهِيَ۔

ترجمه: او نارينه کتلای شي دبل له مملوکي څخه هغو اعضاء ته کوم ته چې ده ته جائزدی کتل له خپلو ذی رحم محرم ښځو څخه او ددي اعضاؤ په مس کولو کې څه حرج نشته که يې داخيستلو اراده وي که څه هم دشهوت خطره وي.

تشريح: (۳۲) نارينه لره چې څومره اندازه دخپلو محارمو ښځو بدن ته کتل جائزدی هغومره اندازه دبل چادمينځې بدن ته کتل هم جائزدي ولی چې مينځه دخپل مولی دضرورتونو لپاره دکارکولو په جامو کې دباندي وځي نو ددي ضرورت په وجه سره مينځه دمحرماتو په څير ده. (۳۳) دبل چادمينځې کومو اعضاء ته چې کتل جائزدي داخيستلو پروخت دهغو اعضاء مس کول هم دضرورت په وجه سره جائزدي اگر که ده لره دشهوت ويره وي، ليکن دعلماء رأيه داده چې داخيستلو پروخت دشهوت له وجود سره نظرخو جائزدی ولی چې ضرورت دی ليکن مس کول ناجائزدي ولی چې دا يو قسم استمتاع ده.

(۳۴) وَالْخَصِيُّ فِي النَّظَرِ اِلَى الْاَجْنَبِيَّةِ كَالْفَحْلِ (۳۵) وَلَا يَجُوْزُ لِلْمَمْلُوْكِ اَنْ يَّنْظُرَ مِنْ سَيِّدَتِهٖ اِلَّا اِلٰى مَا يَجُوْزُ لِلْاَجْنَبِيِّ النَّظَرُ اِلَيْهِ مِنْهَا۔

ترجمه: او خصي پردی ښځې ته د کتلو په باره کې د غیر خصي په څیر دی او غلام لره جائز نه دي چې خپلې مالکي ته وګوري ماسوا له هغو اعضاؤ څخه کوم چې پردی شخص له دي ښځې څخه لیدلای شي.

تشریح: (۳۴) یعنی خصی پردی ښځې ته په کتلو کې دروغ کس په شان دي په دي وجه چې حضرت عائشه ﷺ فرمایې چې خصی کول مثله ده ،نو کوم شی چې له خصی کیدلو څخه وړاندي حرام وو هغه دده خصی والی نه مباح کوي. (۳۵) دکومې ښځې غلام لره داجائزنه دی چې خپلې مالکي ته وګوري ماسوا له هغو اعضاء څخه کوم چې اجنبی کس له دي ښځي څخه لیدلی شي ولی چې داغلام دنورو نارینه وپه شان نارینه دی او دخپلي مالکي محرم هم نه دی او نه یې خاوند دی په دي وجه دی داجنبی نارینه وپه حکم کې دی.

(۳۶) وَيَعْزِلُ عَنْ اَمَتِهٖ بِغَيْرِ اِذْنِهَا (۳۷) وَلَا يَعْزِلُ عَنْ زَوْجَتِهٖ اِلَّا بِاِذْنِهَا۔

ترجمه: او سړی دي عزل کوي له خپلې مینځې څخه د هغې له اجازي بغیرا و عزل دي نه کوي له خپلې ښځې څخه مګر د هغې په اجازه سره.

تشریح: (۳۶) نارینه لره له خپلې مینځي څخه د هغې داجازت څخه بغیر عزل کول (یعنی دانزال پر وخت نطفه دباندي تویول) جائز دی ولی چې نبی کریم ﷺ دیوي مینځې مولی ته ویلې وو چې که ستا زړه غواړي نو عزل کوه ،همداراز په دي وجه هم چې په وطی کې دمینځې حق نشته. (۳۷) له خپلې ښځې څخه بغیر د هغې له اجازته عزل کول جائز نه دی ولی چې نبی کریم ﷺ له ازادي ښځې څخه له عزل کولو څخه منع فرمایلې ده ،همداراز په دي وجه هم چې په وطی کې د دي حق دی.

(۳۸) وَيُكْرَهُ الْاِحْتِكَارُ فِي اَقْوَاتِ الْآدَمِيِّيْنَ وَالْبَهَائِمِ اِذَا كَانَ ذٰلِكَ فِي بَلَدٍ يَضُرُّ الْاِحْتِكَارُ بِاَهْلِهٖ (۳۹) وَمَنِ احْتَكَرَ غَلَّةَ ضَيْعَتِهٖ اَوْ مَا جَلَبَهٗ مِنْ بَلَدٍ آخَرَ فَلَيْسَ بِمُحْتَكِرٍ۔

ترجمه: او مکروه دی احتکار د انسانانو او حیوانانو په غذا کې کله چې داپه داسي ښار کې وي چې احتکار د غه ښار والاته مضروي او چاچې د خپلې ځمکې غله وساتله یا هغه کومه چې ده له کوم بل ښار څخه راوړي وي نو دا کس محتکر نه دی.

تشریح: (۳۸) دانسانانو دغذاء (غنم ،اوربشي ،وریزي وغیره) او دحیوانانو دغذاء (بوسه ،چاره) احتکار (دګرانیدلو په انتظار کې ایښودل او نه خرڅول ترڅو چې له ګراني وروسته دیره ګټه وکړي) مکروه ده حال داچې دښار خلګو ته په دي کې نقصان وي لقوله ﷺ المحتکر ملعون (یعنی احتکار کونکی ملعون دی)، او که اهل ښار ته مضر نه وي نو مکروه نه دی.

(۳۹) چاچې دخپلي ځمکي غله دګرانیدلو لپاره وساتله یایې له کوم بل ښار څخه راوړه او دګرانیدلو په انتظار کې یې وساتله نو دا کس محتکر نه شمارل کیږي: اول خو په دي وجه احتکار نه دی چې دا دده خالص حق

دی دنورو حق له دي سره متعلق شوی نه دی ،اودوهم په دي وجه احتکار نه دی چې دعامو خلکو حق له هغې غله سره متعلق وي کومه چې په ښارکې جمع کړای شي اوکومه چې له فناء ښار څخه راوړل شي ،پاتي شوه له کوم ليري ښار څخه راوړل شوي غله نوله هغې سره دعامو خلکو حق متعلق نه دی نو احتکار هم نه دی .

(۴۰) ولاينبغي للسلطان ان يسعر على الناس۔

ترجمه: اوسلطان لره مناسبه نه ده چې پر خلکو نرخ مقرر کړي .

تشريح:(۴۰) يعنی سلطان لره دامناسبه نه ده چې هغه په خپله رأيه سره پر خلکو کوم نرخ مقرر کړي ولی چې ثمن دعاقد حق دی دهغه دمقررولو حق هم هغه لره دی ،هو که غله خرڅونکي له حد څخه تجاوزوکړي دومره ګراني شروع کړي په کومه کې چې دعامو خلکو ضرروي نو بيادي داهل رأيه په مشوره سره نرخ مقرر کړي.

(۴۱) ويكره بيع السلاح في ايام الفتنة (۴۲) ولا بأس ببيع العصير ممن يعلم انه يتخذه خمرا۔

ترجمه: اودفتني په ورځوکې داسلحي خرڅول مکروه دي او څه حرج نشته دانګورودشيري په خرڅولو کې پرداسي شخص باندي چې دهغه په باره کې دامعلومه وي چې هغه له دي څخه شراب جوړوي .

تشريح:(۴۱) دفتني په ورځوکې پرداسي کس باندي اسلحه خرڅول مکروه ده چې دهغي په باره کې دامعلومه وي چې هغه له اهل فتنه څخه دی ځکه چې ددي داستعمال ضررمونږته رسيږي .(۴۲)دانګوروشيره پرداسي کس خرڅول جائزده دکوم په باره کې چې دامعلومه وي چې هغه له دي څخه شراب جوړوي ولی چې معصيت له عين شيره سره متعلق نه دی بلکه دشيره له تغيره وروسته دی ،اوپه ايام فتنه کې معصيت څرنګه چې له عين سلاح سره متعلق دی په دي وجه په دي ورځوکې سلاح خرڅول مکروه ده.

كتابُ الوصايا

داکتاب دوصيتونوپه بيان کې دی

وصايادوصيةٍ جمع ده اووصية اسم په معنی دمصدردی ثم سمی به الموصی به،اوپه اصطلاح دشريعت کې وصيت هغه تمليک دی چې مابعدالموت طرف ته دتبرع په طريقه مضافيږي که تمليک عين وي اوکه تمليک دين يامنافع وي .

وصيت کوونکي ته موصِي وايې اوچاته چې وصيت کيږي هغه ته وصی اوموصی اليه ،اودچالپاره چې وصيت کيږي هغه ته موصی له اوپه کوم شي چې وصيت کيږي هغه ته موصی به ويل کيږي.

له ماقبل سره يې مناسبت دادی چې عموماً انسان دمرګ په وخت وصيت کوي اومرګ دانسان آخري مرحله ده ځکه مصنف رحمه الله دژوندتول معاملات بيان کړل په آخرکې يې وصيت بيان کړی دی .

دوصيت مشروعيت په كتاب الله او سنت رسول ﷺ سره ثابت دى ،اماالكتاب فقوله تعالى :(مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ) واماالسنة فماروى ان سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه قال مرضت مرضااشرفت على الموت فعادنى رسول الله ﷺ فقلت يارسول الله ان مالى كثير وليس يرثنى الا بنت لى واحدة أفاوصى بمالى كله؟ قال لا قلت افبنصفه؟ قال لا قلت فبثلثه قال نعم والثلث كثير انك ياسعدان تدع ورثتك اغنياء خير من ان تدعهم عالة يتكففون الناس.

(١)اَلْوَصِيَّةُ غَيْرُ وَاجِبَةٍ وَهِيَ مُسْتَحَبَّةٌ (٢) وَلَاتَجُوْزُ الْوَصِيَّةُ لِوَارِثٍ اِلَّااَنْ يُجِيْزَهَاالْوَرَثَةُ (٣) وَلَاتَجُوْزُ بِمَازَادَعَلَى الثُّلُثِ (٤) وَلَاتَجُوْزُ الْوَصِيَّةُ لِلْقَاتِلِ۔

ترجمه: او وصيت واجب نه دى او هغه مستحب دى او وارث لره وصيت جائزنه دى مگر داچې وارثان دهغه اجازت وركړي او له ثلث څخه زائد جائزنه دى او قاتل لره وصيت كول جائزنه دى .

تشريح:(١) وصيت واجب نه دى بلكې دهغې په شان تبرع ده اوتبرعات واجب نه دي.(٢)مگروارث لره وصيت جائزنه دى لقوله ﷺ :اِنَّ اللهَ اعطى كُلَّ ذِى حَقٍّ حَقَّه فَلَاوَصِيَّةَ لِوَارِثٍ (يعنې الله تعالى هرحقدارته حق وركړى دى نودوارث لپاره وصيت نشته) البته كه چادوارث لپاره وصيت وكړپيادموصِي له مرګه وروسته ټولووارثانو(په دي شرط چې وارثان به ټول بالغان وي) دهغه اجازه وركړه نوبيانافذكيږي ځكه دورثه ؤدحق په وجه وارث لره وصيت ممنوع وونودوئ دخپل حق دساقطولو اختيارلري .

(٣)همدارنګه دټولې تركه تريوه ثلث په زيات سره وصيت كول هم جائزنه دى ځكه تريوه ثلث زيات دوارثانوحق دى ٠ ګرداكه وارثان اجازه وركړي كمامر.(٤) همدارنګه دقاتل لپاره وصيت كول جائزنه دى كه عمدًا يې قتل كړى وي اوكه يې خطاءً لقوله ﷺ :لَاوَصِيَّةَ لِقَاتِلٍ (دقاتل لپاره وصيت نشته) همدارنګه كه قاتل موصِي قتل كړي غواړي چې ژرترژره مال يوسي اوحال داچې شريعت دافيصله كړي ده چې دى به مال دموصِي ترمرګ وروسته وړي لهذادى دميراث په شان له وصيت څخه هم محروم كړاى شوى دى .

(٥)وَيَجُوزُاَنْ يُوْصِيَ الْمُسْلِمُ لِلْكَافِرِ وَالْكَافِرُ لِلْمُسْلِمِ۔

ترجمه: او مسلمان لره جائزده چې دكافرلپاره وصيت وكړي او كافردمسلمان لپاره .

تشريح:(٥) يعنې مسلمان لره جائزه ده چې دكافر(ذمي) لپاره وصيت وكړي اوذمي لره جائزه ده چې دمسلمان لپاره وصيت وكړي يعنې داوصيتونه صحيح اونافذيږي ځكه ذمي دعقدذمه په وجه په معاملاتوكې له مسلمانانوسره برابرشوى دى نوځرنګه چې په ژوندكې له جانبينو څخه تبرع كول جائزه ده همدارنګه دمرګ په حالت كې هم جائزه ده .

(٦)وَقَبُوْلُ الْوَصِيَّةِ بَعْدَالْمَوْتِ (٧)فَاِنْ قَبِلَهَاالْمُوْصٰى لَهٗ فِي حَالِ الْحَيَاةِ اَوْرَدَّهَافَذَالِكَ بَاطِلٌ۔

ترجمه: او دوصيت قبلولو اعتبارله مرګ څخه وروسته دى نو كه موصى له دموصِي په ژوندكې وصيت قبول كړ ياېې دركړنو داباطل دى.

تشريح:(٦) دوصيت قبلولو اعتباردموصي له مرګه وروسته دى ځكه دهغه دثبوت وخت دموصي له مرګ وروسته ده .(٧)نو كه موصى له دموصي په ژوندكې وصيت قبول كړي يايې ردّ كړي نوداباطل دى يعنې اعتبارنه لري .

(۸) وَيُسْتَحَبُّ اَنْ يُوْصِىَ الْاِنْسَانُ بِدُوْنِ الثُّلُثِ (۹) وَاِذَا اَوْصٰى اِلٰى رَجُلٍ فَقَبِلَ الْوَصِيَّةَ فِيْ وَجْهِ الْمُوْصِيْ وَرَدَّهَا فِيْ غَيْرِ وَجْهِهٖ فَلَيْسَ بِرَدٍّ (۱۰) وَاِنْ رَدَّهَا فِيْ وَجْهِهٖ فَهُوَ رَدٌّ.

ترجمه: او مستحب داده چې انسان له ثلث څخه دلږ وصيت وكړي او كه يې بل ته وصيت وكړ او وصي د موصي په مخ كې هغه قبول كړ او د موصي پس شايې ردكړ نو دا رد صحيح نه دى او كه وصي د موصي په وړاندي هغه ردكړ نو دا رد صحيح دى.

تشريح: (۸) كه څوك غواړي چې وصيت وكړي نو مستحب دادى چې د كل تركه تر يوه ثلث كم وصيت وكړي كه وارثان غنيان وي او كه فقيران وي ځكه تر ثلث په كم وصيت كولو كې له خپلو قريبانو سره داسي صله رحمي ده چې هغه خپل څه مال د دوئ لپاره پريښود، او كه يې د بشپړ ثلث وصيت وكړ نو څرنګه چې هغه خپل حق پوره وصول وكړ ځكه د ده له طرفه هيڅ صله رحمي يا احسان پاته نه شو.

(۹) كه چايو بل چا (وصي) ته وصيت وكړ او وصي د موصي په مخ كې دا وصيت قبول كړ مګر وروسته يې د موصي پس شا وصيت ردكړ نو دا رد نه صحيح كيږي ځكه چې ميت خو په هغه په اعتماد كولو سره مطمئن شو نو كه د هغه رد ول صحيح وګڼل شي نو موصى به په دوكه كې پاتي شي. (۱۰) كه وصي د موصي په وړاندي هغه رد كړ نو دا رد صحيح كيږي ځكه چې موصى لره پر هغه د تصرف في الوصية د لازمولو ولايت نشته او په دي صورت كې موصي لره دوكه هم نشته.

(۱۱) وَالْمُوْصٰى بِهٖ يُمْلَكُ بِالْقَبُوْلِ (۱۲) اِلَّا فِيْ مَسْئَلَةٍ وَّاحِدَةٍ وَهِيَ اَنْ يَمُوْتَ الْمُوْصِيْ ثُمَّ يَمُوْتُ الْمُوْصٰى لَهٗ قَبْلَ الْقَبُوْلِ فَيَدْخُلُ الْمُوْصٰى بِهٖ فِيْ مِلْكِ وَرَثَتِهٖ.

ترجمه: او موصى به په ملك كې راځي په قبلولو سره مګر په يوه مسئله كې او هغه دا چې موصى وصيت وكړي او مړ شي بيا موصى له هم له قبلولو څخه وړاندي مړ شي نو موصى به د موصى له د وارثانو په ملك كې داخليږي.

تشريح: (۱۱) يعني موصى له (د چا لپاره چې وصيت شوى دى) د موصى به (هغه شى چې وصيت په شوى دى) هغه وخت مالك ګرځي چې كله د موصي له مرګ وروسته دى هغه قبول كړي ځكه وصيت د جديد ملك اثبات دى او هيڅوك د بل چا مِلك د خپل ځان لپاره نه شي ثابتولاى مګر كه دى هغه قبول كړي ځكه د موصى له قبلول ضروري دى.

(۱۲) البته يوه مسئله داسي ده چې په هغې كې موصى به د موصى له د قبليدو بغير د هغه په ملك كې راځي هغه داده چې موصي وصيت وكړي مړشي بيا موصى له هم د موصى به تر قبليدو مخكي مړشي نو په دغه صورت كې استحسانا موصى به د موصى له د قبليدو بغير د هغه په مِلك كې داخليږي، يعني د موصى له د وارثانو په مِلك كې داخليږي، وجه د استحسان داده چې د موصي له جانبه عقد وصيت داسي پوره شوى دى چې اوس فسخ كيداى نه شي او توقف خالص د موصى له د حق په وجه پاته وو چې كله موصى له مړشو نو داشي د هغه په ملكيت كې داخل شو كما في البيع المشروط فيه الخيار للمشتري اذا مات قبل الاجازة.

(۱۳) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى عَبْدٍ أَوْ كَافِرٍ أَوْ فَاسِقٍ أَخْرَجَهُمُ الْقَاضِيْ مِنَ الْوَصِيَّةِ وَنَصَبَ غَيْرَهُمْ.

ترجمه: او چا چې غلام ته یا کافر ته یا فاسق ته وصیت وکړ نو قاضي به هغوئ له وصیت څخه خارج کړي او له هغوئ څخه ماسوا کوم بل څوک به مقرر کړي.

تشریح: (۱۳) که چا دبل چا مریی یا کافر یا فاسق خپل وصی مقرر کړ نو قاضي ته پکار دی چې دوئ له وصیت څخه خارج کړي نور خلک د دوئ قائم مقام وګرځوي وجه یې داده چې په دوئ کې دیوه شفقت هم تام نه دی ،ځکه چې دمریي ولایت خودمولی پرکرم اونظرباندي دی که هغه اجازه ورکړي نوباقی دی که نه ختم اوروسته تراجازه هم چې کله یې مولی وغواړي هغه محجور کولای شي او په کافر کې دنقصان باعث دادی چې دی کافر دی چې دیني دښمنې یې دي ته هڅوي چې دی دمسلمان لپاره شفقت پرېږدي او په فاسق کې کمی دادی چې په خیانت سره متهم دی لهذا په دغو وجوهو سره قاضي بايد دوئ له وصایت څخه خارج کړي د دوئ پرځای نور خلک مقرر کړي.

(۱۴) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى عَبْدِ نَفْسِهِ وَفِي الْوَرَثَةِ كِبَارٌ لَمْ تَصِحَّ الْوَصِيَّةُ.

ترجمه: او چا چې خپل غلام ته وصیت وکړ او حال دا چې په وارثانو کې بالغان موجود وونو دا وصیت نه صحیح کیږي.

تشریح: (۱۴) که چا خپل مریی وصی مقرر کړ حال دا چې دموصی په وارثانو کې بالغ موجود وي نو بيا دا وصیت نه صحیح کیږي ځکه بالغ وارثان د دي حق لري چې مریی منع کړي او د تصرف اجازه ورنکړي ولی بالغ وارث د دغه مریی مولی دی چې پر هغه باندي یې ولایت حاصل دی لهذا مریی دوصایت دحق له پوره کیدو څخه عاجز او قاصر کیږي نو وصایت هیڅ فائده نه کوي.

(۱۵) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى مَنْ يَعْجِزُ عَنِ الْقِيَامِ بِالْوَصِيَّةِ ضَمَّ إِلَيْهِ الْقَاضِيْ غَيْرَهُ.

ترجمه: او چا چې داسي شخص ته وصیت وکړ کوم چې دوصیت د فرائضو له سرته رسولو څخه عاجز وي نو قاضي دي له هغه سره یو بل شخص ملګری کړي.

تشریح: (۱۵) که چا داسي کس وصی مقرر کړ چې دوصیت د فرائضو له سرته رسولو څخه عاجز وي نو قاضي دي له ده سره دموصي او دهغه دوارثانو درعایت لپاره یو غیر عاجز څوک ملګری کړي له دي وجي چې شفقت له ده سره دبل چا ملګري کولو په وجه سره پوره کیږي ځکه چې هغه بل به دی له خساري او خیانت څخه ساتي او په ځینو امورو کې به کفایت هم کوي.

(۱۶) وَمَنْ أَوْصَى إِلَى اثْنَيْنِ لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ دُوْنَ صَاحِبِهِ.

ترجمه: او چا چې دوو کسانو ته وصیت وکړ نو دطرفینو رحمهما الله په نزد کوم یوه لره دا جائز نه ده چې دهغه بل بغیر تصرف وکړي.

تشریح: (۱۶) که چا دوو کسانو ته یو ځای یا جلا جلا یو په بل پسې وصیت وکړ نو دطرفینو رحمهما الله په نزد له دوئ دواړو څخه یوه ته دبل په نه موجودګي کې په دي وصیت کې تصرف کول ناجائز دی ځکه په وصیت کې

د تصرف کولو ولايت د موصى له طرفه په سپارلو سره حاصليږي نو د سپارلو وصف معتبريږي او د لته موصى د واړه سره يو ځاى کړي ولايت يې ورته سپارلى دى نو وصف د اجتماع معتبريږي او موصي هم د دواړو په رايه راضي شوى دى نه د يوه په رايه سره لهذا د يوه تصرف نه صحيح کيږي .

(۱۷) اِلَّا فِي شِرَاءِ كَفْنِ الْمَيِّتِ وتَجْهِيْزِهٖ و طَعَامِ اَوْلَادِهٖ الصِّغَارِ وَ كِسْوَتِهِمْ وَرَدِّ وَدِيْعَةٍ بِعَيْنِهَا وَتَنْفِيْذِ وَصِيَّةٍ بِعَيْنِهَا وَعِتْقِ عَبْدٍ بِعَيْنِهٖ وقَضَاءِ الدَّيْنِ وَالْخُصُوْمَةِ فِي حُقُوْقِ الْمَيِّتِ۔

ترجمه: مګر د کفن په اخيستلو کې ،د هغه په تجهيزا و تکفين کې ،د هغه د کوچينيو اولادونو په خوراک کې او د هغوئ په جامو کې ،د معين امانت په واپسي کې ،د معين وصيت په نافذولو کې ،د معين غلام په ازادولو کې ،د قرض په اداء کولو کې او د ميت په حقوقو کې په خصومت کولو کې .

تشريح: (۱۷) په مذکوره مسئله کې ويل شوي وو چې که وصى دوه کسان وونو له دواړو څخه يو ته د بل په نه موجودګى کې په وصيت کې د تصرف کولو اختيار نشته ليکن له دې څخه څوشيان مستثنى دي :**نمبر - ۱** : د مړي د کفن اخيستو ضرورت وي نو يو وصى يې د بل بغير اخيستلاى شي.**نمبر - ۲**:په تجهيزميت (هغه ټول کارونه چې مړى ترقبرپورې ورته مجبوروي)کې به يو وصى د بل انتظارنه کوي ،د دې دواړو صورتونو وجه داده چې هغه بل ته په انتظارکولو کې د مړي د خرابيدو خطره شته .

نمبر - ۳: **نمبر - ۴**:که د موصى د وړو ماشومانو لپاره د خوراک او جامو وغيره د اخيستو ضرورت وونو هم يو وصى د بل انتظارنه کوي ځکه هغه ته په انتظارکولو کې د ماشومانو د ضائع کيدو انديښنه شته .**نمبر - ۵**: **نمبر - ۶**: که له موصى سره د چا متعين امانت پروت ووهمدارنګه که پرموصى باندې د چا څه قرض وونو د هغو په واپس کولو کې به يو وصى د بل انتظارنه کوي ځکه د غه امورله باب ولايت سره تعلق نه لري بلکې له باب اعانت څخه دي همداوجه ده چې چاته د موصى له طرفه ولايت حاصل نه وي هغه هم دا امورترسره کولاى شي مثلا صاحب وديعت چې خپل سامان په لاس ورشي يا قرض غوښتونکي ته د خپل حق جنس په لاس ورشي نو هغوئ يې خپله اخيستلاى شي .

نمبر - ۷: **نمبر - ۸**:د موصى د يو خاص وصيت په پوره کولو او د هغه د يو معين مريي په آزادولو کې هم يو وصى د بل انتظارنه کوي ځکه په دې کې د دواړو رايه ته ضرورت نشته .**نمبر - ۹**:د مړي د حقوقو په باره کې له يو چا سره خصومت کوي نو هم يو وصى يې کولاى شي د بل انتظاردي نه کوي ځکه خصومت د دواړو د جمع کيدو په صورت کې هم يو يې کوي د دې لپاره چې د دواړو د خصومت څخه په مجلس قضاء کې شورو غوغارامنځ ته نه شي.

(۱۸) وَمَنْ اَوْصٰى لِرَجُلٍ بِثُلُثِ مَالِهٖ وَلِاٰخَرَ بِثُلُثِ مَالِهٖ وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَةُ فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ (۱۹) وَاِنْ اَوْصٰى لِاَحَدِهِمَا بِالثُّلُثِ وَلِلْاٰخَرِ بِالسُّدُسِ فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا اَثْلَاثًا۔

ترجمه: او چاچې يو شخص لره دثلث مال وصيت وکړاو دبل لپاره يې هم دثلث مال وصيت وکړاو وارثانو اجازه ورنه کړه نو يو ثلث به ددي دواړو په منځ کې نصف نصف وي او که يې يوه لره دثلث وصيت وکړاو بل لره يې دسدس نو يو ثلث به ددواړو ترمنځ اثلاثاً وي .

تشريح: (۱۸) که چادخپل مال په ثلث سره وصيت وکړ مثلا ويې ويل زمادمال يو ثلث دزيدلپاره وصيت دی اودبکرلپاره يې هم په ثلث مال سره وصيت وکړ په دي ډول ددوه ثلث وصيت شومګر وارثانو تريوه ثلث په زيات اجازه نه ورکوله نو يو ثلث ددواړو موصی له ترمنځ مساوي تقسيميږي ولي په دووثلثانوکې دموصي حق نشته اوپه سبب کې دواړه موصی له برابردي نوپه استحقاق کې به هم دواړه برابريږي ځکه نو يو ثلث پردواړوباندي برابرتقسيميږي .

(۱۹) که موصي ديوه لپاره په يوه ثلث وصيت وکړاو دبل لپاره يې په سُدس او وارثانو تريوه ثلث دزيات اجازه نه ورکوله نو ديوه ثلث څخه به دوې حصې اول ته ورکولې کيږي اويوه حصه به دابل ته ولی په يوه ثلث ددواړو حق نه پوره کيږي نو يو ثلث پردوئ باندي ددوئ دحق مطابق تقسيميږي .

(۲۰) وَإِنْ أَوْصَى لِأَحَدِهِمَا بِجَمِيعِ مَالِهِ وَلِلْآخَرِ بِثُلُثِ مَالِهِ وَلَمْ تُجِزِ الْوَرَثَةُ فَالثُّلُثُ بَيْنَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَسْهُمٍ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ الثُّلُثُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ.

ترجمه: او که يې يوه لره دخپل ټول مال وصيت وکړاو دبل ته يې دثلث مال وصيت وکړاو وارثانو اجازه ورنه کړه نو دصاحبينو رحمهما الله په نزد ثلث ددواړو په منځ کې پرڅلوروحصووي او امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې ثلث به ددي دواړو ترمنځ نصف نصف وي .

تشريح: (۲۰) که موصي ديوچالپاره پخپل ټول مال سره وصيت وکړاو دبل لپاره يې په ثلث مال سره وصيت وکړمګر وارثانو دهغه اجازه نه ورکوله نو دصاحبينو رحمهما الله په نزددترکه يوثلث څلورحصې کيږي دوئ دواړوته ورکول کيږي يعني درې حصې هغه ته چې په ټول مال سره وصيت ورته شوی دی اويوه حصه هغه ته چالره چې په ثلث سره وصيت شوی وو .

دصاحبينو دليل دادی چې په دغه صورت کې موصي ددووشيانواراده کړي ده **نمبر ۱**-ده غوښتل چې دټول مال مستحق يو وګرځوي مګرددي دااراده دوارثانو دحق په وجه نه شي ترسره کيدای **نمبر ۲**-بله يې دااراده وه چې دی يوموصی له ته پربل باندي ترجيح اوتفضيل ورکړي چې دهغه هيڅ مانع نشته لهذاداترجيح اوتفضيل ثابتيږي ددي هغه صورت دی چې دوئ بيان کړی دی .

دامام ابوحنيفة رحمه الله مسلک دادی چې يوثلث به دهغوئ ترمنځ نصف نصف کيږي،دامام صاحب رحمه الله دليل دادی چې کله وارثانو اجازه نه ده ورکړي نوترثلث زيات وصيت په غيرمشروع طريقه شوی دی لهذاداغيرمشروع مقداراصلا باطل شوخالص دثلث وصيت پاته شونو اول اودوهم دواړه برابرشول باقی اول لره که څه تفضيل حاصل وي هغه داستحقاق په ضمن کې ثابتيږي اوچې کله استحقاق باطل شونوتفضيل هم باطليږي لهذاثلث ددواړوترمنځ برابرتقسيميږي . (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی).

(۲۱) وَلَايَضْرِبُ اَبُوْحَنِيفَةَ رحمه الله لِلْمُوْصٰى لَهٗ بِمَازَادَعَلَى الثُّلُثِ اِلَّافِي الْمُحَابَاتِ وَالسِّعَايَةِ وَالدَّرَاهِمِ الْمُرْسَلَةِ.

ترجمه: اوامام ابو حنيفه رحمه الله موصى له لره له ثلث څخه دزيات اعتبارنه کوي مګرپه محابات ،سعايت اودراهم مرسله کې.

تشريح:(۲۱) يعنې امام ابو حنيفة رحمه الله ترثلث دزيات وصيت کولوپه صورت کې ترثلث زياتې حصې ته اعتبارنه ورکوي مثلادزيدلپاره يې دټول مال وصيت وکړاودبکرلپاره په نصف سره اوټوله ترکه پنځلس روپۍ دي نودزيدلپاره ترثلث لس روپۍ زيات چې يې کوم وصيت کړی دی هغه ته اعتبارنشته ګواکې دزيدلپاره يې دثلث وصيت کړی دی اودبکرلپاره چې يې ترثلث يونيمه روپۍ زيات وصيت کړی دی هغه ته هم اعتبارنشته ګواکي دبکرلپاره يې هم په ثلث وصيت کړی دی لهذا اوس به دترکه ثلث دوې حصې کوي يوه حصه زيدته اوبله حصه بکرته ورکول کيږي،مګردري صورتونه له دې قاعدې څخه مستثنی دي يعنې محابات ،سعايت اودراهم مرسله،امام ابوحنيفة رحمه الله په دې کې دقدروصيت لحاظ کوي يعنې په دې دريوصورتونوکې هم وصيت په ثلث کې نافذيږي مګردهريوه موصى له لپاره چې يې څومره وصيت کړی دی ثلث ترکه به په هغه تناسب سره تقسيميږي چې صورتونه يې په لاندې ډول دي .

دمحابات (يوشی په کم قيمت خرڅول مثلاددووسوروپوشی په پنځوس روپۍ خرڅولوته محابات ويل کيږي) صورت دادی چې مثلادزيددوه مرييان دي په هغوکې ديوه قيمت مثلايوولس سوه روپۍ دي اودبل قيمت شپږسوه روپۍ دي اوس زيدپه اول سره وصيت وکړدخالدلپاره اوپه بل سره دبکرلپاره اوداسې يې وويل :دامريی به خالدخرڅوي په سل روپۍ اودابل به بکرخرڅوي په سل روپۍ بياکه زيدله دې دوومريانوعلاوه بل هيڅ شی نه ووېړي ايښی نووصيت خالص په ثلث کې نافذيږي اوهغه ثلث دواړوموصى له ته دهغوئ دحق په تناسب سره ورکول کيږي نوګواکې زيدخالدلپاره په زرروپۍ اودبکرلپاره دپنځوسووصيت کړی دی چې ثلث يې پنځه سوه روپۍ راځي نودخالدلپاره دپنځوسودوه ثلثه اوبکرته يوثلث ورکول کيږي ځکه دوصيت تناسب په دوئ دووکې همدادی اوباقي قيمت دموصى وارثانوته ورکول کيږي ،به هرحال دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدکه چيرته داصورت مستثنی نه وي نودخالداوبکردواړولپاره له پنځوسوڅخه نيم نيم کيدي اوباقي قيمت دموصى وارثانوته ورکول کيدي مګردلته هغوئ خپل دااصول پريښودل اودحق دتناسب دلحاظه يې ثلث تقسيم کړی دی .

دسعايت صورت دادی چې زيدخپلودوومريانودعتق وصيت کړی دی اوله زيدسره نورمال له دغودوومريانوعلاوه نشته اوله دوئ څخه ديوه قيمت دوه زره اودبل قيمت يوزردي نوداوصيت په ثلث کې نافذيږي اوپه دوه ثلثه کې پردوئ باندې سعايت (په مريي کټل وارثانوته ورکول) واجبيږي چې داخرڅ کړي وارثانوته يې ورکړي ليکن داثلث دهغوئ دواړودقيمت په تناسب سره تقسيميږي اوددوئ دواړودقيمت مجموعه دري زره دي چې ثلث يې يوزردي نودکوم مريي چې قيمت دوه زره دي دهغه له قيمت څخه شپږسوه شپږشپيته روپۍ ساقطيږي اوباقي به دی ګټي وارثانوته به يې ورکوي اودکوم مريي چې قيمت زرروپۍ دي

دهغه له قيمت څخه دري سوه دري ديرش روپۍ ساقطيږي اودی به خپل بقيه قيمت ګټی وارثانوته به يې ورکوي.

ددراهم مرسله ؤمطلب دادی چې دابه نه متعين کيږي چې ثلث دهغه اونصف دهغه وغيره بلکې دی به مطلقًاداسي وايي چې ددوه سوه روپۍ وصيت دخالدلپاره دی اوسل روپۍ وصيت دبکرلپاره دی اوله هغه سره يوائي همدادري سوه روپۍ دي نوداوصيت خالص په ثلث يعنې سلوروپوکي نافذيږي اوتقسيم دمقداروصيت په تناسب سره کيږي لهذاله سلوروپوڅخه اول ته شپږشپيته روپۍ اوبل ته دري ديرش روپۍ ورکولي کيږي.

(۲۲)وَمَنْ أَوْصىٰ وعَلَيهِ دَينٌ يُحِيطُ بِمَالِهِ لَمْ تَجُزِ الْوَصِيَّةُ اِلاّ اَنْ يَبْرَأَ الْغُرَمَاءُ مِنَ الدَّيْنِ.

ترجمه: اوچاچې وصيت وکړاودهغه پرذمه قرض وي کوم چې دهغه مال ته محيط دی نوداوصيت جائزنه دی مګرداچې قرضخواهان يې له قرض څخه بری کړي.

تشريح: (۲۲)که چاوصيت وکړاوڅومره اندازه چې له ده سره مال دی همدومره دده پرذمه دخلګوپوروڼه باندي دي نوداوصيت جائزنه دی ځکه چې قرض له وصيت څخه مقدم دی ځکه چې قرض اداء کول فرض دی اوصيت تبرع ده هوکه پوروړوپوروربخښی نوبيادموصی وصيت نافذيږي ځکه چې اوس پرده قرض پاتي نه شو.

(۲۳)وَمَنْ أَوْصىٰ بِنَصِيبِ ابْنِهِ فَالْوَصِيَّةُ بَاطِلَةٌ (۲۴)فَإِنْ أَوْصىٰ بِمِثْلِ نَصِيبِ ابْنِهِ جَازَتْ فَإِنْ كَانَ لَهُ ابْنَانِ فَلِلْمُوصىٰ لَهُ الثُّلُثُ.

ترجمه: اوچاچې وصيت وکړدخپل زوی دحصي نووصيت باطل دی اوکه يې وصيت وکړدخپل زوی دحصي دمثل نوجائزدی بياکه دهغه دوه زامن وي نوموصی له لره يوثلث دی.

تشريح: (۲۳) که يوچادخپل زوی په حصه ميراث ديوچالپاره وصيت وکړنوداوصيت باطل دی ځکه داوصيت دبل چاپه مال کي دی لهذاداجائزنه دی.(۲۴) اوکه موصي وويل زمادزوی دحصې په اندازه دفلان لپاره وصيت کوم نوبياداواصيت جائزکيږي ځکه مثل حصه دزوی غيرده له حصه دزوی لهذاداوصيت دبل په مال کې نه دی نوبياکه دموصي دوه زامن وونوموصی له ته يوثلث مال ورکول کيږي ځکه چې موصی له ددريم زوی په منزله کيږي نومال ددوئ ترمنځ اثلاثاتقسيميږي.

(۲۵)وَمَنْ أَعْتَقَ عَبْدًا فِي مَرَضِهِ أَوْ بَاعَ وَحَابىٰ أَوْ وَهَبَ فَذٰلِكَ كُلُّهُ جَائِزٌ (۲۶)وهُوَ مُعْتَبَرٌ مِنَ الثُّلُثِ وَيُضْرَبُ بِهِ مَعَ أَصْحَابِ الْوَصَايَا.

ترجمه: اوچاچې په مرض موت کې خپل غلام ازادکړيايې کوم شی خرڅ کړاومحابات يې وکړيايې کوم شی هبه کړنوداټول تصرفات صحيح دي اوهغه به له ثلث مال څخه معتبردي اوهغه به له اصحاب وصاياوسره شريکوي.

تشريح: (۲۵) که يوچاپخپل مرض موت کې خپل مريی آزادکړيايې يوشی خرڅ کړمحابات يې وکړ(يعنې په کم قيمت يې خرڅ کړمثلاًددووسوروپوشی يې په پنځوس روپۍ خرڅ کړ)يايې يوشی هبه کړنوداټول

تصرفات صحيح دي .(۲۶)اوله ثلث دمال څخه معتبردي،داعقودپه حقيقت کښ وصيت نه دي ځکه په وصيت کښ تمليک مابعدالموت مضافيږي اوداعقودفي الحال منجزشوي دي مګرپه مرض موت کښ دواقع کيدوپه وجه ددي حکم دوصيت په شان دی چې له ثلث دمال څخه معتبريږي اوله ثلث مال څخه دمعتبريدووجه يې داده چې له بقيه مال سره دوارثانوحق متعلق شوی دی.

(۲۷)فَإِنْ حَابَا ثُمَّ أَعْتَقَ فَالْمُحَابَاتُ أَوْلَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۲۸)فَإِنْ أَعْتَقَ ثُمَّ حَابَى فَهُمَا سَوَاءٌ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ الْعِتْقُ أَوْلَى فِي الْمَسْئَلَتَيْنِ۔

ترجمه:که چامحابات وکړبيايې غلام ازادکړنودامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدمحابات اولی دی اوکه يې غلام ازادکړبيايې محابات وکړنوهغه دواړه برابردي اوصاحبين فرمايي چې په دواړومسئلوکښ عتق اولی دی.

تشريح:(۲۷) که چاپه مرض موت کښ بيع محابات وکړه (يعنې په کم قيمت يې يوشی خرڅ کړ) بيا ده يوخپل مريی آزادکړحال داچې دمريض ثلث دترکه ددي دواړوګنجائش نه لري نوپه دي صورت کښ محابات اولی اومقدم دی ترعتق ځکه محابات داسي يووصيت دی چې دعقدمعاوضه په ضمن کښ ثابت شوی دی نومحابات لفظاً تبرع نه ده بلکې يواځې معنًا تبرع ده اوعتق لفظاً اومعنی دواړه قسم تبرع ده نوپه نظرولفظ ته محابات لره قوت حاصل دی ځکه نومحابات ترعتق مقدم دی.

(۲۸)اوکه يې لومړی يې خپل مريی ازادکړبيايې له چاسره محابات وکړنو په دي صورت کښ عتق اومحابات دواړه برابردي اوله ثلث مال څخه بقدرحصه دواړه نافذکيږي ځکه عقدمحابات لره ترجيح دقوت په وجه حاصله ده اوعتق ته ترجيح دسبقت په وجه حاصله ده لهذادواړه برابردي.

دصاحبينو رحمهما الله په نزدپه دواړومسئلوکښ عتق ترمحابات مقدم دی ځکه له عتق سره فسخ کله هم نه شي لاحقه کيدلای اوله محابات سره دمشتري له جانبه فسخ لاحقه کيدای شي ځکه نوعتق لره قوت حاصل دی نوپه دواړوصورتونوکښ عتق مقدم کيږي.(دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دی)

(۲۹)وَمَنْ أَوْصَى بِسَهْمٍ مِنْ مَالِهِ فَلَهُ أَخَسُّ سِهَامِ الْوَرَثَةِ (۳۰)إِلَّا أَنْ يَنْقُصَ عَنِ السُّدُسِ فَيُتَمُّ لَهُ السُّدُسُ (۳۱)وَإِنْ أَوْصَى بِجُزْءٍ مِنْ مَالِهِ قِيلَ لِلْوَرَثَةِ أَعْطُوهُ مَا شِئْتُمْ۔

ترجمه:اوچاچې له خپل مال څخه ديوه سهم وصيت وکړنوهغه لره دورثه دسهاموترټولوکمه حصه ده مګرداچې له سدس څخه کمه وي نوهغه لره به سدس پوره کيږي اوکه يې دخپل مال ديوجزء وصيت وکړنووارثانوته به ويل کيږي چې ورکړئ ده ته څومره چې ستاسي خوښه وي.

تشريح:(۲۹)که چابل چاته له خپل مال څخه ديوسهم وصيت وکړنودموصي له وارثانوڅخه چې دچاحصه کمه وي موصی له ته هغومره حصه ورکوله کيږي.(۳۰) البته که داحصه ترسدس کمه وه نوموصی له ته سدس پوره ورکول کيږي ځکه سهم په لغت کښ شپږمه حصه ده اوهمداله حضرت عبدالله بن مسعودرضی الله عنهما څخه موقوفاً اومرفوعاً مروي دی.(۳۱)که چابل چاته دخپل مال ديوجزء وصيت وکړنووارثانوته به وويل شي چې څومره تاسي وغواړي هغه موصی له ته ورکړئ ځکه جزء مجهول دی قليل اوکثيردواړولره

شامل دی لیکن د جزء مجهول کیدل د وصیت د صحت مانع نه دی او وارثان د موصي قائم مقام دي لهذا دوئ د مقدار د بیانولو اختیار لري.

(۳۲) وَمَنْ أَوْصٰى بِوَصَايَا مِنْ حُقُوْقِ اللّٰهِ تَعَالٰى قُدِّمَتِ الْفَرَائِضُ مِنْهَا عَلٰى غَيْرِهَا قَدَّمَهَا الْمُوْصِيْ أَوْ أَخَّرَهَا مِثْلُ الْحَجِّ وَالزَّكٰوةِ وَالْكَفَّارَاتِ (۳۳) وَمَا لَيْسَ بِوَاجِبٍ قُدِّمَ مِنْهُ مَا قَدَّمَهُ الْمُوْصِيْ.

ترجمه: او چا چې د حقوق الله څو وصیتونه وکړل نو له دي څخه به فرائض پر نورو وصیتونو باندي مقدم کیږي که موصی هغه مقدم کړي وي او که یې مؤخر کړي وي لکه حج، زکوة او کفارات او کوم شیان چې واجب نه دي نو له هغو څخه به هغه مقدم کیږي کوم چې موصی مقدم کړي وي.

تشریح: (۳۲) څوک چې د حقوق الله څو وصیتونه وکړي نو په هغوکې که بعض فرائض او نور غیر فرائض وي نو فرائض تر نورو وصیتونو مقدم کیږي برابره ده چې موصي د وصیت په وخت کې کوم یو مخکي بیان کړی وي یا وروسته مثلاً حج، زکوة او کفارات وغیره (دا ټول فرائض دي ځکه باید تر ټولو مخکي اداکړای شي) ځکه فرائض تر غیر فرائضو اهم دي.

(۳۳) کوم شیان چې واجب نه دي په هغوکې چې موصي کوم یو مخکي بیان کړی وي هغه دي مخکي پوره کړای شي ځکه دا په قوة کې متساوي دي او انسان اهم شی مخکي بیانوي نو مخکي بیان شوی اولی وي.

(۳۴) وَمَنْ أَوْصٰى بِحَجَّةِ الْإِسْلَامِ أَحَجُّوْا عَنْهُ رَجُلًا مِنْ بَلَدِهٖ يَحُجُّ عَنْهُ رَاكِبًا (۳۵) فَإِنْ لَمْ تَبْلُغِ الْوَصِيَّةُ النَّفَقَةَ أَحَجُّوْا عَنْهُ مِنْ حَيْثُ تَبْلُغُ.

ترجمه: او چا چې د فرض حج وصیت وکړ نو یو به د هغه له ښار څخه د حج لپاره روان کړي نو که وصیت نفقي ته نه رسیږي نو د هغه له طرفه دي حج وکړي له کومه ځایه چې رسیږي.

تشریح: (۳۴) که چا (مثلاً زید) په مرض موت کې د خپل طرف څخه د حج کولو وصیت وکړ نو پر وارثانو باندي واجب دی چې د موصي له ښاره څخه څوک د حج لپاره ولیږدوي (دا وجوب هلته دی چې ثلث ترکه د سفرخرچ لپاره کافي وي) ځکه پر زید باندي د خپل ښار څخه حج کول واجب وو نو حج بدل به هم د زید له ښار څخه کوي او حج بدل پیاده نه بلکې سپور به یې کوي ځکه خپله پر زید باندي په پیاده حج کول لازم نه وو نو غیر به هم حج هغسي اداکوي څرنګه چې پر زید باندي واجب وو. (۳۵) که د موصي مال دومره نه وو چې د هغه د ثلث څخه حج وکړای شي نو په دي صورت کې چې د کوم ځای څخه کیدای شي له هغه ځایه دي وکړي چې تر حده دا امکان پوري وصیت نافذ شي.

(۳۶) وَمَنْ خَرَجَ مِنْ بَلَدِهٖ حَاجًّا فَمَاتَ فِي الطَّرِيْقِ وَأَوْصٰى أَنْ يُحَجَّ عَنْهُ حَجَّ عَنْهُ مِنْ بَلَدِهٖ عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ أَبُوْ يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ يُحَجُّ عَنْهُ مِنْ حَيْثُ مَاتَ.

ترجمه: او کوم کس چې له خپل ښار څخه د حج په اراده سره ووتی بیا هغه په لار کې مړ شو او وصیت یې وکړ چې زما له طرفه حج وکړئ نو د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دي د هغه له طرفه د هغه له ښاره حج وکړای شي او صاحبین رحمهما الله فرمایي چې چیرته مړ شوی دی له هغه ځایه دي حج وکړای شي.

تشريح: (۳۶) يو څوک چې دحج په اراده سره له ښاره ووځي بيا په لاره کې مړشي او دمرګ په وخت داوصيت وکړي چې زما د طرفه دي حج وکړای شي نو دامام ابو حنيفة رحمه الله په نزد دهغه د طرفه دهغه له ښاره به حج کول کيږي، اوصاحبين رحمهما الله فرمايې چې ترکوم ځای پوري هغه رسيدلی دی له هغه ځايه دي حج وکړي ،دصاحبينو رحمهما الله دليل دادی چې موصي دسفر په اراده وتلی دی نو چې څومره سفريې کړی دی هغه قربت واقع شوی دی او دهغه په اندازه قطع مسافت فرض ساقط شوی دی لهذا بل څوک به له همدغه ځای څخه دحج لپاره ليږدول کيږي، وَلِأَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اَنَّ الْوَصِيَّةَ تَنْصَرِفُ اِلَى الْحَجِّ مِنْ بَلَدِهِ كَمَا مَرَّ.

(۳۷) وَلَا تَصِحُّ وَصِيَّةُ الصَّبِيِّ (۳۸) وَلَا تَصِحُّ وَصِيَّةُ الْمُكَاتَبِ وَإِنْ تَرَكَ وَفَاءً.

ترجمه: او دنابالغ ماشوم وصيت صحيح نه دی او دمکاتب وصيت هم صحيح نه دی که څه هم هغه دومره مال پريږدي چې کافي وي.

تشريح: (۳۷) که نابالغ ماشوم وصيت وکړنو دهغه داوصيت صحيح نه دی ځکه وصيت محض تبرع ده او ماشوم دتبرعاتو اهل نه دی لهذا ماشوم نه دوصيت دتنجيز مالک ګرځي اونه يې دتعليق. (۳۸) همدارنګه دمکاتب وصيت هم صحيح نه دی که څه هم هغه دومره قدر مال پريږدي مړشي چې دوصيت لپاره کافي وي ځکه دمکاتب مال تبرع نه شي قبلولای.

(۳۹) وَيَجُوْزُ لِلْمُوْصِيْ اَلرُّجُوْعُ عَنِ الْوَصِيَّةِ (۴۰) وَإِذَا صَرَّحَ بِالرُّجُوْعِ أَوْ فَعَلَ مَا يَدُلُّ عَلَى الرُّجُوْعِ كَانَ رُجُوْعًا.

ترجمه: او موصی لره له وصيت څخه رجوع کول جائزده او کله چې د رجوع تصريح وکړي يا داسي فعل وکړي چې پر رجوع باندي دال وي نو دا رجوع شمارل کيږي.

تشريح: (۳۹) يعني موصي لره له خپل وصيت څخه رجوع کول جائزه ده ولی وصيت يو عقد تبرع دی چې تر اوسه تام شوی نه دی نو دهبې په شان دهغه څخه هم رجوع کول صحيح دی. (۴۰) بيا که موصی له وصيت څخه رجوع وکړه مثلا داسي يې وويل رَجَعْتُ عَمَّا اَوْصَيْتُ بِهٖ لَهٗ ، يا يې په خوله څه ونه ويل البته يو داسي فعل يې وکړ چې پر رجوع کولو باندي دلالت کوي نو داله وصيت څخه رجوع شمارل کيږي .درجوع دتصريح کولو په صورت کې خو ظاهره ده او داسي فعل کول چې پر رجوع باندي دال وي هم رجوع شمارله کيږي ځکه دلالت بيا دتصريح کار کوي لهذا دا رجعت عمّا اوصيت له، قائم مقام کيږي.

(۴۱) وَمَنْ جَحَدَ الْوَصِيَّةَ لَمْ يَكُنْ رُجُوْعًا.

ترجمه: او چا چې له وصيت څخه انکار وکړنو دا رجوع نه ده.

تشريح: (۴۱) که يو څوک دخپل وصيت څخه انکار وکړي او وايي ما وصيت نه دی کړی نو دامام محمد رحمه الله په نزد داله وصيت څخه رجوع کول نه دی ځکه انکار در حقيقت په زمانه ماضي کې نفي ده او دا انتفاء في الماضي لپاره انتفاء في الحال ضروري ده مګر کله چې وصيت في الحال ثابت دی نو جحود في الماضي لغو کيږي.

(۴۲) وَمَنْ أَوْصَى لِجِيْرَانِهِ فَهُمُ الْمُلَاصِقُوْنَ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۴۳) وَمَنْ أَوْصَى لِأَصْهَارِهِ فَالْوَصِيَّةُ لِكُلِّ ذِيْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنِ امْرَأَتِهِ (۴۴) وَمَنْ أَوْصَى لِأَخْتَانِهِ فَالْخَتَنُ زَوْجُ كُلِّ ذَاتِ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ.

ترجمه: او چاچې د خپلو همسايه ګانو لپاره وصيت وکړنو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد هغه د نښتو همسايه ګانو لپاره دی او که چا د خپلې خسرګنۍ لپاره وصيت وکړنو دا وصيت د هغه د ښځې هر ذی رحم محرم لپاره دی او چاچې د خپلو ختانو لپاره وصيت وکړنو ختن د هري ذی رحم محرم ښځې خاوند دی.

تشريح: (۴۲) که چا د خپلو ګاونډيانو لپاره وصيت وکړچې زما د ګاونډيانو لپاره زما د مال ثلث دی نو د امام ابوحنيفة رحمه الله په نزد ګاونډيان هغه خلک دي د چا کورچې دده له کور سره متصل وي ځکه جوار له قرب څخه عبارت دی او قريب هغه متصل دی (چې کورېې متصل وي) ځکه غيرملاصق د ملاصق په نسبت بعيد دی. (۴۳) که چا د خپلې خسرګنۍ لپاره وصيت وکړچې زما د مال ثلث زما د خسرګنۍ لپاره وصيت دی نو دا وصيت د هر داسي چا لپاره کيږي چې دده د ښځې ذی رحم محرم وي لکه پلار، ورور، آکا، ماما وغيره دا مسئله د عربو پر عرف بناء ده، زموږ په اصطلاح خسر د ښځې پلار ته ويل کيږي نو هغه لپاره وصيت له خسر سره خاصيږي.

(۴۴) که چا د خپل اختان لپاره وصيت وکړ (د عربو په اصطلاح ختن د ذی رحم محرم ښځو خاوندانو ته ويل کيږي لکه د لور، خور، ترور خاوند) بيا دا وصيت د موصي د ټولو ذی رحم محرم ښځو خاوندانو لره شامل دی، زموږ په اصطلاح ختن زوج البنت ته ويل کيږي ځکه زموږ په اصطلاح دا دول وصيت خالص په زوج البنت پوري مختص دی.

(۴۵) وَمَنْ أَوْصَى لِأَقَارِبِهِ فَالْوَصِيَّةُ لِلْأَقْرَبِ فَالْأَقْرَبِ مِنْ كُلِّ ذِيْ رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ (۴۶) وَلَا يَدْخُلُ فِيْهِمُ الْوَالِدَانِ وَالْوَلَدُ (۴۷) وَتَكُوْنُ لِلْاِثْنَيْنِ فَصَاعِدًا.

ترجمه: او چاچې خپلو قريبانو ته وصيت وکړنو دا وصيت د هغه په ذی رحم محرم قريبانو کې د اقرب فالاقرب لپاره دی او په دي کې د موصي والدين او اولاد نه داخل نه دي او د دوو يا زياتو وارثانو لپاره دی.

تشريح: (۴۵) که يو سړي د خپلو قريبانو ته وصيت وکړنو دا وصيت د هغه له ذی رحم محرم قريبانو څخه اقرب فالاقرب ته کيږي لهذا د اقرب په موجودګي کې ابعد لره وصيت نه ورکول کيږي (۴۶) ليکن د موصي مور او پلار او د هغه بچيان او د هغه وارث په مذکوره وصيت کې نه داخليږي ځکه اقارب هغه دي چې د بل چا په واسطه قريب وي او والدين او اولاد خو خپله قريبان دي په هغو کې واسطه نشته. (۴۷) مذکوره وصيت (د اقاربو وغيره لپاره وصيت) د دوو يا زياتو کسانو لپاره کيږي ځکه اقارب وغيره د جمع صيغې دي او ميراث په باب کې د جمع صيغې د دوو لپاره استعماليږي نو په باب د وصيت کې هم ادنی جمع دوه کيږي.

(۴۸) وَإِذَا أَوْصَى بِذٰلِكَ وَلَهُ عَمَّانِ وَخَالَانِ فَالْوَصِيَّةُ لِعَمَّيْهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ (۴۹) وَإِنْ كَانَ لَهُ عَمٌّ وَخَالَانِ فَلِلْعَمِّ النِّصْفُ وَلِلْخَالَيْنِ النِّصْفُ وَقَالَا رَحِمَهُمَا اللهُ الْوَصِيَّةُ لِكُلِّ مَنْ يَنْتَسِبُ إِلَى أَقْصَى أَبٍ لَهُ فِي الْإِسْلَامِ.

ترجمه: او که چا اقاربو لره وصيت وکړ او دهغه دوه اکاګان او دوه ماماګان وو نو وصيت دهغه دا کاګانو لپاره دی دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد او که دهغه يو اکا او دوه ماماګان وو نو اکا ته نصف او ماماګانو ته به نصف ورکول کيږي او صاحبين فرمايي چې وصيت هر هغه کس لره دی کوم چې په اسلام کې دهغه دا خيري پلار طرف ته منسوب وي.

تشريح: (۴۸) که چا د اقاربو لپاره وصيت کړی وو او حال دا چې دهغه دوه آکاګان (تره ګان) او دوه ماماګان موجود دي اوله هغوئ سوا نور هيڅوک نه لري نو دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزد دا وصيت دهغه دوو آکاګانو ترمنځ نصف نصف کيږي او دواړه ماماګان يې محروم کيږي ځکه امام صاحب رحمه الله اقرب ته اعتبار ورکوي کمافي الارث او اقرب آکا دی.

(۴۹) که دموصي خالص يو آکا او دوه ماماګان پاتي وو نو په دي صورت کې نصف وصيت دآکا لپاره کيږي او باقي نصف د دواړو ماماګانو ترمنځ برابر کيږي ځکه په لفظ د اقارب کې معنی د جمع معتبر ول ضروري دی حال دا چې آکا يو دی ځکه هغه ته نصف ورکول کيږي باقی دهغه چا کيږي چې تر آکا وروسته اقرب دی وي.

صاحبين رحمهما الله فرمايي چې دا وصيت په لفظ د اقارب دموصي هغو ټولو قرابتونو لره کيږي چې په اسلام کې دهغه انتهائي جداعلی طرف ته منسوب وي يعنې دهغه په اجدادو کې اول هغه چې مسلمان شوی وي دهغه د اولاد لپاره کيږي بيا په هغه کې قريب او بعيد مذکر او مؤنث ټول برابر دي.

(۵۰) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِثُلُثِ دَرَاهِمِهِ أَوْ بِثُلُثِ غَنَمِهِ فَهَلَكَ ثُلُثَا ذَالِكَ وَبَقِيَ ثُلُثُهُ وَهُوَ يَخْرُجُ مِنْ ثُلُثِ مَا بَقِيَ مِنْ مَالِهِ فَلَهُ جَمِيْعُ مَا بَقِيَ.

ترجمه: او چا چي بل چا ته وصيت وکړ د خپلو دراهمو د ثلث يا د خپلو پسونو د ثلث بيا د هغو دوه ثلثه هلاک شول او يو ثلث پاتي شو او هغه دهغه د مابقي مال له ثلث څخه وتی شو ای نو ده لره تمام مابقي ده.

تشريح: (۵۰) که له چا سره څه درهمونه او څه پسونه وو او له هغه سره له پسونو او دراهمو علاوه نور هم دومره مال وو چې د پسونو يا دراهمو تر ثلث دوه چنده وو بيا ده وويل چې زما د دراهمو يو ثلث د فلان لپاره وصيت دی يا يې وويل چې زما د پسونو يو ثلث د فلان لپاره وصيت دی بيا داپيښه شوه چې له پسونو يا دراهمو څخه دوه ثلثه هلاک شول او يو ثلث باقي پاته شو او له دغه ثلث علاوه له موصي سره دومره مال موجود دی چې هغه ددي په مقابل کې دوه ثلثان يا تر هغه زيات دي نو موصی له ته له دراهمو يا پسونو څخه چې کوم ثلث باقي دی هغه پوره ثلث ورکول کيږي ځکه په دراهمو او پسونو کې دموصی له او وارثانو دواړو حق دی يعنې په يو ثلث کې دموصي له حق دی او په دوو ثلثانو کې د وارثانو حق دی او دموصي له حق مقدم دی ځکه وصيت تر ميراث مقدم دي نو په دغه مال کې دموصي له حق اصالةً دی او د وارثانو حق تبعًا دی.

بيا قاعده داده چې کله کوم مال پر اصل او تبع باندي مشتمل وي او له هغه څخه څه هلاک شي نو هلاکت د تابع طرف ته راګرځول کيږي د اصل طرف ته نه نو دلته هلاکت دهغو دوو ثلثانو طرف ته راګرځول کيږي چې د وارثانو حق وو او اصل ثلث باقي دی لهذا هغه وموصی له ته ورکول کيږي.

(۵۱) وإن أوصى بثلث ثيابه فهلك ثلثاها وبقي ثلثها وهو يخرج من ثلث ما بقي من ماله لم يستحق إلا ثلث ما بقي من الثياب۔

ترجمه: او که چا خپلو کپړو د يو ثلث وصيت وکړ بيا له کپړو څخه دوه ثلثه هلاک شول او يو ثلث باقي پاتې شو او دا ثلث د هغه د مابقي مال له ثلث څخه وتی شوای نو موصی له مستحق نه دی مگر د باقي مانده کپړو د ثلث.

تشريح: (۵۱) که چا خپلو کپړو په نسبت دا وصيت کړی وو چې د هغو يو ثلث دې فلان ته ورکول شي او له دې وصيت وروسته دوه ثلثه کپړې ضائع شوې يو ثلث باقی پاته شو او دا ثلث د هغه د نورو مالونو د ثلث څخه ايستل کيدای شي نو موصی له ته له دغو کپړو څخه فقط يو ثلث ورکول کيږي، ليکن د علماؤ رايه داده چې که کپړې مختلف الجنس وي نو د مابقی کپړو ثلث ورکول کيږي او که يو جنس وي نو پوره مابقی کپړې ورکولې کيږي ځکه د متحد الجنس کيدو په صورت کې کپړې د درهمونو مثل شوې چې تفصيل يې په تيره مسئله کې بيان شوی دی.

(۵۲) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ وَلَهُ مَالٌ عَيْنٌ وَدَيْنٌ فَإِنْ خَرَجَ الْأَلْفُ مِنْ ثُلُثِ الْعَيْنِ دُفِعَتْ إِلَى الْمُوْصَى لَهُ وَإِنْ لَمْ يَخْرُجْ دُفِعَ إِلَيْهِ ثُلُثُ الْعَيْنِ وَكُلَّمَا خَرَجَ شَيْءٌ مِنَ الدَّيْنِ أَخَذَ ثُلُثَهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْأَلْفَ۔

ترجمه: او چا چې بل چا ته د زرو درهمو وصيت وکړ او د هغه څه مال نغد وو او څه قرض، نو که زر نغدي له ثلث څخه راووتلي نو موصی ته به ورکول شي او که نه ووتلي نو د نغدو ثلث به ورکول شي او له قرضو څخه چې څه وصول کيږي نو د هغه ثلث دې اخلي ترڅو چې پوره زر وپيسي.

تشريح: (۵۲) که يو چا وصيت وکړ چې زما د مال څخه دې فلان ته زر روپۍ ورکړلې شي بيا ده څه مال نقد پريښود او څه مال هغه دی کوم چې پر خلکو باندې قرض دی نو که نقد مال دومره وو چې ثلث يې زر روپۍ کيږي مثلا درې زره يا تر هغه زيات نقد مال موجود دی نو موصی له ته زر روپۍ له هغه نقد مال څخه ورکړلې کيږي ځکه چې دې و قسم کمي بغير هر حقدار ته خپل حق رسيدل ممکن دی نو موصی له ته دې هم خپل حق ورسول شي.

او که نقد مال دومره نه وو بلکې کم وو مثلا پنځلس سوه روپۍ دي باقی مال پر خلکو باندې قرض دی نو موصی له ته دې له نقد څخه يو ثلث ورکولې شي باقی حصه هغه ته له قرض څخه ورکول کيږي چې صورت يې دادی چې څومره قرض وصوليږي د هغه يو ثلث دې موصی له ته ورکول کيږي ترڅو چې زر روپۍ پوره شي ځکه موصی له له وارثانو سره شريک دی او هغه له خالص نقدو څخه په ورکولو کې د وارثانو نقصان دی ولی عين پر دين فضيلت لري ځکه له خالص نقدو څخه نه ورکول کيږي.

(۵۳) وَتَجُوْزُ الْوَصِيَّةُ لِلْحَمْلِ وَبِالْحَمْلِ إِذَا وُضِعَ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ الْوَصِيَّةِ (۵۴) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِجَارِيَةٍ إِلَّا حَمْلَهَا صَحَّتِ الْوَصِيَّةُ وَالْاِسْتِثْنَاءُ

ترجمه: او جائزدی حمل لره وصیت کول او د حمل وصیت کول کله چې د حمل وضع له شپږمیاشتي څخه په کم کې وي د وصیت له ورځي او چا چي بل چاته د مینځې وصیت وکړ مګر د هغي حمل نو وصیت او استثناء دواړه صحیح دي.

تشریح: (۵۳) د حمل لپاره وصیت کول جائزدی مثلاداسي ووایې چې د فلانی. ښځې په خیټه کې چې کوم ماشوم دی د هغه لپاره زرروپۍ وصیت کوم نو دا جائزدی، همدارنګه په حمل سره دیو چالپاره وصیت کول هم جائزدی مثلاکوم شی چې زما د فلانی. منځې په خیټه کې دی زه په هغه سره د زید لپاره وصیت کوم نو دا جائز دی، مګر شرط یې دادی چې د وصیت له وخته څخه به ترشپږومیاشتو په کمه موده کې پیدا کیږي، وصیت د حمل لپاره دلیل دادی چې په وصیت کې موصِي موصی له یو ډول خپل خلیفه ګرځوي او حمل په میراث کې خلیفه کیدای شي نو په وصیت کې هم خلیفه کیدای شي.

د وصیت په حمل سره د جواز دلیل دادی چې حمل خو پیدا کیږي ځکه خبره په داسي حمل کې ده چې د وصیت په وخت موجودیدل یې معلوم دی یعني مورداقید لګولی دی چې تر وصیت به ترشپږمیاشتې په کمه موده کې پیدا کیږي حال دا چې په وصیت کې دومره توسیع شته چې د معدوم شي وصیت کول هم صحیح دی مثلاد غیرموجودو شیانو وصیت کول جائزدی نو په حمل کې چې موجود دی په طریقه اولی سره جائز کیږي.

(۵۴) که یو چا د بل چالپاره په منځه سره وصیت وکړ لیکن د هغې حمل یې مستثنی کړ مثلا ویې ویل زما په فلانی. منځه سره ما د زید لپاره وصیت کړی دی سوا د هغی د حمل نه نو دا وصیت او استثناء دواړه صحیح دي ځکه خالص د حمل وصیت صحیح دی نو د حمل استثناء هم صحیح کیږي.

(۵۵) وَمَنْ أَوْصَى لِرَجُلٍ بِجَارِيَةٍ فَوَلَدَتْ بَعْدَ مَوْتِ الْمُوْصِي قَبْلَ أَنْ يَقْبَلَ الْمُوْصَى لَهُ وَلَدًا ثُمَّ قَبِلَ الْمُوْصَى لَهُ وَهُمَا يَخْرُجَانِ مِنَ الثُّلُثِ فَهُمَا لِلْمُوْصَى لَهُ (۵۶) وَإِنْ لَمْ يَخْرُجَا مِنَ الثُّلُثِ ضُرِبَ بِالثُّلُثِ وَأَخَذَ مَا يَخُصُّهُ مِنْهُمَا جَمِيْعًا فِي قَوْلِ أَبِي يُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ يَأْخُذُ ذَالِكَ مِنَ الْأُمِّ فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ أَخَذَهُ مِنَ الْوَلَدِ.

ترجمه: او چا یو بل چاته دیوي مینځې وصیت وکړ بیا هغي مینځې د موصی له مرګ څخه وروسته بچی وزیږاوو د موصی له له قبلولو څخه وړاندي بیا موصی له قبول کړ او هغه دواړه له ثلث څخه وتلای شوای نو دواړه به د موصی له وي او که دواړه له ثلث څخه نه شوای وتلای نو دواړه به په ثلث کې شامل کړای شي او وري به د دواړو له مجموعي څخه هغه کوم چې د ده په حصه کې راشي د صاحبینو په قول کې او امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایې چې هغه به خپله حصه له مور څخه وري او که څه پاتي شو نو له بچی څخه به یې وصول کړي.

تشريح:(۵۵) كه چادبل لپاره په يوه منځه سره وصيت وكړبيادهغې منځې دموصي له مرګ وروسته اودموصى له ترقبلولو مخكې زوى پيدا شونو كه منځه سره له بچي دمره له ثلثه وځي يعني منځه اوبچي يې دواړه دمره دتركه يوثلث وي نومنځه سره له بچي دموصى له كيږي ځكه بچى نماء الأم دى نودمورتابع ګرځي.

(۵۶)كه منځه سره له بچي دمره له ثلثه څخه نه وتل نو دصاحبينو رحمهما الله په نزدبه دى خپل ثلث په دواړوحاصل كړي څومره چې دده په حصه كې راغلل هغه به واخلي ځكه چې كله بچى په وصيت كې داخل شي نوداداسي دى ګواكي ايجاب پردواړوباندې واردشوى دى نويوپربل باندې نه شي مقدم كيداى ، دامام ابوحنيفة رحمه الله په نزدبه دى خپل ثلث له مورڅخه اخلي كه په مورسره دده ثلث پوره شوخوفبهاكه نه كه څه حصه پاته شوه نوهغه كمى به په بچي سره پوره كړاى شي ځكه په عقدكې موراصله ده نوپه تنفيذدعقدكې هم موراصل او مقدم كيږي . (دامام ابوحنيفة رحمه الله قول راجح دى).

(۵۷)وَتَجُوزُ الْوَصِيَّةُ بِخِدْمَةِ عَبْدِهِ وَسُكْنَى دَارِهِ سِنِينَ مَعْلُومَةً وَتَجُوزُ ذَلِكَ أَبَدًا (۵۸)فَإِنْ خَرَجَتْ رَقَبَةُ الْعَبْدِ مِنَ الثُّلُثِ سُلِّمَ إِلَيْهِ لِلْخِدْمَةِ وَإِنْ كَانَ لَا مَالَ لَهُ غَيْرُهُ خَدَمَ الْوَرَثَةَ يَوْمَيْنِ وَالْمُوْصَى لَهُ يَوْمًا (۵۹)فَإِنْ مَاتَ الْمُوْصَى لَهُ عَادَ إِلَى الْوَرَثَةِ (۶۰)فَإِنْ مَاتَ الْمُوْصَى لَهُ فِي حَيَاةِ الْمُوْصِي بَطَلَتِ الْوَصِيَّةُ

ترجمه: او روا دى وصيت كول دخپل غلام دخدمت او دخپل كوردسكونت ترمعلومه كلونوپورې اودادهميشه لپاره هم جائزدى بياكه غلام له ثلث مال څخه وتلاى شواى نوهغه به دخدمت لپاره موصى له ته حواله كيږي اوكه له هغه سره له غلام ماسوانورمال نه وي نودوه ورځې به دوارثانوخدمت كوي اويوه ورځ به دموصى له ، بياكه موصى له مړشونوغلام به دوارثانولورته راګرځي اوكه دموصى په ژوندكې موصى له مړشونووصيت باطل شو.

تشريح:(۵۷) دخپل مريي دخدمت اودخپل سراى دسكونت ترمعلوموكلونوپورې ديوچالپاره وصيت كول جائزدى اودهميشه لپاره هم وصيت جائزدى ځكه څرنګه چې په منافع كې داجائزدى چې دموصي په ژوندكې غيردهغه مالک كړي اوپه عوض اوغيرعوض دواړوطريقوسره جائزدى مثلاپه عوض دأجرت دمنافع يوڅوک مالک ګرځول يامفت عاريةً يوچاته شي وركول نوهمدارنګه دموصي له طرفه دخپل مرګ وروسته هم څوک دمنافع مالک ګرځول جائزكيږي .

(۵۸)بياكه مريى دموصي له ثلث مال څخه وتلاى شواى نودامريى به دموصى له دخدمت لپاره موصى له ته سپارل كيږي ،اوكه موصي لره له دې مريي سِوانورمال نه وونودامريى به دوې ورځې دموصي دوارثانوخدمت كوي اويوه ورځ به دموصى له خدمت كوي ځكه دموصى له حق په يوه ثلث كې دى اودوارثانوحق په دووثلثانوكې دى اوڅرنګه چې دمريي تقسيمول ناممكن دى ځكه نوپه دې كې نوبت مقرريږي .

(۵۹) بيا که موصى له مړشو نو دامريې د موصي د وارثانو طرف ته عود کوي د موصى له وارثان حق د انتفاع نه لري ځکه موصي د موصى له د خدمت لپاره ورکړي وو نو د موصى له وارثانو ته نو که چيرته حق انتفاع د موصى له د وارثانو جانب منتقل شي نو د موصى له وارث ازسرنو د موصي د ملک د هغه د رضامندي بغير مستحق کيږي حال داچې داکار جائزنه دى .(۶۰) که د موصي په ژوند کې موصى له مړشو نو وصيت باطليږي ځکه چې وصيت ايجاب بعد الموت دى او حال دا دى چې موصى له له وجوب حق څخه وړاندې مړشو فبطل.

(۶۱) وَإِذَا أَوْصَى لِوَلَدِ فُلَانٍ فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ اَلذَّكَرُ وَالْأُنْثٰى سَوَاءٌ (۶۲) وَمَنْ أَوْصَى لِوَرَثَةِ فُلَانٍ فَالْوَصِيَّةُ بَيْنَهُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ (۶۳) وَمَنْ أَوْصَى لِزَيْدٍ وَعَمْرٍو بِثُلُثِ مَالِهِ فَإِذَا عَمْرٌو مَيِّتٌ فَالثُّلُثُ كُلُّهُ لِزَيْدٍ (۶۴) وَإِنْ قَالَ ثُلُثُ مَالِي بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو وَزَيْدٌ مَيِّتٌ كَانَ لِعَمْرٍو نِصْفُ الثُّلُثِ.

ترجمه: که چا د ولد فلان لپاره وصيت وکړنو دا وصيت د هغوى په منځ کې مشترک دى مذکر او مؤنث په دې کې سره برابر دي او که چا د فلان وارثانو ته وصيت وکړنو دا وصيت به د فلان په وراثانو کې د للذکر مثل حظ الانثيين مطابق وي او که چا زيد او عمر لره د خپل ثلث مال وصيت وکړ حال داچې عمر په دې وخت کې مړشوى وو نو دا ثلث مال به ټول د زيد وي او که يې وويل چې زما ثلث مال د زيد او عمر په منځ کې ده حال داچې زيد مړشوى وو نو عمر لره د ثلث مال نصف دى .

تشريح:(۶۱) که چا د فلان د اولاد لپاره وصيت وکړ نو دا وصيت د فلان د اولاد ترمنځ مشترک کيږي مذکر او مؤنث په دې کې برابر دي ځکه د لفظ ولد اطلاق پر ټولو باندې مساوي دى .(۶۲) که چا د فلان د وارثانو لپاره وصيت وکړ نو دا وصيت د فلا د وارثانو ترمنځ د (للذکر مثل حظ الانثيين) نارينه لره د دوو ښځو برابر حصه ده) مطابق کيږي يعنې ترښځه د نارينه حصه دوه چنده کيږي ځکه په لفظ د ميراث سره ايجاب تفضيل لره مقتضي دى کما في الميراث .

(۶۳) که چا د زيد او عمرو لپاره د خپل مال په ثلث سره وصيت کړى وو په داسي حال کې چې عمرو هغه وخت مړشوى وو نو دا ثلث د مال ټول زيد ته ورکول کيږي ځکه ميت اهل وصيت نه دى نو دى د ژوندي موصى له مزاحم نه شي کيدلاى نو دا داسي دى لکه يو څوک چې د زيد او ديوال لپاره وصيت وکړي نو ټول وصيت زيد لره کيږي(۶۴) او که چا داسي وصيت وکړ چې زما د مال ثلث دي د زيد او عمرو ترمنځ تقسيم شي حال داچې زيد مړشوى دى نو عمرو لره د ثلث مال نصف ورکول کيږي ځکه لفظ د بين د اشتراک لپاره راځي نو ګواکي هغه داسي وصيت کړى دى چې دوئ د واړو هريو ته دي د ثلث مال نصف ورکول شي .

(۶۵) وَمَنْ أَوْصَى بِثُلُثِ مَالِهِ وَلَا مَالَ لَهُ ثُمَّ اكْتَسَبَ مَالًا اِسْتَحَقَّ الْمُوْصٰى لَهُ ثُلُثَ مَا يَمْلِكُهُ عِنْدَ الْمَوْتِ.

ترجمه: او چا چې د خپل ثلث مال وصيت وکړ حال داچې له هغه سره مال نه شته بيا هغه څه مال وګټى او مړشو نو موصى له د هغه د ثلث مستحق ګرځي د کوم چې هغه د مرګ په وخت کې مالک وي .

تشريح:(۶۵) كه چادبل لپاره دخپل مال په ثلث سره وصيت وكړحال داچې في الحال له موصي سره هيڅ نشته بياهغه څه مال پيداكړاومړشونودمرګ په وخت چې كوم څه دموصي ملكيت وي دهغه ديوه ثلث موصى له مستحق ګرځي ځكه وصيت يوداسي عقددى چې له مرګ وروسته سره تعلق لري اودهغه حكم هم له مرګ وروسته وي ځكه دمال درلودل دمرګ په وخت كې شرط دى نه ترمرګ مخته.

كِتَـابُ الفرائض

داكتاب دفرائضوپه بيان كې دى

امام قدورى رحمه الله دوصيت له مسائلو څخه فارغ شونوځرنګه چې وصيت اخت الميراث دى په دي وجه يې له وصيت څخه وروسته دميراث مسائلي ذكركړي دي. اوأن الوصية تصرف في حال مرض الموت والفرائض بعد الموت.

فرائض دفريضة جمع ده ،فريضة له فرض څخه مشتق دى كوم چې دقطع كولواوتقدير(اندازه كولو)په معنى دى ويل كيږي فرض القاضي النفقة اى قدرها.اودشريعت په اصطلاح كې وارث لره مقرري حصي ته فرض ويل كيږي.بيادلفظ فرض جمع يعنى فرائض دعلم ميراث نوم وګرځيدو.اودعلم فرائض اصطلاحي تعريف په دي ډول سره شوى دى ،هوعلم باصول من فقه وحساب يعرف به حق كل من التركة ،يعنى علم فرائض دفقه اوحساب دڅه اصولوعلم دى دكوم په ذريعه سره چې دوراثانو حقوق معلوميږي . وهذا العلم من أشرف العلوم قَالَ اللہ تَعالیٰ قال الله تعالى (فريضة من الله)(يعنى داحكم دالله له طرف څخه مقرركړل شوى دى)،وقال النبى ﷺ تعلموا الفرائض وعلموهاالناس (يعنى فرائض زده كړئ اوخلګوته يې ورزده كړئ)وقال ﷺ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهَا فانهانصف العلم.

فان قيل :مامعنى قوله فانهانصف العلم؟

قيل :لأن للانسان حالتين حالة حياة و حالة موت و الفرائض من احكام الموت فيكون لفظ النصف ههناعبارة من قسم عن قسمين.

(۱)اَلْمَجْمَعُ عَلٰى تَوْرِيْثِهِمْ مِنَ الذُّكُوْرِ عَشَرَةٌ اَلْاِبْنُ وَاِبْنُ الْاِبْنِ وَاِنْ سَفُلَ وَالْاَبُ وَالْجَدُّ وَاَبُو الْجَدِّ وَاِنْ عَلَا وَالْاَخُ وَابْنُ الْاَخِ وَالْعَمُّ وَابْنُ الْعَمِّ وَالزَّوْجُ وَمَوْلَى النِّعْمَةِ وَمِنَ الْاِنَاثِ سَبْعٌ اَلْبِنْتُ وَبِنْتُ الْاِبْنِ وَالْاُمُّ وَالْجَدَّةُ وَالْاُخْتُ وَالزَّوْجَةُ وَمَوْلَاةُ النِّعْمَةِ (۲)وَلَا يَرِثُ اَرْبَعَةٌ اَلْمَمْلُوْكُ وَالْقَاتِلُ مِنَ الْمَقْتُوْلِ وَالْمُرْتَدُّ وَاَهْلُ الْمِلَّتَيْنِ.

ترجمه :اوله نارينه وڅخه دكوموپه وارث كيدلوچې اجماع ده هغه لس كسان دي ،زوى ،لمسى كه څه هم كښته وي ،پلار،نيكه كه څه هم لوړوي ،ورور،وراره ،اكا،داكازوى،خاوند،ازداونكى بادار،اوله ښځوڅخه اوه دي ،لور،لمسى،مور،انا(دپلارمور)،خور،ښځه،ازادونكي مالكه ،اوڅلوركسان وارثان نه دي ،غلام ،قاتل له مقتول څخه ،مرتد،اوددوه مختلف دين لرونكي .

تشريح:(۱) له نارينه وڅخه دکوموپه وارث کيدلوچې اجماع ده هغه لس کسان دي ،ابن ،ابن الابن که څه هم کښته وي يعنی کړوسی اونورترده کښته ،اب،جد که څه هم لوړوي يعنی غورنيکه اوله هغه څخه لوړ،ورور،وراره ،اکا،داکازوی،زوج،مولی النعمة يعنی ازادونکی بادار،اوله ښځوڅخه اوه دي ،لور،لمسی،مور،انا(دپلارمور)،خور،ښځه،مولاة النعمة يعني ازادونکي مالکه.

(۲)څلورکسان وارثان نشي کيدای.نمبر۱.غلام لِأَنَّ المِيرَاثَ نَوْعُ تَمْلِيكٍ وَالعَبْدُ لَايَمْلِكُ. نمبر۲.قاتل دمقتول وارث نه شي کيدای ځکه ده په هغه شی کې تلواروکړکوم چې الله تعالی مؤخرکړی دی نوپه محرومولوسره ده ته سزاورکړل شوي ده .نمبر۳.مرتدوارث نه شي کيدای ځکه چې مرتدپه کوم ملت باندي قائم نه دی له دي وجي چې په کوم ملت باندي اوس دی په هغه ده لره استقرارنشته .نمبر۴.کوم وارث لره چې له خپل مورث سره په ملت کې اختلاف وي هغه وارث نه شي کيدای مثلايومسلمان وي هغه بل يهودي ياعيسائي ياهندووي ځکه چې حضرت علی رضی الله عنه دخپل پلار(ابوطالب)ميراث نه دی وړی.

(۳)وَالفُرُوضُ المَحْدُوْدَةُ فِي كِتَابِ اللّٰهِ سِتَّةٌ اَلنِّصْفُ وَالرُّبْعُ وَالثُّمُنُ وَالثُّلُثَانِ وَالثُّلُثُ وَالسُّدُسُ (۴) وَالنِّصْفُ فَرْضُ خَمْسَةٍ اَلْبِنْتُ وَبِنْتُ الْاِبْنِ اِذَالَمْ تَكُنْ بِنْتُ الصُّلْبِ وَالْاُخْتُ مِنَ الْاَبِ وَالْاُمِّ وَالْاُخْتُ مِنَ الْاَبِ اِذَالَمْ تَكُنْ اُخْتٌ لِاَبٍ وَاُمٍّ وَالزَّوْجُ اِذَالَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُابْنٍ وَاِنْ سَفَلَ۔

ترجمه:اوهغه حصي کومې چې په قرآن مجيدکې معلومي شوي دي شپږدي نيمايې،څلورمه،اتمه،دوه دريمي ،دريمه ،اوشپږمه حصه ،اونصف دپنځووارثانوحصه ده ،بنت ،بنت الابن په دي شرط چې صلبی بنت نه وي ،اوپه موراوپلارشريکه خور،په پلارشريکه خورپه دي شرط چې په موراوپلارشريکه خورنه وي،زوج په دي شرط چې دميت ولداوولدالابن نه وي که څه هم کښته وي .

تشريح:(۳)دوارثانوهغه حصي کومي چې په قرآن مجيدکې مقرري شوي دي هغه شپږدي ،نيمايي ،څلورمه،آتمه ،دوه دريمي ،دريمه ،اوشپږمه حصه ،.(۴)بيانيمايي دپنځووارثانوحصه ده ./نمبر۱. دلورحصه ده کله چې يوازي وي .نمبر۲.دبنت الابن حصه ده په دي شرط چې هغه يوازي وي اوبنت اوابن نه وي ./نمبر۳. دحقيقي خوريعنی په موراوپلارشريکې خورحصه ده په دي شرط چې هغه يوازي وي اواولاداواولادالابناء نه وي ./(۴)دعلاتي خوريعنی صرف په پلارشريکې خورحصه ده په دي شرط چې يوازي وي اوحقيقي ورورااوخورنه وي اواولاداواولادالابناء نه وي ./نمبر۵.دزوج حصه ده په دي شرط چې دميت نه اولادوي اونه اولادالابن وي .

(۵)وَالرُّبْعُ لِلزَّوْجِ مَعَ الْوَلَدِاَوْوَلَدِالْاِبْنِ وَاِنْ سَفَلَ وَلِلزَّوْجَاتِ اِذَالَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌوَلَاوَلَدُابْنٍ (۶) وَالثُّمُنُ لِلزَّوْجَاتِ مَعَ الْوَلَدِاَوْوَلَدِالْاِبْنِ (۷) وَالثُّلُثَانِ لِكُلِّ اثْنَيْنِ فَصَاعِدًامِمَّنْ فَرْضُهُ النِّصْفُ اِلَّاالزَّوْجِ (۸) وَالثُّلُثُ لِلْاُمِّ اِذَالَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ وَلَدٌ وَلَا وَلَدُابْنٍ وَلَااثْنَانِ مِنَ الْاِخْوَةِ وَالْاَخَوَاتِ فَصَاعِدًا۔

ترجمه:اوربع زوج لره ده له زوی سره يادزی له زوی سره که څه هم کښته وي اوزجاتولره ده په دي شرط چې دميت ابن اوولدالابن نه وي اوثمن زوجاتولره ده دولداوولدالابن سره اوثلثان هردويالہ دي څخه

دزياتو لپاره ده له هغو څخه دکوموچې حصه نصف وي ماسواله زوج څخه اوثلث مورلره ده په دي شرط چې دميت ولدا وولدالابن اوله اخوة او اخوات څخه دوه يا زيات نه وي .

تشريح: (۵) ربع دووواثانوته ورکول کيږي . /نمبر۱. زوج ته هغه وخت چې دميت زوى يالمسى وغيره وي که څه هم کښته وي . /نمبر۲. زوجه که يوازې وه نو کامله ربع ورکول کيږي اوکه متعدد دي وي نوټولي په ربع کې سره شريکي دي په دي شرط چې دميت زوى يالمسى وغيره نه وي . (۶) اتمه حصه له وارثانو څخه صرف يوه صنف ته ورکول کيږي يعنى زوجاتوته که دميت ولديا ولدالابن وي بياکه زوجه يوه وي نو اتمه حصه کامله ورکول کيږي اوکه متعدد ي وي نو په اتمه حصه کې ټولي سره شريکاني دي . (۷) ثلثان هر دووياله دي څخه دزياتو لپاره دي له هغو وارثانو څخه چې دهغو حصه نصف وي مګرماسواله خاوند څخه .

(۸) ثلث په وراثانو کې دوه صنفوته ورکول کيږي . /نمبر۱. مورته په دي شرط چې دميت زوى ،لمسى وغيره نه وي اونه دميت دوه يازيات ورونه اوخويندي وي .دثلث حصي دوهم مستحق به راتلونکي مسله کې ذکرشي .

(۹) وَيُفْرَضُ لَهَا فِي مَسْءلَتَيْنِ ثُلُثُ مَابَقِيَ وهُمَا زَوْجٌ وَاَبَوَانِ اَوْاِمْرَأَةٌ وَاَبَوَانِ فَلَهَا ثُلُثُ مابَقِي بَعْدَفَرْضِ الزَّوْجِ اَوِالزَّوْجَةِ (۱۰) وهو لِكُلِّ اِثْنَيْنِ فَصَاعِدًامِنْ وَلَدِالْاُمِّ ذُكُوْرُهُمْ وَاِنَاثُهُمْ فِيْهِ سَواءٌ

ترجمه: اومورلره په دوو مسلو کې دمابقى ثلث مقرريږي اوهغه دادي چې خاوندا و والدين يا ښځه او والدين وي نو مورلره دخاوند يا ښځي له حصي څخه وروسته دمابقى ثلث دى اوثلث له اخيافي ورونو او خويندو څخه هر دوويا زياتو لره دى په کوم کې چې دهغو نراو ښځي سره برابر دي .

تشريح: (۹) يعنى مورلره په دوو مسلو کې ثلث باقى مقرردى . /نمبر۱. داچې خاوند او مورا وپلار وارث وي له دوئ څخه ماسوابل کوم زوى وغيره دميت نه وي نو په دي صورت کې دخاوندله حصي ورکولو څخه وروسته دباقى مال ثلث مورته ورکول کيږي . /نمبر۲. داچې ښځه اوموراوپلار وارثان وي نو په دي صورت کې هم دښځې له حصي ورکولو څخه وروسته دباقى مال ثلث مورته ورکول کيږي .

(۱۰) دټول مال دثلث دوهم مستحق اخيافي اخوة او اخوات (صرف په مورشريک ورونه اوخويندي) دي که دوه وي يازيات وي اوپه دي کې مذکراومونث ټول سره برابر دي لقوله تعالى (فان کانوا اکثرمن ذالک فهم شرکاء فى الثلث) (يعنى که دا کسان له دي زيات وونو هغوئ ټول په ثلث کې سره شريکان دي) اوشرکت چې کله مطلق ذکروي نودمساوات تقاضاکوي .

(۱۱) وَالسُّدُسُ فَرْضُ سَبْعَةٍ لِكُلِّ وَاحِدٍمِنَ الْاَبَوَيْنِ مَعَ الْوَلَدِاَوْوَلَدِالْاِبْنِ وَهو لِلْاُمِّ مَعَ الْاِخْوَةِ وَهو لِلْجَدَّاتِ وَلِلْجَدِّمَعَ الْوَلَدِاَوْوَلَدِالْاِبْنِ وَلِبَنَاتِ الْاِبْنِ مَعَ الْبِنْتِ وَلِلْاَخَوَاتِ لِلْاَبِ مَعَ الْاُخْتِ لِلْاَبِ وَالْاُمِّ وَلِلْوَاحِدِمِنْ وَلَدِالْاُمِّ

ترجمه: اوسدس داووارثانو حصه دي ،مور ،پلاره هريوه لره له ولدا وولدالابن سره اومورلره له ورونو سره اوانا (دپلار مور) لره اونيکه (دپلار پلار) لره له ولدا وولدالابن سره اولمسيو لره له يوي لورسره اوعلاتي خويندولره له يوي حقيقي خورسره اويوه اخيافي ورورلره ده .

تشريح: (۱۱) يعنى سدس په وراثانو کې او وصنفوته ورکول کيږي ،له مورا وپلار څخه هريوه لره په دي شرط چې دميت زوی يالمسی وي اوکه دميت له اخوة اواخواتو څخه دوه يازيات وونوهم به مورته سدس ورکول کيږي اوانااونيکه لره هم سدس دی په دي شرط دميت زوی يالمسی وي اوپلار نه وي اوکه دميت لمسياني وي اويوه لوروي نولمسيوته سدس ورکول کيږي په دي شرط چې لمسيولره عصبه کونکی کوم وارث نه وي .که دميت علاتي خويندي وي اويوه حقيقي خوروي نوبياهم علاتي خويندوته سدس ورکول کيږي په دي شرط چې ددوئ عصبه ګرځونکی کوم وارث موجودنه وي .اوکه صرف يو اخيافی وروريا خور(صرف په مورشريکه ،خوريا ورور)وي نو هغه ته هم سدس ورکول کيږي .

(۱۲) وَتَسْقُطُ الْجَدَاتُ بِالْأُمِّ (۱۳) وَالْجَدُّ وَالْإِخْوَةُ وَالْأَخَوَاتُ بِالْأَبِ (۱۴) وَيَسْقُطُ وُلْدُ الْأُمِّ بِأَرْبَعَةٍ بِالْوَلَدِ وَوَلَدِ الْابْنِ وَالْأَبِ وَالْجَدِّ

ترجمه: اوجدات دميت دمورپه وجه سره ساقطيږي اوجداواخوة اواخوات دپلارپه وجه ساقطيږي اواخيافي خويندي اوورونه دڅلوروارثانو په وجه ساقطيږي ،په ولدسره ،په ولدالابن سره ،په پلارسره اوپه جدسره .

تشريح: (۱۲) امام قدوری رحمه الله له اصحاب الفروض څخه فارغ شونو دحجب بيان يې شروع کړنو فرمايې چې دميت دمورپه موجودګي کې جداتي مطلقاًله ميراث څخه ساقطيږي .(۱۳) اودپلارپه موجودګي کې اجداداواخوة اواخوات ټول له ميراث څخه ساقطيږي .(۱۴) اخيافی خويندي اوورونه له څلوروارثانو څخهٔ ديوه په موجودګې کې ساقطيږي هغه څلوردادي ./نمبر۱. دميت زوی وي ./نمبر۲. مذکراولادالابن وي ./نمبر۳.دميت پلار وي ./نمبر۴.دميت جدصحيح وي وان علا .

(۱۵) وَإِذَا اسْتَكْمَلَتِ الْبَنَاتُ الثُّلُثَيْنِ سَقَطَتْ بَنَاتُ الْإِبْنِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ بِإِزَاءِهِنَّ أَوْ أَسْفَلَ مِنْهُنَّ إِبْنُ إِبْنٍ فَيُعَصِّبُهُنَّ (۱۶) وَإِذَا اسْتَكْمَلَ الْأَخَوَاتُ لِأَبٍ وَأُمٍّ الثُّلُثَيْنِ سَقَطَتِ الْأَخَوَاتُ لِأَبٍ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَهُنَّ أَخٌ لَهُنَّ فَيُعَصِّبُهُنَّ.

ترجمه: اوکله چې لوراني پوره ثلث ويسي نولمسياني ساقطيږي مګرداچې دهغوئ برابريا له هغوئ څخه کښته لمسی وي اوهغه هغوئ عصبه ګرځوي اوکله چې حقيقي خويندي پوره دوه ثلثه ويسي نوعلاتي خويندي ساقطيږي مګرداچې له هغوئ سره دهغوئ ورور وي نو هغه هغوئ عصبه ګرځوي .

تشريح: (۱۵) که لورانوته دوه ثلثه په لاس ورغلل يعنى لوراني دوي ياله دوو څخه زياتي وي (ځکه په دي دول سره دهغوئ حصه دوه ثلثه وي)نولمسياني له ميراث څخه ساقطيږي ځکه چې بنات اوبنات الابن لره له ثلثينو څخه دزيات حق نشته البته که په دي صورت کې دبنات الابن برابرکوم مذکروارث وي که وروروي ياابن العم وي اوياله بنات الابن څخه کښته کوم مذکروارث وي مثلادهغوئ وراره وي نوپه دي دووصورتونو کې بنات الابن دخپل دي متوازي يااسفل قريب سره يوځای ګرځي .

(۱۶)که حقیقي خویند و خپل دوه ثلثه پوره واخیستل نوعلاتي خویندي له میراث څخه ساقطیږي ځکه چې اخواتو لره له ثلثینو څخه دزیات حق نشته البته که په دي صورت کې له علاتي خویند وسره دهغوئ ورور هم وي نو دهغوئ ورور هغوئ عصبه گرځوي کمامر فی بنات الابن مع البنات.

باب العصبات

داباب دعصباتو په بیان کې دی

عصبات دعصبه جمع ده او عصبه هغه وارث دی چې دهغه حصه مقرره نه وي بلکه له ذوی الفروضو څخه پاتي شوی مال هغه ته ورکول کیږي که ذوی الفروض نه وي نو ټول مال هغه ته ورکول کیږي.

بیاعصبه پر دوه قسمه دي. /نمبر ۱. عصبه نسبي. /نمبر ۲. عصبه سببي. عصبه سببي معتق ته ویل کیږي.

عصبه نسبي بیا پر دري قسمه دي. نمبر ۱. عصبه بنفسه، داهغه دی کوم چې دمیت طرف ته منسوب وي بلاواسطه یا دمذکر په واسطه سره. /نمبر ۲. عصبه بغیره، داهر هغه ښځه ده کومه چې له خپل ورور سره عصبه وي. /نمبر ۳. عصبه مع غیره داهر هغه ښځه ده کومه چې دفرع مؤنث په وجه سره عصبه وي.

(۱۷) اَقْرَبُ الْعَصَبَاتِ اَلْبَنُوْنَ ثُمَّ بَنُوْهُمْ ثُمَّ الْاَبُ ثُمَّ الْجَدُّ ثُمَّ بَنُوْ الْاَبِ وهُمُ الْاِخْوَةُ ثُمَّ بَنُو الْجَدِّ وَهُمُ الْاَعْمَامُ ثُمَّ بَنُوْ اَبِ الْجَدِّ (۱۸) وإِذَا اسْتَوٰى بَنُوْ اَبٍ فِي دَرَجَةٍ فَاَوْلٰيهُمْ مَنْ كَانَ مِنْ اَبٍ وَاُمٍّ.

ترجمه: په عصباتو کې تر ټولو قریب زامن دي بیا دزامنو زامن بیا پلار بیا جد بیا دپلار زامن او هغوئ ورونه دي بیا دنیکه زامن او هغه اکاګان دي بیا دنیکه دپلار زامن او کله چې دپلار زامن په درجه کې برابر وي نو په هغو کې زیات مستحق هغه دی کوم چې په مور او پلار شریک وي.

تشریح: (۱۷) په عصبه نسبي کې تر ټولو قریب زامن دي که زامن نه وو نو بیا المسیان وان سفلو عصبه دي. اوکه داهم نه وو نو بیا دمیت اصل یعنی پلار عصبه دی بیا جد بیا اب الجد وان علا عصبه دی. اوکه داهم نه وو نو بیا بنوالاب یعنی دمیت حقیقي ورونه عصبه دي که دا نه وو بیا علاتي ورونه عصبه دي که داهم نه وو نو بیا دهغوئ زامن وان سفلوا عصبه دي. بیا که داهم نه وو نو بنوالجد یعنی دمیت حقیقي اعمام عصبه دي که دا نه وو نو بیا دمیت علاتي اعمام عصبه دي که داهم نه وو نو بیا دهغوئ زامن وان سفلوا عصبه دي. اوکه داهم نه وو نو بیا داب الجد زامن یعنی دمیت دپلار حقیقي اکاګان یا علاتي اکاګان عصبه دي که دانه وو نو بیا دهغوئ زامن وان سفلوا عصبه دي. او داترتیب ځکه دی چې په قرب او درجه کې دهغوئ همداترتیب دی نو په میراث کې به هم همداترتیب وي. (۱۸) که بنوالاب په درجه کې سره برابر وي نو کوم چې دمور او پلار دواړو له طرف څخه ورور دی هغه به زیات مستحق وي یعنی حقیقي ورونه له علاتي ورونو څخه مقدم دي ځکه چې انتساب الی الابوین اقوی دی له دي وجې په دي سره ترجیح حاصلیږي.

(۱۹) وَالْاِبْنُ وَابْنُ الْاِبْنِ وَالْاِخْوَةُ يُقَاسِمُوْنَ اَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ (۲۰) وَمَنْ عَدَاهُمْ مِنَ الْعَصَبَاتِ يَنْفَرِدُ بِالْمِيْرَاثِ ذُكُوْرُهُمْ دُوْنَ اَنَاثِهِمْ.

ترجمه: اوزوی اولمسی اوورور به خپلو خويندوته تقسيم ورکوي نارينه لره دښځي ددووحصوبرابردی اوله دي څخه علاوه په نورو عصباتوکې دهغوئ نارينه په ميراث موندلوکې يواځي وي نه چې دهغوئ ښځې.

تشريح: (۱۹)يعنی کله چې دميت زوی اولمسی اوورورله خپلو خپلو خويندوسره ملگری وي نوددوئ په منځ کې به دمال تقسيم دآيت کريمه وللذکرمثل حظ الانثيين ،په مطابق وي يعنی نارينه ته به دښځې دوه چنده ورکول کيږي .دبنات اوبنات الابن وجه خودالله تعالی داارشاددی (يوصيکم الله فی اولادکم للذکرمثل حظ الانثيين)(يعنی الله تعالی تاسي ته حکم کوي ستاسي داولادپه باره کې دنرحصه دددونجونودحصي برابر).اوداخواتوپه باره کې دالله تعالی ارشاددی (وان کانوااخوة رجالاونساء فللذکرمثل حظ الانثيين)(يعنی که وارثان څووررونه اوخويندي وي نارينه اوښځې نويوه نارينه لره ددوښځودحصي برابردی.

(۲۰)له مذکوره بالادريوقسمونوعلاوه چې کوم نورعصبه وي لکه عم اوابن العم اوابن الاخ نوپه هغوئ کې ميراث صرف نارينه وته ورکول کيږي ښځوته يعنی دهغوئ خويندوته ميراث نه ورکول کيږي ځکه چې دهغوئ خويندي له هغوئ سره عصبه نه گرځي.

(۲۱)وذالم يکن للميت عصبة من النسب فالعصبة هو المولی المعتق ثم الاقرب فالاقرب من عصبة المولی

ترجمه: اوکه دميت نسبي عصبات نه وي نوعصبه به ازادونکی مولی وي بيااقرب فالاقرب دمولی له عصباتوڅخه.

تشريح: (۲۱)که دکوم ميت نسبي عصبات نه وي نوبيادميت عصبه سببي يعنی دميت معتِق(که دهغه معتِق وو)که مذکروي اوکه مؤنث دهغه عصبه دی اوکه معتق په خپله مړشونوبيابه دمعتِقِ عَصبه بنفسه علی الترتيب السابق عصبه وي.

باب الحجب

داباب دحجب په بيان کې دی

حجب لغة دمنع په معنی دی اودعلماء فرائضوپه اصطلاح کې حجب دي ته ويل کيږي چې يوخاص کس دبل دموجودگي په وجه سره له ميراث څخه محروم شي .بياکه له ټول ميراث څخه محروم وونودي حجب الحرمان ويل کيږي اوکه دميراث له کومي حصي څخه محروم وومثلادکوم بل وارث دموجودوالی په وجه سره ددريمي دملاويدوپرځای سدس ورکول شونودي ته حجب النقصان ويل کيږي.

(۲۲)تُحجبُ الْاُمُّ مِنَ الثُّلُثِ اِلَی السُّدُسِ بِالْوَلَدِ اَوْ وَلَدِ الْاِبْنِ اَوْ اَخَوَيْنِ (۲۳) وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْبَنَاتِ لِبَنِي الْاِبْنِ وَاَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ (۲۴) وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْاُخْتَيْنِ مِنَ الْاَبِ وَالْاُمِّ لِلْاِخْوَةِ وَالْاَخَوَاتِ مِنَ الْاَبِ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ۔

ترجمه: ام له ثلث څخه دسدس طرف ته محجوبيږي دزوی يالمسی يادووررونودموجودگي په وخت کې اوکومه چې زياته شي دلورانوله حصې څخه نوهغه دلمسيانواودهغوئ دخويندوده نارينه ته به دښځې دوه

چنده ورکول کیږي او څه چې زیات شي د حقیقي خویندوله حصې څخه نو هغه علاتي ورونو او خویندو لره ده نارینه ته به دښځې دوه چنده ورکول کیږي.

تشریح:(۲۲) یعنی دمیت دزوی یالمسی یااخوة اخوات ذي عدد دوجود په وخت کې دمیت مور له ثلث څخه سدس طرف ته محجوبیږي .(۲۳) زامنو ته له حصې ورکولو وروسته چې کومه ترکه پاتي شي هغه به لمسیانو او لمسیو ته دللذکر مثل حظ الانثیین په حساب سره ورکول کیږي وقدبیناذالک .(۲۴) حقیقي خویندو ته له ورکولو څخه وروسته چې څه پاتي شي هغه به علاتي خویندو او ورونو کې همدارنګ تقسیمیږي یعنی للذکر مثل حظ الانثیین.

(۲۵) وَإِذَا تَرَكَ بِنْتًا وَبَنَاتِ ابْنٍ وَبَنِي ابْنٍ فَلِلْبِنْتِ النِّصْفُ وَالْبَاقِي لِبَنِي الْإِبْنِ وَأَخَوَاتِهِمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ (۲۶) وَكَذٰلِكَ الْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ الْأُخْتِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ لِبَنِي الْأَبِ وَبَنَاتِ الْأَبِ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ.

ترجمه: او که میت یوه لور او څو لمسیانې او څو لمسیان پریښودل نو لور ته به نصف ورکول کیږي او پاتې ترکه دلمسیانو او دهغو خویندو ده نارینه ته به دښځې دوه چنده ورکول کیږي همدارنګ د حقیقي خور له حصې څخه چې څه فاضل وي هغه دعلاتي ورونو او خویندو لپاره دی نارینه ته به دښځې دوه چنده ورکول کیږي.

تشریح:(۲۵) که چایوه لور او څو لمسیانې او څو لمسیان پریښودل نو دلور حصه نصف ده او باقي دلمسیانو او دهغو ورونو ده للذکر مثل حظ الانثیین په حساب سره اِعْتِبَارًا بِمَا اِذَا لَمْ یَكُنْ مَعَهُمْ ذُوْ فَرْضٍ.(۲۶) همداشان دمیت حقیقي خور ته له حصې ورکولو څخه وروسته چې څه پاتي شي هغه به دعلاتي خویندو او ورونو په منځ کې دللذکر مثل حظ الانثیین په حساب سره تقسیمیږي وَقَدْ مَرَّ آنفًا.

(۲۷) وَمَنْ تَرَكَ ابْنَيْ عَمٍّ أَحَدُهُمَا أَخٌ لِأُمٍّ فَلِلْأَخِ السُّدُسُ وَالْبَاقِي بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ.

ترجمه: او د چاچې دوه د اکازامن پاتي شول یویې اخیافي وروړهم وو نو وروړ لره سدس دی او باقي به ددې دوو په منځ کې نصفانصف وي.

تشریح:(۲۷) چاچې خپل داکادوه زامن عصبه پریښودل له کومو څخه چې یې یو اخیافي وروړهم دی نولو مړی به دې اخیافي وروړ ته له ذوی الفروض څخه دکیدو په وجه سره سدس ورکول کیږي بیا وروسته له سدس څخه به باقي مال ددې دوو په منځ کې نصف نصف دعصوبت په وجه سره تقسیمیږي لاستوائهمابها.

(۲۸) وَالْمُشْتَرَكَةُ أَنْ تَتْرُكَ الْمَرْأَةُ زَوْجًا وَأُمًّا أَوْ جَدَّةً وَإِخْوَةً مِنْ أُمٍّ وَأَخًا مِنْ أَبٍ وَأُمٍّ فَلِلزَّوْجِ النِّصْفُ وَلِلْأُمِّ السُّدُسُ وَلِأَوْلَادِ الْأُمِّ الثُّلُثُ وَلَا شَيْءَ لِلْإِخْوَةِ لِلْأَبِ وَالْأُمِّ.

ترجمه: او مسئله مشترکه داده چې ښځه، موریاآنا، څو اخیافي او حقیقي وروړ پریښودنو خاوند لره نصف ده او مور لره سدس او اخیافي ورونو ته ثلث او حقیقي ورونو ته هیڅ نه ورکول کیږي.

تشریح:(۲۸) یعنی هغه مسئله کومه چې دمشترکې په نامه سره مشهوره ده دهغې صورت داد ی چې کومه ښځه ،موریاآنااودوه یازیات اخیافي ورونه اویویازیات حقیقي ورونوپریږدي نوخاوندته به نصف

اوموريااناته به سدس او اخيافي ورونوته به ثلث ورکول کيږي او حقيقي ورونه به محروم وي ځکه چې ترکه په ذوی الفروضو کې دهغو دحصصو مطابق په تقسيمولو سره ختم شوه نو حقيقي ورونوته هيڅ پاتي نه شول چې ورکول شي.

بَابُ الرَّدِ

داباب دردپه بيان کې دی

امام قدوری رحمه الله دذوی الفروضو،عصباتو اوحجب له بيانولووروسته اوس درد بيان شروع کړاوپه فرائضو کې رددعول ضددی ځکه چې په عول سره دذوی الفروضو حصي کميږي او اصل مسئله لوړيږي اوپه ردسره حصي ډيريږي او اصل مسئله کميږي.

(۲۹) وَالْفَاضِلُ عَنْ فَرْضِ ذَوِي السِّهَامِ إِذَا لَمْ يَكُنْ عَصَبَةٌ مَرْدُوْدٌ عَلَيْهِمْ بِمِقْدَارِ سِهَامِهِمْ إِلَّا عَلَى الزَّوْجَيْنِ

ترجمه: او څه چې پاتي شي دذوی الفروضوله حصي څخه حال داچې عصبه نه وي نو هغه به بيرته راګرځي پرذوی الفروضودهغودحصو مطابق ماسواله زوجينو څخه.

تشريح: (۲۹)ذوی الفروضوته له حصي ورکولو وروسته چې څه مال پاتي شي نوکه عصبات نه وي نوپاتي شوی مال به هم همدي ذوی الفروضوته دهغودحصومطابق ورکول کيږي ماسواله خاونداوښځي څخه چې دهغودمقرره حصوڅخه وروسته پرهغوردنه کيږي ځکه چې درداستحقاق دنسبي قرابت په وجه سره وي لقوله تعالى ((وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ)(يعنی قرابت والايو دبل سره تراولري)حال داچې په زوجينو کې نسبي قرابت نشته.

(۳۰) وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ مِنَ الْمَقْتُوْلِ (۳۱) وَالْكُفْرُ كُلُّهُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ يَتَوَارَثُ بِهِ أَهْلُهُ وَلَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ

ترجمه: اوقاتل دمقتول وارث نه دی اوکفرټول يو ملت دی له همدي وجي اهل کفرپه خپل منځ کې وارثان دي اومسلمان دکافروارث نه شي کيدای اونه کافردمسلمان.

تشريح: (۳۰)قاتل که عاقل بالغ وي نوهغه دخپل مقتول قريب وارث نه شي جوړيدای مثلازوی پلارقتل کړنوزوی وارث نه دی .(۳۱)دکفرټول اقسام يومذهب شمارل کيږي لذاپه خپل منځ کې يودبل وارثان دي که څه هم دمختلفومذاهبو وي .اومسلمان دکافروارث نه شي کيدای اونه کافردمسلمان لاختلاف الملة وقدبيناذالک.

(۳۲) وَمَالُ الْمُرْتَدِّ لِوَرَثَتِهِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ (۳۳) وَمَا اكْتَسَبَهُ فِي حَالِ رِدَّتِهِ فَيْءٌ.

ترجمه: اودمرتدمال دهغه دمسلمان وارثانو دی اوکوم چې يې دردت په حالت کې ګټلی دی هغه غنيمت دی.

تشريح: (۳۲)دمرتدمال دهغه دمسلمانو وارثانو دی يعنی هغه مال کوم چې هغه داسلام په حالت کې ګټلی وي بيامرشوی وي ياقتل شوی وي ځکه چې دملک زوال دردت زماني ته منسوبيږي .(۳۳)اوکوم مال چې

هغه دمرتد کیدلو په حالت کې ګټلی وي هغه غنیمت دی ځکه چې مرتد مباح الدم دی نو په دې حالت کې دهغه ګټلی مال غنیمت دی کَمالِ الحَرَبِيّ.

(۳۴) وَإِذَا غَرِقَ جَمَاعَةٌ أَوْ سَقَطَ عَلَيْهِمْ حَائِطٌ فَلَمْ يُعْلَمْ مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ أَوَّلًا فَمَالُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ لِلْأَحْيَاءِ مِنْ وَرَثَتِهِ.

ترجمه: او که یو جماعت (ټولی) ډوب شو یا پر هغو دیوال راونړید او دا معلومه نه شو چې په هغوکې کوم یو لومړی مړ شوی دی نو دهر کس مال به دهغه ژوندي وارث ته ورکول کیږي.

تشریح: (۳۵) که ډیر قریبان په ډوبیدلو یا د دیوال په نړیدلو سره مړه شول او دا معلومه نه وه چې په هغوکې لومړی کوم یو مړ شوی دی نو دهر کس مال به دهغه ژوندي وارث ته ورکول کیږي په مړه شویو کې ځینې دځینو وارثان نه دي له دې وجې چې دا معلومه نه ده چې په هغوکې کوم یو لومړی مړ شوی دی نو ویل کیږي - چې ټول په یو وخت مړه شوي دي او کله چې په یو وخت مړه شوي دي نو ځینې دځینو نو وارثان نه شي ګرځول کیدای ځکه چې داستحقاق ارث لپاره حیات وارث بعد موت المورث شرط دی.

(۳۶) وَإِذَا اجْتَمَعَ فِي الْمَجُوسِيِّ قَرَابَتَانِ لَوْ تَفَرَّقَتْ فِي شَخْصَيْنِ وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَعَ الْآخَرِ وَرِثَ بِهِمَا (۳۷) وَلَا يَرِثُ الْمَجُوسِيُّ بِالْأَنْكِحَةِ الْفَاسِدَةِ الَّتِي يَسْتَحِلُّونَهَا فِي دِينِهِمْ.

ترجمه: او که په مجوسي کې دوه داسې قرابتونه سره جمع شول چې که هغه دواړه په دوو متفرقو کسانو کې وای نو یو له هغه بل سره وارث کیدای شو ای نو وارث کیږي ددې دواړو په وجه سره او مجوث وارثان نه دي دهغو فاسدو نکاحو په وجه سره کومې چې هغوئ په خپل دین کې حلالې ګڼي.

تشریح: (۳۶) که دیوه مجوسي دوه داسې قرابتونه سره جمع وي چې که هغه په دوو متفرقو کسانو کې وای نو یو به له هغه بل سره وارث کیدونو ددې دوو قرابتو په وجه سره مجوسي هم وارث ګرځي ځکه چې په مسلمانانو کې همدا رنګ ده چې په چاکې دوه قرابته حاصل وي نو ددواړو په ذریعه سره وارث ګرځي مثلا دمیت ابن العم که دهغه اخیافي ورور هم وي نو ددواړو قرابتونو په وجه سره دمیراث مستحق دی کما مر. (۳۷) مجوسیانو ته دهغو دفاسدو نکاحو کومې چې هغوئ په خپل دین کې حلالې ګڼي میراث نه ورکول کیږي ځکه چې فاسده نکاح په مسلمانانو کې تو ارث نه ثابتوي نو په مجوسو کې یې هم نه ثابتوي.

(۳۸) وَعَصَبَةُ وَلَدِ الزِّنَى وَوَلَدِ الْمُلَاعِنَةِ مَوْلَى أُمِّهِمَا (۳۹) وَمَنْ مَاتَ وَتَرَكَ حَمْلًا وُقِفَ مَالُهُ حَتَّى تَضَعَ امْرَأَتُهُ حَمْلَهَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ.

ترجمه: او ولد الزنا او لعان کونکي ښځې دولد عصبات دهغوئ دواړو د مور مولی دی او کوم کس چې مړ شو او هغه حمل پریښو دنو دمیت مال به دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد موقوف پاتې کیږي ترڅو چې دا ښځه وضع حمل وکړي.

تشریح: (۳۸) دولد الزنا او لعان کونکي ښځې دولد عصبات دهغوئ دواړو د مور مولی دي ځکه چې هغو لره نسب من قبل الاب ثابت نه دی لهذا دهغو ولاء به دمولی الام وي. او له مولی څخه معتق او عصبات الام دواړه مراد دي ترڅو حرة الاصل ته هم شامل شي. (۳۹) که دمیت ښځه حامله وي نو دمیت مال به دامام ابو حنیفه

رحمه الله په نزد موقوف پاتي کيږي ترڅو چې دا ښځه وضع حمل وکړي ترڅو د تقسيم د فسخ کولو ضرورت پاتي نه شي .

(۴۰) وَالْجَدُّ أَوْلَى بِالْمِيرَاثِ مِنَ الْإِخْوَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يُقَاسِمُهُمْ إِلَّا أَنْ تَنْقُصَهُ الْمُقَاسَمَةُ مِنَ الثُّلُثِ.

ترجمه: او نيکه په ميراث کې له ورونو څخه مقدم دی د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد او صاحبين فرمايي چې نيکه به له ورونو سره برابره حصه اخلي مګر دا چې په تقسيم کې هغه ته تر ثلث کمه حصه ورسيږي .

تشريح: (۴۰) په ميراث کې د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد نيکه پر ورونو مقدم دی ځکه چې نيکه د اب په منزله کې دی او د صاحبينو په نزد به نيکه ته د ورونو سره برابره حصه ورکول کيږي مګر دا چې په برابر تقسيم کولو کې هغه ته له ثلث څخه کمه حصه رسيدله نو نيکه ته به ثلث ورکول کيږي او باقي به په اخوة او اخواتو تقسيميږي .

(۴۱) وَإِذَا اجْتَمَعَتِ الْجَدَّاتُ فَالسُّدُسُ لِأَقْرَبِهِنَّ (۴۲) وَيَحْجُبُ الْجَدُّ أُمَّهُ (۴۳) وَلَا يَرِثُ أُمُّ أَبِ الْأُمِّ بِسَهْمٍ (۴۴) وَكُلُّ جَدَّةٍ تَحْجُبُ أُمَّهَا.

ترجمه: او که څو ناګاني سره جمع شي نو شپږمه حصه به د هغو اقربې لره وي او نيکه خپله مور محجوبوي او د نيکه (د مور پلار) مور د هيڅ حصې وارثه هم نه ده او هره انا خپله مور محجوبوي .

تشريح: (۴۱) که د يو ميت جدات صحيحات متفاوتات في الدرجه سره جمع شي نو په هغو کې چې کومه يوه تر ټولو ډيره قريبه وي هغه ته به سدس ورکول کيږي اتي که له هره جهته وي . (۴۲) او نيکه خپله مور محجوبوي . (۴۳) د نيکه (د مور پلار) مور وارثه نه ده ځکه چې دا جده فاسده ده او جدې فاسدې لره هيڅ حصه مقرره نشته . (۴۴) هره جده خپله مور محجوبوي ځکه چې جده او د هغې مور دواړه په يوه جهت سره د ميراث مستحقې دي نو قربي اولى دی کالام والجدة .

بَابُ ذَوِي الْأَرْحَامِ

دا باب د ذوی الارحامو په بيان کې دی

ارحام، د رحم جمع ده لغةً ذی رحم مطلقاً قريب ته ويل کيږي او په شريعت کې هغه قريب دی چې له ذوی الفروضو او عصباتو څخه نه وي .

(۴۵) وَإِذَا لَمْ يَكُنْ لِلْمَيِّتِ عَصَبَةٌ وَلَا ذُو سَهْمٍ وَرِثَهُ ذَوُو الْأَرْحَامِ (۴۶) وَهُمْ عَشَرَةٌ وَلَدُ الْبِنْتِ وَوَلَدُ الْأُخْتِ وَبِنْتُ الْأَخِ وَبِنْتُ الْعَمِّ وَالْخَالُ وَالْخَالَةُ وَأَبُو الْأُمِّ وَالْعَمُّ لِأُمٍّ وَالْعَمَّةُ وَوَلَدُ الْأَخِ مِنَ الْأُمِّ وَمَنْ أَدْلَى بِهِمْ فَأَوْلَاهُمْ مَنْ كَانَ مِنْ وَلَدِ الْمَيِّتِ ثُمَّ وَلَدُ الْأَبَوَيْنِ أَوْ أَحَدِهِمَا وَهُمْ بَنَاتُ الْإِخْوَةِ وَأَوْلَادُ الْأَخَوَاتِ ثُمَّ وَلَدُ أَبَوَيْ أَبَوَيْهِ أَوْ أَحَدِهِمَا وَهُمُ الْأَخْوَالُ وَالْخَالَاتُ وَالْعَمَّاتُ.

ترجمه: او که د ميت عصبات نه وي او ذوی الفروض وي نو د هغه وارثان به ذوی الارحام وي او هغه لس دي ،د لور اولاد ،او د خور اولاد او د ورور لور او اکا لور او ماما او خاله او نيکه (د مور پلار) او اخيافي اکا او عمه

اوداخيافي وروراولاداوهغه چې دددوئ په ذريعه سره دميت قريبان وي بياپه دوئ کې مقدم هغه دی کوم
چې ميت اولادوي بيادميت دموراوپلار ياپه دوئ دواړوکې ديوه اولادوي اوهغه وريري گاني
اودخويندواولادونه دي بيادميت دوالدينودوالدينواولادياپه دي دواړوکې ديوه اولادونه دي اوهغه
ماماگان اوخاله گاني اوعمي گاني دي.

تشريح:(۴۵)که دميت له عصباتواوذوی الارحاموڅخه يوڅوک نه وي نودهغه وارثان به ذوی الارحام وي ځکه چې ذوی الارحام له بيت المال څخه اولى بالميراث دي لقوله تعالى ()(يعنى قرابت والايوله بل سره تړاولري).

(۴۶)ذوی الارحام پرلس قسمه دي ./نمبر۱. دلوراولادونه ./نمبر۲. دخوراولادونه ./نمبر۳. دورورلور./نمبر۴. داکالور./نمبر۵. ماما./نمبر۶. خاله ./نمبر۷. نيکه (دمورپلار)./نمبر۸. اخيافي اکا./نمبر۹. عمهٔ ./نمبر۱۰. داخيافي وروراولادونه .اوهغه چې ددوئ په واسطه سره دميت قريبان وي لوجودالقرابة والرحم.

بيادذوی الارحاموتوريث دعصباتوپه څيردی لهذادميت اقرب فالاقرب به وارث وي لهذاله مذکوره لسوقسمونوڅخه ترټولومقدم هغه دی چې دميت اولادوي لکه لمسيان (دلوراولادونه)وان سفل ځکه لمسيان ترنوروږدميت ډيرقريبان دي بياهغه چې دميت دموراوپلار ياپه دوئ کې ديوه اولادوي اوهغه وريري گاني اودخويندواولادنودي يعنى داله اولادالجد(لکه عمي گاني)څخه مقدم دي بيادميت دوالدينو دوالدينوياپه دي دواړوکې ديوه اولادونه دي اوهغه ماماگان اوخالي گاني اوعمي گاني دي.

(۴۷)وَإِذَا اسْتَوَى وَلَدُ أَبٍ فِي دَرَجَةٍ فَأَوْلَاهُمْ مَنْ أَدْلَى بِوَارِثٍ (۴۸) وَأَقْرَبُهُمْ أَوْلَى مِنْ أَبْعَدِهِمْ (۴۹) وَابْنُ الْأُمِّ أَوْلَى مِنْ وَلَدِ الْأَخِ وَالْأُخْتِ (۵۰) وَالْمُعْتِقُ أَحَقُّ بِالْفَاضِلِ عَنْ سَهْمِ ذَوِي السِّهَامِ إِذَا لَمْ تَكُنْ عَصَبَةٌ سِوَاهُ.

ترجمه:اوکه دپلاراولادپه درجه کې سره برابروي نوپه هغوکې مقدم هغه دی کوم چې ديووراث په ذريعه
سره دميت قريب وي اوله هغوڅخه اقرب اولى دی ترابعداونيکه مقدم دی دوروراوخورله اولادڅخه
اومعتِق ډيرحقداردی دهغه کوم چې له سهم ذوی الفروض څخه باقي پاتي شي که له هغه څخه
ماسوانورعصبات نه وي.

تشريح:(۴۷)که دپلاراولادونه په درجه کې سره برابروي مګرځيني دوارث په واسطه سره دميت قريبان وي اوځيې بواسطه غيروارث قريبان وي نوکوم چې دوارث په واسطه سره دميت قريب وي هغه له نوروڅخه مقدم دي ځکه چې قرابت بواسطه وارث اقوی دی لکه بنت بنت البنت اوبنت بنت الابن نومال به ټول دبنت بنت الابن وي .(۴۸)که دپلاراولادونه په درجه کې سره برابرنه وي بلکه متفاوت وي نواقرب اولى دی ترابعدلکه بنت العمه اوبنت ابن العم نومال به ټول دبنت العمة وي لمامر.

(۴۹)نیکه (دمورپلار)وان علادوروراوخویندوپراولادمقدم دی پرعصباتوپه قیاسولوسره .(۵۰)ذوی الفروضوته له حصي ورکولووروسته چې څه باقي پاتي شي اوعصبات نه وي نودهغه حقدارپه نسبت ذوی الارحاموته ازادونکی دی ځکه چې معتِق له عصباتو څخه دی .

(۵۱)وَمَوْلَى الْمَوَالاتِ يَرِثُ۔

ترجمه:اومولی الموالات وارث دی .

تشریح:(۵۱)مولی المولات (مولی الموالات هغه دی کوم چې عقدموالات وکړي اوعقدموالات له دې څخه عبارت دی چې یوکس له بل سره دامعاهده وکړي چې ماکوم جنایت وکړنودهغه تاوان پرتاباندې دی اوکه زه مړشوم نوته به زماوارث یې)وارث دی .دامام مالک رحمه الله په نزددې کس میراث دعامومسلمانانولپاره دی .

(۵۲)وَإِذَا تَرَكَ الْمُعْتَقُ أَبَ مَوْلَاهُ وَابْنَ مَوْلَاهُ فَمَالُهُ لِلِابْنِ عِنْدَهُمَا وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ لِلْأَبِ السُّدُسُ وَالْبَاقِي لِلِابْنِ

(۵۳)فَإِنْ تَرَكَ جَدَّ مَوْلَاهُ وَأَخَا مَوْلَاهُ فَالْمَالُ لِلْجَدِّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ هُوَ بَيْنَهُمَا

ترجمه:اوکه کوم ازادشوي دخپل ازادونکي پلاراوزوی پريښودل نودطرفينوپه نزددهغه مال دزوی دی اوامام ابویوسف رحمه الله فرمایي پلارلره سدس دی اوباقي دابن دی اوکه یې دمعتِق نیکه اودهغه یووروروپريښودل نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدمال دنیکه دی اوصاحبین فرمایي چې هغه ددواړودی .

تشریح:(۵۲)که کوم ازادشوي دخپل ازادونکي پلاراوزوی پريښودل یعنی ازادونکی وړاندې لامړشوی وي اواوس دهغه پلاراوزوی موجوددی نودطرفینوپه نزددهغه مال صرف دزوی دی ځکه چې ولاء العتاقه عصبه ده اوابن له اب څخه په عصبه والی کې مقدم دی .امام ابویوسف رحمه الله فرمایي چې پلارته به سدس ورکول کیږي اوباقي به دابن وي اعتبارابالارث.

(۵۳)که ازادشوي دمعتِق نیکه اودهغه یووروروپريښودل نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدمال دنیکه دی اوصاحبین فرمایي چې په دواړوبه برابرتقسیمیږي وجه داده چې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدله نیکه سره وروروارث نه وي اودصاحبینوپه نزدورورله نیکه سره په میراث کې شریک وي .

(۵۴)وَلَا يُبَاعُ الْوَلَاءُ وَلَا يُوهَبُ۔

ترجمه:اوولاء نه خرڅیږي اونه هبه کیږي .

تشریح:(۵۴)دولاء خرڅول اوهبه کول جائزنه دي لحديث ابن عمرؓ قال نهی رسول الله ﷺ عن بيع الولاء وعن هبته(یعنی نبی کریم ﷺ دولاء له خرڅولواوهبه کولوڅخه منع کړي ده).

بَابُ حِسَابِ الْفَرَائِضِ

دا باب دحساب الفرائض په بیان کې دی

په دي باب کې دتصحيح مسائل اوتقسيم الفروض څه اصول ذکرشوي دي .په قرآن مجيدکې چې کومې فرض حصې مذکوري دي هغه شپږدي ،نصف،ربع ،ثمن ،ثلث ،سدس ،ددغودمخارجوتفصيل دادی چې دنصف لپاره مخرج دوه دي اودربع څلوراودثمن آته اودثلث اوثلثان دري اودشپږولپاره مخرج دشپږوعدددی.

(۵۵)وَاِذَاكَانَ فِي الْمَسْءَلَةِ نِصْفٌ وَنِصْفٌ اَوْ نِصْفٌ وَمَابَقِيَ فَاَصْلُهَامِنْ اِثْنَيْنِ (۵۶)وَاِنْ كَانَ فِيْهَاثُلُثٌ وَمَابَقِيَ اَوْ ثُلُثَانِ وَمَابَقِيَ فَاَصْلُهَامِنْ ثَلٰثَةٍ (۵۷)وَاِنْ كَانَ فِيْهَارُبُعٌ وَمَابَقِيَ اَوْرُبُعٌ وَنِصْفٌ فَاَصْلُهَامِنْ اَرْبَعَةٍ (۵۸)وَاِنْ كَانَ فِيْهَاثُمُنٌ وَمَابَقِيَ اَوْثُمُنٌ وَنِصْفٌ فَاَصْلُهَامِنْ ثَمَانِيَةٍ (۵۹)وَاِنْ كَانَ فِيْهَانِصْفٌ وَثُلُثٌ اَوْنِصْفٌ وَسُدُسٌ فَاَصْلُهَامِنْ سِتَّةٍ (۶۰)وَتَعُوْلُ اِلٰى سَبْعَةٍ وَثَمَانِيَةٍ وَتِسْعَةٍ وَعَشَرَةٍ۔

ترجمه:اوکه په مسئله کې دوه نصفه وي يايونصف وي اويومابقي وي نوددي اصل مسئله به له دووڅخه جوړيږي اوکه په مسئله کې ثلث اومابقي وي ياثلثان اومابقي وي نو اصل مسئله به له دروڅخه جوړيږي اوکه په مسئله کې ربع اومابقي وي ياربع اونصف وي نوددي اصل مسئله به له څلوروڅخه جوړيږي اوکه په مسئله کې ثمن اومابقي وي ياثمن اونصف وي نو اصل مسئله به له آتوڅخه جوړيږي اوکه په مسئله کې نصف اوثلث وي يانصف اوسدس وي نو اصل مسئله به له شپږوڅخه جوړيږي اوداعول کوي تراوو،اتو ،نهواولسوپوري .

تشريح:(۵۵)که په مسئله کې دوه نصفه وي مثلاوارثان زوج اويوه حقيقي ياعلاتي خوروي اويايونصف وي اويومابقي وي مثلاوارثان يوه لوراويوه حقيقي ياعلاتي خوروي نواصل مسئله به دووڅخه جوړيږي .دنصف اومابقي صورت دادی مثلاښځې خاوندپريښودنوهغه ته به دحصي په ډول سره نصف ورکول کيږي اوڅه چې باقي پاتي شي هغه به اکاته دعصبيت په وجه ورکول کيږي .(۵۶)که په مسئله کې ثلث اومابقي وي مثلاوارثان موراوحقيقي ياعلاتي وروروي ياپه مسئله کې ثلثان اومابقي وي مثلاپه وارثانوکې دوه لوراني اواکاوي نواصل مسئله به له دروڅخه جوړيږي .(۵۷)که په مسئله کې ربع اومابقي وي مثلاوارثان زوجه اواکاوي ياپه مسئله کې ربع اونصف وي مثلاوارثان زوج اوبنت وي نواصل مسئله به له څلوروڅخه جوړيږي .(۵۸)که په مسئله کې ثمن اومابقي وي مثلاورثه زوجه اوابن وي اوپه مسئله کې ثمن اونصف وي مثلاورثه زوجه اوبنت وي نواصل مسئله به له اتوڅخه جوړيږي .

(۵۹)که په مسئله کې نصف اوثلث وي مثلاورثه ام اواخت حقيقي وي اوياپه مسئله کې نصف اوسدس وي مثلاورثه ام اوبنت وي نواصل مسئله به له شپږوڅخه جوړيږي .(۶۰)دشپږوعول دضرورت پروخت ترلسوپوري کيدای شي .دعول مطلب دادی چې که له اصل مسئلي څخه ټولووارثانوته پوره پوره حصه نه شوای رسيدلای نودضرورت په اندازه به اصل مسئله لوړيږي مثلاکه خاونداودوه خويندي وارثان وي نوخاوندته نصف اوخويندوته به دوه ثلثه ورکول کيږي اوپه دي صورت کې به مسئله له شپږوڅخه جوړيږي

دشپږو نصف دري او دوه ثلثه يې څلور کيږي لهذا ضرورت په وجه به يې عول او وته کيږي على هذا القياس دشپږو عول ترلسو پوري کيدای شي.

(۶۱) وَإِنْ كَانَ مَعَ الرُّبُعِ ثُلُثٌ أَوْ سُدُسٌ فَأَصْلُهَا مِنْ اِثْنَي عَشَرَ (۶۲) وَتَعُولُ إِلَى ثَلَاثَةَ عَشَرَ وَخَمْسَةَ عَشَرَ وَسَبْعَةَ عَشَرَ (۶۳) وَإِذَا كَانَ مَعَ الثُّمُنِ سُدُسَانِ أَوْ ثُلُثَانِ فَأَصْلُهَا مِنْ أَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ (۶۴) وَتَعُولُ إِلَى سَبْعَةٍ وَعِشْرِينَ.

ترجمه: او که له ربع سره يو ثلث يا سدس وي نو اصل مسئله به له دولسو څخه جوړيږي او عول کوي تر ديارلسو، پنځلسو او اولسو پوري او که له ثمن سره دوه سدسه يا دوه ثلثه وي نو اصل مسئله به له څلرويښتو څخه جوړيږي او عول کوي تر اوويشتو پوري.

تشریح: (۶۱) که په مسئله کې له بع سره يو ثلث يا يو سدس وي نو اصل مسئله به له دوولسو څخه جوړيږي او عول يې ترديارلسو، پنځلسو او اولسو پوري کيدای شي مثلا دميت ورثه زوج، اخوات عينيه ذی عدد او ام وي نو مسئله له دوولسو څخه جوړيږي زوجي ته دري او اخواتو ته اته ام ته دري حصي ورکول کيږي. (۶۲) مسئله عوليه ده او عول يې ديارلس دی همدارنګه که وارثان زوجه، اختان عينيه او دوه په مور شريکې خويندي وي نو مسئله له دولسو څخه جوړيږي زوجي ته دري او اختان عينيه ته اته او مور شريکو خويندو ته څلور حصي ورکول کيږي مسئله عوليه ده او عول يې پنځلس دی. همدارنګه که ورثه زوجه، اختان عينيه ،دوه په مور شريکې خويندي او ام وي نو مسئله له دوولسو څخه جوړيږي زوجي ته دري، اختان عينيه ته اته ،مور شريکو خويندو ته څلور او مور ته دوه حصي ورکول کيږي مسئله عوليه ده او عول يې اوولس دي.

(۶۳) که په اصل مسئله کې له ثمن سره سدسان يا ثلثان وي نو اصل مسئله له څلرويشتو څخه جوړيږي. (۶۴) چې عول يې صرف اوويشت کيدای شي لکه ورثه چې زوجه ،بنتان ،اب او ام وي نو مسئله له څلرويشتو څخه جوړيږي زوجي ته ري ،بنتانو ته شپاړس ،اب ته څلور او ام ته څلور حصي ورکول کيږي مسئله عوليه ده او عول يې اوويشت دی.

(۶۵) فَإِنِ انْقَسَمَتِ الْمَسْئَلَةُ عَلَى الْوَرَثَةِ فَقَدْ صَحَّتْ وَإِنْ لَمْ تَنْقَسِمْ سِهَامُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ عَلَيْهِمْ فَاضْرِبْ عَدَدَهُمْ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ (۶۶) وَعَوْلِهَا إِنْ كَانَتْ عَائِلَةً فَمَا خَرَجَ صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْئَلَةُ كَامْرَأَةٍ وَأَخَوَيْنِ لِلْمَرْأَةِ الرُّبُعُ سَهْمٌ وَلِلْأَخَوَيْنِ مَا بَقِيَ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ لَا تَنْقَسِمُ عَلَيْهِمَا فَاضْرِبْ اِثْنَيْنِ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ فَتَكُونُ ثَمَانِيَةً وَمِنْهَا تَصِحُّ الْمَسْئَلَةُ.

ترجمه: او که اصل مسئله پر وارثانو بلا کسره پوره پوره تقسیم شي نو دا مسئله صحيح ده او که په وارثانو کې ديوه فريق حصي پر هغو پوره پوره نه تقسيميدلي نو د هغه فريق عدد ته به په اصل مسئله کې ضرب ورکول شي او په عول کې به ضرب ورکول شي که مسئله عائله وي نو کوم چې حاصل ضرب راووځي له هغه څخه به مسئله صحيح شي لکه چې وارثان ښځه او دوه ورونه پريږدي نو ښځې ته به ربع د سهم په ډول ورکول شي او دووورونو ته به پاتي دري حصي ورکول شي کومي چې پر هغو نه تقسيميږي نو دوه به په اصل مسئله کې ضرب کړای شي نو دا به اته شي او له دي څخه به مسئله صحيح شي.

تشريح:(۶۵)که اصل مسئله پر وارثانو پوره پوره بلاکسره تقسیم شي نودامسئله صحیح ده په دي کې دعول وغیره ضرورت نشته ځکه چې مقصود حاصل شوچې دسهامو دکسربغیرانقسام صحیح شواوکه په وارثانوکې دکوم فریق حصي پرهغوپوره پوره نه تقسیمیدلي نودهغه فریق عددته به په اصل مسئله کې ضرب ورکول شي نوځه چې حاصل ضرب وي له هغه ځخه به مسئله صحیح شي .

(۶۶)اوکه مسئله عائله وي نوپه عول کې به ضرب ورکول شي نوځه چې حاصل ضرب وي له هغه ځخه مسئله صحیح جوړیږي حاصل ضرب ته تصحیح ویل کیږي مثلاً چاوارثان یوه زوجه اودوه ورونه وي نواصل مسئله له ځلورو ځخه جوړیږي چې په هغه کې دزوجي سهم یوه ربع ده اوباقي یعنی دري حصي ددووورونودي اودادري حصي پردي دووورونوصحیح نه تقسیمیږي نودهغوعددرؤس یعنی دووته به اصل مسئله کې ضرب ورکول شي نودااته کیږي اوله دي ځخه مسئله صحیح جوړیږي چې زوجي ته به دوه حصي اوهرورورته به دري دري حصي ورکول شي .

(٦٧)وَإِنْ وَافَقَ سِهَامُهُمْ عَدَدَهُمْ فَاضْرِبْ وَفْقَ عَدَدِهِمْ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ كَامْرَأَةٍ وَسِتَّةِ إِخْوَةٍ لِلْمَرْأَةِ الرُّبُعُ وَلِلْإِخْوَةِ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ لَا تَنْقَسِمُ عَلَيْهِمْ فَاضْرِبْ ثُلُثَ عَدَدِهِمْ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ وَمِنْهَا تَصِحُّ.

ترجمه: اوکه دوارثانو دسهامو اودهغوپه اعدادوکې دتوافق نسبت وي نودهغووفق ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه لکه چې وراثان یوه ښځه اوشپږورونه وي نوښځې لره ربع اوورونولره دري سهامه دي کوم چې پرهغوپوره پوره نه تقسیمیږي نودهغوثلث عدد (یعنی دوو) ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه له کوم ځخه چې مسئله صحیح شي .

تشريح:(۶۷)که دوارثانوپه سهامواودهغوپه اعدادوکې دتوافق نسبت وي نودهغووفق ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه که مسئله عادله وي اوپه عول کې ضرب ورکړه که مسئله عائله وي مثلایوه ښځه اوشپږورونه وي اصل مسئله له ځلورو ځخه جوړیږي نویوه ربع دزوجي ده اوپاتي دري سهمه دورونودي کوم چې پرهغوبلاکسره نه شي تقسیمیدلای اوپه شپږواودروکې دتوافق نسبت دی نودشپږووفق یعنی دووته به په اصل مسئله کې ضرب ورکووچې په دي سره مسئله صحیح ګرځي .

(٦٨)وَإِنْ لَمْ تَنْقَسِمْ سِهَامُ فَرِيقَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ فَاضْرِبْ أَحَدَ الْفَرِيقَيْنِ فِي الْآخَرِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي الْفَرِيقِ الثَّالِثِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ

ترجمه: که ددووفریقویاله دي ځخه دزیاتوحصي برابري نه تقسیمیدلي نوله فریقینو ځخه یوه ته په هغه بل کې ضرب ورکړه بیاحاصل ضرب ته ددریم فریق په عدد کې ضرب ورکړه بیاحاصل ضرب ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه .

تشريح:(۶۸)که کسرپه دوویازیاتوفریقوکې واقع وویعنی دوه یاله دي ځخه دزیاتوفریقوسهام پرهغوپوره پوره نه تقسیمیدلي نوکه په دواړوعددونوکې تبائن وي نودیوه فریق درؤسو عددته په دهغه بل فریق درؤسوپه عدد کې ضرب ورکړه بیاحاصل ضرب ته ددریم فریق درؤسوپه عدد کې ضرب ورکړه بیادي

اخيري حاصل ضرب ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه له حاصل ضرب څخه به مسئله صحيح شي مثلاً وراثان دوي ښځې دري جداتي اوپنځه ورونه دي ښځولره ربع اوجداتولره سدس اوباقي پاتي دورنوده اصل مسئله له دوولسو څخه جوړيږي بيا ښځوته دري حصي ورکول کيږي نوپه دي کې کسردی ځکه چې دري پردووباندي صحيح نه تقسيميږي اودهغونسبت دتوافق نه دی اوجداتوته دوه حصي ملاويږي په دي کې هم کسردی ځکه چې جداتي دري دي اودلته هم نسبت توافق نشته اوورونوته اوه حصي ملاويږي په دي کې هم کسردی ځکه چې ورونه پنځه دي اوددغوپه منځ کې هم دتوافق نسبت نشته نودزوجاتوعدديعنی دووته به دجداتوپه عدديعنی دريوکې ضرب ورکول شي حاصل ضرب به شپږشي بياشپږوته داخوة په عدديعنی پنځوکې ضرب ورکړه حاصل ضرب به ديرش شي بياهغه په اصل مسئله يعنی دوولسوکې ضرب کړه حاصل ضرب به دري سوه شپيته شي چې له دي څخه مسئله صحيح کرځي.

بياکله چې تقسيم کوي نوله اصل مسئلې څخه چې چاته څومره رسيدلي وي هغه ته به په هغه حاصل ضرب کې ضرب ورکول شي کوم ته چې په اصل مسئله کې ضرب ورکول شوی دی مثلاً زوجينوته دري حصي له اصل مسئلي څخه رسيدلي وي هغوته په ديرشوکې ضرب ورکړه حاصل ضرب به نيوي شي نوهري ښځې ته به پنځه څلويشت حصي ورسيږي هکذاالی اخره.

(٦٩)فَإِنْ تَسَاوَتِ الْأَعْدَادُ أَجْزَأَ أَحَدُهُمَا عَنِ الْآخَرِ كَامْرَأَتَيْنِ وَأَخَوَيْنِ فَاضْرِبِ اثْنَيْنِ فِي أَصْلِ الْمَسْأَلَةِ(٧٠)وَإِنْ كَانَ أَحَدُ الْعَدَدَيْنِ جُزْءًا مِنَ الْآخَرِ أَغْنَى الْأَكْثَرُ عَنِ الْأَقَلِّ كَأَرْبَعِ نِسْوَةٍ وَأَخَوَيْنِ إِذَا ضَرَبْتَ الْأَرْبَعَةَ أَجْزَأَكَ عَنِ الْأَخَوَيْنِ.

ترجمه: که ددواړوفريقواعدادمساوي وي نوله هغوڅخه يوله هغه بله کفايت کوي لکه چې دوه ښځې اودوه ورونه وارثان وي نودووته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه اوکه يوعدددهغه بل عددجزء وي نوصرف لوی عددته ضرب ورکول کافي دی لکه څلورښځې اودوه ورونه چې وارثان وي نوکله چې څلوروته په اصل مسئله کې ضرب ورکړي نوداستاليپاره کافي دی له باقي دووڅخه.

تشريح:(٦٩)که ددواړوفريقواعدادمساوي وي نوله هغوڅخه يوه ته په هغه بل کې دضرب ورکولو ضرورت نشته مثلاًدوه ښځې اودوه ورونه وارثان وي نودووته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه په دي صورت کې اصل مسئله له څلوروڅخه جوړيږي له کوم څخه چې يوه ربع يعنی يوسهم ددواړوښځودی کوم چې پرهغوصحيح نه تقسيميږي اوباقي دري سهمه ددووورونودي داهم پرهغوپوره نه تقسيميږي نودووته په اصل مسئله کې يعنی څلوروکې ضرب ورکړه نواصل مسئله به له اتوڅخه شي له هغه څخه به دوه سهمه ددواړوښځواوشپږسهمه دواړوورونوته ورکول شي.

(٧٠)که ديوه فريق عدددهغه بل فريق دعددجزء وي نوصرف لوی عددته ضرب ورکول کافي دی مثلاًڅلورښځې اودوه ورونه واثان دي نوکله چې څلوروته په اصل مسئله کې ضرب ورکړي نوداکافي دی دووته په اصل مسئله کې دضرب ورکولوضرورت نشته.

(۷۱) وَإِنْ وَافَقَ أَحَدُ الْعَدَدَيْنِ الْآخَرَ ضَرَبْتَ وَفْقَ أَحَدِهِمَا فِي جَمِيعِ الْآخَرِ ثُمَّ مَا اجْتَمَعَ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ كَأَرْبَعِ نِسْوَةٍ وَأَخٍ وَسِتَّةِ أَعْمَامٍ فَالسِّتَّةُ تُوَافِقُ الْأَرْبَعَةَ بِالنِّصْفِ فَاضْرِبْ نِصْفَ أَحَدِهِمَا فِي جَمِيعِ الْآخَرِ ثُمَّ فِي أَصْلِ الْمَسْئَلَةِ فَتَكُوْنُ ثَمَانِيَةً وَأَرْبَعِيْنَ وَمِنْهَا تَصِحُّ الْمَسْئَلَةُ فَإِذَا صَحَّتِ الْمَسْئَلَةُ فَاضْرِبْ سِهَامَ كُلِّ وَارِثٍ فِي التَّرِكَةِ ثُمَّ اقْسِمْ مَا اجْتَمَعَ عَلَى مَا صَحَّتْ مِنْهُ الْفَرِيْضَةُ يَخْرُجُ حَقُّ ذَالِكَ الْوَارِثِ

ترجمه: که ديوه عدد له هغه بل سره د توافق نسبت وي نو ديوه وفق ته د هغه بل په کل کې ضرب ورکړه بيا حاصل ضرب ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه مثلا وارثان څلور ښځې يوه خور او شپږ اکاگان وي نو په شپږو او څلورو کې توافق بالنصف دی نو له دي دواړو څخه ديوه نصف ته د هغه بل په کل کې ضرب ورکړه بيا په اصل مسئله کې ضرب ورکړه نو اته څلويشت شي او له دي څخه مسئله صحيح گرځي بيا کله چې مسئله صحيح شي نو د هر وارث سهامو ته په ترکه کې ضرب ورکړه بيا حاصل ضرب پر هغه تقسيم کړه له کوم څخه چې مسئله صحيح شوي ده نو د هغه وارث حق به راووځي.

تشريح: (۷۱) که د دواړو فريقو په عددونو کې د توافق نسبت وي نو ديوه وفق ته د هغه بل په کل کې ضرب ورکړه حاصل ضرب ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه مثلا وارثان څلور ښځې يوه خور او شپږ اکاگان دي نو اصل مسئله له څلورو څخه جوړيږي له څلورو څخه يو سهم څلورو ښځوته ورکول کيږي کوم چې پر هغو صحيح نه تقسيميږي او خورته دوه سهمه ورکول کيږي او اعماموته يو سهم کوم چې پر هغو صحيح نه تقسيميږي نو په دوو فرقو کې کسر دی يعنی په څلورو زوجاتو او شپږو اعمامو کې او په شپږو او څلورو کې توافق بالنصف دی نو له دي دواړو څخه ديوه نصف ته د هغه بل په کل کې ضرب ورکړه حاصل ضرب ته په اصل مسئله کې ضرب ورکړه نو اته څلويشت به شي چې په هغه سره به دا مسئله صحيح شي.

بيا چې کله مسئله په مذکوره بالا طريقو سره صحيح شي او ستاد هر يوه وراث خاص حصه معلومول په کار وي او ترکه دراهم او دنانير وي نو له تصحيح څخه وروسته چې هر وارث ته کومه حصه رسيدلي ده هغي ته په کل ترکه کې ضرب ورکړه بيا حاصل ضرب په هغه عدد باندي تقسيم کړه په کوم چې مسئله صحيح شوي ده نو له دي څخه به د هر وارث حصه راووځي مثلا په مذکوره بالا مسئله کې مو د ترکه شپږنيوي روپۍ فرض کړو او له زوجاتو څخه هري يوي ته له تصحيح څخه وروسته دري سهام رسيدلي نو دروته په شپږنيوي کې له ضرب ورکولو څخه دوه سوه اته اتيا حاصل جوړيږي بيا دوه سوه اته اتيا په اته څلويشتو په تقسيميولو سره حاصل تقسيم شپږ راووځي او همدا شپږ روپۍ ديوي زوجي حصه ده همدا باقي وارثانو د حصو د معلومولو طريقه ده.

(۷۲) وَإِنْ لَمْ تُقْسَمِ التَّرِكَةُ حَتَّى مَاتَ أَحَدُ الْوَرَثَةِ فَإِنْ كَانَ مَا يُصِيْبُهُ مِنَ الْمَيِّتِ الْأَوَّلِ يَنْقَسِمُ عَلَى عَدَدِ وَرَثَتِهِ فَقَدْ صَحَّتِ الْمَسْئَلَتَانِ مِمَّا صَحَّتِ الْأُوْلَى (۷۳) وَإِنْ لَمْ يَنْقَسِمْ صَحَّتْ فَرِيْضَةُ الْمَيِّتِ الثَّانِيْ بِالطَّرِيْقَةِ الَّتِيْ ذَكَرْنَاهَا ثُمَّ ضَرَبْتَ إِحْدَى الْمَسْئَلَتَيْنِ فِي الْأُخْرَى إِنْ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ سِهَامِ الْمَيِّتِ الثَّانِيْ وَمَا صَحَّتْ مِنْهُ فَرِيْضَتُهُ مُوَافَقَةٌ (۷۴) فَإِنْ كَانَتْ سِهَامُهُمْ مُوَافَقَةً

فَاضْرِبْ وَفْقَ الْمَسْءَلَةِ الثَّانِيَةِ فِي الْأُوْلَى فَمَا اجْتَمَعَ صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْءَلَتَانِ وَ كُلُّ مَنْ لَهُ شَيْءٌ مِنَ الْمَسْءَلَةِ الْأُوْلَى مَضْرُوْبٌ فِيْمَا صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْءَلَةُ الثَّانِيَةُ وَمَنْ كَانَ لَهُ شَيْءٌ مِنَ الْمَسْءَلَةِ الثَّانِيَةِ مَضْرُوْبٌ فِي وَفْقِ تَرِكَةِ الْمَيِّتِ الثَّانِي.

ترجمه: که د میت ترکه لا تقسیم شوي نه وه چې یو وارث مړشونو که د میت ثانی هغه حصه کومه چې له میت اول څخه هغه ته رسیدلي وه د هغه د وارثانو پر عدد باندي پوره پوره تقسیم شي نو دا دواړه مسئلي به له هغه عدد څخه صحیح کیږي له کوم څخه چې لومړی مسئله صحیح شوي ده او که د میت ثانی حصه د هغه د وارثانو پر عدد باندي صحیح تقسیم نه شوه نو دا مسئله هم په هغه طریقه سره صحیح کیږي کوم چې موږ اوس بیان کړیا به یوي مسئلي ته به هغه بله کې ضرب ورکړل شي که د میت ثاني په سهاما او له کوم څخه چې مسئله صحیح شوي ده تر منځ توافق نه وي ،او که د هغه په سهامو کې موافقت وي نو د دوهمي مسئلي وفق ته به په لومړی مسئله کې ضرب ورکړل شي کوم چې حاصل ضرب راشي له هغه څخه به دواړه مسئلي صحیح شي او هر هغه وارث کوم ته چې له لومړی مسئلي څخه څه ملاوشوي دي له هغه سره به ضرب ورکړل شي له کوم څخه چې د وهمه مسئله صحیح شوي ده او چاته چې له دوهمي مسئلي څخه څه ملاوشوي دي هغه به د میت ثاني په وفق کې ضرب کړای شي .

تشریح:(۷۲) که د میت ترکه لا تقسیم شوي نه وه چې یو وارث مړشونو که د میت ثانی هغه حصه کومه چې له میت اول څخه هغه ته رسیدلي وه د هغه د وارثانو پر عدد باندي پوره پوره تقسیم شي نو دا دواړه مسئلي به له هغه عدد څخه صحیح کیږي له کوم څخه چې لومړی مسئله صحیح شوي ده دکوم بل عمل ضرورت نشته مثلا وارثان یو ابن او یوه بنت وي د ترکي تر تقسیم مخکي ابن مړشو دوه زامن وارثان یې پریښودل نو لومړی مسئله له دریو څخه جوړیږي له کوم څخه چې دوه سهمه ابن ته او یو سهم بنت ته ملاویږي نو څه چې له میت اول څخه میت ثاني ته رسیدلي دي هغه د هغه پر وارث باندي صحیح تقسیمیږي لهذا دواړه مسئلي به له دریو څخه جوړیږي .(۷۳) که د میت ثانی حصه د هغه د وارثانو پر عدد باندي صحیح نه تقسیمیدله نو ددي مسئلي تصحیح به هم په هغه طریقه سره کیږي کوم چې موږ اوس بیان کړه .بیا که د میت ثاني په سهامو او مسئله کې نسبت توافق نه وي نو د میت ثانی مسئلي ته به د میت اول په مسئله کې ضرب ورکړل شي .(۷۴) او که د میت ثاني په سهامو او مسئله کې توافق وي نو د میت ثانی د مسئلي وفق ته به په لومړی مسئله کې ضرب ورکړل شي کوم چې حاصل ضرب راشي له هغه څخه به دواړه مسئلي صحیح شي مثلا وراثان زوج یو ابن او ابوین وي بیا تر تقسیم مخکي ابن مړشو وارثان یې زوی ،پلار او انا پریښودل نو لومړی مسئله له دوولسو څخه جوړیږي زوج ته دري ابوینو ته څلور او ابن ته پنځه حصي رسیږي او دوهمه مسئله له شپږو څخه جوړیږي او له میت اول څخه د ابن حصي پنځه دي نو په مسئله او سهامو کې تبائن دی لهذا دوهمي مسئلي یعنی شپږو ته به اولي یعنی دوولسو کې ضرب ورکړل شي حاصل ضرب دوا ویا (۷۲) جوړیږي په دي سره دواړه مسئلي صحیح کیږي .

بياديوه وراث دحصي معلو مولو طريقه داده چې کوم وارث ته چې له لومړۍ مسئلي څخه څه رسيدلي وي هغو سهاموته به ددوهمي مسئلي په وفق کې ضرب ورکړل شي که نسبت دتوافق وي اوپه کل مسئله کې به ضرب ورکړل شي که دتبائن نسبت وي اوچاته چې له دوهمي مسئلي څخه څه رسيدلي وي هغه ته به دميت ثاني دترکي (مافي اليد)په وفق (که دتوافق نسبت وي)ياپه کل ترکه (که دتبائن نسبت وي)کې ضرب ورکړل شي مثلاپه مذکوره بالامثال کې څرنګه چې دتبائن نسبت دی اومسئله ثاني له شپږو څخه جوړه ده نوشپږبه رااخلي اودميت اول دوارثانوپه سهاموکې به ضرب ورکړل شي اوميت ثاني ته چې له ميت اول څخه څه رسيدلي دي هغه ته مافي اليدويل کيږي کوم چې په مذکوره بالاصورت کې پنځه دي هغه ته به دميت ثاني دوارثانوپه سهاموکې ضرب ورکړل شي بياکوم وارثان چې ددواړوميتانووارثان دي دهغوله دواړوميتانو څخه حاصلي شوي سهام به سره جمع کړای شي اودټولو وارثانو سهام به لاندي نقل کړي په دي ډول سره به دهروارث حصه معلو مه شي .

(۷۵)وَإِذَا صَحَّتِ الْمُنَاسِخَةُ وَأَرَدْتَ مَعْرِفَةَ مَا يُصِيبُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْ حَبَّاتِ الدَّرَاهِمِ قَسَمْتَ مَا صَحَّتْ مِنْهُ الْمَسْأَلَةُ عَلَى ثَمَانِيَةٍ وَأَرْبَعِينَ فَمَا خَرَجَ أَخَذْتَ لَهُ مِنْ سِهَامِ كُلِّ وَارِثٍ حَبَّةً وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

ترجمه: اوکله چې مناسخه صحيح شي اوته هغه حصه معلومول وغواړي کومه چې هرواث ته دحبات دراهموپه حساب سره رسيدلي ده نوهغه عدذله کوم څخه چې مسئله صحيح شوي ده پراته څلويښتوتقسيم کړه بياچې څه له تقسيم څخه حاصل شي هغه دهروارث له سهامو څخه دحباتوپه اعتبارسره واخله .

تشريح: حبات ،دحبة جمع ده ثلث قيراط ته ويل کيږي اوقيراط دحجاز،يمن،مصر،شام اومغرب دخلکوپه عرف کې ديوه درهم له څلورويشتواجزاء څخه يوه جزء ته ويل کيږي په دي ډول دهغوئ په نزدپه درهم کې دواويا حبات دي اودعراق اودعراق داطرافودخلکوپه اصطلاح کې قيراط ديوه درهم په شلواجزاء کې يوه جزء ته ويل کيږي نودهغوئ په نزدپه يوه درهم کې شپيته حبات دي اودځينوخلګوپه اصطلاح کې قيراط ديوه درهم له شپاړسواجزاء څخه يوه ته ويل کيږي دهغوئ په نزدپه يوه درهم کې اته څلويښت حبات دي .

(۷۵)دامام قدوري رحمه الله دااخيري مسئله پردي اخيرنۍ اصطلاح باندي متفرعه ده په تيره شوي طريقه سره چې کله مناسخه صحيح شي بياته دحبات دراهم هغه مقدارمعلومول وغواړي کوم چې هروارث ته رسيږي نوله کوم مقدارڅخه مسئله صحيح شوي ده هغه په اته څلويښت (کوم چې دحبه مخرج ده)تقسيم کړه کوم چې حاصل تقسيم رااوځي هغه حبه ده نوهغه دهروارث له سهامو څخه دحباتوپه اعتبارسره واخله .صورت يې په دي ډول دی چې له تصحيح څخه چې دهروارث کومه حصه ده هغه حاصل تقسيم يعنی پرحبه پرتقسيمولوسره چې څومره حاصل تقسيم وي هغه دهغه وارث حبات دي مثلاپه مذکوره بالاصورت کې ددواوياپراته څلويښتوپرتقسيمولوسره حاصل تقسيم يونيم رااوځي بيادزوج درويشت سهام پريونيم په تقسيمولوسره حاصل تقسيم پنځلس اويوثلث کيږي اودپلارددولسوحصوله تقسيمولو څخه حاصل تقسيم اته کيږي اودمورله اولسوحصوله تقسيمولو څخه حاصل تقسيم يوولس اوثلث کيږي اودزوی دشلوحصوله

تقسيمولو څخه حاصل تقسيم د يارلس اويوثلث کيږي .نوزوج لره پنځلس حبات اويوثلث حبه ده اوپلارلره اته حبي دي اومورلره يوولس حبي اوثلث حبه ده اوزوى لره ديارلس حبي اويوثلث حبه ده.

والله سبحانه وتعالى اعلم

پنج شنبه ۱۷ دسمبر ۲۰۱۵ بمطابق ۶ ربيع الاول ۱۴۳۶

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

تکملۃ تکمیل الامانی

شرح اردو

بقیۃ مختصر المعانی

مؤلف

مولانا نصیب اللہ (ابن الحاج عبد الصمد مالیزی نور اللہ مرقدہ)

مکتبۃ الارشاد کوئٹہ

0301-3725288,0313-8895104



الدروس الوافیہ

پښتو شرح

کافیہ



مؤلف

مولانا نصیب اللہ (ابن الحاج عبد الصمد مالیزی نور اللہ مرقدہ)

پښتو ژباړه

مفتی نور احمد نور



مکتبۃ الارشد کوئٹہ

0301-3725288,0313-8895104

الفتح الرباني

پښتو شرح

تفسير البيضاوي

مؤلف
مولانا نصيب الله بن الحاج عبد الصمد نور الله مرقده

پښتو ژباړه مفتي نور احمد نور

مكتبة الارشاد كوټه
0301-3725288,0313-8895104

تسهيل الحقائق

پښتو شرح

كنز الدقائق

تاليف


حضرت مولانا نصيب الله (د ابن الحاج عبد الصمد ماليزي نور الله مرقده)


پښتو ژباړه


مولوي سعيد اكبر ريتاد، مفتي فوز احمد فوز

مكتبة الارشاد كوټه

0301-3725288,0313-8895104



تسہیل الحقائق
شرح اردو
کنز الدقائق
مکتبۃ الارشاد



الفتح الربانی
تفسیر البیضاوی
مکتبۃ الارشاد



الفتح الربانی
شرح اردو
تفسیر البیضاوی
مؤلف
مکتبۃ الارشاد


تکملۃ تکمیل الامانی
شرح اردو
بقیۃ مختصر المعانی
مؤلف


الدروس الوافیہ
کافیہ
مؤلف
مکتبۃ الارشاد


الدروس الوافیہ
شرح اردو
کافیہ
مکتبۃ الارشاد


التشریح الوافی
شرح اردو
مختصر القدوری
مؤلف
مکتبۃ الارشاد


التشریح الوافی
مختصر القدوری


تسہیل الحقائق
کنز الدقائق